روضة الصالحين

پښتو شرح د

رياض الصالحين



شارح
مولانا محمد حسين صديقي
د احاديثو استاذ جامعه بنوريه سائټ کراچي

د کتاب خصوصيات

- مکمل احاديث
- د راويانو حالات
- احاديثو باندې اعراب
- د احاديثو لفظي ترجمه
- د احاديثو تشريح
- د احاديثو لغوي تحقيق
- د احاديثو فوائد
- د احاديثو نمبر
- د پښتو ژبې درسم الخط لحاظ

پښتو ترجمه
مفتي محمد يعقوب نائل
د دار العلوم حقانيې فاضل او متخصص

جديد مکتبه رشيديه
جاده ميوند سرچوک کابل | محله جنگي قصه خواني پشاور
0782690850 | 091-2580074

بسم الله الرحمن الرحيم

روضة الصالحين

(١)

پښتو شرح د

رياض الصالحين

دكتاب خصوصيات

مكمل احاديث

د راويانو حالات

احاديثو باندي اعراب

داحاديثولفظي ترجمه

داحاديثولغوي تحقيق

د احاديثو تشريح

د احاديثوفوائد

د احاديثو نمبر

د پښتو ژبي درسم الخط لحاظ

شارح

مولانا محمد حسين صديقي

د احاديثو استاذ جامعه بنوريه سائټ كراچي

پښتو ترجمه

مفتي محمد يعقوب كامل

د دارالعلوم حقانيه فاضل او متخصص

جديد مكتبه رشيديه

جادۂ ميوند سرچوک کابل | محلہ جنگی قصہ خوانی پشاور

0782690850 | 091-2580074

دکتاب نوم: روضة الصالحين پښتو شرح د رياض الصالحين (اول جلد)
شارح: مولانا محمد حسين صديقي
پښتو ترجمه: مولانا محمد يعقوب نائل
مخونه: ۴۴۸
دچاپ زيار: مولانا سيد محمد پرواني
دچاپ کال: جولائی ۲۰۲۰ء بمطابق ۱۳۹۸

ناشر

جديد مکتبه رشيديه
محله جنگی قصه خوانی پشاور 091-2580074

دکتاب ترلاسه کولو ځايونه

(۱) پشاور
(۲) اکوړه خټک
(۳) کويټه
(۴) فارياب
(۵) پروان
(۶) کندوز
(۷) غزني
(۸) مزارشريف
(۹) جلال آباد
(۱۰) قندهار
(۱۱) بغلان
(۱۲) لشکرگاه
(۱۳) لوګر
(۱۴) خوست
(۱۵) کابل
(۱۶) جاده سرچوک
(۱۷) گرديز پکتيا
(۱۸) هرات
(۱۹) تخار
(۲۰) پکتيکا

دمضامينو فهرست

مضمون — صفحه

درېيم باب: صبر کول

څلورم باب: د رښتياويلو بيان

پنځم باب: د مراقبې بيان

شپږم باب: د تقوى بيان

اووم باب: د يقين او توكل په اړه دی

اتم باب: د استقامت بيان

نهم باب: په استقامت باندې د امادگۍ بيان

لسم باب: نېکو عملونو ته تيزي کول

يوولسم باب: په کوششو نوسره لارې خلاصيږي

دولسم باب: په آخري وخت کې نېکو عملونو باندې تيزي پکار ده

دیارلسم باب: د نېكو عملو نو ډېرې لارې دي

څوارلسم باب: د الله ﷻ په عبادت کې ميانه روي اختيارول

باب في الاقتصاد في العبادة

پنځلسم باب: د خپلو عملونو حفاظت کول

شپاړسم باب: په سنتو او مستحبو باندې مداومت کول

اولسم باب: د الله جل جلاله د حكم اطاعت ضروري دى

اتلسم باب: په دين كې د نوي كار پيدا كولو نه منع فرمايل

نولسم باب: د هغه سړي په باره چې کوم ښه يا غلطه طريقه ايجادوي

شلم باب: نېک کار يا بد کار ته خلک رابلل

يوويشتم باب: په نېکۍ او تقوى کې د يو بل مرسته کول

دوه ويشتم باب: د خير خواهۍ بيان

درويشتم باب: د نېكۍ حكم كول او د بدو څخه منع كول

څلرویشتم باب: کوم کس چې امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوي، خو وینا یې د عمل سره مخالفه وي

پنځه ویشتم باب: د امانتونو ادا کولو حکم

شپږویشتم باب: ظلم حرام دی او د ظالم لاس نیولو حکم شوی دی

اوه ويشتم باب: د مسلمانانو د عزتمندو شيانو تعظيم او په هغوی باندې د شفقت بيان

اته ويشتم باب: د ضرورت څخه بغير د ستر / عورت افشاء کول پکار نه دي

نهه ويشتم باب: د مسلمانانو ضرورتونه پوره کول

دېرشم باب: د سفارش بيان

يو دېرشم باب: د خلکو ترمنځ سوله راوستل

دوه دېرشم باب: د غريبانو مسکينانو او کمزورو مسلمانانو فضيلت

دري دېرشم باب: يتيمانو، جينكواو تمامو مسكينانو سره احسان كول او د هغوى سره د عاجزۍ سلوك پكار دى

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

پیژندګلوي

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى. اما بعد دا کتاب د رياض الصالحين پښتو ترجمه او شرح ده، ددې مصنف امام محي الدين ابو زكريا نووي رحمه الله دی چې د ډېرې اوچتې مرتبې محدث، عابد، زاهد او صوفي دی، څنګه چې هغوی په خپله سریزه کې لیکلي دي: دا کتاب د عامو مسلمانانو د ژوند د ښه کولو او د آخرت د فایدې لپاره ترتيب شوی دی، په دې کتاب کې د ژوندانه د روزانه واقعاتو د هر اړخ متعلق اول د قرآن شریف آيتونه بيان شوي دي بيا د هغې تفسير په صحيح احاديثو سره شوی دی، په دې مجموعه کې څلور سوه درويشت (۴۲۳) آيتونه او اتلس سوه يو نوي (۱۸۹۱) حديثونه دي، په دې کې يې اول هغه احاديث راوړي چې د امام بخاري رحمه الله او امام مسلم رحمه الله دواړو پرې اتفاق دی، وروسته د نورو څلورو صحاحو او دريمه درجه کې د نورو کتابونو څخه صحيح احاديث بيانوي، انتخاب يې يوازې صحاح سته يعنې د صحيح احاديثو مشهورو شپږو کتابونو پورې محدود نه دي، د نورو کتابونو نه هم احاديث راغلي دي، د امام نووي رحمه الله په ټولو کتابونو کې د صحيح مسلم د شرح نه پس دا کتاب زيات مفيد ګڼل کيږي. امام نووي رحمه الله په دې کتاب کې د اعمالو د اصلاح، د اخلاقو د تهذيب او د زړه د صفايي لپاره پوره پوره کوشش کړی دی. د آخرت د نجات فکر کوونکو ته يې بې شبهې سيده لار ښودلې ده، اوس ضروري دا ده چې موږ په دې لاره روان شو

د مصنف ژوند

د نسب سلسله يې داسې ده: امام محي الدين ابو زكريا يحيى بن شرف بن مري بن حسن بن حسين بن محمد بن جمعه بن خرام النووي.

لقب يې محي الدّين کنيت يې ابو زكريا نوم يې يحيى بن شرف دی، د نوي په نوم يو کلي کې پيدا شو. ددې وجې ورته نووي ويل کيږي او کله کله يې د نيکه نوم ته نسبت کيږي چې خرامي بلل کيږي

پيدايش او تعليم

دمشق سره نژدې په نوي نومي کلي کې په ۶۳۰ هـ کې د محرم الحرام د مياشتې په لومړيو ورځو کې دُنيا ته راغلی دی، قرآن شريف يې هم خپل کلي کې په وړوکوالي کې ياد کړو، بيا د لوړو زده کړو لپاره دمشق ته لاړو چې هغه وخت کې د علم مرکز وو.

علامه مراکشي رحمه الله ليکي چې ما علامه نووي رحمه الله په خپل کلي کې د لسو (۱۰) کالو په عمر ليدلی وو. همزولو به يې لوبې کولې او دی به په ذکر کې مشغول وو، هغوی سره به يې لوبې نه کولې او چې هغوی به مجبورولو ډېر به يې تنګ کړو، نو په ژړا به شو.

والد صاحب يې تجارت کولو او دی يې هم په کاروبار کې لګولو، ليکن هغه الله تعالى د بل کار لپاره

پيدا کړي وو، دنيوي کارونو سره يې طبيعت نه لګېدو، د علم سره يې شوق وو، پلار يې هم د شوق اندازه ولګول او د علم لپاره يې دمشق ته واستولو، امام نووي رَحِمَهُ اللهُ خپله ليکي چې زه د نولس (۱۹) کالو شوم نو پلار مي دمشق ته بوتلم او مدرسه رواحه کې يې داخل کړم، دوه کاله په دې مدرسه کې پاتې شوم، ډېر په شوق مي سبق ويلو او خپل استاد اسحاق مغربي به راسره ډېره مينه کول. په ۶۵۰ هـ کې مي والد صاحب سره حج وکړو او يوه نيمه مياشت په مدينه منوره کې پاتې شوم، عطاء الدين بن عطار بيان کوي چې ماته شيخ نووي ويلي: ما به د خپلو استادانو سره روزانه د مختلفو علومو د غټو غټو کتابونو دولس (۱۲) سبقونه ويل او الله تعالى زما په وخت او حافظه کې دومره برکت اچولی وو چې دا ټول سبقونه مې ښه په اسانه يادول، هغه وايي يو ځل مي د طب علم ويلو ته شوق پيدا شو، د طب کتاب قانون مي راواخيست خو په کتلو سره مي په زړه باندې داسې تياره راغله چې ټول کارونه را نه پاتې شول، يو څو ورځې مي دا حال وو، بيا راته القا وشوه چې طب فضول کار دی، ته د دې لپاره نه يې پيدا شوی، سمدستي مي د طب کتاب قانون خرڅ کړو او د طب نور کتابونه مي چې راجمع کړي وو هغه مي د خپل ځای نه لرې کړل بيا مې په زړه رڼا شوه او کار ته ولګېدم.

امام نووي رَحِمَهُ اللهُ ډېر پرهېزګار، عابد او زاهد سړی و، د فقيرۍ ژوند يې تېرولو، ټول عمر يې ساده خوراک کولو او ساده جامه يې اغوستل، د اتباع سُنت به يې ډېر خيال کولو: دا هغه زمانه وه چې بادشاهانو او اميرانو به د عالمانو ډېر قدر کولو، وظيفې به يې ورته مقررولې او تحفې به يې ورکولې، خو امام نووي رَحِمَهُ اللهُ د دنيا څخه دومره بېزاره و چې نه يې سرکاري وظيفه قبلول او نه يې د کوم امير هديه او تحفه قبلول، د دمشق د باغونو مېوه به يې نه خوړل، ځکه چې د دې ملکيت مشکوک و، دويمه وجه دا وه چې د مېوو په تجارت کې به ناجائزه طريقې چلېدې، لکه د پخېدو نه مخکې مخکې د باغ مېوه خرڅول وغيره چې شريعت کې ترې منع شوې ده، شپه ورځ به د دين په تبليغ يا رياضت او عبادت کې مشغول وو او ارام به يې ډېر کم کولو، خوراک به يې صرف يو وخت خوړلو هغه هم ډېر کم خوراک يې کولو.

وفات: د هغوی عمر صرف شپږ څلوېښت (۴۶) کاله و، خو په دې لږ عمر کې هم هغوی ډېر مفيد او غټ کتابونه ليکلي دي، په ټولو کې مشهور کتاب يې د مُسلم شريف شرح المنهاج دی، دا کتاب اوس په دوه جلده کې موجود دی، ليکن مصنف د دې متعلق ليکي: که د خلکو بې همتي او کم شوقي نه وای، نو ما به په دې کې دومره تفصيل کړی وو چې د سلو (۱۰۰) جلدونو څخه به زيات شوی وو.

په ۶۷۶ هـ کې امام نووي رَحِمَهُ اللهُ د خپلو استادانو او پيرانو په زيارتونو ګرځېدو او ورسره چې د نورو عالمانو اوخپلو استادانو څومره کتابونه جمع وو هغه يې خپلو خپلو مالکانو ته ورسول، د دوستانو نه يې رخصت واخيستو او د دمشق څخه خپل کلي نووي ته لاړو، بيا د کلي څخه بيت المقدس ته لاړو، د ابراهيم عليه السلام د روضې مبارکې زيارت يې وکړو او کلي ته واپس راغلو، د راتلو سره ناجوړه شو او په ۱۴ رجب ۶۷۶ هـ کې د چارشنبې په ورځ وفات شو. إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ

د کتاب د مصنف امام نووي رحمه الله سريزه

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

ټول تعريفونه هغه يو الله تعالی لره دي چې شريك نه لري، زبردست، په هر ځا غالب او بخښونکی مهربانه دی، شپه او ورځ راولي ددې لپاره چې د بصيرت خاوندان ترې نه نصيحت قبول کړي او د عقل خاوندان ترې عبرت واخلي، هغه ذات چې خپل غوره بندګان (پيغمبران) يې راواستول چې خلک د غفلت له خوبه بيدار کړي، بيا يې هغوی ته د زهد نعمت ورکړو، په فکر او نظر، مراقبه او مشاهده کې يې مشغول کړل، خپلو بندګانو ته يې د غلطۍ نه پس د توبې توفيق ورکړو، زه د هغې پاکې هستی ډېره پاکي بيانوم او په ټولو اوصافو احاطه کوونکي الفاظو سره يې ستاينه کوم او شاهدي ادا کوم چې د مهربانه رحيم او کريم ذات څخه بغير بل معبود نشته، شاهدي ادا کوم چې زموږ سردار د هغه بنده او رسول دی او د هغه حبيب او خليل دی چې موږ ته يې سيده لار وښودل او رښتوني دين ته يې راوبللو، په هغه او په ټولو پيغمبرانو او نيکانو او د هغه په آل اولاد دې د الله تعالی رحمتونه وي

د انسان د پيدا کېدو اصلي مقصد

الله تعالی فرمايي: مَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ.

ترجمه: ما پېريان او بندګان صرف ددې لپاره پيدا کړي چې زما عبادت وکړي

مَا أُرِيْدُ مِنْهُمْ مِّنْ رِّزْقٍ وَّمَا أُرِيْدُ أَنْ يُّطْعِمُوْنِ.

ترجمه: زه د دوی نه روزي نه غواړم او نه ترې خوراك غواړم.

په دې آيت کې صفا ارشاد دی چې د بنيادمو او پېريانو تخليق صرف د الله ﷻ د عبادت په غرض شوی دی؛ نو ضروري ده چې موږ د خپل تخليق مقصد ځانته رامخکې کړو او ورباندې سوچ وکړو او د پوره کولو کوشش يې وکړو، د دنيوي آرام او راحت نه مخ واړوو، ځکه چې دا عارضي کور دی، د همېشه اوسېدو ځای نه دی، دا دنيا بل ځای ته د سفر په لار کې يو پړاو دی، دا دنيا عارضي ځای دی، د مستقل اوسېدو او د خوشحالۍ او آرام ځای نه دی، هغه خلك خوش قسمته دي چا چې دا ژوند د الله ﷻ په طاعت او عبادت کې تېر کړو او ډېر هوښيار دي هغه بندګان چې پرهېزګاري او نېکي يې خوښه کړه او تر دنيا پورې يې زړه ونه تړلو.

د دنيا د ناپايداری نقشه قرآن کريم داسې بيان کړې ده: بس د دنيوي ژوند مثال داسې دی لکه موږ چې د آسمان نه اوبه رابښکته کوو، په هغې باندې د ځمکې واښه او فصلونه زرغون شي چې ځاروي او بنيادم يې خوري بيا د افصلونه ښه ګڼ شي او ځمکه يې ښايسته کړه چې د ځمکې نه يې خپله حصه پوره واخيسته او ښايست يې مکمل شو د ځمکې مالکانو د اخيال وکړو چې اوس زموږ په قابو کې راغلو (يعني فصل تيار شو، اوس به يې پرې کوو) ناڅاپه ورباندې د شپې له خوا يا د ورځې زموږ له طرفه څه آفت راغلو نو داسې يې ورك کړو لکه چې زرغون شوی نه وو، دغه شان موږ خپل احکام صفا

صفا بيانوو هغو خلکو ته چې غور او فکر کوي.
په دې لړ کې په قرآن کريم کې د بې شمېرو آيتونو ذخيره موجوده ده، يو شاعر ښه ويلي دي: «د الله تعالى ډېرو هوښيارو بندګانو چا چې د دنيا نه ډډه کړې ده او د فتنو وېرېدلي دي چې په غور او فکر سره يې دنيا ته وکتل نو دا يقين يې وشو چې دا دنيا د بندګانو اصلي وطن نه دى، نو دا دنيا يې يو لوى سمندر وګڼلو او د نيکو اعمالو په جهازونو کې سپاره شول (چې په امان ترې پورې شي)».
هر کله چې د دنيا د ناپايدارى حال دا دى او زمونږ د تخليق مقصد الله ﷻ عبادت ګرځولى دى، نو هر هوښيار بنده ته پکار ده چې د نيکانو په لاره روان شي او د هوښيارو کسانو طريقه خوښه کړي او د خپل اصلي مقصود حاصلولو لپاره تيارى شروع کړي او ددې مقصود حاصلو لپاره د ټولونه اسانه او صحيح لاره که کېدى شي نو هغه د رسول الله ﷺ د سنتو پيروي ده، الله ﷻ فرمايي: په نيکى او پرهېزګارى کې د يو بل مرسته کوئ او نبي کريم ﷺ فرمايلي دي: تر څو پورې چې يو مسلمان د بل مسلمان ورور په امداد کې مشغول وي، الله تعالى د هغه مرسته کوي (مسلم، نسائي او ترمذي)
رسول الله ﷺ فرمايلي: چا چې څوك په يوه ښکه لار روان کړو نو لارښوونکى او په لاره تلونکى دواړه به يو شان ثواب مومي او په دواړو کې به د يو په ثواب کې هم څه کمى نه راځي (مسلم او ابوداؤد)
رسول الله ﷺ فرمايلي: چا چې چاته يو نيك كار وښودلو نو كار كوونكى او ښوونكى به يو شان ثواب مومي.
يو روايت دى چې رسول الله ﷺ علي ﷺ ته وفرمايل: اې علي ﷺ! كه الله تعالى ستا په ذريعه يو بنده ته هدايت وكړي نو دا ستا لپاره د ډېرو سرو اوښانو نه بهتره ده (سور اوښ هغه وخت ډېر قيمتي وو) (بخاري او مسلم)
ددې آيتونو او حديثونو په وجه ما اراده وكړه چې د رسول الله ﷺ څه صحيح احاديث په داسې طريقه جمع كړم چې لوستونكي ته د آخرت لاره اسانه كړي، د ظاهري او باطني اصلاح ذريعه شي كومو كې چې د سلوك ټول آداب، زهد، رياضت، د اخلاقو اصلاح، د اعمالو اصلاح، د زړه پاكي وغيره جمع وي
په دې كتاب كې ما په ځان دا لازمه كړې ده چې د صحيح او واضحو احاديثو نه غير نور احاديث به پكې نه راوړم او دا صحيح احاديث به هم د مشهورو كتابونو نه را اخلم، د باب شروع به د آيت كريمه څخه كيږي او كله كله به د ضرورت په وخت د آيت باريكي او لطيفي معنا ته مختصره اشاره كوم، د حديث په آخر كې متفق عليه نه بخاري او مسلم مراد دى.
د الله ﷻ نه اُميد لرم چې دا كتاب به سرته ورسولى شم او دا به لوستونكي ته د نيكى لار صفا كړي او د بدى او تباهى نه به يې بچ كړي او زه هغه مسلمان ورور ته خواست كوم چاته چې ددې كتاب نه فايده ورسيږي چې ما، زما مور - پلار، اُستاذانو، دوستانو او ټولو مسلمانانو ته د نيكى دعاګانې وكړي. په الله ﷻ مې تكيه ده او په الله ﷻ مې يقين دى او هغه بهترين كار ساز دى، د الله ﷻ نه سېوا نه څوك چاته د نيكى توفيق وركولى شي او نه يې د بدى نه بچ كولى شي ولاحول ولاقوة الا بالله العلي العظيم

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اول باب

د اخلاص بيان

بَابُ الْإِخْلَاصِ وَاحْضَارِ النِّيَّةِ فِيْ جَمِيْعِ الْأَعْمَالِ

په هر عمل کې د نيت اخلاص ضروري دی

الله ﷻ فرمايي: (۱) وَمَآ أُمِرُوٓا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللهَ دوی ته حکم نه وو شوی مګر ددې خبرې چې صرف د يو الله ﷻ عبادت وکړي، مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ خالص کوونکي به وي، الله ﷻ لره دين د هغه د شرك نه حُنَفَآءَ په داسې حال چې مائل به وي حق طرفته د باطل نه، وَيُقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَيُؤْتُوا الزَّكٰوةَ پابندي کونکي به وي د لمانځه او زکواة ورکونکي به وي، وَذٰلِكَ دِيْنُ الْقَيِّمَةِ (البينة)، او هم دغه مضبوط او قائم دی.

تشريح: علامه قاضي ثناءالله پاني پتي رحمه الله فرمايي: د کومو احکاماتو حکم چې شوی دی هغه ددې لپاره چې په اخلاص سره د الله ﷻ عبادت وشي او د الله ﷻ عبادت په دې شان سره وشي چې د هغه سره هيڅ شريك جوړ نه شي: په احکام القرآن تهانوي کې دي چې ددې آيت نه معلومه شوه چې په عبادت کې نيت خالص کول ضروري دي، ځکه چې اخلاص بغير ددې نيت نه نه کيږي، ابوبکر رازي رحمه الله فرمايي چې په دې کې د اخلاص حکم شوی دی چې په عبادت کې بايد بل څوك شريك نه شي، د حنفآء معنی ده چې د ټولو باطلو مذهبونو څخه بايد سړی ځان وساتي او خالص د يو الله ﷻ بنده جوړ شي، علامه آلوسي رحمه الله فرمايي چې حنيف هغه چاته ويلی شي کوم څوك چې د ټولو باطلو عقائدو څخه بيزاري اعلان کړي او خالص اسلام ته غاړه کېږدي، په حنفاء سره مراد د ابراهيم عليه السلام مذهب دی، لکه څنګه چې هغه د ټولو مذهبونو نه د برائت اعلان کړی وو او خالص يو الله ﷻ طرفته متوجه شو، دغه شان دلته هم دغه حکم ورکول کيږي چې تاسو هم داسې وکړئ، (وذالك الدين القيمة) ددې مطلب دا دی چې رسول الله ﷺ په خپلې ژبې مبارکې سره د کومو شيانو حکم کړی دی هم دغه د انبياء عليهم السلام او د تېرو شويو نېکانو خلکو جماعت دين وو، نصير بن شميل رحمه الله چې کله د خليل بن احمد رحمه الله نه پوښتنه وکړه چې د (دين القيمة) معنی څه ده؟ نو هغه ځواب ورکړو چې قيمة او قيم او قائم درې واړه يوه معنی لري يعنې په يو دين وو، دوی په توحيد باندې قائم وو، ځينې خلکو ويلي چې د (کتب قيمة) نه مراد تورات انجيل وغيره آسماني کتابونه دي، يعنې د دوی په صحيح کتابونو کې همدغه دين وو، قتاده رضي الله عنه فرمايي چې ددې آيت مطلب دا دی چې دغه قرآن مجيد مضبوط او رښتونی دين دی، په دې کې هيڅ قسم غلطي نشته.

(۲) وَقَالَ اللهُ تَعَالٰى: الله ﷻ فرمايي چې: لَنْ يَّنَالَ اللهَ لُحُوْمُهَا نه رسيږي الله ﷻ لره غوښې د هغه قرباني، وَلَا دِمَآؤُهَا وَلٰكِنْ يَّنَالُهُ التَّقْوٰى مِنْكُمْ او نه وينې د هغې قرباني ليکن رسيږي الله ﷻ ته ستاسو تقوی او پرهيزګاري (الحج ۳۷)

تشريح او شان نزول: د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی هغه فرمايي چې مشرکانو به د قرباني کولو نه وروسته د قرباني غاروي وينه په کعبه باندې تويول او غوښه به يې هلته شيندل، مسلمانانو هم غوښتل چې داسې وکړي؛ نو په دې باندې دغه آيت رانازل شو، مطلب ددې آيت دا دی چې قرباني کول يو لوی عبادت دی، ليکن دا مقصودي شی نه دی، ځکه چې الله جل جلاله ته نه د قرباني غوښه رسيږي او نه وينه بلکې د قرباني او د ټولو عبادتونو مقصد دا دی چې په دې عبادتونو کې د الله جل جلاله د حکم تابعداري وشي او ورسره په زړه کې اخلاص هم وي، که چېرته په زړه کې اخلاص نه وي نو دا به بيا د عبادت يو شکل او صورت وي ليکن په حقيقت کې به عبادت نه وي، د عبادت روح به ترې خارج وي، په دې آيت کې دې طرفته هم اشاره ده چې د عبادت په قبلېدو کې اخلاص او تقوی ضروري ده، که دا شی نه وي دا عمل به هم الله جل جلاله ته منظور نه وي.

(٣) وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى او الله جل جلاله فرمايي چې: قُلْ اِنْ تُخْفُوْا مَا فِيْ صُدُوْرِكُمْ اې پېغمبره! ته ورته ووايه چې هر هغه څه چې تاسو يې پټوئ کوم څه چې ستاسو په سينو کې دي، اَوْ تُبْدُوْهُ يَعْلَمْهُ اللّٰهُ او يا يې ظاهروئ الله جل جلاله دا هر څه ښه پېژني ﴿آل عمران (٢٩)﴾

تشريح: په دې آيت کريمه کې دغه طرفته اشاره ده چې د الله جل جلاله د قدرت او علم هيڅ انتها نشته، که چېرته يو کس په خپل زړه کې خبره پټول غواړي نورو خلکو ته دي ددې اظهار نه کوي، الله جل جلاله بيا هم په هر حال کې ورباندې خبر دی، علم پرې لري، د کومې خبرې اظهار چې خلکو ته کوئ، په هغې خبره الله جل جلاله په طريقه اولی خبردار دی، غه شان د قرآن کريم په مختلفو ځايونو کې دغه مضمون بيان شوی دی، مثلاً: (وان تجهر بالقول فانه يعلم السر واخفى) او که چېرته ته خبره په تيزه کوې نو الله جل جلاله په هغې هم خبردار دی او په هغه خبره هم کومه چې په پټه کوې يعني کومه خبره چې ستا په زړه کې وي او د هغې اظهار لا تراوسه پورې تا نه وي کړی، په داسې خبرو باندې هم الله جل جلاله پوه دی، بل ځای کې الله جل جلاله فرمايي چې (واسروا قولكم او اجهروا به انه عليم بذات الصدور) که چېرته تاسو په تيزه خبرې کوئ او يا په مزه نو دغه ذات باري تعالى د سينو والا په خاوندانو باندې هم پوه دی، علم لري (يعني د دوی په زړونو کې چې کومې خبرې تيرېږي په هغې هم علم لري) په بل ځای کې الله جل جلاله فرمايي چې (ربنا انك تعلم ما نخفي وما نعلن وما يخفى على الله من شئ في الارض ولا في السماء) اې زمونږ ربه! تاسو په مونږ پوه يئ کوم څه چې مونږ په جهر سره کوو او کوم څه چې مونږ په پټه کوو او نشته په الله جل جلاله باندې پټ څه شی، که په ځمکه کې وي او که په آسمان کې وي، ددې ټولو آيتونو نه معلومه شوه چې کله الله جل جلاله د دومره لوی قدرت څښتن دی؛ نو بايد چې بيا خالص عبادت د هغه لپاره وشي او شريک ورسره جوړ نه شي.

١ - وَعَنْ أَمِيْرِ الْمُؤْمِنِيْنَ أَبِيْ حَفْصٍ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ بْنِ نُفَيْلِ بْنِ عَبْدِ الْعُزّٰى بْنِ رِيَاحِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ قُرْطِ بْنِ رَزَاحِ بْنِ عَدِيِّ بْنِ كَعْبِ بْنِ لُؤَيِّ بْنِ غَالِبٍ الْقُرَشِيِّ الْعَدَوِيِّ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: د امير المؤمنين ابو حفص عمر بن

الخطاب بن نفيل بن عبد العزى بن رياح بن عبد الله بن قرط بن رزاح بن عدى بن كعب بن لؤى بن غالب القرشي العدوي ﷺ څخه روايت دی، هغه فرمايي: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: چې ما اورېدلي دي چې رسول الله ﷺ فرمايل: "إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ، بې شکه د ټولو اعمالو دارومدار په نيت دی، وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِءٍ مَا نَوٰى: او هر بنده ته به د خپل نيت له وجې رسيږي، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهِ فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللّٰهِ وَرَسُوْلِهِ نو چا چې هجرت وکړو د الله ﷻ او رسول ﷺ لپاره نو هغه الله ﷻ او رسول ﷺ ته ورسېدو، وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ لِدُنْيَا يُصِيْبُهَا، أَوِ امْرَأَةٍ يَنْكِحُهَا فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ" او چا چې هجرت وکړو د دنيا لپاره چې حاصله يې کړي او يا يوې ښځې لپاره چې نکاح ورسره وکړي نو د هغه هجرت د هغه شي لپاره دی د څه نيت چې يې کړی وو، مُتَّفَقٌ عَلٰى صِحَّتِهِ. رَوَاهُ إِمَامَا الْمُحَدِّثِيْنَ: أَبُوْ عَبْدِ اللّٰهِ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيْلَ بْنِ إِبْرَاهِيْمَ بْنِ الْمُغِيْرَةِ بْنِ بَرْدِزْبَةَ الْجُعْفِيُّ الْبُخَارِيُّ، (بخاري او مسلم) بيان کړی دی دا حديث د محدثينو دواړو امامانو ابو عبد الله محمد بن اسماعيل بن ابراهيم بن مغيره بن زردبه جعفي بخاري وَأَبُو الْحُسَيْنِ مُسْلِمُ بْنُ الْحَجَّاجِ بْنِ مُسْلِمٍ الْقُشَيْرِيُّ النَّيْسَابُوْرِيُّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا فِيْ صَحِيْحِهِمَا اللَّذَيْنِ هُمَا أَصَحُّ الْكُتُبِ الْمُصَنَّفَةِ. او امام ابو الحسن مسلم بن الحجاج بن مسلم القشيری نيشاپوري ﷺ په خپلو دواړو کتابونو (يعني صحيح بخاري او صحيح مسلم کې) کوم چې د احاديثو په کتابونو کې زيات صحيح دي.

د حديث فضيلت

تشريح: امام شافعي رحمه الله دغه حديث ته د درې حصې علم والا حديث ويلی دی، ابن دقيق العيد رحمه الله فرمايلي چې علماء کرامو دغه حديث ته د اسلام د دريمې برخې لقب ورکړی دی، دغه شان امام ابوداود رحمه الله دغه حديث ته د نيمايي فقهې نوم ورکړی دی، امام عبد الرحمن بن مهدي رحمه الله فرمايي چې (من اراد ان يصنف كتاباً فليبتدئ بهذا الحديث) کوم کس چې د تصنيف اراده لري هغه ته پکار ده چې خپل کتاب د دې حديث نه شروع کړي.

شان ورود:

په څينې روايتونو کې د دې حديث پس منظر په دې شان سره بيان شوی دی چې يو کس ام قيس ﷺ په نوم يوې ښځې ته د نکاح پيغام ولېږلو، هغې شرط ولګولو چې تر څو پورې تا هجرت نه وي کړی تر هغې به ستا سره نکاح ونه کړم، دغه شرط سړي قبول کړو او هغه هجرت وکړو، ددېنه وروسته د دې دواړو په خپل مينځ کې نکاح وشوه، دا سړی په مهاجر ام قيس سره مشهور شو، د دې ښځې خپل نوم قيل ﷺ و او کنيت يې ام قيس ﷺ وه، اکثره محدثين کرام د دې نوم سره نابلد دي، سوال پيدا کيږي چې دغه شان خو ابو طلحه ﷺ هم چې کله د ام سليم ﷺ سره نکاح غوښتل نو هغې ورته د اسلام شرط ولګولو، کله چې هغه اسلام قبول کړو، نو ددېنه وروسته بيا نکاح وشوه، په دې باندې ولې اعتراض ونه شو؟ څواب دا دی چې علماء کرامو رحمهم الله فرمايلي: ابو طلحه ﷺ اول د

اسلام راوړلو اراده درلوده او په اولنی واقعه کې د مهاجر ام قيس د هجرت اراده نه وه، ځکه په اولنی پېښه باندې اعتراض وشو او په دويمه پېښه باندې اعتراض ونه شو.

نيتونه په درې قسمه دي

نيات د نيت جمع ده، نيت په درې قسمه دی: (۱) **تميزالعبادت عن العادت** يعنې د نيت په ذريعه عبادت د عادت نه جدا کول، مثلاً يو کس د لمانځه په حالت کې ولاړ دی، اوس که چېرته هغه د لمانځه نيت کړی وي نو د هغه لمونځ به وشي، کنه نو موږ به وايو چې دی هسې ولاړ دی، (۲) **تميزالعبادة عن العبادة** يعنې د نيت په واسطه يو عبادت د بل عبادت څخه جدا کول، مثلاً د نيت په واسطه د مازيګر لمونځ د ماسپښين د لمانځه څخه جدا کول، (۳) **تميزالمعبود عن المعبود**، يعنې د نيت په واسطه د يو معبود عبادت د بل معبود د عبادت څخه جدا کولی شي، مثلاً يو کس لمونځ کوي اوس به دده نيت معلوم شي چې د الله ﷻ لپاره يې کوي يا کوم بل چا لپاره يې کوي، د الله ﷻ په نزد هغه عمل قبليږي کوم چې خالص د هغه د رضاء لپاره وي.

سوال: انما الاعمال بالنيات لفظ د (**انما**) د حصر لپاره دی، نو ددې مطلب به دا وي چې (لاعمل الابالنية) يعنې د نيت نه بغير عمل په وجود کې نه راځي او حال دا چې ډېر عملونه بغير د نيت نه هم کيږي؟

ځواب: د عمل وجود نه کېدل د نيت نه بغير ددېنه مراد وجود شرعي دی، حسي نه دی، په ليدو کې خو به هغه عمل په نظر راځي ليکن د شريعت په نظر کې به هغه عمل هغه وخت غوره او معتبر وي کله چې په هغې کې نيت خالص د الله ﷻ د رضاء لپاره وي.

د (انما الاعمال بالنيات) نه وروسته يې (لکل امرءمانوی) ذکر کړو، بيا ددې وروسته (وانما لکل امرءمانوی) يعنې هر سړي ته به د هغه د نيت مطابق بدله ملاويږي، په دې کې علامه قرطبي رحمه الله فرمايي: د نيت معامله ډېره لويه ده، ځکه يې په دويم ځل دا جمله (انما الاعمال بالنيات) د تاکيد لپاره ذکر کړه.

د دنيا وروسته يې ولې د ښځې ذکر وکړو؟

(أوالی إمرأة ينکحها) يا که د کومې ښځې سره د نکاح کولو اراده يې وي.

سوال: په (الی الدنيا) کې خو خپله ښځه داخله ده، هغه ولې مستقل ذکر شوه؟

ځواب: ددې څو ځوابونه دي: **اول** دا چې د زيات اهتمام په وجه، **دويم** دا چې د مدينې منورې انصاري صحابه کرامو رضي الله عنهم په مهاجرو صحابه کرامو رضي الله عنهم باندې ډېر زيات قرباني ورکوونکي وو، په مال او په ښځو سره، په دې وجه يې وفرمايل چې يو کس دې هم د ښځې يا مال په خاطر هجرت نه کوي، **دريم** ځواب دا دی چې د شان نزول په وجه د ښځې ذکر وشو، **څلورم** ځواب دا دی چې د ښځو فتنه ډېره زياته وي، ځکه يې دوباره دلته ذکر وکړو.

د حديث راوي عمر بن خطاب رضي الله عنه مختصر ژوند:

نوم يې عمر رضي الله عنه، کنيت يې ابو حفص، او لقب يې فاروق دی، د پلار نوم يې خطاب او د مور نوم يې فتحه دی، (اصابه ۲- ۵۱۸) د عمر رضي الله عنه خاندان د جاهليت د زمانې څخه ممتاز وو، عمر رضي الله عنه د نبوي هجرت څخه څلويښت کاله وړاندې پيدا شوی و، د ماشوموالي پوره ژوند يې معلوم نه دی، کله چې نبي کريم ﷺ د نبوت اعلان وکړو، نو هغه د نبوت په دښمنی کې تر ټولو وړاندې وو، نبي کريم ﷺ د هغه لپاره دعا وکړه او دده په حق کې قبوله شوه، په اسلام کې داخل شو، په اسلام راوړونکو کې څلويښتم صحابي دی، مدينې منورې ته يې هجرت هم کړی دی او په ټولو جهادونو کې يې شرکت کړی دی، د خلافت په زمانه کې يې ډېر زيات فتوحات شوي دي، د هغو سيمو څخه عراق، شام، بيت المقدس او مصر دي، د عمر رضي الله عنه يو خصوصيت د سيرت څېړنتانو ليکلی دی، موږ به يې لاندې وليکو:

(۱) د الله جل جلاله څخه به زيات وېرېدو، د قرآن کريم د تلاوت په وخت به يې دا کيفيت نور هم زيات شو، کله کله به يې د الله جل جلاله څخه د وېرې له امله داسې فرمايل چې ارمان! زه خش او خشاک وای او کله به يې فرمايل چې ارمان! زه پيدا شوی نه وای (کنز العمال ۶- ۲۴۵)

(۲) د رسول الله ﷺ سره يې بې کچه مينه درلوده، د نبي کريم ﷺ د وصال وروسته به چې کله هم نبي کريم ﷺ ورته ياد شو؛ نو دومره به يې ژړل چې بې هوشه به شو، يو ځل بلال رضي الله عنه د اقصی په جومات کې آذان وکړو، نو عمر رضي الله عنه دومره په ژړا شو چې د ډېرې ژړا له امله يې ساه بنده شوه. (فتوح الشام)

(۳) د زهد او قناعت اخري درجې ته رسېدلی ؤ، د سادگی حال به يې دا ؤ چې په جامو کې به يې تر دولسو (۱۲) پورې پيوندونه لگېدلي وو، د دوی خوراك څښاك وغيره انتهائي ساده وو

(۴) عاجزي او خاکساري يې هم حد درجې ته رسېدلې وه، د صدقې په اوښانو باندې به يې خپله تيل مږل او فرمايل به يې چې د مسلمانانو ولي د دوی خدمتگار وي (کنز العمال ۶- ۳۵۳).

(۵) د ژوند په پای کې الله جل جلاله د شهادت لوړ مقام ورته نصيب کړو، د مغيره بن شعبه رضي الله عنه غلام فيروز چې کنيت يې ابولؤلؤ وو، د چار شنبې په ورځ د سهار په لمانځه کې د خنجر په واسطه شپږ گزارونه وکړل چې له امله يې يو څو ورځې بيمار وو چې په پای کې د شنبې په ورځ د محرم د مياشتې اولنۍ تاريخ ۲۴ هجري د شهادت لوړ مقام ته ورسېدو، د نبي کريم ﷺ سره څنگ کې دفن شو، د جنازې لمونځ پرې صهيب رومي رضي الله عنه وکړو، د عمر رضي الله عنه ۵۳۹ حديثونه د حديثو په کتابونو کې دي

د بدو خلکو له وجې په نيکانو هم تکليف راځي

۲- وَعَنْ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ أُمِّ عَبْدِ اللهِ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: روايت دی ام المؤمنين ام عبد الله عايشه رضي الله عنها فرمايي: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "يَغْزُو جَيْشٌ الْكَعْبَةَ" يو لښکر به په کعبه د حملې کولو لپاره را روان شي، فَإِذَا كَانُوا بِبَيْدَاءَ مِنَ الْأَرْضِ يُخْسَفُ بِأَوَّلِهِمْ وَآخِرِهِمْ" چې هواري

ځمکې ته را ورسيږي؛ نو د اول نه تر آخره به ټول په ځمکه کې غرق کړل شي، قَالَتْ: قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ كَيْفَ يُخْسَفُ بِأَوَّلِهِمْ وَآخِرِهِمْ وَفِيْهِمْ أَسْوَاقُهُمْ وَمَنْ لَيْسَ مِنْهُمْ؟ عايشه رضي الله عنها فرمايي چې ما وويل: اې د الله تعالى رسوله! د اول نه تر آخره به ځمکه کې څنګه غرق شي، په دې کې خو به ځينې داسې کسان وي چې به زور به راوستل شوي وي او د زړه نه به د دوى سره نه وي؟ قَالَ: يُخْسَفُ بِأَوَّلِهِمْ وَآخِرِهِمْ، ثُمَّ يُبْعَثُوْنَ عَلَى نِيَّاتِهِمْ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ: هٰذَا لَفْظُ الْبُخَارِيِّ، رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: ټول به غرق کړى شي ليکن د قيامت په ورځ به د خپلو نيتونو موافق پورته کولى شي. (بخاري او مسلم) خو دا الفاظ د بخاري دي

تشريح: يغزو جيش الكعبة: دا د نبي کريم ﷺ دپيش ګويانو متعلق احکام دي، دا شيان د نبي کريم ﷺ معجزاتو پورې تعلق ساتي، داسې به کيږي او يا به شوي وي ددې پوره او صحيح علم صرف يو الله ﷻ لره دى، **فاذا کانوا ببيداء** بيداء د بيد جمع ده، ددې په موقعيت کې اختلاف دى، د ځينو رايه دا ده چې دا په مدينه منوره کې دى او ځينې وايي چې په مکه مکرمه کې دى او د ځينو نورو رايه ددې مخالفه ده.

د عايشې رضي الله عنها سوال او ځواب:

كَيْفَ يُخْسَفُ بِأَوَّلِهِمْ وَآخِرِهِمْ وَفِيْهِمْ أَسْوَاقُهُمْ وَمَنْ لَيْسَ مِنْهُمْ؟ عايشه رضي الله عنها فرمايي: په دوى کې به اولني او آخريني خلک څنګه په ځمکه دننه کړى شي، حال دا چې په دوى کې خو به هغه خلک هم وي چې بازار ته به راوتلي وي او داسې خلک به هم وي چې د دوى سره د هغوى هيڅ تعلق نه وي؟ نبي کريم ﷺ ورته په ځواب کې وفرمايل: اولني او آخريني ټول به هلاک شي، بيا به هر يو د دوى نه د خپل نيت مطابق راپورته کړل شي، د نيتونو مطابق به معامله چليږي، دومره ده چې په دنيا کې به په عذاب کې ټول شريک وي، ددې حديث نه دا خبره معلومه شوه چې بايد انسان د غلطو خلکو سره د ناستې ولاړې نه ځان وساتي، که چېرته په ګناهګاروب اندې عذاب راځي نو بيا به دوى هم په دې عذاب کې ورسره شريک وي.

ځينې نورو علماء کرامو فرمايلي دي چې دا حديث په حقيقت کې ددې آيت تشريح کوي: (واتقوا فتنة لا تصيبن الذين ظلموا منکم خآصة) او تاسو له هغه عذاب څخه ووېرېږئ چې بيا به خاصو خلکو يعنې په ګناهګارو باندې پوازې نه راځي، بلکې عام عذاب به وي چې ګناهګار او بې ګناه ټول به پکې هلاک کيږي.

د عايشې رضي الله عنها مختصر ژوند:

نوم يې عايشه رضي الله عنها صديقه دى، لقب يې حميره، کنيت يې ام عبدالله دى، د پلار نوم يې ابوبکر صديق رضي الله عنه دى، د مور نوم يې زينب و، کنيت يې ام رومان و، د بعثت نه څلور کاله وروسته پيدا شوې ده، په مکه مکرمه کې يې د نبي کريم ﷺ سره نکاح شوې ده، د نهو کالو په عمر کې يې رخصتي شوې ده، په غزاګانو کې د احد په غزا کې شريکه شوې ده. (بخاري: ۲-۵۸۱)

په غزوه بني مصطلق کې يې هم شرکت کړی دی په کوم کې چې د هغې نه غاړګی ورکه شوې وه، عايشه ﷺ په ټولو ښځو باندې عموماً او په امهات المومنين باندې خصوصاً په څو وجوهو سره فوقيت لري، ابوموسی اشعري ﷺ فرمايي چې موږ ته به کله هم څه ديني مسئله پېښه شوه نوږ د هغې په باره کې به موږ د عايشې ﷺ نه پوښتنه کول، (ترمذي) هغې ته الله تعالی سخاوت، عبادت او تواضع ښکلي صفتونه ورکړي وو، زيات وخت به يې روژه نيول، هر کال به يې حج کولو او غلامان به يې آزادول، عايشه ﷺ د مکثرين في الحديث څخه شمار ده، د حديثو په کتابونو کې ترې ۲۲۱۰ احاديث نقل شوي دي، په کوم کې چې ۱۷۴ حديثونو باندې د بخاري او مسلم اتفاق دی، امام بخاري رحمه الله منفرداً څلور پنځوس حديثونه روايت کړي دي، په ۶۸ حديثونو کې امام مسلم رحمه الله منفرد دی، (عمدة القاري ۱-۳۸) د امير معاويه ﷺ د خلافت په دوره کې د رمضان په مياشت ۵۸ هجري کې وفات شوه، په دې وخت کې يې عمر دري شپيته کاله وو، په جنت البقيع هديره کې د شپې له خوا دفن شوه.

د مکې د فتحې نه وروسته هجرت ختم دی:

۳- وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ: د عايشې ﷺ روايت دی، فرمايي چې نبي کريم ﷺ فرمايلي: "لَا هِجْرَةَ بَعْدَ الْفَتْحِ، وَلٰكِنْ جِهَادٌ وَنِيَّةٌ" د فتح نه پس هجرت نشته ليکن جهاد او نيت باقي دی، "وَإِذَا اسْتُنْفِرْتُمْ فَانْفِرُوا" او کله چې درته جهاد ته د تلو لپاره وويل شي نو جهاد ته ووځئ! (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ) (بخاري او مسلم) (وَمَعْنَاهُ: لَا هِجْرَةَ مِنْ مَكَّةَ لِأَنَّهَا صَارَتْ دَارَ الْإِسْلَامِ) د دې مطلب دا دی چې د مکې فتح کېدو نه پس اوس د مکې نه د هجرت حکم ختم شو، ځکه چې په مکه کې اسلامي حکومت جوړ شو.

د مکې د فتحې وروسته د هجرت ختمېدو مطلب:

تشريح: (لاهجرة بعد الفتح) د مکې د فتحې وروسته هجرت نشته، دلته سوال پيدا کيږي چې په يو بل حديث کې راځي: (لاتنقطع الهجرة حتى تنقطع) د دې حديث نه معلوميږي چې هجرت به تر قيامته پورې جاري وي؟ ځواب دا دی چې په دې حديث کې خاص هجرت مراد دی، يعني د مکې نه مدينې منورې پورې هجرت کول اوس تر قيامته بند دي، ځکه چې اوس به ان شاءالله تر قيامته پورې مکه دار الاسلام وي، په دې باندې به تر قيامته پورې کفار مسلط نه شي، پاتې شوه دا خبره چې که چېرته په يو ځای کې د کفارو غلبه وي او هلته مسلمانان خپل دين ته نه پرېږدي چې په هغې باندې عمل وکړي نو بيا د دې ځای نه هجرت کول او بل ځای ته تلل په مسلمانانو باندې واجب دي، دويم ځواب دا دی چې د مکې نه مدينې منورې ته هجرت کول د نبي کريم ﷺ په زمانه کې فرض عين وو چې هغه د اسلام د حقانيت او د کافرانو د رعب او برم ماتولو لپاره وو، ليکن اوس هجرت فرض عين نه دی، هوا که چېرته په اسلام باندې عمل کول په يو ځای کې مسلمانانو ته مشکل جوړوي؛ نو د هغه ځای نه هجرت کول بيا هم فرض دي.

دا قول چې (ولکن جهاد ونيةٌ) البته جهاد او نيت کول باقي دي، علامه طيبي رحمه الله فرمايي چې

د مکې نه مدينې منورې ته چې هجرت فرض عين و، اوس هغه فرضيت ختم دی. ليکن اوس هم جهاد کول او هجرت من دار الکفر الی دار الاسلام او د علم د طلب لپاره وتل وغيره اوس هم باقي دي، دد نيت کول په هر مسلمان باندې ضروري دي.

هغه صحابه چې د ناروغی له وجې د هجرت څخه پاتې وو:

۴- وَعَنْ أَبِي عَبْدِ اللهِ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزَاةٍ فَقَالَ: د ابو عبدالله جابر بن عبدالله انصاري ﷺ څخه روايت دی، وايي چې يو ځل موږ په غزا کې د نبي کريم ﷺ سره ملګري وو، رسول الله ﷺ وفرمايل. "إِنَّ بِالْمَدِينَةِ لَرِجَالاً" په مدينه منوره کې څه کسان داسې دي. مَا سِرْتُمْ مَسِيرًا، چې تاسو څومره مزل کوئ "وَلَا قَطَعْتُمْ وَادِيًا" او يا چې په کومو کندو کې تېرېږئ إِلَّا كَانُوا مَعَكُمْ هغوی ستاسو سره دي، (يعنې اجر کې درسره شريک دي) حَبَسَهُمُ الْمَرَضُ هغوی مرض ايسار کړي دي "وَفِي رِوَايَةٍ: "إِلَّا شَرِكُوكُمْ فِي الْأَجْرِ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ په يو روايت کې دي. هغوی ستاسو سره په اجر کې شريکان دي، دا روايت د مسلم دی. وَرَوَاهُ الْبُخَارِيُّ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ او په بخاري کې د انس ﷺ نه روايت دی. رَجَعْنَا مِنْ غَزْوَةِ تَبُوكَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: موږ د تبوك له غزا نه د نبي کريم ﷺ سره را واپس شو، نو نبي عليه السلام وفرمايل: "إِنَّ أَقْوَامًا خَلْفَنَا بِالْمَدِينَةِ په مدينه کې موږ نه داسې خلک پاتې شوي دي مَا سَلَكْنَا شِعْبًا چې موږ په هر کنداو چې اوړېدلي يو وَلَا وَادِيًا او هره کنده کې چې تېر شوي يو إِلَّا وَهُمْ مَعَنَا، حَبَسَهُمُ الْعُذْرُ". هغوی زموږ سره و؛ خو عذر هغوی پاتې کړي وو، (يعنې په اجر کې راسره شريک و، ځکه چې عذر پاتې کړي وو، له قصده پاتې شوي نه وو)

لغوي تحقيق:

قطعتم قطع قطعاً، باب فتح يفتح فتحاً، په معنی د جدا کولو سره، **حبسهم** حبس احتبس لازم او متعدي دواړه استعمالېږي، دريدل او بندي کول، **شرکوکم** شرك وشركاً، باب سمع يسمع، معنی يې ده : شريك کېدل، **رجعنا** رجع رجوعاً، باب ضرب يضرب، معنی يې ده : واپس کېدل، **خلفنا** خلف خلافةً، باب نصر ينصر، معنی يې ده : جانشين او ځای ناستی، د باب ضرب يضرب نه چې شي نو په معنی د وروسته پاتې کېدو سره دی.

تشريح: د (في غزاة) نه مراد غزوه تبوك ده، لکه د بخاري شريف په روايت کې دي، دا جمله چې (ولا قطعتم واديا) او تاسو چې يو خوړ او ګرنګ وغيره پايمال کوئ؛ نو هغوی ستاسو سره په اجر کې شريکان دي، ددې حديث په تشريح کې محدثين فرمايي: په دې حديث سره د قرآن مجيد هغه آيت ته اشاره ده، لکه (ذلك بأنهم لا يصيبهم ظمأ ولا نصب ولا مخمصة في سبيل الله ولا يطئون موطئاً يغيظ الكفار ولا ينالون من عدو نيلاً الا كتب لهم به عمل صالح ان الله لا يضيع أجر المحسنين)

ترجمه: او دوی ته چې د الله ﷻ په لاره کې کومه لوږه - تنده او سختي وغيره لګيږي او کوم خای چې دوی د دښمن نه نيسي چې کفار پرې خفه کيږي مګر دا چې ددې تولو ثواب به هغوی ته ورکول کيږي او بې شکه چې الله ﷻ د نېکو خلکو عملونه نه بربادوي.

په نيت سره هم ثواب ملاويږي:

إلا كانوا معكم اى شركوكم فى أجر: د عذر په بناء چې کوم کس جهاد ته لاړ نه شي نو د نيت کولو په وجه به هم هغه ته پوره ثواب ملاويږي، ددېنه معلومه شوه چې که کوم کس د عذر له وجې يو نيك کار ونه کړي نو که په زړه کې يې رښتونی نيت کړی وي، بيا به هم هغه ته پوره ثواب ملاويږي، اوس دلته سوال پيدا کيږي چې آيا هغه کسان چې په جهاد کې شريك دي او کوم کسان چې د عذر له وجې د جهاد نه وروسته پاتې دي ددې تولو ثواب برابر دی؟ مختصر ځواب يې د ځينو محدثينو په نزد هو دی، يعنې د دواړو ثواب برابر دی، لکه څنګه چې ددې حديث نه معلومه شوه، ليکن د ځينو نورو محدثينو رايه دا ده چې نه! يعنې د دوی ثواب برابر نه دی، هغه کسان چې په جهاد کې شريکان دي د دوی اجر د ناستو خلکو څخه زيات دی، ددې ايت کريمه له وجې : ﴿لَا يَسْتَوِي الْقَاعِدُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ غَيْرُ أُولِي الضَّرَرِ وَالْمُجَاهِدُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ فَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَاهِدِينَ بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ عَلَى الْقَاعِدِينَ دَرَجَةً وَكُلًّا وَعَدَ اللَّهُ الْحُسْنَى وَفَضَّلَ اللَّهُ الْمُجَاهِدِينَ عَلَى الْقَاعِدِينَ أَجْرًا عَظِيمًا {۹۵}﴾.

ترجمه: برابر نه دي هغه کسان چې د عذر څخه بغير په کورونو کې ناست دي او کوم خلك چې جهاد کوي په خپل نفس او مال سره، الله ﷻ ډير زيات فضيلت ورکړی دی هغو کسانو ته چې د الله ﷻ په لاره کې په خپلو نفسونو او مالونو سره جهاد کوي، په هغو کسانو باندې چې په کورونو کې ناست دي او ددې تولو سره الله ﷻ ښه وعده کړې ده. کوم خلك چې د ثواب د برابروالي قائل دي هغوی وايي چې ددې آيت مطلب دا دی: کوم کسان چې بې عذره جهاد نه کوي او په کورونو کې ناست دي هغوی نه دي برابر او کوم کسان چې د عذر له وجې ناست دي هغوی ورسره برابر دي.

په نفلي صدقو کې د نيت اعتبار:

۵- وَعَنْ أَبِي يَزِيدَ مَعْنِ بْنِ يَزِيدَ بْنِ الْأَخْنَسِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ، وَهُوَ وَأَبُوهُ وَجَدُّهُ صَحَابِيُّونَ، د ابو يزيد معن بن يزيد بن اخنس ﷺ څخه روايت دی، هغه - پلار او نيکه يې درې واړه صحابه دي، قَالَ: كَانَ أَبِي يَزِيدُ أَخْرَجَ دَنَانِيرَ يَتَصَدَّقُ بِهَا هغه وايي چې زما پلار يزيد يو څو ديناره د خيرات لپاره ويستلي وو، فَوَضَعَهَا عِنْدَ رَجُلٍ فِي الْمَسْجِدِ او په جومات کې يې د يو سړي سره ايښې وو (چې حقدار ته يې ورکړي)، فَجِئْتُ فَأَخَذْتُهَا فَأَتَيْتُهُ بِهَا. ما هم ترې يو څو ديناره واخيستل، پلار ته مې راوړل، فَقَالَ: وَاللَّهِ مَا إِيَّاكَ أَرَدْتُ، هغه راته وويل: قسم په خدای ما خو تا ته نه ورکول، فَخَاصَمْتُهُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: موږ دواړو دا جګړه رسول الله ﷺ ته وړاندې کړه، هغه وفرمايل: "لَكَ مَا نَوَيْتَ يَا يَزِيدُ" اې يزيده: تا چې څه نيت کړی وو هغه وشو، يعنې

ستا خيرات وشو، وَلَكَ مَا أَخَذْتَ يَامَعْنُ "رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ" او اې معن! تا چې څه شي اخيستى دى، دا ستا دي (يعني تاته يې اخيستل جائز دي). بخاري

لغوي تحقيق:

(۱) **اخرج:** يخرج إخراجاً، باب افعال دى، په معنى د ويستلو سره دى او په مجردو کې د باب نصر نه په معنى د بهر ويستلو سره دى.

(۲) **يتصدق:** تصدق تصدقاً، باب تفعل، په معنى د خيرات ورکولو سره دى او په مجردو کې د باب نصر ينصر نه په معنى د ربښتيا ويلو سره دى.

(۳) **فوضعها:** وضع وضعاً، د باب فتح نه په معنى د کېښودلو سره دى.

(۴) **اخذتها:** اخذ أخذاً، باب نصر ينصر، په معنى د اخيستلو سره دى.

(۵) **اتيتها:** اتى إتياناً، باب ضرب يضرب، په معنى د راتلو سره دى.

(۶) **خاصمته:** خاصم خصاماً ومخاصمة، باب مفاعله، په معنى د جنګ او جګړې کولو سره دى.

د صدقې لپاره وکيل جوړول:

تشريح: اخرج دنانير: هغه د صدقې لپاره دينار راوويستل په نبوي جومات کې يې يو کس سره کېښودل، ددې لپاره چې هغه يې کوم ضرورتمند او محتاج ته ورکړي، ددېنه معلومه شوه چې په صدقه ورکولو کې وکيل جوړول جائز دي چې هغه يې کوم محتاج ته ورکړي، فجئت فاخذتها: زه راغلم هغه دينار مې د هغه سړي څخه واخيستل، فخاصمته إلى رسول الله ﷺ: دغه جنګ مو د رسول الله ﷺ وړاندې پيش کړو، ددېنه معلومه شوه چې په شرعي مسئلو کې د خپل پلار سره تنازع او بحث کول چې بې ادبۍ پکې نه وي جائز ده، دغه شان کوم قاضي يا مفتي ته د شرعي مسئلې معلومولو لپاره خپل پلار بوتلل په بې ادبۍ کې شمار نه دي.

فقال لك مانويت يايزيد ولك ما اخذت يامعن:

ترجمه: اې يزيده! ستا لپاره ستا د نيت ثواب دى او اې معن! تا چې څه واخيستل هغه ستا لپاره جائز دي. که صدقه محتاجه او ضرورتمند بچي ته ورسيږي نو په دې باندې پلار ته پوره اجر او ثواب ملاويږي، ځکه چې هغه مستحق ته د رسېدلو نيت کړى وو، ليکن په دې کې علماء کرامو رحمهم الله د نفلي صدقې قيد لګولى دى، ځکه چې واجبه صدقه يعنې زکوٰة خپل بچي ته ورکول جائز نه دى، ځکه چې په زکوٰة کې دا شرط دى چې اصولو يعنې پلار- نيکه وغيره ته او دغه شان فروعو يعنې بچي او لمسي وغيره ته نه ورکول کيږي.

د مال دريمه برخې وصيت کول:

۲- وَعَنْ أَبِي إِسْحَاقَ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ مَالِكِ بْنِ أُهَيْبِ بْنِ عَبْدِ مَنَافِ بْنِ زُهْرَةَ بْنِ كِلَابِ بْنِ مُرَّةَ بْنِ كَعْبِ بْنِ لُؤَيٍّ

الْقُرَشِيِّ الزُّهْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، أَحَدِ الْعَشَرَةِ الْمَشْهُودِ لَهُمْ بِالْجَنَّةِ، رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ قَالَ: د ابواسحاق سعد بن ابي وقاص مالك بن اهيب بن عبدمناف ابن زهرة بن كلاب بن مرة بن كعب بن لوی قريشي زهري ﷺ څخه روايت دی (سعد بن ابي وقاص ﷺ د هغو لسو كسانو څخه دی چې د جنت زيری ورکړل شوی دی، هغه وايي چې "جَاءَنِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُنِي عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ مِنْ وَجَعٍ اشْتَدَّ بِي فَقُلْتُ: د حج وداع په موقع زه د سخت درد نه ناروغه شوم، رسول الله ﷺ زما پوښتنې ته راغلو يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي قَدْ بَلَغَ بِي مِنَ الْوَجَعِ مَا تَرَى، ما ورته ووېل: اې د الله تعالى رسوله! ته وينې چې زه څومره سخت ناجوړه يم. وَأَنَا ذُو مَالٍ وَلَا يَرِثُنِي إِلَّا ابْنَةٌ لِي، زه مالدار يم، زما وارث يوازې زما يوه لور ده، د هغې څخه بغير بل څوک نشته. أَفَأَتَصَدَّقُ بِثُلُثَيْ مَالِي؟ آيا زه د خپل مال په درې برخو کې دوه برخې خيرات کولی شم؟ قَالَ: لَا، نبي كريم ﷺ وفرمايل: نه، قُلْتُ: فَالشَّطْرُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ؟ ما ووېل: ايا نيم خيرات کولی شم؟ فَقَالَ: لَا، نبي كريم ﷺ وفرمايل: نه، قُلْتُ فَالثُّلُثُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ؟ بيا مې ووېل: ايا دريمه برخه خيرات کولی شم؟ قَالَ: الثُّلُثُ وَالثُّلُثُ كَثِيرٌ أَوْ كَبِيرٌ نبي كريم ﷺ وفرمايل: هو! دريمه برخه او دريمه برخه كافي ده يا يې وفرمايل: هو! دريمه برخه ډېره ده، إِنَّكَ إِنْ تَذَرْ وَرَثَتَكَ أَغْنِيَاءَ خَيْرٌ مِنْ أَنْ تَذَرَهُمْ عَالَةً يَتَكَفَّفُونَ النَّاسَ، او ته چې خپل وارثان مالدار پرېږدې دا بهتره ده ددې نه چې غريبان يې پرېږدې چې د خلكو نه سوال كوي، وَإِنَّكَ لَنْ تُنْفِقَ نَفَقَةً تَبْتَغِي بِهَا وَجْهَ اللّٰهِ إِلَّا أُجِرْتَ عَلَيْهَا حَتَّى مَا تَجْعَلُ فِي فِيِّ امْرَأَتِكَ ته د الله ﷻ د رضا لپاره چې څه خرچ کوې د هغې اجر به درکولی شي، تر دې چې که خپلې مېرمنې ته په مېنه خوله کې دوډی ورکړې، ددې اجر به هم درکولی شي، قَالَ: فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ أُخَلَّفُ بَعْدَ أَصْحَابِي؟ بيا مې ووېل: اې د الله تعالى رسوله! زه به د خپلو ملګرو د تلو نه پس وروسته پاتې شم (يعنې نور اصحاب به واپس مدينې ته لاړ شي او زه به د ناروغۍ په وجه مكه کې پاتې شم نو د اجر نه به محروم شم) قَالَ: إِنَّكَ لَنْ تُخَلَّفَ فَتَعْمَلَ عَمَلًا تَبْتَغِي بِهِ وَجْهَ اللّٰهِ إِلَّا ازْدَدْتَ بِهِ دَرَجَةً وَرِفْعَةً نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل: ته كه وروسته پاتې شوې نو د ملګرو د تلو نه پس چې ته د الله ﷻ د رضا، لپاره كوم نيك عمل وكړې په هغې به ستا مرتبه نوره هم اوچته شي، وَلَعَلَّكَ أَنْ تُخَلَّفَ حَتَّى يَنْتَفِعَ بِكَ أَقْوَامٌ وَيُضَرَّ بِكَ آخَرُونَ او ته به تر هغه پورې ژوندی يې چې مسلمانانو ته درنه خير ورسېږي او كافرانو ته نقصان، اللّٰهُمَّ أَمْضِ لِأَصْحَابِي هِجْرَتَهُمْ، وَلَا تَرُدَّهُمْ عَلَى أَعْقَابِهِمْ، (دې نه پس نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ دعا وكړه) اې الله ﷻ! زما د اصحابو هجرت ونه قبول كړې او دوی مه په شا كوې چې پښېمانه شي، لَكِنِ الْبَائِسُ سَعْدُ بْنُ خَوْلَةَ "يَرْثِي لَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَنْ مَاتَ بِمَكَّةَ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. ليكن قابل د رحم دی سعد بن خوله (نبي كريم ﷺ د هغه په حال د رحم او شفقت اظهار وكړو) ځكه چې هغه په مكه کې وفات شو او د هجرت د ثواب نه محروم پاتې شو (متفق عليه)

لغوي تحقيق: يعودني: تعود، تعوداً: د ناروغ پوښتنه کول.

وجع: وجع، وجعاً: باب فتح يفتح، په معنى د ناروغه کېدو سره.

اشتد: اشتد عليه المرض، د ناروغى زياتېدل. **بلغ: بلغ بلوغاً،** باب نصر ينصر، په معنى د رسيدو سره

يرثني: ورث ورثاً، باب نصر ينصر، په معنى د وارث کېدو سره.

فالشطر: شطر شطراً، باب نصر ينصر، کوم شى په برابر دوه حصو باندې تقسيمول

يتكففون: كفف تكففاً، باب تفعل، معنى يې ده: د خلکو نه سوال کول

تبتغي: ابتغى، باب افتعال، معنى يې ده: طلب کول.

تجعل: جعل جعلاً، باب فتح يفتح، په معنى د جوړولو سره.

اخلف: تخلف تخلفاً، باب تفعل، په معنى د وروسته پاتې کېدو سره

امض: مضى مضاءً ومضواً على الامر، په يو کار باندې هميشه والى کول.

د ناروغ د پوښتنې فضيلت

تشريح: جاءني رسول الله ﷺ يعودني: نبي کريم ﷺ زما پوښتنې ته تشريف راوړو، د ناروغ پوښتنه کول د نبي کريم ﷺ سنت عمل دى، په يو روايت کې دي: **عن انس ﷺ قال قال رسول الله ﷺ من توضأ فأحسن الوضوء وعاد أخاه المسلم أبعده الله من جهنم ستين خريفاً:** د انس ﷺ څخه روايت دى، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل کوم کس چې په ښکلي شان سره اودس وکړي بيا د ناروغ پوښتنې ته لاړ شي؛ نو الله ﷻ به يې د جهنم څخه د شپېتو کالو په مسافت سره لرې کړي

د مرګ نه مخکې د دريمې حصې مال وصيت کول:

فالثلث يا رسول الله ﷺ! قال الثلث، اې د الله تعالى رسوله! ايا زه د دريمې حصې مال وصيت کولى شم؟ نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: هو! د دريمې حصې مال وصيت کولى شې. د دې نه علماء کرامو رحمهم الله دا خبره مستنبط کړې ده چې د مرګ په حالت کې انسان په خپل مال کې د دريمې حصې نه زيات مال وصيت نه شي کولى، علماء کرام فرمايي چې که هغه ناروغ د ټول مال وصيت وکړي او ناروغ د همدې ناروغى څخه مړ شي؛ نو په داسې حالت کې به د وارثانو حق تلفي وشي او که چېرته ژوندى پاتې شي! نو هغه به خپله خالي لاسونه پاتې شي او په قرآن مجيد کې د دې څخه منع راغلې ده، **ولا تبسطها كل البسط فتقعد ملوماً محسوراً،** تاسو خپل لاسونه بالکل فراخه کوئ مه، ځکه چې ټول مال به خرچ کړئ نو بيا به قابل د ملامتيا او تاوانې پاتې شئ!

خپلې ښځې ته د وودې ورکولو ثواب او مصلحت:

"حتى ما تجعل في في إمرءتك" تر دې چې کومه ووډې د خپلې ښځې په خوله کې اچوې په دې کې هم

ثواب شته) په دې حدیث کې د خیر کارونو مثال ورکول شوی دی، که چېرته کوم انسان خپلې ښځې ته یوه ګوله ډوډۍ په خوله کې ورکړي، په دې کې هم ثواب شته، دغه وخت یو صحابي تعجب وکړو چې اې د الله تعالی رسوله! یو سړی به خپل خواهش پوره کوي، په دې کې به هم هغه ته ثواب ملاوېږي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: که چېرته دغه سړی په حرامه توګه (زنا) سره خواهش پوره کوي؛ نو آیا په دې کې به ګناه نه وي؟ ضرور به وي!؟ دغه شان که په حلاله توګه یې پوره کړو؛ نو خامخا به پکې ثواب وي.

ددېنه معلومه شوه چې انسان شپه او ورځ کوم مباح او جائز کارونه کوي، ددې کارونو په وخت باید دا نیت وشي چې دا کارونه زما لپاره الله ﷻ حلال کړي دي او ددې په ذریعه زه د حرامو څخه بچ شم، په داسې حال کې به دده ټول کارونه عبادت وګرځي.

(ولعلك ان تخلف حتی ینتفع بك اقوام ویضر بك آخرون) تا ته به زیات ژوند درکړل شي چې ستا په ذریعه به ځینې خلك ستا نه فایده اوچته کړي او ځینې نورو خلکو ته به ستا نه تکلیف ورسیږي، د نبي کریم ﷺ دغه وړاندیزونه صحیح ثابت شوه، د عراق تر فتحې پورې ژوندی وو، د هغه ځای امیر هم جوړ شو چې له امله یې مسلمانانو ته فایده ملاو شوه او کافرانو ته ترې تکلیف ورسېدلو.

(اللهم امض لاصحابي هجرتهم) اې الله ﷻ! زما صحابه کرامو ﷺ ته هجرت پوره او جاري وساتې، د اسلام په شروع کې د مکې مکرمې څخه مدینې منورې ته هجرت کول فرض وو، ددې په اړه زیات فضیلت ښودل شوی دی، له هم دې امله صحابه کرام ﷺ د مدینې منورې نه مکې ته واپس نه شول چې داسې نه زموږ هجرت ته نقصان ورسیږي، د حج او عمرې په دوران کې به هم یرېدل چې هسې نه موږ ته دلته مرګ رانشي چې په هجرت کې به مو کمی راشي.

(لکن البائس سعد بن خولة) دا د راوي جمله ده، د نبي کریم ﷺ خبره ددېنه وړاندې ختمه شوه، د راوي نه مراد علامه زهري رحمه الله دی یا د ځینو نورو په نزد د سعد رضي الله عنه غلام مراد دی.

سعد بن خوله کله وفات شوه؟

(ان مات بمکة) د سعد رضي الله عنه په باره کې د ځینو علماء کرامو رحمهم الله رایه دا ده چې هغه د مکې نه مدینې ته هجرت نه دی کړی، د ځینو رایه دا ده چې د بدر جهاد نه وروسته مکې ته تللی و او د ځینو نورو عالمانو په نزد حجة الوداع ته تللی و او هلته یې انتقال وشو، دغه ډول نور ډېر اقوال دي، خو د سعد رضي الله عنه انتقال په مکه مکرمه کې وشو، نو ځکه نبي کریم ﷺ دوی ته خصوصي دعاء وکړه.

د راوي سعد رضي الله عنه مختصر ژوند:

اصلي نوم یې سعد، اسم کنیت یې ابو اسحاق، د پلار نوم یې مالك او ابو وقاص یې کنیت و. د مور نوم یې حمنه وه، په رشته کې د نبي کریم ﷺ ماما و، (اسد الغابة: ۲- ۲۹۱)، د نولسو کالو په عمر کې د ابوبکر رضي الله عنه په مشرۍ د نبي کریم ﷺ په خدمت کې حاضر شو او په اسلام مشرف شو، د مکې نه یې مدینې ته هجرت وکړو او د خپل ورور عتبة بن ابي وقاص په کور کې پاتې شو، (طبقات ابن سعد دریم ټوک: ۹۹)، د نبي کریم ﷺ په معیت کې یې په مختلفو غزاګانو کې ګډون کړی و، د

هغو صحابه کرامو څخه شمار دی چې په دنيا کې ورته د جنت زيری ورکول شوی ؤ، دوی ټول لس صحابه کرام ﷺ وو، يو شاعر په عربي شعر کې دوی داسې شمار کړي دي:

وافضل اصحاب النبی مکانه ومنزلة من بشروا عنان

سعيد، زبير، سعد، عثمان عامر علي، ابن عوف، طلحة الحران

د احد په غزا کې نبي کريم ﷺ هغه ته وفرمايل: (ارم يا سعد! فداك امي وابي) اې سعده! په تا باندې دې زما مور پلار قربان شي، غشي وله، دا جمله د سعد ﷺ لپاره لوی فضيلت ثابتوي، هم دغه جمله نبي کريم ﷺ په يوه موقع طلحه ﷺ او په بله موقع زبير ﷺ ته هم فرمايلي وه، عمر ﷺ د کوفې والي وټاکلو، ليکن بيا يې وروسته معزوله کړو، خو کله چې عثمان ﷺ د امير المؤمنين په توګه وټاکل شو، نو دوباره يې والي کړو، هغه د عقيق په مقام کې وفات شو، دغه ځای د مدينې منورې څخه په لس ميله اندازه لرې دی، دلته د پنځه پنځوسو کالو په عمر کې ددې فاني نړۍ څخه رخصت شو او د بقيع په هديره کې دفن کړی شو، ابن جوزي رَحِمَهُ اللهُ وايي چې د رواياتو شمېر يې ۲۷۱ دی، په ۲۵ باندې د بخاري او مسلم اتفاق دی.

د صحيح نيت سره عمل کول

۷- وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ صَخْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: د ابوهريره (عبدالرحمن بن صخر) رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: "إِنَّ اللهَ لَا يَنْظُرُ إِلَى أَجْسَامِكُمْ، الله ﷻ ستاسو بدنونه ته نه ګوري، وَلَا إِلَى صُوَرِكُمْ، نه هم ستاسو شکلونو ته ګوري، وَلٰكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ. هغه خو ستاسو زړونو ته ګوري. مسلم.

الله تعالى زړونو ته ګوري:

تشريح: په څېنو نورو رواياتو کې داسې الفاظ راغلي دي: "إن الله لا ينظر إلى صوركم وأموالكم ولكن ينظر إلى قلوبكم وأعمالكم" مطلب دا چې د الله ﷻ په نزد هغه ته مالداري يا سنګار د نږدې کېدو ذريعه نه شي جوړېدلی، بلکې څوک چې الله تعالى ته نږدې کيږي نو په صحيح او نيک عمل سره به نږدې کيږي، الله تعالى چاته د خپلې رضاء او رحمت فيصله د هغه د شکل او مالداری په وجه نه کوي، بلکې د هغه صحيح نيت په توګه ورته خپله رضامندي نصيب کوي، عملونه که هر څومره ښکلي شي؛ خو چې نيت پکې صحيح نه وي نو دا عملونه په ځای ددې چې الله ﷻ ته پرې نږدې شي نور به هم د الله ﷻ څخه لرې شي، ددې نه معلومه شوه چې په يو وخت کې زړه او عمل صحيح کول ضروري دي، دغه خبره په يو بل روايت کې په داسې الفاظو سره بيان شوې ده، ألا إن في الجسد مضغة الخ... خبردار! په بدن کې يوه د غوښې ټوټه ده، که هغه صحيح وي نو ټول بدن به صحيح وي او که هغه خرابه وي نو ټول بدن به خراب وي او هغه ټکړه زړه دی.

د راوي ابوهريره ﷛ دژوند مختصر حالت:

صحيح نوم يې عمر، کنيت يې ابوهريره، د پلار نوم يې عامر و، خانداني نوم يې عبد شمس و، کله چې نبي کريم ﷺ د خيبر جهاد ته لاړو، نو هغه د يو وفد سره د اسلام قبلولو لپاره په مدينه منوره کې حاضر شو، بيا د غه وفد خيبر ته لاړو او هم هلته يې اسلام قبول کړو، (طبقات ابن سعد)

د اسلام قبلولو وروسته يې کله هم د نبي کريم ﷺ څخه جدايي اختيار کړې نه ده، تل به د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر و، عمر ﷛ هغه د بحرين عامل جوړ کړو، ابو هريره ﷛ د علم په خوند خبر ؤ، په عامه توګه به صحابه کرامو ﷡ د رسول الله ﷺ نه په پوښتنه کې لږ شرم کولو، خو هغه به هيڅ پروا نه کول، سوالونه او پوښتنې به يې کولې، په دې وجه د دوی نه روايات د حديثو په کتابونو کې زيات نقل شوي دي، څينې خلکو به شك کولو چې څنګه د هغه څخه زيات روايات نقل شوي دي؟ دوی به ورته په ځواب کې فرمايل: مهاجر صحابه کرام ﷡ به د تجارت لپاره بازار ته تلل او انصارو صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ به خپل باغونه څروبول، يو زه وم چې هميشه به د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر ناست وم، هغه ته الله ﷻ ډېر زيات خصلتونه ورکړي وو، د دوی په خاصو صفتونو کې يو صفت دا ؤ چې د قيامت د ورځې څخه به زيات وېرېدلو، کله چې به د هغه په وړاندې د قيامت تذکره وشوه نو هغه به بې هوشه شو، عبادت، رياضت، د نبي کريم ﷺ سره مينه، د مور سره مينه، د نبي کريم ﷺ د آل سره مينه، سادګي او سخاوت د دوی خاص صفتونه وو، د وليد په دوره کې په مدينه منوره کې ناروغ شو او په مدينه منوره کې وفات شو، وليد د هغه جنازه وکړه، د عثمان ﷛ بچيانو د هغه جنازه پورته کړه او په جنت البقيع کې دفن شو، د انتقال په وخت يې عمر ۷۸ کاله ؤ، د رواياتو شمېر يې: ۵۳۷۴ ته رسېدلی دی، په ۳۲۵ حديثونو باندې د بخاري او مسلم اتفاق دی او په ۷۹ حديثونو باندې صرف بخاري او په ۹۳ حديثونو باندې يوازې مسلم انفراد کړی دی (تهذيب الکمال)

د کلمه توحيد د پورته کولو لپاره جهاد کول

۸- وَعَنْ أَبِي مُوسَى عَبْدِ اللهِ بْنِ قَيْسٍ الْأَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: سُئِلَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ابوموسی اشعري ﷛ نه روايت دی چې د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه (عَنِ الرَّجُلِ يُقَاتِلُ شَجَاعَةً) چې يو سړی د خپلې بهادرۍ ښکارندولو لپاره جنګ کوي، وَيُقَاتِلُ حَمِيَّةً يو سړی د قومي غيرت لپاره جنګېږي (وَيُقَاتِلُ رِيَاءً) او يو سړی د شهرت لپاره جنګ کوي، أَيُّ ذٰلِكَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ؟ په دې درې واړو کې کوم يو د الله ﷻ په لار کې جهاد کوي؟ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ قَاتَلَ لِتَكُوْنَ كَلِمَةُ اللهِ هِيَ الْعُلْيَا فَهُوَ فِيْ سَبِيْلِ اللهِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. رسول الله ﷺ وفرمايل: څوك چې په دې غرض جنګ کوي چې د الله ﷻ کلمه يعنې د اسلام دين دې اوچت شي، دغه سړی مجاهد في سبيل الله دی او د زيات ثواب حقدار دی (د ده نيت صحيح دی) (بخاري او مسلم)

د عملونو د قبوليت لپاره د الله تعالى رضاء شرط ده:

تشريح سوال کونکي صحابي لاحق بن ضمرة الباهلي ﷺ دى چې په خواب کې يې رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: من قاتل لتكون كلمة الله هي العليا لکه څنګه چې واضحه شوه د الله ﷻ په نزد د عملونو قبوليت په صحيح نيت باندې موقوف دى، د جهاد په څير يو عظيم الشان عمل کې به خامخا د نيت صفايي مهمه وي، په دې وجه رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې خالص د الله ﷻ د رضا او اعلاء كلمة الله لپاره وجنګيږي، هغه به مجاهد وي، خو الله ﷻ انسان په ظاهره مکلف کړى دى، په دې وجه به د جهاد په ميدان کې هر مسلمان مقتول شهيد بلل کيږي او د هغه سره به د شهيد معامله کولى شي او د نيت مسئله به الله ﷻ ته سپارل کيږي ځکه چې د زړونو حال صرف يو الله ﷻ ته معلوم دى.

د راوي ابوموسى اشعري ﷺ مختصر حالات:

نوم يې عبد الله، کنيت يې ابوموسى، د پلار نوم يې قيس، د مور نوم يې طيبه و، د يمن اوسيدونکى و، دده خاندان د اشعري قبيلې سره تعلق درلود، په دې وجه ورته اشعري ويل کيږي، ابو موسى اشعري ﷺ چې کله اسلام قبول کړو، نو واپس خپلې قبيلې ته لاړو، د خپل قوم مشر ؤ، دده په دعوت سره يې د تولې کورنۍ پنځوسو کسانو اسلام قبول کړو، ابو موسى ﷺ هغه خلک له ځان سره مدينې منورې ته روان کړل، په داسې حال کې مدينې ته راورسيدل چې جعفر ﷺ هم په دې ساعت هلته راوسيدو، په دې وخت کې نبي کريم ﷺ د خيبر د جهاد نه واپس شو، نبي کريم ﷺ د غنيمت مال د نورو خلکو په ګډون هغه او خاندان ته يې هم ورکړو، دده نه وروسته چې څومره جهادونه شوي دي په دې ټولو کې هغه شرکت کړى دى، د عمر ﷺ په دور خلافت کې د بصرې والي جوړ شو، بيا په ۳۴ هجري کې د کوفې امير جوړ شو، ابو موسى اشعري ﷺ د هغه خوش نصيبه کسانو څخه دى چې د نبي کريم ﷺ په ژوند کې يې فتوې ورکولې، د هغه خصوصي صفات دا وو: د سنتو تابعداري، تقوى، د رسول الله ﷺ خدمت، شرم وحياء، سادګي او د مسلمان امت خير خواهي د هغه ځانګړې صفات وو، د قرآن کريم سره يې زياته مينه وه، د خوږ اواز ښتن ؤ، نبي کريم ﷺ يو ځل دده تلاوت واوريدو، بيا يې وفرمايل: دده ته د لحن داؤدي څخه څه حصه الله ﷻ ورکړې ده، د قرآن کريم د تلاوت سره سره يې په حديثو کې هم زيات مهارت درلود، د مروياتو شمير يې ۳۶۰ دى، په دې کې په ۵۰ حديثونو باندې د بخاري او مسلم اتفاق دى، په ۴ حديثونو باندې امام بخاري او په ۴۵ حديثونو باندې امام مسلم منفرد دى، د صحيح قول مطابق په مکه مکرمه کې په کال ۴۲ هجري کې بيمار شو، د وفات په وخت کې يې عمر ۶۱ کاله ؤ.

د دنيوي جنګ انجام

۹- وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ نُفَيْعِ بْنِ الْحَارِثِ الثَّقَفِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: د ابوبکرة ثقفي ﷺ نه روايت دى چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "إِذَا الْتَقَى الْمُسْلِمَانِ بِسَيْفَيْهِمَا" کله چې دوه مسلمانان د تورو

سره يو بل ته مخامخ شي، **فَالْقَاتِلُ وَالْمَقْتُولُ فِي النَّارِ" قُلْتُ:** نو قاتل او مقتول دواړه دوزخيان دي. **يَا رَسُولَ اللهِ، هٰذَا الْقَاتِلُ** ما وويل: اې د الله تعالى رسوله! دا يو خو قاتل دى، **فَمَا بَالُ الْمَقْتُولِ؟** نو مقتول ولې دوزخي شو؟ **قَالَ: " إِنَّهُ كَانَ حَرِيصًا عَلَى قَتْلِ صَاحِبِهِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.** نبي كريم ﷺ وفرمايل: هغه هم ددې بل د مرګ اراده کړې وه. (بخاري او مسلم)

تشريح فالقاتل والمقتول في النار" د قاتل سره به مقتول ولې جهنم ته ځي؟ ددې حديث نه محدثين استدلال کوي چې کوم کس د ګناه پوره اراده وکړي او ددې سره هغه اسباب او وسائل اختيار کړي او بيا د کوم خنډ له وجې هغه کار پوره نه شي؛ نو په داسې صورت کې به هغه ته د هغې ګناه پوره سزا ملاويږي کومه چې هغه ونه کړه، محدثين فرمايي چې ددې نه هغه جنګ مراد دى کوم چې د دنيوي غيرت او عصبيت لپاره وشي، هيڅ کومه شرعي مسئله د دوی په مينځ کې نه وي او که چېرته کومه شرعي مسئله د دوی په مينځ کې د جنګ باعث ګرځېدلې وي او دواړه فريقه د خپل اجتهاد په بنياد خپل ځان په حقه وبني او د بل سره جنګيږي؛ نو په داسې صورت کې بيا په دې وعيد کې داخل نه دي، په مسلم شريف کې د (حريصاً على صاحبه) پر ځاى (انه قد أراد قتل صاحبه) الفاظ راغلي دي چې هغه هم د خپل ملګري د وژلو اراده کړې وه.

د راوي نفيع بن حارث رضي الله عنه مختصر ژوند:

نوم يې نفيع رضي الله عنه، کنيت يې ابوبکرة، د طائف قبيلې ثقيف سره يې تعلق درلود. د نيکه نوم يې کلده ؤ، بکرة د لرګي څرخ ته ويل کيږي چې د اوبو راويستلو لپاره په کوهي باندې لګول کيږي او په هغه باندې د اوبو سلواغه په اسانۍ سره راويستل کيږي، کله چې نبي کريم ﷺ طائف محاصره کړو، نو دی په دغه څرخ پورې ننښتی، و او لاندې زوړند ؤ، بيا وروسته د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شو. اسلام يې راوړلو، نبي کريم ﷺ ورته خپل بچی، ويلی ؤ. هغه ته يې د ابوبکره په خطاب سره آواز وکړو. وروسته يې آزاد کړو، خو هغه به ځان د نبي کريم ﷺ په غلامانو کې شمارلو. د فتنې نه به ډير لرې تښتېدلو، تر دې پورې چې په جنګ جمل او جنګ صفين کې هم شريک نه شو. د هغه خصوصي مينه د عبادت سره وه، تر آخري سلګۍ پورې يې په ښه شان عبادت وکړو، د اسد الغابة ليکوال علامه ابن الاثير رحمه الله ليکي: كان أبوبكرة كثير العبادة حتى مات، هغه د امير معاويه رضي الله عنه په دور خلافت کې په بصره کې وفات شو. د مرویاتو شمير يې ١٣٢ دی، په دې کې په ٨ باندې د بخاري او مسلم اتفاق دی او په ٥ باندې بخاري منفرد دی، دده نه ډير زيات روايتونه د هغه زوی روايت کړي دي

په جمعې سره د لمانځه فضيلت:

١٠ - **وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:** د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: **"صَلَاةُ الرَّجُلِ فِي جَمَاعَةٍ تَزِيدُ عَلَى صَلَاتِهِ فِي سُوقِهِ وَبَيْتِهِ بِضْعًا وَعِشْرِينَ دَرَجَةً"** چې په جماعت کې بنده جماعت سره لمونځ وکړي، دا يې په کور يا دکان کې ځانته لمانځه نه څه ډېاسه شل

(پنځه ويشت) درجې زيات دي، "**وَذٰلِكَ أَنَّ أَحَدَهُمْ إِذَا تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوْءَ**" دا ځکه چې بنده په ښه شان اودس وکړي "**ثُمَّ أَتَى الْمَسْجِدَ لَا يُرِيْدُ إِلَّا الصَّلٰوةَ**" بيا جماعت ته روان شي او د لمانځه څخه بغير بل مقصد يې نه وي، **لَا يَنْهَزُهُ إِلَّا الصَّلٰوةُ** او بې لمانځه بل څه نه وي را پورته کړي، "**لَمْ يَخْطُ خُطْوَةً إِلَّا رُفِعَ لَهُ بِهَا دَرَجَةٌ**" په هر قدم يې يوه درجه زياتېږي، **وَحُطَّ عَنْهُ بِهَا خَطِيْئَةٌ** او يوه ګناه يې معاف کېږي، (**حَتّٰى يَدْخُلَ الْمَسْجِدَ**) تر دې چې جومات ته داخل شي، (**فَإِذَا دَخَلَ الْمَسْجِدَ كَانَ فِي الصَّلٰوةِ مَا كَانَتِ الصَّلٰوةُ هِيَ تَحْبِسُهُ**) او تر څو چې په جومات کې د لمانځه په انتظار ناست وي نو دا وخت يې ټول د لمانځه په حکم کې دي، **وَالْمَلَائِكَةُ يُصَلُّوْنَ عَلٰى أَحَدِكُمْ** او پرښتې ورته د بخښنې دعا غواړي، **مَادَامَ فِيْ مَجْلِسِهِ الَّذِيْ صَلّٰى فِيْهِ**، تر څو چې په اودس کې په هغه ځای ناست وي کوم ځای چې يې لمونځ کړی وي، **يَقُوْلُوْنَ: اَللّٰهُمَّ ارْحَمْهُ، اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لَهُ، اَللّٰهُمَّ تُبْ عَلَيْهِ**، پرښتې دا دعا غواړي، اې الله ﷻ! په ده باندې رحم وکړې اې الله ﷻ! ده ته ګناهونه معاف کړې، اې الله ﷻ! د ده توبه قبوله کړې! (**مَالَمْ يُؤْذِ فِيْهِ**) ترڅو پورې چې يې چاته ضرر نه وي رسولی، **مَالَمْ يُحْدِثْ فِيْهِ** او بې اودسه شوی نه وي، (**مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وَهٰذَا لَفْظُ مُسْلِمٍ. وَقَوْلُهُ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَنْهَزُهُ" هُوَ بِفَتْحِ الْيَاءِ وَالْهَاءِ وَبِالزَّايِ: أَيْ يُخْرِجُهُ وَيُنْهِضُهُ**) (بخاري او مسلم) (امام نووي رحمه الله وايي) دا حديث بخاري او مسلم دواړو روايت کړی دی (خو د دواړو په الفاظو کې لږ فرق دی).

دا الفاظ د مسلم دي او په دې کې ده **يَنْهَزُهُ** لفظ ((ی)) او ((هـ)) دواړو باندې زبر دی او ((هـ)) پسې ((ز)) ده، معنا يې ده: راوتل او راپورته کېدل، يعنې چې د لمانځه په نيت راوتلی وي، بل کار پسې نه وي راوتلی

تشريح په جومات کې په جماعت سره لمونځ کولو له وجې پنځه ويشت يا اوه ويشت درجې ثواب زياتېږي، (تزيد على صلوته فى سوقه وبيته بضعاً وعشرين درجة) په جومات کې په جماعت سره لمونځ کولو کې ثواب پنځه ويشت درجې زياتېږي په نسبت سره هغه لمونځ ته چې په کور يا بازار کې وشي، دلته سوال پيدا کېږي چې په نورو رواياتو کې راځي چې په اوه ويشت درجې زياتېږي؟ ځواب دا دی چې په اولنې وحې کې پنځه ويشت درجې زياتوالی وښودل شو، بيا دويم ځل وحې نازلېدو سره اوه ويشت درجې زيات راتلی شي چې د خينې خلکو په جماعت سره لمونځ کولو کې پنځه ويشت درجې ثواب زياتېږي او د خينو نورو په نزد اوه ويشت درجې زياتېږي، يا مونږ داسې ويلی شو چې جهري لمونځ په جماعت سره کولو کې پنځه ويشت درجې زياتېږي او سري لمونځ په جماعت سره کولو کې اوه ويشت درجې زياتېږي، يا بل ځواب داسې دی چې کوم ډېر زيات مشقت او تکليف په جماعت سره لمونځ کولو کې برداشت کړي هغه ته اوه ويشت درجې ثواب ملاوېږي او کوم کس چې کم مشقت او تکليف برداشت کړي هغه ته پنځه ويشت درجې ثواب ملاوېږي، خينو محدثينو دغه ثواب په جومات کې په جمعې سره لمونځ کولو کې منحصر کړی دی، ليکن د خينو نورو محدثينو رايه د دوی څخه مخالفه ده، هغوی وايي چې

دا ثواب په مطلق جماعت سره حاصلیږي که په جومات کې وشي او که په پټي کې یا په هر حال کې جماعت ادا شي، هغه ته به اوه ویشت درجې زیات ثواب ملاویږي.

پرښتې لمونځ کوونکي ته دعا کوي:

والملائکة یصلون پرښتې هغو کسانو ته چې د لمانځه نه فارغ شي دعاګانې کوي تر څو پورې چې په اودسه کې په هغه ځای ناست وي چې لمونځ يې کړی وي، لمونځ د ټولو عبادتونو څخه اهم عبادت دی، د همدې وجې پرښتې لمونځ کونکو ته د خیر دعاګانې کوي، ددې حدیث نه ځینې علماء کرامو استدلال کړی دی چې په بازارونو او کلیو کې ځانته لمونځ کول جائز دي لیکن د فضیلت نه خالي دي او کوم لمونځ چې د عذر څخه بغیر په بازار یا کلیو او کورونو کې په جماعت سره ادا شي هغه مکروه دی.

په نیت باندې اجر:

١١- وَعَنْ أَبِي الْعَبَّاسِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فِيمَا يَرْوِيْ عَنْ رَبِّهِ، تَبَارَكَ وَتَعَالَى قَالَ د عبدالله بن عباس بن عبد المطلب رضي الله عنهما نه په هغو روایاتو کې چې رسول الله ﷺ يې د الله جل جلاله له طرفه فرمايي روایت دی: (یعنې حدیث قدسي دی) نبي کریم ﷺ وفرمایل: "إِنَّ اللهَ كَتَبَ الْحَسَنَاتِ وَالسَّيِّئَاتِ ثُمَّ بَيَّنَ ذٰلِكَ: الله جل جلاله نیکۍ او بدۍ مقرر کړي دي (چې دا ښه کارونه دي او دا بد کارونه دي) او بیا يې خلکو ته ښه واضح کړي دي (د پېغمبرانو په ذریعه) فَمَنْ هَمَّ بِحَسَنَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا كَتَبَهَا اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى عِنْدَهُ حَسَنَةً كَامِلَةً کله چې بنده د یو نیک کار اراده وکړي خو هغه کار ونه کړي نو الله تعالی (صرف ددې نیت په وجه) ورته د یوې کاملې نېکۍ ثواب ولیکي، وَإِنْ هَمَّ بِهَا فَعَمِلَهَا كَتَبَهَا اللهُ عَشَرَ حَسَنَاتٍ إِلَى سَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ إِلَى أَضْعَافٍ كَثِيرَةٍ، او کله چې نیک کار وکړي نو د لس چنده څخه تر اوه سوه چنده بلکې ددې نه هم څو چنده زیات ثواب ورکولی شي، وَإِنْ هَمَّ بِسَيِّئَةٍ فَلَمْ يَعْمَلْهَا كَتَبَهَا اللهُ عِنْدَهُ حَسَنَةً كَامِلَةً، او چې د بدۍ اراده وکړي او بیا هغه بدي ونه کړي نو د یوې نېکۍ ثواب ورته ولیکل شي، (ځکه چې د بدۍ نه ځان ساتل نیکي ده)، وَإِنْ هَمَّ بِهَا فَعَمِلَهَا كَتَبَهَا اللهُ سَيِّئَةً وَاحِدَةً" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. او کله چې يې اراده وکړي او عمل يې وکړي نو الله تعالی هغه یوه ګناه ولیکي: متفق علیه

د حدیث قدسي او قرآن کریم ترمنځ فرق:

تشریح: (فیما یروی عن ربه تبارك وتعالی) نبي کریم ﷺ د الله جل جلاله ارشاد نقل کوي، داسې حدیث ته د محدثینو په نزد حدیث قدسي ویل کیږي، دلته سوال واردیږي چې حدیث قدسي هم د الله جل جلاله کلام دی او قرآن کریم هم د الله تعالی کلام دی، نو په دواړو کې فرق څه شو؟ ځواب دا دی چې د قرآن کریم تلاوت په لمانځه کې صحیح دی، خو د حدیث قدسي تلاوت په لمانځه کې صحیح نه دی، کوم کس چې حدیث قدسي تلاوت کړي د هغه لمونځ فاسد دی، دویم ځواب دا دی چې قرآن مجید الفاظ او معنی دواړه د الله جل جلاله له طرفه دي، په خلاف د حدیث قدسي چې الفاظ يې د نبي کریم ﷺ دي او معنی يې د الله جل جلاله له

طرفه ده، دريم څواب دا دی چې د قرآن کريم بدل؛ مقابل نه شي راتللی، ځکه چې دنيا ته اخطار ورکړل شوی دی چې څوك دې يو ايت يا نيم ايت د قرآن په څېر راوړي، په خلاف د حديث قدسي چې د هغې اخطار چاته نه دی ورکړل شوی، څلورم څواب دا دی چې د قرآن کريم نه انکار کول کفر دی، په خلاف د حديث قدسي چې د دې منکر کافر نه دی، پنځم څواب دا دی چې قرآن کريم ته بغير اودس لاس وروړل حرام دي، په خلاف د حديث قدسي چې هغه ته بغير اودس لاس وروړل جائز دي

د نېکۍ په ارادې سره هم يو ثواب ملاويږي:

فمن هم بحسنة لم يعملها كتبها الله تعالى عنده حسنة كاملة، کوم کس چې د يو نيك کار اراده وکړي او هغه نيك کار بيا ونه کړي نو بيا هم هغه ته يوه نېکي ملاويږي، علماء کرامو فرمايلي دي چې دا خصوصيت صرف د نبي کريم ﷺ د امت دی چې دوی ته صرف د نيك عمل نيت کولو سره هم يوه نېکي ملاويږي، اګر چې هغه نيك عمل يې کړی نه وي او د بدو په ارادې سره ورته ګناه نه ملاويږي، ترڅو پورې چې يې هغه ګناه نه وي کړې، د دې په خلاف سابقه امتونو به چې ترڅو د نېکۍ عمل نه وای کړی نېکي به ورته نه ملاوېده.

الله تعالى د يوې نېکۍ اجر بې حسابه ورکوي:

(**كتبها الله عشر حسنات إلى سبع مائة**) چې نيك عمل وکړي نو الله ﷻ به لس نېکۍ ورکړي تر اووه سوو پورې، ابن کثير رحمه الله يو روايت د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په حواله نقل کړی دی، فرمايي کله چې الله ﷻ داسې وفرمايل چې د يوې نېکۍ په بدل کې به د اوه سوه نېکيو برابر اجر ملاويږي؛ نو نبي کريم ﷺ غوښتنه وکړه چې اې الله: رب زد أمتي؛ زما د امت لپاره يې زيات کړې، بيا الله ﷻ دا آيت نازل کړو (**من ذا الذي يقرض الله قرضاً حسناً**) په تاسو کې څوك داسې شته چې هغه الله ﷻ ته قرض ورکړي نو الله ﷻ به د دې بدله هغه ته په څو چنده ورکړي، د دې آيت نازلېدو وروسته نبي کريم ﷺ الله ﷻ ته بيا عرض وکړو چې اې الله؛ زما امت ته نوره اضافه هم وکړې؛ بيا الله ﷻ دريم آيت نازل کړو، (**إنما يوفى الصابرون أجرهم بغير حساب**) صبر کوونکو ته بې حسابه اجر ورکوو

د راوي عبدالله بن عباس رضي الله عنهما مختصر حالات:

نوم يې عبدالله، کنيت يې ابوالعباس، د پلار نوم يې عباس رضي الله عنه دی، د مور نوم يې ام الفضل وو، ولادت يې د هجرت نه درې کاله وړاندې په هغه خوړ کې وشو چې مشرکانو پکې مسلمانان ايسار کړي وو، کله چې عبدالله بن عباس رضي الله عنهما پيدا شو؛ نو د هغه په خوله کې نبي کريم ﷺ خپل لعاب ورکړل هغه ته يې دعاء هم وکړه، (اسد الغابه تذکرة عبدالله بن عباس رضي الله عنهما) د خپلې مور ام الفضل سره يو ځای مسلمان شو، په اتمه هجری کې چې کله عباس رضي الله عنه مسلمان شو؛ نو هغوی خپل ټول کورو الاله خان سره مدينې منورې ته راوستل، په دغه قافله کې عبدالله بن عباس رضي الله عنهما هم وو، دغه وخت عبد الله د يوولسو کالو کشر ماشوم وو، ډېر زيات ذهين او سليم الطبع شخصيت و، د نبي کريم ﷺ په خدمت کې به

ناسته خپل سعادت وګڼلو، يو ځل يې نبي كريم ﷺ ته د اوداسه اوبه كېښودلې، نبي كريم ﷺ د ميمونې ﷺ نه پوښتنه وكړه چې دا اوبه چا ايښي دي؟ هغې ورته وويل: عبدالله بن عباس رضي الله عنه ايښي دي، كله چې نبي كريم ﷺ د هغه نوم واورېدو؛ نو دعاء يې ورته وكړه چې: "اللهم فقهه في الدين وعلمه التاويل" اې الله هغه ته په دين كې پوهه نصيب كړې او د تاويل كولو ملكه هم ورنصيب كړې، ابن عبدالبر رحمه الله فرمايي: د عبدالله بن عباس رضي الله عنه سره به عمر فاروق رضي الله عنه ډېره زياته مينه كول او اكثر وخت به يې له ځان سره په مجلس كې كېنولو.

د نبي كريم ﷺ د دعاء په بركت سره الله جل جلاله ورته د قرآن كريم زياته پوهه نصيب كړه، د احاديثو په كتابونو كې د ډېرو آيتونو تفسير ترې نقل دى، د قرآن كريم سره سره يې په حديثو كې هم پوره شوق او خاصه مشغله وه، د دوى څخه د نقل شويو حديثونو تعداد ۱۶۶۰ دى، په پنځه اويا روايتونو كې يې امام بخاري او امام مسلم اتفاق كړى دى او په اتلسو روايتونو كې يې امام بخاري منفرد دى او په نهه ځلوېښتو كې يې امام مسلم منفرد دى، دده خصوصي صفت دا وُ چې د بدعاتو څخه يې سخته كركه درلوده، د نبي كريم ﷺ خدمت، محبت او د امهات المومنين رضي الله عنهن قدر او احترام يې ځانګړې صفات او خويونه وو.

د هجرت په اته شپېتم كال وفات شو، محمد بن حنفيه رحمه الله پرې د جنازې لمونځ وكړو، هغه په فرمايل: قسم په الله جل جلاله چې نن د دنيا نه حبر امت اوچت كړى شو.

د نېكو عملونو بركت

۱۲- وَعَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ: د ابو عبدالرحمن عبدالله بن عمر بن الخطاب نه روايت دى، فرمايي چې: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ما اوريدلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: "اِنْطَلَقَ ثَلَاثَةُ نَفَرٍ مِمَّنْ كَانَ قَبْلَكُمْ روان شول درې كسان په سفر باندې د هغو خلكو څخه چې ستاسو نه مخكې وو: حَتّٰى أَوَاهُمُ الْمَبِيْتُ إِلٰى غَارٍ فَدَخَلُوْهُ، تر دې چې شپه يې يو غر ته پناه يوړه، نو دوى هغه غر ته داخل شول، فَانْحَدَرَتْ صَخْرَةٌ مِنَ الْجَبَلِ فَسَدَّتْ عَلَيْهِمُ الْغَارَ، نو يو غټ كانى د غر نه راوښويېدلو د كانې له وجې د ګارې خوله بنده شوه، فَقَالُوْا: إِنَّهُ لَا يُنْجِيْكُمْ مِنْ هٰذِهِ الصَّخْرَةِ إِلَّا أَنْ تَدْعُوا اللهَ تَعَالٰى بِصَالِحِ أَعْمَالِكُمْ، دوى وويل چې ددې مصيبت نه مو د خلاصې بله چاره نشته بې له دې چې د الله تعالى څخه د خپلو عملونو په وسيله سوال وكړو، قَالَ رَجُلٌ مِنْهُمْ: په هغوى كې يو كس وويل چې: اَللّٰهُمَّ كَانَ لِيْ أَبَوَانِ شَيْخَانِ كَبِيْرَانِ، اې الله! زما مور- پلار ډېر زيات بوډاګان وو، وَكُنْتُ لَا أَغْبِقُ قَبْلَهُمَا أَهْلًا وَلَا مَالًا، ما به د شپې له خوا د خپلو ماشومانو نه مخكې هغوى ته شيدې نه وركولې، فَنَأَى بِيْ طَلَبُ الشَّجَرِ يَوْمًا، يوه ورځ راباندې غره كې د ونې په لټون ناوخته شو، فَلَمْ أُرِحْ عَلَيْهِمَا حَتّٰى نَامَا، ما ښام چې راغلم هغوى ويده وو، فَحَلَبْتُ لَهُمَا غَبُوْقَهُمَا فَوَجَدْتُهُمَا نَائِمَيْنِ، ما څاروي ولوشل او چې هغوى ته مې د شيدو پياله راوړه هغوى دواړه ويده وو، فَكَرِهْتُ أَنْ أُوْقِظَهُمَا وَأَنْ أَغْبِقَ قَبْلَهُمَا أَهْلًا أَوْ مَالًا، نو ما ښه ونه ګڼل چې زه دوى راويښ كړم او يا د دوى نه

مخکې خپلو ماشومانو ته شيدې ورکړم. فَلَبِثْتُ وَالْقَدَحُ عَلٰى يَدَيَّ أَنْتَظِرُ اسْتِيقَاظَهُمَا، نو ما انتظار کولو، لوښی زما په لاس کې وو چې دوی به کله راويښ شي، حَتّٰى بَرَقَ الْفَجْرُ، تر دې چې سهار شو وَالصِّبْيَةُ يَتَضَاغَوْنَ عِنْدَ قَدَمَيَّ، زما بچي زما په پښو کې رغړېدل، (فَاسْتَيْقَظَا فَشَرِبَا غَبُوقَهُمَا) نو زما مور - پلار راويښ شول او ما هغوی ته شيدې ورکړې، (اَللّٰهُمَّ إِنْ كُنْتُ فَعَلْتُ ذٰلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ فَفَرِّجْ عَنَّا مَا نَحْنُ فِيهِ مِنْ هٰذِهِ الصَّخْرَةِ) نو اې الله! که چېرته دا کار ما ستا د رضا او خوشحالی لپاره کړی وي؛ نو زموږ څخه دغه مصيبت لرې کړې په کوم کې چې موږ راګير يو، د دغه کاڼي له امله. (فَانْفَرَجَتْ شَيْئًا لَا يَسْتَطِيعُونَ الْخُرُوجَ مِنْهُ) نو هغه کاڼی لږ شان لرې شو چې دوی په هغه ځای باندې وتلی نه شول. قَالَ الْآخَرُ: دويم کس دا بيان وکړو، (اَللّٰهُمَّ إِنَّهُ كَانَتْ لِي ابْنَةُ عَمٍّ كَانَتْ أَحَبَّ النَّاسِ إِلَيَّ) اې الله! شان دا دی چې زما د تره لور وه، هغه مې ډېره خوښه وه، "وَفِي رِوَايَةٍ: او په بل روايت کې دي چې "كُنْتُ أُحِبُّهَا كَأَشَدِّ مَا يُحِبُّ الرِّجَالُ النِّسَاءَ، ما به د هغې سره مينه کول لکه څنګه چې سړي د ښځو سره مينه کوي، فَأَرَدْتُهَا عَلٰى نَفْسِهَا، نو ما به د هغې نه د وصل تقاضا کوله (يعني د زنا) غوښتنه به مې کول، (فَامْتَنَعَتْ مِنِّي) نو هغې به مسلسل انکار کولو او ځان به يې ماته نه سپارلو. (حَتّٰى أَلَمَّتْ بِهَا سَنَةٌ مِنَ السِّنِينَ) تر دې چې هغه يوه ورځ په سخته قحطۍ کې مجبوره شوه، (فَجَاءَتْنِي) نو ما ته راغله، (فَأَعْطَيْتُهَا عِشْرِينَ وَمِائَةَ دِينَارٍ عَلٰى أَنْ تُخَلِّيَ بَيْنِي وَبَيْنَ نَفْسِهَا فَفَعَلَتْ) نو ما هغې ته يوسل او شل ديناره په دې شرط ورکړل چې هغه به زما سره زنا کوي، (حَتّٰى إِذَا قَدَرْتُ عَلَيْهَا) تر دې چې ما قدرت وموندلو په هغې باندې، "وَفِي رِوَايَةٍ: او په بل روايت کې دي چې "فَلَمَّا قَعَدْتُ بَيْنَ رِجْلَيْهَا، کله چې زه د هغې د پښو په مينځ کې کيناستم، قَالَتْ: نو هغې وويل: (اِتَّقِ اللّٰهَ) د الله تعالی څخه ووېرېږه! (وَلَا تَفُضَّ الْخَاتَمَ إِلَّا بِحَقِّهِ) او دا مهر په ناجائزه مه ماتوه، (فَانْصَرَفْتُ عَنْهَا) نو زه د هغې څخه پورته شوم، (وَهِيَ أَحَبُّ النَّاسِ إِلَيَّ) حال دا چې هغه ماته ډېره زياته خوښه وه د ټولو خلکو څخه، (وَتَرَكْتُ الذَّهَبَ الَّذِي أَعْطَيْتُهَا) او ما ورته پرېښودل ټول هغه سره زر چې ما هغې ته ورکړي وو، (اَللّٰهُمَّ إِنْ كُنْتُ فَعَلْتُ ذٰلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ) نو اې الله! که چېرته دا کار ما ستا د رضا او خوشحالی لپاره کړی وي، (فَافْرُجْ عَنَّا مَا نَحْنُ فِيهِ) نو زموږ څخه دغه مصيبت لرې کړه په کوم کې چې موږ اوس ګير يو، (فَانْفَرَجَتِ الصَّخْرَةُ غَيْرَ) نو هغه کاڼی لږ شان لرې شو، (أَنَّهُمْ لَا يَسْتَطِيعُونَ الْخُرُوجَ مِنْهَا) ليکن بيا هم هغوی ددې ځای نه وتلی نه شول، وَقَالَ الثَّالِثُ: هغه دريم کس وويل (اَللّٰهُمَّ إِنِّي اسْتَأْجَرْتُ أُجَرَاءَ) اې الله! ما د يو کار لپاره څو مزدوران نيولي وو، (وَأَعْطَيْتُهُمْ أَجْرَهُمْ) نو ما هغوی ته د هغوی مزدوري ورکړه، (غَيْرَ رَجُلٍ وَاحِدٍ) سېوا د يو کس څخه چې هغه د اجرت څخه بغير لاړو، (تَرَكَ الَّذِي لَهُ) د هغه مزدوري راسره پاتې شوه، (وَذَهَبَ) او هغه لاړو، (فَثَمَّرْتُ أَجْرَهُ حَتّٰى كَثُرَتْ مِنْهُ الْأَمْوَالُ) نو ما د هغه په پيسو باندې تجارت شروع کړو تر دې چې هغه ډېر زيات شو او زما سره د هغه تجارتي پيسې زياتې شوې، (فَجَاءَنِي بَعْدَ حِينٍ) هغه کس ډېره موده پس واپس راغلو، (فَقَالَ يَا عَبْدَ اللّٰهِ أَدِّ إِلَيَّ أَجْرِي) هغه وويل: اې د الله تعالی بنده! ماته زما خپله مزدوري راکړه! (فَقُلْتُ: كُلُّ مَا تَرٰى مِنْ أَجْرِكَ) ما ورته وويل دا ټول ستا دي

کوم څه چې ته وينې، (مِنَ الْإِبِلِ وَالْبَقَرِ وَالْغَنَمِ وَالرَّقِيْقِ) اوښان، غواګانې، پسونه او غلامان وغيره. (فَقَالَ: يَا عَبْدَ اللهِ لَا تَسْتَهْزِءُ بِيْ) هغه کس وويل: اې د الله تعالى بنده! په ما باندې ټوکې مه کوه؛ (فَقُلْتُ: لَا أَسْتَهْزِءُ بِكَ) ما ورته وويل: زه په تاسو باندې ټوکې نه کوم، (فَأَخَذَهُ كُلَّهُ) هغه ټول مال واخيستلو. (فَاسْتَاقَهُ فَلَمْ يَتْرُكْ مِنْهُ شَيْئًا) او هغه يې روان کړو، لږ مال يې هم پرېنښودلو، (اَللّٰهُمَّ إِنْ كُنْتُ فَعَلْتُ ذٰلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ) اې الله! که چېرته دا کار ما ستا د رضا او خوشحالۍ لپاره کړی وي، (فَافْرُجْ عَنَّا مَا نَحْنُ فِيْهِ) نو لرې کړې زموږ نه دغه مصيبت (فَانْفَرَجَتِ الصَّخْرَةُ فَخَرَجُوْا يَمْشُوْنَ) نو هغه کاڼی الله تعالى لرې کړو او دوی ترې راووتل او روان شول "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ".

لغوي تحقيق: انطلق: باب انفعال، په معنى د روانېدو سره دی.

النفر: ټول خلك، د درې کسانو څخه تر لسو کسانو پورې جماعت ته ويل کېږي.

آوى: باب ضرب يضرب، په معنى د ځای نيولو سره.

انحدرت: باب نصر او کله چې د ضرب څخه شي، نو معنى يې ده: د غره څخه لاندې يو شی راغړېدل.

صخرت: د غر غټ کاڼی.

اغبق: د ماښام په وخت شراب څښل، (خو په حديث کې ترې شيدې مراد دي).

ارح: د ماښام په وخت سفر ته تلل يا بېرته واپس راتلل.

فحلبت: حلب معنى وزه يا مېږه وغيره حيوان د شيدو څخه لوشل.

يتضاغون: تضاغي معنى د لوږې له امله چغې کول.

برق: يو شی ځلېدل.

امتنعت: محروم کېدل/ منع کېدل.

الست: الملمة معنى سخته حادثه او مصيبت راتلل.

تفض: فض فضاً باب نصر ينصر، په معنى د ماتېدو سره ده او ټکرې ټکرې کېدو ته وايي.

د نيکو عملونو وسيله نيول جائز دي:

تشريح: (تدعوالله بصالح أعمالكم) تاسو د خپلو نېکو عملونو په وسيله د الله تعالى څخه دعا وغواړئ.ددې حديث نه معلومه شوه چې د مصيبت او پرېشانۍ په وخت د خپلو نيکو عملونو په وسيله د الله ﷻ نه سوال کول مستحب دي، د دغو درې کسانو دعاء قبلېدل او بيا دغه واقعه نبي کريم ﷺ د خپلو خوږو يارانو په وړاندې د تعريف او فضيلت په توګه ذکر کول، دا ددې خبرې واضحه دليل دی چې دا کار مستحسن او ښه عمل دی، بله دا چې دغو درې کسانو خپل نيک عملونه خالص د الله ﷻ د رضاء لپاره کړي وو، خکه خو هغوی خپل دغه نيک عملونه د الله ﷻ په دربار کې پيش کړل، ددې نه هم معلومه شوه چې که کوم کس يو نېک عمل وکړي او هغه پرې پوخ باور ولري چې هغه نيک عمل خالص د الله ﷻ د

رضاء لپاره کړې وو، نو بيا داسې نيک عمل په دعا کې د وسيلې په توګه ذکر کولی شي

انتظر استيقاظهما حتى برق الفجر: د دې عبارت نه معلومه شوه چې د مور پلار د خوشحالۍ خيال ساتل، او هغوی ته سکون آرام ورسول داډيره د فضيلت خبره ده. بلکه دا هم ترينه ثابته شوه چې چېرته کوم قابل احترام او عزتمند شخصيت وي نو هغه د خوبه راپاسول به مکروه وي مګر دا که چېرته کوم امر شرعي مخې ته راشي لکه د لمانځه وخت وي نو بيا به يې راپاسوي، بلکه دا چې د خوب خوند د خوراک څښاک خوند نه زيات مزيدار دی.

د فضولي تصرف د مالک تر اجازې پورې موقوف دی:

فثمرة أجره حتى كثرت من الأموال: د هغه د مزدورۍ پيسې يې په کاروبار ولګولې تر دې چې ډيره زيانه ګټه يې پرې وکړه، د دغې جملې نه دا خبره واضحه شوه. هر هغه مال چې د بل کس وي، کس موجود نه وي او د هغه ورته ضرورت پېښ شي، نو د هغه د اجازې څخه بغير يې استعمال جائز دی خو شرط دا دی چې وروسته به ترې پوښتنه کوي او اجازه به ترې اخلي، همدغه مذهب د امام صاحب رحمه الله دی، فرمايي چې د فضولي سړي تصرفات د مالک تر اجازې پورې موقوف دي، که مالک اجازه ورکړي؛ نو د فضولي تصرف به نافذ العمل وي، که نه نو ختم به وي

د معجزې په شير کرامت هم حق دي

فانفرجت الصخرة: بس هغه کاڼی د مخې څخه لرې شو. د دې نه معلومه شوه چې الله ﷻ کله کله د خپلو نېکو بندګانو مرسته د خرق عادت په توګه کوي، دې ته کرامت ويل کيږي، لکه څنګه چې د انبياء عليهم السلام مدد د معجزې په ذريعه کيږي، معجزه او کرامت دواړه حق دي، همدغه مسلک د اهلسنت والجماعت دی.

د راوي عبدالله بن عمر رضي الله عنهما د ژوند حالات:

اصل نوم يې عبدالله، کنيت يې ابوعبدالرحمن، د پلار نوم يې عمر رضي الله عنه، مور يې زينب بنت مظعون وه، د خپل پلار سره مسلمان شوی وو، د پلار سره يې د مکې مکرمې څخه مدينې منورې ته هجرت کړی و، د بدر او احد په غزا کې د ماشوموالي له وجې اجازه نه وه ورکړل شوې، د خندق، خيبر، رضوان، فتح مکې، غزوه حنين، محاصره طائف، حجة الوداع او تبوک کې يې د نبي کريم ﷺ سره شرکت کړی دی، د فتنو څخه به يې ځان ډير لرې ساتلو، د يزيد په لاس يې بيعت کړی و، خو فرمايل به يې چې که دا کاربنه وي؛ نو زه د الله ﷻ نه راضي يم او که شر وي؛ نو بيا به مورږ صبر وکړو. عبدالله بن عمر رضي الله عنه د خپل علم او عمل له وجې په خلکو کې په مجمع البحرين لقب سره مشهور وو. عثمان رضي الله عنه هغه ته د قضاوت عهده پيش کړه هغه بالکل انکار وکړو، ملکي سياست کې به يې کار نه درلود، د هغه په ژوند کې ځانګړي خصلتونه دا وو: د سنتو پابندي، د الله ﷻ نه وېره، زيات عبادت، د هغه په ژوند ځان ساتل، زهد، تقوی، د مسکينانو سره همدردي، سخاوت، مساوات او د امت د اختلاف نه بچ کېدل، د قرآن کريم سره يې خصوصي تعلق وو، په قرآن کريم کې به يې ډير زيات غور او فکر کولو. د

قرآن کريم نه وروسته يې د حديثو سره زيات تعلق او مينه درلوده، کله به چې د نبي کريم ﷺ په مجلس کې غير حاضر شو؛ نو بيا به يې د نورو خلکو نه د نبي کريم ﷺ د اقوالو او افعالو پوښتنه کول او هغه به يې په ذهن کې ياد ساتل

هغه په مدينه منوره کې په وفات کېدو باندې زيات خوش وو، هغه به نه خوښول چې په مکه مکرمه کې وفات شم، ځکه چې يو ځل يې ترې هجرت کړی ؤ، هغه دا وصيت هم کړی وو که زه په مکه مکرمه کې مړ شم نو ما د حرم څخه بهر دفن کړئ، حجاج پرې د جنازې لمونځ ادا کړو، د مرويات‌و شمېر يې ۱۶۳۹ دی، يو سل اويا مرويات متفق عليه دي، په اته/ ۸ حديثونو باندې امام بخاري رحمه الله منفرد دی او په يو دېرش/ ۳۱ حديثونو کې امام مسلم رحمه الله منفرد دی. (تهذيب الکمال)

دويم باب د توبې بيان

قَالَ الْعُلَمَاءُ علماء کرام فرمايي (اَلتَّوْبَةُ وَاجِبَةٌ مِنْ كُلِّ ذَنْبٍ) د هرې ګناه څخه توبه واجب ده، (فَإِنْ كَانَتِ الْمَعْصِيَةُ بَيْنَ الْعَبْدِ وَبَيْنَ اللهِ تَعَالَى لَا تَتَعَلَّقُ بِحَقِّ آدَمِيٍّ) که چېرته ددغې ګناه تعلق د بنده او الله ﷻ سره وي ددې ګناه تعلق د انسان د حق سره نه وي، (فَلَهَا ثَلَاثَةُ شُرُوطٍ) نو ددې لپاره درې شرطونه دي (أَحَدُهَا: أَنْ يُقْلِعَ عَنِ الْمَعْصِيَةِ) اول دا چې په ګناه کې مبتلاء دی، هغه ګناه دې في الحال پرېږدي، (وَالثَّانِي: أَنْ يَنْدَمَ عَلَى فِعْلِهَا) دويم دا چې هغه دې خپه شي په خپل کار باندې، (وَالثَّالِثُ: أَنْ يَعْزِمَ أَنْ لَا يَعُودَ إِلَيْهَا أَبَدًا) دريم دا چې کلک عزم او اراده دې وکړي چې بيا به دا ګناه نه کوم، (فَإِنْ فُقِدَ أَحَدُ الثَّلَاثَةِ لَمْ تَصِحَّ تَوْبَتُهُ) که چېرته په دې درې شرطونو کې يو شرط مفقود شي؛ نو بيا د داسې کس توبه صحيح نه ده، (وَإِنْ كَانَتِ الْمَعْصِيَةُ تَتَعَلَّقُ بِآدَمِيٍّ فَشُرُوطُهَا أَرْبَعَةٌ) او که چېرته دا د انسان حق وي، نو بيا د توبې لپاره څلور شرطونه دي (هٰذِهِ الثَّلَاثَةُ وَأَنْ يَبْرَأَ مِنْ حَقِّ صَاحِبِهَا) درې شرطونه دغه ذکر شوي دي او څلورم دا چې د بنيادم د حق نه دې ځان خلاص کړي، (فَإِنْ كَانَتْ مَالًا أَوْ نَحْوَهُ رَدَّهُ إِلَيْهِ) که چېرته مال وي يا په مثل د هغې وي، نو هغه به خپل مالک او حقدار ته وسپاري، (وَإِنْ كَانَتْ حَدَّ قَذْفٍ وَنَحْوَهُ مَكَّنَهُ مِنْهُ أَوْ طَلَبَ عَفْوَهُ) او که چېرته حد قذف وي يا په مثل د هغې وي، نو حقدار سړي ته دې د حق اخيستلو موقع ورکړي، (وَإِنْ كَانَ غِيبَةً اسْتَحَلَّهُ مِنْهَا) که د چا غيبت يې کړی وي نو د چا غيبت چې شوی وي، د هغه کس څخه دې معافي وغواړي، (وَيَجِبُ أَنْ يَتُوبَ مِنْ جَمِيعِ الذُّنُوبِ) واجبه ده چې د ټولو ګناهونو څخه توبه وباسي، (فَإِنْ تَابَ مِنْ بَعْضِهَا صَحَّتْ تَوْبَتُهُ عِنْدَ أَهْلِ الْحَقِّ مِنْ ذٰلِكَ الذَّنْبِ) که چېرته يې د ځينو ګناهونو څخه توبه وويستل نو صحيح ده، د داسې کس توبه د اهل حق عالمانو په نزد صحيح ده، (وَبَقِيَ عَلَيْهِ الْبَاقِي) ددې څخه علاوه ددغه کس په ذمه باقي ګناهونه پاتې دي، (وَقَدْ تَظَاهَرَتْ دَلَائِلُ الْكِتَابِ، وَالسُّنَّةِ، وَإِجْمَاعُ الْأُمَّةِ عَلَى وُجُوبِ التَّوْبَةِ) د قرآن کريم، احاديثو او اجماع امت څخه په توبه ويستلو باندې ګڼ شمېر دلائل موجود دي

تشريح: د توبې لغوي معنی واپس کېدل دي، دې ته توبه هم ځکه ويلی شي چې انسان بايد د بدو عملونو څخه واپس شي او د نېکو عملونو لار اختيار کړي، د توبې بنيادي شرط دا دی چې په کومه ګناه کې مبتلاء وي هغه بايد سمدستي پرېږدي، که داسې ونه شي نو هغه په حقيقت کې توبه نه ده ويستلې

او نه يې الله ﷻ ته رجوع کړې ده، حکم به يې دا وي چې هغه توبه نه ده ويستلې، يو شاعر ويلي دي

واعرض التوبه وهي الندم على ارتکاب ما عليك يحرم

توبه وباسه: هغه چې نوم يې پښېماتيا ده، د هر هغه شي څخه چې ستا لپاره حرام دي

تحقيقها أقلاعه في الحال وعزم ترك العود في استقبال

د توبې حقيقت دا دی چې انسان د هغې ګناه نه بايد سمدستي ځان بند کړي او د بيا لپاره د نه کولو کلکه اراده وکړي

وإن تعلقت بحق آدمي لابد من تبرئة للذمم

او که چېرته د يو انسان حق درباندې پاتې وي؛ نو د هغې په ادا کولو او غاړه خلاصولو کې ضرور کوشش وکړه؛

وواجب إعلامه أن جهلا وإن يغب فابعث إليه عجلا

او که د هغه انسان معلومات ورته نه وي چې دا د چا دی؛ نو د هغه شي اعلانول واجب دي او که غير موجود وي؛ نو سمدستي يې هغه ته رسول واجب دي.

فإن يمت فهي لوارث يرى إن لم يكن فاعطها للفقراء

او که مړ شي نو بيا هغه شی د هغه وارثانو ته رسول ضروري دي او که وارثان يې هم نه وي نو بيا يې کوم فقير ته ورکړه؛

قَالَ اللهُ تَعَالَى: ﴿وَتُوبُوا إِلَى اللهِ جَمِيعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ [النور:۳۱] الله تعالى فرمايي: اې مؤمنانو! تاسو ټول الله ﷻ ته توبه وباسئ؛ (رجوع وکړئ) ددې لپاره چې تاسو کامياب شئ، ددې آيت کريمه مطلب دا دی چې د الله ﷻ په اوامرو او نواهي کې کوتاهي کېدلی شي؛ نو ځکه د هغې کوتاهي تلافي لپاره الله ﷻ ته رجوع وکړئ؛ په يو روايت کې دي چې ټول انسانان خطا کار دي، غوره خطا کار هغه بنده دی چې الله ﷻ ته توبه وباسي، ځينې مفسرين وايي: ددې آيت مطلب دا دی چې په دې حديث کې خطاب هغو کسانو ته دی چې اول مشرکان وو، اوس مسلمانان شوي دي، هغوی ته ويل کيږي چې د اسلام راوړلو سره اګر چې ستاسو ګناهونه معاف شوي دي، ځکه چې په حديث کې راځي "إن الاسلام يهدم ما کان قبله" د اسلام راوړلو سره مخکينې ټول ګناهونه معاف کيږي، ليکن کله چې هم درته هغه ګناهونه درته ياد شي؛ نو په هغې باندې پښېماتيا کول پکار دي او ورسره دا عزم پکار دی چې ددې نه وروسته به هغه ګناه نه کوو

ځينې مفسرين ددې ايت مطلب بيانوي چې په سورة نور کې يو آيت دی: په هغې کې ډېر زيات حکمونه، آداب، د اخلاقو اختيارولو او نه اختيارلو هدايات دي، د هغو حکمونو پوره کولو کوشش کوئ او په کمې زياتي باندې توبه استغفار وباسئ:

وَقَالَ اللهُ تَعَالَى: په بل ځای کې الله ﷻ فرمايي: ﴿اسْتَغْفِرُوا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ﴾ د الله ﷻ څخه د خپلو ګناهونو بخښنه وغواړئ او بيا ورته توبه وباسئ؛

تشريح: ددې آيت کريمه په باره کې د مفسرينو دوه قوله مشهور دي: اولنی قول د امام مقاتل رحمه الله دی چې ددې توبې نه مراد د شرك او كفر نه توبه ويستل دي، دويم قول د عامو مفسرينو دی، هغوی وايي ددې نه مراد هره عامه ګناه ده چې د انسان څخه صادره شي بايد سمدستي الله جل جلاله ته رجوع وکړي او الله جل جلاله ته توبه وباسي، په دې آيت کې دوه الفاظه استعمال شوي دي: يو استغفار او دويم توبه.
علماء وايي: د استغفار تعلق د مخکيني ګناهونو سره دی، د خپلو مخکينيو ګناهونو بخښنه بايد د الله جل جلاله څخه وغواړي، توبه دې ته وايي چې د بيا لپاره به ګناه نه کوم، توبه دې ته وايي چې په مخکينيو ګناهونو باندې پښېمانه شي د بيا لپاره د نه کولو کلك عزم وکړي، په دې وجه امام قرطبي رحمه الله فرمايي: که يو کس په تېرو ګناهونو پښېمانه نه وي او د آينده لپاره يې د نه کولو پوره عزم په زړه کې نه وي، دا د کذابينو (دروغجنو خلکو) توبه ده او خپله دروغجن دی.
[هود: ۳] **وَقَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى:** په بل ځای کې الله جل جلاله فرمايي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا تُوبُوا إِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَصُوحًا} اې مؤمنانو! الله جل جلاله ته په اخلاص سره توبه وباسئ! [التحريم: ۸]

تشريح: نصوحاً، که دا لفظ د نصح نصيحت نه واخيستل شي؛ نو په دې حالت کې به ددې معنی په خالص سره کولی شي، يعنې بايد داسې توبه وويستل شي چې د ريا کاری او ښودنې نه پاکه وي، که دا لفظ د نصاحت نه واخستل شي نو په دې وخت کې به ددې معنی د کپړو په ګنډلو او جوړولو سره کولی شي، په دې وخت کې به ددې معنی داسې شي: د ښکو عملونو هغه کپړه کومه چې د ګناهونو په وجه څيرې شوې وي، د توبې په وجه هغه کپړه وګنډئ!
حسن بصري رحمه الله فرمايي: د "توبة نصوحاً" معنی دا ده چې سړی په خپلو تيرو ګناهونو باندې پښېمانه شي او آينده دا عزم وکړي چې بيا به داسې کار نه کوم، امام کلبي رحمه الله فرمايي: د "توبة نصوحاً" معنی دا ده: سړی به په ژبه استغفار وکړي او د زړه نه به په خپلو ګناهونو باندې پښېمانه شي او خپل ځان ترې وساتي، د علي رضي الله عنه قول د توبې په باره کې ډير زيات جامع او مانع دی، هغه فرمايي: په توبه کې د شپږو شيانو وجود ضروري دی:
* په خپلو تيرو ګناهونو باندې پښېماني.
* کوم فرضي او واجبي عملونه چې پاتې شوي وي د هغو قضائي راګرځول.
* د کوم سړي مال چې دې په ظلم سره خوړلی وي هغه واپس کول.
* کوم کس دې چې په ژبې يا په خوله باندې ازار کړی وي، د هغه څخه معافي او بخښنه غوښتل.
* بېرته هغې ګناه طرفته رجوع نه کول.
* لکه څنګه چې تا خپل نفس د ګناه په ځای کې ليدلی دی، دغه ډول يې اوس د عبادت په ځای کې وويته او عبادتونه کوه!

د زيات استغفار ويلو ګټې

۱۳- وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: **ترجمه:** د ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت

دی، وايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي: فرمايل يې "وَاللهِ إِنِّي لَأَسْتَغْفِرُ اللهَ، وَأَتُوبُ إِلَيْهِ فِي الْيَوْمِ أَكْثَرَ مِنْ سَبْعِينَ مَرَّةً" (رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ) قسم په الله ﷻ چې زه په ورځ کې د اويا (۷۰) ځلو نه زيات د الله تعالى نه بخښه غواړم او توبه وباسم (بخاري)

د نبي کريم ﷺ استغفار امت ته تعليم وو:

تشريح اكثر من سبعين مرة: د اويا/ ۷۰ ځلو نه زيات به نبي كريم ﷺ استغفار ويل، علماء فرمايي: دغه شان چې په نورو روايتونو کې کوم استغفار نقل شوی دی هغه ټول د امت د تعليم لپاره دی، ځکه چې نبي کريم ﷺ د الله ﷻ له طرفه بخښل شوی دی، کله چې هغه معصوم شو؛ نو د هغه ټول ګناهونه معاف دي، او دا خو زمونږ د اهل سنت والجماعت عقيده ده چې انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ د نبوت څخه وړاندې او وروسته معصوم دي؛ ددې باوجود چې نبي کريم ﷺ د توبې او استغفار دومره اهتمام ساتلي نو امت خو بايد ددې څخه ډېر زيات اهتمام وساتي، ددې نه دا هم معلومه شوه چې کوم سړی د الله ﷻ څخه څومره زيات وېرېږي دومره به هغه ته د خپلو خطاګانو احساس کيږي، لکه څنګه چې په يو روايت کې دي مؤمن سړی چې کله د خپلو ګناهونو خيال په ذهن کې راولي؛ نو فکر کوي چې بس يو غر په ما راپرېوځي او فاسق سړی چې کله خيال وکړي نو لکه يو مچ چې د هغه په پوزه ناست وي او هغه يې وشړي

۱۴ - وَعَنِ الْأَغَرِّ بْنِ يَسَارٍ الْمُزَنِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: **ترجمه**: د اغر بن يسار مزني ؓ نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي: "يَا أَيُّهَا النَّاسُ تُوبُوا إِلَى اللهِ" اې خلکو! الله تعالى ته توبه وباسئ "وَاسْتَغْفِرُوهُ فَإِنِّي أَتُوبُ فِي الْيَوْمِ مِائَةَ مَرَّةٍ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ او بخښنه وغواړئ، زه په ورځ کې سل (۱۰۰) ځله توبه وباسم (مسلم شريف)

معصوم پيغمبر ولې بخښنه غواړي؟

تشريح په دې دواړو روايتونو کې چې کوم عدد نقل شوی دی، د محدثينو په نزد ددې څخه مراد تکثر او زياتوالی اخيستی دی، دلته يو اعتراض دی، هغه دا چې هر کله نبي کريم ﷺ معصوم دی، نو بيا استغفار څه ته وايي؟ محدثينو ددې اعتراض څخه ډېر زيات ځوابونه ورکړي دي، د هغې څخه يو څو دلته ذکر کوو

* اول دا چې دا خبره ضروري نه ده چې يو سړی ګناه وکړي، بيا دې استغفار وباسي، د اطاعت او نېک کار وروسته هم استغفار ويل مستحسن دي، ځکه چې د الله ﷻ عبادت او اطاعت کماحقه په صحيح توګه څوک نه شي ادا کولی، خپله نبي کريم ﷺ په دعاء کې فرمايي چې اې الله! زه ستاسو داسې ثناء او صفت نه شم بيانولی لکه څنګه ثناء او صفت چې تاسو په خپل ځان ويلی دی، په دې عبادت او ثناء صفت کې چې کومې کمزورتياوې وي هغه په ثناء او صفت سره لرې کولی شي

* د امت د تعليم لپاره وو، هغه دا چې زه معصوم هم يم ليکن ددې سره سره بيا هم زه استغفار وايم؛ نو تاسو خو بايد چې استغفار ووايئ؛ ځکه چې ستاسو نه خو صغيره او کبيره ټول ګناهونه کيږي

* نبي کريم ﷺ ته دا خبره ډېره خوښه وه چې د دوی ژبه مبارک د الله ﷻ سره په ذکر کې هر وخت

مشغول وي، کله کله به چې نبي کريم ﷺ د خپلو ازواج مطهرات رضي الله عنهن سره وخت تېر کړو؛ نو دا به يې هم يو قسم ګناه حسابول او بې قراره به شو، په دې باندې به يې هم استغفار ويل، لکه يو شاعر چې وايي

بر دل سالک هزاران غم بود ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ ـ گر ز باغ دل خلالے کم شود

* د ځينو علماوو رايه دا ده چې دا د قرآن شريف د متشابه ايتونو په شان متشابه حديثونه دي، ددې معنی د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ څخه علاوه بل چاته معلومه نه ده.

د راوي اغر بن يسار مزني رضي الله عنه مختصر حالات:

نوم يې الاغر رضي الله عنه دی، د پلار نوم يې يسار، د مزني يا جهني قبيلې سره يې تعلق دی، ځينې وايي : چې دا دواړه قبيلې يوه وه، خو د محققينو په نزد دا ځانته ځانته قبيلې دي، ددې صحابي روايتونه په ابوداود او ترمذي کې هم نقل شوي دي. ليکن علامه سلام رحمه الله فرمايي چې دده نه په صحاح سته کې صرف دغه يو روايت نقل شوی دی

په توبې سره الله ﷻ خوشحاليږي

۱۵ ـ وَعَنْ أَبِي حَمْزَةَ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ الأَنْصَارِيِّ خَادِمِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ترجمه: د انس بن مالك انصاري رضي الله عنه روايت دی چې د رسول الله ﷺ خادم ؤ، هغه وايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي "اَللّٰهُ أَفْرَحُ بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ مِنْ أَحَدِكُمْ الله تعالی د خپل بنده په توبه ويستلو باندې د هغه سړي نه هم زيات خوشحالېږي سَقَطَ عَلٰى بَعِيرِهِ وَقَدْ أَضَلَّهُ فِيْ أَرْضٍ فَلَاةٍ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ چې په بيابان کې ورك اوبښ د ډېرې تلاش وروسته، پيدا کړي، (بخاري او مسلم). وَفِيْ رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: او د مسلم په يو روايت کې دا الفاظ دي "اَللّٰهُ أَشَدُّ فَرَحًا بِتَوْبَةِ عَبْدِهِ حِيْنَ يَتُوْبُ إِلَيْهِ مِنْ أَحَدِكُمْ الله تعالی د خپل بنده په توبه ويستلو باندې د هغه سړي نه هم ډېر زيات خوشحالېږي كَانَ عَلٰى رَاحِلَتِهِ بِأَرْضِ فَلَاةٍ، کوم چې په اوښه سپور وي او په يو خوشې بيابان کې روان وي، فَانْفَلَتَتْ مِنْهُ او هغه اوښه ترې وتښتي، وَعَلَيْهَا طَعَامُهُ وَشَرَابُهُ او د لارې خوراك او اوبه يې هم په دغه اوښه باندې بار وي، فَأَيِسَ مِنْهَا، دی يې په لټون کې ستړی شي، مايوسه شي، فَأَتٰى شَجَرَةً فَاضْطَجَعَ فِيْ ظِلِّهَا، د يوې ونې لاندې دمې ته کښېنستلو او ويده شو، وَقَدْ أَيِسَ مِنْ رَاحِلَتِهِ، دی د خپلې سوارلۍ څخه نا اميده وي، فَبَيْنَمَا هُوَ كَذٰلِكَ، هغه په هم دې حالت کې وي چې إِذْ هُوَ بِهَا قَائِمَةً عِنْدَهُ، ناڅاپه وګوري هغه اوښه يې څنګ ته ولاړه وي، فَأَخَذَ بِخِطَامِهَا ثُمَّ قَالَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ: دی يې مهار ونيسي او د ډېرې خوشحالۍ نه ووايي "اَللّٰهُمَّ أَنْتَ عَبْدِيْ وَأَنَا رَبُّكَ، أَخْطَأَ مِنْ شِدَّةِ الْفَرَحِ" اې الله ﷻ ته مې بنده او زه دې رب يم، د ډېرې خوشحالۍ نه يې خوله خطاء شي، نو الله تعالی د خپل بنده په توبه ددې نه هم زيات خوشحالېږي

د بنده توبه او د الله تعالی خوشحالي:

تشريح (الله أفرح بتوبة عبده) الله ﷻ د خپل بنده په توبه ډېر زيات خوشحالېږي، دلته د الله ﷻ د خوشحالۍ نه مجازي معنی مراد ده، ځکه چې الله ﷻ د اعضاء څخه پاك دی، علامه خطابي رحمه الله فرمايي مقصد دا دی چې الله ﷻ د بنده په توبه راضي کېږي او د هغه توبه قبلوي، (اللهم انت عبدی وانا

ربك اخطاءمن شدة الفرح) اې الله ﷻ ته زما بنده او زه ستا رب يم، د ډيرې خوشحالی له وجې يې الفاظ خولې څخه غلط ووځي، اصل کې جمله داسې ده: أناعبدك وأنت ربي.

په دې جمله کې دا مقصد واضحه کول دي چې الله ﷻ په توبه ډير زيات خوشحاليږي او بنده څخه راضي کيږي، په حديث کې د الله ﷻ خوشحالي د هغه سړي د خوشحالی سره تشبيه شوې ده چې په ځنګل کې ترې هغه څه ورک شي چې د هغه سره وي، بيا د نا اميده کېدو وروسته ورته سمدستي پيدا شي، په دې وخت کې به د هغه د خوشحالی هيڅ اندازه نه وي، الله ﷻ ددې نه هم زيات خوشحاليږي، کوم کس چې ګناه وکړي او بيا توبه وباسي، د مثال په توګه خبره په ذهن کې ښه راځي، نو ځکه رسول الله ﷺ د مثال په ذريعه د الله ﷻ د خوشحالی بيان وکړو، په دې حديث کې د توبې ترغيب ورکول مقصود دی چې د ګناه کولو وروسته بايد انسان مايوس نه شي، توبه دې وباسي الله ﷻ به يې معاف کړي

د راوي انس بن مالک رضي الله عنه مختصر حالات:

نوم يې انس رضي الله عنه، کنيت يې ابوحمزه، لقب يې خادم رسول الله ﷺ، د نجار قبيلې سره يې تعلق درلود، د پلار نوم يې مالك او د مور نوم يې ام سليم رضي الله عنها سهله بنت ملحان انصاريه ده، په رشته کې د رسول الله ﷺ ترور کېده، د ۸ يا د ۹ کالو عمر يې وچې د خپلې مور سره مسلمان شو، کله چې د لسو کالو شو؛ نو خپلې مور يې د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر کړو او ورته يې ووېل: اې د الله تعالی رسوله! دا زما زوی د خپل خدمت لپاره قبول کړئ؟ رسول الله ﷺ هغه قبول کړو، تقريباً انس رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په خدمت کې لس کاله تېر کړل، په سفر او حضر کې به د رسول الله ﷺ په خدمت کې مصروف وو، حديبيه، بيعت رضوان، خيبر، طائف او حجة الوداع په ټولو مواقعو کې به د رسول الله ﷺ سره شريک ؤ، ابوبکر رضي الله عنه هغه د بحرين عامل جوړ کړو، عمر رضي الله عنه د تعليم او تربيې لپاره بصرې ته ليږلی ؤ، د فتنې په زمانه کې يې ځانته والی خوښ کړو، انس رضي الله عنه مکثرين في الحديث کې شمار دی، تواضع، عاجزي، حق ګويي، د اسلام خپرول، د رسول الله ﷺ سره مينه او تابعداري يې ځانګړي صفتونه وو.

مرويات: د مروياتو شمېر يې: ۱۲۸۶ دی، په دې کې په ۱۳۸ باندې امام بخاري رحمه الله او امام مسلم رحمه الله اتفاق کړی دی، په ۸۲ کې امام بخاري رحمه الله منفرد دی او په ۷۱ کې امام مسلم رحمه الله منفرد دی.

وفات: په ۹۳ هجري کې تقريباً د سلو کالو په عمر کې وفات شو، د وفات په وخت کې يې خپل خصوصي شاګرد ثابت بناني رحمه الله ته وفرمايل: ماته د رسول الله ﷺ ويښتان مبارك د ژبې لاندې کېږده، هغه داسې وکړل چې په دې حالت کې ترې روح ووتل، قسطن بن کلاب رحمه الله د هغه جنازه وکړه، د خپل کور سره يې نژدې دفن کړو.

د توبې دروازه او د توبې قبولتیا

۱۶- وَعَنْ أَبِي مُوسَى عَبْدِ اللَّهِ بْنِ قَيْسٍ الْأَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: د ابوموسی اشعري ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى يَبْسُطُ يَدَهُ بِاللَّيْلِ لِيَتُوبَ مُسِيءُ النَّهَارِ بې شكه الله تعالى هره شپه خپل لاس غځوي چې د ورځې ګنهګار د شپې توبه وباسي، وَيَبْسُطُ يَدَهُ بِالنَّهَارِ لِيَتُوبَ مُسِيءُ اللَّيْلِ او د ورځې خپل لاس غځوي چې د شپې ګنهګار سهار توبه وباسي حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا" رَوَاهُ مُسْلِمٌ.تر هغې پورې (به توبه قبليږي) چې لمر (د مغرب) له طرفه راوخېژي (يعنې تر قيامته پورې به توبه قبليږي). (مسلم)

د الله ﷻ د لاس خپرول:

تشريح بسط يده: الله ﷻ خپل لاس خپروي، الله ﷻ خپل لاس څنګه خپروي؟ دا د متشابهاتو څخه دی، ځينې محدثين په دې کې دا تاويل کوي چې دا کنايه ده د طلب نه. د خلکو دا عادت دی چې د چا نه څه شی غواړي، نو د هغه په وړاندې لاس نيسي، دغه شان الله ﷻ خپل لاسونه خپروي ددې لپاره چې بنده توبه وباسي چې الله ﷻ يې قبوله کړي، علامه نووي ﷫ فرمايي: د الله ﷻ خپل لاس خپرولو مطلب دا دی چې بنده ته بخښنه وکړي

توبه به تر قيامته قبليږي:

حتى تطلع الشمس من مغربها: توبه تر هغه پورې قبليږي ترڅو چې لمر له مغرب څخه راختلی نه وي، کله چې لمر د مغرب نه راوخيژي؛ نو په دې وخت کې به د توبې دروازه بنده شي، په قرآن کريم کې د الله ﷻ ارشاد دی: "يوم يأتي بعض آيات ربك لا ينفع نفساً إيمانها" ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چې الله ﷻ د بنده توبه هر کله قبلوي، که د شپې وي او که د ورځې وي، نو څکه بنده ته پکار ده چې الله ﷻ ته هر وخت توبه وباسي، ددې حديث نه د الله ﷻ حلم او نرمي معلومه شوه چې د ګناه کولو وروسته سمدستي الله ﷻ انسان نه رانيسي، بلکې مهلت ورکوي او نه سمدستي عذاب ورکوي، بلکې د هغه تر توبې ويستلو پورې انتظار کوي چې کېدی شي توبه وباسي؛ نو الله ﷻ به ورته معافي وکړي

د توبې قبليدو اندازه

۱۷- وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ تَابَ قَبْلَ أَنْ تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْ مَغْرِبِهَا تَابَ اللَّهُ عَلَيْهِ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: د ابوهريره ﷺ نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: چا چې توبه وويستل مخکې له دې چې لمر د مغرب له لورې راوخېژي، الله تعالى يې توبه قبلوي (مسلم)

تشريح علماوو ليکلي دي: په دې حديث کې د توبې قبليدو آخري حد بيان شوی دی چې د خلکو توبه تر هغه وخته پورې قبليږي چې لمر د مغرب څخه راختلی نه وي، همدغه شان مضمون په قرآن

کريم کې ذکر شوی دی: "يوم يأتي بعض آيات ربك لاينفع نفساً إيمانها لم تكن آمنت من قبل أو كسبت في إيمانها خيراً" په کوم ورځ چې راشي ستا د رب ځينې علامې او نخښې، بيا به په کار رانشي په دې وخت کې ايمان راوړل ځکه چې دوی دد نه مخکې ايمان نه وو راوړی او يا يې خپله کوم نيك عمل کړی نه وو

اوس په دې باندې اتفاق دی چې بالغ خلك کله دغه منظر ووينې نو دوی توبه نه قبليږي، دد نه وروسته چې کوم پيدا شي يا په دې وخت کې چې کوم بالغ نه وي نو آيا د دوی توبه به هم نه قبليږي؟ په دې مسئله کې علماوو په خپل مينځ کې لږ اختلاف کړی دی، ځينې وايي چې "طلوع الشمس من مغربها" چې د مغرب نه لمر راختلو سره به د توبې دروازه بنده شي او تر قيامته به بنده به وي، بيا به د هيچا توبه نه قبليږي او ځينې وايي: چې دد دې واقعې وروسته به د بالغانو توبه نه قبليږي او کوم چې وروسته راځي د هغوی توبه او ايمان به قبول وي، ځينو نورو بيا ويلي دي چې کوم خلك دد دې واقعې نه وروسته پيدا شي او هغوی ته دد دې واقعې پوره په پوره په تواتر سره علم حاصل وي؛ نو د داسې کسانو ايمان به هم قبول نه وي، که يقيني علم ورته حاصل نه وي نو بيا د دوی ايمان قبول دی، حکيم الامت تهانوي رحمه الله د روح المعاني په حواله نقل کړي دي چې کله د خلکو د ذهن نه دد دې واقعې علم ووځي او دد دې ويره هم د دوی د زړونو نه ووځي نو توبه به يو ځل بيا په قبليدو شروع شي

دابه کله وي؟

د عيسى عليه السلام د نزول د واقعې نه ډيره موده وروسته به دا واقعه کيږي، علامه آلوسي بغدادي رحمه الله د بلقيني رحمه الله نه نقل کړي دي چې هغه به فرمايل: د ايمان او توبې نه قبليدو حکم: لمر د مغرب څخه راختلو سره تر آخريني زمانې پورې به وي، دا خبره د قياس څخه لرې معلوميږي، بلکې څه موده وروسته به دا حکم بدل شي، ايمان او توبه به بيا په قبليدو شي

د روح وتلو څخه لږ وړاندې د توبې قبليدل

۱۸- وَعَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: **ترجمه:** د عبد الله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ يَقْبَلُ تَوْبَةَ الْعَبْدِ مَالَمْ يُغَرْغِرْ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيثٌ حَسَنٌ" بې شکه الله تعالى د بنده توبه قبلوي تر څو پورې چې يې ساه مرۍ ته نه وي راغلې (يعنې د زنکدن په حالت کې نه وي) (دا حديث ترمذي روايت کړی دی او وايي چې حسن دی)

د غرغرې حالت او توبه:

تشريح: "مالم يغرغر" دد نه مراد هغه وخت دی چې د سړي روح تر مرۍ پورې راورسيږي، هغه ته خپل مرګ يقيني شي، د مرګ پرښتې ورته په نظر راشي، حکيم الامت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله فرمايي: د مرګ په وخت کې د سړي دوه حالته وي:

اولنی حالت هغه دی چې (حالت يأس) ورته ويل کيږي، يعنې انسان د ظاهري اسبابو په درجه کې د ژوند نه مايوسه شي، ليکن په دې وخت کې هم په ده باندې د عالم برزخ احوال نه وي منکشف

شوي، په دې وخت کې په اتفاق د علماوو دده توبه او ايمان قبلېدی شي

دويم هغه حالت دی چې په ده باندې د عالم برزخ حالات ظاهرېدل شروع شوي وي، هغه ته پرښتې وغيره په نظر راشي؛ نو په دې وخت کې دده توبه او ايمان وغيره نه قبلېږي، په مخکې ذکر شوي حديث کې هم دغه حالت ته اشاره شوې ده، ددې حديث مفهوم په قرآن مجيد کې هم داسې بيان شوی دی: "وليست التوبة للذين يعملون السيئات حتى إذا حضر أحدهم الموت قال إني تبت الآن" د داسې خلکو توبه نه قبلېږي چې تر هغه وخته گناهونه کوي تر څو پورې چې ورته مرگ راشي؛ نو بيا چيغې وهي چې اې الله! اوس ايمان راوړم، په دې حديث کې دې طرفته ترغيب ورکول مقصود دی چې کله هم درنه گناه وشي نو بيا سمدستي توبه ويستل پکار دي، هسې نه چې داسې وخت راشي چې مرگ درباندې حمله وکړي او بيا توبې وباسې بيا به دې توبه هم نه قبلېږي.

حقيقت دا دی چې د بنده شان بايد داسې وي چې اول خو هغه په گناه کولو سترگې پټې نه کړي او که چېرته په ناپوهی سره ترينه کومه غلطي وشي او د خالق او مالك د قهر نه بايد ووېرېږي او سمدستي توبه وباسي.

د توبې قبلېدو اخري نېټه

١٩ - وَعَنْ زِرِّبْنِ حُبَيْشٍ قَالَ: أَتَيْتُ صَفْوَانَ بْنَ عَسَّالٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَسْأَلُهُ عَنِ الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ فَقَالَ: مَا جَاءَ بِكَ يَا زِرُّ؟ ترجمه: روايت دی زِرّبن جيش رحمه الله وايي چې زه صفوان بن عسّال رضي الله عنه ته راغلم، په موزو باندې د مسح پوښتنه مې ترې وکړه، هغه راته ووېل: اې زر ته څه شي دلته راوستې؟ فَقُلْتُ: اِبْتِغَاءُ الْعِلْمِ فَقَالَ: ما ورته ووېل د علم حاصلولو طلب، هغه راته ووېل: إِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَضَعُ أَجْنِحَتَهَا لِطَالِبِ الْعِلْمِ رِضًا بِمَا يَطْلُبُ، فَقُلْتُ: طالب علم ته پرښتې خپلې وزرې غوړوي، ما ورته ووېل: إِنَّهُ قَدْ حَكَّ فِي صَدْرِي الْمَسْحُ عَلَى الْخُفَّيْنِ بَعْدَ الْغَائِطِ وَالْبَوْلِ د وړو متيازو او لويو متيازو نه پس موزو باندې مسح کولو کې مې زړه کې څه شك پيدا شوی دی. وَكُنْتَ امْرَءًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَجِئْتُ أَسْأَلُكَ: هَلْ سَمِعْتَهُ يَذْكُرُ فِي ذٰلِكَ شَيْئًا؟ قَالَ: نَعَمْ ته د رسول الله ﷺ يو صحابي يې. تا ته راغلم چې آيا تا د رسول الله ﷺ نه ددې په باره څه اورېدلي دي او که نه؟ هغه ووېل، هو! كَانَ يَأْمُرُنَا إِذَا كُنَّا سَفْرًا أَوْ مُسَافِرِينَ أَنْ لَا نَنْزِعَ خِفَافَنَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيَهُنَّ إِلَّا مِنْ جَنَابَةٍ، لٰكِنْ مِنْ غَائِطٍ وَبَوْلٍ وَنَوْمٍ نبي کريم ﷺ به موږ ته حکم کولو کله چې به موږ په سفر کې وو چې درې ورځې او درې شپې بغير د جنابت نه موزې مه وباسئ؛ (يعني د وړو متيازو، لويو متيازو او خوب نه پس اودس کولو په وخت کې موزې مه وباسئ؛ مسح پرې کوئ). فَقُلْتُ: هَلْ سَمِعْتَهُ يَذْكُرُ فِي الْهَوٰى شَيْئًا؟ قَالَ: نَعَمْ ما ورته ووېل: آيا تا د محبت په حق کې هم د نبي عليه السلام څخه څه اورېدلي دي؟ هغه ووېل: هو. كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ، فَبَيْنَا نَحْنُ عِنْدَهُ إِذْ نَادَاهُ أَعْرَابِيٌّ بِصَوْتٍ لَهُ جَهْوَرِيٍّ: يَا مُحَمَّدُ، فَأَجَابَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوًا مِنْ صَوْتِهِ: "هَاؤُمُ" موږ رسول الله ﷺ سره تاسست وو چې يو کوچی راغلو، رسول الله ﷺ ته يې په اوچت آواز غږ وکړو: اې محمد (صلى الله عليه وسلم)! نبي عليه السلام هم تقريباً په دغه شان اوچت آواز غږ ورته وکړو: ويل يې: هن، فَقُلْتُ لَهُ: وَيْحَكَ اغْضُضْ مِنْ صَوْتِكَ فَإِنَّكَ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ما هغه کوچي

ته وويل: غرق شي آواز لږ غلی کړه! ته د نبي عَلَيْهِ السَّلَام سره خبري کوې؟ **وَقَدْ نُهِيتَ عَنْ هٰذَا** او ته ددې نه (يعني د نبي عَلَيْهِ السَّلَام په مخکې د اوچت آواز نه) منع شوی يې! **فَقَالَ: وَاللّٰهِ لَا أَغْضُضُ:** هغه وويل: قسم په الله ﷻ زه خو اواز نه غلی کوم. **قَالَ الْأَعْرَابِيُّ: اَلْمَرْءُ يُحِبُّ الْقَوْمَ وَلَمَّا يَلْحَقْ بِهِمْ؟** دغه کوچي نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته وويل بنده د يو قوم سره مينه لري خو هيڅرې يې ورسره ملاقات ونشي، **قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اَلْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ".** نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل: د قيامت په ورځ به بنده د هغه قوم سره وي د چا سره يې چې مينه وي، **فَمَا زَالَ يُحَدِّثُنَا حَتّٰى ذَكَرَ بَابًا مِنَ الْمَغْرِبِ مَسِيرَةُ عَرْضِهِ أَوْ يَسِيرُ الرَّاكِبُ فِي عَرْضِهِ أَرْبَعِينَ أَوْ سَبْعِينَ عَامًا.** بيا نبي عَلَيْهِ السَّلَام زمونږ سره خبرې جاري وساتلي تر دې چې وې فرمايل: لمر پريوتلو طرف ته د توبې يوه دروازه ده چې په پلنوالي کې يې د څلوېښتو (۴۰) يا اويا (۷۰) کالو مزل دی (يا يې دا وفرمايل) چې په اس سپور يکې څلوېښت کاله يا اويا کاله مزل کولی شي، **قَالَ سُفْيَانُ أَحَدُ الرُّوَاةِ: قِبَلَ الشَّامِ خَلَقَهُ اللّٰهُ تَعَالٰى يَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ** په راويانو کې يو کس سفيان وايي: دا دروازه شام طرف ده، د کوم وخت څخه چې الله تعالی ځمکې او اسمانونه پيدا کړي دي، **مَفْتُوحًا لِلتَّوْبَةِ لَا يُغْلَقُ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ مِنْهُ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَغَيْرُهُ وَقَالَ: حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.** دا دروازه يې د توبې لپاره پرانيستې پيدا کړې ده، هغه وخت به بنديږي چې لمر د مغرب نه راوخېژي. (حديث حسن صحيح)

لغوي تحقيق:

ابتغاء: بغي بغاءً وبغياً، باب ضرب يضرب، معنی يې ده: طلب کول

تضع: وضع وضعاً وموضعاً باب فتح يفتح، په معنی د کېښودلو سره.

أجنحة: جمع د جناح ده، په معنی د وزرو سره ده.

الهوی: هوي يهوی، باب سمع يسمع، په معنی د مينې او محبت سره

ويحك: لفظ د (ويح) درحم او ترس خوړلو لپاره راځي. کله د مدح او تعجب په ځای هم استعماليږي، لکه ويح لزيد، زيد څومره ناخوښ دی، ويحك، ته هلاك شې!

اغضض: غض غضاً وغضاضاً آواز ښکته کول

مسافر تر درې شپو او ورځو پورې مسح کولی شي:

تشريح: **"ثلاثة أيام ولياليهن إلا في جنابة"** په موزو باندې مسح کول تر درې شپو او درې ورځو پورې ماسېوا له جنابت څخه، نه به يې وباسي، د امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللّٰه، امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰه، امام احمد رَحِمَهُ اللّٰه او جمهورو فقهاوو په نزد د مسافر لپاره تر درې شپو او درې ورځو پورې مسح کول جائز دي او د مقيم لپاره يوه ورځ او يوه شپه مسح کول جائز دي. د احنافو مسلك دا دی چې دا مسح به صرف د حدث اصغر څخه وي او که چېرته سړي ته حدث اکبر يعني جنابت پېښ شي، نو بيا به موزې وباسي او پښې به وينځي

د نبي عَلَيْهِ السَّلَام په وړاندې په اوچت آواز خبرې حرامې دي:

"وقد نهيت عن هذا" د نبي کريم ﷺ په وړاندې اوچت آواز سره خبرې کول حرام دي، د هغه په

وړاندې به په ښکته آواز سره خبرې کولی شي، په قرآن کريم کې دي: "ياأيهاالذين آمنوالاترفعوا أصواتكم فوق صوت النبي ولا تجهروا له بالقول كجهر بعضكم لبعض أن تحبط أعمالكم وأنتم لاتشعرون" **ترجمه**: اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی، تاسو مه پورته کوئ خپل آوازونه د نبي کريم ﷺ د آواز په وړاندې، آواز مه کوئ په نوم سره په زوره لکه څنګه چې تاسو يو بل ته په خپلو نومونو باندې آوازونه کوئ؛ هسې نه چې ستاسو عملونه برباد شي او تاسو ته پته هم ونه لګيږي، ددې آيت نازليدو وروسته ابوبکر صديق ﷺ ډير زيات په چوپ آواز سره خبرې کولې او عمر ﷺ خو به دومره په چوپ آواز خبرې کولې چې کله کله به نبي کريم ﷺ د هغه خبرې هم نه اورېدلې، بيا به يې ترې نه پوښتنه وکړه چې څه دې وويل؟ دغه شان د نورو صحابه کرامو ﷺ هم دا ډول عادت ګرځېدلی وو، يوازې هغه کوچی ؤ چې په خبره باندې نه پوهېدو او خامخا يې د نبي عليه‌السلام په وړاندې تېزې خبرې کولې.

انسان به د قيامت په ورځ د هغه چا سره وي چې په دنيا کې يې ورسره مينه وي:

"المرءمع من أحب": د هغه کوچي سړي په پوښتني سره چې که يو کس به د چا سره مينه کوي ليکن هغه ته رسېدی نه شي، نو بيا به څه کوي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: په دنيا کې کې اګر چې هر څومره ترينه لرې وي او ورته رسېدی نه شي، خو د قيامت په ورځ به د هر هغه چا سره وي چې مينه يې ورسره کول. دا سوال صرف د دغه کوچي څخه نه دی نقل، بلکې د نورو ډېرو صحابه کرامو ﷺ څخه هم نقل دی، انس ﷺ فرمايي: صحابه کرام ﷺ به په دنيا کې په بل شي باندې دومره نه وي خوشحاله شوي لکه څومره چې ددې حديث په اورېدو سره خوشحاله شول.

ځيني علماء وايي: په دې حديث کې د خوشحالی زيری دی چې په دې کې په خير سره خاتمې ته پکې اشاره ده، انسان به د نيکو خلکو په تولي کې هغه وخت راپورته کيږي کله چې د هغه خاتمه په خير وي، ملا علي قاري رحمه‌الله فرمايي: که يو انسان د نيکو خلکو سره مينه کوي د قيامت په ورځ به هم ددې خلکو په ټولګي کې راپاځيږي، که د کوم فاسق يا فاجر سره مينه لري؛ نو د دغو فاسقانو او فاجرانو په ټولګي کې به راپاځي.

"مسيرة عرضه أويسير الراكب في عرضه أربعين أوسبعين عاماً" هغه چې مسافت يې څلوېښت کاله يا اويا کاله دی، يا په اس سپور سړی به څلوېښت يا اويا کالو پورې روان وي، ددېنه مراد تحديد نه بلکې تکثر دی، يعنې د توبې دروازه ډېره زياته وسيعه او پراخه ده، د پراخوالي حد يې د څلوېښتو يا اويا کالو پورې بيان کړی دی، يعنې کوم څوک چې کله هم توبه وباسي نو د الله ﷻ رحمت به ډير زيات وسيع او پراخه ومومي.

د راوي زربن حبيش رضي‌الله‌عنه مختصر حالات:

اصلي نوم يې زر ﷺ، د پلار نوم يې حبيش دی، دا تابعي دی، هغه د ډيرو علماوو څخه علم حاصل کړی دی، په خانګړي توګه د عمر ﷺ او د علي ﷺ څخه يې علم حاصل کړی دی، په ۲۰۸ هجري کې د ۱۲۰ شلو کالو په عمر کې وفات شو.

د سخت ګناهګار سړي توبه هم قبلیږي

۲۰ - وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ سَعْدِ بْنِ مَالِكِ بْنِ سِنَانٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: **ترجمه**: د ابوسعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "كَانَ فِيمَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ رَجُلٌ قَتَلَ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ نَفْسًا ستاسو څخه مخکې اُمتونو کې يو سړی وو چې يو کم سل کسان يې وژلي وو، فَسَأَلَ عَنْ أَعْلَمِ أَهْلِ الْأَرْضِ فَدُلَّ عَلَى رَاهِبٍ، بيا هغه پوښتنه وکړه چې په ملك کې د ټولو نه لوی عالم څوك دی؟ فَأَتَاهُ فَقَالَ: يو راهب ورته وښودل شو، هغه ورغلو ورته يې وويل: إِنَّهُ قَتَلَ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ نَفْسًا، فَهَلْ لَهُ مِنْ تَوْبَةٍ؟ ما يو کم سل کسان وژلي دي، آيا زما لپاره د توبې څه صورت شته؟ فَقَالَ: لَا فَقَتَلَهُ فَكَمَّلَ بِهِ مِائَةً هغه ورته وويل: نه! نو هغه يې هم ووژلو او سل کسان يې پوره کړل. ثُمَّ سَأَلَ عَنْ أَعْلَمِ أَهْلِ الْأَرْضِ، فَدُلَّ عَلَى رَجُلٍ عَالِمٍ فَقَالَ: إِنَّهُ قَتَلَ مِائَةَ نَفْسٍ فَهَلْ لَهُ مِنْ تَوْبَةٍ؟ بيا يې په ملك کې د ټولو نه لوی عالم پوښتنه وکړه، ورته وښودل شو، هغه ته ورغلو ورته يې وويل: ما سل (۱۰۰) مرګونه کړي دي، آيا زما لپاره د توبې څه شکل شته؟ فَقَالَ: نَعَمْ وَمَنْ يَحُولُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ التَّوْبَةِ؟ هغه ورته وويل: هو ستا او توبې ترمينځه څه شی نه شي حائل کېدی! اِنْطَلِقْ إِلَى أَرْضِ كَذَا وَكَذَا، فَإِنَّ بِهَا أُنَاسًا يَعْبُدُونَ اللّٰهَ تَعَالَى فَاعْبُدِ اللّٰهَ مَعَهُمْ" ته فلاني کلي ته لاړ شه هلته څه کسان د الله تعالی په عبادت کې لګيا دي ته هم ورسره د الله تعالی عبادت کوه! "وَلَا تَرْجِعْ إِلَى أَرْضِكَ فَإِنَّهَا أَرْضُ سُوءٍ" خپل کلي ته واپس مه څه! ځکه چې هغه ډېر خراب کلی دی. "فَانْطَلَقَ حَتَّى إِذَا نَصَفَ الطَّرِيقَ أَتَاهُ الْمَوْتُ فَاخْتَصَمَتْ فِيهِ مَلَائِكَةُ الرَّحْمَةِ وَمَلَائِكَةُ الْعَذَابِ" هغه روان شو چې نيمايي لارې ته ورسېدو، نيته يې پوره شوه نو د رحمت او عذاب د پرښتو پرې جګړه شوه، "فَقَالَتْ مَلَائِكَةُ الرَّحْمَةِ: جَاءَ تَائِبًا مُقْبِلًا بِقَلْبِهِ إِلَى اللّٰهِ تَعَالَى، وَقَالَتْ مَلَائِكَةُ الْعَذَابِ: إِنَّهُ لَمْ يَعْمَلْ خَيْرًا قَطُّ" د رحمت پرښتو وويل: توبه يې ويستلې ده او د زړه د اخلاصه خپل رب ته راګرځېدلی دی (روح يې موږ وباسو) او د عذاب پرښتو وويل: ده هيڅ نېکي نه ده کړې، (روح به يې موږ وباسو) "فَأَتَاهُمْ مَلَكٌ فِي صُورَةِ آدَمِيٍّ فَجَعَلُوهُ بَيْنَهُمْ أَيْ حَكَمًا" بيا ورته يوه پرښته د انسان په شکل کې راغله نو دې پرښتو هغه ثالث! دريمګړی کړو، "فَقَالَ قِيسُوا مَا بَيْنَ الْأَرْضَيْنِ فَإِلَى أَيَّتِهِمَا كَانَ أَدْنَى فَهُوَ لَهُ" هغه وويل: د دواړو کليو ترمينځ فاصله ناپ کړئ چې کوم کلي ته نږدې دی؟ د هغې څخه به وشمارل شي، "فَقَاسُوا فَوَجَدُوهُ أَدْنَى إِلَى الْأَرْضِ الَّتِي أَرَادَ فَقَبَضَتْهُ مَلَائِكَةُ الرَّحْمَةِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. هغوی لوښت کړو، نو هغه کلي ته نږدې و چې هغه ورروان و، د رحمت پرښتو يې روح قبض کړه. (بخاري او مسلم)

وَفِي رِوَايَةٍ فِي الصَّحِيحِ: "فَكَانَ إِلَى الْقَرْيَةِ الصَّالِحَةِ أَقْرَبَ بِشِبْرٍ، فَجُعِلَ مِنْ أَهْلِهَا" په يو بل صحيح روايت کې دي چې د نېکانو کلي ته يوه لوېشت نږدې شو، نو هغه د نېکانو څخه وشمارلی شو، "وَفِي رِوَايَةٍ فِي الصَّحِيحِ" او په بل صحيح روايت کې دي: "فَأَوْحَى اللّٰهُ تَعَالَى إِلَى هٰذِهِ أَنْ تَبَاعَدِي" پس حکم وکړو الله جل جلاله دغه طرفته چې لرې لرې شه "وَإِلَى هٰذِهِ أَنْ تَقَرَّبِي" او دغه بل طرفته يې حکم وکړ چې لږ را نږدې شه: "وَقَالَ: قِيسُوا مَا بَيْنَهُمَا" بيا يې پرښتو ته وويل اوس يې ترمينځ فاصله لوښت کړئ! "فَوَجَدُوهُ إِلَى هٰذِهِ أَقْرَبَ بِشِبْرٍ فَغُفِرَ لَهُ" نو هغه د نېکانو کلي ته يوه لوېشت نږدې شو، په دې سره هغه وبخښل شو "وَفِي رِوَايَةٍ: فَنَأَى بِصَدْرِهِ نَحْوَهَا" په بل روايت کې دي چې هغه سړی د نېکانو کلي ته (د مرګ په وخت ښوېدلی وو).

لغوي تحقيق:

تدل: دل دلالة: باب نصر ينصر، معنى يې ده: لارښودنه، که د سمع يسمع څخه شي، دللاً يې مصدر راځي، معنى به يې وي: ناز او نخرې کول.

راهب: الراهب، هر هغه چاته ويل کيږي چې د خلکو څخه پټ يوازې په غره کې چېرته کيني او الله الله کوي، ددې جمع رهبان راځي او مونث يې راهبات او رواهب راځي.

کمل: کمل د باب نصر ينصر څخه په معنى د پوره کېدو سره.

أناس: ددې جمع "الناس" راځي، په معنى د خلکو سره او تصغير يې انيس راځي.

يعبدون: عبد عبادة او عبودة، باب نصر ينصر، معنى يې: د الله ﷻ عبادت کول.

قط: دا ظرف زمان دی، د ماضي زمانې د احاطې لپاره راځي، دا د منفي لپاره هم استعماليږي، لکه ويل کيږي چې "مافعلت كذاقط" ما په تېره شوې زمانه کې چېرته هم دا کار نه دی کړی، دا لفظ کله "قُطُ" او کله "قَطُّ" هم استعماليږي.

بشير: شَبْرًا او شَبَرًا باب ضرب يضرب، معنى يې ده: يوه لوېشت.

د سلو کسا نو د قاتل واقعه:

تشريح: فاختصمت فيه ملائكة رحمة وملائكة العذاب، د هغه په باره کې د رحمت او عذاب پرښتو جګړه وکړه، د رحمت پرښتو ويل چې دغه سړی د توبې لپاره هغه د نېکانو کلي ته روان وو، لهذا دی تائب دی، روح به يې مونږ قبض کوو او د عذاب پرښتو ويل چې دغه سړي پوره سل کسان وژلي دي، تراوسه يې توبه نه ده ويستلې، لهذا مونږ به دده روح قبض کوو، بيا الله ﷻ فيصله نازله کړه، وې فرمايل چې کوم طرفته مسافت کم وي، دده فيصله به د هغه په بنياد کيږي، ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چې انسان هر څومره ګناهګار شي هغه ته نا اميدي پکار نه ده، علامه طيبي رحمه الله فرمايي چې انسان که په رښتوني توګه د زړه له تله توبه وباسي، نو الله ﷻ د هغه نه راضي کيږي او الله ﷻ دده نه دده دښمنان هم راضي کوي.

ددې حديث تائيد په قرآن سره:

ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چې که کوم کس بل انسان ووژني، اګر چې دا ډېره لويه ګناه ده، خو دده توبه هم قبلوي، لکه څنګه چې د قرآن کريم ددې آيت مبارکه نه معلوميږي، "إلامن تاب وآمن وعمل عملاً صالحاً فاولئك يبدل الله سيئاتهم حسنات" هغه کسان چې توبه وباسي او نيک عمل وکړي؛ نو داسې کسانو ته مونږ د دوی ګناهونه په نېکيو سره بدلوو.

د حديث راوي ابو سعيد خدري رضي الله عنه مختصر حالات:

اصل نوم يې سعد رضي الله عنه، د پلار نوم يې مالك رضي الله عنه، د نيکه نوم يې سنان، د مور نوم يې انيسه رضي الله عنها بنت ابي حارثه ده، د دوی مور پلار د بيعت عقبه نه وروسته مسلمان شوی وو، نو ځکه ابو سعيد خدري

ﷺ د ماشوموالي نه د مسلمان مور پلار په سيوري کې وخت تېر کړی دی، د نبوي ﷺ جومات په تعمير کې يې هم حصه اخيستې ده، (مسند احمد) د احد د غزا وروسته د نبي کريم ﷺ سره يې په ټولو غزاګانو کې شرکت کړی دی، د امام بخاري رحمه الله د روايت مطابق هغه د نبي کريم ﷺ سره په ۱۲ جهادونو کې شرکت کړی دی، په مدينه منوره کې اوسېدلو، په عمري او عثماني خلافت کې يې د فتوا ورکولو ذمه واري په غاړه وه، د دوی مجلس به ډېر زيات پراخه وو، کوم کس چې به د پوښتنې لپاره حاضر شو نو ډېر زيات انتظار وروسته به يې وار راتلو، د خپل وخت ډېر لوی فقيه وو، د دوی په ځانګړي صفتونو کې دا صفات قابل د ذکر دي: حق ويل، امر بالمعروف، نهي عن المنكر، اتباع سنت، بردباري، صبر، ساده‌ګي، بې تکلفي، د يتيمانو سره ښه سلوك او د هغوی پالنه پکې شامل دي، هغه په مدينه منوره کې په ۷۴ هجري کال د جمعې په ورځ وفات شو، د بقيع په هديره کې دفن شو، د وفات په وخت يې عمر ۷۴ کاله وو، خو علامه ذهبي رحمه الله ليکلي دي چې ۸۶ کاله يې عمر ؤ، په تذکرة الحفاظ کې دې قول ته صحيح ويل شوي دي.

د درې صحابه کرامو رضي الله عنهم په غزوه تبوك کې د شرکت نه کولو واقعه

۲۱ - وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ وَكَانَ قَائِدَ كَعْبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مِنْ بَنِيْهِ حِيْنَ عَمِيَ قَالَ: **ترجمه:** د عبدالله بن کعب بن مالك رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه د کعب په زامنو کې د هغه قائد وو کله چې هغه ړوند شو، عبدالله رضي الله عنه وايي: سَمِعْتُ كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يُحَدِّثُ بِحَدِيْثِهِ حِيْنَ تَخَلَّفَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَزْوَةِ تَبُوْكَ ما د کعب بن مالك رضي الله عنه نه اورېدلي دي کله چې هغه خپله واقعه بيانوله: د تبوك په غزا کې د رسول الله ﷺ د ملګرتيا څخه پاتې شوی وم، "قَالَ كَعْبٌ: لَمْ أَتَخَلَّفْ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَزْوَةٍ غَزَاهَا قَطُّ إِلَّا فِيْ غَزْوَةِ تَبُوْكَ غَيْرَ أَنِّيْ قَدْ تَخَلَّفْتُ فِيْ غَزْوَةِ بَدْرٍ" کعب رضي الله عنه فرمايي: زه د رسول الله ﷺ د ملګرتيا څخه په يوه غزا کې هم نه يم پاتې شوی کومو ته چې نبي عليه السلام خپله تللی دی، بغير له تبوك او بدر څخه، "وَلَمْ يُعَاتَبْ أَحَدٌ تَخَلَّفَ عَنْهُ، إِنَّمَا خَرَجَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْمُسْلِمُوْنَ يُرِيْدُوْنَ عِيْرَ قُرَيْشٍ حَتّٰى جَمَعَ اللهُ تَعَالٰى بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ عَدُوِّهِمْ عَلٰى غَيْرِ مِيْعَادٍ" ليکن د بدر نه پاتې کېدونکو ته زورنه نه ده ورکړل شوې، ځکه چې رسول الله ﷺ او مسلمانان د قريشو د قافلې مخې ته وتلي وو، د جنګ اراده يې نه وه، "وَلَقَدْ شَهِدْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةَ الْعَقَبَةِ حِيْنَ تَوَاثَقْنَا عَلَى الْإِسْلَامِ، وَمَا أُحِبُّ أَنَّ لِيْ بِهَا مَشْهَدَ بَدْرٍ" ليکن بې ارادې الله تعالی د دښمن سره مخامخ کړل او زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې د عقبې په شپه حاضر وم، کله چې موږ په اسلام د مضبوط پا قول او اقرار کړی وو، زه دا نه خوښوم چې د عقبې په بدل کې د بدر په غزا کې شريك شوی وای، "وَإِنْ كَانَتْ بَدْرٌ أَذْكَرَ فِي النَّاسِ مِنْهَا، وَكَانَ مِنْ خَبَرِيْ حِيْنَ تَخَلَّفْتُ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ غَزْوَةِ تَبُوْكَ أَنِّيْ لَمْ أَكُنْ قَطُّ أَقْوٰى وَلَا أَيْسَرَ مِنِّيْ حِيْنَ تَخَلَّفْتُ عَنْهُ فِيْ تِلْكَ الْغَزْوَةِ، وَاللهِ مَا جَمَعْتُ قَبْلَهَا رَاحِلَتَيْنِ قَطُّ حَتّٰى جَمَعْتُهُمَا فِيْ تِلْكَ الْغَزْوَةِ" اګر چې خلکو ته د دې شهرت زيات دی او د تبوك له غزا نه د پاتې کېدو په وخت کې زما حالت دومره ښه وو چې د دې نه زيات قوي او مالدار بل وخت کې نه وم، والله زما سره دوه د سوارلۍ خاروي چېرته هم نه وو، مګر په دې وخت کې را سره دوه خاروي وو، "وَلَمْ يَكُنْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُرِيْدُ غَزْوَةً إِلَّا وَرّٰى بِغَيْرِهَا حَتّٰى كَانَتْ تِلْكَ الْغَزْوَةُ، فَغَزَاهَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ حَرٍّ شَدِيْدٍ، وَّاسْتَقْبَلَ سَفَرًا بَعِيْدًا وَمَفَازًا. وَاسْتَقْبَلَ عَدَدًا كَثِيْرًا، فَجَلَّى لِلْمُسْلِمِيْنَ أَمْرَهُمْ لِيَتَأَهَّبُوْا أُهْبَةَ غَزْوِهِمْ فَأَخْبَرَهُمْ بِوَجْهِهِمُ الَّذِيْ يُرِيْدُ، وَالْمُسْلِمُوْنَ مَعَ رَسُوْلِ اللّٰهِ كَثِيْرٌ وَلَا يَجْمَعُهُمْ كِتَابٌ حَافِظٌ "يُرِيْدُ بِذٰلِكَ الدِّيْوَانَ" رسول الله ﷺ چې به کله د غزا اراده کول، نو د بل طرف ذکر به يې کولو او اصل حال به يې پټولو، ليکن ددې غزا نيت چې نبي عليه السلام وکړو، نو سخته ګرمي وه، لرې او ګران سفر ؤ، د دښمن شمېر زيات ؤ، نو نبي کريم صلى الله عليه وسلم مسلمانانو ته صفا صفا حال وويل چې مسلمانان ورته ښه تياري وکړي، د هغه طرف خبر يې ورکړو کوم طرف ته چې يې د غزا نيت ؤ او دغه وخت د مسلمانانو شمېر ډېر وو او دومره زيات ؤ چې د دوی شمار په کتاب کې نه شو جمع کېدلی، (يعني په ديوان کې) "قَالَ كَعْبٌ: فَقَلَّ رَجُلٌ يُرِيْدُ أَنْ يَتَغَيَّبَ إِلَّا ظَنَّ أَنَّ ذٰلِكَ سَيَخْفٰى بِهٖ مَا لَمْ يَنْزِلْ فِيْهِ وَحْيٌ مِّنَ اللّٰهِ، وَغَزَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِلْكَ الْغَزْوَةَ حِيْنَ طَابَتِ الثِّمَارُ وَالظِّلَالُ، فَأَنَا إِلَيْهَا أَصْعَرُ، فَتَجَهَّزَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْمُسْلِمُوْنَ مَعَهٗ وَطَفِقْتُ أَغْدُوْ لِكَيْ أَتَجَهَّزَ مَعَهٗ فَأَرْجِعُ وَلَمْ أَقْضِ شَيْئًا، وَأَقُوْلُ فِيْ نَفْسِيْ: أَنَا قَادِرٌ عَلٰى ذٰلِكَ إِذَا أَرَدْتُ" کعب ﷺ فرمايي: څوک چې به پټېدل نو دا خيال به يې کولو چې معلومات به يې ونه شي تر څو چې وحی نه وي راغلې او نبي عليه السلام دا غزا په داسې وخت کې وکړه چې ميوې (خورما) پخې شوي وې او د ونو سيوري ګور او يخ وو، زما دا ډېر خوښ وو؛ نو رسول الله ﷺ تياری وکړو او مسلمانان هم ورسره تيار شول، زه به هم سهار په دې نيت ووتم چې د سفر تياري وکړم خو چې واپس به شوم نو هيڅ به مې ونه کړل، په زړه کې به مې وو چې زه هر وختې تيارېدی شم کله چې مې نيت وکړو، "فَلَمْ يَزَلْ يَتَمَادٰى بِيْ حَتّٰى اسْتَمَرَّ بِالنَّاسِ الْجِدُّ، فَأَصْبَحَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَادِيًا وَالْمُسْلِمُوْنَ مَعَهٗ، وَلَمْ أَقْضِ مِنْ جَهَازِيْ شَيْئًا، ثُمَّ غَدَوْتُ فَرَجَعْتُ وَلَمْ أَقْضِ شَيْئًا" په دې کشمکش کې وخت تېرېدلو تر دې چې نورو مسلمانانو خپل تياری شروع کړو او يو سهار رسول الله ﷺ د مسلمانانو سره په سفر روان شو، ما بيا هم تياری ونه کړی شو، "فَلَمْ يَزَلْ يَتَمَادٰى بِيْ حَتّٰى أَسْرَعُوْا وَتَفَارَطَ الْغَزْوُ، فَهَمَمْتُ أَنْ أَرْتَحِلَ فَأُدْرِكَهُمْ" بيا به سهار روان شوم چې تياری وکړم خو دغه شان به واپس شوم، تر دې چې غازيان لرې لاړل او زما دا خيال وو چې زه به ورپسې يوازې تېز روان شم او لاندې به يې کړم، "فَيَا لَيْتَنِيْ فَعَلْتُ، ثُمَّ لَمْ يُقَدَّرْ ذٰلِكَ لِيْ، فَطَفِقْتُ إِذَا خَرَجْتُ فِي النَّاسِ بَعْدَ خُرُوْجِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْزُنُنِيْ أَنِّيْ لَا أَرٰى لِيْ أُسْوَةً، إِلَّا رَجُلًا مَغْمُوْصًا عَلَيْهِ فِي النِّفَاقِ، أَوْ رَجُلًا مِّمَّنْ عَذَرَ اللّٰهُ تَعَالٰى مِنَ الضُّعَفَاءِ" ارمان دی چې داسې مې کړي وای؛ خو دا په تقدير کې نه وه بيا زما دا حال شو چې د نبي عليه السلام او غازيانو د تلو نه پس چې به بهر ته ووتم نو په دې به ډېر خپه شوم چې په کلي کې به يې د مشهورو منافقانو او بې معذورو او بوډاګانو نه بل څوک پاتې نه وو، "وَلَمْ يَذْكُرْنِيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى بَلَغَ تَبُوْكَ، فَقَالَ وَهُوَ جَالِسٌ فِي الْقَوْمِ بِتَبُوْكَ: مَا فَعَلَ كَعْبُ بْنُ مَالِكٍ؟ فَقَالَ رَجُلٌ مِّنْ بَنِيْ سَلِمَةَ: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ حَبَسَهٗ بُرْدَاهُ، وَالنَّظَرُ فِيْ عِطْفَيْهِ" او زه نبي کريم ﷺ ته ياد نه وم، تر دې چې تبوک ته ورسېدو نو يوه ورځ د ملګرو سره په تبوک کې ناست وو، پوښتنه يې وکړه چې کعب بن مالك ﷺ څه وکړه؟ (يعني ولې رانغلو) د بني مسلمه قبيلې يو سړي ورته وويل: اې د الله تعالی رسوله! هغه خپلې مالداری او ښايسته بنځو پاتې کړو، "فَقَالَ لَهٗ مُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: بِئْسَ مَا قُلْتَ، وَاللّٰهِ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ مَا عَلِمْنَا عَلَيْهِ إِلَّا خَيْرًا، فَسَكَتَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَبَيْنَمَا هُوَ عَلٰى ذٰلِكَ رَأٰى رَجُلًا مُّبِيْضًا يَزُوْلُ بِهِ السَّرَابُ، فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كُنْ أَبَا خَيْثَمَةَ، فَإِذَا هُوَ أَبُوْ خَيْثَمَةَ الْأَنْصَارِيُّ" معاذ بن جبل ﷺ ورته وويل: ډېره خرابه خبره دې وکړه، اې د الله تعالی رسوله! قسم په

الله ﷻ موږ ته په هغه کې د خير نه علاوه بل څه معلوم نه دي، دوى دا خبرې کولې چې د لرې نه يو سپين لباس والا سړى په صحرا کې ښکاره شو، نبي کريم ﷺ وفرمايل: دا به ابوخيثمه رضي الله عنه وي، هغه رښتيا ابوخيثمه انصاري رضي الله عنه وو. "وَهُوَ الَّذِيْ تَصَدَّقَ بِصَاعِ التَّمْرِ حِيْنَ لَمَزَهُ الْمُنَافِقُوْنَ" دا هغه سړى دى چې کله ورته منافقانو د غريبى پېغور ورکړو نو هغه يو صاع خورما خيرات کړې. "قَالَ كَعْبٌ: فَلَمَّا بَلَغَنِيْ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ تَوَجَّهَ قَافِلًا مِنْ تَبُوْكَ حَضَرَنِيْ بَثِّيْ، فَطَفِقْتُ أَتَذَكَّرُ الْكَذِبَ وَأَقُوْلُ: بِمَ أَخْرُجُ مِنْ سَخَطِهِ غَدًا وَأَسْتَعِيْنُ عَلٰى ذٰلِكَ بِكُلِّ ذِيْ رَأْيٍ مِنْ أَهْلِيْ، فَلَمَّا قِيْلَ: إِنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أَظَلَّ قَادِمًا زَاحَ عَنِّي الْبَاطِلُ" کعب رضي الله عنه وايي: کله چې زه خبر شوم چې نبي کريم ﷺ د تبوک نه واپس را روان شو، نو زما سره فکر شو او په زړه کې مې د دروغو بهانې جوړولې چې د نبي کريم ﷺ د خفګان نه ځان خلاص کړم او په دې کې مې د خپل خاندان د هر کسانو څخه سلا او مشوره هم واخيسته، بيا چې کله خبر شوم چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ واپس راورسېدو نو غلط خيالات مې د زړه څخه ووتل. "حَتّٰى عَرَفْتُ أَنِّيْ لَمْ أَنْجُ مِنْهُ بِشَيْءٍ أَبَدًا فَأَجْمَعْتُ صِدْقَهُ وَأَصْبَحَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَادِمًا، وَكَانَ إِذَا قَدِمَ مِنْ سَفَرٍ بَدَأَ بِالْمَسْجِدِ فَرَكَعَ فِيْهِ رَكْعَتَيْنِ" او يقين مې وشو چې په دروغو نه شم خلاصېدى، فيصله مې وکړه چې رښتيا به وايم، سهار چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ راورسېدو نو د هغوى طريقه دا وه چې د سفر نه به راغلو نو اول به جوماټ ته داخل شو، دوه رکعته نفل به يې وکړل. "ثُمَّ جَلَسَ لِلنَّاسِ، فَلَمَّا فَعَلَ ذٰلِكَ جَاءَهُ الْمُخَلَّفُوْنَ يَعْتَذِرُوْنَ إِلَيْهِ وَيَحْلِفُوْنَ لَهُ، وَكَانُوْا بِضْعًا وَثَمَانِيْنَ رَجُلًا فَقَبِلَ مِنْهُمْ عَلَانِيَتَهُمْ وَبَايَعَهُمْ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمْ وَوَكَلَ سَرَائِرَهُمْ إِلَى اللهِ تَعَالٰى" بيا به اصحابو سره خبرو ته کېښناستلو، پاتې شوي کسان ورته راغلل، هغوى څه دپاسه اتيا کسان وو، هغوى خپل عذرونه بيانول او قسمونه يې ورته خوړل، نو حضور ﷺ د هغوى ظاهري عذر قبول کړو بيا يې د داسې عمل نه کولو وعده ترې واخيسته او د مغفرت دعاء يې ورته وکړه او د هغوى پټ حال يې الله ﷻ ته وسپارلو. "حَتّٰى جِئْتُ، فَلَمَّا سَلَّمْتُ تَبَسَّمَ تَبَسُّمَ الْمُغْضَبِ" تر دې چې زه راغلم، سلام مې واچولو نو حضور ﷺ موسکى شو خو خپه او غوسه وو، بيا يې ووېل "ثُمَّ قَالَ: "تَعَالَ" فَجِئْتُ أَمْشِيْ حَتّٰى جَلَسْتُ بَيْنَ يَدَيْهِ" راشه راتر دې شه! زه ورغلم هغوى ﷺ ته مخامخ کېښناستم، "فَقَالَ لِيْ: "مَا خَلَّفَكَ؟ أَلَمْ تَكُنْ قَدِ ابْتَعْتَ ظَهْرَكَ"، قَالَ قُلْتُ: يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنِّيْ وَاللهِ لَوْ جَلَسْتُ عِنْدَ غَيْرِكَ مِنْ أَهْلِ الدُّنْيَا لَرَأَيْتُ أَنِّيْ سَأَخْرُجُ مِنْ سَخَطِهِ بِعُذْرٍ" راته يې ووېل: په څه وجه پاتې شوې؟ آيا تا د سفر لپاره د سوارلۍ څاروى نه وو اخيستلى؟ ما ورته ووېل: اې د الله تعالى رسوله! قسم په الله! که زه ستا څخه بغير د کوم دنيا دار مخې ته ناست واى، نو په عذر به مې ځان خلاص کړى واى، "لَقَدْ أُعْطِيْتُ جَدَلًا، وَلٰكِنِّيْ وَاللهِ لَقَدْ عَلِمْتُ لَئِنْ حَدَّثْتُكَ الْيَوْمَ حَدِيْثَ كَذِبٍ تَرْضٰى بِهِ عَنِّيْ لَيُوْشِكَنَّ اللهُ يُسْخِطُكَ عَلَيَّ" نو بيا به دې راته الله تعالى ناراضه کړي (يعني الله تعالى به زما د صحيح حال خبر درکړي) نو زما په دروغو ويلو به زما څخه ناراضه شې، "وَإِنْ حَدَّثْتُكَ حَدِيْثَ صِدْقٍ تَجِدُ عَلَيَّ فِيْهِ إِنِّيْ لَأَرْجُوْ فِيْهِ عُقْبَى اللهِ عَزَّ وَجَلَّ، وَاللهِ مَا كَانَ لِيْ مِنْ عُذْرٍ، وَاللهِ مَا كُنْتُ قَطُّ أَقْوٰى وَلَا أَيْسَرَ مِنِّيْ حِيْنَ تَخَلَّفْتُ عَنْكَ قَالَ" د ېر دليلونه پېش کولى شم ليکن زه په دې پوهېږم که نن ستا څخه په دروغه ځان خلاص کړم يا رښتيا ووايم او ته راته غوسه شې؛ نو د الله تعالى نه د اجر طمع لرم، والله ما ته هيڅ عذر نه ؤ، والله دومره ښه صحت او مالي طاقت مې درلود چې د دې څخه وړاندې دومره مالدار نه وم، "فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَمَّا هٰذَا فَقَدْ صَدَقَ، فَقُمْ حَتّٰى يَقْضِيَ اللهُ فِيْكَ". حضور ﷺ ووېل: دې سړي

رښتيا وويل : بيا يې راته وويل : پورته شه او انتظار کوه چې الله تعالی ستا په حق کې فيصله وکړي.
"وَسَارَ رِجَالٌ مِنْ بَنِي سَلِمَةَ فَاتَّبَعُونِي، فَقَالُوا لِي: وَاللهِ مَا عَلِمْنَاكَ أَذْنَبْتَ ذَنْبًا قَبْلَ هٰذَا، لَقَدْ عَجَزْتَ فِي أَنْ لَا تَكُونَ اعْتَذَرْتَ إِلَى رَسُولِ اللهِ
صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَا اعْتَذَرَ إِلَيْهِ الْمُخَلَّفُونَ فَقَدْ كَانَ كَافِيَكَ ذَنْبَكَ اسْتِغْفَارُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَكَ. قَالَ:" او د بني
سلمه څو کسان زما سره را روان شول، راته يې وويل: والله موږ ته نه ده معلومه چې دې نه مخکې تا
چېرته ګناه کړې وي، ايا تا رسول الله ﷺ ته عذر نه شو کولی لکه څنګه چې نورو خلکو عذرونه وړاندې
کړل، ستا د ګناه د کفارې لپاره د رسول الله ﷺ دعا کافي وه ، کعب رضي الله عنه فرمايي "فَوَاللهِ مَا زَالُوا يُؤَنِّبُونَنِي حَتَّى
أَرَدْتُ أَنْ أَرْجِعَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأُكَذِّبَ نَفْسِي، ثُمَّ قُلْتُ لَهُمْ: هَلْ لَقِيَ هٰذَا مَعِيَ مِنْ أَحَدٍ؟" دې خلکو زه دومره
د هر ملامته کړم چې دا خيال مې راغلو چې واپس شم او حضور ﷺ ته څه عذر پيش کړم او د خپل لوړې
بيان څخه تېر شم، بيا مې دې خلکو ته وويل: ايا زما سره په دې کې څوك ملګری شته؟ "قَالُوا: نَعَمْ لَقِيَهُ مَعَكَ
رَجُلَانِ قَالَا مِثْلَ مَا قُلْتَ، وَقِيلَ لَهُمَا مِثْلُ مَا قِيلَ لَكَ، قَالَ قُلْتُ: مَنْ هُمَا؟ قَالُوا: مُرَارَةُ بْنُ الرَّبِيعِ الْعَمْرِيُّ، وَهِلَالُ ابْنُ أُمَيَّةَ الْوَاقِفِيُّ؟" هغوی
وويل: هو! دوه ملګري دي شته، هغوی هم ستا په شان رښتيا ويلي دي او څه عذر يې نه دی پيش کړی،
حضور ﷺ هغوی ته هم دغسې د انتظار حکم کړی دی، ما ورته وويل: څوك دي؟ هغوی وويل: يو مراره
بن ربيع عامري او بل هلال بن اميه واقفي رضي الله عنهما دی، " قَالَ: فَذَكَرُوا لِي رَجُلَيْنِ صَالِحَيْنِ قَدْ شَهِدَا بَدْرًا فِيهِمَا أُسْوَةٌ. قَالَ:
فَمَضَيْتُ حِينَ ذَكَرُوهُمَا لِي. وَنَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ كَلَامِنَا أَيُّهَا الثَّلَاثَةُ مِنْ بَيْنِ مَنْ تَخَلَّفَ عَنْهُ، قَالَ:" کعب رضي الله عنه
فرمايي: دوی دواړه ډېر نېکان دي او د بدر په غزا کې شريك شوي دي، دوی دواړه د تقليد قابل دي چې
دا مې واورېدل، نو حضور ﷺ ته د واپس تلو خيال مې پرېښود او په خپل زوړ بيان پاتې شوم او رسول
الله ﷺ خاص موږ درې واړو سره خبرو کولو نه خلك منع کړل، "فَاجْتَنَبَنَا النَّاسُ أَوْ قَالَ: تَغَيَّرُوا لَنَا حَتَّى تَنَكَّرَتْ لِي فِي
نَفْسِي الْأَرْضُ، فَمَا هِيَ بِالْأَرْضِ الَّتِي أَعْرِفُ، فَلَبِثْنَا عَلَى ذٰلِكَ خَمْسِينَ لَيْلَةً. فَأَمَّا صَاحِبَايَ فَاسْتَكَانَا وَقَعَدَا فِي بُيُوتِهِمَا يَبْكِيَانِ" نو خلکو به
زموږ څخه د خبرو کولو نه ډډه کول، يا يې ويل د خلکو رويه زموږ سره بدله شوه او په ما خو دنيا بدله
شوه، لکه په دې کلي کې چې هيڅ نه پېژندم، په دې حال کې پنځوس شپې او ورځې تېرې شوې، زما
دواړه ملګري کمزوري شو، په کور کې کيناستل او ژړل به يې، "وَأَمَّا أَنَا فَكُنْتُ أَشَبَّ الْقَوْمِ وَأَجْلَدَهُمْ، فَكُنْتُ أَخْرُجُ
فَأَشْهَدُ الصَّلٰوةَ مَعَ الْمُسْلِمِينَ، وَأَطُوفُ فِي الْأَسْوَاقِ وَلَا يُكَلِّمُنِي أَحَدٌ وَآتِي رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأُسَلِّمُ عَلَيْهِ، وَهُوَ فِي مَجْلِسِهِ بَعْدَ
الصَّلٰوةِ، فَأَقُولُ فِي نَفْسِي: هَلْ حَرَّكَ شَفَتَيْهِ بِرَدِّ السَّلَامِ أَمْ لَا؟" ليکن زه د دوی نه ځوان او سخت وم، نو زه به له کوره
راوتم، جماعت ته به د لمانځه لپاره تلم او يا به بازار کې ګرځېدم خو هيچا به را سره خبرې نه کولې، زه
به حضور ﷺ ته حاضر شوم، سلام به مې وکړو او په زړه کې به مې ويل چې حضور ﷺ په جواب کې
شونډې مبارکې وخوځولې که نه؟ "ثُمَّ أُصَلِّي قَرِيبًا مِنْهُ وَأُسَارِقُهُ النَّظَرَ، فَإِذَا أَقْبَلْتُ عَلَى صَلَاتِي نَظَرَ إِلَيَّ وَإِذَا الْتَفَتُّ نَحْوَهُ أَعْرَضَ
عَنِّي، حَتَّى إِذَا طَالَ ذٰلِكَ عَلَيَّ مِنْ جَفْوَةِ الْمُسْلِمِينَ" بيا به حضور ﷺ سره نژدې لمانځه ته ودرېدم، د سترګو په کونج
کې به مې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته کتل چې زما خيال به په لمانځه کې وو، نو حضور ﷺ به ماته وکتل او
چې ما به د سترګو په ترخ کې حضور ﷺ ته وکتل نو هغوی به مخ واړولو، تر دې چې د مسلمانانو دا
جفا په ما اږده شوه، "مَشَيْتُ حَتَّى تَسَوَّرْتُ جِدَارَ حَائِطِ أَبِي قَتَادَةَ وَهُوَ ابْنُ عَمِّي وَأَحَبُّ النَّاسِ إِلَيَّ، فَسَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَوَاللهِ مَا رَدَّ عَلَيَّ

السَّلَامَ" يوه ورخ لاړم، د ابوقتاده ﷺ د باغ په دېوال واوړېدم، هغه زما د تره زوی دی او د ټولو نه راته خوږ دی، ما وربانديې سلام واچولو والله هغه سلام وانخيستلو، "فَقُلْتُ لَهُ: يَا أَبَا قَتَادَةَ أَنْشُدُكَ بِاللهِ هَلْ تَعْلَمُنِي أُحِبُّ اللهَ وَرَسُولَهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَسَكَتَ، فَعُدْتُ فَنَاشَدْتُهُ فَسَكَتَ، فَعُدْتُ فَنَاشَدْتُهُ فَقَالَ: اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ" نو ما ورته وويل ای ابوقتاده! زه درنه د خدای لپاره پوښتنه کوم، آيا تا ته نه ده معلومه چې زه الله تعالى او د هغه رسول ﷺ سره مينه لرم، هغه غلی شو، ما ورته بيا وويل، قسم مې ورته واچولو، بيا غلی شو، ما ورته په دريم ځل قسم ورکړو او وې ويل: الله تعالى او رسول ﷺ ښه خبر دی، "فَفَاضَتْ عَيْنَايَ، وَتَوَلَّيْتُ حَتَّى تَسَوَّرْتُ الْجِدَارَ فَبَيْنَا أَنَا أَمْشِي فِي سُوقِ الْمَدِينَةِ إِذَا نَبَطِيٌّ مِنْ نَبَطِ أَهْلِ الشَّامِ مِمَّنْ قَدِمَ بِالطَّعَامِ يَبِيعُهُ بِالْمَدِينَةِ" زما د سترګو نه اوښکې رواني شوې، واپس په دېوال واوړېدم خو چې د مدينې په بازار کې روان شوم، ناڅاپه مې د شام په نبطيانو کې يو نبطي وليدو چې غله يې په مدينه کې د خرڅولو لپاره راوړې وه، "يَقُولُ: مَنْ يَدُلُّ عَلَى كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ؟ فَطَفِقَ النَّاسُ يُشِيرُونَ لَهُ إِلَيَّ حَتَّى جَاءَنِي فَدَفَعَ إِلَيَّ كِتَابًا مِنْ مَلِكِ غَسَّانَ" هغه پوښتنه کول چې کعب بن مالك ﷺ به راته څوك وښيي؟ خلکو زما طرف ته اشاره وکړه، هغه راغلو او ماته يې د غسان بادشاه خط راکړو "وَكُنْتُ كَاتِبًا، فَقَرَأْتُهُ فَإِذَا فِيهِ أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّهُ قَدْ بَلَغَنَا أَنَّ صَاحِبَكَ قَدْ جَفَاكَ وَلَمْ يَجْعَلْكَ اللهُ بِدَارِ هَوَانٍ وَلَا مَضْيَعَةٍ، فَالْحَقْ بِنَا نُوَاسِكَ" زه په خط پوهېدم خط مې ولوست چې په هغې کې د دعا او سلام نه پس ليکلي وو: زه خبر شوی يم چې ستا سره خپل صاحب (يعنې رسول الله ﷺ) زياتي کوي، ته خدای دې ته نه يې پيدا کړی چې سپك شې او يا تباه شې! ما نه راشه زه به ستا ډېر قدر وکړم "فَقُلْتُ حِينَ قَرَأْتُهَا: وَهَذِهِ أَيْضًا مِنَ الْبَلَاءِ فَتَيَمَّمْتُ بِهَا التَّنُّورَ فَسَجَرْتُهَا" ما چې خط ولوستلو، ومې ويل: دا بل مصيبت دی او هغه خط مې په تنور کې واچولو، په اور مې وسوځولو، "حَتَّى إِذَا مَضَتْ أَرْبَعُونَ مِنَ الْخَمْسِينَ وَاسْتَلْبَثَ الْوَحْيُ إِذَا رَسُولُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْتِينِي فَقَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُكَ أَنْ تَعْتَزِلَ امْرَأَتَكَ" کله چې په پنځوسو کې څلوېښت ورځې تېرې شوې او زموږ درې واړو متعلق څه حکم نازل نه شو؛ نو رسول الله ﷺ يو استازی راغلو، وې ويل: چې د حضور ﷺ حکم دی چې ښځه د ځان څخه جدا کړه! "فَقُلْتُ: أُطَلِّقُهَا، أَمْ مَاذَا أَفْعَلُ؟ قَالَ: لَا بَلِ اعْتَزِلْهَا فَلَا تَقْرَبَنَّهَا وَأَرْسَلَ إِلَى صَاحِبَيَّ بِمِثْلِ ذَلِكَ" ما ورته ويل طلاق ورکړم که څه وکړم؟ هغه ويل: نه! طلاق مه ورکوه خو کوروالی وغيره ورسره مه کوه! زما دواړو ملګرو ته يې هم دغه شان حکم استولی وو. "فَقُلْتُ لِامْرَأَتِي: الْحَقِي بِأَهْلِكِ فَكُونِي عِنْدَهُمْ حَتَّى يَقْضِيَ اللهُ فِي هَذَا الْأَمْرِ" ما خپلې ښځې ته وويل: د پلار کور ته لاړه شه او تر هغې هلته اوسېږه چې خدای پاك څه حکم نازلوي؟ "فَجَاءَتِ امْرَأَةُ هِلَالِ بْنِ أُمَيَّةَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ لَهُ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ هِلَالَ بْنَ أُمَيَّةَ شَيْخٌ ضَائِعٌ لَيْسَ لَهُ خَادِمٌ فَهَلْ تَكْرَهُ أَنْ أَخْدُمَهُ؟" بيا د هلال بن أميه ښځه د حضور ﷺ په خدمت کې حاضره شوه، هغې وويل زما خاوند هلال بن اميه ډېر کمزوری او بوډا دی او خدمتګار هم ورسره نشته، آيا دا به تاسو بد وګڼئ چې زه يې خدمت وکړم؟ "قَالَ: "لَا وَلَكِنْ لَا يَقْرَبْكِ" فَقَالَتْ: إِنَّهُ وَاللهِ مَا بِهِ مِنْ حَرَكَةٍ إِلَى شَيْءٍ، وَوَاللهِ مَا زَالَ يَبْكِي مُنْذُ كَانَ مِنْ أَمْرِهِ مَا كَانَ إِلَى يَوْمِهِ هَذَا" حضور ﷺ ورته وفرمايل: نه! خدمت يې کوه خو درته دې نږدې کېږي نه، هغې وويل د کومې ورځې نه چې دا واقعه شوې ده هغه ټوله ورځ ژاړي هيڅ شي ته يې زړه نه کيږي، "فَقَالَ لِي بَعْضُ أَهْلِي: لَوِ اسْتَأْذَنْتَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي امْرَأَتِكَ فَقَدْ أَذِنَ لِامْرَأَةِ هِلَالِ بْنِ أُمَيَّةَ أَنْ تَخْدُمَهُ؟ فَقُلْتُ: لَا أَسْتَأْذِنُ فِيهَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَا

يَدْرِيْنِيْ مَاذَا يَقُوْلُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اسْتَأْذَنْتُهُ فِيْهَا وَأَنَا رَجُلٌ شَابٌّ فَلَبِثْتُ بِذٰلِكَ عَشْرَ لَيَالٍ" ماته خينو خپلوانو ووېل: ته هم د خپلې ښځې لپاره اجازه وغواړه! د هلال ﷺ ښځې ته حضور ﷺ اجازت ورکړو، ما ورته ووېل: زه نه غواړم، هلال ﷺ بوډا دی، زه ځوان یم، خدای خبر چې حضور ﷺ به ماته څه ووایي، (یعني ماته به اجازت راکړي او که نه؟) په دې حالت کې لس ورځې نورې هم تیرې شوې، فَكَمَلَ لَنَا خَمْسُوْنَ لَيْلَةً مِنْ حِيْنَ نُهِيَ عَنْ كَلَامِنَا ثُمَّ صَلَّيْتُ صَلَاةَ الْفَجْرِ صَبَاحَ خَمْسِيْنَ لَيْلَةً عَلَى ظَهْرِ بَيْتٍ مِنْ بُيُوْتِنَا پنځوس ورځې پوره شوې چې خلک زموږ سره د خبرو نه منع شوي وو، د پنځوسمې (٥٠) ورځې په صبا ما د سهار لمونځ په خپلو کوټو کې د یوې کوټې په چت باندې وکړو، "فَبَيْنَا أَنَا جَالِسٌ عَلَى الْحَالِ الَّتِيْ ذَكَرَ اللهُ تَعَالَى مِنَّا قَدْ ضَاقَتْ عَلَيَّ نَفْسِيْ وَضَاقَتْ عَلَيَّ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ، سَمِعْتُ صَوْتَ صَارِخٍ" او په هغه ځای ناست وم چې خبر راغلو الله تعالی زموږ بیان کړی دی، په ځان پورې تنګ وم او ملك راباندې تنګ وو، ناڅاپه مې يوه چيغه واورېده، "أَوْفَى عَلَى سَلْعٍ يَقُوْلُ بِأَعْلَى صَوْتِهِ يَا كَعْبَ بْنَ مَالِكٍ أَبْشِرْ، فَخَرَرْتُ سَاجِدًا، وَعَرَفْتُ أَنَّهُ قَدْ جَاءَ فَرَجٌ فَآذَنَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّاسَ بِتَوْبَةِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ عَلَيْنَا" د سلع له څوکې چا په اوچت آواز سره ووېل: اې کعب بن مالکه! مبارك دې شه! زه په سجده پرېوتم، پوه شوم چې پراخي راغله، نبي کریم ﷺ د سهار د لمانځه وروسته زموږ د توبې قبلېدو اعلان کړی وو، "حِيْنَ صَلَّى صَلَاةَ الْفَجْرِ" په هغه وخت کې چې کله موږ د سهار لمونځ وکړو، "فَذَهَبَ النَّاسُ يُبَشِّرُوْنَنَا" خلکو موږ ته مبارکی راکولې، "فَذَهَبَ قِبَلَ صَاحِبَيَّ مُبَشِّرُوْنَ، وَرَكَضَ رَجُلٌ إِلَيَّ فَرَسًا وَسَعَى سَاعٍ مِنْ أَسْلَمَ قِبَلِيْ وَأَوْفَى عَلَى الْجَبَلِ، وَكَانَ الصَّوْتُ أَسْرَعَ مِنَ الْفَرَسِ، فَلَمَّا جَاءَنِي الَّذِيْ سَمِعْتُ صَوْتَهُ يُبَشِّرُنِيْ نَزَعْتُ لَهُ ثَوْبَيَّ فَكَسَوْتُهُمَا إِيَّاهُ بِبُشْرَاهُ" ځینې کسان زما ملګرو ته لاړل، یو سړی ماته په اس راوځغلېدو، د اسلم قبیلې یو سړی په منډه راغلو، یو سړی د سلع غره څوکې ته وختلو، چیغه یې راته وکړه نو چیغه د سور سړي نه مخکې راورسېده، بیا چې کله هغه د چیغې والا سړی راورسېدو؛ نو ما خپلې دواړه اغوستې جامې (یعني څادر او لنګ) هغه ته په زیرې کې ورکړې. "وَاللهِ مَا أَمْلِكُ غَيْرَهُمَا يَوْمَئِذٍ وَاسْتَعَرْتُ ثَوْبَيْنِ فَلَبِسْتُهُمَا وَانْطَلَقْتُ أَتَأَمَّمُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَلَقَّانِي النَّاسُ فَوْجًا فَوْجًا يُهَنِّئُوْنِيْ بِالتَّوْبَةِ وَيَقُوْلُوْنَ لِيْ: لِتَهْنِكَ تَوْبَةُ اللهِ عَلَيْكَ" والله زما سره په دې وخت کې ددې دوه څادرونو نه سېوا نورې جامې نه وې او خپله مې د چا نه غوښتلې جامې واچولې، د نبي کریم ﷺ زیارت ته روان شوم په لاره کې خلک ډلې ډلې راتلې او مبارکی یې راکولې، دا به یې ویل: توبه قبلېدل دې مبارك شه! "حَتّٰى دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ فَإِذَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ حَوْلَهُ النَّاسُ، فَقَامَ طَلْحَةُ بْنُ عُبَيْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يُهَرْوِلُ حَتّٰى صَافَحَنِيْ وَهَنَّأَنِيْ وَاللهِ مَا قَامَ رَجُلٌ مِنَ الْمُهَاجِرِيْنَ غَيْرُهُ، فَكَانَ كَعْبٌ لَا يَنْسَاهَا لِطَلْحَةَ" کله چې جومات ته راورسېدم نو رسول الله ﷺ نه صحابه کرام چاپېره ناست وو، طلحه بن عبيد الله را پاڅېدو په منډه راغلو مصافحه یې را سره وکړه او مبارکي یې راکړه، والله بل مهاجر نه وو راپاڅېدلی، ځکه کعب ﷺ د طلحه دا مینه چېرته نه شو هېرولی، "قَالَ كَعْبٌ: فَلَمَّا سَلَّمْتُ عَلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: وَهُوَ يَبْرُقُ وَجْهُهُ مِنَ السُّرُوْرِ "أَبْشِرْ بِخَيْرِ يَوْمٍ مَرَّ عَلَيْكَ مُنْذُ وَلَدَتْكَ أُمُّكَ" کعب ﷺ فرمايي: ما په حضور ﷺ سلام واچولو او د هغوی مخ مبارك د خوشحالۍ نه پرقېدو) راته یې وفرمایل: د پیدایش نه تر دې وخته پورې چې درباندې څومره ورځې تېرې شوې دي په هغو ټولو ورځو کې بختوره ورځ دې مبارك شه، "فَقُلْتُ": ما عرض وکړو "أَمِنْ عِنْدِكَ يَا رَسُوْلَ اللهِ أَمْ مِنْ عِنْدِ اللهِ؟ قَالَ: "لَا بَلْ مِنْ عِنْدِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ."

وَكَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سُرَّ اسْتَنَارَ وَجْهُهُ حَتَّى كَأَنَّ وَجْهَهُ قِطْعَةُ قَمَرٍ، وَكُنَّا نَعْرِفُ ذَلِكَ مِنْهُ" دا حکم ستا ند طرفه دی، اې د الله تعالی رسوله! که د الله ﷻ له طرفه دی؟ (د حضور ﷺ مخ مبارك د خوشحالۍ څخه پرقېدو، او حضور ﷺ چې به کله خوشحال شو مخ به يې داسې روښانه شو لکه چې د سپوږمۍ ټوټه چې وي، نو موږ به يې خوشحالي پېژندہ. "فَلَمَّا جَلَسْتُ بَيْنَ يَدَيْهِ قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ مِنْ تَوْبَتِي أَنْ أَنْخَلِعَ مِنْ مَالِي صَدَقَةً إِلَى اللَّهِ وَإِلَى رَسُولِهِ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَمْسِكْ عَلَيْكَ بَعْضَ مَالِكَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ" بيا زه د حضور ﷺ مخکې کښېنستم عرض مې وکړو: اې د الله تعالی رسوله! زما د توبې تکميل به په دې کېږي چې ددې ټول مال نه خان خلاص کړم، زه ټول مال الله او د هغه رسول ته صدقه کوم، رسول الله ﷺ وفرمايل ټول مال مه صدقه کوه! لږ مال د خان لپاره پرېږده! دا ستا لپاره بهتره ده، "فَقُلْتُ إِنِّي أُمْسِكُ سَهْمِيَ الَّذِي بِخَيْبَرَ. وَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى إِنَّمَا أَنْجَانِي بِالصِّدْقِ وَإِنَّ مِنْ تَوْبَتِي أَنْ لَا أُحَدِّثَ إِلَّا صِدْقًا مَا بَقِيتُ، فَوَاللَّهِ مَا عَلِمْتُ أَحَدًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ أَبْلَاهُ اللَّهُ تَعَالَى فِي صِدْقِ الْحَدِيثِ مُنْذُ ذَكَرْتُ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْسَنَ مِمَّا أَبْلَانِي اللَّهُ تَعَالَى" ما عرض وکړو بښه نو د خيبر خپله حصه خان ته پرېږدم او ومې ويل: اې د الله تعالی رسوله! الله تعالی را باندې دا احسان د صداقت په وجه وکړو، نو زما د توبې يوه حصه دا هم شوه چې تر څو ژوندی يم رښتيا به وايم، کعب رضي الله عنه فرمايي "وَاللَّهِ مَا تَعَمَّدْتُ كِذْبَةً مُنْذُ قُلْتُ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى يَوْمِي هَذَا" د کوم وخت څخه چې ما دا خبره کړې ده، والله يو مسلمان باندې هم الله تعالی په رښتيا ويلو کې دومره ازموينت نه دی کړی، والله د کوم وخت څخه چې ما د حضور ﷺ په مخکې دا اقرار کړی دی، ددې نه پس مې تر ننه ورځې پورې چېرته د دروغو اراده نه کړې، "وَإِنِّي لَأَرْجُو أَنْ يَحْفَظَنِيَ اللَّهُ تَعَالَى فِيمَا بَقِيَ قَالَ: فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: {لَقَدْ تَابَ اللَّهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ} حَتَّى بَلَغَ: {إِنَّهُ بِهِمْ رَءُوفٌ رَحِيمٌ" او د الله تعالی نه اميد لرم چې په باقي پاتې عمر کې مې هم د دروغو نه وساتي، کعب فرمايي: ددې واقعې متعلق الله تعالی دا آيتونه نازل کړل: الله تعالی رحم وکړو په نبي ﷺ او د هغه په اصحابو، مهاجرينو او انصارو چا چې په سخت ساعت کې د هغه تابعداري وکړه، (يعني د تبوك غزا ته لاړل) آيت يې تر آخره "إِنَّهُ بِهِمْ رَءُوفٌ رَحِيمٌ. وَعَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا حَتَّى إِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْأَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ} حَتَّى بَلَغَ: {اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ} پورې تلاوت کړو، توبه يې قبوله کړه د هغو درې کسانو چې پاتې شوي وو او هېواد ورباندې تنګ شو، سره له پراخۍ، آيت يې تر آخره اتَّقُوا اللَّهَ وَكُونُوا مَعَ الصَّادِقِينَ پورې تلاوت کړو [التوبة: ۱۱۷، ۱۱۸]

"قَالَ كَعْبٌ: وَاللَّهِ مَا أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيَّ مِنْ نِعْمَةٍ قَطُّ بَعْدَ إِذْ هَدَانِيَ اللَّهُ لِلْإِسْلَامِ أَعْظَمَ فِي نَفْسِي مِنْ صِدْقِي رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ لَا أَكُونَ كَذَبْتُهُ فَأَهْلِكَ كَمَا هَلَكَ الَّذِينَ كَذَبُوا" کعب رضي الله عنه فرمايي: والله! د اسلام نه پس چې الله تعالی په ما باندې کوم احسانونه کړي دي، زما په خيال کې دا احسان د ټولو نه غټ وو چې ما رسول الله ﷺ ته رښتيا وويل او د دروغو په عذر مې خان تباه نه کړو، لکه هغه نورو چې خان تباه کړو، "إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى قَالَ لِلَّذِينَ كَذَبُوا حِينَ أَنْزَلَ الْوَحْيَ شَرَّ مَا قَالَ لِأَحَدٍ فَقَالَ اللَّهُ تَعَالَى: {سَيَحْلِفُونَ بِاللَّهِ لَكُمْ إِذَا انْقَلَبْتُمْ إِلَيْهِمْ لِتُعْرِضُوا عَنْهُمْ فَأَعْرِضُوا عَنْهُمْ إِنَّهُمْ رِجْسٌ وَمَأْوَاهُمْ جَهَنَّمُ جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ. يَحْلِفُونَ لَكُمْ لِتَرْضَوْا عَنْهُمْ فَإِنْ تَرْضَوْا عَنْهُمْ فَإِنَّ اللَّهَ لَا يَرْضَى عَنِ الْقَوْمِ الْفَاسِقِينَ} " څنګه چې الله تعالی د هغوی په حق کې ډېر سخت حکم نازل کړو، ارشاد دی: (کله چې ته واپس شې، دوی به ورته

په الله تعالى قسمونه خوري، ددې لپاره چې ته يې په خپل حال پرېږدې؛ نو پرېږده يې؛ دوى ګنده دي او د دوى د خپلو عملونو په وجه يې ځاى دوزخ دى، دوى قسمونه كوي چې ته راضي شې نو كه ته ترې راضي هم شې، الله تعالى د فاسق قوم څخه نه راضي كېږي. [التوبة:٩٥،٩٦]

"قَالَ كَعْبٌ: كُنَّا خُلِّفْنَا أَيُّهَا الثَّلَاثَةُ عَنْ أَمْرِ أُولَئِكَ الَّذِينَ قَبِلَ مِنْهُمْ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ حَلَفُوا لَهُ فَبَايَعَهُمْ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمْ" كعب ﷺ فرمايي: زموږ د درې وارو فيصله حضور ﷺ د خلكو نه وروسته كړې وه چا چې په دروغه قسمونه وخوړل او د هغوى عذر يې قبول كړو، اقرار يې ترې واخيستو (چې بيا به داسې نه كوي) او د مغفرت دعا يې ورته وكړه.

وَأَرْجَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمْرَنَا حَتَّى قَضَى اللهُ تَعَالَى فِيهِ بِذَلِكَ، قَالَ اللهُ تَعَالَى: {وَعَلَى الثَّلَاثَةِ الَّذِينَ خُلِّفُوا} وَلَيْسَ الَّذِي ذَكَرَ مِمَّا خُلِّفْنَا تَخَلُّفَنَا عَنِ الْغَزْوِ وَإِنَّمَا هُوَ تَخْلِيفُهُ إِيَّانَا وَإِرْجَاؤُهُ أَمْرَنَا او زموږ معامله يې وروسته كړه چې الله تعالى پكې څه حكم نازل كړي، دې ته اشاره ده (عَلَى الثَّلٰثَةِ الَّذِيْنَ خُلِّفُوا) يعنې هغه درې كسان چې فيصله يې وروسته شوه، (د غزا نه پاتې كېدل ترې مراد نه دي) بلكې دا مطلب دى چې حضور ﷺ زموږ فيصله د الله تعالى حكم ته ايساره كړه، "عَمَّنْ حَلَفَ لَهُ وَاعْتَذَرَ إِلَيْهِ فَقَبِلَ مِنْهُ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. چا چې قسمونه وخوړل د هغوى عذر يې قبول كړو (دا د بخاري او مسلم دواړو روايت دى) وَفِيْ رِوَايَةٍ "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ فِيْ غَزْوَةِ تَبُوكَ يَوْمَ الْخَمِيْسِ وَكَانَ يُحِبُّ أَنْ يَخْرُجَ يَوْمَ الْخَمِيْسِ" په يو بل صحيح روايت كې دا تفصيل زياتي شوى دى چې حضور ﷺ د تبوك غزا ته د پنجشنبې په ورځ روان شو او هغوى به د پنجشنبې په ورځ سفر خوښولو، "وَفِيْ رِوَايَةٍ: "وَكَانَ لَا يَقْدَمُ مِنْ سَفَرٍ إِلَّا نَهَارًا فِي الضُّحَى، فَإِذَا قَدِمَ بَدَأَ بِالْمَسْجِدِ فَصَلَّى فِيْهِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ جَلَسَ فِيْهِ" يو بل روايت دى چې حضور ﷺ به كله د سفر نه واپس شو، نو كلې ته به د ورځې راتوتلو، لومړى به جومات ته داخل شو، هلته به يې دوه ركعته نفل لمونځ وكړو، د صحابه كرامو سره به خبرو ته كيناستو

لغوي تحقيق: تخلف: "خلف خلفاً" باب ضرب يضرب، معنى ده: وروسته پاتې كېدل

يعاتب: "عاتب يعاتب عتباً" باب نصر ينصر نصراً، معنى يې ده: سختي او زورنه وركول

شهدت: "شهد شهوداً" باب سمع يسمع، معنى يې ده: په مجلس كې حاضرېدل

تواثقنا: "واثق وثاقاً" باب مفاعله، معنى يې ده: وعده او عهد كول

ورى: "ورى تورية" ددې معنى ده: پټېدل

فجلى: باب نصر ينصر، ددې معنى ده: كوم كار په واضحه توګه كول

ليتاهبو: "اهب وتاهب" معنى يې ده: د كوم كار لپاره تيار او چمتو اوسېدل

فتجهز: "جهز جهزاً" باب فتح يفتح، معنى يې ده: د سفر لپاره سامان تيارول

طفقت: "طفق" باب ضرب يضرب، معنى يې ده: شروع كول

استمر: "استمر استمراراً" باب استفعال، معنى يې ده: تېرېدل، يعنې په يو حالت او يوه طريقه باندې برقرار پاتې كېدل

عطفية: "العطف" معنى ده: تحرک، بغل، ويلې شي عطف القوس، د كمان كناره، "عطفا الرجل" د سړي دواړه طرفونه، ددې جمع اعطف او عطوف راځي

سكت: ددې معنى ده: چوپ كېنستل

انجع: باب فتح يفتح، معنى يې ده: اساني

السراب: سراب وايي د ماسپښين تيزي ګرمۍ ته په كومه كې چې د اوبو په څير د دشتي شګه ورېښي كوي، د دروغو لپاره يو ضرب المثل ګرځېدلى دى، لكه ويل كېږي چې: "هواخدع من السراب" هغه د سراب نه ډير زيات دوكه باز دى

سخط: ددې معنى ده: غوسه كېدل

قدم: "قدم قدوماً" باب سمع يسمع، معنى يې ده: د سفر نه واپس راتلل

تبسم: "بسم بسماً" د ضرب يضرب باب، معنى يې ده: خندل او مسكا كول

ابتعت: "باع بيعاً" معنى يې ده: خرڅېدل، كله كله د اخيستلو په معنى سره هم راځي، ابتاع ابتياعاً په معنى د اخستلو سره ده. (لسان العرب)

عجزت: "عجز عجزاً" باب ضرب يضرب، معنى يې ده: د كوم كار نه پاتې راتلل او عاجزه كېدل

أشب: "شب شباباً وشيبةً" ماشوم خوانېدل

ضاقت: ددې معنى زړه تنګيدل او په مشكل كې ګېرېدل

خررت: "خر خراً وخروراً" باب ضرب او نصر دى، معنى يې ده: د اوچت ځاى نه ښكته راپرېوتل

يهنونني: "هناه وتهنيئاً او تهنئةً" معنى يې ده: مباركي او تبريكي وركول

په دروغو كې خلاصى نه وي:

تشريح: "عرفت لم أنجم منهُ بشئ ابداً" ما ته پته ولګيده چې په دروغو ځان نه شم خلاصولى، كوم منافقين چې په غزوه تبوك كې شريكانته وو، د دوى شماره د اتيا كسانو څخه زياته وه، دوى تولو په دروغه قسمونه وخوړل او خپل ځانونه يې خلاص كړل. ليكن دغه درې كسانو رښتيا وويل، په دې باندې ددې درې واړو توبه قبوله شوه او د قرآن كريم آيتونه نازل شول "لقد تاب اللّٰهُ على النبي والمهاجرين والانصار...... وكونوامع الصادقين" كعب ﷺ فرمايي: كه ما دروغ ويلي واى، نو زه به غرق شوى وم، لكه څنګه چې هغه نور كسان غرق شول كومو چې دروغ وويل، د هغوى په باره كې قرآن كريم سخت وعيد نازل كړو "يحلفون باللّٰـه لكم اذا انقلبتم اليهم لتعرضوا عنهم فأعرضوا عنهم انهم رجس ومأوٰهم جهنم جزاء بما كانوا يكسبون، يحلفون لكم لترضوا عنهم فإن ترضوا عنهم فان اللّٰـه لا يرضى عن القوم الفاسقين" **توجمه**: هغوى به تاسو ته قسمونه خوري كله چې تاسو د جهاد نه واپس شئ، ددې لپاره چې تاسو د دوى نه راضي شئ، كه چېرته تاسو د دوى نه راضي شوئ؛ نو الله ﷻ خو د دوى څخه نه راضي كيږي، ځكه چې دوى مردار خلك دي او د دوى ځاى جهنم دى، دا د دوى د بدو عملونو بدله ده چې دوى كول، دوى تاسو

ته په دروغه قسمونه کوي، ددې لپاره چې تاسو د دوی څخه راضي شئ؛ که چېرته تاسو د دوی څخه راضي شوئ؛ نو الله ﷻ خو د فاسق قوم څخه نه راضي کيږي

زيري ورکوونکي ته ډالۍ ورکول:

"نزعت ثوبي" ما خپلې دواړه جامې وويستلې او هغه مې ورکړې، دد پنه معلومیږي چې کوم کس تاته زيری راوړي، بايد څه هديه ورکړل شي چې دا يو مستحب عمل دی، کوم کس چې يعقوب عليه السلام ته د يوسف عليه السلام زيری راوړی وو؛ نو يعقوب عليه السلام هم هغه ته څه ورکړي وو، د تاريخ پوهان په دې اند دي چې زيري ورکوونکي دوه کسان وو، يو کس ابوبکر رضي الله عنه دی او بل عمر رضي الله عنه دی.

د پنجشنبې په ورځ سفر کول:

"وكان يحب أن يخرج يوم الخميس" نبي کريم ﷺ ته دا خوښ وو چې د پنجشنبې په ورځ سفر شروع کړي، ټولې ورځې مبارکې دي، يوه ورځ هم پکې بده او سپيره نشته، د علي رضي الله عنه مخې ته يو کس د ورځو په اړه د سپيره والي تذکره وکړه؛ علي رضي الله عنه وفرمايل: که چېرته زما سره توره وای، نو ستا کار به مې کړی ؤ. معلومه شوه چې ټولې ورځې مبارکې دي، ليکن بيا هم څه وجه وه چې نبي کريم ﷺ به د پنجشنبې په ورځ سفر شروع کولو، محدثينو ددې څو وجې بيان کړي دي چې په هغې کې يې يوه وجه دلته ليکو د پنجشنبې په ورځ د خلکو عملونه د الله ﷻ په دربار کې پيش کولی شي، نبي کريم ﷺ ته دا خبره خوښه وه چې د پنجشنبې په ورځ زما هم يو مبارک عمل يعني جهاد پکې پيش کړل شي

د حديث راوي کعب بن مالک رضي الله عنه مختصر حالات:

اصل نوم يې کعب رضي الله عنه دی، کنيت يې ابوعبدالله دی، د پلار نوم يې مالك رضي الله عنه دی، د مور نوم يې ليلى بنت زيد بن ثعلبة وه، د بنو سلمه سره يې تعلق درلود، د جاهليت په زمانه کې يې کنيت ابوبشر وو، نبي کريم ﷺ د هغه دغه کنيت بدل کړو او ابوعبدالله کنيت يې ورته کېښود، په عقبة ثانيه کې په ۷۰ کسانو کې هغه هم شامل وو. (بخاري۱- ۵۵۰) د بدر په جنګ کې يې شرکت نه شو کولی، د احد له غزا وروسته يې په ټولو جهادونو کې شرکت وکړو، په تبوک کې يې هم شرکت ونه کړو، اګر چې نيت يې هم د دغه جهاد لپاره محکم کړی وو، هغه د سفر لپاره اوښان تيار کړي وو نن او سبا به يې کول چې نبي کريم ﷺ تږې د تبوک جهاد ته لاړو او بېرته واپس هم راغلو، پنځوس ورځې وروسته يې توبه قبوله شوه، د علي رضي الله عنه او د معاويه رضي الله عنه په خپل منځي جنګونو کې هغه ځانته ناست وو، د يوه سره يې هم ملګرتيا ونه کړه.

د نبي کريم ﷺ په زمانه کې درې مشهور شاعران وو، په هغوی کې کعب رضي الله عنه هم شامل وو، په خبرو کې يې ډېر زيات اثر وو، کله چې يې دوس قبيلې دوه شعرونه واوريدل نو ټولو اسلام قبول کړو، هغه دوه شعرونه دا دي:

فقضينا من تهامة كل ريب وخيبر ثم أغمدنا السيوفا

د تهامة او خيبر نه مونږ کينه او حسد لرې کړل او تورې مو په تيکي کې بندې کړې

نخبرها ولو نطقت لقالت قواطعهن دوسا أو ثقيفا

اوس بيا موږ هغوی راپورته کوو او که وويل شي نو دا به وي چې اوس د دوس يا د ثقيف قبيلې وار دی.

وفات: د امير معاويه ﷛ د خلافت په دوره کې په ۵۰ هجري کې د ۷۷ کالو په عمر کې وفات شو.

مرويات: د رواياتو شمېر يې ۸۰ پورې دی، امام بخاري ﷬ او امام مسلم ﷬ دواړو په درې حديثونو کې اتفاق کړی دی، امام بخاري ﷬ په يو حديث او امام مسلم ﷬ په دوه حديثونو کې انفراد کړی دی.

د ربښتوني توبې نتيجه

۲۲- وَعَنْ أَبِي نُجَيْدٍ -بِضَمِّ النُّونِ وَفَتْحِ الْجِيمِ- عِمْرَانَ بْنِ الْحُصَيْنِ الْخُزَاعِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ امْرَأَةً مِنْ جُهَيْنَةَ أَتَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهِيَ حُبْلَى مِنَ الزِّنَا، **ترجمه**: د ابو نجيد عمران بن حصين خزاعي ﷛ نه روايت دی چې د جهينه قبيلې يوه ښځه رسول الله ﷺ ته راغله او هغه د زنا ځخه حامله وه. فَقَالَتْ: يَارَسُولَ اللهِ أَصَبْتُ حَدًّا فَأَقِمْهُ عَلَيَّ عرض يې وکړو: اې د الله تعالى رسوله! زما ځخه جرم شوی دی، په ما باندې حد قائم کړې" يعنې سزا راکړې "فَدَعَا نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلِيَّهَا فَقَالَ: "أَحْسِنْ إِلَيْهَا" نو حضور ﷺ د هغې وارث راوغوښتلو، ورته يې وويل ددې سره ښه سلوك کوه! "فَإِذَا وَضَعَتْ فَأْتِنِي" کله چې يې بچی پيدا شي بيا يې ماته راوله! "فَفَعَلَ فَأَمَرَ بِهَا نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَشُدَّتْ عَلَيْهَا ثِيَابُهَا" هغه دغه شان وکړل چې بيا يې راوسته، نو نبي کريم ﷺ حکم وکړو چې جامې وريورې کلکې وتړئ (چې بې پرده نه شي) "ثُمَّ أَمَرَ بِهَا فَرُجِمَتْ ثُمَّ صَلَّى عَلَيْهَا" بيا يې د رجم حکم ورکړو او بيا يې وربانديې د جنازې لمونځ وکړو، "فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: تُصَلِّي عَلَيْهَا يَارَسُولَ اللهِ وَقَدْ زَنَتْ" عمر ﷛ عرض وکړو، اې د الله تعالى رسوله! دې زنا کړې ده او تا وربانديې جنازه هم وکړه؟ "قَالَ: لَقَدْ تَابَتْ تَوْبَةً لَوْ قُسِمَتْ بَيْنَ سَبْعِينَ مِنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ لَوَسِعَتْهُمْ" رسول الله ﷺ وفرمايل: دې داسې توبه ويستې ده که هغه د مدينې په اويا کسانو تقسيم شي کافي ده، "وَهَلْ وَجَدْتَ أَفْضَلَ مِنْ أَنْ جَادَتْ بِنَفْسِهَا لِلَّهِ عَزَّ وَجَلَّ؟" آيا ددې نه زيات اوچت مقام شته چې خپل ځان يې د الله تعالى په حکم قربان کړو رَوَاهُ مُسْلِمٌ

لغوي تحقيق:

حُبْلَى: حبلت حبلاً باب سمع يسمع، په معنى د حامله کېدو سره.

فدعا: دعا دعاءً و دعوى، باب نصر ينصر، په معنى د آواز کولو سره.

فرجمت: رجم رجماً، باب نصر ينصر، معنى يې ده: په کاڼو ويشتل

قسمت: قسم قسماً، باب ضرب يضرب، معنى يې ده تقسيم کول

أتت: أتي إتياناً باب ضرب يضرب، معنى يې ده: حاضرېدل

تشريح: إمرءة من جهينة: د جهينه قبيلې يوه ښځه راغله، د مسلم په روايت کې د غامديه قبيلې الفاظ راغلي دي، يعنې دا ښځه د غامديه قبيلې وه، محدثين ددې داسې ځواب کوي چې په دې دواړو کې

هيڅ ټکر نشته، ځکه چې غامديه قبيله هم جهينة خاندان ته منسوب ده، (اتت رسول اللّه ﷺ) دا ښځه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضره شوه، دد ېنه معلومه شوه چې د صحابه کرامو ﷺ په زړونو کې د الله ﷻ نه خوف او وېره او د آخرت د حساب کتاب او بيا سزاګانې وغيره څومره محکم ځای يې نيولی وو، د دوی په زړونو کې د دنيا دغه سزاګانې يعنې رجم وغيره د آخرت په مقابل کې هيڅ وې، ځکه خو دوی د دنيا سزا د آخرت په سزا بدله نه کړه.

حامله ښځه نه شي رجم کولی:

"فإذا وضعت فائتني" کله چې حمل وزېږول شي، نو بيا ماته دا ښځه راولی، د امام ابوحنيفه رحمه الله او د نورو امامانو مسلك هم دغه دی چې حامله ښځه به نشي رجم کولی، ځکه چې په داسې حال کې ماشوم ضائع کېږي، بلکې د حمل د زېږېدو نه وروسته او بيا تر څو پورې چې ماشوم د خپلې مور نه مستغني يعنې د شيدو نه جدا شوی نه وي او نور خوراك څښاك وغيره يې شروع کړی نه وي، تر هغې به زانيې ته سزا نه شي ورکولی، "ثمه صلى عليها" بيا نبي کريم ﷺ پرې جنازه وکړه.

د زنا کار انسان جنازه به څوك كوي؟

په دې باره کې دوه مذهبه دي: لومړی مذهب د امام صاحب رحمه الله، امام شافعي رحمه الله او د امام احمد رحمه الله وغيره دي، د دوی ټولو رايه دا ده چې ټول خلك به پرې جنازه کوي، دويم مذهب د امام مالك رحمه الله دی او يو قول د امام احمد رحمه الله هم ورسره شامل دی چې امير المؤمنين او اهل الفضل يعنې علماء کرام شيوخ حضرات به د دوی جنازه نه کوي، د لومړي مذهب والا دليل وړاندې ذکر شوی حديث دی.

د دويم مذهب والا دليل:

"أنه عليه السلام لم يصل عليه" دا روايت د دوی لپاره دليل دی چې نبي کريم ﷺ په هغه سړي باندې جنازه ونه کړه، دد ېنه څو ځوابونه شوي دي، يو څو دلته ليکو. اولنی ځواب دا دی چې ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: د حديثو د اصولو قاعده دا ده چې مثبت مقدم وي په نفي باندې؛ نو په کومو روايتونو کې چې د جنازې کولو ذکر دی هغه به مقدم وي په هغو روايتونو باندې چې د جنازې نه کولو ذکر پکې دی، دويم ځواب دا دی چې په کوم روايت کې زيات ثقه راويان وي، هغه روايت به وړاندې وي: نو "ثم صلى عليها" والا روايت د بخاري شريف دی، لهذا دا به وړاندې وي، دريم ځواب دا دی چې "من حفظ حجة على من لم يحفظ".

د راوي عمران بن حصين رضي الله عنه مختصر حالات:

اصل نوم يې عمران دی، کنيت يې ابونجيد دی، د پلار نوم يې حصين رضي الله عنه دی، د هجرت په اولني کال مسلمان شوی وو، په ځينو جهادونو کې يې د رسول الله ﷺ سره شرکت کړی دی، د نبي کريم ﷺ تر وفات پورې به مدينې منورې ته تلو راتلو، دنبي کريم ﷺ د وفات وروسته يې مدينې منورې نه

تلل راتلل بند کړل او يواځيوالي يې خوښ کړو، د عمر ﷺ په دور خلافت کې چې کله بصره آباده شوه، نو هلته منتقل شو، عمر ﷺ د فقه تعليم هغه ته وسپارلو، د عمر ﷺ نه وروسته چې کوم جنګونه شروع وشول، هغه په خپل ځای کښېنستلو، د هيچا ملګرتيا يې ونه کړه

علامه ابن عبدالبر رحمه الله فرمايي چې "كان من فضلاء الصحابة وفقهائهم" يعني عمران ﷺ په فقهاء صحابه کرامو ﷺ کې شمار دی، حسن بصري ﷺ فرمايي چې د عمران ﷺ په څېر غوره انسان بل څوک بصرې ته نه دی راغلی، د هغه ځانګړې صفتونه دا دي: د رسول الله ﷺ احترام، مينه، د سنتو تابعداري، په عبادت کې رياضت، د بر مخلوقات به يې پوښتنې ته راتلل، په کومه لار چې به تېرېدو خلکو به راګېر کړو او ديني پوښتنې به يې ترې کولې.

وفات: د استسقاء په مرض اخته شوی و، په هم دې ناروغۍ کې ۵۲ هجري کال په بصره کې وفات شو

مرويات: د روايتونو شمېر يې ۱۳۰ ته رسيږي، د روايت په نقلولو کې به يې د ډېر زيات احتياط څخه کار اخيستلو، څکه خو يې په حديثو کې شماره کمه ده، په اته حديثونو کې امام بخاري رحمه الله او امام مسلم رحمه الله متفق دي، امام بخاري رحمه الله په څلورو کې او امام مسلم رحمه الله په نهه حديثونو کې منفرد دی

انسان صرف د قبر په خاورو مړيږي

۲۳ - وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: **ترجمه**: د ابن عباس ﷺ او انس ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي: "لَوْ أَنَّ لِابْنِ آدَمَ وَادِيًا مِنْ ذَهَبٍ أَحَبَّ أَنْ يَكُونَ لَهُ وَادِيَانِ" که د انسان سره د سرو زرو يوه کنده ډکه وي؛ نو هغه به دا غوارې چې دوه کندې شي، "وَلَنْ يَمْلَأَ فَاهُ إِلَّا التُّرَابُ" د بنده خوله د خاورو څخه بغير په بل څه شي نه شي ډکولی، "وَيَتُوبُ اللهُ عَلَى مَنْ تَابَ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ او الله تعالی توبه قبلوي څوک چې ورته توبه وباسي، دا روايت د بخاري او مسلم دواړو دی

لغوي تحقيق:

واديا: د دوه غرونو ترمينځ چې کومه خالي فاصله وي هغې ته وادي يا دره ويل کيږي چې په عامه پښتو ژبه کې ورته دره ويل کيږي

انسان تل حرص کوي:

"لو أن ابن آدم واديا من ذهب أحب أن يكون له واديان" که د آدم عليه السلام اولاد ته د سرو زرو يوه کنده ملاو شي نو هغه به بيا هم حرص کوي چې دوه کندې ورته د سرو زرو ملاو شي، مطلب دا چې د مال او دولت حرص د انسان سترګې ړندې کړي، په مزه مزه دده د زړه نه د حرام او حلال تميز ختم شي، بيا هغه د مال په جمع کولو کې دومره مخ په وړاندې لاړ شي چې د يو لاک نه وروسته دوه لاکه، د يو کروړ نه وروسته د اربونو په لالچ کې راګېر شي، دده په ژبه هميش دغه يوه نعره وي چې "هل من مزيد" همدغه حالت به دده تر مرګه پورې وي کله چې مړ شي؛ نو د قبر په خاورو سره به يې دغه لالچ ختم شي، که انسان د الله ﷻ سره خپل تعلق جوړ کړي؛ نو الله ﷻ به ورته په بدله کې د زړه اطمينان او غناء نصيب کړي: د زړه د غناء

ترغيب په نورو حديثونو کې هم په کثرت سره راغلی دی، مثلاً:
"رَبِّ قَنِّعْنِي بِمَا رَزَقْتَنِي وَبَارِكْ لِيْ فِيْمَا أَعْطَيْتَنِيْ" اې الله! تاسو چې کوم رزق ماته راکوئ په هغې ماته قناعت نصيب کړئ او کوم رزق ماته راکړئ چې په هغې کې راته برکت واچوئ "اللهم اكفني بحلالك عن حرامك وبطاعتك عن معصيتك واغنني بفضلك عمن سواك" اې الله! ما د حلال رزق په وسيله د حرام رزق څخه وساتې، ستا د تابعداری په وسيله مو د معصيت او نافرمانی څخه وساتې او په خپل فضل سره مو د نورو نه بې پرواه کړې.

د الله جل جلاله خندا

۲۴- وَعَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: **ترجمه:** د ابوهريره رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "يَضْحَكُ اللهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى إِلَى رَجُلَيْنِ يَقْتُلُ أَحَدُهُمَا الْآخَرَ يَدْخُلَانِ الْجَنَّةَ" الله تعالى د دوه کسانو په حال د خوشحالی اظهار کوي چې په دې دوه کسانو کې يو قاتل او بل مقتول وي، بيا هم جنت ته لاړ شي، "يُقَاتِلُ هٰذَا فِيْ سَبِيْلِ اللهِ فَيُقْتَلُ" په دې دواړو کې لومړی په جهاد کې شهيد شي، "ثُمَّ يَتُوْبُ اللهُ عَلَى الْقَاتِلِ فَيُسْلِمُ فَيُسْتَشْهَدُ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. بيا دې کافر قاتل ته الله تعالى توفيق ورکړي، مسلمان شي او بيا په غزا کې شهيد شي. (بخاري او مسلم) (دغه شان قاتل او مقتول دواړه جنتيان شي)

فايده: د توبې مطلب راګرځېدل دي، د لرې کېدو نه پس بيا رانږدې کېدل، ددې لپاره هم د نورو شيانو په شان يوه ابتداء ده او يوه انتها ده، ابتداء يې دا ده چې په زړه يې د الله تعالى د معرفت رڼا پرېوځي او په دې پوه شي چې ګناه تباه کوونکې شی دی، بيا يې په زړه کې د الله تعالى وېره او په غلطو کارونو پښېماني پيدا شي، د هغې اثر دا وي چې د ګناهونو د نقصان پوره کولو رښتينې جذبه يې په زړه کې پيدا شي، کومه ګناه چې يې کړې وي هغه پرېږدي او د بيا لپاره يې د نه کولو پخه اراده وکړي او ددې سره سره خومره چې ممکنه وي د زړو ګناهونو کمی په ډېرو نېکيو سره پوره کړي، چې په تېرو وختونو پښېماني او د مستقبل لپاره د نېکی فکر يې پيدا شي، نو دغه د توبې انتهاء او د کمال درجه ده. (والله أعلم)

لغوي تحقيق:

يضحك: ضحك ضحكاً، باب سمع يسمع، په معنی د خندېدو سره.

فيستشهد: شهد شهادة، باب کرم او سمع، معنی يې ده: د الله جل جلاله په لار کې مرګ او شهادت، په نوي لغت کې شهادة تصديق او سند ته ويل کيږي.

* **تشريح:** **يضحك الله سبحانه وتعالى:** الله جل جلاله په خندا کوي، د الله جل جلاله خندا به څنګه وي؟ ددې کيفيت او حقيقت يو الله جل جلاله ته معلوم دی، دا هم د متشابهاتو څخه دی، په دې باندې مونږ ايمان لرو: خو ددې حقيقت څنګه دی، په دې نه مونږ خبر يو او نه په دنيا کې پرې خبرېدی شو، د خندا نه د الله جل جلاله خوشحالي مراد ده.

قاتل او مقتول دواړه به جنت ته داخل شي:

"يقتل أحدهما الآخر يدخلان الجنة" يو بل به وژني، ددي باوجود به دواړه جنت ته داخل شي، ددي صورت داسې بيان شوی دی چې مسلمانانو د کافرانو سره جګړه وکړه او کافرانو يو مسلمان شهيد کړو، د هغه د شهادت په وجه مسلمان جنت ته داخل شو، بيا دغه کافر ته الله ﷻ د توبې توفيق نصيب کړي، هغه توبه وباسي او مسلمان شي، د کافرانو سره هغه هم جنګ وکړي تر دې پورې چې شهيد شي، په دې وجه د جنت مستحق وګرځېدو، دا ټوله فلسفه د توبې په باره کې ده، دا حديث امام نووي رحمه الله په آخر کې راوړی دی چې په دنيا کې تر ټولو لويه ګناه شرك او کفر او د يو مسلمان بې وژل دي. ليکن ددې سره سره که ددې ګناهونو ارتکاب کونکی توبه وباسي ؛ نو جنت ته به ځي نو که يو مسلمان سړی هر څومره غټ ګناهګار شي بايد نااميده نه شي، د الله ﷻ رحمت او مغفرت وسيع دی، د الله ﷻ څخه دې د خپلو ګناهونو معافي وغواړي، الله ﷻ بخښونکی او مهربان ذات دی.

بَابُ الصَّبْرِ

دريم باب: صبر کول

(۷) قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى: يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اصْبِرُوْا وَصَابِرُوْا" الله تعالى فرمايي : اې مؤمنانو! صبر وکړئ په مصيبت باندې او د کفارو په مقابله کې ثابت قدم اوسئ. (سورة آل عمران: اية ۲۰۰)

ش

علامه ابن جوزي رحمه الله ليکي چې ددې آيت شان نزول د يو لمونځ نه تر بل لمونځ پورې انتظار کولو په باره کې شوی دی، "اصْبِرُوْا" د صبر څخه مشتق دی، ددې لفظي معنى ده : ودرېدل او بندېدل، د قرآن او سنت په اصطلاح کې خپل نفس خلاف طبع شيانو باندې ځان بندول او صبر کول، د صبر درې قسمونه دي:

اول: "صبر على الطاعات" يعنې الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ چې د کومو شيانو حکم کړی دی، په هغه پياندې پابندي کول، برابره خبره ده چې طبيعت يې مني او که نه. اګر چې په نفس باندې يې هر څومره بوج وي.

دويم: "صبر عن المعاصي" يعنې د کومو شيانو نه چې الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ منع فرمايلي وي، د هغې نه منع کېدل برابره خبره ده چې نفس ته هر څومره ښه لګي خوندور او مزيدار معلومېږي، ليکن نفس د هغې نه منع کول

دريم : "صبر على المصائب" يعنې په مصيبت او پريشانۍ باندې صبر کول او د حد نه زيات نه پريشانه کېدل، دې ته صبر ويل کېږي.

علامه قتادة رحمه الله فرمايي : ددې مطلب دا دی چې د الله ﷻ په اطاعت باندې صبر وکړئ.

علامه کلبي رحمه الله فرمايي چې ددېنه مراد په پرېشانۍ او مصيبت باندې صبر وکړې، "صابروا" دا هم صبر ته شامل دی، ددې مطلب دا دی چې د دښمن سره په مبارزه کې ثابت قدم پاتې شي، اولنی صبر عام مفهوم او معنی لري او دويم صبر خاص دی، يعنې د جنګ په ميدان کې صبر کول مراد دي.

(۸) قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى: الله جل جلاله فرمايي: {وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِنَ الْخَوْفِ وَالْجُوعِ} خامخا به الله جل جلاله ستاسو د وېرې او لوږې په باره کې امتحان واخلي، {وَنَقْصٍ مِنَ الْأَمْوَالِ} او د مال د کم والي په باره کې، {وَالْأَنْفُسِ وَالثَّمَرَاتِ} او ستاسو د نفسونو او د ميوو په باره کې، {وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ} او زېری ورکړه صبر کوونکو خلکو ته. [البقرة:۱۵۵]

تشريح: ددې مطلب دا دی چې موږ به د رسول الله ﷺ د امت امتحان اخلو، بيا به موږ ګورو چې په دې امتحان باندې دوی صبر کوي او که نه، بايد چې کله هم کوم امتحان زموږ په سر راشي؛ نو صبر کول پکار دي، پرېشانه کېدل پکار نه دي، "بِشَيْءٍ" کې تنوين د تنکير لپاره دی، مطلب دا دی چې په دنيا کې مصيبتونه زيات دي، ليکن موږ به يې په تاسو باندې معمولي راولو، په دې باندې پرېشانه کېدل نه دي پکار، ځکه چې په مصيبتونو او تکليفونو باندې د انسان درجې اوچتېږي.

"من الخوف" د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما په قول ددېنه د دښمن وېره مراد ده يا د الله جل جلاله نه خوف او وېره مراد ده. "الجوع" ددې نه قحط يا د رمضان روژې مراد دي.

"ونقص من الاموال" د الله جل جلاله له طرفه په مالونو کې کمی راتلل يا د امام شافعي رحمه الله په قول ددې نه زکاة او صدقې مراد دي.

"الانفس" ددېنه بدني مرضونه مراد دي.

"والثمرات" اولادونه مړه کېدل ترې مراد دي، ځکه چې دا د انسان د زړه ميوه وي يا ددېنه مراد عشر دي

"وبشر الصابرين" کوم کس چې په دې مصيبتونو باندې صبر وکړي او د ثواب نيت پکې وساتي، د داسې کسانو لپاره به لوی اجر وي او داسې کسانو ته زېری واوروئ.

(۹) وَقَالَ تَعَالٰى: او الله جل جلاله فرمايي: {إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُمْ بِغَيْرِ حِسَابٍ} بې شکه صبر کوونکو ته به بې حسابه اجر ورکول شي. [الزمر:۱۰]

تشريح: د بې حسابه مطلب دا دی چې صبر کوونکو ته به د پيمانې ځخه بغير اجر ورکول شي، لکه څنګه چې په يو روايت کې راځي: انس رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به د عدل تله قائمه کړل شي، صدقه ورکوونکي به راشي؛ دوی ته به بې اندازې اجر ورکړل شي، دغه شان باقي عبادتونه به هم پوره په پوره ورکړل شي، بيا چې کله په پرېشانو او مصيبتونو باندې صبر کوونکي خلک راشي؛ نو دوی ته به هيڅ قسم اجر په تاپ او تول سره نه شي ورکولی، بلکې د دوی اجر به بې حسابه د سېلاب په څېر وي، ځکه چې الله جل جلاله فرمايي: "إنما يوفى الصابرون أجرهم بغير حساب" تر دې چې هغه خلک کوم چې په دنيا کې په عافيت او خوشحالۍ ژوند تېر کړی دی هغوی به ارمان وکړي چې ارمانا په دنيا کې د دوی بدنونه په قينچو ټوټه ټوټه شوي وای؛ خو نن موږ ته هم داسې اجر ملاو شوی وای.

امام مالك رحمه الله فرمايي د "الصابرون" څخه هغه خلك مراد دي چې په دنيا كې په تكليفونو او مصيبتونو باندې صبر كوي، ځينې نورو مفسرينو فرمايلي دي چې د صابرينو څخه مراد هغه خلك دي چې خپل ځانونه د ګناهونو څخه ساتي، علامه قرطبي رحمه الله ددې دويمې معنى تائيد كړى دى، امام اوزاعي رحمه الله د علي رضي الله عنه څخه نقل كوي چې د هر قسم عبادت اجر به په وزن او تول سره ملاويږي، خو صبر كوونكو ته به بې حسابه اجر ملاويږي.

(۱۰) وَقَالَ تَعَالَى: او الله ﷻ فرمايي: ﴿وَلَمَنْ صَبَرَ وَغَفَرَ﴾ او چا چې صبر وكړو او چاته يې بخښنه وكړه، ﴿إِنَّ ذَٰلِكَ لَمِنْ عَزْمِ الْأُمُورِ﴾ نو بې شكه دا كار د سترو همتونو والاڅخه دى [الشورى:۴۳]

تشريح: مطلب دا چې كوم كس د ظالم سړي څخه بدله وانخلي، د هغه په ظلم صبر وكړي او معاف يې كړي؛ نو داسې صبر شرعاً مطلوب دى، داسې سړى په ټولو كې غوره او افضل انسان دى، كوم انسان چې بدله او انتقام وانخلي، ځينو مفسرينو دا قاعده بيان كړې ده چې بدله اخيستل چېرته غوره او افضل دي او صبر او عفوكول چېرته افضل دي؟ كه چېرته ددې خبرې وېره وي چې كه چېرته د ظالم نه بدله وانخيستل شي، ظالم به نور هم جراتمند شي، هغه به نور خلك هم تنګ كړي؛ نو د داسې سړي څخه بدله او انتقام اخيستل غوره او افضل دي، كه ظلم كوونكى په خپل ظلم پښېمانه شي؛ نو په داسې صورت كې به معافي غوره وي.

علامه ابن كثير رحمه الله دلته يوه كيسه نقل كړې ده چې ابوبكر صديق رضي الله عنه يو ځل د رسول الله ﷺ سره ووچې يو كس راغلو او ابوبكر صديق رضي الله عنه ته يې خيرې او بد رد وويل، څه وخت خو ابوبكر صديق رضي الله عنه چوپ وو، خو كله چې هغه كس د حد نه زيات تجاوز وكړو، نو ابوبكر صديق رضي الله عنه هم ورته ځوابونه شروع كړل، د ابوبكر صديق رضي الله عنه ځوابونه چې كله نبي كريم ﷺ واورېدل، نو سمدستي يې هغه مجلس پرېښود او روان شو، ابوبكر رضي الله عنه ترې پوښتنه وكړه چې اې د الله تعالى رسوله! تاسو چېرته روان شوئ؟ نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: تر څو چې تاسو چوپ پاست تر هغې به يوه پرښته دلته زموږ سره وي او ستاسو په مقابل كې به هغې ځواب وركولو او كله چې تاسو ځوابونه شروع كړل؛ نو هغه پرښته لاړه، اې ابوبكر (رضي الله عنه)! واوره! كوم كس چې په بل باندې ظلم وكړي او هغه يې ورته معاف كړي، الله ﷻ به د هغه عزت وساتي او د هغه مرسته به وكړي.

(۱۱) وَقَالَ تَعَالَى: الله ﷻ فرمايي: ﴿اسْتَعِينُوا بِالصَّبْرِ وَالصَّلَاةِ﴾ د الله ﷻ نه د صبر او لمانځه په ذريعه كومك حاصل كړئ، ﴿إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ﴾ بې شكه د الله ﷻ كومك د صبر كوونكو سره دى. [البقرة:۱۵۳]

تشريح: په دې آيت كې عامو مسلمانانو ته خطاب شوى دى كه هر قسم تكليف، مصيبت او غم وغيره زيات شي؛ خو ددې لرې كولو نسخه صرف په دوه شيانو كې دي: يو صبر كول دويم لمونځ كول، د صبر تفسير د قرآن او حديث په اصطلاح كې د درې شيانو څخه عبارت دى.

(۱) خپل نفس د حرامو او ناجائزه شيانو څخه منع كول (۲) دويم په طاعاتو او عباداتو باندې پابند اوسېدل (۳) په مصيبتونو او تكليفونو باندې صبر كول

کوم مصيبتونه چې په انسان باندې راځي په هغې باندې بايد صبر وکړي، په يو روايت کې دي چې د قيامت په ورځ به اعلان وشي: صابرين خلك چېرته دي؟ ددې غږ په اورېدو سره به دغه درې قسمه تکليفونو باندې صبر کوونکي راپورته شي، دوی ټول به جنت ته بې حسابه او بې کتابه داخل شي، په دې آيت کريمه کې "إنما يوفى الصابرون أجرهم بغير حساب" دې طرفته اشاره شوې ده.

الصلوة د ټولو پرېشانو ختمونکې وسيله او ذريعه لمونځ دی، په دې وجه د نبي کريم ﷺ عادت دا و چې: "إذا حزبه أمر فزع إلى الصلوة" کله چې به هغه ته کوم ضرورت يا مشکل کار پيښ شو؛ نو لمانځه طرفته به يې رجوع کول، دغه شان د نورو انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ، صحابه کرامو ﷺ او د امت له اسلافو څخه په کثرت سره ددې ذکر راغلی دی چې دوی ته به کله هم څه مشکل يا ضرورت پيښ شو، نو دوه رکعته نفل لمونځ به يې وکړو او خپل مشکل به يې د الله ﷻ نه ځانته حل کړو، عبدالله بن عباس ﷺ ته يې يو ځل د ورور قاسم د مرګ خبر چا وورکړو، په بله موقع ورته د ميمونه ﷺ د مرګ خبر واورول شو، نو هغه سمدستي لمانځه ته توجه وکړه، بيا به يې وفرمايل: موږ هغه څه وکړل چې موږ ته يې حکم شوی دی. بيا يې دغه آيت تلاوت کړو.

(۱۲) وَقَالَ تَعَالَى: الله ﷻ فرمايي: {وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتَّى نَعْلَمَ الْمُجَاهِدِينَ مِنكُمْ} زه به خامخا ستاسو امتحان اخلم ترڅو پورې چې پته ولګي چې په تاسو کې څوك مجاهد دی، {وَالصَّابِرِينَ} [محمد: ۳۱] او صبر کوونکي څوك دي؟ "وَالْآيَاتُ فِي الْأَمْرِ بِالصَّبْرِ وَبَيَانِ فَضْلِهِ كَثِيرَةٌ مَعْرُوفَةٌ" د صبر د فضيلت په بيان کې ډېر زيات ايتونه راغلي دي.

تشريح: د آيت مطلب دا دی چې الله تعالی د خلکو امتحان اخلي، ددې لپاره چې معلوم شي په دوی کې رښتوني خلك کوم دي او دروغجون کوم دي؟ د صبر او د هغې په فضيلت کې زيات آيتونه او حديثونه راغلي دي.

سوال: د الله ﷻ علم خو د ازل څخه دی چې کوم رښتوني دي او کوم دروغجون دي، نو بيا د امتحان څه مطلب دی؟

ځواب: مفسرينو ددې داسې ځواب کړی دی چې خلکو ته خبره ظاهره شي چې کوم رښتوني دي او کوم دروغجون دي، دويم ځواب دا دی چې د "نَعْلَمَ" نه ظهور او وقوع مراد ده، يعني کوم شی د الله ﷻ په علم کې د ازل څخه وو، هغه اوس واقع او ثابت شي او هغه کار د علم مطابق واقع شي.

صفايي نيمايي ايمان دی

۲۵ - وَعَنْ أَبِي مَالِكٍ الْحَارِثِ بْنِ عَاصِمٍ الْأَشْعَرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: د ابو مالك الحارث بن عاصم الاشعري ﷺ نه روايت دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايي: "الطُّهُورُ شَطْرُ الْإِيمَانِ" چې صفايي نيم ايمان دی، "وَالْحَمْدُ لِلَّهِ تَمْلَأُ الْمِيزَانَ" او الحمد لله د ميزان تله ډکوي، "وَسُبْحَانَ اللَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ تَمْلَآنِ" "أَوْ تَمْلَأُ مَا بَيْنَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ" يا يې داسې وفرمايل: چې د سبحان الله او الحمد لله دواړه د ميزان تله ډکوي، "وَالصَّلَاةُ نُورٌ" او آسمان او ځمکې په مينځ کې چې څومره فاصله ده دغه فاصله ددې په ذريعه سره ډکيږي،

لمونځ نور او رڼا ده، "وَالصَّدَقَةُ بُرْهَانٌ" او صدقه ورکول دليل او برهان دی، "وَالصَّبْرُ ضِيَاءٌ" او صبر رڼا ده، "وَالْقُرْآنُ حُجَّةٌ لَكَ أَوْعَلَيْكَ" قرآن به ستا لپاره دليل وي او يا به ستا دپاسه دليل وي "كُلُّ النَّاسِ يَغْدُو" هر سړی سهار کوي، "فَبَائِعٌ نَفْسَهُ" نو خپل ځان خرڅونکی دی، "فَمُعْتِقُهَا" نو يا به ځان خلاصونکی وي د عذاب نه، که نېك عمل وکړي، "أَوْمُوبِقُهَا" او يا به ځان هلاکونکی وي، که چېرته يې بد عمل وکړو. "رَوَاهُ مُسْلِمٌ".

فايده :يعني کله چې سهار شي هر څوك خپل روزګار ته لاړ شي، که اخرت يې ياد وي، د عذاب څخه به ځان خلاص کړي او که آخرت يې هېر وي، نو ځان يې تباه کړو او د اخرت اور يې په خپل لاس خاته تيار کړو.

لغوي تحقيق:

شطر: شطر شطراً، باب نصر ينصر، معنی يې ده: يو شی دوه حصې کول.

تملاء: باب نصر ينصر، معنی يې ده: ډکول.

نور: معنی يې ده: (رڼا) جمع يې "انوار" او "نيران" راځي، په نوي لغت کې مناورة جنګي تدريبا او مشقونو ته ويل کيږي.

برهان: دليل او حجت ته ويل کيږي.

فمعتقها: باب ضرب يضرب، معنی يې ده: آزادول، ددې صفت مشبه عتيق او عاتق راځي.

موبقها: باب ضرب يضرب، معنی يې ده: ځان هلاکول.

صفايي نيم ايمان دی:

تشريح : "الطهور شطر الايمان" صفايي نيم ايمان دی، ددې مطلب دا دی چې نجاست حقيقي يعني ظاهري ګندګي او خيرنوالي لرې کول نيم ايمان دی، دغه باطني ګندګي او نجاست يعني حسد، کبر، کينه وغيره ددې صفايي کول او ددې نه ځان صفاء کول باقي نيم ايمان دی، ددې حديث نه معلومه شوه چې لکه څرنګه موږ د خپلې ظاهري صفايي خيال ساتو، دغه شان موږ ته د باطني صفايي خيال ساتل هم پکار دي، صرف په ظاهري صفايي باندې اکتفاء کول بې وقوفي ده، د ځينو علماء کرامو رحمهم الله رايه دا ده چې دلته د طهارت نه مراد لمونځ دی، لکه څنګه چې په قرآن کريم کې ورته لفظ د ايمان استعمال شوی دی، په قرآن کريم کې آيت دی: "وماكان الله ليضيع ايمانكم" او الله ﷻ به ستاسو ايمانونه (لمونځونه) نه ضايع کوي، د آيت نه معلومه شوه چې د لمانځه د صحت لپاره طهارت ضروري دی، نو ځکه طهارت او صفايي ته نيم ايمان ويل شوی دی، په احياء العلوم کې ليکل شوي دي چې: د صفايي نه مراد صرف دغه ظاهري صفايي مراد نه ده چې صرف په بدن اوبه تويې کړل شي، بلکې د ظاهري صفايي سره سره باطني صفايي خيال ساتل هم ضروري دي چې هغه کينه، بغض، حسد او ريا کاري وغيره نه ځان ساتل دي، "الحمدلله تملاء الميزان" په دې کې دې طرفته اشاره وشوه چې يوازې په لفظ د الحمدلله سره به د قيامت په ورځ د ميزان تله په دې سره ډکيږي.

لمونځ به دقيامت په ورځ رڼا وي:

(الصلوة نور) لمونځ رڼا ده، يعني په دنيا کې هم ددې لمونځ په ذريعه انسان ته حق معلوميږي او د قيامت په ورځ به هم ورته رڼا وي چې د پل صراط په لاره به ورته تلل اسان شي چې هلته به ورته همدغه لمونځ پکار راشي.

صدقه دليل دی:

"الصدقة برهان" صدقه دليل دی، محدثين فرمايي چې صدقه ورکول دليل دی، يعني کوم انسان چې صدقې ورکوي هغه ددې خبرې دليل دی چې په ده کې ايمان شته، ځکه چې هغه صدقه په دې نيت ورکوي چې د الله ﷻ نه د ثواب اميد ساتي، بل صدقه ورکول د ايمان دارو خلکو اخلاص ښکاره کوي.

"الصبر ضياء" صبر رڼا ده، يعني صبر د مسلمان اسلحه ده، په دې سره مسلمان ته استقامت ملاويږي

قرآن به د سړي لپاره دليل وي او يا به په ده دليل وي:

"القرآن حجة لك أو عليك" په يو بل روايت کې دي چې: "يحاج العباد" قرآن مجيد به د قيامت په ورځ د خپلو حقونو په باره کې د خلکو سره جګړه کوي، لکه څنګه چې انسان د يو بل سره جګړه کوي، ددېنه معلومه شوه چې صرف د قرآن مجيد زده کول کافي نه دي بلکې په هغې باندې عمل کول لازم دي، بل مطلب دا کېدی شي چې کوم بنده د قرآن کريم حقونه ادا کړي؛ نو د قيامت په ورځ به همدغه قرآن د هغه سفارش کوي او دغه به د بنده لپاره حجت او دليل وي، که د قرآن حقونه يې ادانه کړل؛ نو د قيامت په ورځ به همدغه قرآن په ده باندې ګواهي ورکوي، وايي به چې اې الله! زما حقونه يې نه دي ادا کړي. لکه په قرآن کريم کې چې ارشاد دی: "وقال الرسول يارب إن قومي اتخذوا هذا القرآن مهجورا" د قيامت په ورځ به پيغمبر ﷺ وفرمايي چې اې الله! زما دغه قوم قرآن متروك العمل ګرځولی وو، عمل يې ورباندې نه کولو.

د راوي ابومالک اشعري رضي الله عنه مختصر حالات:

په اصلي نوم کې يې يوولس قوله نقل شوي دي، خيني يې لاندې ذکر شوي دي: کعب، عبيد او عمر، کنيت يې ابومالك وو، د اشعر قبيلې سره يې تعلق درلود، دده په نوم درې صحابه کرام ﷺ مشهور دي، د خپلې قبيلې څو کسانو سره يو ځای د خيبر په غزا کې مسلمان شو، په خينو جهادونو کې يې د رسول الله ﷺ سره هم شرکت کړی دی، په حجة الوداع کې هم شريك وو، د حجة الوداع خينې حصې ترې نقل شوي دي.

وفات: د عمر رضي الله عنه د خلافت په دوره کې د طاعون ناروغي راغلې وه چې ابو مالک اشعري رضي الله عنه ورباندې اخته شو، د همدې وجې شهيد شو، په دغه ناروغۍ کې هغه وخت د عشره مبشره څخه ابوعبيده بن جراح رضي الله عنه هم وفات شو.

مرويات: د مروياتو شمېر يې ۲۷ ته رسيږي، د دغو حديثونه څخه يې دوه/ ۲ حديثونه په مسلم شريف کې دي

د نبي کريم ﷺ سخاوت

۲۲- وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ بْنِ مَالِكِ بْنِ سِنَانٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ترجمه: د ابو سعيد خدري ﷺ نه روايت دی چې هغه چې سعيد بن مالک بن سنان ﷺ دی، فرمايي چې: "أَنَّ نَاسًا مِنَ الْأَنْصَارِ سَأَلُوا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَعْطَاهُمْ" د انصارو يو تولي د رسول الله ﷺ نه سوال وکړو هغوی ته ورکړل. "ثُمَّ سَأَلُوهُ فَأَعْطَاهُمْ" بيا يې دوباره سوال وکړو، بيا يې څه ورکړل. "حَتَّى نَفِدَ مَا عِنْدَهُ" څه چې ورسره وو هغه يې ټول خلاص کړل. "فَقَالَ لَهُمْ حِينَ أَنْفَقَ كُلَّ شَيْءٍ بِيَدِهِ: "مَا يَكُنْ مِنْ خَيْرٍ فَلَنْ أَدَّخِرَهُ عَنْكُمْ" چې هر څه يې خلاص کړل نو بيا يې هغوی ته وفرمايل زما سره چې څه دي نو تاسو څخه يې نه منع کوم (يعني که نور څه وای هم به مې درکړي وو)، "وَمَنْ يَسْتَعْفِفْ يُعِفَّهُ اللهُ" څوک چې د الله تعالى نه پاکي غواړي هغه پاکي ورکوي "وَمَنْ يَسْتَغْنِ يُغْنِهِ اللهُ" او څوک چې د سوال نه ځان ساتي، الله تعالى يې بچ کوي. "وَمَنْ يَتَصَبَّرْ يُصَبِّرْهُ اللهُ" او څوک چې صبر کوي الله تعالى ورته صبر طاقت ورکوي، "وَمَا أُعْطِيَ أَحَدٌ عَطَاءً خَيْرًا وَأَوْسَعَ مِنَ الصَّبْرِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ او هيچا ته يې د صبر څخه بهتره شی نه دی ورکړی (بخاري او مسلم)

لغوي تحقيق:

نفد: نفد نفداً او نفاداً، باب سمع يسمع، معنى يې ده: ختميدل.

انفق: نفق نفقاً، دا هم د باب سمع او نصر څخه دی، معنى يې ده: خرچه کول.

يعف: عفا يعف عفواً د باب نصر څخه دی، معنى يې: معافي کوي.

يتصبر: د ضرب يضرب باب دی، معنى يې بهادري او برداشت کول دي، لکه څنګه چې خلک وايي: "من صبر ظفر" کوم کس چې صبر وکړو، هغه کامياب شو. "الصبر حيلة من لا حيلة له" صبر د هغه کس لپاره حيله ده کوم کس لپاره چې بله حيله نه وي

د نبي کريم ﷺ سخاوت:

تشريح: "سألوا رسول الله ﷺ فاعطاهم ثم سألوه فأعطاهم حتى نفد ما عنده" د نبي کريم ﷺ نه سوال وشو، نو نبي کريم ﷺ هغه کس ته څه ورکړل، بيا ترې سوال وشو، بيا نبي کريم ﷺ هغه ته څه ورکړل، تر دې پورې چې څومره مال د نبي کريم ﷺ سره وو، هغه ټول ختم شو، په دې جمله کې د رسول الله ﷺ سخاوت ته اشاره ده، نبي کريم ﷺ څومره سخي وو، څومره مال چې هم د هغه سره وو، هغه يې ټول صدقه کړو، د ځان سره يې هيڅ شی پرېنښودلو.

څوک چې بې پرواشي، الله تعالى به يې کافي شي:

"ومن يستعفف يعفه الله" څوک چې د سوال نه ځان ساتل غواړي؛ نو الله ﷻ داسې کس د سوال کولو څخه ساتي او د هغه ضرورتونه الله ﷻ پوره کوي، د خلکو نه سوال نه کول غوره اخلاق دي، په قرآن مجيد کې هم د داسې خلکو تعريف شوی دی، څوک چې د ضرورت باوجود سوال نه کوي، په قرآن کريم

کې الله ﷻ فرمايي چې "يحسبهم الجاهل أغنياء من التعفف تعرفهم بسيماهم لايسئلون الناس الحافاً" ناپوه خلك به پرې ګمان کوي په دې ضرورتمندو باندې د مالدارو خلکو په شان، ځکه چې دوی به د خلکو څخه سوالونه نه کوي، ليکن حقيقت دا دی چې ته به يې د مخ له نخښو څخه وپېژنې چې دوی د خلکو څخه په زوره سوال نه غواړي.

"ومن يستغن يغنه اللـــه" کوم بنده چې استغناء حاصلول غواړي او د سوال نه ځان بچ ساتي، داسې کس ته الله ﷻ استغناء نصيب کوي او د خلکو څخه يې د سوال کولو نه هم ساتي، د هغه ضرورتونه به هم پوره کړي، د دوی لاسونه اګر چې خالي وي ليکن د دوی بروسه صرف په الله ﷻ باندې وي، په يو بل حديث کې هم راغلي دي چې "فان الغنى غنى النفس" غوره غنى، مالداري د نفس مالداري ده، يعني که نفس غني وي او پردو خلکو ته لاس نه نيسي، نو دا د انسان لپاره ډېره غوره ده، اګر چې د هغه سره هيڅ قسم مال او دولت نه وي، دا خبره ښېنو خلکو داسې بيان کړې ده. "الغني هو الفقير إلى الله" غني سړی هغه دی چې الله ﷻ ته فقير او محتاجه وي، ددې خبرې ترغيب نبي کريم ﷺ په خپلو دعاګانو کې په دې شان سره کړې دی: "رب قنعني بما رزقتني وبارك لي فيما أعطيتني" "اې الله! کوم رزق چې تاسو ماته راکوی په هغې کې راته قناعت نصيب کړې او کوم رزق چې ماته راکوې په هغې کې راته برکت واچوې، د صبر څخه زيات وسيع (پراخه) شی چاته نه دی ورکړل شوی، کوم کس چې صبر کوي الله ﷻ داسې کس ته د خپلو خزانو څخه رزق ورکوي، په دې وجه يو حديث کې دي - کوم کس چې تر درې ورځو پورې صبر وکړي او خپله فقيري چاته بيان نه کړي، الله ﷻ په داسې کس باندې تر يو کال پورې د حلال رزق دروازه خلاصه کړي.

د مؤمن بنده عجيبه حالت

۲۷- وَعَنْ أَبِي يَحْيَى صُهَيْبِ بْنِ سِنَانٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ترجمه: د ابو يحيى څخه چې نوم يې صهيب بن سنان ﷺ دی روايت دی چې نبي کريم ﷺ فرمايلي: «عَجَبًا لِأَمْرِ الْمُؤْمِنِ، إِنَّ أَمْرَهُ كُلَّهُ خَيْرٌ» د مؤمن عجيبه حالت دی چې په هر کار کې ورته خير دی، "وَلَيْسَ ذَلِكَ لِأَحَدٍ إِلَّا لِلْمُؤْمِنِ" او دا خير د مؤمن څخه بغير بل چا ته نشته، "إِنْ أَصَابَتْهُ سَرَّاءُ شَكَرَ، فَكَانَ خَيْرًا لَهُ" که راحت پرې راشي شکر وباسي، نو دا يې فايده ده، (د شکر اجر به ورته حاصل شي) "وَإِنْ أَصَابَتْهُ ضَرَّاءُ، صَبَرَ فَكَانَ خَيْرًا لَهُ" رواه مسلم او که تکليف پرې راشي، نو صبر به وکړي، دا يې هم فايده ده. (د صبر اجر به ورته حاصل شي) مسلم

لغوي تحقيق:

عجباً: عجب عجبا، باب سمع يسمع، معنى يې ده: تعجب کول، يو شی خوښول.

اصابته: صاب صيباً، باب ضرب يضرب، غشی په نخښه لګېدل، صحيح نخښه ويشتل او رسېدل.

شکر: شکر شکراً او شکوراً، نصر ينصر، د چا په نيکی او احسان باندې تعريف کول يا شکريه ادا کول.

په غم او خوشحالۍ کې د انسان امتحان مقصود دی:

تشريح: د بنده امتحان په دوه حالاتو کې وي: يو دا چې کله يوه خوشحالي ورته نصيب شي نو د هغه څخه الله ﷻ هېر شي، دويم د غم وخت دی، په دې وجه دغه دوه شيان په حديث کې خصوصي ذکر شوي دي.

"إن أصابته سراء شکر فکان خيراً له" که چېرته کومه د خوشحالۍ خبره ورته ورسيږي او هغه پرې شکر ادا کړي؛ نو دا هم دده لپاره خير دی، دا ځکه چې هغه ته کوم نعمت حاصل دی هغه الله ﷻ ورکړی دی نو ددې پر ځای چې هغه نعمت دده څخه هېر شي د الله ﷻ شکر دې ادا کړي، الله ﷻ به ورته نور اضافه هم وکړي، "لئن شکرتم لأزيدنکم" که تاسو شکر ادا کړو، نو زه به درته نور هم زياتي کړم.

"وإن أصابته ضراء صبر فکان خيراً له" که چېرته کوم تکليف ورته ورسيږي او په دې تکليف باندې صبر وکړي؛ نو دا صبر هم دده په حق کې غوره دی، اوس که يو مومن بنده ته کوم تکليف ورسيږي؛ نو د تکليف په ځای دې الله ﷻ ته متوجه شي او هغه پوره باور لري چې دا مصيبت د الله ﷻ له لوري په ما باندې راغلی دی، هغه ذات يې رانه لرې کولی هم شي، په دې وجه الله ﷻ د هغه درجې اوچتوي، لکه څنګه چې الله ﷻ خپلو خاصو بندګانو ته حکم کړی دی، "فاصبر کما صبر أولوا العزم من الرسل" بس تاسو هم هغه دول صبر وکړئ لکه څنګه چې "أولوا العزم" پېغمبرانو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ به صبر کولو.

د راوي صهيب بن سنان رضي الله عنه مختصر حالات:

اصل نوم يې صهيب رضي الله عنه، کنيت يې ابويحيی، د پلار نوم يې سنان دی، د مور نوم يې سلمی بنت قعيد وه، اصلي وطن يې په موصل کې د دجله او فرات سره نژدې يا د الجزائر سره نژدې واقع دی، دده پلار او تره د کسری له طرفه د (ابله) نومې ځای عاملان وو، کله چې روميانو په په ابله باندې حمله وکړه نو صهيب رضي الله عنه رومي يې هم بندي کړو، ددې خبرې علم چاته نه وو. (الإصابة لابن حجر رَحِمَهُ الله، د صهيب بن سنان تذکره: درېيم ټوک)

د بني کلب قبيلې خلکو په قيمت واخيستلو، د هغوی څخه بيا عبدالله بن امجدعان واخيستلو. (مستدرک حاکم ۳۹۷/۳) د اسلام په لټون کې وو چې د عمار رضي الله عنه سره يو ځای د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شو او اسلام يې قبول کړو، صهيب رضي الله عنه په مکه مکرمه کې غريب الوطن (نا اشنا وو) هيڅوک يې نه درلود، نه پلار نه مور، نه ورونه، نه خپل او نه پردي، د اسلام په خاطر ورته ډېر تکليف رسيدلی دی، کله چې يې د هجرت اراده وکړه نو مشرکانو راګېر کړو، هغه ورته وفرمايل: مال او دنيا مې واخلئ خو ما پرېږدئ! مشرکانو دا خبره ومنل، نبي کريم ﷺ چې دا خبره واورېده؛ نو ډېر زيات خوشحال شو، په دې باندې د قرآن کريم ﷺ دا آيتونه نازل شول: "ومن الناس من يشري نفسه ابتغاء مرضات الله" الخ. نوموړی د تير ويشتلو ډېر ماهر انسان وو، په ډېرو غزاګانو کې يې د رسول الله ﷺ سره شرکت کړی وو، د عمر رضي الله عنه د جنازې لمونځ هم د وصيت له وجې صهيب رضي الله عنه ادا کړو، عمر رضي الله عنه دا وصيت هم کړی وو چې تر څو پورې زما نه وروسته اهل شوری د خليفه اعلان ونه کړي، تر هغه پورې به صهيب رضي الله عنه خليفه وي، د همدې وجې

هغه تر درې ورځو پورې د امامت خدمات ترسره کړل، د رواياتو شمېر يې ۳۰ ته رسيږي، درې حديثونه يې امام مسلم رحمه الله په خپل صحيح کې نقل کړي دي او په بخاري رحمه الله کې ترې کوم حديث نه دی نقل شوی، د ۷۲ کالو په عمر کې په مدينه منوره کې وفات شو او په جنت البقيع کې دفن کړی شو.

مصيبت بايد په صبر وزغمل شي

۲۸ - وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: **ترجمه:** د انس رضي الله عنه نه روايت دی: "لَمَّا ثَقُلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَعَلَ يَتَغَشَّاهُ الْكَرْبُ" کله چې حضور ﷺ باندې مرض سخت شو، نو د تکليف له وجې به وربانديې بې هوشي راتله، "فَقَالَتْ فَاطِمَةُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا: وَاكَرْبَ أَبَتَاهُ فَقَالَ لَهَا" نو فاطمې رضي الله عنها فرياد وکړو، های د بابا تکليفه! «لَيْسَ عَلَى أَبِيكِ كَرْبٌ بَعْدَ الْيَوْمِ» حضور ﷺ ورته وفرمايل: د نن څخه وروسته به دې د بابا تکليف نه وي، "فَلَمَّا مَاتَ قَالَتْ: يَا أَبَتَاهُ أَجَابَ رَبًّا دَعَاهُ" بيا چې نبي کريم ﷺ وفات شو، نو فاطمې رضي الله عنها بيا فرياد وکړو: های بابا چې خپل رب وبللې او ته ورغلې، "يَا أَبَتَاهُ، مَنْ جَنَّةُ الْفِرْدَوْسِ مَأْوَاهُ" "های بابا! ته جنت الفردوس ته لاړې!"، "يَا أَبَتَاهُ إِلَى جِبْرِيلَ نَنْعَاهُ" های جبرئيل عليه السلام خبر کړئ (چې دوست دې لاړو) "فَلَمَّا دُفِنَ قَالَتْ فَاطِمَةُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا" بيا چې کله دفن شو نو فاطمې رضي الله عنها خلکو ته ووېل: "أَطَابَتْ أَنْفُسُكُمْ أَنْ تَحْثُوا عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ التُّرَابَ؟" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ آيا ستاسو زړه دا منل چې په حضور ﷺ مو خاورې واړولې؟ (بخاري)

لغوي تحقيق:

ثقل: ثقل ثقلاً، باب کرم يکرم، معنی يې ده: سخت ناروغه کېدل.

يتغشاه: "غشي عليه غشياً وغشياً" ددې معنی ده: بې هوشه کېدل

الکرب: ددې معنی ده غم او مشقت کې پرېوتل.

ننعاه: نعيء نعياً ددې معنی ده: د مرګ خبر او اعلان کول.

تحثوا: حث حثا، باب نصر ينصر، ددې معنی ده: څوک په کار باندې تيزول.

د نبي کريم ﷺ په مرض باندې د فاطمې رضي الله عنها غم:

تشريح: واکرب ابتاه! (اخ! زما د پلار بې آرامي! فاطمې رضي الله عنها دا جمله د بشريت د غوښتنې مطابق ويلې ده، ددېنه معلومه شوه چې د مرګ په وخت کوم تکليف او بې آرامي وي د هغې اظهار کول کول جائز دي، ليکن په دې کې تجاوز کول ناجائز دي، "اطابت انفسکم ان تحثوا علی رسول الله ﷺ التراب" ستاسو زړونو ته دا خبره څنګه خوښه لګېده چې تاسو په رسول الله ﷺ باندې خاورې واړوی؟ دا جمله د زيات محبت او د مينې له امله د خولې څخه راوتلې ده، ليکن د نبي کريم ﷺ په دفن کېدو باندې د فاطمې رضي الله عنها هيڅ قسم ته څه اشکال نه وو، ځکه چې دا د شريعت خاص حکم دی چې ددېنه هيڅوک مستثنی نه دي، ځينې شارحينو دلته د فاطمې رضي الله عنها يو څو شعرونه هم نقل کړي دي:

ماذا علی من شم تربة احمد الا يشم مدی الزمان غواليا

صبت علی مصائب لو أنها صبت علی الأيام صرن لياليا

خوشحالي او غم دواړه د الله ﷻ له لوري دي

۲۹ - وَعَنْ أَبِي زَيْدٍ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدِ بْنِ حَارِثَةَ مَوْلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَحِبِّهِ وَابْنِ حِبِّهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ **ترجمه:** اسامه بن زيد بن حارثه (د محمد ﷺ آزاد کړی غلام) د هغه محبوب او د محبوب زوی نه روايت دی "أَرْسَلَتْ بِنْتُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ ابْنِي قَدِ احْتُضِرَ فَاشْهَدْنَا" چې نبي کريم ﷺ ته خپلې لور خبر راواستولو چې زما د زوی زنکدن دی، تاسو راشئ! "فَأَرْسَلَ يُقْرِئُ السَّلَامَ وَيَقُولُ" رسول الله ﷺ پېغام ولېږلو چې هغه د رباندې سلام وايي او وايي "إِنَّ لِلهِ مَا أَخَذَ" چې د الله تعالی دي څه چې يې واخيست، "وَلَهُ مَا أَعْطَى" او څه چې يې درکړي وو هغه هم د هغه له لوري دي، "وَكُلُّ شَيْءٍ عِنْدَهُ بِأَجَلٍ مُسَمًّى" او هر شی د الله ﷻ له لوري په نيټه دي، "فَلْتَصْبِرْ وَلْتَحْتَسِبْ" نو صبر وکړه او د ثواب طمع لره "فَأَرْسَلَتْ إِلَيْهِ تُقْسِمُ عَلَيْهِ لَيَأْتِيَنَّهَا" هغې بيا خبر راولېږلو او قسم يې ورته واچولو چې ضرور راشئ، "فَقَامَ وَمَعَهُ سَعْدُ بْنُ عُبَادَةَ وَمُعَاذُ بْنُ جَبَلٍ وَأُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ، وَزَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ وَرِجَالٌ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ" نو نبي عليه السلام پاڅېدو ورسره سعد بن عباده رضي الله عنه، معاذ بن جبل رضي الله عنه أبي بن کعب رضي الله عنه، زيد بن ثابت رضي الله عنه او نور کسان هم وو، "فَرُفِعَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّبِيُّ فَأَقْعَدَهُ فِي حِجْرِهِ" نو هغه ماشوم نبي عليه السلام ته را پورته کړی شو، نبي عليه السلام په خپل خوا کې کېنولو، "وَنَفْسُهُ تَقَعْقَعُ" د هغه ساه ګډوډه وه، "فَفَاضَتْ عَيْنَاهُ" د نبي عليه السلام په سترګو کې اوښکې راغلې، "فَقَالَ سَعْدٌ: يَا رَسُولَ اللهِ مَا هَذَا؟" نو سعد رضي الله عنه وويل: اې د الله تعالی رسوله! دا څه دي؟ "فَقَالَ: "هَذِهِ رَحْمَةٌ جَعَلَهَا اللهُ تَعَالَى فِي قُلُوبِ عِبَادِهِ" نبي عليه السلام وفرمايل: دا د زړه نرمي ده چې الله تعالی د خپلو بندګانو په زړونو کې ايښې ده. "وَفِي رِوَايَةٍ: "فِي قُلُوبِ مَنْ شَاءَ مِنْ عِبَادِهِ" او په يو روايت کې دا الفاظ دي: د خپلو بندګانو په زړونو کې يې چاته چې خوښه شي دا د رحمت ماده ايښې ده، "وَإِنَّمَا يَرْحَمُ اللهُ مِنْ عِبَادِهِ الرُّحَمَاءَ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَمَعْنَى "تَقَعْقَعُ": تَتَحَرَّكُ وَتَضْطَرِبُ" بې شکه چې الله تعالی په خپلو بندګانو کې په رحمدلو رحم کوي، تَقَعْقَعُ معنی ده: بې آرامه او ګډوډ کېدل

لغوي تحقيق:

أرسلت: أرسل إرسالاً، معنی يې ده: لېږل

احتضر: حضر حضوراً، باب سمع يسمع او نصر ينصر، معنی يې ده: موجود بدل، دلته ترې مراد د مرګ وخت راتلل دي، چاته چې قريب الموت هم ويل کيږي

يقرىء: قرء، يقرء و قراءة، باب فتح يفتح، د کتاب مطالعه کول.

بأجل: أجل د دې معنی ده: وخت، نيټه، موده

فرفع: باب فتح يفتح، معنی يې ده: اوچتول.

مسمی: المسمی اسم مفعول، چاته نوم کېښودل.

تقعقع: قعقع قعقعة، معنی يې ده: د اسلحې آواز، متحرک کېدل، د متحرک کېدو په وخت آوازونه ويستل

ففاضت: فاض فيضا وفيضاناً ددې معنى ده په كثرت اوبه توېدل، فاض هر بهېدونكي شي ته ويل كيږي، دلته ترې مراد اوښكې دي.

د مرګ په وخت نېكو خلكو حاضرېدو سره رحمت نازلېږي:

تشريح: "بنت النبي ﷺ" دلته د بنت نه مراد د نبي كريم ﷺ خوږه لور زينب ؓ ده او د زوى نه يې علي بن ابي العاص مراد دى، "إن ابني قد احتضر فاشهدنا فارسل يقرىء السلام ويقول ان لله ما أخذ" زما د زوى آخري وخت دى، تاسو تشريف راوړئ، نبي كريم ﷺ پيغام ورولېږلو او ورته يې وفرمايل: سلام مې ورته وايې او ورته ووايه چې نبي كريم ﷺ فرمايي: كوم څه چې الله ﷻ واخلي هغه ټول د الله ﷻ دي.

ددې جملې نه معلومه شوه چې د مرګ په وخت د ټولو خپلوانو حاضري ضروري نه ده، هو! دا ضروري ده چې د مرګ په وخت نيك خلك حاضر شي، په دې سره زينب ؓ د نبي كريم ﷺ د حاضري ارمان وكړو، ددې لپاره چې د نېكو خلكو په حاضري سره د مرګ سختي آسانه شي او ددې نېكانو په ذريعه الله ﷻ ددې قريب الموت سړي روح په آسانى سره وباسي او رحم ورباندې وكړي او بخښنه ورته وكړي.

اعتمادي كس ته قسم وركول جائز دي:

تقسم عليه: زينب ؓ قسم وركړو چې نبي كريم ﷺ به خامخا حاضرېږي، ددېنه معلومه شوه چې په كوم كس باندې دې اعتماد وي هغه ته قسم وركولى شې او قسم وركړل شوي سړي ته پكار دي چې د هغه سړي قسم پوره كړي، ځكه هم دغه به د دوى ترمينځ د مينې او محبت ذريعه جوړه شي، په يو حديث كې دي چې نبي كريم ﷺ په دويم ځل پيغام اوېدو سره تشريف راوړو، په ځينو روايتونو كې راغلي دي چې نبي كريم ﷺ په دريم ځل پيغام اورېدو وروسته هلته تشريف يوړو.

په مړي ژړا رواه ده:

"ففاضت عيناه" د نبي كريم ﷺ له سترګو مباركو څخه اوښكې رواني شوې، ددې جملې نه دا خبره ثابته شوه چې په مړي باندې ژړا كول دا يو فطري عمل دى، شريعت هم ددېنه منع نه ده فرمايلې، هو! په زور زور ژړل، چيغې او سورې وهل، ګريوانونه شكول، وېښتان وېستل، سينه وهل او وير كول دا ټول جاهلانه رسمونه دي كوم چې په شريعت كې منع دي، دا كارونه ددې سره چې ناجائز دي د الله ﷻ د ناراضى سبب ګرځي.

د راوي اسامه بن زيد بن حارثه ؓ مختصر حالات:

اصل نوم يې اسامه ؓ، كنيت يې ابو محمد، لقب يې حب رسول الله ﷺ، د پلار نوم يې زيد دى، د مور نوم يې بركه وه، د بعثت څخه اوه كاله وړاندې په مكه كې پيدا شو، پلار يې د نبي كريم ﷺ متبنى (په زويتوب) نيولى ؤ، د مكې په فتحه كې اسامه هم شريك شوى و، د نبي كريم ﷺ سره په سوارلى سپور وو، بلال، عثمان بن طلحه ؓ هم د اسامه سره بيت الله شريف ته داخل شو، نبي كريم

ﷺ ډيرې زياتې سريې د اسامه بن زيد ﷺ په قومندانۍ کې رواني کړي دي، په دې ټولو کې مهمه سريه هغه ده چې مشران صحابه کرام ﷺ هم پکې شامل وو، دا د نبي کريم ﷺ د ژوندې اخري سريه وه.

د نبي کريم ﷺ څخه وروسته عمر فاروق ﷺ هم ورسره ډيره مينه درلوده، د خپل زوی عبدالله ﷺ وظيفه/ تنخوا يې دوه نيم زره او د اسامه ﷺ وظيفه يې درې زره مقرر کړې وه، فرمايل به يې چې نبي کريم ﷺ به دده سره ډيره مينه درلوده، د علي ﷺ او د معاويه ﷺ په خپل منځي جګړه کې به خپل کور کې ناست و، د يوه سره يې هم ملګرتيا نه ده کړې، علماء کرام فرمايي چې د اسامه ﷺ سره د نبي کريم ﷺ مينه چې کومه وه هغه بلا استثناء کوم بل صحابي ته نه وه حاصله، يو ځل نبي کريم ﷺ فرمايلي وو چې اسامه ﷺ ماته تر ټولو زيات خوښ دی، يو ځل اسامه ﷺ د خپل اس څخه ولوېدو، په تندي يې څه زخم جوړ شو، نبي کريم ﷺ عايشې ﷺ ته وفرمايل: دده تندی صفا کړه، هغې لو مړی لږ شان کرکه وکړه، بيا نبي کريم ﷺ خپله پورته شو، د هغه تندی يې له وينې څخه پاک کړو او خپلې لاړې مبارکې يې ورپورې ومږلې.

وفات: د امير معاويه ﷺ د خلافت په دوره کې اخري وخت کې په ۵۴ هجري کې په مدينه منوره کې وفات شو. (استيعاب ۱-۲۹) دغه وخت يې عمر شپېته کاله وو.

مرويات: د مرويات شمېر يې ۱۲۸ ته رسيږي، په پنځلس/ ۱۵ حديثونو کې يې امام بخاري رحمه الله او مسلم رحمهما الله متفق عليه دي، ددېنه علاوه بخاري او مسلم په دوه دوه حديثونو کې مختلف دي.

ماشوم خپلې مورته د صبر تلقين او د اصحاب الاخدود کيسه:

۳۰- وَعَنْ صُهَيْبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "كَانَ مَلِكٌ فِيْمَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ وَكَانَ لَهُ سَاحِرٌ" ترجمه: د صهيب ﷺ نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: ستاسو نه په مخکې قومونو کې يو بادشاه وو، د هغه سره يو جادوګر وو، "فَلَمَّا كَبِرَ قَالَ لِلْمَلِكِ: إِنِّيْ قَدْ كَبِرْتُ فَابْعَثْ إِلَيَّ غُلَامًا أُعَلِّمْهُ السِّحْرَ" کله چې هغه جادوګر بوډا شو نو بادشاه ته يې ووېل: زه بوډا شوم ما ته يو هلک راولېږه چې زه ورته د سحر علم وښيم، "فَبَعَثَ إِلَيْهِ غُلَامًا يُعَلِّمُهُ وَكَانَ فِيْ طَرِيْقِهِ إِذَا سَلَكَ رَاهِبٌ فَقَعَدَ إِلَيْهِ وَسَمِعَ كَلَامَهُ فَأَعْجَبَهُ" بادشاه يو زلمی هلک ور ولېږلو، د هغه په لار کې يو راهب وو دا زلمی د هغه سره کېنستلو، د هغه خبرې به يې اورېدلې او خوښې به يې شوې، "وَكَانَ إِذَا أَتَى السَّاحِرَ مَرَّ بِالرَّاهِبِ وَقَعَدَ إِلَيْهِ، فَإِذَا أَتَى السَّاحِرَ ضَرَبَهُ، فَشَكَا ذٰلِكَ إِلَى الرَّاهِبِ" کله چې به ساحر (جادوګر) ته تلونو د هغه (راهب) سره به کېنستلو چې ساحر ته به ورغلو هغه به وهلو (چې ولې دې ناوخته کړو) هغه خپل حال راهب ته وويلو: "فَقَالَ: إِذَا خَشِيْتَ السَّاحِرَ فَقُلْ: حَبَسَنِيْ أَهْلِيْ وَإِذَا خَشِيْتَ أَهْلَكَ فَقُلْ: حَبَسَنِي السَّاحِرُ" هغه ورته ووېل: کله چې دې ساحر تنګوي نو ورته وايه چې کور کې ايسار شوی وم او کله چې دې کور والا تنګوي نو ورته وايه چې ساحر ايسار کړی وم، "فَبَيْنَمَا هُوَ عَلٰى ذٰلِكَ إِذْ أَتٰى عَلٰى دَابَّةٍ عَظِيْمَةٍ قَدْ حَبَسَتِ النَّاسَ" دا شان وخت تېرېدو يوه ورځ کلي ته يو ځنګلي ځناور راننوتلو د خلکو لاره يې بنده کړه، "فَقَالَ: اَلْيَوْمَ أَعْلَمُ السَّاحِرُ أَفْضَلُ أَمِ الرَّاهِبُ أَفْضَلُ" ددې هلک لاره هم بنده شوې وه، ده په زړه کې ووېل: نن به معلومه شي چې راهب افضل دی که ساحر

افضل دی؟ "فَأَخَذَ حَجَرًا، فَقَالَ: اللّٰهُمَّ إِنْ كَانَ أَمْرُ الرَّاهِبِ أَحَبَّ إِلَيْكَ مِنْ أَمْرِ السَّاحِرِ فَاقْتُلْ هٰذِهِ الدَّابَّةَ، حَتّٰى يَمْضِيَ النَّاسُ، فَرَمَاهَا فَقَتَلَهَا، وَمَضَى النَّاسُ" يو كانړى يې راواخيست، له ځان سره يې ووېل: اې الله تعالى! كه د راهب كار ستا خوښ وي نو دا ښاماره په دې كاڼي مړ كړه؛ ښاماره يې وويشتلو او مړ شو، خلكو ته لاره آزاده شوه، "فَأَتَى الرَّاهِبَ فَأَخْبَرَهُ فَقَالَ لَهُ الرَّاهِبُ: أَيْ بُنَيَّ أَنْتَ الْيَوْمَ أَفْضَلُ مِنِّي، قَدْ بَلَغَ مِنْ أَمْرِكَ مَا أَرٰى وَإِنَّكَ سَتُبْتَلٰى" بيا راهب ته راغلو، حال يې ورته ووېل. هغه ورته ووېل اې بچيه! ته خو زمانه اوچت مقام ته ورسېدې (او داسې ځاى ته چې څوك ورسېږي ازموېښت پرې راځي) د بر زر به په تا يوه سخته راځي، "فَإِنِ ابْتُلِيتَ فَلَا تَدُلَّ عَلَيَّ، وَكَانَ الْغُلَامُ يُبْرِئُ الْأَكْمَهَ وَالْأَبْرَصَ، وَيُدَاوِي النَّاسَ مِنْ سَائِرِ الْأَدْوَاءِ" كه سخته درباندې راغله نو زما حال چاته مه وايه او دا هلك دې درجې ته ورسېدو چې ړوند او برګي ناروغ ته يې دعا وكړه، نو هغه به ښه شو، ددې وروسته به يې د ټولو ناروغيو علاج كولو، "فَسَمِعَ جَلِيسٌ لِلْمَلِكِ كَانَ قَدْ عَمِيَ، فَأَتَاهُ بِهَدَايَا كَثِيرَةٍ فَقَالَ: مَا هَاهُنَا لَكَ أَجْمَعُ، إِنْ أَنْتَ شَفَيْتَنِي، فَقَالَ: إِنِّي لَا أَشْفِي أَحَدًا إِنَّمَا يَشْفِي اللّٰهُ" د بادشاه يو وزير ددې نه خبر شو، هغه ړوند شوى وو، ده ته يې ډېرې تحفې راوړې، ورته يې ووېل: كه زه دې جوړ كړم نو دا ټول شيان ستا دي، هغه ورته ووېل: زه څوك نه شم جوړولى، جوړونكى الله تعالى دى، "فَإِنْ أَنْتَ آمَنْتَ بِاللّٰهِ دَعَوْتُ اللّٰهَ فَشَفَاكَ، فَآمَنَ بِاللّٰهِ فَشَفَاهُ اللّٰهُ، فَأَتَى الْمَلِكَ فَجَلَسَ إِلَيْهِ كَمَا كَانَ يَجْلِسُ" كه تا په الله تعالى باندې ايمان راوړو، زه به درته دعا وكړم، الله تعالى به دې جوړ كړي، هغه ايمان راوړو او الله تعالى جوړ كړو، بيا بادشاه ته راغلو او ورسره كېښستلو، لكه څنګه چې به پخوا كېښستلو، "فَقَالَ لَهُ الْمَلِكُ: مَنْ رَدَّ عَلَيْكَ بَصَرَكَ؟ قَالَ: رَبِّي، قَالَ: وَلَكَ رَبٌّ غَيْرِي؟ قَالَ: رَبِّي وَرَبُّكَ اللّٰهُ" ورته يې ووېل: چا درته نظر واپس كړو؟ وزير ورته ووېل: خپل رب! بادشاه ورته ووېل: آيا زما نه سېوا ستا بل رب هم شته؟ وزير ووېل: زما او ستا دواړو رب الله تعالى دى، "فَأَخَذَهُ فَلَمْ يَزَلْ يُعَذِّبُهُ حَتّٰى دَلَّ عَلَى الْغُلَامِ، فَجِيءَ بِالْغُلَامِ" نو بادشاه قيد كړو او تر هغه پورې يې تكليف وركولو چې د هلك حال يې ووېلو، هلك راوستل شو، "فَقَالَ لَهُ الْمَلِكُ: أَيْ بُنَيَّ قَدْ بَلَغَ مِنْ سِحْرِكَ مَا تُبْرِئُ الْأَكْمَهَ وَالْأَبْرَصَ، وَتَفْعَلُ وَتَفْعَلُ، فَقَالَ: إِنِّي لَا أَشْفِي أَحَدًا، إِنَّمَا يَشْفِي اللّٰهُ" بادشاه ووېل: اې بچيه! تا په جادو كې دومره ترقي وكړه چې ړوند جوړوې او د برګي مريضان جوړوې او دا دا كارونه كوې؟ هغه ورته ووېل: زه هيڅوك نه جوړوم، جوړونكى خو الله تعالى دى، "فَأَخَذَهُ فَلَمْ يَزَلْ يُعَذِّبُهُ [ص:۲۳۰] حَتّٰى دَلَّ عَلَى الرَّاهِبِ، فَجِيءَ بِالرَّاهِبِ، فَقِيلَ لَهُ: ارْجِعْ عَنْ دِينِكَ، فَأَبٰى" بادشاه هغه هم بندي كړو او تر هغه يې تكليفونه وركول چې د راهب حال يې ووېلو، بادشاه راهب راوغوښتلو، ورته يې ووېل: خپل دين ته واپس شه! هغه انكار وكړو، "فَدَعَا بِالْمِنْشَارِ، فَوَضَعَ الْمِنْشَارَ فِي مَفْرِقِ رَأْسِهِ، فَشَقَّهُ حَتّٰى وَقَعَ شِقَّاهُ" نو يوه اره يې راوغوښته او راهب ته يې په سر كېښوده، هغه يې اره كولو، تر دې پورې چې راهب دوه ټوټې شو، "ثُمَّ جِيءَ بِجَلِيسِ الْمَلِكِ فَقِيلَ لَهُ" بيا د بادشاه جانشين راوستل شو، نو هغه ته ووېل شو: "ارْجِعْ عَنْ دِينِكَ" خپل زوړ دين ته راواپس شه! "فَأَبٰى فَوَضَعَ الْمِنْشَارَ فِي مَفْرِقِ رَأْسِهِ" هغه انكار وكړو، نو آره راوړل شوه او هغه ته يې د سر دپاسه كېښوده، "فَشَقَّهُ بِهِ حَتّٰى وَقَعَ شِقَّاهُ" نو هغه يې پرې غوڅ كړ، تر دې چې دوه ټوټې شو، "ثُمَّ جِيءَ بِالْغُلَامِ فَقِيلَ لَهُ ارْجِعْ عَنْ دِينِكَ، فَأَبٰى" بيا يې هغه هلك راوغوښتو، ورته يې ووېل: خپل دين ته واپس شه! هغه انكار وكړو،

"فَدَفَعَهُ إِلَى نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِهِ، فَقَالَ: اذْهَبُوا بِهِ إِلَى جَبَلِ كَذَا وَكَذَا، فَاصْعَدُوا بِهِ الْجَبَلَ، فَإِذَا بَلَغْتُمْ ذُرْوَتَهُ، فَإِنْ رَجَعَ عَنْ دِينِهِ، وَإِلَّا فَاطْرَحُوهُ" نو خپلو کسانو ته يې وسپارلو چې دې فلاني غره ته بوځئ! په غر يې وخېژوئ چې څوکې ته يې ورسوئ! نو پوښتنه ترې وکړئ! که د خپل دين څخه اوړي نو آزاد يې کړئ، که انکار کوي نو له غره څخه يې لاندې وغورځوئ! "فَذَهَبُوا بِهِ فَصَعِدُوا بِهِ الْجَبَلَ، فَقَالَ: اللَّهُمَّ اكْفِنِيهِمْ بِمَا شِئْتَ" هغوی بوتلو غره ته وختلو، هغه هلك الله تعالى ته سوال وکړو چې اې الله ﷻ! د دوی څخه مې خلاص کړې، په څه چې ستا خوښه وي، "فَرَجَفَ بِهِمِ الْجَبَلُ فَسَقَطُوا، وَجَاءَ يَمْشِي إِلَى الْمَلِكِ، فَقَالَ لَهُ الْمَلِكُ: مَا فَعَلَ أَصْحَابُكَ؟" نو په غر باندې زلزله راغله او هغه د بادشاه سړي ټول د غر څخه لاندې ورغړېدل او دا هلك بادشاه ته راغلو، هغه ورته ووېل: چې ستا ملګري څه شول؟ "قَالَ: كَفَانِيهِمُ اللَّهُ، فَدَفَعَهُ إِلَى نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِهِ، فَقَالَ: اذْهَبُوا بِهِ فَاحْمِلُوهُ فِي قُرْقُورٍ، فَتَوَسَّطُوا بِهِ الْبَحْرَ، فَإِنْ رَجَعَ عَنْ دِينِهِ وَإِلَّا فَاقْذِفُوهُ، فَذَهَبُوا بِهِ" هغه ورته ووېل: د هغوی نه خپل رب خلاص کړم، بيا يې نورو ته حواله کړو چې هغه په کشتۍ کې سپور کړئ او چې کشتۍ د سيند مينځ ته ورسيږي، د هغه څخه پوښتنه وکړئ! که د خپل دين څخه نه اوړي؛ نو سيند ته يې وغورځوئ! هغوی بوتلو، "فَقَالَ: اللَّهُمَّ اكْفِنِيهِمْ بِمَا شِئْتَ، فَانْكَفَأَتْ بِهِمِ السَّفِينَةُ فَغَرِقُوا، وَجَاءَ يَمْشِي إِلَى الْمَلِكِ، فَقَالَ لَهُ الْمَلِكُ: مَا فَعَلَ أَصْحَابُكَ؟" د سيند مينځ کې هلك الله تعالى ته سوال وکړو چې اې الله ﷻ! د دوی نه مې خلاص کړې، په څه چې ستا خوښه وي، نو په هغوی کشتۍ واوړېده، ټول ډوب شول او دا هلك بچ پاتې شو، بيا بادشاه ته راغلو، هغه ورته ووېل: ستا ملګري څه شول؟ "قَالَ: كَفَانِيهِمُ اللَّهُ، فَقَالَ لِلْمَلِكِ: إِنَّكَ لَسْتَ بِقَاتِلِي حَتَّى تَفْعَلَ مَا آمُرُكَ بِهِ، قَالَ: وَمَا هُوَ؟" ده ورته ووېل: د هغوی څخه الله تعالى خلاص کړم، بيا يې بادشاه ته ووېل: ته ما نه شې وژلی، بغير له هغې طريقې چې زه يې درته ښيم، بادشاه ورته ووېل: هغه کومه طريقه ده؟ "قَالَ: تَجْمَعُ النَّاسَ فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ، وَتَصْلُبُنِي عَلَى جِذْعٍ، ثُمَّ خُذْ سَهْمًا مِنْ كِنَانَتِي، ثُمَّ ضَعِ السَّهْمَ فِي كَبِدِ الْقَوْسِ" ده ورته ووېل: ټول خلك په يو آوار ميدان کې راجمع کړه ما د خورما په تنه زوړند کړه، زما د ترکش څخه يو غشی را واخله او په ليندۍ کې يې کېږده! "ثُمَّ قُلْ: بِاسْمِ اللَّهِ رَبِّ الْغُلَامِ، ثُمَّ ارْمِنِي، فَإِنَّكَ إِذَا فَعَلْتَ ذَلِكَ قَتَلْتَنِي، فَجَمَعَ النَّاسَ فِي صَعِيدٍ وَاحِدٍ، وَصَلَبَهُ عَلَى جِذْعٍ، ثُمَّ أَخَذَ سَهْمًا مِنْ كِنَانَتِهِ، ثُمَّ وَضَعَ السَّهْمَ فِي كَبِدِ الْقَوْسِ، ثُمَّ قَالَ: بِاسْمِ اللَّهِ، رَبِّ الْغُلَامِ" او وايه: "بِاسْمِ اللَّهِ رَبِّ الْغُلَامِ" ما ورباندې ووله! کله چې داسې وکړې نو ما به قتل کړې شې، بادشاه خلك راجمع کړل او هلك يې په دار وخېژولو، د هغه د ترکش څخه يې غشی راواخيستلو، غشی يې په ليندۍ کې کېښودلو او وې وېل: "بسم الله رب الغلام"، "ثُمَّ رَمَاهُ فَوَقَعَ السَّهْمُ فِي صُدْغِهِ، فَوَضَعَ يَدَهُ فِي صُدْغِهِ فِي مَوْضِعِ السَّهْمِ فَمَاتَ، فَقَالَ النَّاسُ: آمَنَّا بِرَبِّ الْغُلَامِ، آمَنَّا بِرَبِّ الْغُلَامِ، آمَنَّا بِرَبِّ الْغُلَامِ" هلك يې وويشتلو، هغه د غوږ سره نږدې ولګېدو، په زخم يې لاس کېښود او وفات شو، ټولو خلکو ووېل: "آمنا برب الغلام" (دې هلك په رب مو ايمان راوړو) "فَأُتِيَ الْمَلِكُ فَقِيلَ لَهُ: أَرَأَيْتَ مَا كُنْتَ تَحْذَرُ؟ قَدْ وَاللَّهِ نَزَلَ بِكَ حَذَرُكَ، قَدْ آمَنَ النَّاسُ، فَأَمَرَ بِالْأُخْدُودِ فِي أَفْوَاهِ السِّكَكِ" بادشاه ته خبر ورسېد چې هغه کار وشو کوم نه چې ته وېرېدې او هلك دې وژلو، خو ټولو خلکو په الله تعالى باندې ايمان راوړو، بادشاه حکم وکړو چې د سړکونو په چوکونو کې خندقونه وکنئ! "فَخُدَّتْ وَأُضْرِمَ النِّيرَانُ، وَقَالَ: مَنْ لَمْ يَرْجِعْ عَنْ دِينِهِ فَأَقْحِمُوهُ فِيهَا" اور پکې بل کړئ! څوك چې د خپل دين څخه نه اوړي هغه پکې وغورځوئ: "أَوْ

قِيلَ لَهٗ: اقْتَحِمْ" يا يې وويل : هغه دي اور ته ټوپ کړي، "فَفَعَلُوا" تولو اور ته ځان وغورځولو، "حَتّٰى جَاءَتِ امْرَأَةٌ وَمَعَهَا صَبِيٌّ لَهَا فَتَقَاعَسَتْ أَنْ تَقَعَ فِيهَا، فَقَالَ لَهَا الْغُلَامُ: يَا أُمَّهْ اصْبِرِي فَإِنَّكِ عَلَى الْحَقِّ" رواه مسلم. ليکن يوه ښځه ورسره راغله خپل بچې ورسره ؤ، هغه لوړې وروسته شوه، زړه يې ونه کړی شو، بچي ورته آواز وکړو اې مورې! صبر کوه ته په حقه يې.

لغوي تحقيق:

ذروةُ: معنى يې ده : د غره اوچته څوکه، د ذال په زبر او پېښ دواړو سره ويل کيږي.

قُرْقُور: کشتى ده، مَعِيْد: دلته ترې مراد آزاد ميدان دی، أُخدودُ: لکه وړکې نهرا کنده، (خندق)، أُضرِمَ: اور بل کړی شو، انْكَفَأَتْ: سرچپه شوه، واوړېده، تَقَاعَسَتْ: ايساره شوه، بې زړه شوه.

ساحر:سحر سحراً، باب فتح يفتح، ددې معنى ده: دوکه ورکول، جادو کول، ددې فاعل ساحر راځي

بعث:بعث بعثاً، فتح يفتح، ددې معنى ده : يو ځاى ته کس لېږل

فشكا:شكى يشكي شكاية، باب ضرب يضرب، ددې معنى ده : شکايت کول.

يداوي:داوي مداواةً د ضرب يضرب باب دی، ددې معنى ده : د ناروغی علاج کول

فرماها:رمى رمياً ورماية، ضرب يضرب، ددې معنى ده: يو شى ويشتل، باب سمع يسمع، معنى يې ده: ورځ سخته ګرمېدل

عمى:عمى عمياً، باب سمع يسمع، ددې معنى ده : ړوند کېدل

شفيتني: شفى شفاءً شفى الله فلان من مرضه، باب ضرب يضرب، ددې معنى ده : الله ﷻ چې کوم ناروغ ته د ناروغی څخه شفاء ورکړي

بالمنشار:المنشار وايې آرې ته، ددې جمع مناشير راځي، بيا ددې معنى په آره کولو سره راځي

فاطرحوه:طرح طرحاً دباب فتح يفتح نه راځي ددې معنى ده غورزول

فرجف: رجف رجفاً، باب نصر ينصر، په زورسره حرکت ورکول،د ځمکې زلزله.

قرقور:القرقور اوږده کيشتى، جمع يې قواقير راځي، القراقرة ډيره زياته غړېدونکې ښځه.

تشريح:دا واقعه د قرآن كريۀ (اصحاب الاخدود) تفسير ده، ددې نه معلومه شوه چې قرآن کريم اجمالاً بيان کوي او بيا حديث ددې تشريح کوي، دا هم معلومه شوه چې قرآن کريم د حديث څخه بغير زده کول او ددې صحيح مفهوم په ذهن کې کېنول ممکن نه دي، ځينو مفسرينو دا ليکلي دي چې دا واقعه د رسول الله ﷺ د پيدايښ څخه اولس کاله وړاندې واقع شوې وه، د خلکو له ياده دا خبره وتلې وه يا دوی ته پوره علم نه و، څکه په قرآن کريم کې اجمالاً او په حديث کې تفصيلا ددې بيان وشو.

"كان ملك فيمن كان قبلكم" ستاسو څخه وړاندې يو پاچا وو، هغه پاچا په حميري پاچايانو کې وو، دده نوم ځينې خلک يوسف ذو نواس بن شرجيل ښودلى دی، "فبعث إليه غلاماً يعلمه" د جادو زده کولو لپاره يې يو ماشوم روان کړو، اکثره خلکو ددې ماشوم نوم عبدالله بن تامر ليکلى دی.

د راهب وضاحت:

"وكان في طريقة إذا سلك راهب" په لاره کې يو راهب اوسېدو، راهب هغه چاته ويل کېږي چې د خپل دين ساتلو او عمل کولو لپاره ښارونه پرېږدي او غرونو ته مخه کړي، په دې وجه د تاريخ په کتابونو کې دا خبره ليکل شوې ده چې په عيسايي مذهبيانو باندې داسې وخت هم راغلی وو چې اول يهوديانو سخت ظلمونه کړي وو، بيا بت پرسته مشرکانو پرې سخت ظلمونه وکړه، دوی يې بت پرستۍ ته مجبور کړل، په دې وجه د دوی ملايان د دين ساتلو لپاره د ښارونو څخه بهر لاړل او اميان خلک به يې په پټه دوی ته غرونو ته ورتلل او دوی ته به يې د انجيل صحيح تعليم ورکولو، په هغه زمانه کې هم دغه صحيح مذهب وو، په دې باندې ايمان راوړل واجب او د نجات ذريعه وه.

زه خپلې کورنۍ بند کړی یم:

"فقال إذا خشيت الساحر فقل حبسني أهلي وإذا خشيت أهلك فقل حبسني الساحر" راهب ورته وويل: د جادوګر د سزا څخه د ځان ساتلو لپاره جادوګر ته ووايه چې کورنۍ مې بند کړی وم او کله چې کورنۍ نه ويره وکړې؛ نو دوی ته داسې ووايه چې جادوګر ايسار کړی وم

سوال: راهب خو نېک سړی وو، هغه دغه ماشوم ته څنګه دروغ وښودل؟

جواب: کله کله د مصلحت په توګه دروغ ويل هم جائز دي، لکه په يو روايت کې دي چې "الحرب خدعة" جنګ خو ټوله دوکه او چل دی، دې طرفته شيخ سعدي رحمه الله هم اشاره کړې ده، فرمايي چې

دروغ مصلحت آميز بـه از راستی که فتنه انگيز

په کومو دروغو کې چې مصلحت وي د هغه رښتيا نه غوره دي چې فتنه او فساد ترې جوړيږي

ماشوم د خپل مرګ تدبير ولې ورته وښودلو؟

"فقال للملك إنك لست بقاتلي حتى تفعل ما آمرك به" دغه ماشوم پاچا ته وويل: تر هغه به تاسو ما ونه وژنئ تر څو پورې چې تاسو زما په ښودل شوي تدبير باندې عمل نه وي کړی، دلته دا سوال ذهن ته راځي چې دغه ماشوم پاچا ته د خپل مرګ تدبير ولې وښودلو او خپل ځان يې په خپل لاس د مرګ کندې ته وغورځولو؟ ځواب دا دی چې ځينې علماء کرامو رحمهم الله فرمايلي دي چې دغه ماشوم ته پوره يقين وو چې په دې تدبير سره به پاچا ما ووژني او زه به شهيد شم، خو زما د شهادت په وجه به ددې ښار ټولو خلکو ته ددې پاچا د دروغو د خدايي دعوې حقيقت ښکاره شي او هغوی ټول به دغه مشرک او کافر پاچا پرېږدي او د حقيقي رب چې الله ﷻ دی د هغه عبادت به شروع کړي، همداسې وشو، ددې ماشوم په شهادت سره په ټول ښار کې چيغې او سورې شوې چې موږ ددې ماشوم په رب باندې ايمان راوړی دی، الله ﷻ ددې ماشوم تدبير رښتونی کړو، ددې لپاره چې هسې نه خلک چېرته دا ونه وايي چې دغه ماشوم خو دروغ ويلي وو.

"فوقع السهم في صدغه فوضع يده في صدغه فمات" قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله فرمايي چې محمد بن

عبدالله بن ابي بكر الصديق رضي الله عنه بيانوي چې د عمر بن خطاب رضي الله عنه په زمانه کې يو نهر کنډل کېدو چې خلکو وکتل يو هلك په خپله سينه باندې لاس ايښودلی دی، د هغه لاس د هغه ځای نه لرې کړی شو، نو وينه ترې روانه شوه او کله چې په لاس کېښودل شو، نو بيا به واپس خپل ځای ته ورسېدو، د هغه سره يوه ګوتمه هم وه په هغې ليکل شوي وو چې: "الله ربی" عمر رضي الله عنه وفرمايل چې دده بدن او ګوتمه په خپل حالت پرېږدئ په کوم حالت باندې چې تاسو ليدلې وه.

په کنده کې څومره کسان سوځول شوي وو؟

"فأمر بالأخدود بأفواه السكك فخدت وأضرم فيها النيران" پاچا د ټولې لارې په غاړه د کندې کستلو حکم وکړو، بيا يې په دې د اور بلولو حکم وکړو، څومره کسان يې په دې کنده کې وسوځول، د يو روايت په اعتبار سره دولس زره کسان وو، بهر حال ددېنه معلومه شوه چې د اهل حق په داعيانو باندې هر وخت مشکلات راځي، ليکن دوی به په حق باندې ثابت قدمه وي، الله ﷻ به د دوی حامي او ناصر شي

په لومړي ځل صبر کول اصل صبر دی

۳۱- وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى امْرَأَةٍ تَبْكِي عِنْدَ قَبْرٍ ترجمه: د انس رضي الله عنه روايت دی چې رسول الله ﷺ يوه ورځ په لاره باندې روان و، يوه ښځه يې وليدل چې قبر ته يې ژړل، فَقَالَ: «اتَّقِي اللَّهَ وَاصْبِرِي» رسول الله ﷺ وفرمايل: الله تعالى نه ووېرېږه او صبر وکړه! "فَقَالَتْ: إِلَيْكَ عَنِّي، فَإِنَّكَ لَمْ تُصَبْ بِمُصِيبَتِي" هغې ورته ووېل: لرې شه! زما غوندې تکليف درته نه دی رسېدلی! "وَلَمْ تَعْرِفْهُ فَقِيلَ لَهَا: إِنَّهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" هغې نبي عليه السلام ونه پېژندلو، چا ورته ووېل: دا خو نبي ﷺ وو، "فَأَتَتْ بَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ تَجِدْ عِنْدَهُ بَوَّابِينَ" بيا هغه د رسول الله ﷺ کور ته راغله نو په دروازه يې چوکيدار ونه موندلو، (هغه د معافی غوښتلو لپاره ورغلې وه)، "فَقَالَتْ: لَمْ أَعْرِفْكَ، فَقَالَ: «إِنَّمَا الصَّبْرُ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الأُولَى» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: "تَبْكِي عَلَى صَبِيٍّ لَهَا" رسول الله ﷺ ته يې عرض وکړو: ما پېژندلی نه وې، نبي عليه السلام وفرمايل: هغه صبر معتبر دی چې د لومړي تکليف سره وشي او د مسلم په يو روايت کې دي: د زوی په مرګ يې ژړل.

لغوي تحقيق:

تبکي: بکی بکاءً، باب ضرب يضرب، معنی يې ده: ژړېدل

الباب: الباب ددې معنی ده: دروازه

الصدمه: الصدمه تکليف او مصيبت

تشريح: "بامراة تبکي عند قبر" يوه ښځه چې د قبر سره ناسته وه هغې ژړل، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي چې ددې ښځې نوم معلوم نه دی، خو قبر د هغې د بچي وو.

د نبي كريم ﷺ عاجزي:

ولم تعرفه: دغه ښځې نبي كريمﷺ ونه پيژندلو او ورته يې وويل: لاړ شه، خپل كار كوه، د دې جملې نه معلوميږي چې په نبي كريمﷺ كې څومره وه، هغې ښځې د نبيّ كريم ﷺ د شان لحاظ ونه ساتلو، ليكن بيا هم نبي كريم ﷺ په دې باندې هيڅ ناخوښي اظهار نه كړه او كله چې هغه ښځه د معافي غوښتلو لپاره حاضره شوه، نو بيا هم نبي كريم ﷺ هغې ته د خپل شان په باره كې څه خبره ونه كړه، بلكې هغې ته يې بيا هم د فايدې خبرې وكړې، "فقيل لها" د څينو روايتونو څخه معلوميږي چې د دې جملې ويونكى فضل بن عباس رضي الله عنه وو.

د تكليف په لومړۍ صحنه صبر پكار دى:

"إنما الصبر عند الصدمة الأولى" صبر به د مصيبت په اولني وخت كې كولى شي، دا د انسان فطرت دى چې په انسان باندې هر څومره غټ او سخت غمونه راشي؛ نو د وخت تېريدو سره هغه غم او تكليف كميږي او دده د ذهن څخه ددې غم ووځي، په داسې وخت كې صبر خپله راځي، اصلا صبر هغه وخت معتبر دى چې انسان ته تكليف ورسيږي، په دې وخت كې د الله ﷻ د رضاء په خاطر صبر وكړي او چيغې جوړې نه كړي، كه اول ښه ځان په چيغو او وير باندې ستړى كړي او بيا وروسته ووايي: چې زما صبر دى، نو داسې صبر مطلوب نه دى، بلكې شريعت ته هغه اولنى صبر مطلوب دى چې همدغه صبر د اولوا العزم پېغمبرانو شعار وو.

د صبر بدله جنت دى:

۳۲- وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "يَقُولُ اللهُ تَعَالَى: **ترجمه:** د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: الله تعالى فرمايي: "مَا لِعَبْدِي الْمُؤْمِنِ عِنْدِي جَزَاءٌ إِذَا قَبَضْتُ صَفِيَّهُ مِنْ أَهْلِ الدُّنْيَا" زه چې د خپل مؤمن بنده نه د دنيا محبوب شى (اولاد، واخلم، "ثُمَّ احْتَسَبَهُ إِلَّا الْجَنَّةَ" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ او هغه پرې صبر وكړي، نو زما سره ددې جزا بې له جنت څخه بل شى نه ده. (بخاري)

لغوي تحقيق:

جزاء: جزى جزاءً، باب ضرب يضرب، معنى يې ده: بدله وركول

قبضت: قبض قبضاً، د ضرب يضرب باب، ددې معنى ده: يو شى نيول، ځان بندول، ځان ساتل، "الله يقبض ويبسط" الله ﷻ تنګي او پراخي راولي.

صفية: الصفي ددې معنى مخلص دوست، جمع يې اصفياء راځي، مؤنث يې صفي او صفية راځي، يعني هر خالص شى.

تشريح: "يقول الله تعالى" الله ﷻ فرمايي چې داسې حديث ته حديث قدسي ويل كيږي، "اذا قبضت صفيه" صفي هر هغه شي ته ويلى شي چې انسان ته ډير زيات خوښ وي، هغه كه اولاد وي، مور - پلار وي يا ښځه وغيره وي، د دوى په وفات باندې صبر كول او د الله ﷻ حكم پرځاى ادا كول دا د كمال ايمان

نخښه ده، ځکه چې هغه په خپلو جذباتو باندې د الله ﷻ حکم مقدم کړو، داسې کس ته د الله ﷻ له طرفه د جنت زيرې دی او په داسې حالاتو باندې ويرا او ژړاګانې کول د کمزورې ايمان نخښه ده.

د ماشوم د مرګ له وجې صبر کولو سره يې مور پلار ته د جنت زيرې:

"ثم احتسبه" دا د "حسبان" څخه ماخوذ دی، معنی يې ده: ګمان کول، ددې مطلب دا دی چې سخت او تکليف لرونکی کار اختيارول او بيا وربانديې صبر کول د الله تعالی په نزد مطلوب دی. ځينې علماء کرام فرمايي کله چې الله ﷻ د کوم سړي د بچي يا مور پلار روح قبض کړي، کوم چې دغه سړي ته ډير زيات محبوب وي او بيا هغه وربانديې صبر وکړي؛ نو ددې صبر په برکت سره به يې د الله ﷻ سره داسې تعلق پيدا شي چې الله ﷻ دغه بنده تر څو يې چې جنت ته داخل کړې نه وي تر هغه به ورته خوشحالي نصيب نه کړي، کله چې هم يو انسان ته تکليف ورسيږي نو بايد چې دغه بنکلې وعده رايادہ کړي او په تکليف باندې صبر وکړي، ان شاء الله چې په دې صبر کې به ورته داسې خوند محسوس شي چې ياد به يې ساتي او په آخرت کې خو د جنت وعده چېرته تللې نه وي، "وماذالك على الله بعزيز"

په شهادت باندې د صبر ثواب:

٣٢- "وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا أَنَّهَا سَأَلَتْ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الطَّاعُونِ" ترجمه: عايشه ﵂ فرمايي چې هغې د رسول الله ﷺ څخه د طاعون پوښتنه وکړه، نبي عليه السلام وفرمايل: "فَأَخْبَرَهَا أَنَّهُ كَانَ عَذَابًا يَبْعَثُهُ اللّٰهُ تَعَالَى عَلَى مَنْ يَشَاءُ" طاعون د الله تعالی عذاب دی، د هغه خوښه ده چې په چا باندې يې راولي، "فَجَعَلَهُ اللّٰهُ تَعَالَى رَحْمَةً لِلْمُؤْمِنِينَ" بيا الله تعالی د مؤمنانو لپاره رحمت کړو، "فَلَيْسَ مِنْ عَبْدٍ يَقَعُ فِي الطَّاعُونِ فَيَمْكُثُ فِي بَلَدِهِ صَابِرًا مُحْتَسِبًا" نو يو مؤمن بنده چې په طاعون کې راګېر شي او دی په هغه کلي کې ايسار شي، د ثواب په طمع دې صبر وکړي، "يَعْلَمُ أَنَّهُ لَا يُصِيبُهُ إِلَّا مَا كَتَبَ اللّٰهُ لَهُ إِلَّا كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِ الشَّهِيدِ" "رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ" او دا يقين يې وي چې هغه ته به هغه څه رسيږي چې الله تعالی ورته ليکلي وي، په دې سره به هغه ته الله تعالی د شهادت مرتبه ورکړي. (بخاري)

لغوي تحقيق:

الطاعون: ددې معنی ده: د طاعون ناروغي، د وباء مرګ جمع يې طواعين راځي.

يقع: وقع وقوعاً، باب فتح يفتح، ددې معنی ده: واقع کېدل، داخليدل.

فيمكث: مكثاً، باب نصر ينصر، ددې معنی ده: ايساريدل، وخت تېرول.

بلد: "البلد والبلدة" کوم آباد يا غير آباد ځای، ددې جمع بلاد راځي، د جديد لغت په ژبه کې "بلدية" ته په انګريزۍ کې ميونسپلټي ويل کيږي.

د صحابه کرامو ﵃ په ژوند کې شپږ ځله د طاعون ناروغي راغلې وه:

تشريح: د نبي کريم ﷺ او د صحابه کرامو ﵃ په ژوند کې شپږ ځله د طاعون ناروغي راغلې وه، تفصيل يې دا دی:

(۱) طاعون شيرويه په شپږمه هجري کې
(۲) طاعون عمواس په ۱۷ او ۱۸ هجري کې د عمر په زمانه خلافت کې د شام په علاقه رمله او بيت المقدس په مينځ کې يوه آبادي ده په دې کې راغلې وه، تقريباً ۲۵ پنځه ويشت زره خلك پکې شهيدان شوي وو
(۳) ۵۰ هجري کې په کوفه کې راغله، په دې وباء کې مغيره بن شعبة رضي الله عنه وفات شو.
(۴) د عبدالله بن زبير رضي الله عنه په دور کې ۶۷ هجرۍ کې راغله، دې ته طاعون جارف هم ويلی شي، په درې ورځو کې دوه لکه او لس زره خلك شهيدان شوه.
(۵) طاعون فتيات د عبدالملك بن مروان په دور کې په ۶۷ هجري کې راغله، دې ته طاعون فتيات ځکه ويلی شي چې ددې طاعون ابتداء د يوې جينۍ ځخه شوې وه.
(۶) په ۱۰۰ هجرۍ کې عدي بن أرطاة کې راغلې وه.

"فليس من عبد يقع في الطاعون فيمكث في بلده صابراً محتسباً" کوم کس چې د طاعون په ناروغۍ اخته شي او په خپل ښار کې پاتې شي، صبر وکړي او نيت يې د ثواب وي، برابره خبره ده چې د طاعون ناروغي وي او که کومه بله ناروغي وي، په دې باره کې دا اعتقاد ساتل پکار دي چې دا د الله ﷻ له لورې ده او په تقدير راضي کېدل ضروري دي، له ځان سره بايد ووايي چې څه هم دي هغه به زما په تقدير کې ليکل شوي وي، زما ددې ښار نه منډه وهل او ځان بچ کول به زما حالات بدل نه کړي او نه به بچ شم، په داسې وخت کې نه ويرېكار دي او نه هم ژړا پكار ده، نه بايد ناشكري تري وشي، داسې كس چې ددې مرض له امله مړ شي مرګ يې د شهادت دی، دا حکم ځکه دی چې هسې نه دغه مرض بل ځای کې خپور شي.

آيا د يو كس ځخه بل ته ناروغي منتقل كېدى شي؟

په اسلام کې د ناروغۍ انتقال هيڅ حقيقت نشته، په قرآن کريم کې الله ﷻ فرمايي "لن يصيبنا إلا ما كتب الله لنا هو مولانا وعلى الله فليتوكل المؤمنين" هيڅكله به څه قسم غم او تكليف په موږ رانشي، مګر هغه څه چې الله ﷻ زموږ په نصيب کې ليکلي وي او خاص مؤمنان دي په الله ﷻ باندې توکل وکړي، د رسول الله ﷺ ارشاد مبارك دی "لاعدوى ولا طيرة في الإسلام" په اسلام کې دا نشته چې د يو نه دې بل ته کومه ناروغي انتقال شي او نه په اسلام کې بد فالي شته.

هر كله چې په ناروغۍ كې ساري نه وي، نوولې د وتلو ځخه منع راغلې ده؟

دا منع صرف په دې خاطر راغلې ده چې هسې نه کمزوري ايمان والا عقيده خرابه نه شي چې زه په فلانكي ځاى كې وم، ځكه راته دا بيماري ولګېده، نبي كريم ﷺ د يو جذامي كس سره خوراك كولو، صرف ددې لپاره چې په تقدير کې څه ليکل شوي وي هغه به درته ملاوېږي

د نظر په بدله کې جنت

۳۴- "وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ" ترجمه: د انس رضي الله عنه نه روايت دی چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي چې وې فرمايل "إِنَّ اللهَ عَزَّوَجَلَّ قَالَ: إِذَا ابْتَلَيْتُ عَبْدِي بِحَبِيبَتَيْهِ فَصَبَرَ عَوَّضْتُهُ مِنْهُمَا الْجَنَّةَ"

بِرِيْدُ عَيْنَيْهِ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ" الله تعالى فرمايي: زه چې د خپل بنده نه دوه غوره شيان (دوه سترګې) واخلم، او هغه صبر وکړي نو ددې په عوض کې به جنت ورکړم (بخاري)

لغوي تحقيق: أبتليت: ابتلی ابتلاءً، ددې معنی ده: امتحان او ازموينه

حبيب: ددې معنی ده: محب او محبوب؛ ملګری.

عوضته: عاض عوضاً، ددې معنی ده: بدله ورکول

د روند سړي لپاره زېرې

"إذا أبتليت عبدي بحبيبته فصبر عوضته منهما الجنة" **ترجمه:** کله چې زه د خپل بنده نه د هغه محبوب شيان يعنې د سترګو نظر واخلم، په دې باندې هغه صبر وکړي؛ نو ددې په عوض کې به ورته جنت ورکوم، په دې حديث کې د روند سړي او کوم چې صابر او شاکر وي فضيلت يې بيان شوی دی چې داسې کس ته به جنت ورکول کيږي، نابينا سړي ته دا فضيلت ځکه ورکول کيږي چې هغه په دې دنيا کې ددې فاني دنيا د نعمتونو څخه خوند او لذت وانخيستلو، ددې په بدله کې به ورته الله ﷻ د جنت خوندونه او مزې اخلي، دا سړی په تقدير راضي وو، نو اوس د فاني دنيا د نعمتونو په بدله کې ورته د باقي پاتې کېدونکي ژوند نعمتونه ورکول کيږي.

د سترګو د نظر دا خاص فضيلت ولې بيان شوی دی، حال دا چې په بدن کې نور اندامونه هم شته، نو سترګې ولې خاص کړل شوې؟ ځواب دا دی چې سترګې په بدن کې ډېر اهميت لري، که د سترګو نظر نه وي او ټوله دنيا ستا شي، څه به پرې کوې، حقيقت دا دی چې د فاني دنيا د نعمتونو څخه خوند اخيستلو لويه ذريعه د سترګو نظر دی، او ددېنه محرومه کېدل هم لويه محرومي ده، الله ﷻ انسان ته بدله هم د مشقت او تکليف په انداز ورکوي، نو ځکه د دومره لويې محرومۍ له کبله هغه ته د جنت د نعمتونو بدله ورکول کيږي.

د مېرګي ناروغۍ باندې صبر کوونکي ته جنت دی

۳۵- "وَعَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ قَالَ: قَالَ لِي ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَلاَ أُرِيكَ امْرَأَةً مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ؟" **ترجمه:** د عطاء بن ابي رباح ﷺ څخه روايت دی وايي چې ما ته عبد الله بن عباس ﷺ وويل: آيا يوه جنتي مېرمن درته ونه ښيم؟ "فَقُلْتُ: بَلَى، قَالَ: هَذِهِ الْمَرْأَةُ السَّوْدَاءُ أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ:" ما وويل: ضرور يې را ته وښيه؛ ابن عباس ﷺ يوې ښځې ته اشاره وکړه چې دا توره ښځه يوه ورځ رسول الله ﷺ ته راغله، عرض يې وکړو، "إِنِّي أُصْرَعُ وَإِنِّي أَتَكَشَّفُ فَادْعُ اللَّهَ تَعَالَى لِي قَالَ:" په ما باندې د مېرګو دوره (ناروغي) راځي او بې اختياره بې پردې کېږم، دعا را ته وکړئ چې ښه شم، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل "إِنْ شِئْتِ صَبَرْتِ وَلَكِ الْجَنَّةُ" که ستا خوښه وي نو صبر وکړه ددې په بدل کې به جنت درکړل شي، "وَإِنْ شِئْتِ دَعَوْتُ اللَّهَ تَعَالَى أَنْ يُعَافِيَكِ" او که ته غواړې دعا به درته وکړم "فَقَالَتْ: أَصْبِرُ" هغې عرض وکړو په ناروغۍ باندې صبر کوم، "فَقَالَتْ: إِنِّي أَتَكَشَّفُ فَادْعُ اللَّهَ أَنْ لاَ أَتَكَشَّفَ فَدَعَا لَهَا عَلَيْهِ" خو دعا را ته وکړئ چې بې پردې کېږم نه، رسول الله ﷺ ورته دعا وکړه مُتَّفَقٌ

لغوي تحقيق:

أصرع: صرعاً، باب فتح يفتح، معنى يې ده: په ځمکه راغورځېدل، ددېنه مراد د مېرګۍ ناروغي ده.

أتكشف: كشف كشفاً، باب ضرب يضرب، ددې معنى: ظاهرول، لکه ويل کيږي چې "كشف اللّــــه غمه" الله ﷻ د هغه غم لرې کړو.

يعافيك: "أعفى معافاة وعفاءً وعافيةً" ددې معنى ده: د الله ﷻ له طرفه صحت ورکول کېدل او د بدی نه ساتل.

په مېرګي باندې صبر کوونکې ته جنت دی:

تشريح: "إمرأة من أهل الجنة" ددې ښځې نوم سعيره وو او کنيت يې ام زفر وو.

"إن شئت صبرت ولك الجنة" که ته صبر وکړې نو ستا لپاره به ددې ناروغۍ په بدل کې جنت دی، دغې تور پوستې ښځې د يو څو ورځې د دنيا سختي برداشت کړل او په بدله کې يې جنت حاصل کړو، يعني د فاني تکليف په بدله کې يې ابدي مقام جنت او د الله ﷻ رضا حاصله کړه او په خپل تقدير باندې راضي شوه.

د ناروغۍ لپاره دعا جائز ده:

"فادع اللّــــه أن لا أتكشف" زما لپاره دعا وکړه چې زه بې ستره نه شم! د بې هوشۍ په حالت کې بدن بې اختياره ښکاره کېدل دا خو نه ګناه ده او نه معصيت، خو ددې ښځې دعا کول د شرم او حياء په وجه وه چې دا يو فطري عمل دی، ددې نه معلومه شوه چې که په انسان کې همت وي او هغه د رخصت پر ځای په عزيمت باندې عمل وکړي؛ نو دا به د الله ﷻ د قربت ذريعه جوړه شي. لکه څنګه چې دغې ښځې د رخصت پر ځای په عزيمت باندې عمل وکړو، بله دا هم معلومه شوه چې لکه څنګه د کومې ناروغۍ علاج په دواء سره جائز دی دغه شان که يو نيک سړي ته وويل شي چې تاسو راته دعا وکړئ چې الله ﷻ ما ته شفاء راکړي؛ نو دا هم جائز او مستحسن عمل دی.

د راوي عطاء بن ابي رباح رحمه الله مختصر حالات:

اصل نوم يې عطاء رحمه الله، کنيت يې ابو محمد، د پلار نوم يې اسلم وو، د عثمان رضي الله عنه په دور خلافت کې پيدا شوی دی، د قرآن او حديثو حافظ وو، د خپلې زمانې ستر مفتي وو، حافظ ابن حجر رحمه الله فرمايي چې عطاء رحمه الله په خپله زمانه کې د فقه، علم، فضل او کمال په لحاظ د مشرانو تابعينو څخه شمارل کيږي، علامه نووي رحمه الله فرمايي چې عطاء رحمه الله په مکه کې غټ مفتي او مشهور امام وو، مشران علماء يې د علم او کمالاتو معترف وو، د حج د مناسکو ستر عالم وو، امام باقر رحمه الله فرمايي چې د عطاء رحمه الله نه ډېر زيات بل څوک د حج په مناسکو باندې نه پوهيږي. علامه ابن جوزي رحمه الله فرمايي: يو ځل سليمان بن عبد الملک د دوی په خدمت کې حاضر شو، هغوی ته

يې د حج مناسک وښودل، عبدالرحمن رحمه الله فرمايي چې که د مکې د ټولو خلکو ايمان سره يو ځای کړل شي، نو بيا هم د عطاء رحمه الله ايمان ته نشي رسېدلی، په حديثونو باندې د عمل کولو ډېر زيات شوقي ؤ، امام شافعي رحمه الله فرمايي چې په تابعينو کې د عطاء رحمه الله نه زيات بل څوک ما متبع السنت نه دی ليدلی، د ډېرو صحابه کرامو ﷺ يې حديثونه ياد کړي دي، د شاګردانو شمېر يې ډېر زيات دی، امام باقر رحمه الله به فرمايل: ترڅو پورې چې مو له وسه کيږي؛ نو د عطاء ﷺ څخه حديث يادوئ.

د نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صبر

۳۲- وَعَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: **ترجمه:** د ابو عبد الرحمن ﷺ (عبد الله بن مسعود رضي الله عنه) څخه روايت دی، فرمايي چې: "كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْكِي نَبِيًّا مِنَ الْأَنْبِيَاءِ صَلَوَاتُ اللَّهِ وَسَلَامُهُ عَلَيْهِمْ" (دا خبره راته داسې ياده ده) لکه چې اوس رسول الله ﷺ وينم چې په پېغمبرانو کې د يو پېغمبر حال بيانوي، "ضَرَبَهُ قَوْمُهُ فَأَدْمَوْهُ" چې خپل قوم دومره ووهلو چې وينې وينې يې کړو، "وَهُوَ يَمْسَحُ الدَّمَ عَنْ وَجْهِهِ وَهُوَ يَقُولُ:" "هغه د مخ نه وينې پاکولې او دا يې فرمايل: "اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِقَوْمِي فَإِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُونَ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. اې الله ﷻ زما قوم ته معافي وکړې، دوی نه پوهېږي، (غالبًا دا نبي کريم ﷺ خپله وو چې د احد په غزا کې يې تندی زخمي او دوه غاښونه يې شهيدان شوي وو).

لغوي تحقيق:

أنظر: "نظر نظراً" باب نصر ينصر او سمع يسمع، معنی يې ده: ليدل او کتل.

يحکی: "حکی حکاية" باب ضرب يضرب، معنی يې ده: خبرې نقل کول، بيانول.

يمسح: "مسح مسحاً" باب فتح يفتح، معنی يې ده: وينه يا اوبه/ خوله وغيره صفا کول او وچول.

تشريح: "يحکی نبياً من الأنبياء صلوات الله وسلامه عليهم" د انبياء کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ په باره کې يوه خبره رانقل کوي او د هغې حکايت کوي.

دا کوم نبي ؤ؟

مجاهد رحمه الله او عبيد بن عمرو الهيثمي رحمه الله فرمايلي دي چې ددې څخه مراد نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ دی، ليکن اکثره محدثين وايي چې ددې څخه مراد خپله نبي کريم ﷺ دی.

"وهو يمسح الدم عن وجهه" هغه پېغمبر د خپل مخ وينه صفا کول، که ددې څخه نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ مراد شي؛ نو دده قوم هم هغه ډېر زيات په کاڼو ويشتلو چې له امله يې د مخ مبارک نه وينې رواني شوې او که ددې څخه خپله نبي کريم ﷺ مراد شي، لکه څنګه چې د اکثرو محدثينو رايه ده؛ نو بيا به ددې څخه د (احد) جنګ مراد وي، په کوم کې چې د رسول الله ﷺ په رخسار مبارک باندې د زغرې کړۍ ننختي وې چې له امله يې وينه روانه شوه او په هم دې ورځ د رسول الله ﷺ غاښونه مبارک هم شهيدان شوي وو.

"اللّٰهُمَّ اغفر لقومي فإنهم لا يعلمون" دا د کوم نبي دعا وه؟ سوال دا دی چې که دا د نوح عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ دعاء شي؛ نو نوح عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ خو خپل قوم ته بد دعاء کړې وه، لکه څرنګه چې به

قرآن کريم کې ارشاد دی، "رب لاتذر على الأرض من الكافرين دياراً" ځواب دا دی چې په شروع کې به نوح عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ هم دعاګانې کولې، ويل به يې: "اللهم اغفر لقومي" اې الله! زما قوم ته بخښنه وکړې خو کله چې د الله ﷻ له طرفه وحي نازله شوه چې بس نور خلك ايمان نه راوړي، ددې نه وروسته نوح عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ بد دعاء شروع کړه، "رب لاتذر على الأرض من الكافرين دياراً" اې ربه! د ځمکې په مخ چې د کافر سړي کور هم پاتې نه شي.

داعيانو ته درس:

ددې واقعې څخه د دين دعوت کوونکو ته مهم درس ملاويږي، هغه دا چې د دين په تبليغ کې چې د کوم قسم تکليف او مصيبت سره مخامخ شي بايد ښه په مينه او محبت هغه تکليف وزغمي او ددې سره سره د خلکو څخه د بدلې او انتقام اخيستلو پر ځای د عفو او معافۍ څخه کار واخلي، بلکه شان هغوی ته هم د الله ﷻ له لورې د هدايت سوال وکړي

د راوي عبدالله بن مسعود رضي الله عنه مختصر حالات:

اصل نوم يې عبد الله رضي الله عنه دی، کنيت يې ابو عبد الرحمن دی، د پلار نوم يې مسعود دی، د مور نوم يې ام عبد وو، په اسد الغابة کې يې د اسلام راوړلو واقعه په دې ډول ذکر شوې ده چې يوه ورځ رسول الله ﷺ د ابوبکر صديق رضي الله عنه سره يو ځای په لار روان وو چې په لاره کې يې عبد الله بن مسعود رضي الله عنه وليد چې ميږې او وزې يې څرولې، ابوبکر رضي الله عنه د هغه څخه شيدې وغوښتلې، هغه وويل: دا ميږې او وزې امانت دي، ځکه زه يې نه شم درکولی، نبي کريم ﷺ ترې پوښتنه وکړه چې ستا سره داسې کومه وزه شته چې هغې بچی نه وي زيږولی؟ وې ويل: هو! شته، هغه خپلې چيلۍ راوستلې، نبي کريم ﷺ په هغه چيلۍ باندې خپل لاسونه مبارك راښکل، نو په دې ساعت کې د هغې غولانځه د شيدو څخه ډکه شوه، نبي کريم ﷺ، ابو بکر رضي الله عنه او عبدالله بن مسعود رضي الله عنه درې واړو ښه په مړه خيټه شيدې وڅښلې، ددې معجزې په ليدو سره هغه اسلام قبول کړو، ددېنه وروسته يې د هميش لپاره د نبي کريم ﷺ خدمت کول د ځان لپاره افتخار وګڼلو او د نبي کريم ﷺ خدمت يې تر مرګه پورې وکړو.

کله چې عبدالله بن مسعود رضي الله عنه هجرت وکړو، نو نبي کريم ﷺ هغه ته د نبوي ﷺ جوماتسره نژدې لږه ځمکه واخيسته چې ځانته وربانديې يوه وړه شانتې کوټګۍ جوړه کړي، په ټولو جهادونو کې يې د نبي کريم ﷺ سره شرکت کړی دی، په شلمه هجري کې د کوفې قاضي مقرر شو، تر لسو کالو پورې يې هلته د قضاوت خدمات ترسره کړل، د هغه په ځانګړو صفتونو کې يو صفت دا هم وو چې د علم سره يې ډيره بې دريغه مينه درلوده، د قرآن کريم د تفسير لوی ماهر و، په قرائت کې يې هم پوره کمال حاصل کړی ؤ، نبي کريم ﷺ به خپله ترې قرآن کريم اوريدلو، په روايت کولو کې به يې ستر احتياط کولو، د خپلې زمانې د فقه ستر ماهر و، د هغه د ښکلې خويونو په وجه به هميش د صحابه کرامو ﷺ او تابعينو يوه ډله ورسره ناسته وه، بلکې د شقيق رحمه الله يو قول دا دی چې موږ به په جوماتکې ناست وو، د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه انتظار به مو کولو، يعنې دومره ګڼه او رش به زيات شو چې د وتلو وخت به په

اساني سره په لاس نه راتلو، خلك به ډير زيات وو.

وفات: په ۳۲ هجري كې يې د شپېتو كالو په عمر كې ددې فاني دنيا څخه كوچ وكړو، د جنازې لمونځ يې عثمان غني ﷺ وكړو او د عثمان بن مظعون ﷺ سره په څنګ كې دفن كړى شو

مرويات: د روايتونو شماره يې تر ۸۴۸ پورې رسيږي، په دې كې په ۶۴ كې امام بخاري رحمه الله او امام مسلم رحمه الله متفق عليه دي او په ۲۱ حديثونو كې امام بخاري رحمه الله او په ۳۵ حديثونو كې امام مسلم رحمه الله منفرد دى.

مسلمان ته په معمولي تكليف هم ګناه معاف كيږي

۳۷ - وَعَنْ أَبِيْ سَعِيدٍ وَأَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: **ترجمه**: د ابو سعيد خدري ﷺ او ابو هريره ﷺ نه روايت دى چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "مَا يُصِيبُ الْمُسْلِمَ مِنْ نَصَبٍ" مسلمان ته چې كوم تكليف ورسيږي، "وَلَا وَصَبٍ" يا ناروغي ورته ورسيږي، "وَلَا هَمٍّ" يا هم پريشاني ورته ورسيږي، "وَلَا حَزَنٍ" يا هم غم ورته ورسيږي، "وَلَا أَذًى" يا تكليف ورته ورسيږي، "وَلَا غَمٍّ" او يا هم خفګان ورته ورسيږي، "حَتَّى الشَّوْكَةِ يُشَاكُهَا" تر دې چې كه اغزى پكې مات شي، "إِلَّا كَفَّرَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ خَطَايَاهُ" وَ((الْوَصَبُ: الْمَرَضُ.)) ددې په بدله كې به ورته الله تعالى ګناهونه معاف كړي، (بخاري او مسلم) (امام نووي رحمه الله فرمايي) "وَصَبٌ" معنى ناروغي ده. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

لغوي تحقيق:

نصب: "نصب نصباً" باب ضرب يضرب او فتح يفتح، ددې معنى ده: ستړى كېدل

وصب: "يوصب وصباً" ددې معنى ده: ناروغه كېدل

هم: "هم هماً" باب نصر ينصر، ددې معنى ده: بې آرامه او غمجن كېدل

حزن: "حزن حزناً" باب نصر ينصر، معنى يې ده: د زړه تكليف او غمجن كېدل، د باب سمع يسمع څخه يې معنى ده: غم او سختوالى

اذى: "أذي اذياً واذاةً" باب سمع يسمع، په معنى د تكليف او اذيت رسېدو سره.

الشوكة: "ددې مفرد شوكة راځي او جمع يې أشواك راځي، ددې معنى ازغي ده.

كه په پښه باندې ازغي جګ شي، بيا هم اجر ملاويږي:

تشريح: "حتى الشوكة يشاكها إلا كفر اللّٰــــهُ بها من خطاياه" تر دې چې كه ازغى يې په پښو جګ شي بيا به هم ورته يو ګناه معاف كيږي، ددېنه معلومه شوه چې كه سړي ته كوم تكليف او مصيبت ورسيږي، نو بايد چې سمدستي الله ﷻ ته توجه وكړي چې دا تكليف او مصيبت هم په حقيقت كې د الله ﷻ له لورې دى، كه چېرته كوم تكليف او مصيبت ورته ورسيږي بايد صبر ورباندې وكړي او كه صبر ونه كړي، بلكې شور او وير - ژړاګانې - فريادونه او شكوې وكړي؛ نو دا خو به ورته دنيوي تكليف ورسيږي، بل

طرفته به د آخرت د ثواب نه هم محرومه پاتې شي، بلکې دا نه چې صرف د اجر څخه به محرومه پاتې شي، بلکې ددې برعکس سزا به هم ورته حاصل شي.

په ښه باندې دا زغې جګېدو سره هم ګناه معاف کېږي

۳۸- "وَعَنِ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُوْعَكُ" ترجمه: د ابن مسعود ﷺ روايت دی چې زه د رسول الله ﷺ په حضور کې حاضر شوم او هغه د تبې په حالت کې ؤ. "فَقُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ إِنَّكَ تُوْعَكُ وَعْكًا شَدِيْدًا" ما ووېل: اې د الله تعالى رسوله! ستا ډېره زياته تبه ده، "قَالَ: أَجَلْ إِنِّيْ أُوْعَكُ كَمَا يُوْعَكُ رَجُلَانِ مِنْكُمْ" رسول الله ﷺ وفرمايل: هو! زما د تبې جوش دومره زيات دی لکه په تاسو دوه کسانو چې راشي، "قُلْتُ: ذٰلِكَ أَنَّ لَكَ أَجْرَيْنِ؟ قَالَ" ما ووېل: دا ځکه چې ستاسو اجر دوه برابر دی، رسول الله ﷺ وفرمايل: "أَجَلْ ذٰلِكَ كَذٰلِكَ مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُصِيْبُهُ أَذًى شَوْكَةٌ فَمَا فَوْقَهَا" هو! خبره همداسې ده، هر مسلمان ته چې څه تکليف ورسيږي د اغزي د ماتېدو برابر يا ددې نه زيات، "إِلَّا كَفَّرَ اللّٰهُ بِهَا سَيِّئَاتِهِ" د هغې په بدل کې به ورته الله تعالى غلطي معاف کړي، "وَحُطَّتْ عَنْهُ ذُنُوْبُهُ كَمَا تَحُطُّ الشَّجَرَةُ وَرَقَهَا" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، او ګناهونه به تري داسې څنډل کېږي لکه د ونو څخه چې په خزان کې پاڼې غورځېږي. "وَالْوَعْكُ": مَغْثُ الْحُمّٰى، وَقِيْلَ: الْحُمّٰى" معنی يې ده د تبې جوش يا سخته تبه.

لغوي تحقيق:

يوعك: "وعك وعكاً" باب ضرب يضرب، ددې معنى ده: ګرمي تېزېدل، ليکن دلته يې معنى ده سخته او تېزه تبه راتلل، "وعکته الحمى" تبه زياته سخته کېدل او په تبه کې مبتلا کېدل.

أجل: ددې معنى ده: هو! بې شکه.

ورقها: "ورق ورقاً" ددې معنى ده: د ونو پاڼې راشکول، په جديد لغت کې ورق النقد ددې معنى ده: پيسې.

د نبي کريم ﷺ تبه به د نورو خلکو په نسبت سخته وه:

تشريح: "يارسول الله ﷺ إنك توعك وعكاً شديداً" اې د الله تعالى رسوله! تاسو خو ډېره سختې تبه نيولي يئ؟ ددېنه معلومه شوه چې په انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ باندې هم د عامو خلکو په څېر مختلف حالات راځي، دا ددې لپاره چې د هغوی درجې ورباندې اوچتې شي.

إن لك أجرين؟ قال أجل: ستاسو لپاره خو دوه اجره دي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: چې هو! دوه اجره به ځکه وي چې سختي او تکليف يې هم دوه برابره ؤ، د دوه برابره سختې ثواب به هم دوه برابره وي.

د تبې فضيلتونه:

په يو روايت کې دي چې: "إنما مثل العبد المؤمن حين يصيبه الوعك أو الحمى كالحديدة تدخل النار فيذهب خبثها ويبقى طيبها" ترجمه: د مؤمن سړي د تبې مثال داسې دی لکه اوسپنه چې په اور کې واچول شي او د هغې نه

زنګ لرې کړل شي، باقي صفا او سپينه پاتې شي، په يو بل روايت کې دي چې: "الحمى حظ كل مؤمن من النار، وحمى ليلة تكفر خطايا سنة مجرمة، أي كاملة" د مؤمن لپاره تبه د جهنم څه حصه ده، يعنې ددې په وجه مسلمان د جهنم نه آزادېږي او د يوې شپې تبه د پوره کال د ګناهونو کفاره ګرځي.

په بل روايت کې دي چې: "الحمى شهادة أي الموت فيها" په تبه کې مرګ راتلل د شهادت د مرګ سره برابر دي، په يو بل روايت کې دي چې: "قال الحمى تحت الخطايا كما تحت الشجرة ورقها أي تسقط" په تبې سره ګناهونه داسې غورځېږي لکه پاڼه چې د ونې څخه غورځېږي.

الله ﷻ چې د چا سره نيکي کول غواړي هغه په مصيبتونو اخته کړي

۳۹- وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ يَقُولُ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: **ترجمه:** د ابوهريره ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "مَنْ يُرِدِ اللهُ بِهِ خَيْرًا" چې الله تعالى چاته د خير رسولو اراده وکړي، "يُصِبْ مِنْهُ" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ وَضَبَطُوْا "يُصِبْ" بِفَتْحِ الصَّادِ وَكَسْرِهَا، نو څه تکليف پرې راولي، "يُصِبْ" دا لفاظ د صاد په زبر او زېر دواړو سره روايت شوي دي.

لغوي تحقيق:

الخير: ددې معنی ده: د چا سره نيکي کول.

الله ﷻ چې د چا سره د خير اراده وکړي، هغه په تکليفونو کې اچوي:

"من يرد الله به خيرا يصب منه" الله ﷻ چې د چا سره د خير اراده وکړي، په هغه باندې تکليفونه راولي، په دنيا کې تکليفونه، بيماري، مالي او ځاني نقصانونه د مسلمان لپاره د خير ذريعه وي، ددې په ذريعه انسان الله ﷻ ته متوجه کېږي، د هغه په وړاندې دعاګانې او زارۍ کوي، په همدې سره يې ګناهونه هم معاف شي او په آخرت کې د هغه درجې هم اوچتې شي.

په ځينو نورو روايتونو کې راغلي دي چې په ځينې وختونو کې الله ﷻ د يو بنده د خاص مقاماتو اراده کړې وي چې هغه د عبادت په ذريعه دغه مقام ته نه شي رسېدلی، نو الله ﷻ په هغه باندې تکليفونه راولي چې هغه ورباندې صبر وکړي؛ نو بيا دغه انسان ته دغه خاص مقام حاصل شي.

د مرګ ارمان حرام دی

۴۰- وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: **ترجمه:** د انس ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي چې: "لَا يَتَمَنَّيَنَّ أَحَدُكُمُ الْمَوْتَ لِضُرٍّ أَصَابَهُ" د څه تکليف په وجه دې څوک د مرګ خواهش نه کوي، "فَإِنْ كَانَ لَا بُدَّ فَاعِلًا فَلْيَقُلْ" که څوک خامخا څه ويل غواړي نو داسې دې ووايي: "اللّٰهُمَّ أَحْيِنِيْ مَا كَانَتِ الْحَيٰوةُ خَيْرًا لِّيْ" اې الله ﷻ! ما ژوندی وساتې ترڅو چې زما په ژوند کې خير وي، "وَتَوَفَّنِيْ إِذَا كَانَتِ الْوَفَاةُ خَيْرًا لِّيْ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ او ما واخلې کله چې زما په مرګ کې خير وي (بخاري او مسلم شريف)

د مرګ ارمان ناجائز دی:

تشريح: "لايتمنين أحدكم الموت" په تاسو کې دي يو کس هم د مرګ ارزو او ارمان نه کوي، د مرګ ارمان کول ځکه حرام دي چې د مستقبل حالاتو علم د چا سره نه وي، سبوا د الله ﷻ څخه، نو پته به نه لګيږي چې په مستقبل کې به دده لپاره خير وي او که شر به وي، بله دا چې د مصيبت په وخت کې د مرګ ارمان کول دا ددې خبرې واضح دليل دی چې دا سړی بې صبره دی او حال دا چې د مصيبت په وخت صبر کول دا شريعت ته عين مطلوب دی، که خامخا يو کس دعا کوي؛ نو د پورتني حديث موافق بايد دعاء وکړي شي چې: اې الله! تر څو پورې چې زما په حق کې ژوندی پاتې کېدل غوره وي تر هغې مې ژوندی وساتې او که مرګ راته بهتر وي؛ نو مرګ راته راکړې او که چېرته د کوم مقدس مرګ ارمان څوک وکړي، لکه د شهادت مرګ غوښتل، نو دا ارمان بيا جائز دی.

په تېرو خلکو هم تکليفونه راغلي وو

۴۱- وَعَنْ أَبِي عَبْدِ اللهِ خَبَّابِ بْنِ الْأَرَتِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: شَكَوْنَا إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ترجمه: د ابو عبدالله ﷺ نه روايت دی چې نوم يې خَبّاب بن ارت دی، وايي چې موږ رسول الله ﷺ ته (د مشرکانو د سختيو) شکايت يوړو، "وَهُوَ مُتَوَسِّدٌ بُرْدَةً لَهُ فِيْ ظِلِّ الْكَعْبَةِ" هغوی خپل څادر سرته ايښی ؤ، د بيت الله شريف سيوري ته پروت وو، "فَقُلْنَا: أَلَا تَسْتَنْصِرُ لَنَا أَلَا تَدْعُوْ لَنَا؟" موږ ووېل: آيا تاسو د الله تعالى نه زموږ د امداد لپاره دعا نه غواړئ؟ "فَقَالَ: قَدْ كَانَ مَنْ قَبْلَكُمْ يُؤْخَذُ الرَّجُلُ" حضور ﷺ وفرمايل: ستاسو څخه مخکې قومونو کې به سړی ونيول شو، "فَيُحْفَرُ لَهُ فِي الْأَرْضِ" غار به ورته وکنستل شو، "فَيُجْعَلُ فِيْهَا" هغه به پکې ودرول شو، "ثُمَّ يُؤْتَى بِالْمِنْشَارِ فَيُوضَعُ عَلَى رَأْسِهِ" اره به يې راوړه په سر به يې ورته کېښودل، "فَيُجْعَلُ نِصْفَيْنِ" دوه ټوټې به يې کړو، "وَيُمْشَطُ بِأَمْشَاطِ الْحَدِيْدِ مَا دُوْنَ لَحْمِهِ وَعَظْمِهِ" او د اوسپنو په ږمنځو به يې غوښې ترې توږلې، تش هډوکي به يې پرېښودلو، "مَا يَصُدُّهُ ذٰلِكَ عَنْ دِيْنِهِ" خو هغوی به د خپل دين څخه نه اوښتل، "وَاللهِ لَيُتِمَّنَّ اللهُ هٰذَا الْأَمْرَ" والله ﷻ د اسلام کار به الله تعالى کامياب کړي، "حَتّٰى يَسِيْرَ الرَّاكِبُ مِنْ صَنْعَاءَ إِلٰى حَضْرَمَوْتَ" تر دې چې مسافر به د صنعاء څخه تر حضرموت پورې په اطمينان سفر کوي، "لَا يَخَافُ إِلَّا اللهَ" بې د الله تعالى به ورسره د هيڅا وېره نه وي، "وَالذِّئْبَ عَلٰى غَنَمِهِ" يا به ورسره دا غم وي چې ګډې مې پرانګ ونه خوري، "وَلٰكِنَّكُمْ تَسْتَعْجِلُوْنَ" ليکن تاسو هر څه زر غواړئ، "رواه البخاري، وفي رواية: "وَهُوَ مُتَوَسِّدٌ بُرْدَةً وَقَدْ لَقِيْنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ شِدَّةً" هغوی څادر سر ته ايښی وو، د بيت الله سيوري ته پروت وو او موږ ته مشرکانو ډېر تکليف رارسولی وو. په يو روايت کې دي چې رسول الله ﷺ

لغوي تحقيق: شکونا: شکا شکويً، باب نصر ينصر، ددې معنی ده: شکايت لګول.

متوسد: ددې معنی ده: د سر لاندې تکيه يا بالښت وغيره ايښودل

فيحفر: حفر حفراً، باب ضرب يضرب، ددې معنی ده: په ځمکه کې کنده وېستل

يمشط: "مشط مشطاً" دا هم باب ضرب يضرب دی، په پښتانو کې ږمنځ وهل.

په مؤمنانو باندې هر وخت امتحانونه راځي:

"قد كان من قبلكم" ستاسو څخه چې مخکې کوم خلک تېر شوي دي، د دې څخه معلومه شوه چې د حق دين په څښتنانو باندې تکليفونه او مصيبتونه راځي، دا صرف د نبي کريم ﷺ تر امت پورې خاص نه دي، بلکې هر وخت په اهل حق خلکو باندې تکليفونه او مصيبتونه راغلي دي، په دې حديث سره مسلمانانو ته تسلي ورکول کيږي چې د مشرکانو له طرفه په ظلمونو او تکليفونو باندې ويره مه کوئ، بلکې د خان څخه مخکنيو خلکو ته وګورئ، په هغوی باندې څومره سخت تکليفونه او مصيبتونه راغلي وو، د دې سره سره هغوی په دين پورې ترلي خلک وو او دين يې نه دی پرېښودلی.

"حتى يسير الراكب من صنعاء الى حضرموت لا يخاف إلا الله" تر دې پورې چې يو سپور سړی به په سوارلۍ باندې د صنعاء څخه تر حضرموت پورې روان وي، سفر به کوي خو د الله ﷻ نه سېوا د بل چا ويره به نه کوي، په دې جمله کې نبي کريم ﷺ مسلمانانو ته يو د ډېر لوی بشارت او زيری ورکړی دی، نبي کريم ﷺ صحابه کرامو ﷺ ته خوشحالي بيان کړه چې نژدې ده: الله ﷻ به تولو ځمکه د دين له دښمنانو څخه صفا کړي، په هر ځای کې به د عدل - انصاف او امن وي، دا وخت په خير القرون کې خلکو به خپلو سترګو ليدلی دی، د ډېره وروسته خلک به يې هم ويني؛ خو په شرط د دې چې د عدل څخه کار واخلي.

د راوي خباب بن ارت ﷺ مختصر حالات:

اصل نوم يې خباب ﷺ دی، کنيت يې ابو عبدالله دی، د پلار نوم يې ارت بن جندله دی، د جاهليت په زمانه کې يې ترې غلام جوړ کړی ؤ، بيا په مکه مکرمه کې خرڅ کړی شو، د زيد بن ارقم ﷺ په کور کې د اسلام په لومړنيو وختونو کې مسلمان شو، په اسلام راوړونکو کې شپږم نمبر ياديږي، په لومړي ځل چې مسلمان شو، هغه د غلامي ژوند تېرولو، د دې وجې مشرکانو پرې زيات ظلمونه کړي دي، مشرکانو به لوڅ بدن ودرولو، جامې به يې ترې وويستلې، په سينه به يې ورته کاڼي کېښودل، په سکورتو باندې به يې څملولو چې د زخمونو د وينو او زوو له امله به سکورتې يخې شوې، مدينې منورې ته چې کله هجرت وشو، نو نبي کريم ﷺ د خراش بن صمه تميم غلام سړي سره د هغه مواخات (وروري) قائم کړه، په ټولو جهادونو کې يې د نبي کريم ﷺ سره شرکت کړی دی.

توري به يې جوړولې، په دې به يې خپله ګوزاره کول، عمر ﷺ به د هغه زيات احترام کولو، يو ځل عمر ﷺ په خپله سوارلۍ باندې سپور کړو، اعلان يې وکړو چې د هغه څخه علاوه صرف يو بل کس دی چې په دې سوارلۍ باندې سپرېدی شي او بل څوک نه، خباب ﷺ پوښتنه وکړه چې هغه څوک دی؟ عمر ﷺ وفرمايل: هغه بلال ﷺ دی، خباب ﷺ وويل: هغه څنګه زما برابر کېدی شي؟ د مشرکانو په مقابل کې خو زه د هغه ملګری وم، هغه وخت د الله تعالی څخه بغير بل هيڅوک نه ؤ، بيا په هغه باندې ټول شوي ظلمونه يې بيان کړل.

وفات: ۳۷ هجري کې په کوفه کې بيمار شو او بيا د ۷۲ کالو په عمر کې د دې فاني نړۍ څخه وکوچېد، علي ﷺ په دې وخت کې د جنګ صيفين نه واپس راغلی ؤ، اطلاع ورته وشوه چې خباب ﷺ

وفات دی، سمدستي حاضر شو او د جنازې لمونځ يې پرې وکړو.

مرويات: د مروياتو شمېر يې ۳۳ دی، په درې (۳) حديثونو کې يې امام بخاري رحمه الله او امام مسلم رحمه الله متفق عليه دي، په دوه حديثونو کې يې امام بخاري رحمه الله او په يو روايت کې امام مسلم رحمه الله منفرد دی.

د موسی علیه السلام د صبر مثال

۴۲ - وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: لَمَّا كَانَ يَوْمُ حُنَيْنٍ آثَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَاسًا فِي الْقِسْمَةِ، **ترجمه** د ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی کله چې د حنين غزا ختمه شوه؛ نو رسول الله ﷺ څو کسانو ته په مال غنيمت کې زياته حصه ورکړه، "فَأَعْطَى الْأَقْرَعَ بْنَ حَابِسٍ مِائَةً مِنَ الْإِبِلِ" اقرع بن حابس ته يې سل اوښان ورکړل، "وَأَعْطَى عُيَيْنَةَ مِثْلَ ذٰلِكَ" او دغه شان عُيينه بن حصن ته يې هم سل اوښان ورکړل "وَأَعْطَى أُنَاسًا مِنْ أَشْرَافِ الْعَرَبِ، وَآثَرَهُمْ يَوْمَئِذٍ فِي الْقِسْمَةِ" او دغه شان د عربو څينو سردارانو ته يې د نورو خلکو نه زياته حصه ورکړه، "فَقَالَ رَجُلٌ: وَاللهِ إِنَّ هٰذِهِ لَقِسْمَةٌ مَا عُدِلَ فِيهَا وَمَا أُرِيدَ فِيهَا وَجْهُ اللهِ" نو يو سړي ووېل: په الله قسم دې تقسيم کې انصاف ونه شو او نه د الله تعالی د رضا خيال پکې وساتل شو، "قَالَ فَقُلْتُ: وَاللهِ لَأُخْبِرَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: فَأَتَيْتُهُ فَأَخْبَرْتُهُ بِمَا قَالَ، قَالَ:" ما په زړه کې ووېل: والله! زه به دا خبره رسول الله ﷺ ته رسوم، نو زه راغلم رسول الله ﷺ ته مې دا خبره وکړه، "فَتَغَيَّرَ وَجْهُهُ حَتَّى كَانَ كَالصِّرْفِ" د رسول الله ﷺ د مخ مبارک رنګ بدل شو، داسې سور شو لکه د صرف رنګ، "ثُمَّ قَالَ: فَمَنْ يَعْدِلُ إِنْ لَمْ يَعْدِلِ اللهُ وَرَسُولُهُ" بيا يې وفرمايل چې الله تعالی او د هغه رسول الله ﷺ انصاف ونه کړو، نو څوک به انصاف کوي؟ "قَالَ: ثُمَّ قَالَ: «يَرْحَمُ اللهُ مُوسَى قَدْ أُوذِيَ بِأَكْثَرَ مِنْ هٰذَا فَصَبَرَ»" بيا يې وفرمايل: الله تعالی دې په موسی علیه السلام باندې رحمت نازل کړي، هغه ته زما څخه زيات تکليفونه ورکول شوي وو او هغه پرې صبر کړی وو، "قَالَ فَقُلْتُ: لَا جَرَمَ لَا أَرْفَعُ إِلَيْهِ بَعْدَهَا حَدِيثًا" ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي: (ددې خبرې نه پس) ما په زړه کې ووېل چې بيا به چېرته داسې خبره حضور ﷺ ته ونه رسوم. (بخاري او مسلم) "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَقَوْلُهُ: ((كَالصِّرْفِ)) هُوَ بِكَسْرِ الصَّادِ الْمُهْمَلَةِ: وَهُوَ صِبْغٌ أَحْمَرُ" (امام نووي رحمه الله فرمايي) دا لفظ د صرف د صاد په زېر سره دی، سور رنګ ته ويل کېږي

لغوي تحقيق:

آثر: "آثر إيثاراً" باب افعال، معنی يې ده: إکرام او عزت کول، بل ته په خپل ځان باندې ترجيح ورکول

القسمة: "قسم قسماً" باب ضرب يضرب، ددې معنی ده: تقسيم کول

أعطى: "أعطى إعطاءً" باب افعال، ددې معنی ده: ورکول، ورکړه

لاخبرن: ددې معنی ده: چاته خبر ورکول

يعدل: "عدل عدلاً" باب ضرب يضرب، ددې معنی ده: انصاف کول

لاجرم: ددې معنی ده: خامخا، هرو مرو

دوخت امام ته اختيار دى چې چا ته مال غنيمت زيات ورکوي:

تشريح: "وأعطى ناساً من أشراف العرب وآثرهم يومئذ في القسمة" د عربو ځيني سردارانو ته يې لږ زيات مال ورکړو، د وخت امام او خليفه ته دا حق حاصل دى چې هغه د حالاتو او ضروورياتو لحاظ ساتلو سره د غير مسلمو مشرانو ته د تاليف قلب په خاطر د نورو مسلمانانو نه لږ زيات مال ورکړي، دغه شان د حنين په غزا کې رسول الله ﷺ نوي مسلمان شوي قبائلو ته او د هغوى مشرانو ته د مال غنيمت په تقسيم کې د مخکې اسلام راوړونکې مهاجرو او انصار صحابه کرامو غازيانو نه زيات مال ورکړو او دا د تاليف قلوب په خاطر يې داسې کړي وو چې د دوى زړونه د اسلام سره ولګيږي، په يو حديث کې دي چې: "إني لأعطي الرجل وغيره أحب إلي منه مخافة أن يكبه الله في النار على وجهه"

"فقال رجل والله إن هذه قسمة" د دې نوم ذو الخويصرة وو او دا په اصل کې منافق وو.

نبي کريم ﷺ ته تکليف رسول موجب د قتل دي:

"ثم قال فمن يعدل إذا لم يعدل الله ورسوله، ثم قال يرحم الله موسى قد أوذي بأكثر من هذا فصبر" نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل چې الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ انصاف ونه کړي؛ نو بل داسې څوک به وي چې هغه انصاف وکړي، الله ﷻ دې په موسى عليه السلام باندې رحم وکړي، هغه ته زما څخه زيات تکليف رسول شوى وو، ليکن هغه بيا هم صبر وکړو، موسى عليه السلام ته چې کوم تکليفونه د دوى د قوم څخه ورته رسيدلي وو، هغه په قرآن کريم کې ذکر دي، "وإذ قال موسى لقومه لم تؤذونني وقد تعلمون أني رسول الله إليكم" او کله چې موسى عليه السلام خپل قوم ته وويل: اې زما قومه! تاسو ولې ماته تکليف راکوئ؟ حال دا چې تاسو په دې خبره پوهېږئ چې زه د الله ﷻ له طرفه تاسو ته راليږل شوى پېغمبر يم

په يو بل ځاى کې ارشاد دى چې د نبي کريم ﷺ امت ته هم په دې کې خطاب دى چې تاسو د موسى عليه السلام د قوم په څېر مه جوړېږئ کومو چې خپل پېغمبر ته ډير زيات تکليفونه رسولي وو، "قال الله تبارك وتعالى: يا أيها الذين آمنوا لا تكونوا كالذين آذوا موسى" دلته اوسني امت ته تنبيه ورکول کيږي چې تاسو د رسول الله ﷺ امت ته تکليف مه رسوئ، لکه څنګه چې د بني اسرائيلو موسى عليه السلام ته تکليفونه پيدا کول، دلته د دين پوهانو ليکلي دي چې پېغمبر ته تکليف رسول لکه څنګه چې د پېغمبر په ژوند کې د کفر عمل دى او دا سړى واجب القتل دى، دغه شان د پېغمبر د وفات نه وروسته هم دا عمل د کفر او دا سړى واجب القتل دى.

په مصيبتونو د صبر ثواب

۴۳- وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: **ترجمه**: او د انس ﷺ نه روايت دى فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "إِذَا أَرَادَ اللّٰهُ بِعَبْدِهِ خَيْرًا عَجَّلَ لَهُ الْعُقُوبَةَ فِي الدُّنْيَا" الله تعالى چې د خپل بنده سره د نېکۍ اراده وکړي نو هغه ته د غلطيو سزا په دنيا کې سمدستي ورکړي، "وَإِذَا أَرَادَ اللّٰهُ بِعَبْدِهِ الشَّرَّ أَمْسَكَ عَنْهُ بِذَنْبِهِ" او چې د کوم بنده سره سختي کول غواړي د ګناهونو په سزا کې يې تاخير کوي، "حَتّٰى يُوَافِيَ بِهٖ يَوْمَ

الْقِيَامَةِ" تر دې چې د قيامت په ورځ پوره پوره سزا ورکړي، "وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" او رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې: "إِنَّ عِظَمَ الْجَزَاءِ مَعَ عِظَمِ الْبَلَاءِ" د اجر زياتوالى د تکليف په زياتوالي سره دى، "وَإِنَّ اللّٰهَ تَعَالَى إِذَا أَحَبَّ قَوْمًا ابْتَلَاهُمْ" او رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د الله تعالى چې چا سره مينه وي، تکليف پرې راولي "فَمَنْ رَضِيَ فَلَهُ الرِّضَا" نو څوک چې دا تکليف برداشت کړي، الله تعالى ترې راضي شي، "وَمَنْ سَخِطَ فَلَهُ السَّخَطُ" "رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيثٌ حَسَنٌ" او څوک چې ورباندې خفه شي الله تعالى ورته په غضب شي، ترمذي دې ته حديث حسن ويلى دى.

لغوي تحقيق:

عجل: "عجل عجلاً" باب سمع يسمع، ددې معنى ده: تيزي کول.

العقوبة: "العقاب والمعاقبة" ددې معنى ده: بدله او جزاء ورکول

أمسك: "أمسك إمساكاً" باب کرم يکرم، ددې معنى ده: د پټك (مشکيزې) اوبه غورځيدو نه پرهېزول، د باب ضرب يضرب نه په معنى د خان يو شي پورې نښلولو سره.

عظم: "عظم عظاماً او عظامة" باب کرم يکرم، په معنى د غټيدو سره راځي

سخط: "سخط سخطاً" باب سمع يسمع، معنى يې ده: غوسه کېدل

کله چې د الله ﷻ له لورې امتحان راشي؛ نو استغفار ويل پکار دي:

تشريح: "إذا أراد الله بعبده الخير" کله چې الله ﷻ د کوم بنده سره د خير اراده ولري؛ نو په دنيا کې هغه ته په تيزۍ سره سزا ورکړي، دا حديث هر مسلمان ته يو لوى سبق ښيي چې کله هم بنده په کوم تکليف، مصيبت باندې اخته شي نو بايد په خپلو عملونو باندې يو نظر واچوي، که خداى مه کړه کومه ګناه کې مبتلاء وي؛ نو بايد سمدستي هغه ګناه پرېږدي او توبه وباسي، که چېرته يې د کوم مسلمان حق لاندې کړى وي بايد د هغه حق اداء کړي، زياتي لا دا چې په دې تکليف او مصيبت باندې بايد صبر وکړي، داسې فکر وکړي که زه هغه ذات باري تعالى په دې دنيا کې معمولي تکليف کې مبتلاء کړم او د آخرت د لوى عذاب څخه يې وساتلم او که د فکر وروسته يې کومه ګناه په نظر رانشي نو بيا هم بايد استغفار ووايي، ځکه چې کېدى شي په کومه غلطۍ کې اخته وي چې هغه ورباندې نه پوهيږي، ځکه چې ډير داسې ګناهونه شته چې موږ ته پته هم نه وي او بيا هم موږ پکې اخته يو.

بله دا چې په دې حديث کې دې طرفته هم اشاره ده چې کله هم مصيبت راشي نو د جزع - فزع شکوې - شکايتونو پر ځاى بايد توبه او صبر وکړي، ځکه چې د دنيا فاني تکليف د آخرت د ستر عذاب څخه د بچ کېدو ذريعه جوړيږي او که کوم بنده په تکليف باندې راضي نه شي؛ نو په تکليف کې هسې هم راګير دى، ورسره دا چې دا بې صبري به د الله ﷻ د ناراضى سبب هم وګرځي، نو ځکه په دې فاني تکليفونو باندې راضي کېدل پکار دي چې د آخرت هغه ستر عذاب څخه خلاص شو.

ام سليم رضي الله عنها ته د بچي په مرګ صبر کولو لويه بدله

۴۴ - وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: ترجمه: د انس رضي الله عنه نه روايت دى، فرمايي: كَانَ ابْنٌ لِأَبِي طَلْحَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَشْتَكِي، د ابو طلحه رضي الله عنه يو هلك بيمار وو، فَخَرَجَ أَبُو طَلْحَةَ فَقُبِضَ الصَّبِيُّ ابو طلحه رضي الله عنه په څه کار پسې ووتلو او زوى يې وفات شو، فَلَمَّا رَجَعَ أَبُو طَلْحَةَ قَالَ: مَا فَعَلَ ابْنِي، چې هغه را واپس شو پوښتنه يې وکړه چې هلك څنګه دى؟ "قَالَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ: هُوَ أَسْكَنُ مَا كَانَ" د هلك مور أم سليم ورته ويل د مخکې نه په آرام دى، "فَقَرَّبَتْ إِلَيْهِ الْعَشَاءَ فَتَعَشَّى، ثُمَّ أَصَابَ مِنْهَا" بيا يې ورته د ماښام ډوډۍ کېښوده چې هغه ډوډۍ وخوړل بيا يې د خپلې مېرمنې سره کوروالى وکړو، "فَلَمَّا فَرَغَ قَالَتْ: وَارُوا الصَّبِيَّ" کله چې وزګار شو نو هغې ورته وويل: هغه هلك وفات شوى دى، د دفن کولو فکر يې وکړه، "فَلَمَّا أَصْبَحَ أَبُو طَلْحَةَ أَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ" چې سهار شو نو ابو طلحه رضي الله عنه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او ټوله کيسه يې ورته وکړه، "فَقَالَ: «أَعْرَسْتُمُ اللَّيْلَةَ؟» قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: «اللَّهُمَّ بَارِكْ لَهُمَا» فَوَلَدَتْ غُلَامًا" رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو بېګاه کوروالى کړى وو؟ هغه وويل: هو اى نبي کريم ﷺ وفرمايل: الله تعالى دې پکې برکت واچوي نو هلك يې وشو، "فَقَالَ لِي أَبُو طَلْحَةَ احْمِلْهُ حَتَّى تَأْتِيَ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَعَثَ مَعَهُ بِتَمَرَاتٍ" (انس رضي الله عنه فرمايي) ابوطلحه رضي الله عنه ماته وويل: دا هلك د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر کړه. ورسره يې يو څو خورما راکړې، ما د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر کړو، "فَقَالَ: أَمَعَهُ شَيْءٌ؟ قَالَ: نَعَمْ تَمَرَاتٌ" نو نبي کريم ﷺ پوښتنه وکړه: څه ورسره شته؟ هغه ورته وويل: هو يو څو خورما شته، "فَأَخَذَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَضَغَهَا، ثُمَّ أَخَذَهَا مِنْ فِيهِ، فَجَعَلَهَا فِي فِي الصَّبِيِّ وَحَنَّكَهُ بِهِ، وَسَمَّاهُ عَبْدَ اللهِ" رسول الله ﷺ هغه واخيستې، يوه خورما يې ترې په خوله مبارکه کې وژووله، بيا يې د خولې نه راوويسته، ماشوم ته يې په خوله کې واچول، دا يې لومړى خوراك شو او عبدالله نوم يې پرې کېښود، "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ" وَفِي رِوَايَةِ الْبُخَارِيِّ: قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ: فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ: فَرَأَيْتُ تِسْعَةَ أَوْلَادٍ كُلُّهُمْ قَدْ قَرَءُوا الْقُرْآنَ، يَعْنِي: مِنْ أَوْلَادِ عَبْدِ اللهِ الْمَوْلُودِ" ددې حديث راوي عُيينه فرمايي: ماته يو انصاري صحابي وويل: ما ددې نوموړود عبدالله په اولاد کې نهه کسان ليدلي دي چې ټول د قرآن کريم عالمان وو، وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: "مَاتَ ابْنٌ لِأَبِي طَلْحَةَ مِنْ أُمِّ سُلَيْمٍ" په يو روايت کې دي د ابوطلحه رضي الله عنه يو زوى د أُم سليم نه مړ شوى و، "فَقَالَتْ لِأَهْلِهَا: لَا تُحَدِّثُوا أَبَا طَلْحَةَ بِابْنِهِ حَتَّى أَكُونَ أَنَا أُحَدِّثُهُ" هغې د کور نورو خلکو ته وويل: تاسو ابوطلحه رضي الله عنه ته د هلك حال مه وايئ چې زه يې ورته خپله ووايم، "فَجَاءَ فَقَرَّبَتْ إِلَيْهِ عَشَاءً فَأَكَلَ وَشَرِبَ، ثُمَّ تَصَنَّعَتْ لَهُ أَحْسَنَ مَا كَانَتْ تَصَنَّعُ قَبْلَ ذَلِكَ" کله چې ابو طلحه رضي الله عنه کور ته راغلو، هغې ورته د ماښام ډوډۍ کېښوده، هغه ډوډۍ وخوړل اوبه يې وڅښلې، بيا يې خان ورته تيار کړو څنګه چې به يې نور کله خپل خان تيارولو، "فَوَقَعَ بِهَا، فَلَمَّا أَنْ رَأَتْ أَنَّهُ قَدْ شَبِعَ وَأَصَابَ مِنْهَا" نو هغه ورسره کوروالى وکړو چې کله يې خپل کار وکړو، زړه يې موړ شو، "قَالَتْ: " نو دې ورته وويل: "يَا أَبَا طَلْحَةَ أَرَأَيْتَ لَوْ أَنَّ قَوْمًا أَعَارُوا عَارِيَتَهُمْ أَهْلَ بَيْتٍ فَطَلَبُوا عَارِيَتَهُمْ، أَلَهُمْ أَنْ يَمْنَعُوهُمْ؟ قَالَ: لَا" اى ابو طلحه رضي الله عنه! که يو کور ته څوك څه شى سوالي ورکړي او بيا يې ترې وغواړي نو آيا هغو خلکو ته جائز دي چې ترې منع يې کړي، "فَقَالَتْ: فَاحْتَسِبِ ابْنَكَ قَالَ: فَغَضِبَ ثُمَّ قَالَ: تَرَكْتِنِي حَتَّى إِذَا تَلَطَّخْتُ ثُمَّ أَخْبَرْتِنِي بِابْنِي" هغه ورته وويل: نه! بيا دې ورته وويل: ښه نو د خپل زوى په حق کې

د الله تعالى نه د اجر طمع وساته، هغه غوسه شو، ورته يې وويل: دومره دې غږ نه کولو چې ما خو به جماع کنده کړو، نو اوس دې راته وويل؟ "فَانْطَلَقَ حَتَّى أَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَهُ بِمَا كَانَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "بَارَكَ اللهُ فِي لَيْلَتِكُمَا" بيا چې سهار شو، د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او ټول حال يې ورته ووېلو، نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل: الله تعالى دې ستاسو په دې شپه کې برکت واچوي، "قَالَ فَحَمَلَتْ، قَالَ: وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ وَهِيَ مَعَهُ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَتَى الْمَدِينَةَ مِنْ سَفَرٍ لَا يَطْرُقُهَا طُرُوقًا فَدَنَوْا مِنَ الْمَدِينَةِ" هغه وايي چې أم سلم رضي الله عنها حامله شوه او نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ په سفر وتلى وو، (ابو طلحه رضي الله عنه) او أم سلم رضي الله عنها هم ورسره وو، نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ چې به د سفر نه واپس کېدو نو د شپې به کلي ته نه داخل شو، (تر سهاره به يې انتظار کولو) "فَضَرَبَهَا الْمَخَاضُ" چې مديني ته رانژدې شو، نو أم سليم رضي الله عنها باندې د بچي پيدا کېدو درد راغلو، "فَاحْتَبَسَ عَلَيْهَا أَبُو طَلْحَةَ وَانْطَلَقَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" نو ابو طلحه رضي الله عنه هغې ته ايسار شو او رسول الله ﷺ ترې مخکې روان شو، "قَالَ: يَقُولُ أَبُو طَلْحَةَ إِنَّكَ لَتَعْلَمُ يَا رَبِّ أَنَّهُ يُعْجِبُنِي أَنْ أَخْرُجَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَرَجَ وَأَدْخُلَ مَعَهُ إِذَا دَخَلَ وَقَدِ احْتَبَسْتُ بِمَا تَرَى" (انس رضي الله عنه وايي) ابو طلحه رضي الله عنه به ويل اې الله جل جلاله! ته ښه خبر يې چې زما دا خوښه وې چې د رسول الله ﷺ سره په سفر روان شم او ورسره واپس راشم، ته وينې چې دې ښځې ايسار کړم، "تَقُولُ أُمُّ سُلَيْمٍ: يَا أَبَا طَلْحَةَ مَا أَجِدُ الَّذِي كُنْتُ أَجِدُ، انْطَلِقْ" أم سليم رضي الله عنها ورته ووېل: اې ابو طلحه رضي الله عنه! ما ته اوس د هر تکليف نشته (مونږ هم د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره تلى شو) "فَانْطَلَقْنَا وَضَرَبَهَا الْمَخَاضُ حِينَ قَدِمَا فَوَلَدَتْ غُلَامًا" نو مونږ ورسره روان شو، کله چې مديني ته ورسېدلو، بيا ورباندې درد راغلو او هلك يې وشو، "فَقَالَتْ لِي أُمِّي: يَا أَنَسُ لَا يُرْضِعُهُ أَحَدٌ تَغْدُوَ بِهِ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" (انس رضي الله عنه وايي) ماته مور ووېل - دې هلك ته دې څوك څه نه ورکوي چې سهار يې د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر کړې، "فَلَمَّا أَصْبَحَ احْتَمَلْتُهُ فَانْطَلَقْتُ بِهِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَذَكَرَ تَمَامَ الْحَدِيثِ" چې سهار شو ما د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر کړو. وړاندې نور حديث د مخکې روايت په شان دى.

لغوي تحقيق:

فقبض: قبض قبضاً، باب ضرب يضرب، ددې معنى ده: کوم شى د لاس په ګوتو کې نيول، د جديد لغت مطابق د موټر سيکل قبضه يا هينډل، د سايکل تولې ته هم ويلى شي.

العشاء: عشي تعشية ددې معنى ده: د ماښام ډوډى.

اعرستم: عرس عرساً، باب سمع يسمع، ددې معنى ده: په چا پورې نښتل، نيول، محبت کول، ليکن دلته د جماع څخه کنايه ده.

فمضغها: مضغ مضغاً، باب فتح يفتح او نصر ينصر، ددې معنى ده: ژوول لکه سرې چې جاوله ژوې.

حنكه: حنك ددې معنى ده: يو شى په خوله کې ژوول او نرم کول، باب ضرب يضرب دى او د نصر ينصر څخه په معنى: د زمانې نه تجربې حاصلولو ته وايي، او تحنك د پګړې او لنګوټې يو سر د زنې لاندې راوستلو سره تړلو ته وايي

تلطخت:لطخ لطخا، باب فتح يفتح، ددې معنى ده: يو شى مرل او ګنده كول

تشريح "قالت أم سليم رضي الله عنها وهو أسكن ماكان فقربت اليه العشاء فتغشى ثم أصاب منها" ام سليم رضي الله عنها وويل چې هغه ماشوم د اول څخه اوس ډېر ښه دى، په قلار دى، ام سليم رضي الله عنها د ماښام ډوډى تياره كړه، د هغه مخامخ يې كېښوده، هغه په مړه خيټه ډوډى وخوړل او بيا يې د شپې ورسره جماع، كوروالى وكړو.

دام سليم رضي الله عنها صبر:

په دې حديث كې د ام سليم انصاريه رضي الله عنها د صبر او خپل خاوندسره د وفادارى يو اوچت مثال بيان شوى دى، ماشوم وفات شي او هغه هم نارينه ماشوم، دډېره ورانديې هم يو ماشوم وفات شوى وو، د هغه نوم عمير و، بيا د مور مينه د خپلو بچيانو سره څومره زياته وي، ددې لسمه حصه هم د پلار سره نه وي، دا ټول هغه شيان دي چې انسان يې نه شي بيانولى، ليكن بيا هم ام سليم رضي الله عنها په خپله زړه باندې ډېره كېښوده او خپل خاوند يې په دې مسئله خبر نه كړو، بل طرف د خاوند سره وفادارې وګوره، كه خاوند يې خبر كړى واى، نو معلومه خبره ده چې هغه به تر څو ورځو پورې خوراك او څښاک پرېښودلو، شپه اوورځ به بې آرامه وو، ددې سره بيا هم ام سليم رضي الله عنها په خپل زړه غټ سندان كېښود، د صبر څخه يې كار واخيستلو، خاوند ته يې ځان په تكلف سره ښايسته كړو، د خپل طرف څخه يې ورته د طبعي خواهش اظهار وكړو، دا ټولې هغه خبرې دي چې د ام سليم رضي الله عنها د خدا پرستئ او د خاوند سره په وفادارى باندې دلالت كوي، شريعت يې ژوندى مثال وړاندې كوي چې ښځه بايد همداسې وي، نه دا چې ښځه د خاوند كور ته داخله شي او تندى يې تريو وي، د خاوند كور ته راتلل د ځان لپاره يو مصيبت وګڼي.

تحنيك سنت دى:

ثم حنكه: هغه ته يې تحنيك وكړو، د هغه نوم يې عبدالله كېښود، تحنيك ديته وايي چې خورما وژوېي، نرمه يې كړي، بيا يې د ماشوم په خوله كې تاو راتاو كړي، په شريعت كې ددې عمل ډير زيات اهميت بيان شوى دى، د حديثو په كتابونو كې د تحنيك ډيرې زياتې واقعې راغلي دي چې د هغې څخه معلوميږي چې صحابه كرامو رضي الله عنهم به خپل بچيان د نبي كريم ﷺ په خدمت كې حاضر كړل، نبي كريم ﷺ به ورته د بركت دعاء هم وكړه او تحنيك به يې هم ورته وكړو، امام نووي رحمه الله فرمايي چې ماشوم بايد ديندار او متدين عالم ته يوړل شي چې د هغه لپاره د خير او بركت دعاء وكړي او كومه خورما وغيره ددې ماشوم په خوله كې اچول پكار دي، كه خورما نه وي بايد چې شيريني شهد وغيره راوړل شي او تحنيك ورته وكړل شي، عموما خلكو دا سنت پرېښودلى دى.

نبي كريم ﷺ هغه بچي ته د عبد الله نوم كېښود، په يو بل روايت كې دي چې راوي يې عبد الله بن عمر رضي الله عنهما دى، فرمايي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل: "أحب الأسماء إلى الله عبدالله وعبدالرحمن" غوره او الله ﷻ ته خوښ نومونه عبدالله او عبد الرحمن دي.

د ښځې لپاره خپل خاوند ته سنګار جائز دی:

"ثم تصنعت له أحسن ماكانت تصنع قبل ذالك" بیا ام سليم رضي الله عنها د مخکې څخه ډیره زیاته په ډول او سنګار کې خپل خاوند ته راغله، ددېنه معلومه شوه چې ښځه خپل خاوند ته ډول او سنګار کولی شي خو په شرط ددې چې غير محرم یې ونه ګوري، دا ډول او سنګار بالکل داسې به هم نه وي چې مکمل مخ حليه یې بدله شي کوم چې بيا په تغير خلق الله کې راځي، دغه ډول او سنګار به بيا د کفارو په څېر هم نه وي، ځکه چې په يو روايت کې دي چې: "ليس منا من تشبه لغيرنا لا تشبهوا باليهود ولا بالنصارى" دغه شان ډول او سنګار به د سړو په شان نه وي، ځکه چې رسول الله ﷺ په داسې ښځو لعنت ويلی دی چې د سړو په شان ځانونه جوړوي، "لعن رسول الله ﷺ المتشبهات بالرجال من النساء والمتشبهين بالنساء من الرجال".

ښځو به هم جهاد کولو:

"وكان رسول اللّه ﷺ في سفر وهي معه" نبي کريم ﷺ په يو سفر روان وو چې ام سليم رضي الله عنها هم د خپل خاوند ابو طلحه رضي الله عنه سره وه، ددېنه معلومه شوه چې صحابياتې به هم د رسول الله ﷺ سره جهاد ته تللې، ليکن د دوی کار دا وو چې زخميانو ته به يې پټۍ او دارو درمل کول، هغوی ته به يې اوبه ورکوې، امام ترمذي رحمه الله په دې وجه يو باب تړلی دی چې: "باب ماجاء في خروج النساء في الحرب" د ښځو لپاره جهاد ته تلل، ددېنه وروسته يې دا روايت رانقل کړی دی. "عن أنس رضي الله عنه قال كان رسول اللّه ﷺ يغزو بأم سليم رضي الله عنها ونسوة معها من الأنصار ليستقين الماء ويداوين الجرحى" ترجمه: د انس رضي الله عنه څخه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ به ام سليم رضي الله عنها د يو څو نورو ښځو په شمول له ځان سره جهاد ته بوتللې، ددې لپاره چې زخميانو ته اوبه ورکړي او د دوی مرحم پټي وکړي

خپله غوسه خوړل او صبر کول:

۴۵- وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ترجمه: د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي «لَيْسَ الشَّدِيْدُ بِالصُّرَعَةِ»: پرزولو کې مېړنی بهادر نه دی، "إِنَّمَا الشَّدِيْدُ الَّذِيْ يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الْغَضَبِ" بهادر هغه دی چې د غوسې په حالت کې ځان ايسار کړي، (بخاري او مسلم) مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ "وَالصُّرَعَةُ" بِضَمِّ الصَّادِ وَفَتْحِ الرَّاءِ وَأَصْلُهُ عِنْدَ الْعَرَبِ مَنْ يَصْرَعُ النَّاسَ كَثِيْرًا" لفظ د "الصرعة" په صاد باندې پېښ او په (ر) باندې زبر دی، ددې اصل په عربو کې دا دی چې کوم خلك ډېر زيات راپورزولي وي

لغوي تحقيق:

الشديد: "شد شدة" باب ضرب يضرب، ددې معنى ده: پهلوان، د "الشديد" لفظ ډيرې معناګانې دي: بهادر، مضبوط، اوچت، بخيل، زمرى، ددې جمع أشداء او شداد او شدود راځي

الصرعة: "صرع صرعا" باب فتح يفتح، ددې معنى ده : په ځمکه راغورځول، "الصرعة" هغه پهلوان چې خلك زيات راغورځوي

يملك: ددې معنى ده: خپل ځان او نفس د غوسې څخه بندول.

پهلوان هغه دی چې غوسه بنده کړي:

تشريح: "ليس الشديد بالصرعة" طاقتور هغه نه دی چې خلك راځملوي، په دې حديث کې دې ته اشاره ده چې بهادري او شجاعت په دې کې نه دی چې ستا بدن دې مضبوط او چاغ وي، شجاعت او بهادري په دې کې ده چې انسان خپل نفس په قابو کې راولي، د هغه پته هلته لګيږي چې انتهايي غوسه وي، دومره غرسه وي چې خپله غوسه په هغه کس باندې سرولی هم شي، ليکن بيا هم خپل نفس په قابو کې کړي او غوسه تيره کړي نو داسې کس په حقيقت کې پهلوان او بهادر سړی دی، د دين پوهانو دا خبره کړې ده چې هر هغه کس چې خپل نفس د غوسې په حالت کې ايسار کړي، داسې کس د شريعت په نظر کې قدردان دی، ځکه چې ستا سره کوم کس مخامخ مقابله کوي، که پهلوان هم وي، خو دومره طاقتور نه وي، لکه څومره چې ستا نفس أماره طاقت والاوي، لکه په يو حديث کې هم دي: "أعدى عدوك نفسك التي بين جنبيك غصه" ستا په دښمنانو کې غټ دښمن هغه دی چې ستا سره دی، يعنې نفس، دغه نفس راځملول لويه پهلواني ده.

د غوسې علاج اعوذ بالله ويل دي

۴۲. "وَعَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ صُرَدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: كُنْتُ جَالِسًا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" **ترجمه:** د سليمان بن صُرَد رضي الله عنه نه روايت دی: وايي چې زه د رسول الله ﷺ سره ناست وم، "وَرَجُلَانِ يَسْتَبَّانِ وَأَحَدُهُمَا قَدِ احْمَرَّ وَجْهُهُ" د دوه کسانو خپلو کې جګړه شوه (يو بل ته يې بدي ردې وويل) د يو پکې مخ سور شو، "وَانْتَفَخَتْ أَوْدَاجُهُ" او د مرى رګونه يې راوپړسېدل، "فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنِّي لَأَعْلَمُ كَلِمَةً لَوْ قَالَهَا لَذَهَبَ عَنْهُ مَا يَجِدُ" نو حضور ﷺ وفرمايل: ماته يوه داسې کلمه معلومه ده، که دی هغه ووايي نو داحالت به يې ختم شي، "لَوْ قَالَ: أَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ ذَهَبَ عَنْهُ مَا يَجِدُ" که هغه وويل: ((أَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ)) نو دا حالت به يې ختم شي، "فَقَالُوا لَهُ: إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: تَعَوَّذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. خلکو ته هغه وويل: چې رسول الله ﷺ فرمايي: "أَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ" ووايه. (بخاري او مسلم)

لغوي تحقيق:

إنتفخت: "نفخ نفخاً" باب نصر ينصر، معنى يې ده: پړسېدل.

أوداجه: "ودج ودجاً" باب ضرب يضرب، ددې معنى ده: د څټ رګونه.

تعوذ: "عاذ عوذاً" باب نصر ينصر، ددې معنى ده: په الله ﷻ سره پناه غوښتل.

غوسه شيطاني وسوسه ده:

تشريح: "لوقال أعوذ بالله من الشيطن الرجيم ذهب منه مايجد" که دا کس "أعوذ بالله من الشيطن الرجيم" ووايي، نو ددې ځخه به دغه د غوسې حالت ختم شي، په غوسه کې شيطان په سړي باندې مسلط وي، ځکه په يو بل روايت کې هم دي: چې غوسه د اور يوه شغله ده، په تاسو کې چې چاته هم غوسه ورشي؛ نو که ولاړ وي

بايد کيني او که ناست وي نو بايد څملي، په غوسه کې د شيطان مقصدونه پوره کيږي، ځکه په شريعت کې داسې ځايونو کې د شيطان رټل شوي نه په الله ﷻ سره پناه غوښتل پکار ده، ملا علي قاري رحمه الله فرمايي چې که په تعوذ سره هم غوسه ختمه نه شي، نو بايد چې اودس وکړي، که په دې سره هم نه ځي نو دوه رکعته نفل دې وکړي، ځکه چې دا يوه حربي دوا ده، کومه چې په شيطان باندې ډيره سخته لګيږي.

د غوسې علاج:

په احاديثو کې د غوسې دوه قسمه علاج ښودل شوي دي، يو ظاهري او دويم باطني ظاهري علاج دا دی چې اودس دې وکړي، "إن الغضب من الشيطان وإن الشيطان خلق من النار، وإنما تطفأ النار بالماء فإذا غضب أحدكم فليتوضأ" ترجمه: غوسه د شيطان د اثر نتيجه ده او شيطان د اور څخه پيدا دی، اور صرف په اوبو مړ کيږي، کوم کس ته چې غوسه راشي هغه ته پکار ده چې اودس وکړي، په يو بل حديث کې دي چې "أعوذ بالله من الشيطان الرجيم" دې ووايي، په ځينو روايتونو کې دي چې که ولاړ وي نو کښيني به، که ناست وي نو پورته دې شي، لکه په يو روايت کې چې دي: "إذا غضب أحدكم وهو قائم فليجلس فإن ذهب عنه الغضب وإلا فليضطجع" که په تاسو کې کوم کس ته غوسه راشي او هغه ولاړ وي؛ نو کښيني به، که غوسه ترې لاړه شي، خو ښه خبره ده او که داسې نه وي نو بيا دې څملي.

باطني علاج دا دی چې الله ﷻ مطلق قادر ذات دی، د هغه غوسه به څومره سخته وي، هغه د خپلو بندګانو غټې غټې ګناهونه معاف کوي او زه قادر مطلق هم نه يم او نه خالق او مالک يم، نو بيا ولې دومره په معمولي خبره غوسه شم، دويم تصور دې دا وکړي چې په قسمت کې ماته څه ليکل شوي دي هغه به ماته را رسيږي، کله چې انسان داسې تصور وکړي نو په دې سره هم تر ډيره حده غوسه ختميږي.

د راوي سليمان بن صرد رضي الله عنه مختصر حالات:

اصل نوم يې سليمان رضي الله عنه دی، کنيت يې ابو معرف دی، د پلار نوم يې صرد بن جون وو، د مکې د فتحې نه مخکې مسلمان شوی وو، د جاهليت په زمانه کې يې نوم يسار وو، نبي کريم ﷺ ورته نوم بدل کړ او سليمان يې ورته کېښود، د اسلام وروسته يې ټول ژوند د نبي کريم ﷺ په خدمت کې تېر کړو، د صفين په جنګ کې يې د علي رضي الله عنه ملا تړلې وه، په دې جنګ کې زخمي شو، په کوفه کې يې د حسين رضي الله عنه حمايت کولو، حسين رضي الله عنه ته د بلنې خطونه د هغه په کور کې ليکل کېدل، د کربلا واقعه چې کله پېښه شوه؛ نو هغه ورباندې ډېر سخت خفه وو، دا يو عجيبه اتفاق وو چې د بلنې باوجود يې د حسين رضي الله عنه مرسته ونه کړی شوه.

د حسين رضي الله عنه بدلې اخيستلو لپاره يې څلور زره ځوانان له ځان سره کړل او د مروان بن حکم له پوځيانو سره يې جنګ وکړو، تردې چې په دې جنګ کې شهيد شو، دده سر يې د بدن څخه جدا کړو، د مروان بن حکم په وړاندې يې کېښودلو، په دې وخت کې دده عمر ۹۳ کاله وو، د رواياتو شمېر يې ۱۵ ته رسيږي، صرف په دې يو حديث باندې يې امام بخاري رحمه الله او امام مسلم رحمه الله اتفاق کړی دی، دده نه علاوه نور هم روايتونه شته په سنن کې څلور دي او نور روايتونه يې په باقي کتابونو کې موجود دي

د غوسې په بندولو باندې انعام

۴۷- وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ترجمه: د معاذ بن انس ﷺ نه روايت دى چې رسول الله ﷺ فرمايي: "مَنْ كَظَمَ غَيْظًا، وَهُوَ قَادِرٌ عَلَى أَنْ يُنْفِذَهُ": چې چا غوسه وخوړل، په داسې حال کې چې د غوسې ويستلو طاقت يې درلود، "دَعَاهُ اللّٰهُ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى عَلَى رُؤُوسِ الْخَلَائِقِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" الله تعالى به يې د قيامت په ورځ د ټول مخلوق په مخکې را وبلي، "حَتَّى يُخَيِّرَهُ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ مَا شَاءَ" رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيثٌ حَسَنٌ" او اختيار به ورکړي څومره ښايسته حورې چې يې خوښيږي. (ابوداؤد، ترمذي

لغوي تحقيق:

كظم: "كظم كظوماً" باب سمع يسمع، ددې معنى ده: غوسه تيرول.

ينفذ: "نفذ نفذاً او نفوذاً" باب نصر ينصر، ددې معنى ده: کار سر ته رسول، پوره کول.

النافذ: صيغه د اسم فاعل ده، هر کار سر ته رسول او پوره کول

رؤوس: "الراس" يې مفرد دى، ددې معنى ده: د خلکو سر، "ارؤس او اراس" ډيرې معناګانې لري، د ټولو نه اوچت ځاى، "راس الشهر او العام" د مياشتې يا د کار اولنى ورځ، "راس الجلسة" د جلسې صدارت او مشري کول.

د غوسې په بندولو باندې انعام:

تشريح: په بل حديث کې دي چې: "من كظم غيظًا وهو يقدر على إنفاذه ملاء الله تعالى قلبه أمناً وإيماناً" کوم کس چې غوسه قابو کړي، سره له دې چې د غوسې په نافذولو باندې قادر هم وي، نو الله ﷻ به دده زړه له ايمان او سکون څخه ډک کړي، "على رؤوس الخلائق يوم القيامة حتى يخيره من الحور العين ماشاء" د ټولو خلکو په وړاندې به راوستل شي او هغه ته به اختيار ورکړل شي په غټو سترګو والا حورو کې چې يې څومره خوښې شي د هغې مالک به وګرځول شي، په دې حديث کې د غوسه څښونکي سره د انعام وعده شوې ده، کومه غوسه چې: "جنون ساعة" د لږ وخت لپاره وي، دغه عارضي لېونتوب که په خپل قابو کې راولي او د الله ﷻ حکم پر ځاى کړي؛ نو د الله ﷻ له طرفه به هغه ته دا انعام ورکړل شي چې په غټو سترګو والا حورو کې يې څومره حورې خوښې وي هغه ته به ورکول شي.

د حور العين معنى:

"حور العين" د حور لغوي معنى د سمع يسمع له باب څخه په معنى د هغو سترګو چې کوم سپين ځاى وي هغه بيخي سپين او تور ځاى بيخي تور وي، داسې سترګې ډيرې ښايسته ښکاري، په ښايسته سترګو سره د ښځې ډول او ښايست جوړيږي، ځينو ويلي دي چې حور د باب نصر ينصر څخه شي، نو ددې معنى به داسې شي: په حيرانتيا سره يو شي ته کتل، مطلب دا چې څوک د جنت حوره ويني؛ نو هغه به حيرانه پاتې شي.

د راوي معاذ بن انس ﷺ مختصر حالات:

اصل نوم معاذ ﷺ دی، د پلار نوم يې انس دی، د جهني قبيلې سره تعلق لري، د مصر اوسيدونکی دی، د هغه څخه ډېرو خلکو روايتونه نقل کړي دي، ليکن په خانګړې توګه يې زدی سهيل ترې ډير روايتونه نقل کړي دي، روايتونه يې په مسند احمد، ابوداود، نسائي، ترمذي او ابن ماجه کې موجود دي، د مروياتو شمېر يې تر ۳۰ پورې رسيږي.

د غوسې څخه منع کېدل

۴۸- وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَوْصِنِيْ. ترجمه: د ابوهريره ﷺ نه روايت دی چې يو سړي رسول الله ﷺ ته عرض وکړو: ماته نصيحت وکړئ، قَالَ: «لَا تَغْضَبْ» فَرَدَّدَ مِرَارًا، قَالَ: «لَا تَغْضَبْ» رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: غوسه مه کوئ! هغه بيا پوښتنه تکرار کړه: رسول الله ﷺ ورته هر خل ويل: غوسه مه کوه! (بخاري شريف)

لغوي تحقيق:

أوصني: "أوصني أوصی" معنی يې ده: د يو شي وصيت کول، د کار کولو وعده کول

فردد: "رد ردا" باب نصر ينصر، ددې معنی ده: واپس راتلل، واپس کېدل

مرارا: مفرد يې مرةً راځي، معنی يې ده: يو ځل، په جديد لغت کې مرور ترافيک نه وايي

د نبي کريم ﷺ خاص وصيت چې غوسه مه کوه!

تشريح: "أوصني قال لا تغضب" ماته وصيت وکړئ! نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: غوسه مه کوه معلوميږي چې کوم کس پوښتنه کړې وه، هغه به ډېر زيات غوسه کېدلو، په دې وجه د هغه په حق کې مناسب او وصيت هم دا کيدی شو چې غوسه بايد ونه کړي، ځکه چې غوسه يو ډېر مذموم عادت دی، په غوسه کې انسان عام طور د شريعت د حدودو خيال نه ساتي، د شيطان حمله د غوسې په حالت کې چليږي، هغه په بل وخت کې دومره نه چليږي، هغه غوسه مذمومه ده چې په دنيوي معاملاتو کې وي يا د نفسانيت په وجه وي، که غوسه د الله ﷻ لپاره وي او د حق په بنياد وي يا دومره غوسه شي چې د حد څخه تجاوز ونه کړي، نو بيا داسې غوسه د کامل ايمان نخښه ده، بلکه دا چې ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چې په کوم انسان کې کومه غلطي وي بايد ددې غلطی احساس ورته وکړل شي او وار په وار هغه ته نصيحت وشي، ددې لپاره چې هغه ددې مذموم عادت څخه لاس واخلي

تکليفونه د ګناهونو کفاره ده

۴۹- وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ترجمه: د ابوهريره ﷺ نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "مَا يَزَالُ الْبَلَاءُ بِالْمُؤْمِنِ وَالْمُؤْمِنَةِ فِيْ نَفْسِهٖ وَوَلَدِهٖ وَمَالِهٖ" همېشه په مسلمان نر او ښځه

باندې په خپل ځان او اولاد او مال تکليفونه راځي، "حَتّٰى يَلْقَى اللّٰهَ تَعَالٰى وَمَا عَلَيْهِ خَطِيْئَةٌ" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ صَحِيْحٌ. تر دې چې د الله تعالى سره به يې ملاقات په داسې حالت کې وشي چې يوه ګناه به هم پرې پاتې نه وي، دا حديث ترمذي شريف روايت کړی دی او حديث حسن صحيح يې ورته ويلي دي

لغوي تحقيق:

البلاء: ددې معنی ده: مصيبت، تکليف، ازموېښت.

يلقى: "لقى لقاء ولقاءة" باب سمع يسمع، ددې معنى ده: ملاقات کول

د بچيانو او مال په ازموېښت سره ګناهونه معاف کيږي:

تشريح: "مايزال البلاء بالمؤمن والمؤمنة في نفسه وولده وماله حتى يلقى الله تعالى وما عليه خطيئة" **ترجمه**: د مسلمان سړي او ښځې په نفس، مال او بچيانو باندې مصيبتونه راځي، تر دې چې بيا د هغه ملاقات د الله ﷻ سره وشي او د هغه په بدن کې يوه ګناه هم پاتې نه وي، ددې مطلب دا دی چې د مسلمان سړي په مال او اولاد کې کمی يا تکليف راشي او هغه ورباندې صبر وکړي، په دې سره به د هغه ګناهونه معاف شي، په هر حال د الله ﷻ شکر اداء کول پکار دي چې که يو طرفته الله ﷻ درباندې تکليف راوستلو، نو بل طرفته يې د صبر توفيق هم درته نصيب کړو چې په نتيجه کې يې درته ګناهونه معاف کړل، بايد کوم مسلمان بنده چې د تکليف سره مخامخ شي، برابره خبره ده چې که په مال سره وي يا که په اولاد وغيره سره وي، صبر دي ورباندې وکړي، تکليف او مصيبتونه هسې هم ورباندې راغلي دي، په صبر سره به هغه ته انعام حاصل شي او ګناهونه به يې ورباندې معاف شي.

په قرآن کريم کې الله ﷻ فرمايي چې: "ونبلوكم بالشر والخير فتنة" موږ ستاسو په خير او شر دواړو کې امتحان اخلو، په بل ځای کې الله ﷻ فرمايي چې: "ليبلوكم أيكم أحسن عملاً" موږ تاسو پيدا کړئ ددې لپاره چې موږ ستاسو امتحان واخلو چې په تاسو کې کوم يو غوره او د شريعت مطابق عمل کوي، علماء کرام رحمهم الله فرمايي چې په صبر کولو سره صغيره ګناهونه معاف کيږي او کبيره ګناهونه په توبې سره معاف کيږي.

د عمر رضي الله عنه قرآني اتباع

٥٠- وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: «قَدِمَ عُيَيْنَةُ بْنُ حِصْنِ بْنِ حُذَيْفَةَ فَنَزَلَ عَلَى ابْنِ أَخِيْهِ الْحُرِّ بْنِ قَيْسٍ، وَكَانَ مِنَ النَّفَرِ الَّذِيْنَ يُدْنِيْهِمْ عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ» **ترجمه**: د عباس رضي الله عنه نه روايت دی چې عُيينه بن حصن مدينې ته راغلو او د خپل وراره حر بن قيس سره پاتې شو، حر بن قيس په هغو کسانو کې وو چې عمر رضي الله عنه به ځان ته رانژدې کولو، "وَكَانَ الْقُرَّاءُ أَصْحَابَ مَجَالِسِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَمُشَاوَرَتِهِ كُهُولًا كَانُوْا أَوْ شُبَّانًا" او د عمر رضي الله عنه په مجلس کې به د قرآن پاک عالمان ناست وو او هم د دوی نه يې مشوره اخسته، د بوډ عمر سړي به وو او که ځوان به وو، "فَقَالَ عُيَيْنَةُ لِابْنِ أَخِيْهِ: يَا ابْنَ أَخِيْ لَكَ وَجْهٌ عِنْدَ هٰذَا الْأَمِيْرِ، فَاسْتَأْذِنْ لِيْ عَلَيْهِ" عيينه خپل وراره ته وويل: اې وراره! دا امير ستا قدر کوي نو زما لپاره هم ترې د ملاقات اجازه واخله، "فَاسْتَأْذَنَ فَأَذِنَ لَهُ عُمَرُ" هغه ورته اجازه

وغوښتل او عمر ﷺ اجازه ورکړه، "فَلَمَّا دَخَلَ عَلَيْهِ قَالَ: هِيَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ" چې عُيينه ﷺ مجلس ته دننه شو، نو عمر ﷺ ته يې وويل: اې د خطاب زويه! "فَوَاللهِ مَا تُعْطِينَا الْجَزْلَ وَلَا تَحْكُمُ فِينَا بِالْعَدْلِ، فَغَضِبَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حَتَّى هَمَّ أَنْ يُوقِعَ بِهِ" ته خو موږ ته نه ډېر مال راکوې او نه زموږ فيصلې په انصاف سره کوې، په دې خبره عمر ﷺ ته ډېر قهر ورغلو تر دې چې وهلو ته يې راپاڅېدلو. "فَقَالَ لَهُ الْحُرُّ: يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ إِنَّ اللهَ تَعَالَى قَالَ لِنَبِيِّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ" خو حر بن قيس وويل: اې امير المؤمنين الله تعالى خپل حبيب ﷺ ته حکم کړی دی، معاف کول عادت کړه او د نيکۍ حکم کوه او جاهلانو ته توجه مه وايه: [الأعراف:۱۹۹] "وَإِنَّ هَذَا مِنَ الْجَاهِلِينَ" او دی هم جاهل دی، "وَاللهِ مَا جَاوَزَهَا عُمَرُ حِينَ تَلَاهَا، وَكَانَ وَقَّافًا عِنْدَ كِتَابِ اللهِ تَعَالَى" رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ، عُيينه ﷺ وايي: دې آيت اورېدو سره عمر ﷺ حرکت هم ونه کړو او هغه په قرآن دېر عمل کوونکی وو. (بخاري شريف)

لغوي تحقيق:

يدنيهم: "دنا دنواً" باب نصر ينصر، ددې معنى ده: نژدې کېدل، د باب سمع يسمع څخه په معنى د "دناً" سره راځي چې معنى يې ده: ردي او خسيس انسان.

مشاورته: "شاور مشاورة" باب مفاعله دی، ددې معنى ده: په خپل مينځ کې مشوره کول.

کهولاً: "کهل کهولاً" باب فتح يفتح، ددې معنى ده: ډېر زيات بوډا او سپين ږيری.

شباناً: "الشباب والشيبة" مصدر دی، معنى يې ده: د بلوغ څخه تر ديرش کلنۍ پورې زمانه.

الجزل: "أجزل العطاء" ددې معنى ده: چاته څه ورکول او ښه ورکول، د باب ضرب يضرب څخه په معنى د دوه ټکړې کېدو سره، د باب کرم يکرم څخه په معنى د مضبوط کېدو او پهلوان کېدو سره راځي.

تلاها: "تلا تلاوة" د باب نصر ينصر څخه، ددې معنى ده: لوستل او تلاوت کول.

امير ته مشوره ورکوونکي بايد اهل علم وي:

تشريح: "وکان القراء أصحاب مجلس عمر ﷺ" د عمر ﷺ مشيران به عالمان وو، دلته د اهل القراء نه مراد اهل علم دي چې د قرآن کريم او د حديثو د معناګانو، ناسخ منسوخ، حلال حرام وغيره څخه خبر وي، د خلفاء راشدينو ﷺ مشيران به اهل علم وو، ددېنه معلومه شوه چې اميرانو ته پکار ده چې خپل مشيران عالمان او شعور والا وساتي، په دې کې د عمر هيڅ قيد نشته، بوډا وي او که ځوان وي، خو شرط دا دی چې علم او تقوی به پکې وي.

عمر ﷺ ته چې به د قرآن کريم ايت تلاوت شو، نو غوسه به يې ختمه شوه:

"فغضب عمر ﷺ حتى هم أن يوقع به" عمر ﷺ دومره غوسه شو چې نژدې يې هغه وهلی ؤ، کله چې عيينه بن حصن په عمر ﷺ باندې الزام ولګولو چې تاسو زموږ سره عدل او انصاف نه کوئ، په دې خبره عمر ﷺ ډېر سخت غوسه شو، ليکن کله چې د عيينه بن حصن وراره د قرآن کريم آيت تلاوت کړو

"خذ العفو وأمر بالعرف وأعرض عن الجاهلين" نو سمدستي د عمر رضي الله عنه غوسه ختمه شوه، ددېنه معلومه شوه چې انسان څومره لوی وي دومره به صبر او تحمل هم کوي، بله دا چې د حق په قبلولو کې به هيڅ ټال متول نه کوي بلکې سمدستي دي قبول کړي.

امام جعفر صادق رحمه الله ددې آيت په باره کې فرمايي چې الله جل جلاله خپل پيغمبر ﷺ ته د ښکلي اخلاقو اختيارولو حکم کړی دی، په قرآن کريم کې ددې آيت نه پرته بل کوم آيت د مکارم اخلاق جامع نشته، علماء کرام رحمهم الله فرمايي چې د عمر رضي الله عنه عادت دا وو چې کله به هم غوسه شو او د هغه په وړاندې به چا هم د قرآن کريم آيت تلاوت کړو، نو خاې پر خاې به يې غوسه ختمه شوه.

د اميرانو په ظلم د صبر کولو تلقين

۵۱- وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ **ترجمه:** د ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «إِنَّهَا سَتَكُوْنُ بَعْدِيْ أَثَرَةٌ وَأُمُوْرٌ تُنْكِرُوْنَهَا» د ېر زر به زما نه وروسته حقونه ووهل شي او داسې کارونه به وشي چې ستاسو به خوښ نه وي، «قَالُوْا: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ فَمَا تَأْمُرُنَا» اصحابو رضي الله عنهم وويل: (چې داسې وخت کې) زمونږ لپاره څه حکم وي؟ قَالَ: «تُؤَدُّوْنَ الْحَقَّ الَّذِيْ عَلَيْكُمْ وَتَسْأَلُوْنَ اللّٰهَ الَّذِيْ لَكُمْ» رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو باندې چې د چا حق وي تاسو به يې ادا کوئ او خپل حق د الله تعالی څخه وغواړئ (يعنې صبر کوئ) مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. "وَالْأَثَرَةُ": اَلْإِنْفِرَادُ بِالشَّيْءِ عَمَّنْ لَهُ فِيْهِ حَقٌّ. آثره: په حق لرونکي (حقدار) بل بنده ته ترجيح ورکول.

لغوي تحقيق:

أثرة:الأثرة معنی ده : د نورو خلکو په مقابل کې ځان ته ښه شی خوښول، خپل خاتته په بل کس باندې ترجيح ورکول.

«ستكون بعدي أثرة» زما نه وروسته به داسې خلك پيدا شي چې خپلو ځانونو ته به په نورو خلکو باندې ترجيح ورکوي، رسول الله ﷺ په دې حديث کې خپل امت ته خطاب کړی دی چې که زما نه وروسته چېرته داسې مشران پيدا شي چې ستاسو جائز حقونه نه ادا کوي او په تاسو باندې خپلو خپلوانو ته ترجيح ورکوي؛ نو په داسې حال کې تاسو صبر وکړئ، په يو بل روايت کې دي چې: "إنكم سترون بعدي أثرة وأمورا تنكرونها قالوا فما تأمرنا يارسول الله ﷺ! قال أدوا إليهم حقهم واسئلوا اللّٰــه حقكم" **ترجمه:** يقيناً چې تاسو به زما نه وروسته ترجيحي کارونه (يعنې يو به د بل نه ځان مخکې کنې او خاتته به په بل کس باندې ترجيح ورکوي) وګورئ او داسې کارونه به هم تاسو ووينئ چې تاسو ته به بد ښکاري، صحابه کرامو رضي الله عنهم پوښتنه وکړه چې اې د الله رسوله! په داسې حالت کې تاسو موږ ته څه حکم راکوئ؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: ددې حاکمانو حق ادا کوئ او خپل حقونه د الله جل جلاله نه غواړئ.

په ناجائزه کارونوکې د حاکم اطاعت نشته:

"وأموراً تنكرونها" داسې كارونه به وي چې په تاسو به ښه نه لګيږي، محدثين فرمايي چې كله: امير امارت په شرعي توګه نافذ شي، بيا په جائزو كارونو كې د امير اطاعت ضروري دى، په دې باندې امام نووي رحمه الله اجماع نقل كړې ده، كه د ناجائزو كارونو امر درته وكړي؛ نو بيا د هغه خبره منل جائز نه دي، ليكن په داسې حال كې هم د هغه د امارت نه بغاوت او منازعه كول جائز نه دي، البته كه د هغه له طرفه كفر بواح يعني ظاهراً كفر ظاهر شي بيا د هغه خلاف بغاوت او منازعة جائز دى، د حاكم له طرفه چې كوم خلاف شريعت كار صادر شي؛ نو په زړه كې د هغه كار خخه كركه ولرئ او ورسره د هغه د اصلاح تدبير وكړئ، كوم كس چې قلباً او عملاً د هغه په دې غير شرعي حركت كې شريك شي؛ نو هغه به عندالله ماخوذ وي.

په هر حال كې صبر كول

۵۲- وَعَنْ أَبِي يَحْيَى أُسَيْدِ بْنِ حُضَيْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَجُلاً مِنَ الْأَنْصَارِ قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَا تَسْتَعْمِلُنِي كَمَا اسْتَعْمَلْتَ فُلَانًا. **ترجمه:** د اسيد بن حضير رضي الله عنه نه روايت دى: يو انصاري رسول الله ﷺ ته عرض وكړو: اې د الله تعالى رسوله! ما به څېرته د يو ځاى حاكم نه كړې؟ لكه فلانى چې دې حاكم كړى دى؟ فَقَالَ: إِنَّكُمْ سَتَلْقَوْنَ بَعْدِي أَثَرَةً فَاصْبِرُوا" رسول الله ﷺ وفرمايل: ډېر زر به تاسو زما نه پس ووينئ نو صبر كوئ! "حَتَّى تَلْقَوْنِي عَلَى الْحَوْضِ" تر دې چې په حوض كوثر باندې زما سره ملاقات وكړئ" (بخاري اومسلم شريف) مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. "وَأُسَيْدٌ" بِضَمِّ الْهَمْزَةِ "وَحُضَيْرٌ" بِحَاءٍ مُهْمَلَةٍ مَضْمُومَةٍ وَضَادٍ مُعْجَمَةٍ مَفْتُوحَةٍ وَاللهُ أَعْلَمُ. أُسَيْدٌ: د الف په پېښ سره دى، حُضَيْر: د ح په پېښ او ضاد په زبر سره دى. والله اعلم

لغوي تحقيق:

تستعملني: عمل عملاً باب سمع يسمع، ددې معنى ده: كار كول، محنت كول، استعمله: عامل جوړول د كار كولو امر كول

الحوض: حاض حوضاً باب نصر ينصر ددې معنى ده: اوبه جمع كول، ډب او تالاب، په جديد لغت كې حوض السفن: د جهازونو/ طيارو بندرګاه ته وايي

د غوښتلو څخه بغير د نده سپارونكي سره د الله تعالى مرسته وي:

تشريح: "ألا تستعملني كما استعملت فلاناً" ما هم عامل جوړ كړه، لكه څنګه چې فلانى كس تاسو عامل جوړ كړى دى، په عامو حالاتو كې رسول الله ﷺ د عهدې د غوښتلو څخه منع فرمايلې ده، نبي كريم ﷺ فرمايي: كوم كس چې په خوله دنده/ وظيفه وغواړي، نو د داسې كس سره د الله ﷻ مدد نه وي او كه د طلب څخه بغير ورته دنده حاصله شي نو د داسې كس سره د الله ﷻ مدد شامل وي

د حاکمانو په ظلم صبر پکار دی:

"فأصبروا حتى تلقوني على الحوض" تاسو به تر هغه پورې صبر وکړئ چې ستاسو ملاقات زما سره په حوض کوثر باندې وشي، د نبي کريم ﷺ طريقه او عادت دا وو چې کله به دوه طرفه حقونه وي، هلته به بې هر طرف ته خبرې ته هڅولو چې هر کس د يو بل حقونه ادا کړئ او خپل حق پوره کولو کې دې د عفو څخه کار واخلي، په حديث پاک کې هم عوامو ته ددې خبرې ښودنه شوې ده چې د حاکمانو په جائزو کارونو کې اطاعت پکار دی، که ناګوار حالت پيښ شي؛ نو د صبر څخه کار اخيستل پکار دي، په دويم روايت کې حاکمانو او مشرانو ته ددې خبرې حکم ورکول شوی چې تاسو د عوامو د جائزو حقونو خيال وساتئ او که د عوامو له طرفه تاسو ته کوم تکليف ورسيږي؛ نو هغه بايد په خندا او خوشحالئ سره معاف کړئ، د دنيا په تاريخ کې دا خبره په ډاګه واضحه ده چې کله هم دغه دوه اصول کوم قوم عملي کړي وي، په داسې قوم کې الله ﷻ خوشحالي راولي او کوم قوم چې دا اصول پرېښودلي وي په هغوی کې به شر او فساد جوړ شوی وي.

د راوي اسيد بن حضير رضي الله عنه مختصر حالات:

اصل نوم يې اسيد ايوبي رضي الله عنه دی، کنيت يې ابو عتيك دی، د اوس قبيلې سره يې تعلق درلود، د اسيد رضي الله عنه پلار حضير د اوس قبيلې مشر ؤ، د جاهليت د زمانې ټول جنګونه د دوی په مشرتابه کې ترسره کېدل، د اسلام راوړلو واقعه يې داسې وه چې مصعب بن عمير رضي الله عنه د بيعت عقبه نه وروسته د اسلام سپېڅلي دين د تبليغ لپاره مدينې منورې ته تشريف يوړو، هغه د اسعد بن زراره رضي الله عنه په کور کې پاتې شو، يو ځل مصعب رضي الله عنه په يو باغ کې خلکو ته تعليم کولو چې سعد بن معاذ رضي الله عنه اسيد رضي الله عنه ته وويل: مصعب رضي الله عنه د تعليم څخه منع کړه! سعد بن معاذ رضي الله عنه خپله زړه ونه کړو چې مصعب د تعليم څخه منع کړي، اسيد رضي الله عنه ورغلو چې مصعب رضي الله عنه د اسلام له تعليم څخه منع کړي، دا کيفيت اسعد بن زراره رضي الله عنه په خپلو سترګو وليدو؛ نو مصعب رضي الله عنه ته يې وويل: د قوم سردار يعنې اسيد رضي الله عنه راروان دی، هغه ته د اسلام تعليم ورکړه چې مسلمان شي، اسيد رضي الله عنه مصعب رضي الله عنه ته ووېل: تاسو زما د قوم څخه يې وقوفه جوړول غواړئ، ايا غواړئ چې دوی اسلام قبول کړي، ددې ځای نه لاړشئ: مصعب رضي الله عنه ورته وويل: تاسو خو يو ځل زما خبره واورئ، بيا يې ورته د قرآن کريم يو څو آيتونه واورول چې دا آيتونه اسيد رضي الله عنه واورېدل نو بې اختياره يې د خولې څخه دا خبره ووتل چې تاسو خلک په دين کې څنګه داخلوئ؟ مصعب رضي الله عنه ورته کلمه وښودل او په اسلام مشرف شو، د بدر په جنګ کې يې اختلاف دی، ليکن په باقي جنګونو کې يې د نبي کريم ﷺ سره شرکت کړی دی، د حنين په غزا کې هم د اسلام بيرغ د هغه په لاس کې ؤ.

د بيت المقدس په فتح کې په ۱۲ هجري کې د عمر رضي الله عنه سره د مدينې منورې نه شام ته لاړ، انتهايي صفا خبرې به يې کولې چې څه به يې په زړه کې وو، هغه به يې په خوله ويل، په دې وجه به عمر رضي الله عنه ورسره ډېره مينه کول، نبي کريم ﷺ يو ځل وفرمايل چې: "نعم الرجل أسيد رضي الله عنه بن حضير" عايشه

ﷺ فرمايي چې اسيد بن حضير ﷺ د نبي کريم ﷺ په صحابه کرامو ﷺ کې اوچت مقام درلود، د مروياتو شمېر يې ۱۸ ته رسيږي، په پورتني حديث باندې امام بخاري رحمه الله او امام مسلم رحمه الله اتفاق کړی دی، په بخاري کې يو بل حديث هم د هغه څخه نقل دی، وفات يې د شعبان په مياشت کې په شلم هجرئ کې وشو، عمر ﷺ يې د جنازې لمونځ وکړو.

د جنګ ارمان ښه خبره نه ده

۵۳- "وَعَنْ أَبِي إِبْرَاهِيمَ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ أَيَّامِهِ الَّتِي لَقِيَ فِيهَا الْعَدُوَّ،

ترجمه: د ابو ابراهيم ﷺ نه (چې نوم يې عبد الله بن ابی اوفی دی) روايت دی چې په هغو ورځو کې رسول الله ﷺ د دښمن سره په جهاد کې مصروف وو، "انْتَظَرَ حَتَّى إِذَا مَالَتِ الشَّمْسُ قَامَ فِيهِمْ فَقَالَ" يوه ورځ رسول الله ﷺ د زوال انتظار کولو (د ماسپښين د لمانځه لپاره) چې په دې دوران کې ودرېدلو او وې فرمايل: "يَا أَيُّهَا النَّاسُ لَا تَتَمَنَّوْا لِقَاءَ الْعَدُوِّ، وَاسْأَلُوا اللهَ الْعَافِيَةَ" اې خلکو د دښمن سره د مقابلې تمنا مه کوئ؛ د الله تعالى نه امن او خير غواړئ، "فَإِذَا لَقِيتُمُوهُمْ فَاصْبِرُوا" ليکن کله چې د دښمن سره مخامخ شئ نو ثابت قدم اوسئ، "وَاعْلَمُوا أَنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ ظِلَالِ السُّيُوفِ" او په دې پوه شئ چې جنت د تورو د سيورې لاندې دی. "ثُمَّ قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اللَّهُمَّ مُنْزِلَ الْكِتَابِ" بيا رسول الله ﷺ دا دعا وغوښته چې اې الله ﷻ! چې کتاب (قرآن) دې نازل کړی دی، "وَمُجْرِيَ السَّحَابِ" او چې ورېځې راولې (بارانونه وروې)، "وَهَازِمَ الْأَحْزَابِ" او چې لښکرو ته شکست ورکوې، "اهْزِمْهُمْ" اې الله ﷻ! کافرانو ته شکست ورکړې، "وَانْصُرْنَا عَلَيْهِمْ" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وَبِاللهِ التَّوْفِيقُ. او موږ په کفارو باندې غالب کړې. (بخاري او مسلم)

فايده: د صبر لغوي معنا: منع کول يعنې د تکليف په وخت کې خپل زړه د پرېشانۍ او خفګان څخه منع کول، مضبوط اوسېدل او همدغه د صبر حقيقت دی، قرآن شريف کې هم په دغه معنی استعمال شوی دی، اګر چې د حالاتو د تبديلۍ په مناسبت يې معنی کې معمولي فرق راځي، خو حقيقت يې همدغه دی، لکه د يو مصيبت په وخت کې زړه د پرېشانۍ نه منع کول او په زړه کې دا يقين کول چې په دې کې زموږ خير دی، کله چې د الله تعالى خوښه شي؛ نو رحم به راباندې وکړي، د تکليف په ځای به راحت راکړي، روژې ته هم صبر ويل کېږي چې نفس د خوراک، څښاک او جنسي خواهشاتو څخه منع کړي، په جهاد کې استقامت او ثابت قدم اوسېدل هم د صبر يو شکل دی او غوسه تېرول هم صبر دی، والله اعلم (په دې باب کې د دې ټولو معناګانو متعلق احاديث را جمع شوي دي)

لغوي تحقيق:

ظلال: د دې مفرد "ظل" راځي، د دې معنی ده: سيوری.

السيوف: السيوف جمع ده، مفرد يې السيف راځي، السيف يو قسم سمندري ماهي ته هم وايي چې د تورې په شان يې د پوزې شکل جوړ دی.

هازم: "هزم هزماً" باب ضرب يضرب، د دې معنی ده: دښمن ته ماتې ورکول.

الأحزاب: "الحزب" ددې معنى ده: ډله، د انسانانو فوځ او د هغوی سره ملګري، ددې جمع "احزاب" راځي، په جديد لغت کې شيوعي حزب يعنې کميونسټ پارټي او اشتراکي حزب يعنې سوشلسټ پارټۍ ته هم ويلی شي.

جنګ مه غواړه!

تشريح "لا تتمنوا لقآء العدو" د دښمن سره د جنګ ارمان مه کوه، مسلمانانو ته هر وخت د جهاد لپاره تيار او سېدل پکار دي، بل طرفته يې دا تاکيد هم فرمايلی دی چې خامخا د جنګ ارمان مه کوئ، هو: که جنګ درباندې شروع شي او د جنګ څخه بغير خبره نه ختميږي، بيا په الله ﷻ باندې پوره توکل وکړئ او وجنګيږئ، تر دې چې يا خو شهيد شي او يا غازي شي چې سر لوړی ژوند تير کړي، بلکه دا چې په دې خطبه کې د هغه خلکو پوچه مفکوره هم باطله شوه چې وايي: اسلام صرف د جنګ نوم دی، حقيقت دا دی چې يو طرفته اسلام وايي چې ګوره خامخا د جنګ ارمان مه کوئ، ددېنه وروسته هم صلح کوئ، (خو دا هغه وخت ده چې کله کفار و د مسلمانانو په حريم تجاوز نه وي کړی) نو بيا بايد صلح وشي، "وإن جنحوا للسلم فاجنح لها" که چېرته دوی صلح ته مائل شي؛ نو تاسو ورسره صلح وکړئ؛ بيا که دښمن خبره تسليم نه کړي او ددې صلح پاسداري ونه کړي نو د دوی سره جنګ وکړئ.

"وإذا لقيتموهم فاصبروا" کله چې د دوی سره ملاقي شوئ نو بيا صبر کوئ؛ "اللهم منزل الكتاب" اې الله ﷻ د کتاب نازلونکې ذاته! دلته دې خبرې ته اشاره وشوه چې کله جنګ کوئ نو په خپلو مادو - وسائلو او په افرادي قوت باندې مغروره نه شئ، بلکې توکل صرف او صرف د الله تعالى په ذات باندې وکړئ، دعاګانې هم کوئ او دا يقين وساتئ چې فتح او نصرت صرف د يو ذات په لاس کې ده، "وما النصر إلا من عند الله" کاميابي نه ده مګر صرف د الله ﷻ په لاس کې ده، لکه په يو بل ځای کې د الله ﷻ ارشاد دی: "يا أيها الذين آمنوا إذا لقيتم فئة فاثبتوا واذكروا الله كثيرا لعلكم تفلحون" اې مؤمنانو! کله چې تاسو د دښمن سره مخامخ شوئ؛ نو ثابت قدم پاتې شئ او د الله ﷻ ذکر زيات کوئ، ددې لپاره چې تاسو کامياب شئ؛

د راوي عبدالله بن أبي أوفى رضي الله عنه مختصر حالات:

اصل نوم يې علقمه، عبدالله يې کنيت، په ابومعاويه ابن ابي اوفي باندې شهرت لري، د صلح حديبيه نه مخکې مسلمان شوی وو، په حديبيه کې د نبي کريم ﷺ سره په سوارلۍ ناست ؤ، د خيبر په غزا کې هم شريك وو، د اسلام په اوه غزاګانو کې ورته د شرکت موقع په لاس ورغلې وه، په مدينه منوره کې اوسيدلو، کله چې کوفه آباده شوه نو هلته يې استوګنه شروع کړه، د علي رضي الله عنه د خلافت په زمانه کې چې کله خوارجو سرونه اوچت کړل، نو دوی يې سخته مقابله وکړه، د دوی والد صاحب ته نبي کريم ﷺ د رحمت دعاء کړې وه چې اې الله! په ابو اوفى رضي الله عنه باندې رحمت نازل کړې

وفات: د بني اميه تر دور پورې ژوندی وو، دا آخريني صحابي رضي الله عنه دی چې په کوفه کې وفات شو.

مرويات: د مروياتو شمېر يې تر ۹۵ رسيږي، په لسو يې امام بخاري او امام مسلم رحمهما الله اتفاق کړی دی، په پنځو حديثونو يې امام بخاري رحمه الله او په يو حديث کې يې امام مسلم رحمه الله منفرد دی.

بَابُ الصِّدْقِ

څلورم باب د رښتياويلو بيان

(۱۳) قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى الله ﷻ فرمايي: يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَكُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ: اې مؤمنانو: د الله تعالى څخه ووېرېږئ او د رښتينو خلكو سره يو ځاى شئ.

تشريح : مؤمنانو ته حكم دى چې په هر شي كې رښتيا وايئ، ددې آيت د مصداق په باره كې عبدالله بن عباس رضي الله عنهما او عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمايي چې ددېنه مراد نبي كريم ﷺ او د هغه ملګري صحابه كرام رضي الله عنهم دي چې د دوى سره د ناستې اختيارولو حكم شوى دى، ځكه چې د هغوى نيتونه خالص دي، زړونه يې صفا دي، په عملونو كې يې اخلاص دى، دغه د صحابه كرامو رضي الله عنهم د اخلاص سره تبوك ته روانه شوه، د منافقانو په شان مه جوړېږئ چې د نبي كريم ﷺ سره يې ملګرتيا پرېښودل. علامه ضحاك رحمه الله فرمايي چې ددېنه مراد شيخين دي چې د هغوى سره مصاحبت اختيار كړئ.

"الصادقين" ابن جرير رحمه الله فرمايي چې ددېنه مراد مهاجرين صحابه كرام رضي الله عنهم دي، يا هغه درې كسان دي چې د تبوك د غزا نه وروسته پاتې وو چې هغوى د زړه نه د خپلې ګناه اعتراف كړى وو، د منافقانو په شان يې د دروغو عذرونه نه وو كړي، ځينې نور مفسرين فرمايي چې په دې آيت كې يې د صادقين لفظ راوړى دى، علماء صلحاء يې نه دي ويلي چې د دوى سره يو ځاى كېښنئ، د صادقين لفظ يې راوړو، په دې سره عالم او صالح پېژندل كېږي چې په حقيقت كې عالم او صالح هغه څوك دى چې د نيت نه صفا وي، په ظاهر او باطن كې يې يوه خبره وي، په قول او عمل كې رښتوني وي، په دې آيت كې ټولو مسلمانانو ته خطاب شوى دى او دا خطاب به تر قيامته پورې وي چې د رښتوني خلكو سره يو ځاى شئ، ددېنه معلومه شوه چې په هره زمانه كې به كم از كم يو ټولى داسې وي چې رښتوني ډله به وي.

(۱۴) وقَالَ اللّٰهُ تبارك وتعالى: او الله ﷻ فرمايي ﴿وَالصّٰدِقِيْنَ وَالصّٰدِقٰتِ﴾ او رښتوني سړي او رښتوني ښځې [الأحزاب: ۳۵]

تشريح : په دې آيت كې ښځو او سړو ټولو ته خطاب شوى دى، په دې رښتينولي كې صادق القول هم شامل دي او صادق العمل هم شامل دي، په ايمان او نيت كې رښتينولي هم شامله ده، يعني رښتوني مسلمانان كه ښځه وي او كه سړى وي، هغه داسې وي چې نه خو د دوى په خبرو كې دروغ وي او نه يې په عمل كې دروغ وي، نه كم همته وي، نه سست وي او نه هم رياكاره منافقين وي.

يوه ضروري خبرتيا:

په دې آيت كې سړي او ښځې دواړو ته الله ﷻ خطاب كړى دى، حال دا چې طريقه دا ده چې عام طور سړي ته خطاب كېږي او ښځې پكې ضمناً ذكر وي، په دې كې دې طرفته اشاره ده چې د ښځو ټول

معاملات پرده کول پکار دي، په دې کې د دوی اکرام او عزت پټ دی، په قرآن مجيد کې عموماً په دې باندې عمل کيږي، مثلاً امرأة فرعون، امرأة نوح، امرأة لوط وغيره..... مگر مريم عَلَيْهَا السَّلَامُ ځکه په نوم ياده شوې ده چې هغه د عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ مور ده، د پلار طرفته چې کوم نسبت کيږي، د هغه په ځای دلته يې مور ذکر شوې ده، وجه دا ده چې د هغه پلار نشته، يعنې د پلار څخه بغير الله ﷻ په کلمه د کُنْ فَيَكُونُ سره پيدا کړی دی، ځکه د هغه نسبت مور ته د مجبوری له وجې شوی دی.

۱۵. وَقَالَ تَعَالَى او الله ﷻ فرمايي: {فَلَوْ صَدَقُوا اللَّهَ لَكَانَ خَيْرًا لَّهُمْ} که چيرې دوی رښتيا وويل نو د دوی لپاره به دا خبره ډيره ښه وي. [محمد:۲۱]

تشريح: په دې آيت کې منافقينو ته خطاب دی، هغوی به اول دعوه کول چې کله جهاد فرض شي؛ نو موږ به خامخا جهاد کوو، خو کله چې د جهاد صفا او واضح آيتونه نازل شول، نو د جهاد پر ځای به يې حيلې او بهانې جوړولې، ددې لپاره چې څنګه د جهاد نه پاتې شي، ځکه که جهاد ته لاړې شي، نو مرگ به ورته ډېر زر راشي، 'لكان خيرلهم' که دوی جهاد کولی نو دا به د دوی په حق کې ډيره ښه خبره وه، مطلب دا چې په شروع کې دوی اگر چې منافقان وو، خو که وروسته يې بيا هم د ډښه توبه ويستلې وای او ايمان يې راوړی وای، نو دا ايمان به هم د دوی څخه قبول وو، ځکه چې تر مرگه پورې توبه قبليږي، ليکن دې خلکو هغه څه ونه کړل د کومو چې ورته امر شوی وو، بلکې جهاد ته ډير سخت خپه وو.

وَأَمَّا الأَحَادِيثُ فَالأَوَّلُ: او احاديث باندې ليکل شوي دي:

لومړی حديث:

د رښتيا او دروغو تعريف

۵۴- عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ترجمه: د ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «إِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ» رښتيا د نېکی لاره ښيي، "وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ" او نېکي د جنت لاره ښيي، "وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَصْدُقُ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللَّهِ صِدِّيقًا" او يو سړی هميشه رښتيا وايي تر دې چې الله تعالى سره رښتونی وليکل شي، "وَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الْفُجُورِ" او دروغ د بدۍ لاره ښيي، "وَإِنَّ الْفُجُورَ يَهْدِي إِلَى النَّارِ" او بدی د دوزخ لار ښيي، "وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَكْذِبُ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللَّهِ كَذَّابًا" مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ او کوم سړی چې هميشه دروغ وايي هغه به د الله تعالى سره دروغجن وليکل شي. (بخاري او مسلم)

لغوي تحقيق:

الصدق: 'صدق صدقاً' باب نصر ينصر، ددې معنى ده: رښتيا ويل.

البر: 'بر براً' باب نصر ينصر، نيکي کول، حسن سلوک کول.

الفجور: 'فجر فجراً او فجوراً' باب نصر ينصر، ددې معنى ده: مطلق گناه، صغيره وي او که کبيره وي.

رښتيا د نېکۍ لاربښې:

تشريح : "إن الصدق يهدي إلى البر" مطلب دا چې رښتيا ويل خپله يوه نيکي ده، سړی چې کله رښتيا وايي، هيڅکله يې دروغو ته خوله جوړه نه شي، بلکې رښتيا ويل د ځان لپاره يو خاصه وګرځوي؛ نو داسې کس به د زندګۍ په نورو اړخونو کې هم نيک عملونه کوي، رښتونولۍ به د هغه دپاره صفت جوړ شي، بيا به هغه ته دوه انعامونه ملاو شي : يو به ورته په دنيا کې حاصل شي او بل به ورته په آخرت کې، په دنيا کې به ورته دا انعام ملاو شي چې په سمه لاره به روان وي، په آخرت کې به يې دا مقام وي چې د صديقيت مقام ته به ورسيږي.

دغه شان دروغ ويل خپله يوه لويه ګناه ده، خبيث عادت دی، که يو کس هر ځای دروغ وايي نو په داسې کس کې د فسق –فجور او ګناه مينه پيدا کيږي، په دنيا کې به يې نقصان دا وي چې خلک به ورته دروغجن وايي، لاره به يې خطاء وي، په ژوند کې به ورته خلکي لعنتي وايي، د الله ﷻ د رحمت څخه به لرې وي، لکه څنګه چې د قرآن کريم فيصله ده : "لعنة الله على الكاذبين" په دروغجن کس باندې د الله ﷻ لعنت دی، په آخرت کې يې نقصان دا دی چې دده حشر به د منافقانو سره يو ځای وشي او د ده ځای به جهنم وي، د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه په بل روايت کې ددې نور وضاحت هم راغلی دی، هغه دا چې "لايزال العبد يكذب ويتحرى الكذب فينكت في قلبه سوداء حتى سود قلبه فيكتب عند الله من الكاذبين" **ترجمه** يو کس به هميشه دروغ وايي او په دې کې به د حد څخه زياته ترقي وکړي، تر دې چې دده په زړه يو تور داغ جوړ شي، بيا هغه د الله ﷻ په نزد دروغجن وليکل شي.

په رښتيا ويلو سره بنده مطمئن وي

۵۵ - عَنْ أَبِي مُحَمَّدٍ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ حَفِظْتُ مِنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ابو محمد حسن بن علي بن ابي طالب رضي الله عنهما نه روايت دی چې ما د رسول الله ﷺ نه دا خبره ياده کړې ده: "دَعْ مَا يُرِيْبُكَ" پرېږده هر هغه څه چې تا په شک کې غورځوي، "إِلَى مَا لَا يُرِيْبُكَ" او هغه څه خپل کړه چې تا په شک کې نه غورځوي "فَإِنَّ الصِّدْقَ طُمَأْنِيْنَةٌ" د رښتيا ويلو په وجه زړه کې اطمينان پيدا کيږي، "وَالْكَذِبَ رِيْبَةٌ" او د دروغو په وجه شک پيدا کيږي، "رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيْثٌ صَحِيْحٌ".

قَوْلُهُ: "يُرِيْبُكَ" "هُوَ بِفَتْحِ الْيَاءِ وَضَمِّهَا وَمَعْنَاهُ اُتْرُكْ مَا تَشُكُّ فِيْ حِلِّهِ وَاعْدِلْ إِلَى مَا لَا تَشُكُّ فِيْهِ". ترمذي روايت کړی دی او حسن صحيح يې ورته ويلي دي.

يُرِيْبُكَ د "ی" په زبر او پېش دواړو سره ويلی شي، مطلب دا دی چې د کوم شي په جائز يا ناجائز کېدو کې دې شک وي، هغه پرېږده او په يقيني جائز کار باندې شروع وکړه.

لغوي تحقيق:

حفظت: "حفظ حفظاً" باب سمع يسمع، په ياده زده کول.

دع: "دعى يدعو" باب فتح يفتح، ددې معنی ده : پرېښودل.

یریبك: "رابة یریبة" ددې معنی ده : شك کول، په تهمت کې پرېوتل.
طمانینة: إطمان یطمأن اطمئناناً ددې معنی ده : آرام کېدل

شکي شیان پرېږده !

تشریح: "**دع ما یریبك إلی ما لا یریبك**" په شک کې اچونکي شیان پرېږده، محدثین فرمايي چې په دې حدیث کې نبي کریم ﷺ د رښتیا او دروغو د پیژندګلوی یوه مهمه علامه ښودلې ده، هغه دا چې رښتیا هغه دي چې زړه ته پرې اطمینان حاصلیږي، د بته په پښتو محاوره کې (زړه مې پرې اوبه وڅښلې) وايي، یعنې په کوم شي چې ستا زړه مطمئن شي او پوخ یقین دې وریاندې راشي، بس هم دا رښتیا دي، په دې وجه د امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله یوه مقوله ده چې د خپل زړه نه فتوی واخله! که په زړه کې دې په هغه مسئله کې څه شك او تردد پیدا شي، نو بیا اګر چې مفتیان په ظاهر لیدو سره د جواز فتوی درکړي لیکن ستا زړه وریاندې مطمئن نه دی، هغه کار مه کوه! څکه چې په یو حدیث کې دي : "**إتقوا فراسة المومن فإنه ینظر بنور الله**" د مؤمن سړي د قلبي فراست څخه ووېرېږئ! څکه چې هغه د الله ﷻ په رڼا سره نظر کوي.

لیکن یوه ضروري خبره دا هم ده چې دا قانون او قاعده هر هغه زړه ته دی چې د نفساني خواهشاتو او دنیوي مینې څخه خالي وي، هغه خپل پاك زړه په نفساني خواهشاتي باندې خراب کړی نه وي، د داسې خلکو لپاره دا مقوله مشهوره ده، لیکن زیاتره خلك اوس په دې کیسه کې نه دي، هر انسان خاتته آرامي غواړي، د حرامو او حلالو غم نه کوي، بس صرف چې آج ورته مفتي صاحب ولیکي نو دوی وریسې خپله له خانه (ن) ولیکي او خبره خلاصه شي، لهذا ضروري ده چې مفتي صاحب کومه فتوی درکړي په هغې عمل کول پکار دي والله اعلم

د راوي حسن بن علي رضي الله عنه مختصر حالات:

اصل نوم یې حسن دی، کنیت یې ابو محمد دی، شبیه رسول الله ﷺ، په ریاضة النبي سره خطاب ورته کیدلو، د پلار نوم یې علي رضي الله عنه وو، د مور نوم یې فاطمه رضي الله عنها وه چې د رسول الله ﷺ نازولې لور وه، د هجرت په دریم کال د روژې په میاشت کې یې ولادت شوی دی، د هغه د پیدا کېدو پرمهال نبي کریم ﷺ د هغوی کور ته ورغلو، د نوم پوښتنه یې وکړه چې څه نوم مو ورته اینبی دی؟ هغې وفرمایل : چې حرب دی! نبي کریم ﷺ ورته وفرمایل : دده نوم حسن دی، د ولادت په اومه ورځ یې پرې عقیقه وکړه، حسن رضي الله عنه د اته/ ۸ کالو ؤ چې نبي کریم ﷺ ددې فاني نړۍ څخه رخصت شو د نبي کریم ﷺ نه وروسته ابوبکر رضي الله عنه ورسره یې حده مینه درلوده، یو ځل یې لوبې کولې چې ابوبکر رضي الله عنه ولیدو، نو په خپلو اوږو یې کېنولو او وې فرمایل : قسم دی! چې دا ماشوم د محمد ﷺ په شان دی، نه د علي رضي الله عنه په شان، دا چې علي رضي الله عنه واورېدل نو په خندا شو، حسن رضي الله عنه د عثمان رضي الله عنه د محاصرې په وخت سخته دفاع کړې وه، خپل پلار علي رضي الله عنه یې د جنګ جمل نه بندولو، د علي رضي الله عنه د وفات وروسته د جنازې لمونځ پرې ده وکړو او خلکو د هغه په لاس بیعت وکړو.

بل طرفته د علي رضي الله عنه په وفات امیر معاویه رضي الله عنه فوځي لښکرې وړاندې کړې، دغه وخت

حسن ﷺ په کوفه کې وو، ددېنه وروسته حسن ﷺ د امير معاويه ﷺ سره صلح وکړه او خپله عهده يې ورته پرېښوده، ددې لپاره چې د مسلمانانو خپل منځ کې وينه تويه نه شي، په دې ډول د نبي کريم ﷺ هغه پيشنګوئي هم پوره شوه کومه چې نبي کريم ﷺ فرمايلې وه: د حسن ﷺ په ذريعه به الله ﷺ د دوه مسلمانانو لويو ډلو ترمنځ صلحه وکړي، د حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خلافت موده شپږ مياشتې يا د دې څخه لږه زياته وه.

حسن ﷺ ته الله تعالى ډېر ښه صفتونه ورکړي و، ځينې يې دا دي: خطابت، حکيمانه اقوال، د دنيا نه بې رغبتي، صدقې او خيراتونه کول، د ژوند ډېره حصه په عبادت کې صرف کول، د خلکو سره خوش اخلاقي، ملاقاتونه کول، وغيره داسې نور ډېر ښه صفتونه وو چې الله ﷺ ورته نصيب کړي وو او هغه يې ورباندې ښايسته کړې ؤ، لکه څنګه چې يې مخکې موږ ذکر وکړو، د نبي کريم ﷺ د وفات پرمهال يې عمر اته کاله وو، ليکن بيا يې هم په ماشومولې کې د نبي کريم ﷺ څخه ۱۵ حديثونه نقل کړي دي.

وفات: په ۵۰ هجرئ کې هغه ته چا زهر ورکړه، چې د همدې لامله يې په ۴۷ يا ۴۸ کالو په عمر کې ددې فاني دنيا څخه کوچ وکړو، ارمان يې دا وو چې زه د نبي کريم ﷺ سره نژدې دفن شم، د خپلې نيا ام المؤمنين عائشه ﷺ نه يې اجازه وغوښتل، خو مروان اجازه ورنه کړه، بيا په جنت البقيع کې د خپلې مور فاطمه ﷺ سره نژدې دفن شو، په جنازه کې يې دومره زيات رش وو چې دومره خلک ددې څخه وړاندې يو ځای نه وو ليدل شوي، ويل کيږي: دومره زيات خلک وو چې که چېرته ستنه دې غورځولې وای، نو بيا به هم په ځمکه نه پرېوتل.

د رښتيا ويلو حکم

۵۲-عَنْ أَبِي سُفْيَانَ صَخْرِ بْنِ حَرْبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، فِي حَدِيثِهِ الطَّوِيلِ فِي قِصَّةِ هِرَقْلَ، قَالَ هِرَقْلُ: فَمَاذَا يَأْمُرُكُمْ يَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَبُو سُفْيَانَ **ترجمه:** د ابوسفيان صخر بن حرب نه د هرقل په قصه کې يو اوږد حديث روايت دی چې هرقل رانه پوښتنه وکړه، وې ويل: رسول الله ﷺ تاسو ته څه حکم کوي؟: "قُلْتُ: يَقُولُ اعْبُدُوا اللَّهَ وَحْدَهُ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا" ابوسفيان وايي ما ورته وويل: هغه موږ ته وايي چې د يو الله تعالى عبادت کوئ او هيڅوک ورسره مه شريکوئ "وَاتْرُكُوا مَا يَقُولُ آبَاؤُكُمْ" او د پلار نيکه خبرې پرېږدئ، "وَيَأْمُرُنَا بِالصَّلَاةِ" هغه موږ ته وايي چې لمونځ کوئ، "وَالصِّدْقِ وَالْعَفَافِ وَالصِّلَةِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ" رښتيا وايئ، پاکباز اوسئ او يو په بل باندې رحم کوئ. (بخاري او مسلم)

لغوي تحقيق:

أُعبدوا: "عبد عبادة و عبودة" باب نصر ينصر، ددې معنی ده: د الله ﷺ عبادت کول.

تشركوا: "شرك شركاً وشركة" باب سمع يسمع، شريک کېدل، ددې جمع "شركاء او اشراك" راځي، په جديد لغت کې شرک معنی ده: جال، او شرکت فابريکې او کمپنۍ ته ويل کيږي.

اُتركوا: "ترك تركاً" باب نصر ينصر، معنى يې ده: پرېښودل، غافله کېدل

العفاف: "عف وعفة" باب ضرب يضرب، ددې معنى ده: پاکدامني، حرام يا غير مستحسن کار څخه ځان ساتل.

ابوسفيان د کفر په حالت کې هم د شريعت تعريف کړی دی:

تشريح: "في حديثه الطويل في قصة الهرقل" ابو سفيان رضي الله عنه د هرقل په اوږده کيسه کې حديث بيان کړی دی، دا واقعه د هجرت نه شپږ کاله وروسته پيښه شوې ده، "واتركوا ما يقول آباؤكم" د هغو خبرو څخه ځان وساتئ چې ستاسو پلرونو به کولې، په دې جمله سره ابو سفيان رضي الله عنه هرقل د نبي کريم ﷺ مخالف کول غوښتل، څکه چې د پلار- نيکه خلاف خبرې کول سړي نه خوښوي، "يأمرنا بالصلوة والصدق" د لمانځه حکم راته کوي او د رښتيا ويلو تاکيد راته کوي، په دې حديث کې د اسلام د دښمن له خولې د نبي کريم ﷺ او د هغوی د پاکو تعليماتو اعتراف شوی دی، ابو سفيان رضي الله عنه په دې خبرو هغه وخت اعتراف وکړو کله چې هغه مسلمان شوی هم نه وو، د نبي کريم ﷺ د پاکو تعليماتو رښتينولي هم ابو سفيان رضي الله عنه په خپل بيان کې واضحه کړه، په دې وجه هرقل پوه شو چې واقعي دا رښتونی پيغمبر ﷺ دی، څکه چې د انبياوو عليهم السلام په اوچتو صفاتو کې دا خبره شامله وه چې هغوی به ټول عمر رښتيا ويل، چېرته يې هم دروغ نه دي ويلي، دا صفت په ټولو انبياوو عليهم السلام کې شريکي وو، دا رښتينولي صرف انبياء عليهم السلام نه، بلکې د دنيا ټولو علماوو او صلحاوو په دې اتفاق کړی دی چې رښتينولي په انساني کمالاتو او فضائلو کې تر ټولو اوچت مقام دی.

د راوي ابوسفيان رضي الله عنه مختصر حالات:

اصل نوم يې صخر وو، کنيت يې ابو سفيان وو، صخر بن حرب بن اميه بن عبد شمس بن عبد مناف وو، په شروع کې د اسلام سخت مخالف ؤ، د اسلام په ختمولو کې يې سخت کوششونه کړي دي، د اسلام د شروع نه تر فتح مکه پورې يې پرلپسې مخالفتونه کړي دي، د اسلام په دعوت کې چې کله د قريشو وفد د نبي کريم ﷺ تره ابو طالب ته د نبي کريم ﷺ شکايت وکړو، په دې وفد کې ابو سفيان رضي الله عنه هم شامل وو، د نبي کريم ﷺ د شهيدو کولو کوم سازش چې په مکه مکرمه کې جوړ شوی وو، په دې سازش کې ابو سفيان رضي الله عنه پوره شريک وو.

کله چې د فتح مکې په موقعه عباس رضي الله عنه ابوسفيان رضي الله عنه راوستلو، نبي کريم ﷺ نه د هغه د زړلو حکم وکړو، نه يې د جلا وطنۍ په اړه څه وويل، بلکې دا يې ورته وفرمايل: ابوسفيانه! د افسوس مقام دی، تر اوسه هغه وخت نه دی راغلی؟ د الله ﷻ د وحدانيت اقرار وکړه، په دې نرم او مينه ناک دعوت سره ابو سفيان رضي الله عنه وويل: اې د الله تعالی رسوله! په تاسو دې زما مور پلار قربان شي، تاسو څومره شريف او حوصله لرونکي يئ، په الله ﷻ قسم! که د الله ﷻ نه سوا زما کوم بل معبود وای، نو اوس به يې زه بچ کړی وم، نبي کريم ﷺ بيا ورته وفرمايل: ابو سفيانه! ستا په حالت افسوس دی، آيا

اوس هم ته ما د الله ﷻ رسول او پيغمبر نه منې؟ ددې په ځواب کې ابو سفيان ؓ وويل: ماته پکې شك دى، په دې خبره عباس ؓ هغه ورټلو او پوه يې کړو، نو د ابو سفيان ؓ خبره په ذهن کې راغله او کلمه يې وويل، په اسلام کې داخل شو، بيا د نبي کريم ﷺ سره په حنين او د طائف په محاصره کې شريك وو، د يرموك په غزا کې يې زوى امير معاويه ؓ او د هغه مېرمنې هنده ؓ پکې شرکت کړى وو، د هغه ځخه د هرقل د سوال او ځواب مشهور روايت نقل شوى دى.

وفات: د عثمان ؓ په دور خلافت کې په ۳۱ هجري کې وفات شو، په دې وخت کې يې عمر ۸۸ کاله وو، عثمان ؓ پرې د جنازې لمونځ وکړو.

په اخلاص سره د شهادت ارمان كول

۵۷- عَنْ أَبِي ثَابِتٍ وَقِيلَ: أَبِي سَعِيدٍ وَقِيلَ أَبِي الْوَلِيدِ، سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ وَهُوَ بَدْرِيٌّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ

ترجمه: سهل بن حنيف بدري ؓ (په کنيت کې يې اختلاف دى، ابو ثابت، ابو سعيد او ابو الوليد درې واړه نقل شوي دي) روايت کوي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "مَنْ سَأَلَ اللهَ تَعَالَى الشَّهَادَةَ بِصِدْقٍ" چا چې په رښتيا او اخلاص سره د الله تعالى ځخه شهادت وغوښتلو، "بَلَّغَهُ اللهُ مَنَازِلَ الشُّهَدَاءِ وَإِنْ مَاتَ عَلَى فِرَاشِهِ" رَوَاهُ مُسْلِمٌ، الله تعالى به يې د شهيدانو درجو ته ورسوي، اګر که په خپله بستره مړ شي. (مسلم شريف)

لغوي تحقيق:

بلغه: "بلغ بلوغاً" باب نصر ينصر دى، ددې معنى ده: رسول، رسېدل، د باب کرم يکرم ځخه په معنى د فصيح او بليغ سره راځي.

مات: "مات موتاً" باب نصر ينصر، ددې معنى ده مړ کېدل، او مړ کول، د جامو زړو کولو په معنى سره هم راځي.

فراشه: "فرش فرشاً وفراشاً" باب نصر ينصر، ددې معنى ده: څادر، جوړه، وغيره غوړول، د جالې په معنى سره هم راځي.

د بدريانو خصوصيت:

تشريح: "وهو بدرى" سهل بن حنيف ؓ بدري صحابي دى، بدري کېدل يې دلته په خصوصيت سره بيان شوي دي، دا د هغو صحابه کرامو لپاره ډېر د فخر او شرافت خبره ده چې د بدر په جنګ کې شريکان شوي وو، په دې فضيلت کې ورسره نور کسان شريکان نه دي، هغه خصوصيت دا دى چې "إطلع على أهل بدر فقالوا اعملوا ما شئتم فقد وجبت لكم الجنة" الله ﷻ اهل بدر په خپل خصوصي فضل او کرم سره بخښلي دي، الله ﷻ دوى ته فرمايلي دي چې تاسو څه کول غواړئ، هغه وکړئ، ځکه چې ستاسو لپاره جنت واجب شوى دى.

په اخلاص سره شهادت غوښتل د شهيد درجه مومي:

"الشهادة بصدق بلغه اللّٰـه منازل الشهداء" په اخلاص سره شهادت غوښتونكى سړى به د شهادت درجه بيامومي، اګر چې په خپله بستره كې مړ شي، په دې حديث كې د صحيح نيت فضيلت ته اشاره ده، هغه دا چې كوم سړى په صحيح نيت د شهادت سوال وكړي؛ نو الله ﷻ هغه ته د شهيدانو برابر اجر وركوي، اګر چې په خپله بستره مړ شي، يعنې بغير د جنګ او زخمي كېدو نه په صحيح نيت دومره اوچت مقام الله ﷻ ورنصيب كوي، ددې په خلاف كه چېرته د جنګ په ميدان كې هم يو كس صحيح نيت ونه لري، بلكې شهرت يا رياكاري يې په زړه كې وي؛ نو بيا هم دده مرګ خراب دى.

د راوي سهل بن حنيف رضي الله عنه مختصر حالات:

اصل نوم يې سهل دى، كنيت يې ابو سعيد، ابو ثالث، ابو الوليد درې واړه دى، د پلار نوم يې حنيف وو، د بدر جنګ ترڅنګ په ټولو غزواتو كې شريك شوى دى، د احد په غزا كې چې كوم صحابه كرام رضي الله عنهم ثابت قدمه پاتې شوي وو، په هغوى كې دا صحابي هم شامل وو، د جنګ جمل نه وروسته د بصرې والي وټاكل شو، په جنګ صيفين كې د علي رضي الله عنه طرفدار وو، د هغه په باره كې ويل شوي دي: چې ډير زيات ښايسته صحابي وو، يو ځل يې لمبل چې د بل صحابي نظر ورباندې پرېوتلو، نو هغه وويل: داسې بدن خو ما چېرته نه وو ليدلى، دومره ښكلى بدن!! هغه له نظره شو، په دې سره هغه ناروغ شو، نبي كريم ﷺ ته كيسه بيان شوه؛ نو نبي كريم ﷺ وفرمايل: تاسو د خپلو ورونو مالونه او بدنونه ګورئ او دعاء ورته نه كوئ، نو ځكه له نظره شي.

وفات: په ۳۸ هجري كې په كوفه كې وفات شو، علي رضي الله عنه دده جنازه وكړه، په جنازه باندې يې د ځلورو تكبيرونو په ځاى شپږ تكبيرات وويل، علي رضي الله عنه وفرمايل: دا بدري صحابي رضي الله عنه دى.

مرويات: د مروياتو شمېر يې ۴۰ ته رسيږي، په ځلورو روايتونو باندې امام بخاري رحمه الله او امام مسلم رحمه الله اتفاق كړى دى، په دوه روايتونو كې يې امام مسلم رحمه الله منفرد دى.

ديني كار په توجه سره پكار دى

۵۸- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: **ترجمه:** د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دى، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "غَزَانَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ صَلَوَاتُ اللهِ وَسَلَامُهُ فَقَالَ لِقَوْمِهِ" "چې جهاد وكړو، يو نبي د انبياء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ څخه، نو هغه خپل قوم ته وفرمايل: "لَا يَتْبَعْنِيْ رَجُلٌ مَلَكَ بُضْعَ امْرَأَةٍ وَهُوَ يُرِيْدُ أَنْ يَّبْنِيَ بِهَا وَلَمَّا يَبْنِ بِهَا" داسې كس به زما سره په جهاد كې شركت نه كوي چې د يوې ښځې سره يې د واده لپاره كوژده/ ښځې ته د نكاح پيغام لېږلى كړې وي او هغه ورسره واده كول غواړي، خو تر اوسه يې واده نه وي كړى "وَلَا أَحَدٌ بَنٰى بُيُوْتًا لَمْ يَرْفَعْ سُقُوْفَهَا" او نه به هغه كس راسره په جهاد كې شركت كوي چې د كور دېوالونه يې جوړ كړي وي، خو چت يې ورباندې نه وي اچولى، "وَلَا أَحَدٌ اشْتَرٰى غَنَمًا أَوْ خَلِفَاتٍ وَهُوَ يَنْتَظِرُ أَوْلَادَهَا" او نه به راسره هغه كس جهاد ته ځي چې ګډې يا بلاربې اوښې يې اخستې وي او هغه ورته د بچي پيدا كېدو

په انتظار وي؛ خو تر اوسه يې بچي نه وي شوي. "فَغَزَا فَدَنَا مِنَ الْقَرْيَةِ صَلٰوةَ الْعَصْرِ أَوْقَرِيبًا مِنْ ذٰلِكَ" نو هغه جهاد ته روان شو او هغه کلي ته د اسې وخت راورسېدو چې مازيګر وو يا مازيګر ته نزدې وخت وو. "فَقَالَ لِلشَّمْسِ" نو لمرته يې وويل چې: "إِنَّكِ مَأْمُورَةٌ وَأَنَا مَأْمُورٌ" تا ته هم د الله تعالى له طرفه حکم شوى دى او ما ته هم حکم شوى دى. "اَللّٰهُمَّ احْبِسْهَا عَلَيْنَا" اې الله! دا لمر موږ ته ايسار کړې. "فَحُبِسَتْ حَتّٰى فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْهِ" نو لمر الله ﷻ ورته ايسار کړو، تر دې پورې چې الله ﷻ فتح او کاميابي ورته نصيب کړه. "فَجَمَعَ الْغَنَائِمَ" نو غنيمتونه يې راجمع کول شروع کړل. "فَجَاءَتْ يعني النَّارَ لِتَأْكُلَهَا فَلَمْ تَطْعَمْهَا فَقَالَ" نو د آسمان له طرفه اور راغلو خو د هغوى غنيمتونه يې ونه خوړل، نو پېغمبر يې وفرمايل: "إِنَّ فِيكُمْ غُلُولًا فَلْيُبَايِعْنِي مِنْ كُلِّ قَبِيلَةٍ رَجُلٌ" چې په تاسو کې غل دى کوم کس چې غلا کړې وي، د هرې قبيلې نه به يو يو کس زما سره بيعت کړي يعنې لاس به راسره ملاو کړي. "فَلَزِقَتْ يَدُ رَجُلٍ بِيَدِهِ فَقَالَ" نو د يو کس لاس د هغه پېغمبر سره ونښتلو. پېغمبر يې وفرمايل: "فِيكُمُ الْغُلُولُ فَلْيُبَايِعْنِي قَبِيلَتُكَ" چې په تاسو کې غل دې، اوس به ستا قبيلې والا خلق زما سره لاس ملاو کړي. "فَلَزِقَتْ يَدُ رَجُلَيْنِ أَوْثَلَاثَةٍ بِيَدِهِ فَقَالَ" د دوه يا درې کسانو لاسونه يې د پېغمبر په لاس پورې ونښتل. پېغمبر يې وفرمايل: "فِيكُمُ الْغُلُولُ" په تاسو کې غل دى. "فَجَاءُوا بِرَأْسٍ مِثْلِ رَأْسِ بَقَرَةٍ مِنَ الذَّهَبِ فَوَضَعَهَا" هغوى د غوايي د سر په شان د سرو زرو يو سر راوړو، نو هغه سر يې کېښود. "فَجَاءَتِ النَّارُ فَأَكَلَتْهَا" اور راغلو او هغه غنيمت يې وخوړلو. "فَلَمْ تَحِلَّ الْغَنَائِمُ لِأَحَدٍ قَبْلَنَا" نو غنيمت ددې څخه وړاندې هيچا ته هم حلال نه وو. "ثُمَّ أَحَلَّ اللّٰهُ لَنَا الْغَنَائِمَ" بيا الله ﷻ زموږ لپاره غنيمت حلال کړو. "لَمَّا رَأٰى ضَعْفَنَا وَعَجْزَنَا فَأَحَلَّهَا لَنَا" ځکه چې الله ﷻ زموږ په عاجزى او کمزورى باندې علم درلود. (بخاري او مسلم) "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ" "اَلْخَلِفَاتُ" بِفَتْحِ الْخَاءِ الْمُعْجَمَةِ وَكَسْرِ اللَّامِ: جَمْعُ خَلِفَةٍ وَهِيَ النَّاقَةُ الْحَامِلُ.

(امام نووي رحمه الله فرمايي) خَلِفَاتٌ د خليفة جمع ده، د "خ" په زبر سره دى او د "ل" په زير سره دى، حامله اوښې ته ويل کيږي.

لغوي تحقيق:

يتبعني: "تبع تبعاً" ددې معنى ده: په چا پسې وروسته تلل، تابعداري کول.

يبن: "بنى بنياً وبناءً" "باب ضرب يضرب" ددې معنى ده: کور جوړول، آبادي کول، ځمکه آبادول او په هغې باندې کور جوړول.

غلولاً: "غل غلولاً" باب نصر ينصر، ددې معنى ده: خيانت کول او غلا کول.

إشترى: "شرى شراءً" باب ضرب يضرب، ددې معنى ده: اخيستل.

فلزقت: "لزق لزوقاً" دا هم د باب سمع يسمع څخه دى، ددې معنى ده: په يو شي پورې نښتل، ځان پيوسته کول.

ضعفنا: "ضعف ضعفاً" دا هم د باب نصر ينصر څخه دى، ددې معنى ده: کمزورى کېدل.

ديني کار په فارغ وخت کې کول پکار دي:

"فقال لقومه لا يتبعني رجل ملك بضع إمراة" زما سره به هغه کس جهاد ته نه ځي چې واده يې کړی وي، يوشع بن نون عَلَيْهِ السَّلَامُ يو څو قسمه خلك د ځان سره جهاد ته تللو څخه منع کړي وو، ځکه چې د کوم سړي څه کار يا يې کوم شي پورې زړه نښتی وي؛ نو د هغه طبيعت په نورو کارونو کې نه لګيږي، که دا خلك يې په لښکر کې شريکان کړي وای، نو هغوی به چېرته هم په پوره شوق جهاد نه کولی، دا ظاهره خبره ده چې جهاد شوق او جذبه غواړي.

آيا لمر چا ته درېدلی دی؟

"فقال للشمس إنك مامورة وأنا مامورٌ اللهم أحبسها علينا" د وخت نبي لمر ته مخاطب شو او وې فرمايل: ته هم د الله ﷻ له طرفه مامور يې (يعني د خپل ځای مشرق نه راپورته کېږې او په مغرب باندې ډوبيږې) او ما ته هم امر شوی دی چې جهاد وکړم، اې الله! لمر موږ ته ايسار کړې؛ د دېنه معلومه شوه چې يوشع بن نون عَلَيْهِ السَّلَامُ ته لمر د ډوبېدو څخه بند شوی وو، د دې لپاره چې د لمر ډوبېدو نه مخکې فتح وشي، د مواهب لدنيه روايت دی چې دا معجزه رسول الله ﷺ ته هم په ژوند کې دوه ځله ورکول شوې وه، لمر د خندق په غزا کې ډوب شوی وو، خو بيا د نبي کريم ﷺ په دعاء سره بيرته واپس شو، نبي کريم ﷺ د مازديګر لمونځ وکړو.

د نبي کريم ﷺ امت ته مال غنيمت حلال دی:

"فجمع الغنائم فجاءت يعني النار لتاكلها فلم تطعمها" د دېنه وروسته مال غنيمت جمع کړی شو، بيا اور راغلو، خو هغه اور مال غنيمت ونه سوځولو، په مخکينيو شريعتونو کې دا حکم وو چې که مال غنيمت به حاصل شو؛ نو هغه به يې په يوه ډاګه باندې کېښودلو، که د آسمان له طرفه به اور راغلو او هغه مال غنيمت به يې وسوځولو، نو دا به د دې دليل وو چې جهاد يې قبول شوی دی، که اور به رانغلو؛ نو د دې دليل به وو چې دا جهاد قبول نه دی، د غنيمت مال په مخکينيو امتونو کې استعمالول جائز نه وو، دا د نبي کريم ﷺ د امت خصوصيت دی چې دوی ته الله ﷻ مال غنيمت حلال کړی دی، لکه چې په يو روايت کې دي چې: "عن أبي هريرة ﷺ عن رسول الله ﷺ فلم تحل الغنائم لأحد من قبلنا ذالك بأن الله رأى ضعفنا وعجزنا فطيبها لنا" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د غنيمت مال زموږ نه مخکې امتونو ته خوړل جائز نه وو، الله ﷻ موږ کمزوري عاجز وليدلو، نو مال غنيمت يې موږ ته حلال کړو.

په کاروبار کې د رښتيا ويلو برکت

٥٩- "عَنْ أَبِي خَالِدٍ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" ترجمه: د ابو خالد حکيم بن حزام نه روايت دی چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "الْبَيِّعَانِ بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا" اخيستونکي او خرڅوونکي

دواړو ته (د سودا ماتولو) اختيار دى تر څو چې جدا شوي نه وي، "فَإِنْ صَدَقَا وَبَيَّنَا بُورِكَ لَهُمَا فِي بَيْعِهِمَا" که دواړو رښتيا ويل او جدا شول، په سودا کې به يې برکت وي. "وَإِنْ كَتَمَا وَكَذَبَا مُحِقَتْ بَرَكَةُ بَيْعِهِمَا" او که خبره يې پټه کړه، (يو بل ته يې دوکه ورکړه) او دروغ يې وويل، د کاروبار برکت به يې لاړ شي (بخاري او مسلم)

لغوي تحقيق:

البيعان: "باع بيعاً ومبيعاً" باب ضرب يضرب، ددې معنى ده: خرڅول.

الخيار: "خار خيرة وخيراً" باب ضرب يضرب دى، ددې معنى ده: يو شي ته په بل شي باندې فضيلت ورکول، برتري ورکول، منتخب کول، په دې وجه موږ په دعاء کې وايو چې: "اللهم خِر لي" اې الله زما په حق کې چې په دې دواړو کارونو کې کوم کار غوره وي، هغه راته مقرر کړه.

يتفرقا: "فرق فرقاً وفرقاناً" دا هم د باب نصر ينصر څخه دى، ددې معنى ده: جدا کول، پرې کول، تقسيمول.

كتما: "كتم كتماً وكتماناً" باب نصر ينصر، ددې معنى ده: پټول. په ځينې وخت کې لفظ د "كتم" دوه مفعولونو سره متعدي کيږي، لکه: "كتمت زيداً الحديث" ما د زيد څخه خبره پټه کړه، اول مفعول په لفظ د (من) سره هم زياتولى شي، لکه: "كتمت من زيد الحديث".

محقت: "محق محقاً" د باب فتح يفتح څخه دى، ددې معنى ده: لرې کول، باطل کيدل، برکت ختميدل.

بايع او مشتري ته تر کومه اختيار حاصل وي؟

تشريح: "البيعان بالخيار ما لم يتفرقا" بايع او مشتري چې تر څو پورې په خپلو کې جدا شوي نه وي دوى ته اختيار (د بيع فسخ کولو او نافذولو) شته، په دې حديث کې دې خبرې ته اشاره ده چې بائع او مشتري دواړو ته مکمل اختيار او رضامندي حاصله ده، دواړه به په خوشحالي سره سودا کوي، بغير رضامندۍ سودا کول حرامه ده، "لا تأكلوا أموالكم بينكم بالباطل إلا أن تكون تجارة عن تراض منكم" کله چې بايع او مشتري دواړه ايجاب او قبول وکړي، نو رضامندي به ثابته شي، لهذا اوس د يو بل مال خوړل جائز دي، نو د پورتني حديث مطلب هم دا دى چې بائع او مشتري دواړو ته د هغې سودا چې شوې وي د فسخ او نفاذ اختيار حاصل دى تر څو پورې چې دواړه د ايجاب او قبول نه فارغ شوي نه وي، کله چې بائع او مشتري د ايجاب او قبول نه فارغ شي، نو اوس اختيار ختم شو.

بائع به د مبيع عيب ښکاره کوي:

"فإن صدقا وبينا بورك لهما في بيعهما" که هغوى رښتيا ووايي او په مبيع کې چې کوم عيب وي هغه ظاهر کړي، نو په دې سودا کې به برکت واچول شي، بل حديث دى چې د عيب اظهار ونه شي؛ نو سخت وعيد پرې راغلى دى: "عن واثلة بن الاسقع رضي الله عنه قال سمعت رسول الله ﷺ يقول: من باع عيباً لم ينبه لم يزل في

مقت الله او لم تزل الملائكة تلعنه" **ترجمه:** د واثلة بن اسقع ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل چې فرمايل يې: کوم کس چې داسې مبيعه خرڅه کړي چې عيب دار وي، هغه يې عيب څرګند نه کړي؛ نو په هغه د الله ﷻ غضب دی او يا يې داسې وفرمايل: په داسې کس د پرښتو له طرفه هميشه لعنت وي.

د راوي حکيم بن حزام ﷺ مختصر حالات:

اصل نوم يې حکيم ﷺ دی، کنيت يې ابو خالد دی، د قبيله قريشي اسدي سره تعلق لري، دا د ام المؤمنين خديجه ﷺ وراره وو، د فيل (هاتيانو) واقعې څخه ۱۳ کاله وړاندې په مکه کې پيدا شو، د جاهليت او اسلام دواړو زمانو کې خلکو ورته ښه د قدر په نظر کتل، د اسلام راوړلو نه وروسته هغه په اسلام کې ډېر زيات ښه ؤ، د صحابه کرامو ﷺ په جماعت کې فاضل متقي او شجاع يادېدلو، په شروع کې هغه د مؤلفة القلوب څخه وو، د جاهليت په زمانه کې يې سل غلامان آزاد کړي ؤ، کله چې يې اسلام قبول کړو، نو سل غلامان يې نور هم آزاد کړل.

وفات: په ۵۴ هجرى کې د ۱۲۰ کالو په عمر کې په مدينه منوره کې په خپل مرګ وفات شو، هغه د عمر شپېته کاله په جاهليت کې تېر کړي دي او شپېته کاله يې په اسلام کې تېر کړل.

مرويات: د مروياتو شمېر يې څلويښتو ته رسيږي، په څلورو يې امام بخاري رحمه الله او امام مسلم رحمه الله اتفاق کړی دی.

بَابُ الْمُرَاقَبَةِ

پنځم باب: د مراقبې بيان

(۱۶) قَالَ اللهُ تَعَالَى: {الَّذِي يَرَاكَ حِينَ تَقُومُ وَتَقَلُّبَكَ فِي السَّاجِدِينَ} **ترجمه:** الله تعالى فرمايي: هغه الله تا ويني کله چې ته لمانځه ته ودرېږې او کله چې (د صفونو ترمنځ سيده کولو لپاره ګرځې) [الشعراء: ۲۱۸-۲۱۹]

د عبدالله بن عباس ﷺ او د مقاتل رحمه الله په نزد د درېدو څخه مراد په لمانځه کې درېدل دي، حسن بصري رحمه الله فرمايي: د دېنه د رسول الله ﷺ ځانته درېدل مراد دي، خلاصه دا چې ټول ترې نه مراد کېدلی شي، "وتقلبك فى الساجدين" د ساجدين څخه د عبدالله بن عباس ﷺ او د عکرمه ﷺ او د مقاتل ﷺ په نزد لمونځ مراد دی، مطلب دا چې اې پېغمبره! الله تعالى په تا باندې خبردار دی، علم لري کله چې تاسو ځانته لمونځ کوئ او کله چې په جماعت سره د خلکو سره ولاړ يئ.

علامه مجاهد ﷺ ددې آيت داسې مطلب بيانوي چې کله به نبي کريم ﷺ په لمانځه کې مقتديانو ته کتل، نو په دې حالت باندې هم الله ﷻ علم لري، ځکه چې په يو حديث کې دي: رسول الله ﷺ وفرمايل چې زه وروسته طرفته داسې ليدل کوم لکه څنګه چې وړاندې طرفته ليدل کوم، په داسې حالت باندې هم الله ﷻ خبردار دی، د ځينو علماوو په نزد ددېنه د تهجد لمونځ مراد دی، د

تهجد کوونکو حالات لټولو لپاره به چې نبي کريم ﷺ وتلو، نو الله ﷻ به دغه حالت ليدو، ځينې نور علماء وايي: کله چې د شپې لمانځه (تهجد) فرضيت منسوخ شو، نو نبي کريم ﷺ به د خپل کور نه بهر وتلو چې وګوري: زما صحابه څه کوي؟ وې کتل چې ټول صحابه د الله ﷻ په عبادت مشغول دي، دغه حالت ته پکې اشاره شوې ده، دا ټولې خبرې مراد کېدلی شي.

(۱۷) وَقَالَ تَعَالَى: {وَهُوَ مَعَكُمْ أَيْنَ مَا كُنْتُمْ} او ارشاد دی، الله تعالی تاسو سره دی هرځای چې تاسو يئ.

[الحديد:۴]

تشريح اې زما بندګانو تاسو چې چېرته هم يئ! الله ﷻ فرمايي: زه ستاسو سره يم، انسان د هر چا نه پټېدی شي، خو د الله ﷻ نه نشي پټېدلی، الله ﷻ زموږ سره دی، چېرته چې موږ يو او ددې معيت حقيقت او کيفيت د کوم مخلوق په احاطه کې نشي راتلی، ليکن ددې معيت او مشيت وجود يقيني دی، ځکه چې د دنيا ټول نظام د الله ﷻ په مشيت او اراده سره چليږي، هغه لوی ذات هرځای او په هر حال کې موجود دی، ليکن د معيت حقيقت بيانول يې د انسان د طاقت ځخه بهر خبره ده. علامه ابن کثير رحمه الله يو روايت نقل کړی دی: په هغې کې دي چې تر ټولو نه غوره ايمان دا دی چې د سړي دا پوخ يقين جوړ شي چې زه هر ځای يم، الله ﷻ زما سره دی، د امام احمد رحمه الله طرفته دا شعرونه منسوب شوي دي:

إذا ما خلوت الدهر يوما فلا تقل خلوت ولكن قل علي رقيب
ولا تحسبن اللــــه يغفل ساعة ولا أن ما تخفى عليه يغيب

(۱۸) وَقَالَ تَعَالَى: {إِنَّ اللَّهَ لَا يَخْفَى عَلَيْهِ شَيْءٌ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ} او ارشاد دی: د الله تعالی نه هيڅ شی پټ نه دی نه په ځمکه کې نه په آسمان کې. [آل عمران:۵]

تشريح د ټولې دنيا شيان او اسباب هر څه چې دي دا ټول الله ﷻ ته بالکل ښکاره معلوم دي، د هغه ذات ځخه يوه ذره هم پټه نه ده، "وما تسقط من ورقة إلا يعلمها ولا حبة في ظلمت الارض ولا رطب ولا يابس إلا في كتاب مبين" يوه پاڼه په ځمکه نه پريوځي ليکن دا چې په هغې د الله ﷻ علم وي او نه يوه دانه د ځمکې په تيارو کې ډوبيږي او نه کوم خوشك او لوند شی غورځيږي، مګر دا چې په دې ټولو باندې د الله ﷻ علم وي او دا ټول په کتاب مبين کې شته، "في الارض ولا في السماء".

سوال: صرف د ځمکې او آسمان شيان د الله ﷻ نه پټ نه دي، آيا د نورو ځايونو شيان ترې پټېدی شي؟

ځواب: دا دی چې دلته اعتباري کلام مراد دی، مطلب دا دی چې د ټولې دنيا شيان پېژني، هيڅ د ذرې په اندازه شی هم ترې پټ نه دی.

سوال: د ځمکې او آسمان ذکر يې ولې وکړو؟

ځواب: په آيت کريمه کې د بندګانو د عملونو د جزاء او سزا ورکولو ذکر دی، ظاهره ده چې د

بندګانو عملونه په څمکه کيږي، ځکه يې هغه اول ذکر کړو، ورسره يې متصل آسمان هم ذکر کړو.

(۱۹) وَقَالَ تَعَالَىٰ: {إِنَّ رَبَّكَ لَبِالْمِرْصَادِ} او ارشاد دی: بې شکه ستا رب د څارنې په ځای کې دی. «هر څه ورته ښکاري» [الفجر:۱۴]

تشريح: مفسرين فرمايي چې مرصاد او مرصد انتظارګاه ته ويل کيږي، هغه ځای چې لوړ جوړ شوی وي او په خلکو باندې نظر ساتلی شي، مطلب دا دی چې الله ﷻ د خپلو بندګانو عملونه، د دوی حرکات او سکنات هر څهويني او علم پرې لري، د قيامت په ورځ به دوی ټولو ته د دوی د عملونو بدله ورکول کيږي.

(۲۰) وَقَالَ تَعَالَىٰ: {يَعْلَمُ خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ وَمَا تُخْفِي الصُّدُورُ} ارشاد دی: الله تعالى خبر دی ستاسو د سترګو په غلا او څه چې ستاسو په زړونو کې پټ دي، [غافر:۱۹] "وَالْآيَاتُ فِي الْبَابِ كَثِيرَةٌ مَعْلُومَةٌ" په دې باره کې آيتونه زيات او مشهور دي.

تشريح: خائنة: يا خو صيغه د اسم فاعل ده، ددې موصوف مخذوف دی، يعني په خيانت سره په سترګو کتل، په غلا کتل کوم چې الله ﷻ حرام کړي دي، يا په چل ول کتل، يا خائنة صيغه د مصدر ده، لکه عافية، په دې صورت کې به دا معنی شي چې الله ﷻ د سترګو خيانت ښه پيژني.

دې باره کې د مفسرينو څلور قولونه دي:

تشريح: اولنی قول د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما دی، فرمايي چې ددې مطلب دا دی. کوم کس چې د يو قوم د ښځې څنګ ته تېر شي او دی هغه پرده ناکې ښځې ته وګوري، کله چې څوک دا کس وويني: نو خپلې سترګې ښکته کړي چې پته ونه لګيږي چې ما بد نظري وکړه، ددې آيت دا مطلب شو چې الله ﷻ په داسې حالت کې هم په تاسو عالم دی، که څوک درباندې پوهيږي او که نه، خو الله ﷻ درباندې ښه پوهيږي.

دويم قول د مجاهد رحمه الله دی، هغه فرمايي چې ددې آيت مطلب دا دی. هر هغه ځای چې الله ﷻ هغې ته کتل منع کړي دي او ته ورته وګورې، نو الله تعالى درباندې خبر دی.

دريم قول د ضحاک رحمه الله دی، هغه فرمايي چې ددې څخه هر هغه شی، ځای او مقام مراد دی چې الله ﷻ ته ناخوښ وي.

څلورم قول د علامه سدي رحمه الله دی، هغه وايي: ددې څخه مراد دويم نظر کول دي چې يو ځل ناڅاپه نظر کول په پردی ښځه معاف دی او بيا بيا ورته کتل ګناه ده، الله تعالى درباندې خبر دی.

"وما تخفي الصدور" ددې نه د زړه وسوسې مراد دي، کومې چې د انسان په زړه کې بې اختياره راځي، د الله ﷻ شان ته وګوره چې هغه په دې وسوسو باندې هم علم لري چې ددې سړي په زړه کې کومه وسوسه راځي.

وَأَمَّا الْأَحَادِيثُ فَالْأَوَّلُ:

د نبي کريم ﷺ امت ته د جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَام تعليم ورکول

۲۰- "عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ:" عمر ﷺ بن خطاب فرمايي چې: "بَيْنَمَا نَحْنُ جُلُوسٌ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ" په داسې حالت کې چې موږ د رسول الله ﷺ سره يوه ورځ ناست ؤ، "إِذْ طَلَعَ عَلَيْنَا رَجُلٌ شَدِيدُ بَيَاضِ الثِّيَابِ" چې ناڅاپه يو کس په موږ باندې راڅرګند شو چې هغه سپينې جامې اغوستلې وې، "شَدِيدُ سَوَادِ الشَّعَرِ" تک تور وېښتان يې وو، "لَا يُرَى عَلَيْهِ أَثَرُ السَّفَرِ وَلَا يَعْرِفُهُ مِنَّا أَحَدٌ" نه پرې د سفر څه نخښه وه او نه په موږ کې چا پېژندلو، "حَتَّى جَلَسَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" تر دې چې راغلو او نبي اکرم ﷺ ته مخامخ کېنستلو، "فَأَسْنَدَ رُكْبَتَيْهِ إِلَى رُكْبَتَيْهِ" خپلې ګنډې يې د رسول الله ﷺ د ګنډوسره مخامخ نژدې کېخودلې، "وَوَضَعَ كَفَّيْهِ عَلَى فَخِذَيْهِ وَقَالَ" او خپل لاسونه يې د رسول الله ﷺ په زنګنونو باندې کېښودل او وې فرمايل چې: "يَا مُحَمَّدُ ﷺ أَخْبِرْنِي عَنِ الْإِسْلَامِ" اې محمد ﷺ! د اسلام په باره کې ماته خبر راکړې چې اسلام څه شی دی؟ "فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" نو نبي اکرم ﷺ وفرمايل چې: "الْإِسْلَامُ أَنْ تَشْهَدَ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" اسلام دې ته ويلی شي چې ته ددې خبرې شاهدي ادا کړې چې نشته لائق د عبادت سېوا د الله ﷻ څخه، "وَتُقِيمَ الصَّلٰوةَ وَتُؤْتِيَ الزَّكٰوةَ، وَتَصُومَ رَمَضَانَ، وَتَحُجَّ الْبَيْتَ إِنِ اسْتَطَعْتَ إِلَيْهِ سَبِيلًا" چې ته لمونځ قائم کړې، زکوة ورکړې او د رمضان د مياشتې روژې ونيسې او د بيت الله حج وکړې، که چېرته د لارې د خرچ طاقت دې وي، "قَالَ: صَدَقْتَ، قَالَ" هغه وويل: رښتيا دې وويل، عمر ﷺ فرمايي چې: "فَعَجِبْنَا لَهُ يَسْأَلُهُ، وَيُصَدِّقُهُ" موږ تعجب وکړو چې عجيبه خبره ده پوښتنه هم کوي او بيا تصديق هم کوي، "قَالَ" بيا هغه کس وويل چې: "فَأَخْبِرْنِي عَنِ الْإِيمَانِ؟" د ايمان په باره کې ماته خبر راکړه چې ايمان څه ته ويل کېږي؟ "قَالَ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل چې: "أَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ، وَمَلَائِكَتِهِ، وَكُتُبِهِ، وَرُسُلِهِ، وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ" ايمان راوړې په الله ﷻ او په ملائکو د الله ﷻ او د هغه په کتابونو او رسولانو باندې او په ورځ د آخرت باندې او ايمان راوړې په اندازه د خير او شر باندې، يعنې چې خير او شر ټول د الله ﷻ له طرفه دي، څکه چې هغه يې خالق دی، "قَالَ" هغه کس وويل چې: "صَدَقْتَ" رښتيا دې وويل، "قَالَ" هغه کس بيا وويل چې: "فَأَخْبِرْنِي عَنِ الْإِحْسَانِ" ماته د احسان په باره کې خبر راکړه چې احسان څه ته ويل کېږي، "قَالَ" نبي کريم ﷺ وفرمايل چې: "أَنْ تَعْبُدَ اللهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ" ته د خپل رب عبادت په داسې طريقه وکړې لکه ته چې هغه وينې، که چېرته ته هغه نه وينې نو هغه خو تا وينې، "قَالَ: فَأَخْبِرْنِي عَنِ السَّاعَةِ" هغه کس بيا وويل چې د قيامت په باره کې خبر راکړه چې قيامت به کله وي؟ "قَالَ: مَا الْمَسْئُولُ عَنْهَا بِأَعْلَمَ مِنَ السَّائِلِ" نبي اکرم ﷺ ورته وفرمايل: هغه کس پوه نه دی د کوم نه چې پوښتنه شوې ده د هغه کس څخه چې پوښتنه کوي، يعنې خپله نبي عَلَيْهِ السَّلَام ذات ته اشاره ده او د پوښتنې والا څخه د الله ﷻ ذات مراد دی، "قَالَ: فَأَخْبِرْنِي عَنْ أَمَارَاتِهَا" هغه کس بيا وويل چې ماته خبر راکړه د قيامت د علاماتو او اشاراتو په باره کې؟ "قَالَ: أَنْ تَلِدَ الْأَمَةُ رَبَّتَهَا" نبي اکرم ﷺ ورته وفرمايل چې د قيامت د علاماتو نه يوه

علامه دا هم ده چې كله وينزه (غلامه) خپله باداره وزيږوي، "وَأَنْ تَرَى الْحُفَاةَ الْعُرَاةَ الْعَالَةَ رِعَاءَ الشَّاءِ يَتَطَاوَلُونَ فِي الْبُنْيَانِ" او د قيامت بله علامه دا هم ده چې ته ووينې لوڅې پښې والا خلك سوال كونكي د ګډو شپونكي چې هغوی به د كورنو په اوږدوالي كې (كمزوري او غريب او سوالګر خلك به خپل غټ غټ كورونه جوړوي، په جيړونو ځمكه به يې راګيره كړې وي په كور كې)، "قَالَ" عمر رضي الله عنه فرمايي چې "ثُمَّ انْطَلَقَ" بيا هغه كس لاړو، "فَلَبِثْتُ مَلِيًّا ثُمَّ قَالَ" موږ څه لږ وخت تېر كړو چې نبي اكرم ﷺ وفرمايل: "يَا عُمَرُ أَتَدْرِي مَنِ السَّائِلُ؟" اې عمره! ته پوه شوې چې دا څوك ؤ؟ "قُلْتُ: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ" ما ورته ووېل: الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ ښه پوهيږي، "قَالَ: «فَإِنَّهُ جِبْرِيلُ أَتَاكُمْ يُعَلِّمُكُمْ دِينَكُمْ" نبي اكرم ﷺ وفرمايل: دا جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَامُ ؤ، ددې لپاره راغلی ؤ چې تاسو ته ستاسو دين وښيي. رَوَاهُ مُسْلِمٌ

"وَمَعْنَى: "تَلِدَ الْأَمَةُ رَبَّتَهَا" أَيْ سَيِّدَتَهَا" ددې عبارت معنی دا ده چې وينزه به خپل باداريعنې مشر وزيږوي، "وَمَعْنَاهُ أَنْ تَكْثُرَ السَّرَارِيُّ" امام نووي رحمه الله فرمايي چې "تلد الامة ربتها" مطلب دا دی چې قيديان به ډېر شي وينزې به ډېرې شي، "حَتَّى تَلِدَ الْأَمَةُ السَّرِيَّةُ بِنْتًا لِسَيِّدِهَا" د بادار نه به يې اولاد پيدا كيږي، "وَبِنْتُ السَّيِّدِ فِي مَعْنَى السَّيِّدِ" د مالك اولاد هم مالك وي، "وَقِيلَ غَيْرُ ذَلِكَ" او نورې معناګانې يې هم بيان شوې دي، "وَالْعَالَةُ: الْفُقَرَاءُ" د عالة معنی فقيران او غريبان دي، "وَقَوْلُهُ "مَلِيًّا" أَيْ زَمَانًا طَوِيلًا وَكَانَ ذَلِكَ ثَلَاثًا" د "مليا" معنی ده ډېر وخت، دلته درې ورځې تيرې وې، دا حديث د جبريل په نوم مشهور دی.

لغوي تحقيق:

أماراتها: الامارة ددې معنی ده: علامې او نخښې.

تلد: "ولدت تلد لدة ولادة" ددې معنی ده بچی زېږول.

الحفاة: "حفي حفاً" باب سمع يسمع، ددې معنی ده: پښې ابله ګرځېدل، د ډېرو ګرځيدو له امله پښې پړسېدل.

العراة: "عري عرية وعرياً" باب سمع يسمع، ددې معنی ده: بربنډ/ لوڅ.

العالة: "عال عيلاً" ددې معنی ده: ګډې/ مېږې او وزې څرول.

الشاء: ددې معنی ده: ګډې/ مېږې او وزې.

د جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَامُ حديث:

تشريح: دې حديث ته حديث جبرئيل ويل كيږي.

ددې حديث شان ورود:

د مسلم شريف په روايت كې دي چې نبي كريم ﷺ وفرمايل: زما نه پوښتنې كوئ، خو د ډېر هيبت له وجې به صحابه كرامو پوښتنې نه شوې كولی، الله ﷻ جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَامُ رالولېږلو، ددې لپاره چې د دين بنيادي خبرو پوښتنې وكړي چې صحابه كرامو ته يې فايده ورسيږي.

د حديث جبرئيل اهميت:

ځيني علماء کرامو ددې حديث جامع او مانع الفاظو په باره کې فرمايلي دي چې لکه څنګه د قرآن کريم تفصيلي علوم او معارفو خلاصه په سورت فاتحه کې ده، چې له امله يې د سورت فاتحې نوم ام القرآن کېښودل شوی دی، دغه شان حديث جبرئيل هم ددې قابل دی چې دې ته ام السنة نوم کېښودل شي، لکه څنګه چې علامه ابن حجر رحمه الله د قرطبي رحمه الله نه نقل کړي دي "هذا الحديث يصلح أن يقال له أم السنة تضمنه من جمل علم السنة" ترجمه: دا حديث ددې قابل دی چې دې ته ام السنة نوم کېښودل شي، ځکه چې په دې کې پوره علم پروت دی.

د حديث جبرئيل زمانه:

مولانا ادريس رحمه الله د حافظ توربشتي نه نقل کوي چې د حديث جبرئيل زمانه د ۱۰ هجري او حجة الوداع نه وروسته ده، په دې حديث کې د اسلامي شريعت پوره خلاصه ښودل شوې ده، ددې لپاره چې د نبي کريم ﷺ د ټول ژوند تفصيلي احکاماتو آخري وخت کې خلاصه وشي، هم دغه خبره تقريباً مولانا شبير احمد عثماني رحمه الله هم کړې ده، فرمايي چې: "يحتمل أن يكون بحجة الوداع لأنه ورد لفظ آخر عمره".

جبرئيل عليه السلام خپل لاس چېرته کېښودلو؟

"ووضع كفيه على فخذيه" د زنګنونو سره يې زنګنونه سم کړل او خپل لاسونه يې په پتون کېښودل، په دې جمله کې "كفيه" د ضمير مرجع بالاتفاق راتلونکی شخص (جبرئيل عليه السلام) دی، ليکن د "فخذيه" په ضمير کې دوه قوله دي.

اولنی قول دا دی چې د راتلونکي شخص پتون ترې مراد دی، نو بيا به ترجمه داسې شي چې هغه خپل دواړه لاسونه په خپلو دواړو پتونونو باندې کېښودل.

دويم قول دا دی چې د ضمير مرجع نبي کريم ﷺ پتون ته راجع شي، نو بيا به ترجمه داسې شي چې هغه خپل دواړه لاسونه د نبي کريم ﷺ په پتون باندې کېښودل، په دې سره مقصد دا ؤ چې نبي کريم ﷺ ځانته متوجه کړي، ددې دويم قول تائيد په بل روايت سره هم کېدلی شي، "حتى وضع يده على ركبتي رسول الله ﷺ".

ولې جبرئيل عليه السلام يا محمد ﷺ وويل؟

"وقال يا محمد ﷺ!" او وې ويل: اې محمد ﷺ! په ظاهر کې دا جمله د قرآن کريم ددې آيت نه مخالفه معلومېږي په کوم کې چې مؤمنانو ته خطاب شوی دی چې: "لاتجعلوا دعاء الرسول بينكم كدعاء بعضكم لبعض" تاسو خپلو کې څنګه يو بل ته آوازونه کوئ داسې پيغمبر ﷺ ته آواز مه کوئ، محدثينو ددې ګن شمېر ځوابونه ليکلي دي. په هغې کې څه دا دي په قرآن کريم کې خطاب بني آدم ته دی، ددې حکم څخه پرښتې مستثنی دي، دويم ځواب دا دی چې د محمد نه لغوي معنی مراد ده، يعنې هغه ذات چې د تعريف قابل دی، دريم ځواب دا دی چې دا واقعه ددې آيت د نزول نه مخکې ده.

اسلام څه دی؟

"أخبرني عن الإسلام" اولنی سوال د اسلام په باره کې دی، ځکه چې اسلام دې ته ویلی شي چې د شريعت ارکانو ته غاړه کېښودل شي او په دې باندې کلك درېدل، نو ځکه دا د ټولو نه اول پېژندل پکار دي، ددې سوال په ځواب کې د اسلام بنيادي رکنونه بيان شو چې کلمه طيبه ده، لمونځ دی، زکوة دی، روژه ده او حج دی.

ایمان څه ته وايي؟

"أخبرني عن الإيمان" ايمان دې ته وايي چې د محمد ﷺ په ټولو خبرو باندې پوره باور او يقين وساتي، د زړه له اخلاصه ورته غاړه کيږدي، په دې ايماني خبرو کې اساسي خبرې هغه دي چې په دې حديث کې ذکر دي، يعني په الله ﷻ باندې ايمان راوړل، په پرښتو ايمان راوړل، آسماني کتابونو باندې ايمان راوړل، په پيغمبرانو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ باندې ايمان راوړل، په قيامت باندې ايمان راوړل، د خير او شر په تقدير باندې ايمان راوړل.

احسان څه ته وايي؟

"فأخبرني عن الإحسان أن تعبد الله كأنك تراه" احسان ته ويلی شي؟ احسان دې ته ويلی شي چې ته د الله ﷻ داسې عبادت وکړې لکه چې هغه ته وينې؛ په دنيا کې ظاهري سترګې الله ﷻ نه ويني، که داسې تصور نه پيدا کيږي؛ نو بيا داسې تصور بايد وکړي چې الله ﷻ خو ما ويني او ماته ګوري، په اولنی درجه کې به عبادت په اخلاص سره وشي، خشوع او خضوع به پکې وي، ډېر خوند به پکې وي او په دويمه درجه کې به لږ کم وي.

قيامت به کله وي؟

"فأخبرني عن الساعة؟" قيامت به کله راځي؟ د قيامت د ورځې په اړه ماته خبر راکړه!

سوال: ددې څلورو سوالونو خپل منځ کې څه ربط دی؟

ځواب: دلته ترقي د ادنی څخه اعلی ته شوې ده، تر ټولو وړاندې انسان په اسلام کې داخليږي، بيا ترې مؤمن جوړيږي، ددې نه وروسته د احسان مرتبه حاصليږي، اوس د انسان ايمان کامل کيږي، نو قاعده دا ده چې کله کوم شی کمال ته رسيږي، نو بيا ددې د زوال وخت شروع شي؛ دغه ډول عبادت خپل کمال ته ورسيږي، نو اوس ددې د زوال وخت راشي يعنې قيامت.

"ما المسؤل عنها بأعلم من السائل" ددې جملې په باره کې علماء فرمايي چې ددې معنی ده: د قيامت د راتلو باره کې موږ دواړه مساوي او برابر يو، چاته هم ددې علم نشته، علم محيط صرف د الله ﷻ سره دی، نبي کريم ﷺ ته الله ﷻ اګرچې ډېر زيات علم ورکړی وو، ليکن علم محيط يې نه درلود، علم ذاتي او محيط صرف دا خصوصيت د الله ﷻ دی.

"أن تلد الأمة ربتها" وينزې به خپل بادران وزېږوي، ددې جملې ډېر زيات مطلبونه بيان شوي دي؛

ښځينې يې دا دي: دا جمله کنايه ده دې نه چې اولاد به د خپل مور پلار نافرماني شروع کړي، لکه د مور پلار نه يې چې غلامان جوړ کړي وي، اولاد به مشران شي يا دا چې مجاهدين به د کافرانو سره جنګ وکړي، کافرانو به د مسلمانانو سره بنديان شي، د دوی نه چې به کوم اولادونه وشي، بيا به دغه اولاد مشران شي يا دا چې نا اهله خلك به مشران شي، مثلاً په يو روايت کې دي چې: "إذا وسد الأمر إلى غير أهله فانتظر الساعة" کله چې مشري نا اهله خلکو ته په لاس ورشي؛ نو قيامت ته انتظار کوئ، دغه دويم روايت د اولني روايت پوره وضاحت دی.

"وأن ترى الحفاة العراة" (حفاة) وايي: لوڅې پښې ګرځېدل، (عراة) وايي بربنډ لوڅ سړي ته، عالة وايي محتاج او زيات عيال ماشومانو والا سړي ته، (رعاء) د راعي جمع ده، شپونکي ته ويل کيږي. مطلب دا چې وړې ترې پښې ابله پښې شپونکيان يعنې رذيل او بربنډ خلك به اوچت محلونه جوړوي.

دالله ﷻ ويره بايد هروخت سړي سره وي

۲۱- "عَنْ أَبِيْ ذَرٍّ جُنْدُبِ بْنِ جُنَادَةَ وَأَبِيْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ" د ابي ذر جندب بن جنادة او عبد الرحمن معاذ بن جبل ﷺ نه روايت دی، دوی وايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې: "اتَّقِ اللهَ حَيْثُمَا كُنْتَ" د الله ﷻ نه ووېرېږه چېرته چې يې، "وَأَتْبِعِ السَّيِّئَةَ الْحَسَنَةَ تَمْحُهَا" او په ګناه پسې نيکي کوه ددې لپاره چې ګناه ختمه شي، "وَخَالِقِ النَّاسَ بِخُلُقٍ حَسَنٍ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ" او د خلکو سره ښکلي اخلاق کوه، دا حديث ترمذي روايت کړی دی او فرمايلي يې دي چې دا حديث حسن دی.

لغوي تحقيق: اتق: "إتقى اتقاءً" ددې معنى وېرېدل، خوف کول، د ځانه ځان ساتل.

په هرحال کې تقوی اختيارول پکار دي:

"إتق اللــه حيثما كنت" چېرته چې يې د الله ﷻ نه وېرېږه! په يو بل روايت کې رسول الله ﷺ ابو ذر غفاري ﷺ ته هم دغسې نصيحت کړی وو، "أوصيك بتقوى اللــه في سر امرك وعلانيتك" زه تا ته د تقوی وصيت کوم په پټه وي او که په ښکاره وي، محدثين فرمايي چې د تقوی لفظ مختصر دی، ليکن ډېر زيات جامع لفظ دی، خلاصه دا چې په دې کې ټول هغه کارونه منع شوي دي چې شريعت يې منع کړي وي، د ټولو هغو کارونو حکم پکې شوی دی چې شريعت يې د کولو حکم کوي، دې ته تقوی ويل کيږي

د ګناه وروسته د نيک کار ترغيب:

"واتبع السيئة الحسنة تمحها" د ګناه وروسته نيك عمل کوه چې ګناه پرې ووينځل شي، ددې حديث مفهوم په قرآن شريف کې هم شته، "إن الحسنات يذهبن السيئات" بې شکه نيکي ګناهونه ختموي، د محدثينو او مفسرينو ټولو په دې خبره اتفاق دی چې دلته د نيکی نه مطلق نيکي مراد ده، مثلاً

لمونځ، روژه، نفلي صدقې، صله رحمي وغيره، او دغه شان د ګناه نه هم مطلق ګناه مراد ده، هغه کبيره وي او که صغيره وي، ليکن د قرآن شريف د نورو ايتونو او د رسول الله ﷺ د حديثو له لوري علماء کرام ددې ګناهونونه صغيره ګناهونه مراد کوي، مطلب دا چې د نېک عمل په وسيله بد عمل صفا کيږي، ليکن په تفسير بحر محيط کې محققينو علماوو دا اصول نقل کړي دي چې د نېک عمل په وسيله به صغيره ګناه هغه وخت معاف شي چې ددې ګناه کوونکی پښېمانه او شرمنده شي او د بيا لپاره د نه کولو کلکه اراده وکړي، په ګناه باندې دوباره اصرار ونه کړي، ځکه چې په روايتونو کې خومره نيک عملونه د بد عمل د کفارې په باره کې رانقل شوي دي، په هغو ټولو کې دا هم شته چې ددې ګناه کونکي په خپل عمل باندې پښېمانه وي، د بيا لپاره يې د نه کولو پخه اراده په زړه کې وي، په داسې توبې او نيک عمل باندې رسول الله ﷺ د ګناه معاف کېدو زيرې ورکړی دی.

د ښو اخلاقو فضيلت:

"خالق الناس بخلق حسن" د خلکو سره په ښه اخلاقو معامله کوه، د ښو اخلاقو فضيلت په رواياتو کې په کثرت سره راغلی دی، په يو روايت کې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "إن من أحبكم إلى أحسنكم أخلاقاً" په تاسو کې ډېر خوښ ماته هغه سړی دی چې اخلاق يې ښکلي وي، په يو بل روايت کې دي چې يو صحابي پوښتنه وکړه چې په ټولو ښه شيانو کې غوره شی څه شی دی چې انسان ته ورکړل شوی دی؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: غوره اخلاق، په يو بل روايت کې دي: "إن أثقل شئ يوضع في ميزان المؤمن من يوم القيامة خلق حسن" د قيامت په ورځ به د ښو اخلاقو نه بل کوم شی زيات وزني نه وي.

د راوي ابوذر رضي الله عنه مختصر حالات:

اصل نوم يې جندب دی، کنيت يې ابوذر دی، لقب يې شيخ الاسلام دی، د پلار نوم يې جناده دی، د مور نوم يې رمله وه، د بني غفار قبيلې سره يې تعلق درلود، په شروع کې ډېر مشهور راهزن (لار شلوونکی) وو، بيا يې ناڅاپه په ژوند کې لوی انقلاب پيدا شو، خپله فرمايي چې د اسلام راوړلو نه درې کاله مخکې ما لمونځ شروع کړی وو، (طبقات ابن سعد، ۴، ۱۶۳) کله چې هغه ته د اسلام دعوت ورسېدو نو خپل ورور انيس يې د تحقيق لپاره راولېږلو، بيا خپله راغلو او د علي رضي الله عنه سره يو ځای شو، د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شو او په اسلام مشرف شو، نبي کريم ﷺ هغه د خپل قوم او قبيلې لپاره اسلام ته د رابلنې کار ورپه غاړه کړو، خپل ټول وخت به يې په دعوت او تبليغ کې تېرولو، نيمه قبيله د هغه په دعوت سمدستي مسلمانه شوه او باقي نيمه يې د هجرت نه وروسته مسلمانه شوه

(مسند احمد)

د نبي کريم ﷺ د هجرت نه وروسته هغه هم هجرت وکړو، ددېنه وروسته د نبي کريم ﷺ په خدمت کې مصروف وو، ابوذر رضي الله عنه تارک الدنيا او زاهد صحابي وو، د نبي کريم ﷺ او د ابوبکر رضي الله عنه په زمانه کې په مدينه منوره کې اوسېدلو، ددې نه وروسته يې شام ته هجرت وکړو، هغه دا نظر درلود

چې کوم مال درسره دی هغه له ځان سره ساتل ګناه ده، دا د نورو حق دی، د نهارو او ترو خلکو په دې کې حق دی، په دې وجه به يې هميشه د صحابه کرامو ﷺ سره بحث مباحثه کول، عثمان ﷺ هغه مدينې منورې ته راوبللو، دلته يې هم د خلکو سره اختلافونه شروع کړل، د مجبورئ له امله عثمان ﷺ ورته وويل: تاسو په مکه مکرمه کې مقام ربذه ته لاړ شئ، هلته پاتې شئ او په ښينو روايتونو کې راځي چې هغه خپله ځان ته دغه ځای خوښ کړو.

وفات: په ربذه کې يې طبعيت سخت خراب شو، ميرمن يې په ژړا شوه چې په دې دښته کې به څوک انتظام کوي، هغه ورته وفرمايل: تاسو ولې ژاړئ؟ ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چې په تاسو کې به يو کس په دښته او صحرا کې مري، هلته به د مسلمانانو يو ټولی ورځي، هغوی به ددې کس کفن او دفن برابروي، بيا همداسې وشول، عبدالله بن مسعود ﷺ د يو جماعت سره د مدينې منورې نه عراق ته روان وو، عبدالله بن مسعود ﷺ پرې د جنازې لمونځ وکړو او بيا يې هلته دفن کړو (مستدرك حاكم: ۳- ۳۴۶)

مرويات: د رواياتو شمېر يې ۲۸ ته رسيږي، په دولسو روايتونو يې امام بخاري رحمه الله او امام مسلم رحمه الله اتفاق کړی دی، په دوه روايتونو کې يې امام بخاري رحمه الله او په اوه روايتونو کې امام مسلم رحمه الله منفرد دی.

هر کار د تقدير موافق کيږي

۲۲- "عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ" د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی: "كُنْتُ خَلْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمًا فَقَالَ" زه يوه ورځ د نبي اکرم ﷺ سره وروسته په سوارلۍ ناست وم چې وې فرمايل: "يَا غُلَامُ إِنِّي أُعَلِّمُكَ كَلِمَاتٍ احْفَظِ اللّٰهَ يَحْفَظْكَ" اې هلکه! زه تاته يو څو کلمې ښيم، دا کلمې يادې کړه الله ﷻ به ستا حفاظت وکړي، "احْفَظِ اللّٰهَ تَجِدْهُ تُجَاهَكَ" ته الله ﷻ ياد کړه ته به الله تعالی مخامخ ومومې، "إِذَا سَأَلْتَ فَاسْأَلِ اللّٰهَ" کله چې ته سوال کوې نو د الله ﷻ نه سوال کوه، "وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللّٰهِ" او کله چې مدد غواړې نو صرف د يو الله ﷻ نه مدد غواړه، "وَاعْلَمْ أَنَّ الْأُمَّةَ لَوِ اجْتَمَعَتْ عَلَى أَنْ يَنْفَعُوكَ بِشَيْءٍ" په دې خبره ځان پوه کړه چې که ټول امت را جمع شي په دې خبره چې تاته څه فايده درکړي، "لَمْ يَنْفَعُوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللّٰهُ لَكَ" نو نه شي درکولی هيڅ قسم فايده مګر هغه چې الله ﷻ تاته په تقدير کې ليکلې وي، "وَإِنِ اجْتَمَعُوا عَلَى أَنْ يَضُرُّوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَضُرُّوكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللّٰهُ عَلَيْكَ" او که چېرته ټول امت په دې خبره راجمع شي چې تاته څه نقصان درکړي؛ نو هيڅ نقصان تاته نه شي درکولی، مګر هغه چې څومره الله ﷻ ستا په تقدير کې ليکلی وي، "رُفِعَتِ الْأَقْلَامُ وَجَفَّتِ الصُّحُفُ" قلمونه اوچت شوي دي او کاغذونه وچ شوي دي، "رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَفِي رِوَايَةِ غَيْرِ التِّرْمِذِيِّ" دا ترمذي روايت کړی او ويلي يې دي چې دا حديث حسن صحيح دی او غير د ترمذي څخه په نورو کې څه داسې دي: "احْفَظِ اللّٰهَ تَجِدْهُ أَمَامَكَ" ته الله ﷻ ياد کړه ته به ومومې الله ﷻ خپل په وړاندې، "تَعَرَّفْ إِلَى اللّٰهِ فِي الرَّخَاءِ" ته الله ﷻ وپيژنه په نرم او ښکلي حالت کې، "يَعْرِفْكَ فِي الشِّدَّةِ" ته

به راياد كړي په سختى كې، "وَاعْلَمْ أَنَّ مَا أَخْطَأَكَ لَمْ يَكُنْ لِيُصِيبَكَ" په دې خبره ځان پوه كړه چې كوم شى تاته در ونه رسېدو ؛ نو په دې پوه شه چې هغه ستا نه ؤ او نه تاته در رسېدى شو ، "وَمَا أَصَابَكَ لَمْ يَكُنْ لِيُخْطِئَكَ" او كوم شى چې تاته در ورسېدو نو دا به ستا څخه نه خطاء كېدو ، يعنې چې تاته نه در رسيدو ، بلكې دا به خامخا تاته در رسيږي، "وَاعْلَمْ أَنَّ النَّصْرَ مَعَ الصَّبْرِ" په دې خبره پوه شه چې د الله ﷻ مرسته د صبر سره وي، "وَأَنَّ الْفَرَجَ مَعَ الْكَرْبِ" او خوشحالي د تكليفونو سره وي، "وَأَنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْراً" او په هره سختى پسې آساني وي.

لغوي تحقيق:

الأقلام: ددې معنى ده : د ليكلو قلم، تر څو پورې چې تراشل شوى نه وي، نو دې ته قصبة او براعة ويلى شي او چې جوړ شي نو بيا ورته قلم ويلى شي.

جفت: "جف جفافاً وجفوفاً" باب ضرب يضرب، ددې معنى ده : وچېدل.

الصحف: جمع يې "الصحيفة" راځي، ددې معنى ده : كاغذ، ورق.

الرخاء: "رخا رخاءً" باب نصر ينصر" او د كرم يكرم" څخه هم راځي، ددې معنى ده: بنكلى ژوند تېرول.

الفرج: "فرج فرجاً "د ضرب يضرب باب دى، ددې معنى ده : پراخي.

د الله ﷻ د حقونو خيال ساته ! الله ﷻ به ستا مرسته وكړي:

تشريح : "إحفظ اللـــه يحافظك" تاسو د الله ﷻ د حكمونو حفاظت وكړئ، الله ﷻ به ستاسو حفاظت كوي، په قرآن شريف كې ارشاد دى چې: "أوفوا بعهدى أوف بعهدكم" تاسو چې زما سره كومې وعدې كړي دي هغه پوره كړئ زه به ستاسو سره خپله وعده پوره كړم، "إن تنصروا الله ينصركم" تاسو د الله ﷻ د دين حفاظت كونكي جوړ شئ، الله ﷻ به ستاسو حفاظت وكړي، "إحفظ اللـــه تجده تجاهك" د الله ﷻ د حقونو خيال ساته نو الله ﷻ به ستا حفاظت وكړي، محدثينو ددې مختلف توجهات بيان كړي دي : مثلاً تاسو د الله ﷻ د حقونو خيال وساتئ، يعنې د كومو شيانو د كولو حكم يې چې درته كړى دى هغه وكړئ او د كومو شيانو نه يې چې منع فرمايلي ده، د هغې څخه منع شئ، نو په داسې صورت كې به الله ﷻ ستاسو خيال وساتي، تاسو به په دنيا كې هم د هر قسم مصيبت څخه بچ شئ او په آخرت كې به هم د عذاب څخه بچ شئ، لكه په قران شريف كې دي: "إن الله مع الذين اتقوا والذين هم محسنون" يا ددې مطلب دا دى چې تاسو د الله ﷻ د احكاماتو پوره كولو اهتمام كوئ؛ نو الله ﷻ به تاسو په خپل حفاظت او په پناه كې وساتي، تاسو به په خپلو مقصدونو كې كامياب كړي

يا ددې مطلب دا دى چې تر څو پورې تاسو د الله ﷻ په عبادت، رضامندئ او د خوشحالئ په لټون كې يئ، نو الله ﷻ به خپل په وړاندې وويني، په داسې صورت كې به تاسو كامل مؤمنان جوړ شئ، هروخت به ستاسو نظر په خپل لوى ذات الله ﷻ وي، د الله ﷻ نه به سېوا هر شى معدوم او فناء وي

کله چې هم سوال کوئ د الله جل جلاله نه يې کوئ !

"وإذا سألت فاسأل اللـه" کله چې د کوم شي سوال کوئ، د الله جل جلاله څخه يې کوئ؛ په دې باندې الله جل جلاله ډېر زيات خوشحاليږي، کله هم د دنياداره خلکو څخه سوالونه مه کوئ، "ما أحسن من قال: الله يغضب إن تركت سواله وأبناء آدم حين تسأل تغضب".

الله جل جلاله په داسې حال ناراضه کيږي چې سوال ترې نه کيږي او ابن آدم هغه وخت ناراضه کيږي کله چې سوال ترې کوې، په قرآن شريف کې د الله جل جلاله ارشاد دی چې: "وقال ربكم ادعوني أستجب لكم" ستاسو رب فرمايلي دي: زما نه سوال کوئ زه به ستاسو سوالونه قبلوم، "واعلم أن الأمة لو اجتمعت على أن ينفعوك بشئ لم ينفعوك إلا بشئ الخ" په دې خبره پوه کړه چې که ټول امت تاته څه فايده رسول غواړي؛ نو هغوی به تاته هيڅ قسم فايده ونه رسوي، ځکه چې د نفع او نقصان مالك صرف او صرف يو ذات باري تعالی دی، بس همدې ذات ته په هر حال کې رجوع کوئ، که الله جل جلاله څه نه درکوي؛ نو يو فرد هم بلکې ټول مخلوق؛ الله جل جلاله د مرضۍ څخه بغير بل ته څه فايده يا نقصان نه شي رسولی.

قلمونه اوچت شوي دي او کاغذونه وچ شوي دي:

"رفعت الأقلام وجفت الصحف" قلمونه اوچت شوي دي او کاغذونه وچ شوي دي، يعنې کوم حکمونه چې بې ليکل غوښتل هغه ليکل شوي دي او ترقيامته د تقدير او قسمت فيصلې په لوح محفوظ کې ليکل شوي دي، لوح محفوظ رانغښتل شوې دی او کېښودل شوې دی اوس په دې کې هيڅ قسم تغير او تبديل نه راځي، د صحيفو وچېدو مطلب دا دی چې لکه څنګه کاتب کاغذ وليکي، بيا قلم کيږدي؛ دغه شان الله جل جلاله په لوح محفوظ کې هرڅه وليکل، تر قيامته پورې چې څه کيږي هغه ټول پکې وليکل شول، قلم يې اوچت کړو، کاغذ يې راونغاړلو، اوس په دې کې هيڅ قسم تغير او تبديلي نه کيږي، ځينې محدثين فرمايي چې تغير او تبديل په لوح محفوظ کې نه راځي، ليکن هغه عمل نامې چې کراما کاتبين پرښتې يې د بندیانو عملونه پکې ليکي، په دې کې کمی زياتی راتلی شي، مثلاً کوم سړي ګناه وکړه، پرښتو هغه وليکل، بيا هغه کس توبه وويستل، نو کرام الکاتبين پرښتې يې هغه ګناه د عملنامې څخه لرې کړي.

د شيخ عبدالقادر جيلاني رحمه الله نصيحت:

شيخ عبدالقادر جيلاني رحمه الله فرمايي چې په هر مسلمان باندې لازم دي چې دا حديث خانته مخکې کيږدي او خپل ټول حرکات او سکنات ددې حديث مطابق جوړ کړي، ددې لپاره چې په دنيا او آخرت کې د الله جل جلاله د رحمت مستحق وګرځي.

صحابه کرامو به د وړينته برابر غلط کار د هلاکت سبب ګڼلو

۲۳- عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ د انس رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې: "إِنَّكُمْ لَتَعْمَلُونَ أَعْمَالاً" بې شکه تاسو څه داسې عملونه کوئ، "هِيَ أَدَقُّ فِي أَعْيُنِكُمْ مِنَ الشَّعْرِ" چې هغه عملونه ستاسو په نظر کې د وېښته نه هم زيات

کمزوري دي، "كُنَّا نَعُدُّهَا عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْمُوْبِقَاتِ" ليکن هم دغه عملونه به موږ د نبي کرم ﷺ په زمانه کې د هلاکونکو ګناهونو څخه شمارل، يعنې تاسو چې کوم عملونه د ګناه والا کوئ او بيا يې کمه ګنئ، حال دا چې هم دا ګناهونه به موږ داسې ګڼل چې په دې سره انسان د تباهۍ سره مخامخ کېدی شي "رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ".

وَقَالَ: "الْمُوْبِقَاتُ" اَلْمُهْلِكَاتُ. موبقات معنی هلاك کوونکي.

لغوي تحقيق: أدق: "دق دقاقة" باب ضرب يضرب، ددې معنی ده: باريك او نرۍ.

العين: سترګه.

الموبقات: "وبق وبقاً" باب ضرب يضرب، ددې معنی ده: هلاکت او تباهي.

د الله تعالى څخه د نه وېرېدوله وجې په انسان کې جرات پيدا کيږي:

"لتعملون أعمالاً هي أدق في أعينكم من الشعر"، "کوم عملونه چې ستاسو په نظر کې د وېښته نه هم زيات کمزوري او معمولي ليدل کيږي" مطلب دا چې په انسان کې د الله ﷻ نه خوف او وېره پرته وي هغه انسان هومره په ګناه جرات نشي کولی، دا طاقت چې څومره کيږي دومره انسان په ګناه کولو جرات مند کيږي، د صحابه کرامو په زړونو کې د الله ﷻ نه وېره پرته وه، نو ځکه هغوی وړه نه وړه ګناه هم د هلاکت سبب ګڼلو او بله وجه دا وه چې د رسول الله ﷺ د صحبت په وجه ورته دا کيفيت بدرجه اتم حاصل شوی وو، ليکن د عهد رسالت نه وروسته دا کيفيت بتدريج ختميدو، تردې چې انس ﷺ خپلو تابعينو ملګروته وفرمايل: اوس هغه وخت رارسېدلی دی چې کومه ګناه به موږ د هلاکت ذريعه ګڼل، اوس هغه ګناه معمولي او وړه ګڼل کيږي، ددې نه معلومه شوه چې انسان بايد په خپل زړه کې د الله ﷻ څخه وېره پيدا کړي، بيا به ګناه درڅخه په آسانه ونه شي، دغه ډول په يو بل حديث کې راغلي دي چې مؤمن سړی ګناه داسې ګڼي لکه په هغه باندې چې غر را پرېوځي او غير مؤمن ګناه داسې ګڼي لکه په پوزه يې چې ته يو مچ ناست وي او هغه يې وشړي، يعنې هغه په ګناه باندې جراتمند وي، هيڅ پروا يې نه کوي

غيرت د الله ﷻ صفت دی

۲۴- "عَنْ أَبِيْ هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې: "إِنَّ اللّٰهَ تَعَالٰى يَغَارُ" بې شکه الله ﷻ ډېر زيات غيرتي ذات دی، "وَغَيْرَةُ اللّٰهِ تَعَالٰى" او الله ﷻ ته ډېر زيات غيرت ورځي په دې خبره، "أَنْ يَّأْتِيَ الْمَرْءُ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ" چې انسان هغه کار ته راشي او وې کړي کوم کار چې الله ﷻ منع کړی او حرام کړي وي، "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ وَالْغَيْرَةُ بِفَتْحِ الْغَيْنِ: وَأَصْلُهَا الْأَنَفَةُ" غيرت چې په فتح د غين سره شي، ددې معنی ده: خود داري، عزت

لغوي تحقيق:

يغار: "غار يغار" ددې معنی ده: غيرت کول.

حرم: "حرم تحريماً" باب تفعيل، ددې معنی ده: يو شی حرامول.

د الله ﷻ د غيرت مطلب:

"إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى يَغَارُ": د غيرت لفظ په پښتو کې دوه معناګانې لري. اول دا چې کوم سړی په دې بد کار کوي چې هغه ما نه وېني، يا داسې کار وکړي چې بذات خود بد کار نه وي، خو د نورو په نزد هغه کار عيب ګڼل کيږي، په دې حالت کې څوك ورته مخې ته راشي نو هغه سړی سمدستي هغه کار پرېږدي او د پټېدو کوشش يې کوي.

دويمه معنی يې دا ده چې کوم پلار يا مشر خپل ماتحت په سختۍ سره د کوم کار کولو څخه منع کړي، د دې منع باوجود هغه کشر يا زوی د خپل پلار يا مشر په وړاندې هغه کار وکړي د کوم نه يې چې منع کړی وي، په دې ځای کې دغه دويمه معنی مناسبه ده چې الله ﷻ رب العزت خپلې مخلوق منع کړي دي د دوی د فايدې لپاره، اوس د مخلوق بيباکي ده او بې غيرتي يې ده چې هغه منع شوي کارونه کوي، په دې باندې الله ﷻ ته غوسه ورځي. کله کله د مصلحت په طور هم په هغه وخت سزا ورکړي، ليکن عموماً الله ﷻ د خپل کرم او فضل په بناء سمدستي سزا نه ورکوي، بلکې مهلت ورکوي، د دې لپاره چې مخلوق توبه وباسي، که هغه توبه وکړي نو بيا هغه ته خپل رحمت او شفقت متوجه کړي.

الله ﷻ هر وخت امتحان اخيستی شي

۲۵- "عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "إِنَّ ثَلَاثَةً مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ: أَبْرَصَ وَأَقْرَعَ وَأَعْمَى" په بني اسرائيلو کې درې کسان وو، د ابرص يعنې برګي مرض والا، اقرع يعنې ګنجی، پمن اوړوند. "أَرَادَ اللهُ أَنْ يَبْتَلِيَهُمْ" الله ﷻ اراده وکړه چې په دوی باندې امتحان وکړي، "فَبَعَثَ إِلَيْهِمْ مَلَكًا" الله ﷻ راولېږل دوی ته يوه پرښته. "فَأَتَى الْأَبْرَصَ فَقَالَ" اول خل پرښته د برګي مرض والا ته راغله او ورته يې وويل: "أَيُّ شَيْءٍ أَحَبُّ إِلَيْكَ؟" کوم شی تا ته زيات خوښ دی؟ "قَالَ: لَوْنٌ حَسَنٌ وَجِلْدٌ حَسَنٌ وَيَذْهَبُ عَنِّي الَّذِي قَدْ قَذِرَنِي النَّاسُ" هغه ورته وويل: ښايسته رنګ، ښايسته څرمن او بل دا چې زمانه پمن والی لري شي د کوم په وجه چې خلك زما نه کرکه کوي. "فَمَسَحَهُ فَذَهَبَ عَنْهُ قَذَرُهُ وَأُعْطِيَ لَوْنًا حَسَنًا" هغې پرښتې د دغه سړي په مخ لاس راکش کړو، نو الله ﷻ د هغه څخه ګنجيتوب او پمن والی لرې کړو، الله ﷻ ډېر ښکلی رنګ ورکړو، "فَقَالَ: فَأَيُّ الْمَالِ أَحَبُّ إِلَيْكَ؟" بيا پرښتې پوښتنه وکړه چې کوم مال ستا ډېر خوښ دی؟ "قَالَ: الْإِبِلُ - أَوْ قَالَ الْبَقَرُ - شَكَّ الرَّاوِي" هغه کس ورته وويل چې اوښان يا يې داسې وويل: چې غواګانې مې خوښې دي، راوي په ديکې شك کړی دی، "فَأُعْطِيَ نَاقَةً عُشَرَاءَ فَقَالَ: بَارَكَ اللهُ لَكَ فِيهَا" نو الله ﷻ هغه ته د لسو مياشتو بلاربه اوښه ورکړه او بيا ورته پرښتې د برکت دعاء وکړه.

"فَأَتَى الْأَقْرَعَ فَقَالَ" بيا هغه پرښته ګنجي ته راغله او ورته يې وفرمايل: "أَيُّ شَيْءٍ أَحَبُّ إِلَيْكَ" کوم شی دې ډېر خوښ دی؟ "قَالَ: شَعْرٌ حَسَنٌ وَيَذْهَبُ عَنِّي هَذَا الَّذِي قَذِرَنِي النَّاسُ فَمَسَحَهُ" وې ويل: ښايسته وېښتان د دې غوارم چې د خلکو نفرت را نه ختم شي، نو پرښتې د هغه په مخ لاس راښکلو، "فَذَهَبَ عَنْهُ وَأُعْطِيَ شَعْرًا حَسَنًا" د الله ﷻ نه

نو د هغه نه خرابوالې لاړو او الله ﷻ هغه ته ښکلې وښتان ورکړه، "قَالَ فَأَيُّ الْمَالِ أَحَبُّ إِلَيْكَ؟" بیا هغې پرښتې ورته ووېل : کوم مال درته ډېر خوښ دی؟ "قَالَ: الْبَقَرُ فَأُعْطِيَ بَقَرَةً حَامِلًا قَالَ: بَارَكَ اللهُ لَكَ فِيهَا" هغه ووېل غوا مې خوښه ده، هغه ته الله ﷻ یوه بلاربه غوا ورکړه او بیا پرښتې ورته د برکت دعاء وکړه.

"فَأَتَى الْأَعْمَى فَقَالَ" دا ځل پرښته ړوند ته راغله او ورته یې ووېل: أَيُّ شَيْءٍ أَحَبُّ إِلَيْكَ؟ کوم شی ستا ډېر خوښ دی؟ "قَالَ: أَنْ يَرُدَّ اللهُ إِلَيَّ بَصَرِي فَأُبْصِرَ النَّاسَ" هغه ووېل : چې الله ﷻ زما د سترګو نظر ماته واپس کړي چې خلک پرې ووینم، "فَمَسَحَهُ فَرَدَّ اللهُ إِلَيْهِ بَصَرَهُ قَالَ" نو پرښتې د هغه په سترګو لاس راښکلو، الله ﷻ د هغه نظر واپس کړو، بیا یې ورته وفرمایل چې: "فَأَيُّ الْمَالِ أَحَبُّ إِلَيْكَ؟" کوم مال دې زیات خوښ دی؟ "قَالَ: الْغَنَمُ فَأُعْطِيَ شَاةً وَالِدًا" هغه ووېل چې پسونه (ګډې/ مېږې) مې خوښې دي، الله ﷻ هغه ته یوه د بچو والا ګډه ورکړه، "فَأُنْتِجَ هٰذَانِ" دې هم بچې وزېږول، "وَوَلَّدَ هٰذَا" او دغې نورو هم بچې وزېږول، "فَكَانَ لِهٰذَا وَادٍ مِنَ الْإِبِلِ" نو د دغه کس لپاره پوره یوه دره د اوښانو ډکه شوه، "وَلِهٰذَا وَادٍ مِنَ الْبَقَرِ" او د دې بل لپاره پوره یوه دره د غواګانو څخه ډکه شوه، "وَلِهٰذَا وَادٍ مِنَ الْغَنَمِ" او د دې بل لپاره پوره یوه دره د ګډو څخه ډکه شوه.

"ثُمَّ إِنَّهُ أَتَى الْأَبْرَصَ فِي صُورَتِهِ وَهَيْئَتِهِ فَقَالَ" بیا څه موده پس د امتحان په توګه هغه پرښته په خپل صورت او هیئت کې دغه پیس/ برګي ته راغله او ورته یې وفرمایل چې: "رَجُلٌ مِسْكِينٌ قَدِ انْقَطَعَتْ بِيَ الْحِبَالُ فِي سَفَرِي" زه یو مسکین یم، زما سره د سفر هیڅ توښه او سامان نشته، "فَلَا بَلَاغَ لِيَ الْيَوْمَ إِلَّا بِاللهِ ثُمَّ بِكَ" نو زما لپاره نن ورخ خپل مقام ته رسېدل نشته مګر په یو الله ﷻ سره به رسیږم او د هغه نه وروسته به ستا په ذریعه رسیږم، "أَسْأَلُكَ بِالَّذِي أَعْطَاكَ اللَّوْنَ الْحَسَنَ وَالْجِلْدَ الْحَسَنَ وَالْمَالَ بَعِيرًا" زه ستا نه د هغه الله ﷻ په ذریعه غواړم چې تاته یې ښایسته رنګ او ښایسته څرمن او مال د او ښانو په شکل کې درکړو، "أَتَبَلَّغُ بِهِ فِي سَفَرِي؟" چې زه پرې سفر پوره کړم، "فَقَالَ: الْحُقُوقُ كَثِيرَةٌ" هغه ورته ووېل : په ما باندې د نورو خلکو حقونه هم شته، "فَقَالَ: كَأَنِّي أَعْرِفُكَ" پرښتې ورته ووېل : زه لکه چې تا پېژنم؟ "أَلَمْ تَكُنْ أَبْرَصَ يَقْذَرُكَ النَّاسُ" آیا ستا پیس/ برګي مرض نه وو؟ چې خلکو به ستا نه نفرت کولو؟ "فَقِيرًا، فَأَعْطَاكَ اللهُ؟" فقیر او غریب سړی وې، الله ﷻ مال درکړو؟ "فَقَالَ: إِنَّمَا وَرِثْتُ هٰذَا الْمَالَ كَابِرًا عَنْ كَابِرٍ" هغه ووېل : ما ته خو دا مال په میراث کې پښت په پښت د خپلو مشرانو څخه پاتې شوی دی، "فَقَالَ: إِنْ كُنْتَ كَاذِبًا فَصَيَّرَكَ اللهُ إِلَى مَا كُنْتَ" پرښتې ورته ووېل : که ته دروغ وایې؛ نو الله ﷻ دې بیا خپل اصلي حالت ته واپس کړه، "وَأَتَى الْأَقْرَعَ فِي صُورَتِهِ وَهَيْئَتِهِ" بیا هغه پرښته ګنجي ته ورغله، په هغه شکل او صورت کې لکه مخکې چې ورغلې وه، "فَقَالَ لَهُ مِثْلَ مَا قَالَ لِهٰذَا" هغه ته یې هم هغه خبره وکړه کومه خبره یې چې برګي ته کړې وه، "وَرَدَّ عَلَيْهِ مِثْلَ مَا رَدَّ هٰذَا" د ده سره یې هم هغه سوال جواب وکړو کوم سوال جواب چې یې د برګي سره شوی وو، "فَقَالَ: إِنْ كُنْتَ كَاذِبًا فَصَيَّرَكَ اللهُ إِلَى مَا كُنْتَ" نو پرښتې ورته ووېل : که ته دروغجن یې، الله ﷻ دې بیا هم هغه شان کړه په کوم حالت کې چې ته مخکې وې.

"وَأَتَى الْأَعْمَى فِي صُورَتِهِ وَهَيْئَتِهِ" دا ځل پرښته ړوند ته راغله، په هغه صورت او هیئت کې په کوم صورت او هیئت کې چې مخکې راغلې وه، "فَقَالَ: رَجُلٌ مِسْكِينٌ وَابْنُ سَبِيلٍ انْقَطَعَتْ بِيَ الْحِبَالُ فِي سَفَرِي" نو پرښتې ورته

وفرمايل: زه يو مسکين او مسافر سړی يم، زما څخه د سفر توښه ختمه شوې ده، "فَلَا بَلَاغَ لِيَ الْيَوْمَ إِلَّا بِاللهِ ثُمَّ بِكَ" بې د الله ﷻ نه مې بله اسره نشته، "أَسْأَلُكَ بِالَّذِي رَدَّ عَلَيْكَ بَصَرَكَ شَاةً" ستا څخه د هغه الله ﷻ په نامه يوه ګډه غواړم چا چې تا ته نظر واپس کړو، "أَتَبَلَّغُ بِهَا فِي سَفَرِي؟" چې زه پرې د سفر انتظام وکړم، "فَقَالَ: قَدْ كُنْتُ أَعْمَى فَرَدَّ اللهُ إِلَيَّ بَصَرِي" هغه ړوند وويل: هو! منم چې زه ړوند وم، نو الله ﷻ ما ته زما نظر واپس کړو، "فَخُذْ مَا شِئْتَ وَدَعْ مَا شِئْتَ" نو واخله څومره چې دې خوښه وي او پرېږده څومره چې دې خوښه وي، "فَوَاللهِ مَا أَجْهَدُكَ الْيَوْمَ بِشَيْءٍ أَخَذْتَهُ لِلّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ" نو قسم په الله! زه به نن ورځ تا منع نه کړم د هيڅ شي څخه کوم څه چې ته اخلې د الله ﷻ د رضا لپاره دې، "فَقَالَ: أَمْسِكْ مَالَكَ" پرښتې ورته وويل: خپل مال د خان سره ايسار کړه، "فَإِنَّمَا ابْتُلِيتُمْ" په تاسو باندې امتحان وکړی شو، "فَقَدْ رَضِيَ اللهُ عَنْكَ وَسَخِطَ عَلَى صَاحِبَيْكَ" په تحقيق سره الله ﷻ ستا نه راضي دی او غوسه دی ستا نورو ملګرو ته. "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ".

"وَالنَّاقَةُ الْعُشَرَاءُ" بِضَمِّ الْعَيْنِ وَفَتْحِ الشِّيْنِ وَبِالْمَدِّ: هِيَ الْحَامِلُ" امام نووي رحمه الله فرمايي چې لفظ د (الناقة العشرآء) په ضم د عين او په فتح د شين او مد سره بلاربې اوښې ته ويلی شي، "قَوْلُهُ: "أَنْتَجَ" وَفِي رِوَايَةٍ: "فَنَتَجَ" مَعْنَاهُ: تَوَلَّى نِتَاجَهَا" دا قول چې "انتج" او په يو روايت کې دي چې "فنتج" ددې معنی ده: لنګه شوه، "وَالنَّاتِجُ لِلنَّاقَةِ كَالْقَابِلَةِ لِلْمَرْأَةِ" لفظ د "ناتج" د اوښې لپاره داسې دی، لکه قابله چې د ښځې لپاره راځي، "وَقَوْلُهُ: "وَلَّدَ هٰذَا" هُوَ بِتَشْدِيْدِ اللَّامِ أَيْ: تَوَلَّى وِلَادَتَهَا" ولد لفظ د لام په شد سره په معنی د بچي اچولو سره دی، "وَهُوَ بِمَعْنَى أَنْتَجَ فِي النَّاقَةِ" معنی يې دا ده چې اوښې بچی راوړو، "فَالْمُوَلِّدُ، وَالنَّاتِجُ، وَالْقَابِلَةُ بِمَعْنًى لٰكِنْ هٰذَا لِلْحَيَوَانِ وَذٰلِكَ لِغَيْرِهِ" نو لفظ د "مولد او الناتج او قابله" ټول يوه معنی لري، ليکن اولنی لفظ د انسان لپاره استعمالېږي، دا نور دوه د څارويو لپاره استعمالېږي، "وَقَوْلُهُ: "انْقَطَعَتْ بِيَ الْحِبَالُ" هُوَ بِالْحَاءِ الْمُهْمَلَةِ وَالْبَاءِ الْمُوَحَّدَةِ: أَيِ الْأَسْبَابُ" او دا قول چې "انقطعت بي الحبال" دا په حاء مهمله سره دی او په باء موحدة سره په معنی د اسباب سره دی، "وَقَوْلُهُ: "لَا أَجْهَدُكَ" مَعْنَاهُ: لَا أَشُقُّ عَلَيْكَ فِي رَدِّ شَيْءٍ تَأْخُذُهُ أَوْ تَطْلُبُهُ مِنْ مَالِي" او دا قول چې "لااجهدك" ددې معنی ده: هغه څه چې ته يې زما د مال څخه اخلې، زه به سختي نه کوم په واپس کولو د څه شي کې، "وَفِي رِوَايَةِ الْبُخَارِيِّ" او د بخاري رحمه الله په روايت کې داسې دي: "لَا أَحْمَدُكَ" بِالْحَاءِ الْمُهْمَلَةِ وَالْمِيْمِ وَمَعْنَاهُ: لَا أَحْمَدُكَ بِتَرْكِ شَيْءٍ تَحْتَاجُ إِلَيْهِ كَمَا قَالُوا" "لا احمدك" يعنې که ستا ورته حاجت وي او ما ته دې پرېښودلو، نو زه به دا ونه وايم چې ښه دې وکړو، صفت به دې ونه کړم، لکه چې محاوره ده: "لَيْسَ عَلَى طُوْلِ الْحَيَاةِ نَدَمٌ أَيْ عَلَى فَوَاتِ طُوْلِهَا" يعنې د اوږد ژوند په ختمېدو هيڅ ندامت او پښېمانتيا نشته.

لغوي تحقيق:

أبرص: "برص برصاً" باب سمع يسمع، د پيس مرض ته ويل کېږي، ددې مؤنث "برصاء" راځي او جمع يې "بُرص" ده، سام ابرص چرمخکې ته ويلی شي، د تثنيه په حالت کې "هذان ساماً ابرص" راځي او ددې جمع: "هولاء سوام ابرص و ابارص" راځي، چرمخکې ته ابو برص هم ويلی شي، برص يو سپين مرض دی چې په بدن باندې راخيژي، ټول بدن يې تک سپين شي، انسان ورسره تکليف وي او خارښ هم شي.

قرع: "قرع قرعاً" باب سمع يسمع، د سر وېښتان غورځېدل، کله چې يې مصدر په سکون د (ر) سره وي: نو ددې معنی بيا داسې کيږي: هغه ځای چې خالي وي، "القرع" د ګنجې توب بيمارۍ ته ويل کيږي.

أعمى: "عمى عمياً" باب سمع يسمع، ددې معنی ده: ړوند کېدل.

قذرني: "قذر قذراً" باب نصر ينصر او د سمع يسمع باب څخه ددې معنی ده: د کوم شي څخه پرهېز کول، ځان ساتل يا ځان ګنده محسوس کول.

...اوده اتو يا لسو مياشتو بلاربه اوښه.

بني اسرائيل څوک دي؟

"إن ثلاثة من بني اسرائيل" د يعقوب عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ اولادې ته بني اسرائيل ويلی شي، ځکه چې دا د يعقوب عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ لقب وو، دا عبراني لفظ دی، ددې معنی ده (عبدالله) ځينو ويلي دي چې اسرائيل معنی (صفوة الله، يعنې د الله ﷻ محبوب بنده، "فبعث الله ملكاً" الله ﷻ يوه پرښته راولېږله، ددې واقعې نه معلومېږي چې دا پرښته په انساني صورت کې راغلې وه، "شك الراوي" راوي دلته اسحاق بن عبدالله دی، "نسه" محدثين دلته دوه احتماله بيانوي: يو دا چې صرف يې په سر ورته لاس راښکلو يا يې ورته په پوره بدن لاس راښکلو.

دبني اسرائيلو دواقعې نه عبرت:

په دې واقعه کې نبي کريم ﷺ خپل امت ته د عبرت په طور بيان کړې دی، هغه دا چې مال او دولت يو امتحان وي، په دې امتحان کې که انسان الله ﷻ هېر نه کړي او خپل حقيقت هم هېر نه کړي بلکې دغه مال او دولت د الله ﷻ له طرفه يو امانت وګڼي او د الله ﷻ په ضرورت مند مخلوق باندې يې خرچ کړي او په دې باندې د الله ﷻ شکر هم ادا کوي، لکه ړوند سړي چې څنګه خپل حال ياد کړو، د الله ﷻ شکر يې ادا کړو، نو په دې باندې الله ﷻ ډېر زيات خوشحالېږي او نور هم په خپل بنده باندې احسانونه کوي، "لإن شكرتم لأزيدنكم" که تاسو شکر وويستلو، نو زه به درته نور هم زياتي کړم، که چېرته ددې مال په امتحان کې راګېر شو او بيا يې هغه په ضرورت مندو باندې خرچ نه کړو او بخيلي يې شروع کړه، نو نه صرف دا چې په دې سره به هغه نعمت هم ترې الله ﷻ واخلي، بلکې الله ﷻ به هم پرې ناراضه شي، لکه څنګه چې د ابرص او ګنجي سړي سره وشوه.

علامه کرماني رَحِمَهُ ٱللَّٰهُ فرمايي: د ابرص او ګنجي توب سره د سړي په مزاج کې فساد واقع کيږي، ددې برخلاف ړوندوالي سره داسې نه کيږي، په دې وجه ابرص مرض والا او ګنجې دواړو سخت خرابونه ورکړل، په خلاف د ړوند چې هغه نرم ځواب ورکړو، بلکې ددېنه مخکې چې کوم حال يې وو، د هغې اعتراف يې هم وکړو چې بې شکه زه هم دغسې وم، په سترګه ړوند وم او الله ﷻ زه ښه کړم، ددې واقعې نه دا معلومه شوه چې سړي ته بخل کول نه دي پکار، بلکې په غريبانانو او مسکينانو باندې خرچ

کول پکار دي، بل دا چې ددې واقعې نه دا هم معلومه شوه چې انسان ته پکار ده چې د الله ﷻ د ورکړل شوي نعمتونو اقرار وکړي، نه صرف اقرار بلکې په غريبانانو يې هم تقسيم کړي، داسې نه چې د هغه دوه کسانو په څېر د الله ﷻ په ورکړل شويو نعمتونو باندې انکار وکړي او بخيلي هم ورباندې کوي

هوښيار او ناپوه سړی

۶۶- "عَنْ أَبِي يَعْلَى شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ" د ابي يعلى شداد بن اوس ؓ روايت دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "اَلْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ" هوښيار هغه دی چې د خپل نفس سره محاسبه وکړي، "وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ" او د آخرت لپاره يې څه عمل وکړو، "وَالْعَاجِزُ مَنْ أَتْبَعَ نَفْسَهُ هَوَاهَا" او کم عقل انسان هغه دی چې ځان يې د نفساني خواهشاتو تابع کړو، "وَتَمَنَّى عَلَى اللّٰهِ الْأَمَانِيَّ" او د الله ﷻ نه يې د خپلو اميدونو پوره کولو طمع وکړه، "رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: حَدِيْثٌ حَسَنٌ" ترمذي روايت کړی دی او فرمايي چې دا حديث حسن صحيح دی، "قَالَ التِّرْمِذِيُّ وَغَيْرُهَا مِنَ الْعُلَمَاءِ: مَعْنَى "دَانَ نَفْسَهُ حَاسَبَهَا" امام ترمذي رحمه الله فرمايلي دي او داسې نورو علماوو چې د "دان نفسه" معنی دا ده: د ځان سره محاسبه کول

لغوي تحقيق:

الکيس: "کاس کيساً "باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: عقلمند / ذهين او زيرک انسان

هواها: "هوي هوی" باب سمع يسمع، ددې معنی ده: خواهشات زړه چې څه غواړي دې ته "هوای" وايي، دا کله مذموم وي او کله محمود وي، ليکن په مذموم کې زيات استعماليږي، لکه: "فلان اتبع هواه" فلانی سړي د خپلو خواهشاتو تابعداري وکړه.

تمنی: آرزو او ارمان کول

الأماني: اميدونه کول

عقلمند سړی څوک دی؟

تشريح "من دان" ددې نه معلوميږي چې انسان ته پکار ده چې د خپل نفس محاسبه هر وخت وکړي، که نېکي زياتې وي، نو په دې سره دې د الله ﷻ شکر ادا کړي او که چېرته خدای مه کړه د ګناهونو غلبه زياته وي، نو بايد توبه او استغفار وکړي، ځکه چې دا ګناهونه د نفس او د شيطان له وجې شوي دي، په يو بل حديث کې د محاسبه نفس نور اهميت هم په دې ډول بيان شوی دی. فرمايي چې: "حاسبوا أنفسکم قبل أن تحاسبوا" د خپلو نفسونو محاسبه وکړئ مخکې له دې چې ستاسو سره محاسبه وشي

کم عقل څوک دی؟

"من اتبع نفسه هواها" څوک چې د نفس تابعداري کوي، امام غزالي رحمه الله د حسن بصري رحمه الله څخه نقل کړي دي چې د باطلو ارمانونو او د دروغو اميدونو نه لرې اوسيږه، ځکه چې الله ﷻ يو بنده هم د دروغو په اميدونو او ارمانونو کامياب کړی نه دی، په دې حديث کې د عقلمند او کم عقل سړي

کومې علامې ښودل شوي دي، که انسان يې خاتته مخکې کيږدي او ددې مطابق خپل ژوند تېر کړي، د خپل ځان او نفس محاسبه وکړي، نو يوه ورځ به دده ژوند ان شاء الله د پرښتو لپاره هم قابل د پسخيدو جوړ شي.

د راوي شداد بن اوس رضي الله عنه مختصر حالات:

اصل نوم يې شداد دی، کنيت يې ابو يعلی او ابو عبد الرحمن دی، د خزرج قبيلې څخه د نجار خاندان سره تعلق لري، د مشهور شاعر حسان بن ثابت رضي الله عنه وراره دی، د پلار نوم يې اوس بن ثابت دی، د مور نوم يې صرعيه ده، پلار او ترونه ټول خاندان يې مسلمان شوي وو، د نبي کريم ﷺ د وفات نه وروسته شام، فلسطين، بيت المقدس او په حمص ښارونو کې يې قيام کړی دی، عبادة بن صامت رضي الله عنه فرمايي چې شداد رضي الله عنه د هغه ټولي څخه دی چې په علم او حلم دواړو کې د مجمع البحرين حيثيت لري.

ډير زيات عبادت ګزار صحابي وو، ډېر ځله به يې شپې ويده شو، خو نيمه شپه به راپورته شو او بيا به يې د شپې له خوا عبادت کولو، فرمايل به يې: "اللهم إن الناقد حالت بيني وبين النوم" اې الله د جهنم لمبې زما او زما د خوب ترمنځ پردې جوړې شوې، ابو هريره رضي الله عنه فرمايي: "بيان إذا نطق ويكظم إذا غضب" د خبرو په وخت کې به يې پوره وضاحت وکړو او د غوسې په وخت به يې حلم او نرمي کول.

وفات: په ۵۸ هجري کې د ۷۵ کالو په عمر کې په بيت المقدس کې وفات شو او هلته دفن کړی شو.

مرويات: د مروياتو شمېر يې تر پنځه سوه پورې رسيږي.

مسلمانان بايد د فضولو کارونو څخه ځان وساتي

۲۷- "عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ" د بنده د اسلام خوبي دا ده چې: "تَرْكُهُ مَالَا يَعْنِيهِ" بې فايدې کارونه پرېږدي، "حَدِيْثٌ حَسَنٌ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَغَيْرُهُ" ترمذي رحمه الله وغيره روايت کړی دی او ترمذي ورته حديث حسن ويلي دي.

لغوي تحقيق:

لايعنيه: "عنی عناً" باب سمع يسمع، ددې معنی ده: مفيد او ګټور، که (لا) پرې داخله شي نو بيا ددې معنی فضول او بې فايده ده.

د مسلمان د اسلاميت سره ښايي چې بې فايدې کارونه پرېږدي:

په دې حديث کې انتهائي ښکلي اصول بيان شوي دي، هغه دا چې انسان بايد د بې فايدې کارونو او خبرو څخه ځان وساتي، که انسان دا اصول خپل کړي؛ نو د ډېرو ګناهونو څخه به بچ شي، لايعني هغه کار ته ويل کيږي چې نه ديني ضرورت وي او نه کومه دنيوي فايده پکې وي.

په يو روايت کې دي چې رسول الله ﷺ ابوذر رضي الله عنه ته وفرمايل: آيا زه تاته يو داسې عمل ونه

ښيم چې په بدن باندې سپك وي د ميزان اوپه تله كې دروند وي، هغه دا چې: "الصمت وحسن الخلق وترك مالايعنيك" خاموشي او چوپ كينستل او خوش اخلاقي خپله كړه او د لايعني كارونو څخه ځان وساته ددې حديث د اهميت په رڼا كې د ځينو علماوو رايه دا ده چې دا حديث د اسلام څلورمه برخه ده، ځينې يې نيمه برخه ګڼي او ځينې نور ورته پوره اسلام وايي، هغوى وايي: اسلام دا دى چې انسان د فضول كار څخه ځان وساتي، علامه نووي رحمه الله د احاديثو په ذخيره كې څلور حديثونه د اسلام دارمدار او بنياد ښودلي دي، په دې څلورو كې يو حديث دا هم دى.

ايا د سړيو نه به د خپلو ښځووهلو پوښتنه كيږي؟

۲۸- "عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ" د عمر رضي الله عنه نه روايت دى چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "لَا يُسْأَلُ الرَّجُلُ فِيمَ ضَرَبَ امْرَأَتَهُ" د سړي نه به ددې په باره كې پوښتنه نه كيږي چې ښځه دې په څه وهلې ده، "رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ وَغَيْرُهُ" دا حديث امام ابوداؤد رحمه الله وغيره عالمانو روايت كړى دى.

د سړيو څخه به د ښځود وهلو پوښتنه نه كيږي:

تشريح: ددې حديث مطلب دا دى چې الله ﷻ سړي په ښځو باندې نګران مقرر كړي دي چې دا ښځې به د شريعت پابندې جوړوي، ددې لپاره چې ټولې د جهنم څخه بچ شي، "يا أيها الذين آمنوا قوا أنفسكم وأهليكم نارا" اې مؤمنانو تاسو خپل ځانونه او كورنۍ د جهنم له اور څخه وساتئ، د مشر او نګران ذمه واري ددې بل آيت څخه معلوميږي، "الرجال قوامون على النساء بما فضل الله بعضهم على بعض" سړي په ښځو باندې نګرانان دي، په دې بناء چې الله ﷻ سړيو ته په ښځو باندې فضيلت وركړى دى، ددې نه معلومه شوه چې د سړي د ذمه وارۍ لاندې چې كوم خلك دي، هغه كه ښځه وي او كه ماشوم وي، بايد دوى ټول د شريعت پابند جوړ كړي او په خلاف ورزۍ باندې يې ورته د ادب لپاره سزا وركوي، خو په سزا كې شرط دا دى چې دومره وهل به نه كوي چې په مخ يا نور بدن يې د وهلو نخښه پاتې شي، ددې حديث مضمون ددې آيت كريمه نه معلوميږي، "والتي تخافون نشوزهن فعظوهن واهجروهن في المضاجع واضربوهن فإن أطعنكم فلا تبغوا عليهن سبيلا" او هغه ښځې چې تاسو د هغې د نافرمانۍ څخه ويره لرئ؛ نو اول ورته نصيحت وكړئ، كه په دې باندې كار ونه شي؛ نو بيا خپله بستره ترې جدا كړئ او كه په دې كار ونه شي؛ نو بيا مناسبه سزا وركړه، كه ددې وروسته يې ستا خبره ومنل، نو بيا ورته د وهلو او رټلو بهانې مه جوړوه

بَابٌ فِي التَّقْوىٰ

شپږم باب: د تقوىٰ بيان

لوړه درجه تقوىٰ:

(۲۱) قَالَ اللَّهُ تَعَالَىٰ: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ﴾ الله ﷻ فرمايي: اې مؤمنانو د الله ﷻ څخه وويرېږئ په حقې ويرې سره [آل عمران: ۱۰۲]

تشريح: په دې آيت کې مؤمنانو ته خطاب دی چې تقوی اختيار کړئ؛ تقوی په لغت کې بچ کېدو ته وايي، د تقوی ډېرې درجې دي تر ټولو اوچته تقوی دا ده چې انسان خپل زړه د غير الله څخه وساتي، د الله ﷻ په ياد کې او د هغه په رضا کې يې مشغول وساتي، همدغه اوچته تقوی ده، په دې آيت کې ورته اشاره شوې ده، "حق تقاته" يعني د تقوی هغه درجه حاصله کړه چې حق درجه د هغې ده، ددې آيت په تفسير کې عبدالله بن مسعود ؓ قتاده رَحِمَهُ اللهُ، ربيع رَحِمَهُ اللهُ او حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ وغيره نه چې کوم اقوال منقول دي مرفوعاً په خپله د نبي کريم ﷺ نه نقل دي چې: "حق تقاته هوأن يطاع فلای عصی ويذکر فلاينسی ويشکر فلايکفر" حق تقوی دا ده چې په هر کار کې د الله ﷻ اطاعت وکړي هيڅکله د هغه نافرماني ونه شي، هغه هميشه ياد کړل شي او هيڅکله دې نه هېر نه شي.

دغه مضمون نورو مفسرينو داسې بيان کړی دی چې حق تقوی دا ده چې د الله ﷻ په معامله کې د چا ملامتيا او بدو ردو ويلو پروا ونه کړي او هميش په انصاف فيصله وکړي، اگر چې په انصاف کولو کې هغه ته، مور پلار ته يې، بچيانو ته يې، ښځې او خپلوانو وغيره ته يې نقصان ورسيږي، ځينې نور مفسرين وايي: حق تقوی تر هغه پورې نه حاصليږي چې خپله ژبه په قابو کې ونه ساتي.

د الله ﷻ څخه وېره د ايمان بنياد دی:

(۲۲) وَقَالَ تَعَالَى: {فَاتَّقُوا اللَّهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ} او الله ﷻ فرمايي چې د الله ﷻ څخه ووېرېږئ څومره چې ستاسو وس او طاقت وي، [التغابن: ۱۶] "وَهٰذِهِ الْآيَةُ مُبَيِّنَةٌ لِلْمُرَادِ مِنَ الْأُولَى" دا آيت د مخکينې آيت مراد واضحه کوي.

"فاتقوا" په دې کې (ف) سببيه ده، هغه دا چې د ايمان ذريعه او سبب تقوی ده، مطلب دا چې بايد انسان په تقوی حاصلولو کې پوره وس او طاقت مصرف کړي، علامه آلوسي بغدادي رحمه الله فرمايي چې کله دا آيت: "اتقوا الله حق تقاته" نازل شو، نو په صحابه کرامو باندې دا خبره ډېره گرانه تمامه شوه، وجه دا وه چې د چا دومره طاقت شته چې د الله ﷻ نه حق وېره اختيار کړل شي، په دې باندې بل آيت نازل شو، "فاتقوا الله ما استطعتم" تر خپل وس او طاقت پورې د الله ﷻ نه ووېرېږئ؛ الله ﷻ انسان په خپل وس او طاقت باندې مکلف کړی دی، ددېنه يې زيات مکلف کړی نه دی، "لايکلف الله نفسا إلا وسعها" الله ﷻ نه دی مکلف کړی هيڅ نفس، مگر په اندازه د طاقت د هغه، اوس مطلب دا شو چې د تقوی په حصول کې خپل وس او طاقت صرف کړئ، کوشش وکړئ چې په ځانونو کې تقوی پيدا کړئ، د الله ﷻ نه خوف او وېره وکړئ، تقريباً هم دا خبره د عبدالله بن عباس ؓ، طاؤس رحمه الله او امام نووي رحمه الله نه منقول ده، دوی فرمايي چې: "فاتقوا الله ما استطعتم" دا په حقيقت کې ددې آيت تفسير دی چې: "حق تقاته" مطلب دا چې د گناهونو نه ځان وساتئ تر خپل وس پورې، په دې سره به حق تقوی حاصله شي، که خپل وس او طاقت پوره استعمال شي، بيا هم ددېنه وروسته څه گناه صادره شي، نو دا د حق تقاته خلاف نه ده.

د صحيح خبرو تلقين كول:

(۲۳) وَقَالَ اللهُ تَعَالَى الله ﷻ فرمايي چې: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا} اې مؤمنانو د الله ﷻ نه وېرېږئ او رښتيا خبره وايئ. [الأحزاب: ۷۰] "وَالْآيَاتُ فِي الْأَمْرِ بِالتَّقْوَى كَثِيرَةٌ مَعْلُومَةٌ" او د تقوى په باره كې آيتونه ډېر زيات او معلوم دي.

تشريح: "قولاً سديداً" د دې ګڼ شمير تفسيرونه منقول دي، عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې د دې معنى ده: صحيح خبره كول، قتادة رحمه الله فرمايي: د دې معنى ده: د انصاف خبره كول، حسن بصري رحمه الله فرمايي: رښتوني خبرې ته وايي، ځيني وايي چې سيده او نيغه خبره كول، ځيني وايي چې حق ته رسيدو خبره كول، لفظ د "سديد" دغو ټولو معناګانو ته شامل دی، علامه كاشفي رحمه الله فرمايي چې قول سديد هغه دی چې د دروغو شبه پكې نه وي، سمه خبره به وي، خطاء به نه وي، رښتيا به وي توفي او كپ شپ به نه وي، نرمه خبره به وي سخته خبره به نه وي، د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما او عكرمه رحمه الله په نزد د "قولاً سديداً" معنى كلمه توحيد ده، "لا إله إلا الله محمد رسول الله" او د علامه قتادة رحمه الله په نزد د دې څخه مراد په ټولو خبرو او عملونو كې انصاف دی، د علامه مقاتل رحمه الله په نزد د دې څخه د ډول او سنګار په باره كې چې خلكو كومې خبرې كړي دي او هغه نبي كريم ﷺ ته ناخوښې دي دا ترې مراد دي او د ځينو په نزد د دې څخه په ام المومنين عايشې رضي الله عنها باندې چې كومو خلكو تهمت او بهتان لګولی و، هغه مراد دی. يعني د عايشې رضي الله عنها په حق كې سمه خبره كوئ، بهتان مه ترئ، دا درواغ دي كوم چې منافقينو په دوی رضي الله عنها پسې تړلي ده.

رزق د الله ﷻ په ذمه دی:

(۲۴) "وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې: {وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ} څوك چې د الله ﷻ څخه وېرېږي، نو الله ﷻ به هغه ته لارې خلاصې كړي او هغه ته به د هغه طرف څخه رزق وركړي د كوم طرفنه چې د هغه ګومان هم نه وي. [الطلاق: ۲،۳]

شان نزول:

تشريح: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې عوف بن مالك اشجعي رضي الله عنه د نبي كريم ﷺ په خدمت كې حاضر شو او وې ويل: اې د الله تعالى رسوله! زما زوی سالم د دښمنانو بندي كړی دی، مور يې سخته پرېشانه ده، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل چې زه تا او ستا مېرمنې ته امر كوم چې په كثرت سره، "لاحول ولا قوة إلا بالله" وايئ، په يو بل روايت كې دي چې نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: تقوى اختيار كړئ او په كثرت سره "لاحول ولا قوة إلا بالله" وايئ، د دې نتيجه دا شوه چې د هغه زوی صحيح سلامت راخلاص شو، نه صرف دا چې روغ راخلاص شو، بلكې د دښمن څلور زره وزې او اوښان يې هم له ځان سره راوستل، عوف بن مالك اشجعي رضي الله عنه چې كله د نبي كريم ﷺ د دې شارووو په باره كې پوښتنه وكړه او مسئله يې پوښتنه وكړه، نو په دې باندې دا آيت نازل شو

په دې آيت کې د تقوی دوه برکتونه بيان شوي دي: اول دا چې د مشکلاتو او تکليفونو څخه به دې الله ﷻ ځ کړي، مفسرين وايي: د مشکلاتو څخه عام مشکلات مراد دي، هغه دنيوي وي او که اخروي وي، دويم دا چې په رزق کې به درته الله ﷻ برکت واچوي، د داسې ځای څخه به رزق درکړي چې ستا وهم او ګمان هم نه وي، دلته هم د رزق څخه عام رزق مراد دی، هغه که دنيوي وي او که اخروي وي، د رزق څخه مراد صرف ډېنبل مراد نه دي، بلکې د ضروریاتو ټول شيان ترې نه مراد دي

الله ﷻ د فضل او احسان څښتن دی:

(۲۵) "وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: {إِنْ تَتَّقُوا اللَّهَ يَجْعَلْ لَكُمْ فُرْقَانًا} که چېرته تاسو د الله ﷻ نه وېرېږئ نو تاسو ته به الله ﷻ د فيصلې کولو طاقت درکړي، "وَيُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّئَاتِكُمْ" او لرې به کړي ستاسو څخه ستاسو ګناهونه، "وَيَغْفِرْ لَكُمْ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ" او ستاسو بخښنه به وکړي او الله ﷻ ډېر فضل کونکي دی، "[الانفال:۲۹] وَالْآيَاتُ فِي الْبَابِ كَثِيرَةٌ مَعْلُومَةٌ" په دې باره کې ايتونه ډېر زيات او معلوم دي.

تشريح: په دې آيت کريمه کې الله ﷻ په تقوی باندې د درې انعامونو وعده کړې ده: (۱) فرقان، (۲) کفاره سيئات (۳) مغفرت او بخښنه، اولنی انعام فرقان دی، فرقان هغه څه ته ويل کيږي چې د دوه شيانو ترمنځ فاصله او جدايي راولي، د الله ﷻ مدد ته هم فرقان ويل کيږي چې ددې په ذريعه د حق او باطل فرق کيږي، غزوه بدر ته هم فرقان ويل کيږي، ځکه چې ددې په ذريعه د حق او باطل فرق شوی و. عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وغيره فرمايي چې دلته د فرقان نه مراد د الله ﷻ مرسته او نصرت دی، الله ﷻ د تقوی په ذريعه مدد او نصرت کوي، ابن زيد او ابن اسحاق رحمهما الله فرمايي چې دلته د فرقان نه مراد عقل او بصيرت دی چې له امله يې د حق او د باطل ترمنځ امتياز راوستل کيږي، د تقوی په ذريعه الله ﷻ مؤمن ته داسې فراست او بصيرت ورکوي چې ددې په ذريعه د حق او باطل- د ښه او بد ترمنځ فرق او امتياز معلومول ورته آسان کړي

دويم انعام دا دی چې ګناهونه به يې وبخښل شي، بيا ورته د ښکو عملونو توفيق نصيب کړي، په دې سره به د بوج هغه پرده پورته کړي چې د ګناهونو دپاسه جوړه شوې وي، دريم انعام دا دی چې تقوی کوونکي ته به په آخرت کې مغفرت او بخښنه او د هغه ټول ګناهونه به معاف شي، "وَاللّـهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ" په تقوی اختيارولو باندې د درې انعاماتو وعده شوې ده، هغه د جزاء او بدلې په توګه وه، ليکن الله ﷻ ډېر د فضل او احسان څښتن دی، د هغه ورکړه د کومې پيمانې سره مقيد نه ده، د هغه د انعام او احسان کومه اندازه نشته او نه يې څوک کومه اندازه لګولی شي، نو په تقوی باندې ددې درې انعاماتو څخه علاوه د نورو نعمتونو اميد او طمع هم د الله ﷻ څخه ساتل پکار دي

د انسان شرافت او عزت په علم کې دی

۲۹. "عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی، هغه فرمايي چې: قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ مَنْ أَكْرَمُ النَّاسِ؟" يو کس پوښتنه وکړه چې اې د الله تعالی رسوله! کوم کس ډېر زيات عزتمند دی په خلکو کې؟

"قَالَ: "أَتْقَاهُمْ" نبي اكرم ﷺ ورته وفرمايل: تقوى دار سړى زيات عزتمند دى، "فَقَالُوا: لَيْسَ عَنْ هَذَا نَسْأَلُكَ" هغه كس وويل: ددې باره کې پوښتنه نه کوو، "قَالَ:" نبي اكرم ﷺ وفرمايل: "فَيُوسُفُ نَبِيُّ اللهِ ابْنُ نَبِيِّ اللهِ ابْنِ نَبِيِّ اللهِ ابْنِ خَلِيلِ اللهِ" بيا نو بيا د يوسف عَلَيْهِ السَّلَام په باره کې پوښتنه کوئ چې زوى د نبي الله دى، هغه زوى د نبي الله دى او هغه زوى د خليل الله دى، "قَالُوا: لَيْسَ عَنْ هَذَا نَسْأَلُكَ" هغه كس وويل: ددې په باره کې هم پوښتنه نه کوو، "قَالَ" نبي اكرم ﷺ وفرمايل چې: "فَعَنْ مَعَادِنِ الْعَرَبِ تَسْأَلُونِي؟" بيا نو د عربو د قبيلو په باره کې را نه پوښتنه کوئ؟ "خِيَارُهُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ خِيَارُهُمْ فِي الْإِسْلَامِ" په دوى کې چې كوم كس په جاهليت کې پوه او غوره وي، هغه په اسلام کې هم پوه او غوره دى، "إِذَا فَقِهُوا" خو كله چې په هغه کې پوهه او فقاهت پروت وي. "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ".

"وَفَقِهُوا" بِضَمِّ الْقَافِ عَلَى الْمَشْهُورِ وَحُكِيَ كَسْرُهَا، أَيْ: عَلِمُوا أَحْكَامَ الشَّرْعِ" او لفظ د (فقهوا) په ضمې د قاف سره په مشهور روايت کې دى او خينې يې په کسرې سره هم نقل کوي، معنى يې دا ده چې كله پوه وي د شريعت په احكامو باندې.

دانسان شرافت په خانداني شرافت پورې نه دى، بلكې ديني علم دى:

تشريح: صحابه كرامو ﷺ پوښتنه وکړه چې شريف انسان څوك دى؟ نبي كريم ﷺ په خواب کې وفرمايل: څوك چې متقي او پرهېزګار وي، لكه په قرآن کې دي: "إن أكرمكم عند اللّـه أتقاكم" په تاسو کې الله ﷻ ته زيات خوښ انسان هغه دى چې تقوى دار وي، نبي كريم ﷺ وفرمايل چې د جاهليت په زمانه کې به خلكو په خانداني شرافت او عزت باندې افتخار كولو، په دې وجه به شرافت او عزت د اسلام په نظر کې هغه چاته حاصل ؤ چې تقوى دار به ؤ، نه هغه شرافت او عزت چې خاندان يې شريف وي او نه دا چې دولتمند وي.

عزت صرف په دين کې دى:

"قال فأكرم الناس يوسف نبي اللّـه" د صحابه كرامو ﷺ په سوال کې نسبي شرافت ته اشاره وه، څكه نبي كريم ﷺ وفرمايل: په انسانانو کې تر ټولو زيات شريف انسان يوسف عَلَيْهِ السَّلَام دى چې د پيغمبر زوى دى، پلار يې يعقوب عَلَيْهِ السَّلَام ؤ، هغه هم د پيغمبر زوى دى چې اسحاق عَلَيْهِ السَّلَام يې نوم دى، هغه هم د پيغمبر زوى دى چې ابراهيم خليل الله دى، صحابه كرامو ﷺ په دريم خل بيا خپله پوښتنه تكرار كړه، نبي كريم ﷺ په دريم خل وفرمايل: "في معادن العرب تسئلوني" په دې جملې سره يې تعين وكړو چې د كومو خلكو ذاتي شخصيت د جاهليت په زمانه کې داسې امتيازي او خصوصي شان درلود چې له امله يې په ټوله معاشره کې معزز شمارل كېدلو، كه داسې خلك اسلام قبول كړي نو اوس هم هغوى معزز او مكرم كېدى شي، خو اوس به صرف دومره فرق وي چې د جاهليت په زمانه کې دوى خپل طاقت د خپل ذات او خاندان لپاره استعمالولو، خو كله چې په اسلام مشرف شول او دين يې زده كړو، نو اوس به د دوى صلاحيتونه ټول د اسلام لپاره استعماليږي

د دنيادارو ښځو څخه ځان ساتل پکار دي:

الثاني: "عن أبي سعيد الخدري ﷺ، عن النبيّ ﷺ قَالَ: "د ابو سعيد خدري ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايي: ((وان الدنيا حلوة خضرة) دنيا خوږه او شنه ده، (وأن اللّـــهَ مستخلفكم) او الله ﷻ تاسو دلته خليفه ګان جوړ کړي يئ، (فِيهَا فَيَنظُرَ كَيفَ تَعمَلُونَ) نو الله ﷻ ګوري چې تاسو به څه قسم عمل کوئ. "فَاتَّقوا الدُّنيَا وَاتَّقوا النِّسَاءَ" نو د دنيا نه ځان بچ کړئ او د ښځو نه هم ځان بچ کړئ، "فإِنَّ أَوَّلَ فِتنَةِ بَنِي إِسرائيلَ كَانَت فِي النِّسَاءِ"ځکه چې اولنی فتنه په بني اسرائيلو کې د ښځو وه. رواه مسلم.

لغوي تحقيق:

حلوة: "حلا حلوة" باب نصر ينصر، د سمع يسمع نه حلاوة او حلواناً راځي، ددې معنی ده: خوږ.

خضرة: "خضر خضراً" باب سمع يسمع، ددې معنی ده: تک شين، "خضرة الدمن" ددې معنی ده: هغه سبزي او ترکاري چې په ډيران باندې کيږي، هغه سبزي چې ظاهر يې ښه وي او باطن يې بد وي، دا د کنايې په توګه استعماليږي.

فتنة: ددې معنی ده: امتحان او ازموينت.

تشريح: "إن الدنيا حلوة خضرة": دنيا ډيره خوږه او شنه ده، لکه ځرنګه چې تازه ميوه پوځوند کې خوږه، په نظر کې هم خوږه ښکاره شي او زړونه ورباندې غوليږي، دغه حال د دنيا د مال او اسباب هم دی، لکه څنګه چې تازه ميوه يو څه وخت وروسته خرابيږي، دغه شان د دنيا حال هم دی چې نن خو ډيره تازه او خوږه معلوميږي، ليکن ډير زر ددې خوند او مزه ختمېدونکې ده.

د تقوی لومړی دښمن او د نبي کريم نصيحت:

"فاتقوا الدنيا" د دنيا څخه ځان وساتئ، د تقوی او پرهيزګاری نه لرې کوونکی شی د دنيا سره مينه او محبت دی، ځوک چې د مال او دولت په جمع کولو کې ځان بند کړي؛ نو الله ﷻ هم ترې هېر شي، د دنيا مينې ته په يو بل روايت کې فتنه ويل شوې ده، د نبي کريم ﷺ ارشاد دی: "لكل أمة فتنة وفتنة أمتي المال"د هر امت خپله خپله فتنه وي او زما د امت فتنه مال ده، ، يو بل روايت کې دي چې: "فوالله لا أخشى عليكم الفقر ولكن أخشى عليكم أن تبسط عليكم الدنيا كما بسطت على من كان قبلكم فتنافسوا فيها كما تنافسوا فتهلككم كما أهلكتهم"په خدای قسم چې زه په تاسو د غريبی او فقيری له وجې نه وېرېږم، ليکن زه چې په تاسو باندې وېرېږم هغه صرف دا خبره ده چې هسې نه د دنيا دروازې درباندې خلاصې شي، (مالداره شئ) لکه ستاسو نه مخکې خلکو باندې چې پراخې راغلې وه، بيا تاسو د يو بل څخه د دنيا په حرص او لالچ کې وړاندې کيږئ او ددې دنيا په مينه او محبت کې داسې بنديان شئ لکه ځرنګه چې ستاسو نه مخکې خلک پکې راګير شوي وو، په دې وجه به تاسو داسې هلاک شئ لکه څنګه چې هغوی هلاک شوي وو.

د تقوی دویم دښمن:

"فاتقوا النساء" د ښځو نه ځان بچ کړئ! د ښځو سره مينه محبت دا هم د تقوی دار لپاره تباهي ده کله کله دا مينه او محبت د قومونو د تباهي ذريعه جوړه شي، د تاريخ واقعې په دې باندې شاهد دي کوي چې: د دېنه هيڅوك انكار نشي كولی، دا يو حقيقت دے ترټولو لويه فتنه د سړو لپاره ښځې دي، "فإن أول فتنة بني إسرائيل كانت في النساء" د بني اسرائيلو ترټولو اولنۍ فتنه د ښځو وه، يعني د فتنې جوړيدو اولنی سبب ښځه وه، د دې فتنې په اړه محدثينو کښې شمير واقعې بيان کړي دي، ليکن اکثر د ين عالمانو د بلعم بن باعوراء واقعه نقل کړې ده، دا يو نيك سړی وو، د ښځې د مينې په جال کې راګير شو او بالاخر مردود شو.

د نبي كريم ﷺ يوه جامع دعاء

"الثالث: عن ابن مسعود رضي الله عنه: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَقُولُ" د ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به اکثر دا دعا کول: ((اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الهُدَى" اې الله ﷻ زه ستا نه د هدايت سوال کوم "وَالتُّقَى" او د تقوی داری، "وَالعَفَافَ" او د پاکدامنۍ، "وَالغِنَى" او د خلکو نه د بې پرواهی. رواه مسلم

تشريح: په دې دعاء کې د څلورو شيانو سوال شوی دی او د دې څلورو شيانو وضاحت په دې ډول مختصر شوی دی:

(۱) هدای: د هدايت دعاء هر مسلمان په پنځه وخته لمانځه کې کوي، "إهدنا الصراط المستقيم" اې الله! موږ ته سمه لاره وښايه!

(۲) التقی: تقوی د ټولو کارونو بنياد دی، دا يو جامع لفظ دی، په دې کې ټول اسلامي تعليمات راځي، د دې خلاصه دا ده چې انسان بايد د ټولو منهياتو (منع شوي) شيانو ځنې ځان وساتي او په ټولو اوامرو (د کومو کارونو کولو امر چې شوی دی) باندې عمل وکړي

(۳) العفاف: پاکدامنی/ پت، د دې مطلب دا دی چې انسان بايد د ټولو بدو عملونو او بدو اخلاقو ځنې ځان وساتي، خصوصاً د چا څخه د سوال په باره کې خو بايد بالکل ځان بچ کړي.

(۴) الغنی: د مخلوق نه بې اعتنايي او بې پروايي، يعني د ضرورت مطابق چې روزي حاصله وي؛ نو د الله ﷻ نه سيوا هيچاته خپل حاجت او ضرورت اظهار ونه کړي او څه چې الله ﷻ ورکړي دي په دې باندې قانع شي، په يو بل روايت کې دي: ترټولو غوره مالداري د زړه بې پرواهي ده، په دې وجه په يوه مسنونه دعاء کې دي چې: "اللهم اغنني بفضلك عمن سواك" اې الله! ما په خپل فضل سره د خلکو څخه بې پرواه کړې (يعني چاته چې لاس ونه نيسم، سوال ونه کړم د سوال نه مې بچ کړې)

د ګناه نذر پوره کول منع دي:

الرابع: "عن أبي طريف عدي بن حاتم الطائي رضي الله عنه، قَالَ: سمعتُ رسولَ اللهِ ﷺ يقول" د عدي بن حاتم طائي رضي الله عنه څخه روايت دی، هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ څخه مې اوريدلي دي چې فرمايل يې: "مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ

چا چې په يوه خبره قسم وکړو، "ثُمَّ رَأَى أَتْقَى لِلّٰهِ مِنْهَا" بيا ورته بله خبره د الله ﷻ په نزد د هغې نه ښه ښکاره شوه، "فَلْيَأْتِ التَّقْوَى" نو هغه خبره دې وکړي (يعنې قسم دې مات کړي د هغې کفاره دې ورکړي او بهتر کار دې نه پرېږدي. رواه مسلم.

لغوي تحقيق: حلف: قسم خوړل.

يمين: دا کلمه هم د قسم لپاره استعماليږي

که د قسم په مخالف کې خير وي، قسم دې مات کړي او کفاره دې ادا کړي:

"من حلف على يمين ثم رأى اتقى للّٰه منها فليأت التقوى" که په تاسو کې کوم کس قسم وخوري، بيا ورته د د ښه علاوه بل شی په نظر ښه راشي؛ نو بايد هغه ښه کار وکړي، په دې خبره د فقهاء کرامو اتفاق دی چې د اطاعت قسم پوره کول پکار دي، د معصيت قسم پوره کول ناجائز دي، لکه په يو بل روايت کې چې دي: "فرأى غيرها خيراً منها فليكفر عن يمينه وليفعل".

آيا د ګناه نذر ماتولو سره کفاره شته؟

په دې باره کې د فقهاوو مختلف مذاهب دي: مثلاً امام مالك او امام شافعي رَحِمَهُمَا الله فرمايي په دې صورت کې هيڅ قسم کفاره نشته، امام ابو حنيفه رحمه الله فرمايي چې ګناه ته به ګورو: چې ګناه (لعينها) ده او که (لغيرها) ده، که نه (لعينها) وي، لکه: قتل کول، زناء کول وغيره شو، نو داسې نذر پوره کول هم جائز نه دي او په دې باندې کفاره هم نشته او که ګناه (لغيرها) وي، لکه: د اختر په ورځ روژه نيول يا د ايام تشريق په ورځ روژه نيول، نو په دې صورت کې نذر پوره کول جائز نه دي، ليکن کفاره به خامخا ادا کوي.

د راوي عدي بن حاتم طائي رضي الله عنه مختصر حالات:

اصل نوم يې عدي رضي الله عنه دی، کنيت يې ابوطريف دی، د پلار نوم يې حاتم طائي وو، د عدي خاندان سره يې تعلق درلود، قبيله يې په طی باندې شهرت درلود، اسلام چې راغلو نو دوی په دې وخت کې هم د خپلې قبيلې مشري کول، د اسلام دائره چې پراخه شوه نو هغه پريشانه شو، د اسلامي سيلاب وړاندې يې چېرته بند جوړولی شو، بل طرف ته به خپل مشرتوب ورته پيغور جوړېدو، کله چې د مسلمانانو لښکر طی قبيلې ته روان شول، نو هغه د خپلې ټولې کورنۍ سره شام ته لاړل

اتفاقي توګه د عدي رضي الله عنه د خاندان يوه ښځه مسلمانانو بندي کړه، دغې ښځې نبي کريم ﷺ ته عرض وکړ چې: زما د خلاصولو لپاره څوک نشته، څوک مې پوښتنه نه کوي، زما سره احسان وکړه، الله ﷻ به په تاسو باندې احسان وکړي، نبي کريم ﷺ ترې پوښتنه وکړه چې تاسو به له زندانه څوک خلاص کړي؟ هغې وويل چې عدي رضي الله عنه، نبي کريم ﷺ وفرمايل: هغه عدي چې د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ نه تښتېدلی دی؟ دغه مکالمه دويمه ورځ هم وشوه، بالاخره د علي رضي الله عنه په غوښتنه هغه خوشې شوه او بيا د ډير اکرام سره رخصت شوه، په دې کار باندې عدي رضي الله عنه ډير زيات متاثر شو، د نبي کريم ﷺ په

خدمت کې حاضر شو، نبي کريم ﷺ هغه په يو خر باندې سپور کړو او خپله پيدل روان شو، ورپسې ورورسته عدي رضي الله عنه مسلمان شو، نبي کريم ﷺ هغه واپس د خپلې قبيلې سردار جوړ کړو.

د نبي کريم ﷺ د وفات وروسته چې کله ډېر خلك مرتد شول او د زکوة ورکولو څخه يې انکار وکړو، خو د عدي رضي الله عنه ټولې قبيلې به زکات ورکولو، هميشه به په اوداسه کې اوسېدل، کله هم د لمانځه په وخت کې ورته د اودسه ضرورت نه دی پېښ شوی.

وفات: د ژوند آخري سلګۍ يې په کوفه کې تيرې کړې او په ۶۷ هجري کې په کوفه کې وفات شو او هم هلته دفن شو.

مرويات : د روايت شوي حديثونو شمار يې تر شپږ شپيته پورې رسيږي، په شپږو باندې امام بخاري رحمه الله او امام مسلم رحمه الله اتفاق کړی دی او په درې باندې امام بخاري رحمه الله او په دوه کې امام مسلم رحمه الله منفرد دی.

د حجة الوداع په موقع د رسول الله ﷺ جامع نصيحت

الخامس: "عن أبي أمامة صُدَيّ بن عجلان الباهلي رضي الله عنه، قال: سمعت رسول الله ﷺ يخطب في حجة الوداع، فقال" د ابو امامه صدي بن عجلان باهلي رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ نه مې اوريدلي دي، په حجة الوداع کې يې فرمايل: "إتّقوا الله وصلّوا خمسكم" د الله ﷻ نه ووېرېږئ او پنځه وخته لمونځ ادا کړئ، "وصوموا شهركم" او د رمضان د مياشتې روژې ونيسئ، "وأدّوا زكاة أموالكم" او د خپلو مالونو زکات ورکوئ؛ "وأطيعوا أمراءكم" او د خپلو مشرانو تابعداري کوئ، "تدخلوا جنة ربكم" تاسو به د خپل رب جنت ته داخل شئ، "رواه الترمذي، في آخر كتاب الصلاة" وقال: ((حديث حسن صحيح)). دا حديث امام ترمذي رحمه الله په آخر د كتاب الصلاة کې نقل کړی دی او فرمايلي يې دي: (حديث حسن صحيح)

د حجة الوداع د خطبې يو څو خبرې:

حج الوداع ته حج الوداع ځکه ويلی شي چې د وداع معنی ده: رخصت کول، نو ددې حج نه وروسته نبي کريم ﷺ هم ددې فاني نړۍ څخه رخصت شو، دې حج ته حج الاسلام هم ويلی شي، "يخطب في حجة الوداع" نبي کريم ﷺ د حجة الوداع په خطبه کې وفرمايل: اتقوا الله: د الله ﷻ نه ووېرېږئ حقيقت دا دی چې تقوی داسې علاج دی چې انسان په نېکو عملونو مصروف کوي، د بدو عملونو څخه يې ساتي

"وأطيعوا أمرائكم تدخلوا جنة ربكم" د خپلو مشرانو او اميرانو اطاعت کوئ د خپل رب جنت ته به داخل شئ؛ علماء فرمايي چې کله د امير اطاعت په شرعي طريقه نافذ شي؛ نو اوس به په جائزو کارونو کې د امير اطاعت ضروري وي، البته که د ناجائزه کارونو امر درته کوي؛ نو اطاعت يې جائز نه دی، په دې خبره علامه نووي رحمه الله اجماع نقل کړې ده، ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چې کله د امارت په شرائطو باندې امير جوړ شي؛ نو اوس ددې امير د امارت څخه مخ اړول بغاوت دی، تر هغه پورې چې ددې امير څخه کفر بواح يعنې ظاهراً کفر څرګند شوی نه وي.

د راوي ابوامامه باهلي (صدي بن عجلان رضي الله عنه) مختصر حالات:

اصل نوم یې صدي رضي الله عنه دی، أبو امامه کنیت دی، د پلار نوم یې عجلان دی، اسلام یې قبول کړو او په بیعت رضوان کې یې حصه واخسته، نبي کریم ﷺ خپل قوم ته د تبلیغ لپاره ولېږلو، کله چې خپل قوم ته لاړ، نو هغوی ورته وویل: ته خو بې دینه شوی یې، هغه ورته وویل: زه بې دینه نه یم، بلکې په الله ﷻ او د هغه په رسول ﷺ باندې مې ایمان راوړی دی، لیکن چا هم دده په دعوت اسلام قبول نه کړو، بلکې کله چې به تږی شو نو اوبه به هم چانه ورکولې، په هم دې تنده کې ورته خوب راغلو، په خوب کې یې ولیدل چې الله ﷻ ښه په مړه خیټه اوبه پرې وڅښلې، کله چې راویښ شو، نو قوم ورته خورما او شیدې وړاندې کړې، خو هغه ورته وویل: ماته زما رب اوبه راکړې زه تږی نه یم

په اصابه کې دي چې دده په تبلیغ باندې آخر کې دده خاندان مسلمان شو، د اسلام تبلیغ یې خاصه مشغله وه، چېرته چې به ورته په مخه دوه ځلورکسان راغلل؛ نو هغه به ورته د نبي کریم ﷺ حدیثونه بیانول، ورسره به یې دا: کید هم وفرمایلو چې نورو ته تاسو دا حدیث ورسوئ.

وفات: په جنګ صفین کې یې د علي رضي الله عنه ملګرتیا وکړه او په آخر کې شام ته لاړو، هلته پاتې شو اوبیا د شام په علاقه کې د عبدالملك اموي په دور کې په ۸۶ هجري کې وفات شو، ویل کیږي چې د وفات په وخت یې عمر ۱۰۶ کاله وو. **مرویات**: د مرویاتو شمېر یې تر دوه سوه او پنځوسو پورې رسیږي، پنځه یې په بخاري کې دي او درې یې په مسلم کې دي

باب فی الیقین والتوکل

اوم باب: د یقین او توکل په اړه دی

قَالَ اللّٰـــهُ تَعَالَىٰ: الله ﷻ فرمایي چې: ﴿وَلَمَّا رَأَى الْمُؤْمِنُونَ الْأَحْزَابَ قَالُوا هَٰذَا مَا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَصَدَقَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَمَا زَادَهُمْ إِلَّا إِيمَانًا وَتَسْلِيمًا﴾ کله چې مومنانو د کافرانو ډله ولیدل، دوی وویل: دا هغه څه دي چې الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ یې زموږ سره وعده کړې ده، الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ رښتیا ویلي دي، مسلمانانو ته دغو خیرو زیات نه کړو مګر نور هم ایمان او تابعداري [الأحزاب:۲۲]

تشریح په دې آیت کې غزوه احزاب ته اشاره ده، کله چې مسلمانانو د کافرانو لښکر مخامخ ولید، نو صحابه کرامو وویل: دا خو هغه لښکر دی چې زموږ سره یې الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ وعده کړې وه، هغه وعده د سورت بقره په دې آیت کې ذکر شوې وه، ځکه چې سورت بقره د احزاب نه مخکې نازله شوې وه، هغه آیت دا دی: "أمر حسبتم أن تدخلوا الجنة ولما يأتكم مثل الذين خلوا من قبلكم" په دې آیت کې بیان شوی دی چې د مسلمانانو امتحان به خامخا اخستل کیږي او ښه سخت امتحان به وي، ډېر تکلیفونه به پرې راځي، "وما زادهم إلا إيماناً وتسليماً" په دې سره به د دوی ایمان او اطاعت نور هم مضبوط شي، دلته د ایمان څخه مراد د رسول الله ﷺ د قول تصدیق دی او د تسلیماً څخه مراد د الله ﷻ د حکم تابعداري او د تقدیر منل دي.

مسلمانانو ته الله ﷻ كافي دى:

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې: "اَلَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ" دا هغه خلك دي چې دوى ته خلكو وويل چې "إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ" ستاسو سره خلك د جنګ لپاره جمع شوي دي، "فَاخْشَوْهُمْ" نو تاسو د دوى نه ووېرېږئ "فَزَادَهُمْ إِيمَانًا" پس دا خبره مسلمانانو ته يې ايمان زياتي كړي، "وَقَالُوا حَسْبُنَا اللّٰهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ" او مسلمانانو د دې خبرې په ځواب كې وايي چې بس الله ﷻ موږ لره كافي دى او هغه ښه كار ساز دى، "فَانْقَلَبُوا بِنِعْمَةٍ مِنَ اللّٰهِ وَفَضْلٍ" پس وګرځېدل مسلمانان د الله ﷻ په فضل او نعمت سره، "لَمْ يَمْسَسْهُمْ سُوءٌ" چې نه رسيدو دوى ته هيڅ تكليف، "وَاتَّبَعُوا رِضْوَانَ اللّٰهِ وَاللّٰهُ ذُو فَضْلٍ عَظِيمٍ" او دوئ تابع شول د الله ﷻ رضا مندى او الله ﷻ د لوى فضل والا ذات دى "[آل عمران: ۱۷۳-۱۷۴]

تشريح: "الذين قال لهم الناس إن الناس قد جمعوا لكم" كله چې دوى ته خلك راغلل او ورته يې وويل خلك تاسو ته جمع شوي دي، په دې آيت كې د "لهم الناس" څخه مراد د مجاهد، عكرمه او مقاتل رحمهم الله په نزد ابو سفيان او د هغه ملګري دي چې مدينې منورې ته يې خبر راوړى وو په داسې حال كې چې كله رسول الله ﷺ د غزوه بدر صغرى تياري نيول

خيني نور مفسرين وايي چې د "لهم الناس" څخه مراد عبد القيس دى، چې په اوښه سپور د ابو سفيان له طرفه يې خبر راوړو او په داسې حال كې حاضر شو چې رسول الله ﷺ په حمراء الاسد كې وو، د "إن الناس قد جمعوا لكم" نه دلته ابوسفيان او د هغه ډله مراد ده، "قالوا حسبنا الله ونعم الوكيل" په دې موقع باندې مسلمانانو وويل: موږ ته زموږ رب كافي دى او هغه ډير ښه كار ساز او ملګرى دى، په دې سفر كې صحابه كرامو په ټوله لار كې ددې كلمې وظيفه كول، د الله ﷻ د كافي كېدو نه مراد دا نه دى چې انسان دې اسباب پرېږدي، ظاهري اسباب هم د الله ﷻ له لورې يو لوى انعام دى، ددې ناشكري نه ده كول پكار، ددې مطلب صرف دا دى چې په اسبابو به اعتماد او توكل نه كوي، بلكې اعتماد او توكل به صرف او صرف په يو "وحده لاشريك له" ذات باندې كوي چې څه هم كيږي دا د الله ﷻ له لورې دي

"فانقلبوا بنعمة من الله" په دې آيت كې د: "حسبنا الله ونعم الوكيل" ويلو فايدې او ثمراتو بيان دى، ددې په بدله كې الله ﷻ صحابه كرامو ﷺ ته درې انعامات وركړي وو

(۱): د كفارو په زړونو كې رعب پرېوتلو، هغوى وتښتېدل

(۲): مجاهدينو ته په حمراء الاسد بازار كې د تجارت موقع په لاس ورغله چې ډيره ګټه يې وكړه، ددې تجارت څخه په فضل سره تعبير شوى دى

(۳) يقيني انعام دغه صحابه وو ته حاصل شو، هغه د الله ﷻ رضامندي او خوشحالي وه، دا په دې الفاظو سره تعبير شوې ده، "واتبعوا رضوان الله"

په توکل اعتماد پکار دی:

"وَقَالَ تَعَالَىٰ" او الله ﷻ فرمايي چې: "وَتَوَكَّلْ عَلَى الْحَيِّ الَّذِي لَا يَمُوتُ" او ته په هغه ذات اعتماد وکړه چې د همېش لپاره ژوندی دی او مرګ پرې نه راځي. [الفرقان:۵۸]

تشريح: په دې آيت کې ترغيب ورکول شوی دی چې بايد انسان په هغه ذات باندې توکل وساتي چې همېش ژوندی دی او همېش به ژوندی وي چې هغه الله ﷻ دی، په اصل کې (حی) هغه ذات ته ويل کېږي چې د روح څخه بغير ژوندی وي، نور مخلوق په روح سره ژوندي دي، د دوی ژوند هر وخت ختمېدی شي، که د الله ﷻ نه علاوه په بل چا دې اعتماد وکړو، نو هغه کله هم تا بې يار او مددګار پرېښودلی شي، ليکن د الله ﷻ حيات او ژوند داسې دی چې په هغه کله هم مرګ نه راځي او د مرګ وهم نه شي پيدا کېدلی، په داسې کريم ذات باندې بايد انسان توکل وکړي.

په هر حال کې بايد په الله ﷻ توکل وشي:

"وَقَالَ تَعَالَىٰ" الله ﷻ فرمايي چې: ﴿وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ﴾ او خاص په الله ﷻ باندې دې مسلمانان بروسه او توکل وکړي [إبراهيم:۱۰]

تشريح: په دې آيت کې د اولنې پيغمبرانو خطاب خپلو امتونو ته دی، "إذقالت لهم رسلهم إن نحن إلا بشر مثلكم" ددېنه معلومه شوه چې سابقه پيغمبرانو به هم خپل امت ته ددې خبرې تلقين ورکولو چې کله هم په تاسو چېرته سختي راشي؛ نو خالص اعتماد او بروسه به صرف په يو الله ﷻ باندې کوئ، ددې آيت نه دا هم معلومه شوه چې په الله ﷻ بروسه کول د ايمان تقاضا هم ده، کله چې د يو مسلمان دا عقيده مضبوطه شي چې خير او شر پيدا کوونکی او نفع رسوونکی صرف يو الله ﷻ دی، د هغه څخه علاوه بل څوك نشته، نو په دې صورت کې به هغه خامخا د خپل ژوند کړه وړه الله ﷻ ته سپاري.

د ټولو کارونو په سر کې توکل پکار دی:

"وَقَالَ تَعَالَىٰ" او د الله ﷻ ارشاد دی: ﴿فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ﴾ او اې پيغمبره ﷺ! کله چې تا د يو کار کولو اراده وکړه، نو بيا په الله ﷻ باندې توکل وکړه؛ [آل عمران:۱۵۹] والآيات في الأمر بالتوكل كثيرة معلومة

تشريح: په دې آيت مبارکه کې د غزوه بدر يوې فيصلې ته اشاره ده، کله چې رسول الله ﷺ د صحابه کرامو سره مشوره وکړه چې جنګ د مدينې منورې نه بهر کول پکار دي او که په داخل د مدينه منوره کې؟ نو اکثره ځوانانو صحابه کرامو رايه ورکړه چې بايد د مدينې منورې څخه بهر جنګ وشي، د نبي کريم ﷺ رايه دا وه چې جنګ بايد په مدينه منوره کې دننه وشي، کله چې نبي کريم ﷺ زغره واغوسته؛ نو صحابه کرامو ورته وويل: چې اې د الله رسوله! جنګ به په مدينه منوره کې دننه وکړو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: اوس په الله ﷻ بروسه شوې ده، (مطلب دا چې جنګ به د مدينې منورې څخه بهر کوو)، ددې آيت مطلب دا دی چې کله خپل مينځ کې مشوره وکړئ نو په دې باندې بيا عمل کوئ، خو توکل به خالص په يو ذات الله ﷻ باندې ساتئ، ځکه چې د غيبو علم صرف د هغه ذات سره دی.

"عزمت" د خطاب په صيغې سره خپله رسول الله ﷺ مراد دی، يا د مشورې امير مراد دی چې د امير اراده معتبره ده، کله چې امير د کوم کار عزم وکړي؛ نو بيا صرف په الله ﷻ باندې توکل وکړي، په خپل عقل او رايه باندې بروسه ونه ساتي؛ او نه پرې اعتماد وکړي:

خويش را ديدم ورسوائی خويش ...... امتحان ما مکن اے شاه پيش

په الله ﷻ باندې توکل کوونکي ته الله ﷻ کافي دی:

"وَقَالَ تَعَالَى" د توکل په باب کې ډير زيات آيتونه دي او الله ﷻ فرمايي: ﴿وَمَنْ يَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ فَهُوَ حَسْبُهُ﴾ او کوم کس چې په الله ﷻ توکل وکړي، بس هغه ذات ورته کافي دی. [الطلاق:۳] "أي كافيه" د حسبه معنی ده کافي کوونکی.

تشريح: کوم انسان چې په الله ﷻ باندې توکل وکړي، نو الله ﷻ به د هغه د مهمو کارونو لپاره کافي شي، څکه چې الله ﷻ څنګه وغواړي هغسې کوي، په يو بل روايت کې دي: "لو أنكم توكلتم على اللّٰـهِ حق توكله لرزقكم كما يرزق الطير تغدوا خماصاً وتروح بطاناً" که تاسو په الله ﷻ باندې توکل وکړئ، لکه څنګه چې د توکل او بروسې حق دی، نو تاسو ته به الله ﷻ داسې رزق درکړي لکه څنګه چې مرغانو ته رزق ورکوي، سهار وږي لاړ شي او بيګاه ته په خيټو ماړه راشي، د غه شان په يو بل روايت کې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زما په امت کې به اويا زره خلك بې حسابه جنت ته ځي، د دوی په صفتونو کې يو صفت دا دی چې هغوی به په الله ﷻ باندې توکل کوونکي وي.

د قرآن په تلاوت سره ايمان قوي کيږي:

"وَقَالَ تَعَالَى" او الله ﷻ فرمايي چې: ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ الَّذِينَ إِذَا ذُكِرَ اللّٰـهُ وَجِلَتْ قُلُوبُهُمْ﴾ "بې شکه مومنان هغه خلك دي چې کله د هغوی په وړاندې د الله ﷻ نوم واخيستل شي نو زړونه يې په لرزه شي، "وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ" او کله چې په دوی باندې د الله ﷻ آيتونه ولوستل شي، "زَادَتْهُمْ إِيمَاناً وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ" د دوی ايمانونه زيات شي او دوی په خپل رب باندې توکل کوونکي دي، [الأنفال:۲]، "والآيات في فضل التوكل كثيرة معروفة" ايتونه په باره د توکل کې ډېر زيات دي

تشريح په دې آيت کې يې د کامل مسلمان درې علامې ښودلې دي: اول د الله ﷻ نه ويره، دويم په ايمان کې ترقي، دريم په الله ﷻ باندې توکل او بروسه. اولنی صفت "إذا ذكر اللّٰـهُ وجلت قلوبهم" او کله چې د دوی وړاندې د الله ﷻ نوم واخيستل شي؛ نو د دوی زړونه ورپيږي، په يو بل آيت کې داسې بيان شوي دي: "وبشر المخبتين الذين إذا ذكر اللّٰهُ وجلت قلوبهم" او زيری ورکړه هغو کسانو ته چې عاجزي کوونکي دي، کله چې د دوی وړاندې د الله ﷻ نوم واخيستل شي؛ نو د دوی زړونه ولړځيږي، "وجلت" هغه هيبت ته وايي چې د لوی ذات د جلال او رعب له وجې په زړه کې پيدا شي، يا د دې نه مراد دا دی چې د عذاب څخه وويره ... ځينې مفسرين د دې دا مطلب بيانوي چې کله يو انسان په ګناه کولو وس او

طاقت پيدا کړي، بيا الله ﷻ ورته په ياد شي؛ نو د الله ﷻ له خوف او د آخرت له عذابه وويرېږي او هغه ګناه پرېږدي، دويم صفت، "زادتهم ايماناً" يعني د دوی په زړونو کې د تلاوت له امله ايمان نور هم قوي کېږي، د دوی د ايمان رڼا ورسره زياته شي او بيا يې عبادت طبعيت ثاني وګرځي چې عبادت پرېښودل ورته مشکل شي، دريم صفت يې دا بيان شوی دی چې: "وعلى ربهم يتوكلون" او دوی په خپل رب باندې توکل ساتي، په اسبابو باندې توکل نه کوي، کاميابي هسې هم د الله ﷻ په لاس کې ده، نو بيا په اسبابو نه، بلکې په مسبب الاسباب باندې اعتماد ساتل پکار دي.

اويا زره متوکلين به بې حسابه جنت ته ځي

"وأما الأحاديث: فالأول: عن ابن عباس رضي اللّـهُ عنهما، قَالَ: قَالَ رسولُ اللّـهُ ﷺ" : او حديثونه چې دي، نو اولنی حديث د ابن عباس رضي الله عنه دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "عُرِضَتْ عَلَيَّ الأُمَمُ" په ما باندې ډېر زيات امتونه پيش کړی شول، "فَرَأَيْتُ النَّبِيَّ وَمَعَهُ الرُّهَيطُ" نو يو نبي به مې داسې وليد چې د هغه سره به وړه شان ډله وه، "والنبي وَمَعَهُ الرَّجُلُ وَالرَّجُلانِ" او بل نبي به مې داسې وليد چې د هغه سره يو دوه کسان وو، "والنبيَّ لَيْسَ مَعَهُ أَحَدٌ" او ځينې پېغمبران به مې داسې وليدل چې د هغه سره څوك هم نه وو، "إِذْ رُفِعَ لِي سَوَادٌ عَظِيمٌ" ناڅاپه مې يوه غټه ډله وليده، "فَظَنَنْتُ أَنَّهُمْ أُمَّتِي فقيلَ لِي" ما ګومان وکړو چې دا به زما امت وي؛ نو ما ته وويل چې: "هَذَا مُوسَى وَقَوْمُهُ" دا موسی عليه السلام او د هغه امت دی، "ولكن انْظُرْ إِلَى الأُفُقِ" ليکن پورته خواته وګوره، "فَنَظَرتُ فَإِذَا سَوَادٌ عَظِيمٌ" چې پورته مې وکتل نو ناڅاپه يوه لويه ډله مې وليده، "فقيلَ لِي: انْظُرْ إِلَى الأُفُقِ الآخَرِ" نو ما ته وويل چې بل طرف ته اوچت وګوره، "فَإِذَا سَوَادٌ عَظِيمٌ" نو ناڅاپه يوه ډېره لويه ډله مې وليدل، "فقيلَ لِي: هذِهِ أُمَّتُكَ" نو ما ته وويل چې دا ستا امت دی، "وَمَعَهُمْ سَبْعُونَ أَلفاً يَدْخُلُونَ الجَنَّةَ بِغَيرِ حِسَابٍ ولا عَذَابٍ" او د دوی سره به اويا زره خلك به بغير حسابه او بغير عذابه جنت ته داخليږي، "ثُمَّ نَهَضَ فَدَخَلَ مَنْزِلَهُ فَخَاضَ النَّاسُ في أُولئكَ الَّذِينَ يَدْخُلُونَ الجَنَّةَ بِغَيرِ حِسَابٍ ولا عَذَابٍ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: فَلَعَلَّهُمْ الَّذِينَ صَحِبُوا رسولَ الله" نو ځينو خلکو دا خبره وکړه چې کېدی شي دا هغه خلك وي چې د رسول الله ﷺ سره يې ملګرتيا کړې وي او صحابه کرام به وي، "وَقَالَ بَعْضُهُمْ: فَلَعَلَّهُمُ الَّذِينَ وُلِدُوا في الإسْلامِ فَلَمْ يُشْرِكُوا بِاللّـهِ شَيئاً" او ځينو خلکو دا خبره وکړه چې کېدی شي دا به هغه خلك وي چې په اسلام کې يې ولادت شوی وي او د الله ﷻ سره يې چيرته هم شرك نه وي کړی، "وَذَكَرُوا أَشيَاءَ" او څه نورې خبرې يې هم وکړې، "فَخَرَجَ عَلَيْهِمْ رسولُ اللّـهُ ﷺ، فَقَالَ" دوی په دې حال کې وو چې نبي اکرم ﷺ پرې راخارج شو او وې فرمايل چې: "مَا الَّذِي تَخُوضُونَ فِيهِ؟" تاسو څه خبرې کولې؟ "فَأَخْبَرُوهُ فقالَ" نو هغوی ورته خپل حال وويلو، نبي اکرم ﷺ وفرمايل چې: "هُمُ الَّذِينَ لاَ يَرْقُونَ" دا به هغه خلك وي چې چيرته به يې په بل باندې دمونه نه وي اچولي، "وَلا يَسْتَرْقُونَ" او نه هم بل چا په ده باندې دمونه اچولي وي، "وَلا يَتَطَيَّرُونَ" نه يې بدفالي کړې وي، "وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ" او دوی په خپل رب باندې توکل کونکي وي، "فَقَامَ عُكَّاشَةُ ابنُ مِحصنٍ، فَقَالَ" نو عکاشه بن

محصن رضي الله عنه پورته شو او وې فرمايل چې: "ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ" اې د الله تعالى رسوله! دعا وكړئ چې زه هم د دوى په ډله کې شمار شم، "فَقَالَ: أَنْتَ مِنْهُمْ" نو رسول الله ﷺ وفرمايل ته به د دوى سره يې، "ثُمَّ قَامَ رَجُلٌ آخَرُ" بيا بل کس پورته شو، "فَقَالَ: ادْعُ اللَّهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ" وې فرمايل چې اې د الله تعالى رسوله! ما ته هم دعا وكړئ چې زه هم د دوى څخه شم. "فَقَالَ: سَبَقَكَ بِهَا عُكَّاشَةُ" نبي كريم ﷺ وفرمايل: ستا نه عکاشه رضي الله عنه په دې دعاء کې مخکې شو. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

"الرُّهَيْطُ" بضم الراء تصغير رهط: وهم دون عشرة أنفس "الرهيط په ضم د "را" سره دا تصغير د رهط دى، ددې اطلاق د لسو کسانو څخه په کمو افرادو باندې كيږي، "وَالْأُفُقُ: الناحية والجانب" معنى يې ده يو طرف او جانب، "وعُكَّاشَةُ: بضم العين وتشديد الكاف وبتخفيفها، والتشديد أفصح" عكاشه رضي الله عنه په ضم د عين سره دى او په تشديد د كاف او په تخفيف سره هم راغلى دى، خو تشديد يې فصيح لغت دى.

لغوي تحقيق:

الرهط: ددې معنى ده: قبيله، د درې څخه تر لسو کسانو پورې شمارل كيږي، په کوم کې چې ښځې نه وي، ددې واحد نشته، د ارهط او ارهاط جمع الجمع: اراهط ده.

نهض: "نهض نهضاً" باب فتح يفتح، ددې معنى ده: درېدل

خاض: "خاض خوضاً" باب نصر ينصر، ددې معنى ده: په اوبو کې دننه كېدل، ليكن كله چې بر انسان خبرې شروع كړي، دې ته هم خاض ويلى شي

يرقون: "رقي رقياً ورقياً" باب ضرب يضرب، ددې معنى ده: دم اچول

اويا زره مومنان به بې حسابه جنت ته داخليږي:

تشريح: "هذه أمتك ومعهم سبعون ألفاً يدخلون الجنة" دا ستاسو امت دى، په دوى كې به اويا زره داسې كسان وي چې بې حسابه به جنت ته داخليږي، ددې جملې دوه مطلبه بيان شوي دي يو دا چې ستاسو امت اويا زره داسې كسان داسې دي چې بې حسابه به جنت ته داخليږي، دويم مطلب دا دى چې په امت كې به ددې نه علاوه اويا زره نور داسې كسان وي چې به بې حسابه به جنت ته داخليږي، ليكن اولنى ترجمه صحيح ده، ځكه چې په يو بل روايت كې ددې تائيد كيږي چې د هغې الفاظ دا دي "هذه أمتك ويدخلون الجنة من هؤلاء سبعون ألفاً" دا ستاسو د امت خلك دي او په دوى كې به اويا زره داسې خلك وي چې بې حسابه به جنت ته داخليږي.

د اويا زره څخه څه مراد دي؟

د اويا زرو څخه تكثير مراد دى، يعنې ډېر خلك به زما په امت كې داسې وي چې بې حسابه به جنت ته داخليږي.

د دم اچولو حقیقت:

"لايرقون ولايسترقون" نه به خپله دم اچوي او نه به په بل باندې دم اچوي، ددې نه مراد هغه دمونه او تعويذونه دي چې د قرآن کريم آيت او د رسول الله ﷺ حديثونه يا د الله ﷻ د نومونو څخه علاوه وي، شيخ عبدالحق دهلوي رحمه الله فرمايي چې زياته صحيح خبره دا ده چې ددې نه مراد هغه دم او تعويذ دی چې د جاهليت په زمانه کې به خلکو کول، واضحه خبره ده چې په هغې کې خو قرآني ايتونه يا نبوي حديثونه ذکر نه وو، بلکې ټول مشرکانه الفاظ او منترونه پکې وو، نو په دې وجه به دوی په شرک کې مبتلاء شول.

"ولايتطيرون" او نه يې چيرته بد فالي او بد شګوني کړې وي، نبي کريم ﷺ به نيک فال خوښولو، د جاهليت په زمانه کې دا رسم وو چې کله به دوی په کوم سفر باندې روانيدل، نو د وتلو څخه مخکې به يې يو مارغه والوخولو، که هغه مارغه په ښي طرف لاړو، نو دوی به ويل چې خه اوس روان شه؛ سفر دې په خير دی او که هغه مارغه په چپ طرف روان شو، نو دوی به ويل چې اوس په سفر مه ځه؛ په سفر کې دې خير نشته.

نبي کريم ﷺ دويم کس ته ولې دعاء ونه کړه؟

"ثم قام رجل آخر فقال ادع الله أن يجعلني منهم فقال سبقك بها عكاشه" بيا يو بل کس پورته شو او وې ويل: ماته هم دعاء وکړه چې الله ﷻ مې د دغو خلکو سره حشر وکړي، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: عکاشه رضي الله عنه په تاسو مخکې شو، محدثينو ددې سوال ډېر ځوابونه ورکړي دي: يو څو يې دلته نقل کوو: اول ځواب دا چې د الله ﷻ له لورې صرف د يو سړي په حق کې د دعاء قبلېدو اجازت ملاو شوی وو، نبي کريم ﷺ د عکاشه رضي الله عنه په حق کې دعاء وکړه، نو ځکه هغه دويم کس ته د دعاء کولو حق پاتې نه شو

دويم ځواب دا دی چې هغه باطني طور سره ددې مقام مستحق نه وو، نو ځکه رسول الله ﷺ د هغوی په حق کې دعاء ونه کړه.

دريم ځواب دا دی چې په اصل کې هغه سړی منافق وو، نبي کريم ﷺ ته الله ﷻ ورښودلی وو چې دا سړی منافق دی؛ نو ځکه رسول الله ﷺ د اخلاقو څخه کار واخست او ورته يې وفرمايل: عکاشه رضي الله عنه تاسو څخه وړاندې دی.

څلورم ځواب دا دی چې: د عکاشه رضي الله عنه په حق کې د وحي خفي په ذريعه معلومه شوې وه، نو ځکه رسول الله ﷺ صرف د هغه په حق کې دعاء وکړه او دا آخرنی ځواب ډېر مناسب او صحيح معلومېږي، ځکه چې د نورو رواياتو څخه هم معلومېږي چې هغه دويم کس سعد بن عبادة رضي الله عنه وو چې د مشاهيرو صحابه کرامو څخه شمېرل کيږي.

د نبي کريم ﷺ يوه جامع دعاء

"الثاني: عن ابن عباس رضي الله عنهما أيضاً: أنّ رَسُولَ اللّهِ ﷺ كَانَ يقول" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی، هغه

فرمايي چې رسول الله ﷺ به اکثر دا دعا کول: "اَللّٰهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ" اې الله ﷻ زه تاته تابعدار يم، "وَبِكَ آمَنْتُ" او په تا باندې مې ايمان دی، "وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ" او په تا باندې مې توکل دی، "وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ" او ستا طرفته مې رجوع ده، "وَبِكَ خَاصَمْتُ" او ستا په مرسته به جهاد کوم، "اَللّٰهُمَّ أَعُوذُ بِعِزَّتِكَ" اې الله ﷻ پناه نيسم په تا سره، "لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ أَنْ تُضِلَّنِى" نشته لائق د عبادت سېوا ستا څخه، اې الله ﷻ: د ګمراهۍ نه مې وساتې، "أَنْتَ الْحَيُّ الَّذِى لَا تَمُوتُ" ته هغه ذات يې چې مرګ درته نه راځي، "وَالْجِنُّ وَالْإِنْسُ يَمُوتُونَ" پيريان او انسانان به مري، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، وهذا لفظ مسلم واختصره البخاري.

لغوي تحقيق:

اسلمت: "اسلم اسلاماً" ددې معنی ده: مطيع او تابعدار، د اسلام مذهب قبلول

خاصمت: "خاصم خصاماً ومخاصمة" باب مفاعله، ددې معنی ده: جنګ کول

د نبي کريم ﷺ يوه ښکلې دعاء:

د نبي کريم ﷺ دا دعاء غوښتل او بيا د صحابه کرامو ﷺ دا روايت نقل کول او د محدثينو دا روايت محفوظ کول ددې ټولو مقصد صرف يو دی، هغه دا چې بايد امت ددې دعاء اهتمام وکړي، که ددې دعاء د الفاظو په معنی کې غور وشي؛ نو درته به معلومه شي چې ددې يو يو لفظ د عقيدې د مضبوطوالي او د ايمان تازه کېدو سبق دی، د دعاء غوښتلو په وخت کې ټوله توجه الله ﷻ ته کيږي، نو څکه نور هم ايمان ورسره تازه او مضبوط شي، الله ﷻ دې موږ ټولو ته د مسنونو دعاګانو غوښتلو توفيق رانصيب کړي آمين.

د ويرې په وخت د ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام او نبي کريم ﷺ دعاء

"الثالث: عن ابن عباس رضى الله عنهما أيضاً، قَالَ" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی، هغه فرمايي چې دا جمله: "حَسْبُنَا اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ" کافي دی الله ﷻ موږ لره او ښه کارساز دی، "قَالَهَا إِبْرَاهِيمُ ﷺ حِينَ أُلْقِيَ فِى النَّارِ" دا کلمه ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ويلې وه، کله چې هغه په اور کې واچول شو، "وَقَالَهَا مُحَمَّدٌ ﷺ حِينَ قَالُوا" او دا کلمه نبي کريم ﷺ هم وويل، کله چې خلکو هغه ته وويل: "إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ" خلک درته د جنګ لپاره جمع شوي دي، نو د دوی څخه تاسو ويرېږئ، "فَزَادَهُمْ إِيمَاناً وَقَالُوا" د دغې جملې په وجه د مسلمانانو ايمانونه زياتي شو او دا جمله دوی په ځواب کې وويل: "حَسْبُنَا اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ" کافي دی الله ﷻ موږ لره او هغه ښه کارساز دی "رواه البخاري".

"وفي رواية له عن ابن عبَّاس رضى الله عنهما، قَالَ" او په يو بل روايت کې دي چې ابن عباس ﷺ وفرمايل: "كَانَ آخر قول إبراهيم ﷺ حِينَ أُلْقِيَ فِى النَّارِ" آخرنی جمله چې ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام ويلې وه، کله چې يې په اور کې واچولو، هغه دا وه: "حَسْبِيَ اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ" کافي دی الله ﷻ ما لره او هغه ښه کارساز دی.

لغوي تحقيق:

الفی: "الفی القاء" ددې معنی ده: غورځول.

فاخشوهم: "خشي خشياً" باب سمع يسمع، ددې معنی ده: وېرېدل.

فزادهم: "زاد زيادة" باب ضرب يضرب، ددې معنی ده: زياتېدل.

الوکيل: د الله ﷻ صفت دی، يعنې رزق ورکوونکی، کفايت کېدونکی، کافي کېدونکی.

د حمراء الاسد د جهاد سبب:

تشريح: "حين قالوا: إن الناس قد جمعوا لكم فاخشوهم فزادهم إيماناً وقالوا حسبنا الله ونعم الوكيل" مفسرين ليکي چې دا مکالمه په غزوه حمراء الاسد کې وشوه، حمراء الاسد د مدينې منورې نه اته ميله لرې د يو ځای نوم دی، ددې مکالمې مختصر بيان دا دی چې: کفارو ته د احد د غزا نه واپس تلل سخت ناخوښ شوي وو، هغوی فکر وکړو چې موږ کامياب شولو، بيا هم موږ واپس شو، موږ ته پکار وه چې په يوه حمله مو ټول مسلمانان ختم کړي وو، په همدې اراده بيا مدينې منورې ته واپس روان شول، خو الله ﷻ د دوی په زړونو کې داسې رعب او وحشت وغورځولو چې واپس مکې ته روان شو، دلته نبي کريم ﷺ ته اطلاع وشوه؛ نو نبي کريم ﷺ د خپلو زخمي ملګرو سره يو ځای د دوی په تعاقب کې تر حمراء الاسد پورې راورسېدل.

په يو بل روايت کې دي چې نبي کريم ﷺ د کفارو د تعاقب لپاره اعلان وکړو، نو ټول صحابه کرام ﷺ ودرېدل، په دوی کې هغه صحابه کرام هم وو چې سخت زخميان شوي وو، کله چې نبي کريم ﷺ د خپلو ملګرو سره يو ځای حمراء الاسد ته ورسېدو؛ نو دلته ورته نعيم بن مسعود ﷺ ملاو شو، هغه خبر ورکړو چې ابوسفيان ﷺ د خپلو نورو لښکريانو سره يو ځای په مدينه منوره باندې د حملې په اراده راروان دی، کله چې صحابه کرامو دا خبر واورېدو، نو ټولو يو ځای ووېل: "حسبنا الله ونعم الوكيل" زموږ لپاره الله ﷻ کافي دی او هغه ښه کارساز دی.

په حسبنا الله ويلو سره غم ختمېږي:

ددې نه معلومه شوه چې په هره پرېشانۍ کې ددې آيت ويل مجرب دي او بله دا چې کله هم په انبياء عليهم السلام يا په اولياء کرامو باندې کومه سختي راغلې ده، نو هغوی به ددې وظيفې ورد کولو، دغه شان د ابو الانبياء ابراهيم عليه السلام واقعه بيان شوې ده، کله چې نمرود په اور کې واچولو، نو په دې وخت کې ابراهيم عليه السلام ته پرښتې راغلې او ورته يې ووېل: که ستاسو خوښه وي موږ به دې مرسته وکړو، خو ابراهيم عليه السلام په دې وخت کې هم دغه جمله وفرمايل: "حسبي الله ونعم الوكيل" هر قسم پرېشانۍ ختمولو لپاره دا يوه مجربه نسخه ده، علماء کرام فرمايي چې کوم کس زړه خله په ايماني جذبې او يقين سره دا آيت تلاوت کړي او بيا دعاء وکړي؛ نو ان شاء الله دعاء به يې قبوله شي.

يو قوم به صرف د توکل په وجه جنت ته ځي

"الرابع: عن أبي هريرة ﷺ، عن النبي ﷺ، قال: "د ابو هريره ﷺ نه روايت دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "يَدْخُلُ الْجَنَّةَ أَقْوَامٌ" جنت ته به ځينې داسې قومونه داخل شي چې: "أَفْئِدَتُهُمْ مِثْلُ أَفْئِدَةِ الطَّيْرِ" چې زړونه به يې د مارغانو د زړونو په شان وي. رواه مسلم

"قيل: معناه متوكلون، وقيل: قلوبهم رقيقة" امام نووي رحمه الله فرمايي: ددې معنى ده: توکل کونکي، ځينې وايي: چې زړونه به يې نرم وي لکه څنګه چې د مارغانو زړونه نرم دي.

لغوي تحقيق:

أفئدتهم: ددې مفرد "الفواد" راځي، ددې معنى ده: زړه، ځينې وخت کې په عقل باندې هم ددې اطلاق کيږي.

الطير: "طار طيراً" باب ضرب يضرب، ددې معنى ده: د مارغه الوتل.

په الله ﷻ به توکل کوونکي جنت ته ځي:

تشريح: "يدخل الجنة أقوام أفئدتهم" جنت ته به ځينې داسې خلك هم داخليږي چې د دوی زړونه به د مارغانو د زړونو په شان وي، علامه نووي رحمه الله ددې دوه مطلبه بيان کړي دي: اول دا چې دا خلك به په الله ﷻ باندې داسې توکل ساتي، لکه مارغان چې يې څنګه ساتي، د مارغانو په باره کې ارشاد دی چې: "تغدو خماصاً وتروح بطاناً" چې کله سهار د خپلو ځالو څخه وځي؛ نو وږي به روان وي او کله چې ماښام خپلو ځالو ته راځي؛ نو ماړه به وي، د دويمې ورځې رزق غم ورسره نه وي، دويمې ورځې ته يې جمع کوي هم نه، بلکې خالص د الله ﷻ په ذات باندې اعتماد او بروسه کوي، سهار وږي لاړ شي او ماښام ماړه واپس شي.

دويم مطلب يې دا دی چې ددې خلکو زړونه داسې نرم وي، لکه د مارغانو زړونه چې نرم دي، مطلب دا چې دا خلك سخت دريزه نه وي، بلکې نرم خويونه او عادتونه لري، د دوی په زړونو کې عاجزي وي او د الله ﷻ نه ويره د دوی په زړونو کې پرته وي.

په الله ﷻ باندې د توکل بيان

"الخامس: عن جابر ﷺ: أَنَّهُ غَزَا مَعَ النبي ﷺ قِبَلَ نَجْدٍ" د جابر ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې ما د نجد په طرف کې د رسول الله ﷺ سره جهاد وکړو، "فَلَمَّا قَفَلَ رَسُولُ اللهِ ﷺ قَفَلَ مَعَهُمْ" هر کله چې رسول الله ﷺ د جهاد نه را واپس شو، نو صحابه کرام ﷺ هم ورسره را واپس شول، "فَأَدْرَكَتْهُمُ الْقَائِلَةُ فِي وَادٍ كَثِيرِ الْعِضَاهِ" نو د غرمې قيلولې خوب يې داسې ځای ته را ورسولو چې په کوم ځای زياتې د ازغو ونې وې، "فَنَزَلَ رَسُولُ اللهِ ﷺ" نو په دې ځای کې رسول الله ﷺ پړاو وکړو، "وَتَفَرَّقَ النَّاسُ يَسْتَظِلُّونَ بِالشَّجَرِ" خلك جدا جدا شول، د ونو د سيورې لاندې يې څانته ځايونه سم کړل، "وَنَزَلَ رَسُولُ اللهِ ﷺ تَحْتَ سَمُرَةٍ فَعَلَّقَ بِهَا سَيْفَهُ" او رسول الله ﷺ هم

د کيکر د ونې لاندې د سيورې لپاره کينستلو او خپله توره يې پکې زوړنده کړه، "وَنِمْنَا نَوْمَةً" او موږ تول لږ وخت لپاره ويده شو، "فَإِذَا رسولُ الله ﷺ يَدعونا وَإذا عِندَهُ أعْرَابِيٌّ" ناڅاپه رسول الله ﷺ موږ ته آواز ونه کړل او د هغه سره يو اعرابي ولاړ وو، "فَقَالَ: إنَّ هَذَا اخْتَرَطَ عَلَيَّ سَيفِي" رسول الله ﷺ وفرمايل: دغه کس په ما باندې زما توره راوويستل، "وَأنَا نَائِمٌ فَاسْتَيقَظْتُ" زه ويده وم چې ناڅاپه راويښ شوم، "وَهُوَ فِي يَدِهِ صَلتاً" نو دا توره دده په لاس کې لوڅه وه، "قَالَ: مَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّي؟" نو ده وويل: اوس به تا څوک زما څخه بچ کړي؟ "قُلْتُ: الله - ثلاثاً" نو ما ورته درې ځله وويل: الله ﷻ! "وَلَمْ يُعَاقِبْهُ وَجَلَسَ" او هغه ته يې ددې کار بدله ورنه کړه او کينستلو، مُتَّفَقٌ عَلَيهِ.

"وفي رواية قَالَ جَابِرٌ" او په يو روايت کې دي چې جابر ﷺ وفرمايل: "كُنَّا مَعَ رَسُولِ الله ﷺ بِذَاتِ الرِّقَاعِ" موږ د رسول الله ﷺ سره په غزوه ذات الرقاع کې وو، "فَإِذَا أتَيْنَا عَلَى شَجَرَةٍ ظَلِيلَةٍ" نو موږ داسې يوې ونې ته راغلو چې ډيره ګڼه وه، سيورې يې زيات وو، "تَرَكْنَاهَا لِرَسولِ الله ﷺ" هغه ونه موږ رسول الله ﷺ ته پرېښوده چې د سورې لاندې يې کيني، "فَجَاءَ رَجُلٌ مِنَ المُشْرِكِينَ وَسَيفُ رَسُولِ الله ﷺ مُعَلَّقٌ بِالشَّجَرَةِ" نو د مشرکانو څخه يو کس راغلو او د رسول الله ﷺ توره په ونه کې زوړنده وه، "فَاخْتَرَطَهُ" نو هغه مشرک توره راواخسته، "فَقَالَ: تَخَافُنِي؟" هغه مشرك وويل: ته زما نه وېرېږې؟ "قَالَ: لاَ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: نه، "فَقَالَ: فَمَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّي؟" هغه مشرك وويل: څوک به دي رانه وساتي؟ "قَالَ: اللهُ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل چې الله.

"وفي رواية أبي بكر الإسماعيلي في "صحيحه": قَالَ: مَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّي؟" د ابو بکر اسماعيلي په يوه روايت کې دي چې هغه په خپل صحيح کې ذکر کړې دي او وايي: څوك به دي رانه خلاص کړي؟ "قَالَ: اللهُ" رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ، به مې خلاص کړي، "قَالَ: فَسَقَطَ السيفُ مِنْ يَدِهِ" فرمايي: چې د مشرك له لاسه توره راپرېوته، "فَأخَذَ رسولُ الله ﷺ السَّيْفَ، فَقَالَ" بيا رسول الله ﷺ توره راواخسته او وې فرمايل: "مَنْ يَمْنَعُكَ منِّي؟" اوس به تا څوك زما نه خلاص کړي؟ "فَقَالَ: كُنْ خَيْرَ آخِذٍ" هغه مشرك وويل: ته ښه اخستونکی جوړ شه! "قَالَ: تَشْهَدُ أنْ لا إلهَ إلاَّ اللهُ وَأنِّي رَسُولُ اللهِ؟" نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: آيا ته ددې خبرې شاهدي ادا کوې چې نشته لائق د عبادت د الله ﷻ نه سېوا بل څوك او زه د الله ﷻ رسول يم؟ "قَالَ: لاَ" هغه مشرك وويل: نه، "وَلَكِنِّي أُعَاهِدُكَ أنْ لا أُقَاتِلَكَ" ليکن زه ستا سره وعده کوم چې زه به ستاسو سره جنګ نه کوم، "وَلاَ أكُونَ مَعَ قَومٍ يُقَاتِلُونَكَ" او نه به د هغه قوم سره ملګرتيا کوم چې ستاسو سره جنګ کوي، "فَخَلَّى سَبيلَهُ" نو د هغه لارې يې خوشې کړه، "فَأتَى أصْحَابَهُ" نو هغه مشرك خپلو ملګرو ته راغلو، "فَقَالَ: جِئْتُكُمْ مِنْ عِنْدِ خَيْرِ النَّاسِ" هغه ورته وويل: زه راغلم تاسو ته د يو داسې انسان له لورې چې په ټولو خلکو بهترين شخصيت دی.

قوله: "قَفَلَ" أي رجع) امام نووي رحمه الله فرمايي: دا قول چې (قفل) دی، ددې معنی ده: رجع يعني راواپس کيدل، "وَالعِضَاهُ" الشجر الَّذِي لَهُ شوك" عضاه هغه ونې ته ويلی شي چې ازغي ولري، "والسَّمُرَةُ بفتح السين وضم الميم: الشَّجَرَةُ مِنَ الطَّلْحِ، وهِيَ العِظَامُ مِنْ شَجَرِ العِضَاهِ" سمرة په فتح د سين او په ضم د ميم سره غټه ازغو والا ونه

مراد ده، "وَاخْتَرَطَ السَّيْفَ أي سلّه وَهُوَ فِي يَدِهِ" او اخترط السيف معنى ده: راويستلې توره، "صَلْتاً" أي مسلولاً بفتح الصاد وضمها" د صلتاً معنى ده: بغير تيکي توره يعنې کومه توره چې په تيکي کې نه وي، دا په فتح صاد او په ضمې دواړو سره ويل کيږي.

لغوي تحقيق:

قفل: "قفل قفلاً و قفولاً" د نصر ينصر او ضرب يضرب دواړو بابونو څخه راځي، ددې معنى ده: د سفر څخه واپس کېدل.

العضاه: ددې معنى ده: د ازغو څخه ډکه ونه، ددې مفرد عضاهة راځي.

سمرة: د کيکر ونه.

اخترط: "خرط خرطاً" د نصر ينصر او ضرب يضرب دواړو بابونو څخه راځي، ددې معنى ده: د ونې پاڼې په لاس سره راشکول، ليکن دلته يې معنى ده: توره راويستل.

صلتاً: أصلت السيف يعنې توره يې له تيکي راوويستل.

د نبي کريم ﷺ بهادري او شجاعت:

تشريح: ذات الرقاع: دا جهاد په شپږمه هجري کې شوی وو، ذات الرقاع د يو غر نوم دی، په دې مناسبت ورته غزوه ذات الرقاع ويلی شي، ځينې وايي چې الرقاع وايي د کپړې ټوټې ته، صحابه کرامو سره څپلې او بوټان نه وو، نو دوی د جامو څخه ټوټې غوڅې کړې او په هغې يې خپلې پښې وتړلې، ځينې وايي چې ذات الرقاع ورته ځکه وايي چې صحابه کرامو خپلې پښې په کپړو تړلې وې چې د ډېرو صحابه وو پښې د مزل له امله چودلې وې؛ نو په چاودو ځايونو يې ټوټه تاو کړې وه.

"عنده أعرابى" ددې کليوال سړي نوم اکثره محدثينو غورث بن حارث ښودلی دی، "من يمنعك منى؟ قلت الله ثلاثاً" اوس به دې څوک زما څخه خلاص کړي؟ نبي کريم ﷺ درې ځله ورته وفرمايل چې: الله ﷻ، په دې حديث کې د رسول الله ﷺ د يقين او په الله ﷻ باندې د توکل کولو يوه اعلى نمونه د امت لپاره ښودل شوې ده، لږ فکر وکړئ چې دښمن ستا سره دی، توره ورسره د تيکي نه راويستل شوې او ستا مرګ ته هم تيار ولاړ دی، ددې حالاتو باوجود په رسول الله ﷺ باندې ذره برابر وېره هم نه راځي، بلکې ډېر په قلاره ورته ځواب ورکوي چې الله ﷻ به مې ستا څخه بچ کوي، هغه کس چې د توکل على الله له وجې خپل رعب وليد، په رسول الله ﷺ کې يې صبر او استقلال وليدو، په هغه باندې وېره راغله، توره يې له لاسه ولوېده، نبي کريم ﷺ هغه توره اوچته کړه او داسې يې وفرمايل: اوس به دې زما څخه څوک بچ کړي؟ هغه وويل چې "كن خير آخذ" ته ښکلی او بهترين توره اوچتونکی جوړ شه، په دې کې د رسول الله ﷺ له طرفه د عفو او بخښنې يو اعلى نمونه پرته ده، ددې باوجود چې دښمن ورته ګير دی، هغه دښمن چې لږ وړاندې يې دده د قتل خبره کول، اوس هغه ګير دی، ليکن قربان يې شم د رسول الله ﷺ د عفو او معافی څخه، ځکه خو الله ﷻ ورته رحمة للعالمين ويلي دي، هغه د انتقام اخيستو په ځای معافي غوره وګڼل

کليوال سړی مسلمان شو:

فقال تشهدان لااله الا الله واني رسول اللّٰه قال لا... الخ: نبي کريم ﷺ ورنه وفرمايل چې ته ددې ګواهي ورکوې چې نشته لائق د عبادت سوا د الله ﷻ نه او زه د الله ﷻ رسول يم؟ هغه وويل چې نه، ددې روايت نه معلوميږي چې هغه بانډچې ايمان ندې راوړې ليکن علامه واقدي رحمه الله فرمايي چې هغه بياوروسته مسلمان شو او خپل قوم قبيلې ته يې د اسلام دعوت هم ورکړی دی او ډېر خلك دده په لاس مسلمان شوي هم دي

په الله ﷻ باندې د د مارغانو د توکل مثال

"السادس: عن عمر ﷺ قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول" د عمر ﷺ نه روايت دی، هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ نه مي اوريدلي دي چې فرمايل يې: "لَوْ أَنَّكُمْ تَتَوَكَّلُونَ عَلَى اللهِ حَقَّ تَوَكُّلِهِ" که تاسو په الله ﷻ باندې توکل کوئ، لکه څنګه چې د توکل حق دی، "لَرَزَقَكُمْ كَمَا يَرْزُقُ الطَّيْرَ" نو الله ﷻ به تاسو ته داسې رزق درکړي لکه څنګه چې مارغانو ته رزق ورکوي، "تَغْدُو خِمَاصاً وَتَرُوحُ بِطَاناً" سهار له وخته ځي نو وږي وي او بېګا ته چې راځي نو ماړه وي، "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن، معناه: تذهب أول النهار خماصاً: أي ضامرة البطون من الجوع" امام نووي رحمه الله فرمايي چې د خماصاً مطلب دا دی چې د ورځې په اول ساعت کې يې ججوري نشې وي او د خالو ګېډه روانې شي، "وترجع آخر النهار بطاناً. أي ممتلئة البطون" او د "ترجع بطاناً" معنی دا ده چې د ورځې په آخر کې مړې خيټې خپلو ځالو ته راروانې وي.

لغوي تحقيق:

تغدوا: "غدا غدواً" باب نصر ينصر، ددې معنی ده: سهار وختې تلل.

خماصاً: "خمص خمصاً" باب سمع يسمع، ددې معنی ده: وږې خيټه.

تروح: "الرواح" مصدر دی، ددې معنی ده: ماښام وخت يا دا چې لمر ډوب شي.

البطانة: "البطن" ددې معنی ده: خيټه.

توکل کوونکي د مارغانو په شان وي:

تشريح: ددې حديث مفهوم دا دی چې په حقيقت کې د کسب لپاره سعي او کوشش انسان ته رزق نه ورکوي، بلکې رزق ورکوونکې ذات صرف يو الله ﷻ دی، خو ددې دا مطلب هم نه دی چې انسان د رزق ګټلو لپاره هيڅ سعي او کوشش نه کوي، څکه چې توکل او اعتماد د زړه سره تعلق لري کوم چې د ظاهري اعضاوو د حرکت کولو مطلقاً منافي نه دی، امام غزالي رحمه الله فرمايي کوم کس چې توکل دې ته وايي چې کسب او عمل پرېږدي، کار نه کوي، د ګيدړې په څير چيرته ځانته په غره کې کېني، نو داسې کس انتهائي په غلطۍ کې مبتلاء دی.

امام قشيري رحمه الله فرمايي: د توکل اصل مقام زړه دی او د رزق ګټلو لپاره مناسبه طريقه

اختيارول او سعي كول په الله ﷻ باندې د توكل سره منافي نه ده، لكه څرنګه چې الله ﷻ فرمايلي دي "وكاين من دآبة لاتحمل رزقها الله يرزقها واياكم" ټول ساه لرونكي د ځمكې پر مخ دي چې هغوی خپل رزق هم نه شي پورته كولی، بس الله ﷻ هغوی ته هم رزق وركوي او تاسو ته يې هم دركوي.

يوه عبرتناكه واقعه:

ملاعلي قاري رحمه الله يوه واقعه بيان كړې ده چې الله ﷻ څنګه ساتونكی دی: فرمايي كله چې د وراغه بچی د هګۍ نه بهر راووځي؛ نو بيخي سپين وي وښتان وربانديې نه وي، وراغه چې كله خپل بچی په داسې حالت كې وويني؛ نو په هغه باندې ډېر بد ولګيږي، وراغه خپل بچی پرېږدي چيرته لرې ترې لاړ شي، ددې نه وروسته وړوكي شاته پتنګان او مېږي الله ﷻ راواستوي هغه حشرات په دې وراغه باندې كيني، دغه د وراغه بچی هغه خوري، تر هغه پورې چې په دې بچو باندې تور وښتان راوخيږي، ددې نه وروسته ورته خپل مور پلار راشي.

د ويده كېدو مسنونه طريقه

"السابع: عن أبي عُمَارَةَ البراءِ بن عازب رضي الله عنهما، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ" د ابو عمارة براء بن عازب ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ يو كس ته وفرمايل: "يَا فُلانُ، إذَا أوَيْتَ إلَى فِرَاشِكَ" اې فلانكيه كله چې ته خپلې بسترې ته د شپې څملاستلو لپاره راشې، "فَقُل: اللَّهُمَّ أسْلَمْتُ نَفْسِي إلَيْكَ" نو دا دعاء وايه، اې الله! ما خپل ځان تاته درسپارلی دی، "وَوَجَّهْتُ وَجْهِي إلَيْكَ" او خپل ځان مې تاته درسپارلی دی. "وَفَوَّضْتُ أمْرِي إلَيْكَ" او خپل ټول حالت مې درته سپارلی دی، "وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إلَيْكَ رَغْبَةً وَرَهْبَةً إلَيْكَ" او خپله شا مې تاته ولګول، د اجر او ثواب په طمع او ستا د عذاب نه د وېرې په طمع، "لا مَلْجَأَ" نشته ځای د تيښتې، "وَلاَ مَنْجَا مِنْكَ" او نشته د بچ كيدو او خلاصي ځای ستا نه، "إلاَّ إلَيْكَ" مګر هم ستا په اسرې سره به بچ كېږو، "آمَنْتُ بِكِتَابِكَ الَّذِي أنْزَلْتَ" ما ايمان راوړی دی په هغه كتاب چې تا نازل كړی دی، "وَنَبِيِّكَ الَّذِي أرْسَلْتَ" او په هغه پيغمبر ﷺ چې تا رالېږلی دی، "فَإِنَّكَ إنْ مِتَّ مِنْ لَيْلَتِكَ" كه چيرته ته په دې شپه كې مړ شوې، "مِتَّ عَلَى الفِطْرَةِ" نو ته په فطري دين چې اسلام دی او په صحيح عقيده به مړ شې، "وَإنْ أصْبَحْتَ أصَبْتَ خَيراً" او كه سهار راپورته شې، نو په نېكۍ او بهترۍ به راپاڅې. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ.

"وفي رواية في الصحيحين" او د صحيحينو په يو روايت كې دي: "عن البراءِ، قَالَ: قَالَ لي رَسُولُ الله ﷺ" د براء بن عازب ﷺ نه روايت دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ ماته وفرمايل چې: "إِذَا أتَيْتَ مَضْجَعَكَ" كله چې ته خپل كټ ته راشې، "فَتَوَضَّأْ وُضُوءكَ للصَّلاةِ" نو داسې اودس وكړه لكه څنګه چې لمانځه ته اودس كوې، "ثُمَّ اضْطَجِعْ عَلَى شِقِّكَ الأَيْمَنِ" بيا په ښي طرف څمله، "وَقُل... وذَكَرَ نَحْوَهُ" او بيا دا دعاء ورته وښودل، "ثُمَّ قَالَ: وَاجْعَلْهُنَّ آخِرَ مَا تَقُولُ" بيا نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: دا دعاء بيا آخرنۍ وګرځوه يعنې ددې نه پس خبرې مه كوه.

لغوي تحقيق:

فوضت: "فوض تفويضاً" باب تفعيل دی، ددې معنی ده: خپل هر څه الله ﷻ ته سپارل.

رغبة: "رغب رغبة" باب سمع يسمع دی، ددې معنی ده: رغبت ساتل، مينه کول.

رهبة: "رهب رهبة" باب سمع يسمع دی، ددې معنی ده: وېرېدل، وېره کول.

ملجا: ددې معنی ده: د پناه اخيستلو ځای، قلعه.

منجا: "نجا نجاء" باب نصر ينصر، ددې معنی ده: خلاصي موندل.

اضطجع: "ضجع ضجعاً" باب فتح يفتح دی، په چپ طرف څملاستل.

دويده کېدو د دعاء تشريح:

تشريح: په دې دعاء کې اوه جملې راغلي دي: د هر يو لفظ مختصر وضاحت.

(۱) "**اسلمت نفسي اليك**" اې الله ﷻ! ما خپل ټول ځان تاته سپارلی دی، مطلب دا چې ما خپل ځان، ټول کارونه، قوت، اعضاء، خواهشات او ارادې ټولې تاته حواله کړي دي چې اوس ما تاته هر څه حواله کړل؛ نو اې الله! ته زما نه هغه کار واخلې چې ته پرې راضي کيږې.

(۲) "**ووجهت وجهي اليك**" ما خپل مخ تاته اړولی دی، يعنې د ټولې دنيا نه مې مخ اړولی دی، بس يو ستا کريم ذات ته متوجه يم، ددې دويم نوم ده: په الله ﷻ باندې توکل کول، کله چې انسان خپل ټول ځان الله ﷻ ته وسپاري، نو بيا په خپلو تدبيرونو ته ذره برابر اهميت نه ورکوي.

(۳) "**وفوضت أمري إليك**" او ما خپل ټول کارونه تاته حواله کړي دي، يعنې ما خپل ټول کارونه ستا د علم او حکمت تابع کړي دي، څه چې ستا خوښه وي هغه به زما هم خوښ وي، دې ته مقام د رضاء ويل کيږي.

(۴) "**والجأت ظهري إليك**" ما خپله ملا په تا ټړلې ده، يعنې زه چې کوم ديني او دنيوي کارونه کوم، په دې کې چې کوم کوششونه او تدبيرونه کوم، دغه کارونه سرته رسېدو لپاره ستا فضل او توفيق ته ضرورت دی، دغه کارونه به ستا په توفيق سره انجام ته رسيږي، زما تدبيرونه د مؤثر حقيقي ذات په وړاندې هيڅ نه دي، دې ته مقام د عبديت ويل کيږي.

(۵) "**رغبة ورهبة إليك**" ستا طرفته رغبت کوم او ستا نه وېرېږم، يعنې انسان ټول کارونه د دوه وجو کوي کله خو د چا د شوق او رغبت له امله يې کوي او کله يې د خوف او وېرې له امله کوي، نو په دې کې يې وفرمايل چې زما د ټولو کارونو دارومدار په دې دوه خبرو منحصر دی.

(۶) "**لاملجأ ولامنجأ منك إلا إليك**" ستا نه د بچ کېدو او پناه اخيستو ځای او د نجات ځای بل نشته مګر دا هم ته يې، يعنې که ما د الله ﷻ نه پرته په بل چا باندې توکل او اعتماد وکړو او اې الله! تاسو راځخه خفه نه شې، اوس زما پوره يقين او ايمان دی چې ستا قهر او عذاب به نازليږي او ستا د قهر او عذاب څخه بچ کوونکي به بيا څوک نه وي يې له ستا نه، ستا د ناراضتيا او خفګان نه ستا په کرم او عفو سره بچ کيدی شو او بس.

(۷) "آمنت بكتابك الذي أنزلت ونبيك الذي أرسلت" ما ايمان راوړی دی په هغه كتاب چې تا نازل كړی دی او په هغه پيغمبر ﷺ چې تا راليږلی دی، په دې جمله كې بنده د خپلې بندګۍ اظهار كوي چې اې الله! ما ستا په كتاب او ستا په پيغمبر ﷺ باندې ايمان راوړی دی، ممكن ده چې زه د شيطان په دوكه كې راشم او ګناهګار شم، ليكن زه بيا هم په تاسو ايمان لرم، لهذا اې الله! ما معاف كړه.

د راوي براء بن عازب رضي الله عنه مختصر حالات:

د دې صحابي رضي الله عنه اصلي نوم براء دی، كنيت يې ابو عماره دی، د حارثه خاندان سره تعلق لري، د پلار نوم يې عازب دی، ماما يې ابو برده بن نيار بدري صحابي دی، په عقبه كې يې اسلام راوړی و، دده په ذريعه يې كورنۍ اسلام قبول كړو، د اسلام راوړلو وروسته يې د مصعب بن عمير رضي الله عنه او عبدالله بن ابن ام مكتوم رضي الله عنه څخه قرآن شريف زده كړو، د بدر په جنګ كې شريك شو، ليكن د كم عمرۍ له امله نبي كريم ﷺ واپس كړو، د احد، خندق، حديبيه، خيبر او په حنين جهادونو كې يې شركت كړی دی، طائف په محاصره او حجة الوداع كې يې د نبي كريم ﷺ سره شركت كړی و، پوره په پنځلسو غزاواتو كې يې شركت كړی دی.

تواضع او عاجزي يې ډېره زياته وه، خپل ځان يې انتهائي كمزوری ښكاره كولو، په كوم كې يې وړه كوتګۍ جوړه كړه په هغې كې به اوسيدو، د احاديثو په روايت كې به يې احتياط كولو، د روايت شويو حديثونو مجموعه يې درې سوه پنځه ته رسيږي، په دوه ديرشو باندې امام بخاري رحمه الله او امام مسلم رحمه الله متفق عليه دي، په حديثو كې د احتياط په باره كې يې يو ځل وفرمايل چې "ما كل الحديث سمعناه من رسول الله ﷺ كان يحدثنا أصحابنا عنه كانت شغلتنا عنه رعية الابل" څومره حديثونه چې زه بيانوم ضروري نه ده چې ټول مې د رسول الله ﷺ نه اوريدلي وي، موږ به اوښان څرول په دې بناء موږ د رسول الله ﷺ په خدمت كې زيات وخت حاضر نه وو.

په الله جل جلاله باندې د نبي كريم ﷺ توكل

"الثامن: عن أبي بكر الصديق رضي الله عنه عبد الله بن عثمان بن عامر بن عمرو بن كعب بن سعد بن تيم بن مرة بن كعب بن لؤي بن غالب القرشي التيمي رضي الله عنه" د ابو بكر صديق رضي الله عنه عبد الله بن عثمان بن عامر بن عمر بن كعب بن سعد بن تيم بن مرة بن كعب بن لوئ بن غالب القرشي التيمي- "وَهُوَ وَأَبُوهُ وَأُمُّهُ صَحَابَةٌ - رضي الله عنهم - قَالَ" هغه خپله- پلار او مور يې ټول صحابه وو، فرمايي چې: "نَظَرْتُ إِلَى أَقْدَامِ الْمُشْرِكِينَ وَنَحْنُ فِي الْغَارِ" ما د مشركانو پښې وليدلې او موږ په دې وخت كې په غار كې وو، "وَهُمْ عَلَى رُؤُوسِنَا" او مشركان زموږ د سرونو دپاسه تېريدل، "فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، لَوْ أَنَّ أَحَدَهُمْ نَظَرَ تَحْتَ قَدَمَيْهِ" نو ما ووېل: اې د الله تعالى رسوله! كه چېرته يو كس دې مشركانو نه لاندې پښو ته نظر وكړي، "لَأَبْصَرَنَا. فَقَالَ": "نو موږ به ووينې، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل چې: "مَا ظَنُّكَ يَا أَبَا بَكْرٍ بِاثْنَيْنِ اللهُ ثَالِثُهُمَا" اې ابوبكر رضي الله عنه! ستا څه ګمان دی په هغه دوه كسانو چې دريم يې الله جل جلاله مدد ګار وي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

لغوي تحقيق:

أقدام: جمع د قدم ده، ددې معنی ده: پښه.

الغار: سوړنګ، ګوره، ددې جمع "اغوار" راځي.

وظنك: "ظن ظناً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: يقين کول، د ګومان معنی هم ورکوي لکه: ظننت زيداً صاحبك.

د هجرت واقعه او د نبي کريم ﷺ توکل:

تشريح په دې حديث کې چې کومې واقعې ته اشاره شوې ده د هغې خلاصه دا ده: کله چې نبي کريم ﷺ د ابوبکر رضي الله عنه سره د مکې نه مدينې منورې ته هجرت کولو، ددې څخه وړاندې هم ځينې مسلمانانو هجرت کړی وو، د مکې مشرکانو د نبي کريم ﷺ په بندي کولو باندې د سلو اوښانو انعام ايښی ؤ چې له امله يې ډېر خلك په دې لالچ کې سرګردانه وو، تر دې چې مشرکان تر هغه غاره ورسېدل چې رسول الله ﷺ او د هغه ملګري ابو بکر صديق رضي الله عنه پکې پناه اخيستې وه، ليکن الله ﷻ د خپل قدرت نخښې ورته وښودلې، هغه داسې چې يوه ځالګه يې په خاله جوړولو باندې بوخت کړه او يوه ځنګلي کوتره يې هم په دې بوخت کړه چې هلته ځانته ځاله جوړه کړي او سمدستي يې پکې هګۍ هم واچولې، مشرکانو چې دا حالت وليد، نو خپلو کې يې وويل: د پښو نخښې خو تر دې ځای پورې رارسېدلي دي، ددې نه مخکې چېرته لاړل، که په دې غار کې دننه وي، نو دلته به دغه د ځالګې ځاله محفوظه پاتې نه وي او دغه ګوره د کوترې ځاله او هګۍ!!؟ دا به صحيح او سالمه پاتې شوې نه وای، ابو بکر صديق رضي الله عنه د مشرکانو پښې وليدلې، هغه ته فکر پيدا شو چې هسې نه د مشرکانو نظر په موږ ونه لګېږي، په دې موقع نبي کريم ﷺ وفرمايل: اې ابوبکر رضي الله عنه! غم مه کوه! الله ﷻ زموږ سره دی، دا خبره دې ښکاره ثبوت دی چې د رسول الله ﷺ توکل او يقين په اعلی درجه د مقام کې وو، دا واقعه په قرآن کريم کې په دې ډول نقل شوې ده: "إذ أخرجه الذين كفروا ثاني اثنين إذ هما في الغار إذ يقول لصاحبه لا تحزن إن الله معنا فأنزل الله سكينته عليه وأيده بجنود لم تروها وجعل كلمة الذين كفروا السفلى وكلمة الله هي العليا" کله چې کافرانو دوی په هجرت کولو باندې مجبور کړل، کله چې هغه ﷺ خپل ملګري ته وويل: مه خفه کېږه! الله ﷻ زموږ سره دی، نو الله ﷻ په دوی باندې خاص سکون او آرام نازل کړو او د پرښتو په لښکر سره يې د دوی مرسته وکړه چې تاسو ته په نظر نه راتلې او د کافرانو خبره يې لاندې کړه او الله ﷻ خبره اوچته کړه، دا واقعه حسان بن ثابت رضي الله عنه په خپلو شعرونو کې داسې بيان کړې ده:

وثاني اثنين في الغار المنيف وقد ...... طاف العدو به إذ صعد الجبلا

وكان حب رسول الله قد ...... علموا من الخلائق لم يعدل به رجلا

دا شعرونه چې کله رسول الله ﷺ واورېدل نو په خندا شو.

د راوي ابوبکر صديق رضي الله عنه مختصر حالات:

اصل نوم يې عبدالله، کنيت يې ابوبکر وو، صديق او عتيق يې لقبونه وو، د پلار نوم يې عثمان وو، کنيت يې ابو قحافه وو، د مور نوم يې سلمى وه، کنيت يې ام الخير وه، د پلار له طرفه يې نسب نامه دا ده: عبدالله بن عثمان بن عمار بن عمرو بن کعب بن سعد بن تميم بن مره بن کعب بن لوئ القريشي التيمي، د مور له طرفه يې نسب نامه دا ده: ام الخير بنت صخر بن عامر بن عمرو بن کعب بن سعد بن تميم بن مره (طبقات ابن سعد) په شپږم نسب باندې د رسول الله ﷺ او د ابوبکر رضي الله عنه نسب نامه په خپلو کې سره يو ځاى کيږي، د وړوکوالي نه يې د رسول الله ﷺ سره ملګرتيا وه، دواړو به شريکه تجارت کولو.

تر ټولو وړاندې يې اسلام قبول کړى دى، په هره غزا کې يې د رسول الله ﷺ ملګرتيا کړې ده، کله هم د رسول الله ﷺ نه جدا شوى نه دى، نه د اسلام نه مخکې او نه د اسلام نه وروسته، د نبي کريم ﷺ د وفات نه وروسته په يوولسمه هجري کې بالاتفاق د مسلمانانو امير او خليفه جوړ شو، د خلافت زمانه يې دوه کاله او څلور مياشتې وه، ځانګړي کارنامې يې دا دي: د قرآن کريم متفرق اجزاء يې په يو کتابي شکل کې جمع کړل، ددې نه مخکې قرآن کريم په يو کتابي شکل کې چا نه وو جمع کړى، د مرتدينو په خلاف يې جهاد وکړو، د اسلام په خلاف چې څومره غلطې خبرې افشاء کېدې او چې چا کولې، هغوى به يې په توره سمول، په کوم ترتيب او شکل چې نبي کريم ﷺ دين پرېښودلى وو، په هغه شکل او صورت يې مرتب کړو.

وفات: هغه ته سخته تبه ولګېده، پوره پنځلس ورځې يې په تبه کې تيرې کړې، بيا يې د دوشنبې په ورځ ختم وکړو، د چارشنبې په شپه د درې شپيته کالو په عمر کې په ديارلسمه هجرى کې د جمادى الاولى مياشتې په آخري ورځو کې ددې فاني دنيا څخه رخصت شو، د شپې يې تجهيز او تکفين وشو او مېرمنې يې اسماء بنت عميس رضي الله عنها ورته غسل ورکړو او عمر فاروق رضي الله عنه پرې د جنازې لمونځ وکړو او د نبي کريم ﷺ په څنګ کې دفن کړى شو.

مرويات: د مروياتو شمېر يې تر يو سل دوه څلوېښتو پورې رسيږي، په شپږو باندې بخاري رحمه الله او مسلم رحمه الله متفق عليه دي، په يوولسو کې بخاري او په يو روايت کې مسلم منفرد دى.

د کور نه د وتلو پر مهال دعاء

"التاسع: عن أم المؤمنين أم سلمة واسمها هند بنت أبي أمية حذيفة المخزومية رضي الله عنها" د ام المؤمنين ام سلمه رضي الله عنها د هغې نوم: هند بنت ابي امية حذيفة المخزومية وه، څخه روايت دى، فرمايي چې: "أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ إِذَا خَرَجَ مِنْ بَيْتِهِ" نبي اکرم ﷺ به چې کله له کوره بهر وتلو، "قَالَ: بِسْمِ اللهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ" دا دعاء به يې ويله: شروع کوم په نوم د الله ﷻ او په الله ﷻ باندې توکل کوم. "اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَضِلَّ أَوْ أُضَلَّ" اې الله ﷻ! پناه غواړم په تا سره چې زه خپله ګمراه شم او يا مې څوک ګمراه کړي، "أَوْ أَزِلَّ أَوْ أُزَلَّ" يا زه خپله خطا شم يا

مې څوك خطا كړي، "أَوْأَظْلِمَ أَوْأُظْلَمَ" يا زه په چا ظالم شم او يا بل څوك په ما ظالم شي، "أَوْأَجْهَلَ أَوْيُجْهَلَ عَلَيَّ"
يا چې كوم كار په خپله د ناپوهي له امله وكړم او يا دا چې د كوم كس له وجې د نګوهي كار وكړم.
"حديث صحيح، رواه أبوداود والترمذي وغيرهما بأسانيد صحيحة. قَالَ الترمذي: ((حديث حسن صحيح)) وهذا لفظ أبي داود" دا حديث صحيح دی، امام ابوداؤد او امام ترمذي وغيره په صحيح سندونو سره روايت كړي دي او ترمذي ويلي دي: چې دا حديث حسن صحيح دی او دا الفاظ د ابو داود دي.

لغوي تحقيق:

ازل: "زل زلاً" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: ښويدل، اصل معنی يې ده: په دين كې ښويدل.

أجهل: "جهل جهلاً" باب سمع يسمع، ددې معنی ده: ناپوهي، كه په صله كې يې (على) راشي نو بيا د جهالت د ظاهرولو لپاره راځي.

د كورنه د وتلو دعاء:

تشريح: بسم الله الخ: دا دعاء په نبي كريم ﷺ هم ويل، كله چې به له كوره بهر وتلو، مونږ ته هم پكار ده چې ددې دعاء ويلو اهتمام وساتو، څوك چې دا دعاء وايي، نو ان شاء الله چې د ډېرو ناكاميو څخه به بچ شي او د آخرت له نقصانه به يې هم الله ﷻ بچ كړي، ددې دعاء د الفاظو مختصر وضاحت دا دی:

(۱) "ازل أوأزل": ددې نه مراد ګناه ده، يعني اې الله! چې زه خپله هم ګناه ونه كړم او نه داسې وشي چې بل كس زما د ګناه باعث جوړ شي او په ما باندې ګناه وكړي.

(۲) "أن أضل": چې زه ګمراه شم، ددې مطلب دا دی چې اې الله! زه دعاء كوم چې په ما باندې هغه كارونه پټ نه شي د كومو لپاره چې زه وځم او د كوم مقصد لپاره چې زه له كوره وځم.

(۳) "أظلم أوأظلم": ددې معنی دا ده چې نه زه په چا ظالم شم او نه بل څوك په ما باندې ظالم شي، خكه چې ظلم د قيامت په ورځ سخته سزا لري، په يو حديث كې راځي چې: "الظلم ظلمات يوم القيامة" د قيامت په ورځ به ظلم د تيارو په شكل كې وي.

(۴) "أجهل أويجهل علي" نه زه په چا جهالت وكړم او نه بل څوك په ما جاهل شي، ددې جهالت څخه ايذاء او تكليف مراد دی، يعني نه زه بل چاته تكليف ورسوم او نه بل څوك ماته تكليف راكړي.

د راويه ام المؤمنين ام سلمه رضي الله عنها مختصر حالات:

اصل نوم يې هند رضي الله عنها ؤ، ام سلمه يې كنيت دی، د قريشو د بني مخزوم قبيلې سره تعلق لري، سلسله نسب يې دا دی: هند بنت ابي اميه سهيل بن مغيرة بن عبدالله بن عمر بن مخزوم، د پلار نوم يې ابو اميه وو چې ډېر زيات سخي انسان وو، ددې لومړی نكاح د عبد الله بن عبد الاسد سره شوې وه چې د ابو سلمه په نوم مشهور وو، دا د ام سلمه رضي الله عنها د تره زوی او د نبي كريم ﷺ رضاعي ورور وو، د نبوت په اولنيو ورځو كې د خپل خاوند سره يو ځای مسلمانه شوې وه، حبشې ته يې هم هجرت كړی دی، د احد

په غزا کې يې خاوند لږ زخمي شوی ؤ، په جمادی الثاني څلورمه هجري کې د دغه زخم له وجې وفات شو. (زرقاني ۳ – ۲۷۳)

نبي کريم ﷺ هغې ته تسلي او د صبر تلقين ورکولو، د خپل خاوند لپاره يې د مغفرت تلقين وکړو او دا يې هم ورته وفرمايل: داسې دعاء کوه: اې الله! ددې نه غوره او ښه جانشين ماته راکړې، وروسته ابوبکر ﷺ د نکاح پيغام واستولو چې هغې ﷺ رد کړو، کله چې عمر ﷺ د نبي کريم ﷺ له طرفه د نکاح پيغام ولېږلو، نو ام سلمه ﷺ وفرمايل: په ما کې څو خبرې دي: اول دا چې زه ډېره پتمنه يم، دويم دا چې زما بچيان زيات دي او دريم دا چې زما عمر هم زيات دی، نبي کريم ﷺ دا ټولې خبرې قبولي کړې او نکاح يې د شوال په مياشت کې څلورمه هجري کې وشوه.

نبي کريم ﷺ به د هغې سره ډېره مينه کول، هغې به د نبي کريم ﷺ د آرام خيال ساتلو، په خيبر غزواتو کې به هغې د نبي کريم ﷺ سره شرکت کولو، په يوولسمه هجري کې چې کله نبي کريم ﷺ ناروغ شو، يوه ورځ سخته تبه پرې راغله، هغې دا حالت وليد، نو چيغه يې کړه، نبي کريم ﷺ منع کړه او ورته يې وفرمايل: دا چيغې د مسلمانانو شېوه نه ده.

وفات په کوم کال (۷۳ هجري) کې چې د حره واقعه وشوه، په هغې کې دا ميرمن (ﷺ) هم وفات شوه، په دې وخت کې د هغې عمر ۸۴ کاله وو، ابوهريره ﷺ پرې جنازه وکړه، په جنت البقيع کې دفن کړې شوه.

مرويات: د مروياتو شمېر يې درې سوه اته اويا حديثونه دي، په دياړلسو کې بخاري رحمه الله او مسلم رحمه الله متفق عليه دي، په درې درې کې بخاري رحمه الله او مسلم رحمه الله منفرد دي.

د کور نه په وتلو سره په الله ﷻ توکل کوه!

"العاشر: عن أنس ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ": د انس ﷺ نه روايت دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «مَنْ قَالَ-يَعْنِي: إِذَا خَرَجَ مِنْ بَيْتِهِ» کوم کس چې دا دعاء ولولي يعنې کله چې له کوره ووځي: "بِسمِ اللهِ تَوَكَّلْتُ عَلَى اللهِ" شروع کوم په نوم د الله ﷻ او په الله ﷻ باندې توکل کوم، "وَلَاحَوْلَ" او نشته اوړېدل د ګناه نه "وَلَاقُوَّةَ" او نشته طاقت د نېکۍ کولو "إِلَّابِاللهِ" مګر صرف او صرف د يو الله ﷻ په طاقت او توفيق سره کېدی شي، "يُقَالُ لَهُ" هغه ته د هرې کلمې په ويلو سره دا الفاظ ويل کيږي: "هُدِيتَ" تاته هدايت وشو، "وَكُفِيتَ" او الله ﷻ تاته کافي شو، "وَوُقِيتَ" او ستا حفاظت وشو، "وَتَنَحّى عَنْهُ الشَّيْطَانُ" شيطان ترې منډه کړي، "رواه أبوداود والترمذي والنسائي وغيرهم. وَقَالَ التِرمذي: حديث حسن وَزَادَ أَبوداوُدَ" ابوداود، ترمذي او نسائي وغيره روايت کړی دی او ترمذي ويلي دي چې دا حديث حسن او امام ابوداود زياتي کړې ده، دا خبره: "فيقول-يعني: الشيطان لِشيطان آخر" چې يو شيطان بل شيطان ته وايي: "كَيْفَ لَكَ بِرَجُلٍ قَدْ هُدِيَ وَكُفِيَ وَوُقِيَ؟" څنګه به کامياب شې په هغه کس چې هدايت هم ورته شوی وي او الله ﷻ ورته کافي هم وي او د هغه حفاظت هم شوی وي.

لغوي تحقيق:

وقيت: "وقى وقاية" باب ضرب يضرب، ددې معنى ده: حفاظت كول.

د كور نه د وتلو دعاء وضاحت:

په يو بل روايت كې ددې نه لږ زيات وضاحت راغلى دى، د هغې په آخر كې دا الفاظ دي: "فتنحى له الشيطان ويقول شيطان آخر كيف لك برجل قد هدي وكفي ووقي" ددې نه وروسته شيطان د هغه څخه منډه كړي، دويم شيطان اولني شيطان ته ووايي: چې اوس به ته په دې باندې څنګه قابو ومومې چې چاته نيغه لار وښودل شوه او د نورو څخه الله ﷻ مستغني كړو او د ټولو بديو څخه الله ﷻ وساتلو.

ددې دعاء ويل مستحب دي، خو د شريعت په مستحبو عملونو كې هم څومره حفاظت پروت دى، ددې څخه معلوميږي چې په فرضو، واجبو او سنتو كې به څومره حفاظت وي، دا دعاء چې څوك وايي هغه په الله ﷻ باندې توكل او يقين وساتلو او د "لاحول ولاقوة" په ويلو سره بې ځان عاجز وګڼلو، په دې باندې د الله ﷻ له طرفه هغه ته دا انعام ملاو شو، مطلب دا چې هدايت د الله ﷻ نوم يادولو ته وايي، په دې باندې بايد خاص اعتماد او يقين وساتي، خپل ټول كارونه خاص هغه كريم ذات ته وسپاري، لكه په فارسي كې يو شعر دى:

كار خود را بخدا بار گزار كس نمى بينم ازين بهتر كار

د خدمت بركت

"وعن أنس ﷺ قَالَ: كَانَ أَخَوانِ عَلَى عَهدِ النَّبيِّ ﷺ" د انس ﷺ نه روايت دى، هغه فرمايي چې د رسول الله ﷺ په زمانه كې دوه ورونه وو، "وَكَانَ أَحَدُهُمَا يَأتِي النَّبيَّ ﷺ وَالآخَرُ يَحتَرِفُ" په دوى دواړو كې به يو ورور د نبي اكرم ﷺ مجلس ته حاضريدو او بل كس به كسب او كاروبار كولو، "فَشَكَا المُحْتَرِفُ أَخَاهُ للنبي ﷺ فَقَالَ" نو كار كوونكي ورور نبي اكرم ﷺ ته د خپل ورور شكايت وكړو چې كار روزګار نه كوي، همې ناست دى، تياره بې خوري؛ نو نبي اكرم ﷺ ورته وفرمايل چې: "لَعَلَّكَ تُرزَقُ بِهِ" كېدى شي چې الله ﷻ تاته ددې ورور په وجه رزق دركوي، "رواه الترمذي بإسناد صحيح عَلَى شرط مسلم" دا حديث ترمذي رحمه الله په صحيح سند سره روايت كړى او د مسلم په شرط سره صحيح دى، "يحترف: يكتسب ويتسبب" د يحترف معنى ده: كسب كوونكى.

لغوي تحقيق:

لعل: دا حرف د حروف مشبه بالفعل څخه دى، اسم ته نصب وركوي او خبر ته رفع وركوي، د اميد معنى وركوي، د خوف او ويرې لپاره هم راځي، كله كله يې د اول نه لام حذف وي او عل پاتې شي، د لام په ځاى ما كافة راوړل كيږي، لكه "لعلما" ددې معنى: (كېدى شي او شايد) جوړيږي، كله چې دا لفظ د الله ﷻ له طرفه وي؛ نو ددې معنى په وجوب سره كيږي.

د غير ظاهري اسبابو له وجې هم الله ﷻ بنده ته رزق ورکوي:

تشريح "كان أخوان" دوه وروڼه وو، ددې وروڼو د نومونو په باره کې محدثين چوپ دي

"فشكاء المحترف" يو ورور د بل ورور څخه شکايت وکړو، هغه وويل: زما ورور کار نه کوي، نبي کريم ﷺ يې دغه شکايت واورېدو، د هغه د بد ګماني لرې کولو لپاره يې دوه خبرې وکړې. اول دا چې د دين خدمت د غټانو کار دی، دوی ته د کار څخه د پټېدو پېغور ورکول پکار نه دي، څکه چې د دين علم حاصلول او بيا يې نورو خلکو ته رسول په امت باندې ډېره اهمه فريضه په غاړه ده، نو څکه داسې خلکو ته څه مه وايئ، کنه نو ګناهګار به شئ.

بل يې دا وفرمايل چې: "لعلك ترزق" کېدی شي چې د هغه کس له وجې الله ﷻ تا ته رزق درکوي، ددې نه معلومه شوه چې انسان دا فکر کوي چې زما په محنت او مزدورۍ سره ما ته رزق ملاوېږي شو، حالانکې حقيقت ددې مخالف دی، ممکنه ده چې ددې رزق ذريعه بل څوک وي، بالخصوص داسې خلك چې کمزوري او ضعيفان ګڼل کيږي، الله ﷻ په هغوی باندې رحم وکړي؛ نو د دوی په ذريعه الله ﷻ نورو ته هم رزق ورکوي، څکه چې ته د رزق لپاره کوم کسب کوې په نورو يې احسانونه مه اړوه، چې ګټم يې زه او خوړئ به يې تاسو!؟.

باب في الإستقامة

اتم باب: داستقامت بيان

"قَالَ اللّٰهُ تَعَالَىٰ" او الله ﷻ فرمايي چې: ﴿فَاسْتَقِمْ كَمَآ أُمِرْتَ﴾ [هود: ۱۱۲] او قائم اوسېږه اې پېغمبره ﷺ! لکه څنګه چې تاسو ته امر کيږي.

تشريح: (استقامت) يو وړوکی لفظ دی، خو مفهوم يې وسيع دی، استقامت سيده والي ته وايي، داسې چې بالکل په هغې کې کوږوالی نه وي، ظاهره خبره ده چې داسې درېدل آسان نه دي، مثلاً انجينر چې يو شي سيده کوي، هر طرفته يې زاويه قائمه وي، هيڅ طرفته يې ميلان نه وي او په هر حال کې هغه سيده وي، داسې کول که ناممکن نه دي؛ خو آسان هم نه دي، ددې آيت مطلب دا دی چې انسان بايد په خپلو عقائدو، عباداتو، معاملاتو، اخلاقو او د شريعت په ټولو بابونو کې قائم ودرېږي او ددې بابونو په ښودل شويو حدودو کې سيده لاړ شي، په هغه باب کې چې هيڅ طرفته پکې غلط طرفته ميلان نه وي، نه څه کمی پکې وي او نه څه زياتی پکې وي، که څه کمی زياتی پکې پيدا شي؛ نو بيا استقامت پاتې نه شو، په دې وجه ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې: د نبوت په دور کې ددې آيت نه سخت بل کوم آيت نه دی نازل شوی، په دې وجه يو ځل رسول الله ﷺ وفرمايل: سورة هود زه بوډا کړم، ددې نه پوره سورة مراد نه دی، بلکې صرف هم دغه يو آيت ترې مراد دی. يو ځل سفيان بن عبدالله الثقفي رضي الله عنه نبي کريم ﷺ ته عرض وکړ چې ما ته د اسلام په باره کې يوه داسې جامع خبره بيان کړئ چې ما ته بيا د نورو پوښتنو ضرورت پېښ نه شي، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: "قل امنتُ بالله ثم استقم" يعني په الله ﷻ باندې مې ايمان راوړی دی او بيا په دې باندې قائم اوسېږه!

د استقامت بدله جنت دی:

"وَقَالَ تَعَالَى" او الله ﷻ فرمايي چې: ﴿إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا﴾ "بې شکه هغه کسان چې وايي زمونږ رب الله ﷻ دی او بيا په دې خبره باندې ثابت قدم پاتې شي، "تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ" نو نازلېږي به شي په دوی باندې پرښتې، "أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا" پرښتې به ورته وايي: مه خفه کېږئ او مه غمجن کېږئ، "وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ" او زيری واخلئ په هغه جنت سره چې ستاسو سره يې وعده شوې ده، "نَحْنُ أَوْلِيَاؤُكُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ" مونږ د دنيا په ژوند کې هم ستاسو ملګري يو او د آخرت په ژوند کې هم، "وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَشْتَهِي أَنْفُسُكُمْ" او ستاسو لپاره په دې جنت کې شته هر هغه څه چې ستاسو نفسونه يې غواړي، "وَلَكُمْ فِيهَا مَا تَدَّعُونَ" او ستاسو لپاره په دې جنت کې شته هر هغه څه چې تاسو يې غواړئ، "نُزُلًا مِنْ غَفُورٍ رَحِيمٍ" [فصلت: ۳۰-۳۲]. دا به د رب له لورې ملمستيا وي کوم چې بخښش کوونکی او رحم کوونکی ذات دی.

استقامت څه شی دی؟

تشريح: کومو خلکو چې استقامت حاصل کړو، نو دوی ته د جنت خوشخبري واوروئ! د ابوبکر صديق رضي الله عنه نه د استقامت په باره کې پوښتنه وشوه، هغه وفرمايل: استقامت دا دی چې ته د الله ﷻ سره شريك جوړ نه کړې، عمر رضي الله عنه د استقامت په باره کې وفرمايل چې: "الاستقامة أن تستقيم على الأمر والنهي ولا تروغ روغان الثعالب" استقامت دا دی چې ته د الله ﷻ په ټولو حکمونو باندې پابند شې، د نواهيو څخه ځان وساتې او د الله ﷻ د حکمونو څخه داسې ونه تښتې لکه څنګه چې ګيدړه ځان ته د تيښتې لاره ګوري.

عثمان بن عفان رضي الله عنه فرمايي چې استقامت په عمل کې اخلاص ته وايي، علي، ابن عباس، حسن بصري، قتاده رحمه الله وغيره فرمايي: د استقامت نه مراد د الله ﷻ اطاعت او فرض پوره کول دي، مجاهد او عکرمه رَحِمَهُمَا اللهُ فرمايي: استقامت دې ته ويلی شي چې تر مرګه پورې د توحيد په کلمه کلك قائم ولاړ وي، د مقاتل رحمه الله په نزد استقامت په معرفت باندې قائم درېدلو ته ويلی شي.

"تتنزل عليهم الملائكة" زيری به کله وي؟ ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي: د پرښتو نزول به د مرګ د غرغرې په وخت وي، قتادة رضي الله عنه فرمايي چې د قبرونو څخه د راپاڅېدو په وخت کې به د پرښتو نزول وي، وکيع بن جراح رحمه الله فرمايي چې د مرګ په وخت، د قبر نه د پورته کېدو په وخت او د حشر په وخت درې وارو وختونو کې به نزول د پرښتو وي، د ابو نعيم رحمه الله نه ثابت بناني نقل کړي دي چې هغه: "حم السجدة" آيت تلاوت کړو او کله چې دې ځای ته ورسېدو، "تتنزل عليهم الملائكة" نو وې فرمايل چې ماته حديث رارسېدلی دی چې مسلمان کله د قبر نه راپاڅي؛ نو دوه هغه پرښتې چې په دنيا کې ورسره ملګري وي، هغه به ورته وايي: غم مه کوه او د جنت زيری به ورته واوروي! "ولكم فيها ما تشتهي انفسكم" د دې نه معلومېږي چې په جنت کې د ېر هغه نعمتونه دي چې انسان يې طمع او ارمان لري، هغه به غواړي چې ماته دا نعمت حاصل شي، داسې نعمتونه به هم ورته ملاوېږي، "نزلا من غفور رحيم" د دې نه معلومه شوه چې په جنت کې به ډېر داسې نعمتونه وي چې بغير د خواهش نه به ورته ملاوېږي.

استقامت والا جنتيان دي:

"وَقَالَ تَعَالَىٰ" او په بل ځاى كې الله ﷻ فرمايي چې: "إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ" بې شكه هغه كسان چې وايي: زموږ رب الله ﷻ دى، "ثُمَّ اسْتَقَامُوا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ" او بيا په دې خبره قائم پاتې شي؛ نو نه به وي په دوى باندې څه ويره او نه به غمجن وي، "أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ خَالِدِينَ فِيهَا" هم دغه كسان دي چې د جنت حقدار دي، دوى به په جنت كې هميشه وي، "جَزَاءً بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ" دا د هغو نيكو عملونو بدله ده چې دوى به په دنيا كې كول. [الأحقاف:۱۳-۱۴].

تشريحعلماء وايي چې استقامت يو مختصر لفظ دى، ليكن د اسلامي نظام ټول حدونه پكې رانغښتل شوي دي، برابره خبره ده چې فرض وي كه واجب وي، سنت وي، كه مستحب وي، حرام وي كه مكروه تحريمي وي او كه تنزيهي وي ټولو اقسامو ته شامل دى، يعني په اوامرو باندې عمل كول او د نواهي څخه ځان ساتل ټولو ته شامل دى، علامه زمخشري رحمه الله فرمايي چې: "ربنا الله" به هغه وخت صحيح وي چې انسان د زړه يقين وكړي چې په هر حال كې د الله ﷻ د تربيت لاندې يم، زما يوه ساه هم د هغه د رحمت نه بغير نه شي راختلى، نو ددې ټولو تقاضا دا ده چې انسان د الله ﷻ په عبادت باندې قائم پاتې شي او د هغه زړه او بدن دواړه د الله ﷻ د عبادت نه ذره برابر هم انحراف ونه كړي.

"اولئك أصحاب الجنة" د استقامت والا سره د جنت وعده شوې ده. هغوى په دنيا كې په استقامت سره خپل ژوند تېر كړو، د استقامت څخه د اوښتلو ډېر موانع ورته پيدا شول، خو هغه بيا هم په خپله عقيده او د الله ﷻ په وحدانيت كلك ولاړ وو، اوس به په قيامت كې هغه ته ددې بدله د جنت په صورت كې وركولى شي.

په ايمان باندې استقامت اصل كاميابي ده

"وعن أبي عمرو، وقيل: أبي عمرة سفيان بن عبد اللــه ﷺ، قَالَ: قُلْتُ" د ابي عمرو او چا ويلي دي چې د ابو عمرة سفيان بن عبدالله ﷺ نه روايت دى، هغه فرمايي چې ما پوښتنه وكړه: "يَارَسُولَ الله، قُلْ لِي فِي الإِسْلَامِ قَوْلاً" اې د الله تعالى رسوله! ماته د دين په باره كې داسې ارشاد وفرمايه، "لَا أَسْأَلُ عَنْهُ أَحَداً غَيْرَكَ" چې بيا د بل چانه ماته د پوښتنې كولو حاجت پيدا نه شي، "قَالَ: قُلْ: آمَنْتُ بِاللهِ، ثُمَّ اسْتَقِمْ" نبي كريم ﷺ وفرمايل چې داسې ووايه چې په الله ﷻ مې ايمان راوړى دى او بيا په دې خبره قائم اوسيږه؛ رواه مسلم.

ايمان راوړه وروسته استقامت اختيار كړه!

تشريح: "قل آمنت بالله ثم استقم" د استقامت بحث مخكې تېر شو، دلته مطلب دا دى چې د اسلام راوړلو نه وروسته د اسلام په اوامرو او په نواهيو باندې مستقيم ودرېږه! په فرضو، سنتو او مستحبو باندې كلك عمل كوه! يعني د ايمان نه وروسته عمل هم ضروري دى، څكه چې عمل د ايمان ثمره او تمه ده. لكه څنګه چې په كومه ونه كې ميوه نه وي هيڅ اهميت نه لري، دغه شان د عمل څخه بغير ايمان هم هيڅ اهميت نه لري، استقامت د كامل ايمان نخښه ده، د ايمان سره به عمل هم تر مرګه پورې

کولی شي، بلکې ورځ په ورځ به په دې کې اضافه کوي، په دې باره کې د قرآن کريم ارشاد دی: "إن الذين قالوا ربنا الله ثم استقاموا" هغه خلك چې وايي: زموږ رب الله ﷻ دی او بيا په دې باندې قائم پاتې شي، خلاصه دا چې استقامت دې ته وايي چې انسان په ايمان باندې کلك ولاړ وي او په دې باندې ورته مرګ هم راشي.

د راوي سفيان بن عبدالله رضي الله عنه مختصر حالات:

اصلي نوم يې سفيان رضي الله عنه دی، کنيت يې ابو عمرو يا ابو عمره دی، د پلار نوم يې عبدالله وو، د طائف مشهورې قبيلې بنو ثقيف اوسېدونکی وو، عمر رضي الله عنه عثمان بن ابي العاص رضي الله عنه معزول کړ او هغه يې عامل جوړ کړو، د هغه څخه صرف هم دا يو حديث روايت شوی دی، دغه روايت په مسلم، ترمذي، نسائي او ابن ماجه کې دی.

د الله ﷻ په رحمت سره به جنت ته داخلېږو:

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قال: قال رسول الله ﷺ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې: "قاربوا" ميانه روي اختيار کړئ، "وسددوا" او په دين مضبوط ودرېږئ، "واعلموا أنه لن ينجو أحد منكم بعمله" په دې خبره ښه ځان پوه کړئ چې په تاسو کې يو کس هم په اعمالو نه شئ خلاصېدی؟ "قالوا: ولا أنت يا رسول الله؟" صحابه کرامو وفرمايل: يا رسول الله ﷺ! تاسو هم په اعمالو نه شئ خلاصېدی؟ "قال: ولا أنا" نبي اکرم ﷺ ورته وفرمايل چې هوا زه هم په اعمالو نه شم خلاصېدی، "إلا أن يتغمدني الله برحمة منه وفضل" مګر دا چې الله ﷻ ما په خپل رحمت او فضل کې پټ کړي، رواه مسلم.

"والمقاربة: القصد الذي لا غلو فيه ولا تقصير" د المقاربة معنی ده: داسې لار اختيارول چې نه غلو (زياتي) پکې وي او نه کموالی وي، "والسداد: الاستقامة والإصابة" او سداد معنی ده: استقامة يعنې په يوه خبره باندې قائم اوسېدل او په سمه لار مزل کول، "ويتغمدني: يلبسني ويسترني" د "تغمد" معنی ده: استتار، په يو شي کې پټېدل. "قال العلماء: معنى الاستقامة لزوم طاعة الله تعالى" علماوو فرمايلي دي چې د استقامت معنی دا ده: په ځان باندې د الله ﷻ اطاعت او تابعداري لازمه کړي، "قالوا: وهي من جوامع الكلم" علماء فرمايي چې دا حديث د جوامع الکلم څخه دی، "وهي نظام الأمور" دا ټول د ژوند تهرولو اصول دي، "وبالله التوفيق" او د الله ﷻ نه به مدد غواړو.

لغوي تحقيق:

يتغمدني: "غمده وتغمده" د دې معنی ده: پټول، "تغمده الله برحمته" الله ﷻ هغه په خپل رحمت کې پټ کړو.

انسان د الله ﷻ په رحمت سره جنت ته داخلېدی شي:

تشريح: "إنه لن ينجو أحد منكم بعمله" په تاسو کې يو کس ته به هم د عمل په ذريعه نجات حاصل نه شي، د اهل سنت والجماعت مسلك دا دی چې يو سړی به هم د عمل په ذريعه جنت ته داخل نه شي، کوم

کس چې هم جنت ته داخلیږي هغه به خاص د الله ﷻ په رحمت داخلیږي، دا حدیث د اهل سنت والجماعت د مذهب دلیل دی چې د عملونو په وجه انسان د جنت مستحق نه شي جوړېدی، جنت ته داخلېدل صرف او صرف د الله ﷻ په رحمت سره کېدلی شي.

سوال: په قرآن کریم کې ارشاد دی چې: "**ادخلوا الجنة بما کنتم تعملون**" د قیامت په ورځ به وویل شي چې جنت ته داخل شئ د هغو عملونو په وجه چې تاسو کړي دي، ددې آیت څخه خو معلومیږي چې انسان به د خپلو عملونو په وجه جنت ته داخلیږي؟

ځواب: محدثینو ددې سوال ځوابونه ورکړي دي: په هغې کې یو څو دلته ذکر کوو: یو ځواب دا دی چې عمل جنت ته د داخلېدو ذریعه جوړیږي، خو ددې نه مخکې ایمان راوړل، هدایت نصیب کېدل، اخلاص وغیره دا ټول د الله ﷻ په رحم سره کېدی شي، لکه څنګه چې جنت ته داخلېدل هم ددې خاص رحم په وجه کېدی شي، که ددې نه مخکې دا احسان درسره نه وي شوی؛ نو ددې ټولو شیانو یعني: عمل توفیق به له کومه ځایه حاصل وای؟ او بل ځواب دا دی چې جنت ته داخلېدل به صرف او صرف د الله ﷻ په رحم او کرم سره کیږي. لیکن د اوچتو مقاماتو حاصلېدل به د عملونو په وجه وي

باب التفکیر في عظیم مخلوقات الله تعالی وفناء الدنیا وأهوال الآخرة وسائر أمورهما وتقصیر النفس وتهذیبها وحملها علی الاستقامة

نهم باب: په استقامت باندې د امادګۍ بیان او د الله ﷻ په مخلوق کې د غور او فکر بیان

"قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰی" الله ﷻ فرمایي چې: "إِنَّمَا أَعِظُكُم بِوَاحِدَةٍ أَن تَقُومُوا لِلَّهِ مَثْنَىٰ وَفُرَادَىٰ" زه تاسو ته نصیحت کوم په یوه خبره هغه دا چې تاسو د الله ﷻ لپاره ودرېږئ دوه دوه او یو یو ځان ځانته: "ثُمَّ تَتَفَكَّرُوا" بیا تاسو په دې باندې فکر وکړئ چې نشته ستاسو په پیغمبر ﷺ باندې پیریان [سبأ:۴۶]

تشریح: په دې آیت کې د مکې خلکو ته د الله ﷻ له طرفه د انصاف یوه خبره بیان شوې ده، هغه دا چې نورې خبرې پرېږدئ تاسو خپله په دې پیغمبر کې فکر وکړئ او د عقل نه کار واخلئ چې دا پیغمبر رښتونی دی او که نه؟ د "تقوموا" څخه مراد درېدل نه دي، بلکې دا یوه محاوره ده، مطلب یې دا دی چې ددې کار پوره اهتمام وکړئ، هسې مهمل یې مه پرېږدئ د غور او فکر طریقې دي (۱) په خلوت او ځانته والي کې فکر او سوچ کول، (۲) د خپلوانو سره مشوره کول، خو په آیت کې ارشاد دی چې دوه دوه کسان دې وي ، ډېر زیات رش به نه جوړوئ، ځکه چې خلك ډیر شي؛ نو بیا هم خبره نتیجې ته نه رسیږي، لیکن په دې ټولو خبرو کې شرط دا دی چې دا ټول کار به خالص د الله ﷻ د رضا لپاره وي او د هغه د راضي کېدو په خاطر به دا کوئ، د مخکینیو سوچونو او عقائدو څخه به ذهن خالي کړئ

صرف د حق پسې په کېږئ، نو داسې کس ته به خامخا حق ملاوېږي او هغه ته به يې عقل دا شاهدي ورکوي چې دا پېغمبر ﷺ ليونی نه دی، کاهن نه دی، ځکه چې دده ځلوېښت کاله په خپل قوم کې تېر شوي دي، خلک يې د کړنو او وېناوو څخه ښه خبر دي، بيا يو دم د توحيد کلمې دعوت، "لا إله إلا الله محمد رسول الله"ورکوي نو دا به خامخا د وحې په ذريعه وي، نه دا چې د ځان نه خبره کوي.

د الله جل جلاله په مخلوقاتو کې غور او فکر کول:

"وَقَالَ تَعَالَى"او الله جل جلاله فرمايي چې: ﴿إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ"بې شکه د آسمانونو او ځمکې په پيدايش کې، "وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ، "او په اوړېدو راوړېدو د شپې او ورځې کې، "لَآيَاتٍ لِأُولِي الْأَلْبَابِ، "په دې کې د الله جل جلاله د قدرت دلائل دي د عقلونو خاوندانو ته، "الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللَّهَ"د عقلونو خاوندان هغه کسان دي چې الله جل جلاله يادوي، "قِيَاماً وَقُعُوداً وَعَلَى جُنُوبِهِمْ"په ولاړه او په ناسته او په ډډه، "وَيَتَفَكَّرُونَ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ"دوی د اسمانونو او ځمکې په پيدايش کې سوچ کوي، "رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هَذَا بَاطِلاً سُبْحَانَكَ" او دوی وايي چې اې الله جل جلاله! تا دا باطل او بيکار نه دي پيدا کړي، يا الله جل جلاله! ته د ټولو عيبونو څخه پاک يې! الآيات[آل عمران: ١٩٠-١٩١]

شان نزول:

يو ځل عطاء بن ابي رباح رحمه الله د ام المؤمنين عايشې رضي الله عنها په خدمت کې حاضر شو او وې ويل: که تاسو د رسول الله ﷺ نه کومه ناآشنا خبره ليدلې وي او موږ ته يې بيان کړئ؟ عايشې رضي الله عنها په ژړا کې وفرمايل: د رسول الله ﷺ ټولې خبرې او کارونه نا اشنا وو، يوه عجيبه خبره يې دا ده: يوه شپه يې زموږ خواته تشريف راوړو او زما سره څملاستو، بيا يې وويل: ما پرېږده چې زه د خپل رب عبادت وکړم، هغه د بسترې نه پاڅېدو او اودس يې وکړو، هغه خپل رب ته ودرېدو او دومره يې وژړل چې اوښکې يې په سينه مبارکه راتوی شوې، بيا رکوع ته لاړو، په دې کې يې هم هغسې وژړل لکه څنګه چې يې په قيام کې ژړلي وو، بيا سجدې ته لاړو او په دې کې يې هم هغسې وژړل، لکه څنګه چې يې په رکوع کې ژړلي وو، تردې چې د سهار لمانځه ته بلال رضي الله عنه آذان وکړو او د جماعت خبر يې ورکړو، بلال رضي الله عنه وويل: يا رسول الله ﷺ! تاسو دومره زيات وژړل، حال دا چې ستاسو وړاندېني او وروستني ټول ګناهونه بخښل شوي دي، بيا ولې دومره ژاړئ؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: آيا زه د خپل رب شکر ګزار بنده جوړ نه شم؟ زه به ولې نه ژاړم، حال دا چې په دې شپه کې الله جل جلاله په ما باندې دا ايتونه نازل کړل، "إن في خلق السموات والارض الخ".

"ويتفكرون في خلق السموات والارض" د يو شي حقيقت ته ځان رسولو ته تفکر ويلی شي، ددې آيت نه معلومه شوه چې تفکر او غور کول په عبادت کې شامل دي، په دې وجه د علي رضي الله عنه نه منقول دي: "تفكر ساعة خير من قيام ليلة" يو ساعت سوچ او فکر کول د ټولې شپې د عبادت نه غوره دی، عمر بن عبد العزيز رحمه الله دې ته غوره عبادت ويلی دی، حسن بن عامر رحمه الله فرمايي: ما د ډېرو صحابه کرامو رضي الله عنهم نه اورېدلي

دي چې هغوی فرمايل: د ايمان رڼا په غور او فکر کې ده، سفيان بن عيينه رحمه الله فرمايي تفکر يو رڼا ده چې ستا په زړه کې داخله شي، بشر حافي رحمه الله فرمايي: که د الله ﷻ په عظمت او لويي کې تفکر وکړې، نو هيڅکله به ستا څخه ګناه ونه شي.

د هوښيارانو لپاره مثالونه:

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې: "أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى الْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ" ايا دوی اوښ ته نه ګوري چې څنګه پيدا کړل شوی دی، "وَإِلَى السَّمَاءِ كَيْفَ رُفِعَتْ" آسمان ته نه ګوري چې څنګه اوچت کړل شوی دی، "وَإِلَى الْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ" غرونو ته نه ګوري چې څنګه موږ د ميخ په شان مضبوط درولی دی، "وَإِلَى الْأَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ" او ځمکې ته نه ګوري چې څنګه مو غوړولې ده، "فَذَكِّرْ إِنَّمَا أَنتَ مُذَكِّرٌ" نو نصحيت ورکوه پيغمبره! بې شکه ته نصيحت کوونکی يې! [الغاشية:۱۷-۲۱]

"أفلا ينظرون إلى الإبل كيف خلقت" قتادة رحمه الله فرمايي چې کله الله ﷻ د جنتي شيانو صفتونه بيان کړل نو ګمراه او بې لاره خلکو ته په دې تعجب وشو؛ نو هغوی د دې شيانو تکذيب وکړو، په دې باندې الله ﷻ دا ايتونه نازل کړل، فرمايي چې: "أفلا ينظرون الخ" او يا دا چې کله، "سرر مرفوعة" نازل شول، نو ګمراه او بې لارې خلکو اعتراض وکړو چې په دې اوچتو تختونو به موږ څنګه کيښنو؟ په دې باندې دا آيت نازل شو. "إلى الإبل" په اوښانو کې فکر او سوچ ته اشاره ده چې په دې کې فکر وکړئ! کوم کس چې به دې کې فکر وکړي، هغه به د الله ﷻ قدرت په آسانی سره وپيژني چې څومره لوی عظيم الجثه مخلوق يې د اوښانو په شکل پيدا کړی دی. عربو به د اوښانو سره زياته مينه وه، هر غريب سړي به هم اوښ ساتلو. ويل کيږي چې اوښ څومره اوچت څاروی دی، خو بيا هم په دې باندې د سپرېدو لپاره چوکۍ يا مېز وغيره ته ضرورت نشته، الله ﷻ د هغه په دوه پښو کې دوه زنګونان اېښي دي، اوښ په دې باندې کيني او پاڅي، په دې وجه هغه باندې سپرېدل آسان شي. جنت او نعمتونه يې هم په دې باندې قياس کړه.

"والى الجبال كيف نصبت" او به يې په ځمکه رواني کړې، نو ځمکه په ښوېيدو شوه، په دې باندې د مېخونو په څېر لوی لوی غرونه ښخ کړل شوي دي، د دې لپاره چې ځمکه په قلاره شي، په دې کې به ډيرې فايدې هم اېښې دي، "والى الأرض كيف سطحت" ځمکې ته ګوره چې څنګه مو غوړولې ده، هم دغسې حالت به د جنتي بسترو هم وي، په يو حديث قدسي کې روايت دی چې الله ﷻ فرمايي: زما نه سيوا بل څوک د اوښ په شان څاروی پيدا کولی شي؟ او د آسمان په څېر اوچت بل کوم شی پيدا کولی شي او د غرونو په څېر کلک چې د مېخونو په شان دي، بل څوک يې پيدا کولی شي او څوک د ځمکې په څېر بل شی غوړولی شي؟

"فذكر إنما أنت مذكر" په دې شيانو کې غور وکړئ: نبي کريم ﷺ ته تسلي ورکول مقصود ده چې ستا سو په ذمه صرف تبليغ دی، د دوی حساب کتاب - سزا او جزا زموږ په ذمه ده.

محاسبه ضروري ده:

"وَقَالَ تَعَالَى" او الله ﷻ فرمايي چې: ﴿أَفَلَمْ يَسِيرُوا فِي الْأَرْضِ فَيَنْظُرُوا﴾ ايا دوی په ځمکه نه ګرځي چې دوی وګوري د نظر په عبارت سره، "الآية [القتال: ١٠]. والآيات في الباب كثيرة" او په دې باب کې ايتونه ډېر زيات دي "ومن الأحاديث الحديث السابق" او کوم حديثونه چې مخکې تېر شول، يو هم دا دی چې: "الكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ" هوښيار سړی هغه دی چې د خپل ځان سره محاسبه وکړي.

تشريح: علماء کرام فرمايي چې په عربو کې د ګرځېدو راګرځېدو رواج نه وو، يعني دوی به ډېر سفرونه نه کول، په دې آيت کې خاص دوی ته خطاب دی او هغه هم د استفهام انکاري په شکل کې چې آيا تاسو د عاديانو او ثموديانو قومونه نه دي ليدلي او نه مو د دوی کورونه ليدلي دي؟ هغه خو د مکې سره نژدې دي چې د دوی مضبوط کلي او کورونه څنګه الله ﷻ په خپل قهر او عذاب نيست او نابود کړل، ددې نه عبرت حاصل کړئ! هغوی خپله هم زيات مضبوط او طاقتور خلك وو او کورونه يې هم کلك جوړ کړي وو، ليکن کله چې د الله ﷻ عذاب پرې رانازل شو، نو هغوی نه خپل ځانونه بچ کړل او نه يې کورونو ورته فايده ورسول.

باب في المبادرة إلى الخيرات

وحثِّ من توجه لخير على الإقبال عليه بالجد من غير تردد

لسم باب: نېکو عملونو ته تيزي کول او هغې ته د تياري ترغيب ورکول

"قَالَ اللهُ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې: ﴿فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرَاتِ﴾ تاسو تيزي کوئ د نېکی کارونو طرفته! [البقرة: ١٤٨]

تشريح: ددې آيت مخکې الله ﷻ وفرمايل: په مخکينيو خلکو کې به مختلفې قبلې وې، هر قوم به ځان ځانته قبله درلوده، د يو او بل د قبلې تابعداري به يې نه کول، هر يو به ويل چې موږ په حقه يو، اوس په دې آيت کريمه کې الله ﷻ فرمايي چې خپله حقه قبله (خانه کعبه) ونيسئ! په دې باندې مشرکان پوهول مقصود ؤ، سره له دې چې دوی په عناد باندې کلك ولاړ وو، هيڅ فايده يې ورته نه رسول، اصل خبره دا ده چې بس تاسو د خپل دين کار کوئ او هغه د دين کار دا دی چې په نېکو عملونو کې د يو بل څخه مسابقه (مخکې والی) اختيار کړئ! ځکه چې په فضولو خبرو او مجلسونو کې خپل وخت مه ضايع کوئ او د مسابقې نه وروسته پاتې کېدل د آخرت تاوان دی، کومو خلکو چې د آخرت غم وخوړلو، هغوی کله هم په فضولو کارونو او مجلسونو کې خپل قيمتي وخت نه ضايع کوي، هغوی خو د خپل دين په کارونو کې مشغول وي.

نيک عملونه او د مسابقې بيان:

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې: "وَسَارِعُوا إِلَى مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ" او تاسو منډې وهئ خپل بخښنې او

رحمتونو ته، "وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ" او هغه جنتونو ته منډې وهئ چې پلنوالى يې د آسمانونو او خمکې په اندازه دى، "أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ" دا ټول شيان د متقيانو لپاره تيار شوي دي [آل عمران:۱۳۳]

تشريح "وسارعوا إلى مغفرة" دلته د بخښنې او مغفرت څخه د مغفرت او بخښنې اسباب مراد دي. مفسرينو ددې مختلف تعبيرونه کړي دي: مثلاً عبدالله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې ددې نه مراد دين اسلام دى، د عکرمه رحمه الله په نزد ددېنه توبه او رجوع الى الله مراد ده، د علي رضي الله عنه په نزد فرضي عبادات مراد دي، د انس رضي الله عنه په نزد ددې نه مراد تکبير اولى ده، د ضحاک رحمه الله په نزد جهاد مراد دى. ددې ټولو خبرو خلاصه دا ده چې ددې نه نېک عملونه مراد دي، هغه چې د الله جل جلاله د رضاء سبب او جنت ته د داخلېدو ذريعه جوړيږي.

"عرضها السموات والارض" دا کلام د تمثيل په توګه ذکر شوى دى، حقيقت مراد نه دى، ځکه چې عامو خلکو په نزد تر ټولو زيات وسعت او فراخوالى د آسمان او خمکې تر منځ دى، نو ځکه ددې نه تعبير وشو، ليکن حقيقت دا دى چې د جنت وسعت او فراخي ددې نه هم سېوا ده، کله چې د جنت پلنوالى دومره دى؛ نو خداى خبر چې ددې اوږدوالى به څومره وي. ځينې خلکو د عرض څخه هغه عرض نه دى مراد کړى چې د طول (اوږدوالي) په مقابله کې وي، بلکې ددې نه بې ثمن يعني قيمت مراد کړى دى، لکه امام رازي رحمه الله چې فرمايي: إن العرض ههنا ما يعرض من الثمن في مقابلة المبيع أي ثمنها لو بيعت كثمن السموات والارض والمراد بذلك عظيم مقدارها وجلالة خطرها وأنه لا يساويها شيء وإن عظم" ابو مسلم رحمه الله فرمايي چې د عرض نه دلته هغه شى مراد دى چې د مبيعې په مقابله کې د قيمت په توګه ادا کيږي، مطلب دا چې که بالفرض د جنت قيمت ولګول شي؛ نو د ټولې خمکې او آسمان په اندازه بې قدر او قيمت اندازه کولى شي، په دې کې د جنت قدر او مقام ته اشاره ده.

په نېکو عملونو کې تېزي پکار ده:

"وأما الأحاديث: فالأول" هر چې احاديث دي: نو لومړى حديث دا دى: "عن أبي هريرة رضي الله عنه: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دى، هغه فرمايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: "بَادِرُوا بِالْأَعْمَالِ فِتَنًا كَقِطَعِ اللَّيْلِ الْمُظْلِمِ" تاسو تيزي کوئ په نېکو عملونو کې، داسې وخت به دربانديې راشي چې فتنې به د شپې د تيارې په شان ښکاره شي، "يُصْبِحُ الرَّجُلُ مُؤْمِنًا وَيُمْسِي كَافِرًا" چې سهار به سړى مسلمان وي او بېګاه به کافر وي، "وَيُمْسِي مُؤْمِنًا وَيُصْبِحُ كَافِرًا" او د شپې به مسلمان وي او سهار به کافر وي، "يَبِيعُ دِينَهُ بِعَرَضٍ مِنَ الدُّنْيَا" خپل دين به په دنيا بانديې خرڅوي. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

بادروا: "بادر مبادرة" باب مفاعله، ددې معنى ده: يو شي ته په تيزۍ سره ورتلل.

قطع: "قطع قطعاً" باب فتح يفتح، ددې معنى ده: ټکړې کول، ټوټه کول، پرې کول

بعرض: "العرض" ددې معنى ده: اسباب، سامان، ددې جمع "عروض" راځي.

وېرونکي فتنې به ښکاره شي:

تشريح "بادروا بالأعمال الصالحة" په نېکو عملونو کې تيزي کوئ؛ په دې کې ترغيب دى دې خبرې ته چې انسان ته پکار ده چې د مشغول کېدو څخه وړاندې نېك عملونه وکړي. داسې نه چې معذور شي يا مشغول شي؛ نو بيا به ورته د نېکو عملونو موقع په لاس نه ورځي او خپل قيمتي وخت به يې په چټياتو او لغوياتو کې ضايع کړى وي.

"فستكون فتن كقطع الليل المظلم" نږدې ده چې د تورې شپې د تيارو په شان به فتنې رابښکاره شي. په دې کې د قيامت نږدې والي ته اشاره ده چې د قيامت سره نږدې به پرلپسې فتنې رابښکاره شي، هغه فتنې به داسې وېرونکې وي چې د انسان نه به خپل دين او ايمان هم هېر شي، بيا به د دنيا په حاصلولو کې داسې ليونى او سرګردانه ګرځي چې د دنيوي فايدو لپاره به خپل دين او ايمان هم سودا کوي او په دې کې به ذره برابر هم تاخير نه کوي. په داسې حالاتو کې رسول الله ﷺ مؤمنانو ته تلقين کوي چې په نېکو عملونو کې تاخير مه کوئ؛ بلکې په تيزى سره د نيکو عملونو حاصلولو کوشش کوئ.

په صدقه کې د نبي کريم ﷺ تيزي کول

"الثاني: عن أبي سِرْوَعَة -بكسر السين المهملة وفتحها- عُقْبَةَ بن الحارث ﷺ، قَالَ" دويم حديث د ابو سروعة په کسر د سين مهمله او په فتح سره عقبة بن الحارث ﷺ نه روايت دى، هغه فرمايي چې: "صَلَّيتُ وَرَاءَ النَّبيّ ﷺ بالمَدِينَةِ العَصْرَ" ما د مازيګر لمونځ د نبي اکرم ﷺ پسې وکړو، "فَسَلَّمَ ثُمَّ قَامَ مُسْرِعاً" هغه سلام وګرځولو او په تيزي سره ودرېدو، "فَتَخَطَّى رِقَابَ النَّاسِ إلَى بَعْضِ حُجَرِ نِسَائِهِ" د خلکو د صف په مينځ کې روان شو، "فَفَزِعَ النَّاسُ مِنْ سُرْعَتِهِ" نو خلك وو بېرېدل د نبي اکرم ﷺ د چالاکى څخه، "فَخَرَجَ عَلَيهِمْ" نبي اکرم ﷺ دوى ته راخارج شو، "فَرَأَى أنَّهُمْ قَدْ عَجِبُوا مِنْ سُرعَتهِ" نبي اکرم ﷺ د چالاکى څخه د دوى تعجب محسوس کړو، "قَالَ: ((ذَكَرْتُ شَيئاً مِنْ تِبرٍ عِندَنَا" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: ماته د سرو زرو څه شى رایاد شو چې زما سره په کورکې وو، "فَكَرِهْتُ أنْ يَحْبِسَنِي فَأمَرْتُ بِقِسْمَتِهِ" ما بد وګڼل چې د هغې په وجه زه را ايسار شم، نو ما د تقسيمولو حکم وکړو. رواه البخاري.

"وفي رواية لَهُ: كُنتُ خَلَّفْتُ فِي البَيْتِ تِبراً مِنَ الصَّدَقَةِ" په يو بل روايت کې دي: زمانه په کور کې د سرو زرو يوه ټوټه پاتې شوه چې د صدقې برخه وه، "فَكَرِهْتُ أنْ أُبَيِّتَهُ" ما دا بد وګڼل چې زما سره دې د سرو زرو ټوټه شپه تېره کړي. "التِّبْرُ: قِطَعُ ذَهَبٍ أَوْ فِضَّةٍ" امام نووي رحمه الله فرمايي چې تبر د سرو زرو يا سپينو زرو ټوټې ته وايي.

لغوي تحقيق:

وراء: وراء الانسان، ددې معنى ده: مخکې يا وروسته، مذکر او مؤنث دواړه استعماليږي، کله کله ددې معنى په (سبوا) سره هم کيږي، لکه ويل کيږي: "فمن ابتغاء وراء ذلك" کوم کس چې ددې نه سبوا بل شى غواړي.

تخطى: "تخطي تخطياً" ددې معنې ده: د وړاندې تېرېدل، مخکې والی کول.

رقاب: دا جمع د "الرقبة" ده، ددې معنی ده: څټ/ يا ورروسته طرف

فزع: "فزع فزعاً" باب سمع يسمع، ددې معنی ده: وحشت/ خوف او وېره کول

سرعته: "سرع سرعة" باب سمع يسمع، ددې معنی تيزي کول.

تبراً: "التبر" ددې معنې ده: د سرو زرو توټه.

د ضرورت په وخت د خلکو په څټونو تېرېدل جائز دي:

تشريح: "فتخطى رقاب الناس إلى بعض حجر نسائه" نبي کريم ﷺ د صحابه کرامو ﷺ د څټونو دپاسه تېر شو او د څينو امهات المومنين ﷺ حجرې ته يې تشريف يوړو، علماوو ليکلي دي چې په عام حالاتو کې د خلکو په څټونو پښې اړول جائز نه دي، دا يو ناخوښه عمل دی، ليکن د ضرورت په وخت داسې کولی شي، ددې حديث څخه دا هم معلومه شوه چې د ضرورت په وخت سلام اړولو سره سمدستي پاڅېدی شي.

"ففزع الناس من سرعته" خلکو چې دا وکتل نو سختي وېرې واخيستل، ددې نه معلومه شوه چې عموماً رسول الله ﷺ به په سکون سره خپل کور ته تشريف وړلو، په دې ورځ ډېر تيز خپل کور ته لاړ، معلومه شوه چې د ضرورت پر مهال تېز مزل کول جائز دي، ابن عربي رحمه الله فرمايي چې په اعتدال سره مزل سنت دی او ډېر په تيزی سره تلل يا د حد څخه زيات په مزه/ قلاره تلل ښه کار نه دی.

د راوي عقبه بن حارث رضي الله عنه مختصر حالات:

اصل نوم يې عقبه دی، کنيت يې ابو سروعه دی، د پلار نوم يې حارث دی، سلسله نسب يې داسې دی: عقبة بن حارث بن عامر بن نوفل بن عبد مناف بن قصي قرشي (النوفلي) دی، علامه نووي رحمه الله د دوی کنيت ابو سروعة ښودلی دی، ليکن څينې نور اسماء الرجال والا علماء فرمايي چې ابو سروعه يې د ورور نوم ؤ، د مکې د فتحې په ورځ مسلمان شوی دی، د عقبه بن حارث ﷺ نه په بخاري شريف کې درې حديثونه نقل شوي دي.

جنت ته د داخلېدو شوق نور هم زيات کړئ!

"الثالث: عن جابر ﷺ، قَالَ: قَالَ رجل للنبي ﷺ يَوْمَ أُحُدٍ" د جابر ﷺ نه روايت دی، هغه فرمايي چې يو کس رسول الله ﷺ ته وفرمايل: د احد په جنګ کې: "أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فَأَيْنَ أَنَا؟" اې پيغمبر ﷺ! خبر راکړئ که چېرته زه شهيد شوم؛ نو چېرته به يم؟ "قَالَ: فِي الجَنَّةِ" نبي اکرم ﷺ ورته وفرمايل: په جنت کې به يې، "فَأَلْقَى تَمَرَاتٍ كُنَّ فِي يَدِهِ" نو د هغه په لاس کې چې کومه خورما وه، هغه يې وغورځول، "ثُمَّ قَاتَلَ حَتَّى قُتِلَ" بيا وجنګېدو تر دې پورې چې شهيد شو. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

"أين؟": اين اسم ظرف دی، ددې معنی ده: چېرته؟ لکه ويل کيږي، چې: اين يوسف؟ يوسف

چېرته دې او کله چې د شرط معنی لره متضمن شي؛ نو بيا دوه فعلونو ته جزم ورکوي، برابره خبره ده چې لفظ د (ما) ورسره ملحق وي او که نه وي، لکه: "أين ياأينما تتقف أقف" ته چې چېرته د رېږې هلته به زه هم د رېږم

لغوي تحقيق: تمرات: خورما.

صحابه کرامو ﷺ ته د جنت شوق:

تشريح قال رجل للنبي ﷺ يوم أحد" د رجل نه عمرو بن حمام بن جمدح بن حرام انصاري ﷺ مراد دی، "فأين أنا؟" که زه په دې جهاد کې شهيد شوم نو چېرته به يم؟ "قال في الجنة" وې فرمايل چې په جنت کې به يې، ددې نه معلومه شوه چې صحابه کرامو ﷺ ته د جنت او شهادت خومره شوق وو، "قاتل حتى قتل" هغه وجنګېدو تردې پورې چې شهيد شو، ددې نه معلومه شوه چې کوم کس په رښتوني زړه سره د شهادت مرګ ارمان وکړي، الله ﷻ هغه ته خامخا د شهادت مرګ نصيب کيږي.

په کومه صدقه کې زيات ثواب دی؟

"الرابع: عن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: جاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ ﷺ فَقَالَ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی، هغه فرمايي چې يو کس رسول الله ﷺ ته راغلو او وې فرمايل چې "يَا رسولَ الله! أَيُّ الصَّدَقَةِ أَعْظَمُ أَجْرًا؟" کومه صدقه زيات اجر لري؟ "قَالَ: أَنْ تَصَدَّقَ وَأَنتَ صَحِيحٌ شَحِيحٌ" نبي اکرم ﷺ ورته وفرمايل چې ته په داسې حالت کې صدقه ورکړې چې بدن دې صحيح وي، ناروغ نه يې، د مال جمع کولو حرص درسره وي، "تَخْشَى الفَقْرَ وَتَأْمُلُ الغِنَى" د فقيرۍ نه په وېره کې يې او د مالدارۍ طمع لرې، "وَلاَ تُمْهِلْ" نو د خير په کارونو کې سستي مه کوه، "حَتَّى إِذَا بَلَغَتِ الحُلْقُومَ قُلْتَ لِفُلانٍ كَذَا وَلِفُلانٍ كَذَا" تر دې چې مرګ ته ورسيږې، بيا په دې حالت کې ته دا خبره کوې چې دومره مال د فلانکي لپاره او دومره مال د فلانکي لپاره دی، "وَقَدْ كَانَ لِفُلانٍ" او حال دا چې هغه مال هسې هم د فلانکي لپاره په ميراث کې پاتې کيږي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

"الحُلْقُومُ: مَجْرَى النَّفَسِ" حلقوم د ساه مرۍ ته وايي، "وَالمَرِيءُ: مجرى الطعامِ والشرابِ" او مرۍ وايي د اوبو او د ډوډۍ خوراك تېرولو ځای ته.

لغوي تحقيق:

شحيح: ددې معنی ده: بخيل، حريص، ددې جمع "شحاح" راځي

الحلقوم: مرۍ ته وايي، ددې جمع "حلاقيم" راځي

د کومې صدقې زيات ثواب دی؟

تشريح: "جاء رجل" يو کس راغلو دا سړی څوك وو؟ دې باره کې عام محدثين خاموش دي، خو ابن حجر رحمه الله فرمايي چې کېدی شي دا ابو ذر غفاري ﷺ وي، "أي الصدقة اعظم اجرا" کومه صدقه زيات اجر لري؟ په يو بل روايت کې دي "أي الصدقة افضل؟ قال: أن تصدق وأنت صحيح شحيح تخشى الفقر" چې

انسان روغ صحت ولري، په داسې حالت کې لږه او معمولي صدقه ورکړي دا غوره ده. ځکه چې ژوندی صدقه ورکوي؛ نو په دې وجه يې ورکوي چې دده په الله ﷻ پوره اعتماد او يقين دی، هغه نه پوهيږي چې کېدی شي دې مال ته بېرته سبا زما ضرورت پيښ شي، ليکن ددې باوجود بيا هم صدقه ورکوي.

"ولاتمهل حتى إذا بلغت الحلقوم قلت لفلان كذا ولفلان كذا" تردې حده پورې سستي مه کوئ چې ستاروح تر مرۍ پورې راورسيږي او بيا چيغې وهئ: چې فلانکي ته دومره ورکړئ او فلانکي ته دومره ورکړئ، په دې کې ترغيب دی چې تر مرګه پورې سستي مه کوئ، کله چې درته خيال راشي بس صدقه ورکوه! په يو بل روايت کې دي چې: "لان يتصدق المرء في حياته بدرهم خيرله من أن يتصدق بمائة عند موته" په روغ صحت يو درهم صدقه کول د مرګ په وخت کې د سلو درهمو څخه زيات ثواب لري. په يو بل روايت کې دي: "مثل الذي يتصدق عند موته أو يعتق كالذي يهدي إذا شبع" د هغه سړي مثال چې د مرګ په وخت کې مال صدقه کوي يا غلام آزادوي، داسې دی که څېله چې موړ شي او بيا صدقه يا تحفه ورکوي، بله خبره دا چې د مرګ په وخت کې د وارثانو حق ثابتيږي، بلکې که هغه په دې وخت کې صدقه کول هم وغواړي؛ نو صرف د دريمې برخې صدقه به کوي.

د ابودجانه رضي الله عنه بهادري

"الخامس: عن أنس رضي الله عنه: أَنَّ رسول الله ﷺ أخذ سيفاً يَومَ أُحُدٍ، فَقَالَ" د انس رضي الله عنه نه روايت دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ د احد په جنګ کې توره راواخيسته او وې فرمايل چې: "مَنْ يَأْخُذُ مِنِّي هَذَا؟" دا توره به زما څخه څوک واخلي؟ "فَبَسَطُوا أَيدِيَهُمْ كُلُّ إِنسَانٍ مِنهُمْ يَقُولُ: أَنَا أَنَا" هر سړي خپل خپل لاسونه ددې لپاره راوړاندې کړل چې توره راواخلي او ويل به يې چې زه يې اخلم، زه يې اخلم. "قَالَ: فَمَنْ يَأْخُذُهُ بِحَقِّهِ؟"، بيا رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک به يې رانه په حق سره واخلي؟ (يعنې ددې حق به ادا کړي؟) "فَأَحْجَمَ القَومُ فَقَالَ أَبُودُجَانَةَ رضي الله عنه: أَنَا آخُذُهُ بِحَقِّهِ" په دې خبرې سره ټول قوم غلي شول، ابو دجانه رضي الله عنه وفرمايل چې زه به يې حق ادا کړم، "فأخذه ففلق به هَامَ المُشرِكِينَ" نو هغه توره واخسته او د مشرکانو سرونه يې پرې مات کړل. رواه مسلم.

"إسم أبي دجانة: سماك بن خَرَشَة" خپل نوم يې سماك بن خرشه رضي الله عنه دی، دا قول چې: "أَحْجَمَ القَومُ: أي توقفوا" د احجم القوم معنی ده: ټول قوم توقف وکړو يعني غلي شول، "وَفَلَقَ بِهِ: أي شق" د فلق معنی: ماتول، شلول، "هَامَ المُشرِكِينَ: أي رُؤُوسَهُم" د هام معنی ده: سرونه ماتول.

لغوي تحقيق:

فاحجم: "المحاجم" معنی ده: د ډار وېره، د وېرې له امله وروسته کېدل.

ففلق: "فلق فلقاً" باب ضرب يضرب، ددې معنی ده: څيرې کول، شکول.

هام: "الهامة" دا لفظ هراوچت ځای ته استعماليږي، خو دلته ترې د مشرکانو سرونه مراد دي

د نبي كريم ﷺ توره ابودجانه رضي الله عنه واخيستل:

تشريح: "فاحجم القوم": خلك ايسار شول/ ودرېدل، صحابه كرام د بزدلي له امله نه وو درېدلي، بلكې ددې لپاره ودرېدل چې د تورې حق به ادا نه كړى شي، په شروع كې بغير شرطه نبي كريم ﷺ اعلان كړى وو، نو هر صحابي رضي الله عنه ددې تورې راخيستلو ته تيارى وښودلو، خو كله چې شرط ولګېدو نو اوس په دې وېره چې هسې نه حق يې پوره نه كړى شو، نو ځكه صحابه كرام رضي الله عنهم وروسته شول، ابو دجانه رضي الله عنه هغه توره راواخيسته، ددې نه وروسته په ځينو روايتونو كې راغلي دي چې ابو دجانه رضي الله عنه هغه توره راواخيسته، يوه سره ټوټه يې په سر وتړل، انصارو رضي الله عنهم ووېل ابو دجانه رضي الله عنه د مرګ پټۍ په سر وتړل، ددې نه وروسته ابو دجانه رضي الله عنه ښه په مېړانه او په بهادرۍ سره وجنګېدو او دا شعرونه به يې هم له ځان سره ويل:

أنا الذي عاهدني خليلي ونحن بالسفح لدى النخيل
أقوم الدهر في الكيول أضرب بسيف الله والرسول

د نبي كريم صلى الله عليه وسلم سره نږدې زمانه بهترينه زمانه ده

"السادس: عن الزبير بن عدي، قَالَ: أتينا أنس بن مالك رضي الله عنه فشكونا إِلَيْهِ مَا نلقى مِنَ الحَجَّاجِ. فَقَالَ" د زبير بن عدي رحمه الله نه روايت دى، هغه فرمايي چې موږ انس رضي الله عنه ته د هغو ظلمونو شكايت وكړو چې د حجاج له طرفه په موږ كېدل، هغه وفرمايل: "اصْبِرُوا، فَإنَّهُ لا يَأتِي زَمَانٌ إلاَّ وَالَّذِي بَعدَهُ شَرٌّ مِنْهُ" تاسو صبر كوئ، ځكه چې په هر راتلونكي وخت كې د تېر شوي وخت نه زيات شر وي، "حَتَّى تَلْقَوا رَبَّكُمْ" تر دې پورې چې تاسو د خپل رب سره ملاقات وكړئ؛ "سَمِعْتُهُ مِنْ نَبِيِّكُمْ ﷺ" دا خبره مې ستاسو د پېغمبر څخه اورېدلې ده. رواه البخاري.

راتلونكى وخت به بدتري وي:

"لا يأتي زمان إلا والذي بعده شر منه" كوم وختونه چې وروسته راځي هغه د مخكې وخت څخه ډېر زيات خراب وي، په دې حديث كې پېشن ګوئي شوې ده چې حالات به ورځ په ورځ خرابېږي، په دې اعتبار سره به مشران هم د يو بل نه ظالمان راځي، په داسې وخت كې مشران په خپل حال پرېږدئ او د خپلې اصلاح فكر وكړئ او د خپل آخرت ښه كېدو كوشش كوئ او د صبر څخه كار واخلئ.

يو سوال او ځواب:

سوال: آيا هره وروستى زمانه به د مخكې زمانې څخه خرابه وي؟ دا خبره صحيح نه ده، ځكه چې د حجاج بن يوسف نه وروسته عمر بن عبد العزيز رحمه الله راغلى دى او د هغه څخه وروسته به د عيسى عليه السلام او مهدي زمانه راځي، دا زمانې خو به ښې وي؟

ددې سوال څو ځوابونه شوي دي، په هغې كې يې ځينې دا دي:

اولنى ځواب: دا حديث په اكثريت باندې محمول دى، يعنې اكثر به داسې كېږي چې وروسته زمانه به د مخكې زمانې څخه زياته خرابه وي

دويم خواب: دا دى چې د حجاج بن يوسف د زمانې نه تر دجال پورې زمانه مراد ده، د عيسى عليه السلام او مهدي زمانه ددې څخه مستثنى ده.

دريم خواب: راتلونكې زمانه به خرابه وي، صرف د عيسى عليه السلام زمانه ترې مستثنى ده، باقي زمانه به په يو نه يو اعتبار سره خرابه وي، يا به از روى علم او عمل خرابه وي

داوه شيانو ښكاره كېدو څخه وړاندې نيكي كوئ!

"السابع: عن أبي هريرة رضي الله عنه: أن رسول الله ﷺ قال" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دى، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې: "بادروا بالأعمال سبعاً" په ښكو كارونو كې تيزي كوئ، مخكې له دې چې اووه شيان ظاهر شي، "هل تنتظرون إلا فقراً منسياً" آيا تاسو د داسې غريبى انتظار كوئ چې له امله به يې ستاسو څخه هر څه هېر شي، "أو غنى مطغياً" يا د داسې مالدارى انتظار كوئ چې له امله به يې سر كښي او نافرماني كوئ، "أو مرضاً مفسداً" يا د داسې ناروغى انتظار كوئ چې له امله به د هر كار څخه وغورځئ؟ "أو هرماً مفنداً" او يا د داسې بوډاوالي انتظار كوئ چې له امله يې عقل خرابيږي، "أو موتاً مجهزاً" او كه د ناڅاپي مرګ انتظار كوئ، "أو الدجال فشر غائب ينتظر" او كه د دجال انتظار كوئ چې زيات شر دى، كوم چې پټ دى، "أو الساعة فالساعة أدهى وأمر" او كه د قيامت انتظار كوئ، نو قيامت خو ډېر زيات سخت او تريخ دى، "رواه الترمذي، وقال: حديث حسن" دا حديث ترمذي رحمه الله روايت كړى دى او فرمايلي چې دا حديث حسن دى.

لغوي تحقيق:

منسياً: "نسي نسياً و نسياناً" باب سمع يسمع، ددې معنى ده: هېرېدل.

مطغياً: "طغى و أطغى" ددې معنى ده: سر كښه كېدل.

هرماً: "هرم هرماً" باب سمع يسمع، ددې معنى ده: ډېر زيات بوډا كېدل.

مفنداً: "فند فنداً" باب سمع يسمع، ددې معنى ده: د ډېر بوډاتوب له امله عقل كار پرېښودل.

په غريبى كې دا انسان څخه خپل رب هېرېږي:

تشريح: "إلا فقراً منسياً" او يا د داسې فقيرى انتظار كوئ چې له امله يې د انسان څخه الله ﷻ هېرېږي، مطلب دا چې انسان په كوم حالت كې وي، بايد په هغه حالت كې د الله ﷻ اطاعت وكړي، داسې نه چې هغه په غريبى كې مبتلاء وي، نو دى خانته دا حالت غنيمت وګڼي او دا خيال كوي چې د مال او دولت په وجه چې كومې خرابى رامنځ ته كېږي، د هغې نه زه الله ﷻ بچ كړم، نه بلكې په دې وخت كې دا موقع غنيمت ده چې په دې موجوده حالت باندې صبر وكړي او د الله ﷻ په تقدير باندې راضي شي، كه چېرته هغه په خپله غريبى باندې شكايتونه شروع كړي چې بايد ماته هم مال او دولت په لاس راشي؛ نو د مال او دولت په جمع كولو كې به هغه دومره پروند او كوم شي چې بيا به د حلال او حرام تميز نه شي

کولي، بلکې د خرو او څناورو په شير به صرف خپل نس پېژني، همدا به يې منزل مقصود وګرځي، پکار ده چې په کوم حالت کې وي، هغه که غريبي وي او که مالداري وي، بس خپل رب راضي کړي

دغه شان د حديث نورو جملو مطلب هم دی چې انسان په کوم حالت کې وي، بايد په همدې حالت کې خپل رب راضي کړي، هغه داسې چې هغه په خپل ګريوان کې له ځان سره سوچ وکړي چې زما لپاره هم دغه حالت غوره دی، که زه په دې حالت مستقيم پاتې نه شوم او بې صبري مې وکړه، نو خدای خبر چې نور څه به راباندې وشي، لهذا زما په حق کې هم دغه حالت غوره دی، دې ته رضاء بالقضاء وايي

د دجال فتنه به ډېره لويه فتنه وي:

"أو الدجال فشر غائب ينتظر" او يا د دجال انتظار کوئ! هغه خو يو لوی شر دی، د دجال فتنه به ډېره لويه فتنه وي کومه چې به د قيامت سره نږدې حالا تو کې راوځي، په يو حديث کې راځي "ما بين خلق آدم الى قيامة الساعة فتنة أكبر من الدجال" د آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ نه تر قيامته پورې د دجال د فتنې نه لويه فتنه بله نشته، د دجال د فتنې نه هر نبي خپل امت وېرولی دی، مطلب دا چې انسان ته پکار ده چې په نېکو عملونو کې تيزي وکړي، مخکې له دې چې د دجال فتنه راوځي، د دجال فتنه ډېره لويه فتنه ده. په دې فتنه کې به ډېر زيات خلك راګېر شي، "فالساعة أدهى وأمر" قيامت خو ډېر سخت او تريخ دی، د قيامت منظر خو د دنيا تر ټولو منظرونو سخت تريخ دی.

د خيبر قلعه د علي رضي الله عنه په لاس فتحه شوه

"الثامن: عَنْهُ: أن رَسُولَ اللّٰهِ ﷺ قَالَ يَوْمَ خيبر: لَأُعْطِيَنَّ هٰذِهِ الرَّايَةَ رَجُلاً يُحِبُّ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ يَفْتَحُ اللّٰهُ عَلَى يَدَيْهِ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ د خيبر په جهاد کې وفرمايل: زه به دا بيرغ هغه چاته ورکوم چې د الله جل جلاله او د هغه د رسول ﷺ سره مينه ساتي او دده په لاس به الله جل جلاله فتح راولي، "قَالَ عُمَرُ رضي الله عنه: مَا أَحْبَبْتُ الإِمَارَةَ إِلاَّ يَوْمَئِذٍ" عمر رضي الله عنه فرمايي چې ما تر اوسه پورې د امارت او مشرۍ سره مينه نه وه کړې، مګر په دې ورځ مې مشري خوښه کړه، "فَتَسَاوَرْتُ لَهَا رَجَاءَ أَنْ أُدْعَى لَهَا" نو ما سر راپورته کړو، ددې لپاره چې دغه بيرغ ته به ما راوغواړي. "فَدَعَا رسولُ الله ﷺ عليَّ بن أبي طالب رضي الله عنه، فَأَعْطَاهُ إِيَّاهَا" نو رسول الله ﷺ علي رضي الله عنه راوغوښتلو او بيرغ يې هغه ته ورکړو، "وَقَالَ: امْشِ وَلَا تَلْتَفِتْ حَتَّى يَفْتَحَ اللّٰهُ عَلَيْكَ" ته مخ په وړاندې ځه او شاته مه ګوره تر دې چې الله جل جلاله فتح درنصيب کړي، "فَسَارَ عَلِيٌّ شَيْئاً ثُمَّ وَقَفَ" علي رضي الله عنه لږ شاته روان شو بيا ودرېد، "ولم يلتفت فصرخ" هيڅ طرف ته يې ونه کتل او بيا يې نبي اکرم ﷺ ته وويل چې: "يَا رَسُولَ اللّٰهِ، عَلَى مَاذَا أُقَاتِلُ النَّاسَ" تر کومه د خلکو سره جهاد وکړم او په کومه خبره؟ "قَالَ: قَاتِلْهُمْ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ، وَأَنَّ مُحَمَّداً رسولُ الله" د خلکو سره تر هغه پورې جهاد وکړه چې ترڅو يې ددې خبرې ګواهي نه وي ورکړې چې نشته لائق د عبادت سوا د الله جل جلاله او محمد ﷺ د الله جل جلاله رسول دی، "فَإِذَا فَعَلُوا فَقَدْ مَنَعُوا مِنْكَ دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلاَّ بِحَقِّهَا" کله چې دوی دا خبره ومني؛ نو ستا لپاره د دوی مالونه او وينې حرامي شوې،

مګر په حق سره، "وحسابهم على الله" او د دوی حساب په الله ﷻ دی. رواه مسلم.

"فتساورت: هو بالسين المهملة: أي وثبت متطلعاً" امام نووي رحمه الله فرمايي چې د تساورت مطلب دا دی چې پر کس سر راپورته کړي او د يو کار طمع ولري.

لغوي تحقيق: الراية: ددې معنی ده: بيرغ.

الامارة: امر أمراً او إمارة، باب سمع يسمع او باب کرم يکرم، ددې معنی ده: مشري، سرداري

فصرخ: "صرخ صراخاً وصريخاً" ددې معنی ده: په زوره چيغې وهل

د علي رضي الله عنه فضيلت:

تشريح "يوم خيبر" د خيبر لفظ غالباً عبراني لفظ دی، ددې معنی ده: قلعه، دا د مدينې منورې نه ... ميله لرې ده، ځينې وايي: د مدينې منورې څخه دوه سوه ميله لرې ده، ددې ځای ځمکه ډېره زرخېزه وه، دلته د يهوديانو سختې مضبوطې قلاګانې وې، په کومو کې چې ځينې اوس هم شته، په عربو کې د يهوديانو د طاقت تر ټولو لوی مرکز هم دغه وو، ددې ځای خلکو د نبي کريم ﷺ سره سوله وکړه.

"لأعطين هذه الراية رجلاً يحب الله ورسوله" زه به دا بيرغ هغه چاته ورکوم چې د الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ سره مينه لري، ددې نه مراد علي رضي الله عنه دی، په دې حديث کې د علي رضي الله عنه فضيلت بيان شوی دی، په دې کې د رسول الله ﷺ يوې معجزې ته اشاره شوې ده چې د خيبر د فتحې نه مخکې رسول الله ﷺ نه دا ښودل شوې وه چې خيبر به د چا په لاس فتحه کيږي.

"إمش ولا تلتفت حتى يفتح الله عليك" لاړ شه! اخوا دېخوا نظر مه ساته! الله ﷻ به ستا په لاس فتحه راولي، ددې جملې دوه مطلبه دي: يو دا چې اې علي رضي الله عنه! تاسو سيده په تيزۍ سره خيبر ته ځان ورسوئ، اخوا دېخوا مه ګورئ! بلکې خپل کار پوره کړئ، دويم مطلب دا دی چې په تيزۍ سره هلته ځان ورسوه! په لاره کې ايسار نه شې! بل مطلب يې دا هم کېدی شي چې د دښمنانو سره د جنګ وروسته تر هغه پورې مه راځه تر څو پورې چې قلا فتحه شوې نه وي.

جنګ وکړه تر څو پورې چې هغوی کلمه ووايي:

"قاتلهم حتى يشهدوا أن لا إله إلا الله" د دويئ سره جنګ وکړه تر څو پورې چې دوی شاهدي ادا کړي ددې خبرې چې نشته لائق د عبادت سوا د الله ﷻ نه، د علماء کرامو په دې مسئله اتفاق دی چې د جنګ نه مخکې به مشرکانو ته د اسلام دعوت ورکول کيږي، که هغوی دعوت قبول کړي، نو خبره ختمه ده، که اسلام قبول نه کړي، نو بيا به د دوی نه جزيه غوښتل کيږي، که هغوی ددې نه هم انکار وکړي، نو بيا به د دوی سره باقاعده جنګ کيږي، ددې حديث نه هم ددې تائيد کيږي.

"فإذا فعلوا ذالك" که هغوی د اسلام اقرار وکړي، ددې نه معلومه شوه چې د اسلام د حکمونو اجراء او نفاذ صرف په ژبه اقرار کولو سره هم ثابتيږي، هغه به مسلمان ګڼل کيږي او د باطن معامله به يې الله ﷻ ته سپارو.

باب في المجاهدة

يوولسم باب: په کوششونو سره لارې خلاصيږي

"قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى" "الله ﷻ فرمايي چې: "وَالَّذِينَ جَاهَدُوا فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا" هغه خلك چې زمونږ د رضا په لټولو کې کوشش کوي، زه به په دوی باندې د هدايت او بخښنې لارې خلاصې کړم، "وَإِنَّ اللّٰهَ لَمَعَ الْمُحْسِنِينَ" او الله ﷻ د هغه کسانو سره دی چې نېك کارونه کوي [العنکبوت:٦٩]

"جاهدوا" د جاهدوا معنی ده: د دين په لاره کې چې کوم خنډونه دي، د هغې لرې کولو لپاره پوره پوره کوشش کول. کله کله دا خنډونه د کافرانو له طرفه راځي، د هغې لرې کولو ته جهاد ويل کيږي، کله دا خنډونه د نفس او شيطان له طرفه راځي چې ددې لرې کولو ته مجاهده ويل کيږي، علماوو ليکلي دي چې دا آيت مکي دی، لهذا ددې ځخه به دغه دويمه معنی مراد کولی شي، په دې دواړو لارو کې د الله ﷻ له طرفه د سيده لارې رهنمائي کيږي، کله کله انسان سوچ کوي چې اوس په دې وخت کې زه څه وکړم؟ په دې آيت کې دا وښودل شوه چې مونږ به د دوی زړونه د خير او برکت ځخه ډك کړو او د حق لارې طرفته به يې راوباسو.

ددې آيت په تفسير کې ابو درداء ﷛ د نبي کريم ﷺ نه ارشاد نقل کړی دی چې فرمايي: کومو خلکو ته چې علم ورکړل شوی دی او دوی په دې علم باندې د علم کولو کوشش هم کوي؛ نو الله ﷻ داسې خلکو ته نور هم په علم کې برکت اچوي او د دوی په علم کې نوره اضافه هم کوي، جنيد بغدادي ﷫ فرمايي چې کوم خلك په توبه ويستلو کې کوشش کوي، الله ﷻ داسې خلکو ته د اخلاص لارې خلاصوي، فضيل بن عياض ﷫ فرمايي چې کومو خلکو د علم حاصلولو سره جهاد وکړو، الله ﷻ به دوی ته د عمل لارې خلاصې کړي، سهل بن عبد الله ﷫ فرمايي چې کومو خلکو د سنت قائمولو کوشش کړی دی، الله ﷻ به دوی ته د جنت لارې اسانې کړي.

"وَقَالَ تَعَالٰى" "او الله ﷻ فرمايي چې ﴿وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّىٰ يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ﴾ ته د خپل رب عبادت وکړه تردې چې تاته مرګ راشي. [الحجر:٩٩]

"حتى يأتيك اليقين" د عبد الله بن عباس ﷠، د مجاهد ﷫ او د جمهورو مفسرينو په نزد د يقين نه مراد مرګ دی، ځکه چې مرګ هر ساه لرونکي ته راځي، په دې آيت کې نبي کريم ﷺ ته اولاً خطاب دی چې تر څو تاسو ژوندي يئ د خپل رب عبادت به کوئ او په دې کې به مشغول يئ، عبادت به نه بريږدئ، هم دغه راز خطاب تقريباً عيسى ﷺ ته هم شوی دی، "اوصاني بالصلوة والزكوة مادمت حياً".

په يو بل روايت کې دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: الله ﷻ ماته د مال جمع کولو او تاجر جوړېدو حکم نه دی فرمايلی، بلکې په ما باندې يې وحی نازله کړې چې "فسبح بحمد ربك وكن من الساجدين واعبد ربك حتى يأتيك اليقين" زه د خپل رب پاکي بيانوم او د هغه تسبيح ووايم او الله ﷻ ته سجده وکړم، د هغه عبادت وکړم تر څو چې ماته مرګ نه وي راغلی.

"وَقَالَ تَعَالَى" او الله ﷻ فرمايي چې: ﴿وَاذْكُرِ اسْمَ رَبِّكَ﴾ "ته د خپل رب نوم ياد کړه، "وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ تَبْتِيلًا" او خپل رب ته په کاملې رجوع سره رجوع وکړه! [المزمل:۸]: "أَيِ انْقَطِعْ إِلَيْهِ" يعنې يو الله ﷻ ته متوجه شه.

د الله ﷻ نوم واخله او د دنيا څخه ځان وساته!

"ترتيلاً": په لغت کې (سهولت او اسانتيا سره خپلې خولې نه خبرې راويستلو ته وايي) اوس به ددې آيت مطلب دا وي چې د قرآن کريم په تلاوت کې به تيزي نه کوي، بلکې په ترتيل او تسهيل سره به يې حروف د مخرج څخه ادا کوي، ددې په معناګانو کې به هم غور او فکر کوي، ځينو مفسرينو ويلي دي چې د (رتل) عطف په (قم الليل) باندې دی، نو اوس به په دې صورت کې مطلب دا شي چې د شپې به قيام کې به ښه په آرام آرام سره تلاوت کوئ؛ اګر چې د تهجدو په لمانځه کې قرائت، تسبيح، رکوع او سجده وغيره هرڅه وي، ليکن بيا هم تلاوت ته زيات اهتمام ورکول پکار دي، په دې وجه نبي کريم ﷺ به د تهجدو په لمانځه کې په کثرت سره تلاوت کولو، زيات اوږده رکعتونه به يې کول، هم دغه عادت د نبي کريم ﷺ نه وروسته په دې امت کې هم د ځينو مشرانو شته دی.

علامه قرطبي رحمه الله ليکلي دي چې علقمه رضي الله عنه يو کس وليد چې ډېر په ښکلي اواز يې تلاوت کولو، نو وې فرمايل چې: "لقد رتل القرآن فداه ابي وامي" دغه کس قرآن کريم په ترتيل سره تلاوت کړو، زما مور پلار دې په هغه باندې قربان شي، دغه ډول حسن بصري رحمه الله فرمايي چې يو ځل نبي کريم ﷺ د يو داسې کس خواته تېر شو چې قرآن کريم يې تلاوت کولو او ژړل يې، نبي کريم ﷺ خلکو ته وفرمايل چې: تاسو د الله ﷻ حکم (ورتل القران ترتيلا) اورېدلي دي، بس هم دغه ترتيل دی کوم چې دا کس يې تلاوت کوي، ددې نه معلومه شوه چې الفاظ د خپلو مخرجونو او صفاتو سره اداء کولو او په ښکلي اواز سره ويلو او په معناګانو کې سوچ او فکر کولو ټولو ته ترتيل ويل کېږي.

د لږې نېکۍ اجر به هم ملاوېږي:

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې: ﴿فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ﴾ کوم کس چې معمولي شان نېک عمل هم وکړي د هغې بدله به ويني. [الزلزلة:۷]

تشريح: "ذرة": وړوکي مېږي ته وايي، يعنې هغه نېکي چې د مېږي په اندازه وړه وي، خو که هغه د الله ﷻ په دربار کې قبوله وي، نو د قيامت په ورځ به هغه هم راوړل شي او په دې باندې به هم ډېر څه ورته ملاو شي، په دې وجه مقاتل رحمه الله فرمايي چې په دې آيت کې مسلمانانو ته ترغيب ورکول کېږي چې نېک عمل کوئ، برابره خبره ده چې لږ او وړوکې وي او که زيات وي، ځکه چې داسې وخت راتلونکی دی چې په هغې کې به وړوکې نېکۍ هم لويه ګڼل کېږي، لکه په يو حديث کې چې دي: که څوک د حلال رزق نه د خورما د ټوټې په اندازه صدقه ورکړي؛ نو هغه هم الله ﷻ قبلوي او هغه په خپل ښي لاس کې اخلي، بيا صدقه ورکوونکي ته ددې نېکۍ زياتوي، تردې پورې چې پوره يو لوی غر ددې نېکۍ څخه جوړ شي، لکه څنګه چې په تاسو کې څوک د غوا د بچي تربيه کوي، هغه په مزه مزه غټېږي، دا آيت ډېر

زيات جامع ايت دی، د همدې لامله عبد الله بن مسعود ﷺ فرمايي چې دا د قرآن كريم تر ټولو مستحكم او جامع آيت دی، انس بن مالك ﷺ نه يو لوی روايت نقل شوی دی چې رسول الله ﷺ دغه آيت ته (القاطعة الجامعة) يعني دا آيت منفرد، ځانته او جامع دی، يو كس د حسن بصري رحمه الله په وړاندې تېرېدو او سورة الزلزال يې تلاوت كولو، كله چې دغه آخري آيت ته ورسېدلو، نو حسن بصري رحمه الله و فرمايل: زما لپاره هم دغه كافي دی.

"وقال تعالى" الله ﷻ فرمايي چې: "وَمَا تُقَدِّمُوا لِأَنفُسِكُم مِّنْ خَيْرٍ" هغه نېک عمل كوم چې تاسو يې ځان ته وړاندې لېږئ، "تَجِدُوهُ عِندَ اللَّهِ" د هغې بدله به الله ﷻ دركوي، "هُوَ خَيْرًا وَأَعْظَمَ أَجْرًا" دا ډېر ښه دی او الله ﷻ ډېر زيات اجر وركوونكى ذات دی، [المزمل: ۲۰] وقال تعالى او الله ﷻ فرمايي چې: "وَمَا تُنفِقُوا مِنْ خَيْرٍ" او كوم مال چې تاسو د الله ﷻ په لار كې خرچ كړو، "فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ" بې شكه الله ﷻ په هر شي باندې خبردار ذات دی، [البقرة: ۲۷۳] والآيات في الباب كثيرة معلومة، په دې باب كې ايتونه ډېر زيات او معلوم دي.

تشريح په دې آيت كې الله ﷻ مؤمنانو ته خاص خطاب فرمايي چې د خپلو مالونو څخه د الله ﷻ په لار كې خرچ كوئ، د خپل ځان سره مال ساتلو نه بهتره دا ده چې د الله ﷻ په لار كې خرچ كړل شي، څومره خرچ چې كوئ الله ﷻ په هغې باندې خبر دی او د هغې بدله به الله ﷻ د قيامت په ورځ دركوي د هغه اجر او ثواب ضايع كېدونكى نه دی.

د اولياء الله سره دښمني د الله ﷻ سره دښمني ده:

"وأما الأحاديث: فالأول: عن أبي هريرة ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ" هر چې حديثونه دي نو اولنى حديث د ابو هريرة ﷺ دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "إن الله تعالى قال" بې شكه الله ﷻ فرمايي چې: "من عادى لي وليا" كوم كس چې زما د دوست او ولي سره دښمني كوي، "فقد آذنته بالحرب" نو د داسې كس سره زما د جنګ اعلان دی، "وما تقرب إلي عبدي بشيء أحب إلي مما افترضت عليه" او بنده ماته تقرب نه شي حاصلولی د هغه شي څخه چې ما پرې فرض كړی وي، "وما يزال عبدي يتقرب إلي بالنوافل" او همېش بنده ماته رانژدې كېږي، "حتى أحبه" تردې پورې چې زه يې د خپل ځان محبوب جوړ كړم، "فإذا أحببته كنت سمعه الذي يسمع به" نو كله چې يې زه محبوب جوړ كړم، نو زه د هغه غوږ جوړ شم په كوم چې هغه اوري، "وبصره الذي يبصر به" د هغه سترګه جوړه شم په كومو چې هغه ليدل كوي، "ويده التي يبطش بها" او د هغه لاس جوړ شم په كوم چې هغه نيول كوي، "ورجله التي يمشي بها" او د هغه پښه جوړه شم په كومه پښه چې هغه مزل كوي، "وإن سألني أعطيته" او كه چېرې زما نه سوال وكړي زه يې وركوم "ولئن استعاذني لأعيذنه" او كه چېرې په ما سره پناه ونيسي نو زه پناه وركوم رواه البخاري.

"آذنته: أعلمته بأني محارب له" د "آذنته" معنى ده: د جنګ اعلان كول، "استعاذني: روي بالنون وبالباء" دا ټكى په "نون" او په "ب" سره هم نقل شوی دی.

لغوي تحقيق:

عادی:"عدی عدأ" باب سمع يسمع دی، ددې معنی ده: دښمني کول

ولياً:"ولي ولايةً" دا هم د باب سمع يسمع څخه دی، ددې معنی ده: مينه او محبت کول

الحرب: ددې معنی ده: جنګ کول، لکه ويل کيږي چې "وقع بينهم حرب" د دوی په مينځ کې جنګ جوړ شو.

تشريح: "من عادی لي ولياً فقد آذنته بالحرب" کوم کس چې زما د ولي او دوست سره دښمني کوي، نو داسې کس ته زما له لوري د جنګ اعلان دی، ددې خو يو مطلب دا دی چې الله ﷻ فرمايي څوک چې زما ولي او دوست سره بغض ساتي او هغه ته ضرر او تکليف رسوي؛ نو داسې کس انتهايي قابل نفرت دی، په دې وجه زه د هغه سره د جنګ اعلان کوم يا دا مطلب چې کوم کس زما د دوست سره دښمني کوي، نو لکه هغه چې زما سره جنګ کوي. کله چې هغه زما سره جنګ کوي نو زه به د هغه په خلاف د جنګ اعلان کوم، د الله ﷻ له طرفه د جنګ اعلان په دوه ځايونو کې شوی دی، يو په دې ځای کې او بل په سودي نظام کې او سودي کاروبار والا سره، "فأذنوا بحرب من اللّٰه ورسوله" کوم کس چې د سود څخه نه منع کيږي؛ نو داسې کس ته د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ له طرفه د جنګ اعلان دی. دا دواړه ډېر خطري شيان دي. ددې دواړو په وجه سړی په دنيا او اخرت کې تباه او برباد کيږي

د الله ﷻ لاس، غوږ او پښې جوړېدو مطلب:

"فإذا أحببته كنت سمعه الذي يسمع به" زه د هغه غوږ جوړ شم چې د هغه په ذريعه هغه اوري، ددې جملې په باره کې د محدثينو رحمهم الله متعدد مطلبونه بيان کړي دي، په هغې کې يې څيني دا دي

(۱) حافظ تور پشتي رحمه الله فرمايي چې ددې مطلب دا دی: د عبادت په ذريعه الله ﷻ په خپل بنده د محبت پرده اچوي، بيا هغه د هر قسم شهواتو څخه بېزاره شي او خالص د الله ﷻ مينه او محبت يې په زړه باندې غالب شي بيا هغه بنده کوم شيان چې الله ﷻ ته خوښ وي هغه په خپلو غوږونو اوري او ددې نه علاوه نور څه نه اوري، دغه شان کوم څه چې الله ﷻ ته محبوب دي هغه په سترګو ګوري او ددې نه علاوه نور څه نه ګوري.

(۲) شاه ولي الله رحمه الله ددې حديث دا مطلب بيان کړی دی چې بنده کله د عبادت په ذريعه د الله ﷻ قرب او معرفت حاصل کړي؛ نو الله ﷻ د عبادت رڼا دده زړه ته داخله کړي، بيا ددې په برکت سره ددې کس نه داسې شيان ظاهريږي چې خلاف عادت وي، په دې وخت کې د بنده فعل الله ﷻ ته منسوب شي، لکه په قرآن کريم کې چې دي "وما رميت إذ رميت ولكن اللّٰه رمى" "اې نبي کريم ﷺ! تاسو ويشتل نه دي کړي کله چې تاسو ويشتل کول، مګر په حقيقت کې ويشتل الله ﷻ کړي دي، نو په دې وجه دلته هم الله ﷻ خپل ځان ته د فعل نسبت وکړو.

(۳) مولانا ادريس کاندهلوي رحمه الله فرمايي چې ددې حديث مطلب دا دی: کله چې بنده د الله ﷻ قرب او محبت حاصل کړي؛ نو په دې کې بيا دومره ترقي وکړي، دومره سخته مينه او محبت يې

ورسره پيدا شي لکه هغه چې بيا د الله ﷻ په سترګه، غوږ او په لاس سره ګوري، اوري او نيول کوي، په دې جملې سره د بنده خاص تعلق د الله ﷻ سره او د هغه مينه او محبت د خپل بنده سره بيانول مقصود دي، (معاذ الله، اتحاد يا حلول ثابتول مقصود نه دي.)

(۴) شيخ محي الدين ابن عربي رحمه الله ددې حديث داسې مطلب بيان کړی دی چې د نفلو په وجه بنده د الله ﷻ سره داسې قربت او تعلق پيدا کړي چې بيا وروسته د هغه ټول معاملات په هغه باندې منکشف کېدل شروع شي.

(۵) علامه خطابي رحمه الله ددې حديث مطلب داسې بيانوي چې الله ﷻ په خپل بنده هغه اعمال او افعال اسانه کوي د کومو تعلق چې د جوارحو او اندامونو سره دی او ددې اعمالو او افعالو د کولو توفيق ورنصيب کړي، ترڅو پورې چې هغه عملونه او افعال دده دويم فطرت وګرځي، ددې اعمالو او افعالو په کولو سره هيڅ قسم تکليف او مشقت نه وي.

د الله ﷻ بنده سره نزدې کېدو مطلب:

"الثاني: عن أنس رضي الله عنه، عن النبيّ ﷺ فيما يرويه عن ربّه ﷻ، قَالَ" د انس رضي الله عنه نه روايت دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ د خپل رب نه حکايت کوي چې الله ﷻ فرمايي چې "إِذَا تَقَرَّبَ الْعَبْدُ إِلَيَّ شِبْراً" کله چې يو بنده ماته د يوې لوېشت په اندازه نزدې شي، "تَقَرَّبْتُ إِلَيْهِ ذِرَاعاً" نو الله ﷻ فرمايي چې زه ورته يو لاس ورنزدې کېږم. "وَإِذَا تَقَرَّبَ إِلَيَّ ذِرَاعاً" او کله چې ماته يو لاس رانزدې کيږي، "تَقَرَّبْتُ مِنْهُ بَاعاً" نو زه ورته دوه لاسه ورنزدې کېږم. "وَإِذَا أَتَانِي يَمْشِي أَتَيْتُهُ هَرْوَلَةً" او کله چې ماته په منډه راځي نو زه ورته په منډه ورځم. "رواه البخاري".

لغوي تحقيق:

شبراً: "شبر شبراً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده : په لوېشت سره ناپ کول، ددې جمع اشبار راځي.

ذراعاً: "الذراع" وايي د لاس د څنګلو تر مينځنی ګوتې پورې، مټ، څنګل

باعاً: "الباع" دواړه لاسونه چې خپاره کړی شي، ددې په مقدار سره تقريباً شپږ فوټه ترې جوړيږي

هرولة: ددې معنی ده : تېز مزل او قدم اخيستل

کله چې بنده يوه لوېشت نزدې کيږي الله ﷻ يو لاس ورنزدې کيږي:

"إذا تقرب العبد إلى شبراً تقربت إليه ذراعاً" کله چې زما بنده ماته يوه لوېشت رانزدې کيږي؛ نو زه ورته يو لاس ورنزدې کېږم، الله ﷻ ته د بنده د نزدې کېدو مطلب دا دی چې کله بنده د الله ﷻ اطاعت او بندګي کوي، يعنې بنده معمولي عبادت وکړي، مثلاً معمولي عبادت وکړي، د کم نه کم خير مثال تشبيه د يوه لوېشت عبادت سره ورکړل شوې ده، ويل کيږي چې بنده خو معمولي عبادت کوي، ليکن د الله ﷻ رحمت او مهرباني پرده باندې د يو لاس په مقدار سره وي، دغه ډول که بنده لږ څه زيات عبادت

وکړي، لکه د يو لاس په مقدار وي، نو الله ﷻ ددې نه دوه چنده يعنې د دوه لاسونو خپرولو په مقدار ورنږدې کيږي او کله چې بنده الله ﷻ ته په مزه مزه راځي او ګناهونه پريږدي او الله ﷻ ته متوجه شي نو د الله ﷻ رحمت ورته په منډه راځي چې هسې نه شيطان ورته په مخه کې خنډ واچوي او هغه پکې راګير نه شي

میری زندگی کا حاصل میری زیست کا سہارا ترے عاشقوں میں جینا ترے عاشقوں میں مرنا

زما د ژوند ټول مقصد دا دی چې ستاسو په عاشقانو کې مې ژوند وي او ستا په عاشقانو کې مې مرګ وي

روغ صحت او فراغت لوی نعمت دی

الثالث: عن ابن عباس رضی الله عنهما، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ، د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "نِعْمَتَانِ مَغْبُونٌ فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ" دوه نعمتونه دي چې ډېر خلک په غفلت کې ترې پراته دي: "الصِّحَّةُ، وَالفَرَاغُ" يو صحت دی او بل فراغت دی. رواه البخاري

لغوي تحقيق:

مغبون: "غبن غبناً" باب نصر ينصر، ددې معنی ده: په اخيستلو او خرڅولو کې دوکه کېدل، لګه ويل کيږي چې "غبن فلان" فلانکی سړی د اخيستلو او خرڅولو پرمهال دوکه شو

الفراغ: "فرغ فراغاً و فروغاً" باب سمع يسمع، ددې معنی ده: کار پوره کول او ځان فارغه کول

د دوه نعمتونو ډېره ناقدري کيږي:

تشريح "نعمتان" انسان خو د اول څخه د الله ﷻ د نعمتونو ناشکري کړې ده، خو بيا په ځانګړي توګه ددې دوه نعمتونو په سلسله کې خو د شروع نه ناشکري او بې قدري شوې ده، په دې کې يو نعمت د بدن او صحت روغتيا ده، دا نعمت انسان ته کله کله په لاس ورځي، دا هيڅ ته معلومه نه ده چې ناروغي کله راځي، انسان ته نه وايي چې زه راځم او چې يو ځل راشي؛ نو بيا انسان افسوس او ارمان کوي چې ارمان! د صحت او روغتيا په حالت کې مې څه کړي وای چې اوس خو به دومره څه د آخرت لپاره ذخيره شوي وای، ليکن اوس په تشو ارمانونو هيڅ نه کيږي

الفراغ: دويم نعمت فراغت دی، نن درسره وخت شته، فارغ ناست يې، اوس د آخرت لپاره څه نېک عمل وکړه، کنه نو بيا به درباندې داسې وخت راشي چې ارمان به کوې، خو بيا په تشو ارمانونو باندې څه نه کيږي، کومو خلکو چې د وخت قدر کړی دی، هغوی په دنيا کې ډېر څه وکړل او د آخرت لپاره يې د نېکو عملونو يوه لويه سرمايه له ځانونو سره يوړه، دلته به موږ د يو څو هغو کسانو مختصر ژوند وليکو چې د وخت قدر يې کړی دی او ددې خلکو زمانه هم زموږ څخه ډېره لرې نه ده.

د وخت قدر کوونکي مشران:

(۱) مولانا يحيی کاندهلوي رحمه الله د شيخ الحديث مولانا زکريا رحمه الله په اړه ليکلي دي چې

مغوي په خپله فرمايل ږنځه مياشتې ما په نظام الدين کې داسې تيرې کړې دي چې جومات والاوو ته به پته نه وه چې زه چېرته يم، په هغې زمانه کې د کاندهلې ښځه د يوې نکاح طلبي تار راغلو، خلکو په دې خبره واپس کړو چې مکتوب اليه د ډېرې زمانې راهيسې نشته، چېرته تللی دی، په دې پنځه مياشتو کې ما بخاري شريف، سيرة ابن هشام، طحاوي او فتح القدير بالاستيعاب مطالعه کړو او په داسې اهتمام مې وکتل چې زه خپله ځانته حيران وم.

(۲) د علامه انور شاه کشميري رحمه الله په اړه فرمايل شوي دي چې هغه د ډېرې مودې راهيسې سخت ناروغ ؤ، په دې دوران کې خبر خپور شو چې انور شاه رحمه الله وفات شو، کله چې کمرې ته ننه شوم، نو مې وکتل چې شاه صاحب رحمه الله د لمانځه په حالت کې ناست دی، مخې ته يې په تکيه باندې کتاب پروت دی، د هغې مطالعه يې کول، د تيارې له امله په کتاب لړ شان ورتيټ شوی دی، په خپله به يې فرمايل: د طالبي په زمانه کې ما خپله د فتح القدير ديارلس جلدونه مکمل کړي دي، دغه ډول د فتح القدير په باره کې به يې فرمايل: چې ددې کتاب په مطالعه کې زما ځخه شل ورځې صرف شوي دي او صرف کتل مې نه دي کړي، بلکې تلخيص مې هم ورسره کړی دی، کله يې په ملاسته خوب نه دی کړی، کله چې به خوب ورباندې غلبه وکړه؛ نو په ناسته ناسته به لږ شانته ويده شو بيا به يې دويم ځلې د کتاب مطالعه شروع کړه.

(۳) د شيخ الادب مولانا اعزاز علي رحمه الله په اړه بيان شوي دي چې د ډېرې مطالعې او تدريس له امله به تر هفتو- هفتو پورې نه ويده کېدو، شپه او ورځ به يوکتاب مخې ته پروت ؤ. کله کله به انور شاه کشميري رحمه الله په توره شپه کې په سخته يخنۍ کې ورته تشريف راوړو او د هغه له لاسه به يې کتاب واخيست، نو بيا به مولانا صاحب رحمه الله لږ آرام وکړو، خو يو څو دقيقې وروسته به بيا راپورته شو او مطالعه به يې شروع کړه.

(۳) ميان جي نور محمد جنجانوي رحمه الله په اړه ويل کيږي چې کله به بازار ته د څه سودا لپاره لاړو، نو د ځان سره به يې د پيسو خلته راواخيسته او سودا چې به يې واخيسته؛ نو د پيسو خلته به يې د دوکاندار مخې ته کېښوده او ورته به يې ويل چې ته خپلې پيسې ترې راواخله، ځکه چې په دومره وخت کې زه پيسې شمارم؛ نو څو ځله (سبحان الله) ويلی شم، يو ځل چا ترې د پيسو خلته غلا کړه: نو هغه ورته په شا هم ونه کتل او وې ويل: ددې پيسې به اوس څوک ځي، راځه چې د الله الله ذکر وکړو، دا به راته پوره گټه ورسوي.

(۴) شيخ الحديث مولانا زکريا رحمه الله خپل حالت خپله بيانوي چې ډېر ځله زما سره داسې کېدل چې په شپه ورځ کې به دوه يا درې ساعته خوب راته نصيب شو، بلکې بلامبالغې ډېر ځله داسې هم شوي دي چې ماته به د غرمې خوراک ياد نه وو، د مازيگر نه وروسته چې به کمزوري راته محسوس شوه نو په دې وخت کې به ماته راياد شو چې د غرمې ډوډۍ مې نه ده خوړلې، د شپې عادت خو ددې ځخه مخکې خراب شوی وو، ډېرش پنځه ډېرش ساعته به داسې هم تېر شول چې ما به څه نه وو خوړلي، دا خو د ماضي قريبې د مشرانو حال وو، ددې ځخه د مخکنيو مشرانو به څه حال وو، د هغې اندازه تاسو خپله ولگوئ!

د الله ﷻ بې انتهائي شكريه ادا كول

"الرابع: عن عائشة رَضِي الله عنها: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَقُومُ مِنَ اللَّيلِ" د عايشي ﷞ نه روايت دى، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ به د شپې عبادت لپاره دومره ودريدو، "حَتَّى تَتَفَطَّرَ قَدَمَاهُ" چې پښې مباركې به يې ويرسېدې، "فَقُلْتُ لَهُ: لِمَ تَصْنَعُ هَذَا يَا رَسولَ الله" ما به ورته وويل: اې د الله تعالى رسوله! ولې دومره تكليف اوچتوې؟ "وَقَدْ غَفَرَ اللهُ لَكَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ، قَالَ" حال دا چې ستاسو مخكيني او وروستني خطاګانې هم معاف دي، نبي اكرم ﷺ وفرمايل چې: "أَفَلَا أُحِبُّ أَنْ أَكُونَ عَبْداً شَكُوراً" زه دا خيره خوښه ګڼم چې زه د الله ﷻ شكر ګزاره بنده جوړ شم. "مُتَّفَقٌ عَلَيهِ، هَذَا لفظ البخاري. ونحوه في الصحيحين من رواية المغيرة بن شعبة" دا الفاظ د بخاري دي او ددې په شان صحيحين كې د مغيرة بن شعبة ﷺ څخه نقل دي.

لغوي تحقيق:

تفطر: "فطر فطراً" باب ضرب يضرب دى، ددې معنى ده: څيرې كېدل

تشريح: "وقد غفر الله لك ما تقدم من ذنبك وما تأخر" حال دا چې الله ﷻ تاسو ته مخكيني او وروستني ټول ګناهونه معاف كړي دي

ايا د پيغمبرانو څخه ګناه كيږي؟

ددې ځواب دا دى چې انبياء عليهم السلام معصوم دي، په دې باندې د علماوو اتفاق دى، په قرآن او حديث كې چې چيرته هم لفظ د (غفر،ذنب) راغلى دى، ددې نه مراد خلاف اولى كارونه دي چې د انبياء عليهم السلام څخه صادريږي، ځكه چې د نبوت د اوچت مقام په اعتبار سره غير افضل عمل هم يو داسې لغزش دى چې په قرآن او احاديثو كې ترې د تهديد يا ذنب څخه تعبير شوى دى، دغه شان ويل كيږي چې: "حسنات الأبرار سيئات المقربين" د عامو خلكو نيك عملونه هم د مقربينو په نزد ګناه شمارل كيږي

ايا زه شكر ويستونكى بنده جوړ نه شم؟

"أفلا أكون عبداً شكوراً" ايا زه د الله ﷻ شكر ويستونكى بنده جوړ نه شم؟ دا د عبادت اعلى درجه ده چې انسان د جنت حاصلېدو لپاره عبادت وكړي، علي ﷺ فرمايي چې درې قسمه خلك عبادت كوي:

(۱) د سوداګر عبادت: دا د هغو خلكو عبادت دى چې د جنت او ثواب په نيت د الله ﷻ عبادت وكړي

(۲) د غلامانو عبادت: دا هغه خلك دي چې د الله ﷻ د عذاب له ويرې د الله ﷻ عبادت كوي

(۳) د آزادو خلكو عبادت: دا هغه خلك دي چې د الله ﷻ له طرفه دوى ته د وركړل شويو نعمتونو شكريه ادا كولو لپاره د الله ﷻ عبادت كوي

داخري عشرې د عبادت اهميت:

الخامس: "عن عائشة رضي الله عنها، أنها قالت: كَانَ رَسُولُ الله ﷺ إِذَا دَخَلَ العَشْرُ أَحْيَا اللَّيلَ" د عائشې ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ به ټوله شپه په رڼا تېروله، کله چې به د روژې آخرنی لس ورځې داخلې شوې، "وَأَيقَظَ أَهْلَهُ" او خپل خاندان به يې راويښ کړو، "وَجَدَّ" او ډېر زيات کوشش به يې شروع کړو، "وَشَدَّ المِئزَرَ" او ملا بند به يې وتړلو مُتَّفَقٌ عَلَيهِ.

"والمراد: العشر الأواخر من شهر رمضان" د اخري لسو ورځو څخه مراد د روژې آخرنی لس ورځې دي. "والمئزر: الإزار" او د "المئزر" څخه ازار (لنګ) مراد دی، "وَهُوَ كِنَايَة عن إعتِزَالِ النساءِ" ددې نه مراد دا دی چې: خپلې ښځې نه جدايي وکړي، يعنې عدم جماع، "وقيلَ: المُرَادُ تَشمِيرُهُ لِلعِبَادَةِ" او چا ويلي دي چې ددې نه مراد دا دي چې خپل ځان د عبادت لپاره فارغ کړي، "يُقَالُ: شَدَدْتُ لِهٰذَا الأمرِ مِئزَرِي: أي تَشَمَّرتُ وَتَفَرَّغتُ لَهُ" لکه په مثال کې ويل کيږي چې "شددت لهذا الامر مئزري" يعنې ما د عبادت لپاره ځان فارغ کړو

لغوي تحقيق:

جد: "جد جداً" د ضرب يضرب څخه هم راځي او د نصر ينصر څخه هم راځي، ددې معنی ده کوشش کول.

المئزر: تهبند ته ويل کيږي، خو دلته کنايه ده، ددې نه مراد دا دی چې يو سړی د کار لپاره ځان تيار کړي.

په اخري لسو ورځو کې به رسول الله ﷺ خپله ملا وتړل:

تشريح "إذا دخل العشر" د روژې اخري لس ورځې به چې شروع شوې، نو رسول الله ﷺ به خپله ملا کلکه وتړل، يعنې په عبادت کې به يې نور هم کوشش شروع کړو، "وشد المئزر" تهبند به يې وتړلو، امام نووي رحمه الله ددې دوه مطلبونه بيان کړي دي يو دا چې دا کنايه ده د (تحرز عن الجماع) يعنې نبي کريم ﷺ به د روژې په اخري لسو شپو کې د خپلو ازواج مطهرات (رضي الله تعالي عنهن) څخه مکمل کناره کش شو، هغوی ته به يې تشريف نه وړلو.

بل مطلب يې دا بيان شوی دی چې دا د عبادت څخه کنايه ده، لکه په افغاني ژبه کې هم دا متل مشهور دی: چې کله يو کس د کار لپاره ځان تيار کړي او ښه په مېړانه يې کوي، نو وايي چې (ملا مې ورته ټينګه وتړل) دغه ملا تړل ددې لپاره وه چې د قدر شپه ورته په لاس ورشي، کومه چې دې امت ته الله ﷻ په خصوصي طور نصيب کړې ده، دا يوه شپه ده چې د زرو شپو څخه زياته بهتره او غوره ده، "ليلة القدر خير من ألف شهر" د قدر شپه د زرو مياشتو څخه ډېره غوره ده.

په هر حال کې په تقدير راضي کېدل

"السادس: عن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "الْمُؤْمِنُ الْقَوِيُّ خَيْرٌ وَأَحَبُّ إِلَى اللهِ" مؤمن مضبوط او بنه صحت مند الله ﷻ ته ډېر زيات خوښ دی، "مِنَ الْمُؤْمِنِ الضَّعِيفِ" د ضعيف او کمزوري مؤمن څخه، "وَفِي كُلٍّ خَيْرٌ" او په هر يو کې خيريت دی، يعنې دواړه په خير کې دي، "احْرِصْ عَلَى مَا يَنْفَعُكَ" ته حرص وکړه په هر هغه شي باندې چې ستا فايده پکې وي، "وَاسْتَعِنْ بِاللهِ وَلَا تَعْجَزْ" او د الله ﷻ څخه مدد اخله او عاجز مه جوړېږه! "وَإِنْ أَصَابَكَ شَيْءٌ فَلَا تَقُلْ لَوْ أَنِّي فَعَلْتُ كَانَ كَذَا وَكَذَا" او که چېرته کوم تکليف در ته ورسيږي؛ نو بيا داسې مه وايه چې که چېرته ما دا کار کړی وای؛ نو داسې او داسې به شوي وو، "وَلَكِنْ قُلْ: قَدَرُ اللهِ، وَمَا شَاءَ فَعَلَ" ليکن داسې وايه چې دا په تقدير کې الله ﷻ ليکلی وو او کوم څه چې الله ﷻ مقرر کړي دي هغه به کېږي، "فَإِنَّ لَوْ تَفْتَحُ عَمَلَ الشَّيْطَانِ" او دا ځکه چې لفظ د (لو) د شيطان عمل دی. رواه مسلم.

لغوي تحقيق:

حرص: "حرص حرصاً" ددې معنی حريص او لالچي کېدل

تعجز: "عجز عجزاً او عجوزاً" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: عاجزه کېدل

طاقتور مسلمان د کمزوري مسلمان څخه غوره دی:

"المؤمن القوي خيرٌ وأحب إلى الله من المؤمن الضعيف" طاقتور او مضبوط مسلمان الله ﷻ ته ډېر خوښ دی د کمزوري مسلمان څخه، وجه يې دا ده چې روغ او طاقتور مسلمان د الله په حکمونو باندې پوره او په صحيح طريقه عمل کوي، ددې برخلاف کمزوری مسلمان چې لمونځ هم په صحيح توګه نه شي کولی او خينو علماوو داسې توجيه کړې ده چې روغ صحت والا مسلمان د خلکو په ضرر او تکليف باندې صبر کولی شي او کمزوري خلک صرف جنګ او جګړې کوي.

"وفي كل خير" په طاقتور او کمزوري مسلمان دواړو کې خير دی چې د ايمان په دولت کې دواړه سره شريک دي، "واستعين بالله" د الله ﷻ نه مدد وغواړه، کومه مسئله او تکليف چې درته پېښ شي بايد انسان په الله ﷻ توکل وکړي او د هغه طرفته متوجه شي، ځکه چې د الله ﷻ نه سهوا بل څوک دا پريشاني نه شي لرې کولی.

لفظ د (که چېرته) دا د شيطان دروازه خلاصوي:

"وإن أصابك شئ فلا تقل لو أني فعلت كان كذا وكذا" که چېرته کومه پريشاني درباندې راشي، نو بيا داسې مه وايه چې که ما داسې کړي وای، نو داسې به وو او داسې به وو، بلکې په تقدير باندې هر وخت راضي اوسيږه! په هر حالت کې مسلمان ته پکار دي چې په الله ﷻ باندې توکل وکړي او په تقدير باندې راضي شي، که چېرته کومه صدمه او تکليف ورته ورسيږي؛ نو داسې ويل پکار دي چې دا زما په تقدير کې

لېكل شوي وو، داسې بايد ونه وايي چې كه ما داسې كړي واى؛ نو داسې به شوي وو او داسې به شوي وو، په هر حالت كې د صبر او استقامت نه كار اخيستل پكار دي، كاش او ارمان چې دا الفاظ ويل پكار نه دي، ځكه چې په دې سره شيطان ته په انسان باندې د حملې موقع په لاس ورځي، مثلاً ماشوم مړ شي؛ نو هغه ووايي چې كه ما شفاخانې ته بوولى واى، نو اوس به مې ماشوم نه مړ كېدو.

جنت او دوزخ په مشقت او خواهشاتو پټ دى

"السابع: عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللّٰـهِ ﷺ، قَالَ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي چې "حُجِبَتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ" د جهنم اور په شهواتو سره پټ دى، "وَحُجِبَتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ" او جنت په مشكلاتو او تكليفونو پټ دى. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ

"وفي رواية لمسلم: حُفَّتْ بدل حُجِبَتْ، وَهُوَ بمعناه" د مسلم په روايت كې دي چې (حفت) په ځاى د حجبت: أي بينه وبينها هٰذا الحجاب فإذا فعله دخلها" يعنې ددې او د هغه په مينځ كې دا پرده ده چې كله دا كار وكړي نو داخل به شي.

لغوي تحقيق:

حجبت: "حجب حجباً وحجاباً" باب نصر ينصر دى، ددې معنى ده: پرده.

الشهوات: جمع د "شهوة" ده، ددې معنى ده: د زړه مينه او رغبت.

المكاره: جمع د "المكره" ده، ددې معنى ده: ناخوښ شى، مكروه.

جنت او دوزخ په سختيو او خواهشاتو كې پټ دى:

"حجبت النار بالشهوات" دوزخ په شهواتي شيانو پټ دى، مطلب دا چې د انسان او دوزخ ترمينځ صرف شهوات او خوندونه دي، كله چې انسان دغه شهوتي شيان خپل كړي او په دې كې ونښلي؛ نو سيده به جهنم ته ځي.

دغه شان د جنت حال هم دى، د جنت او انسان ترمينځ د الله ﷻ حكمونه او د رسول الله ﷺ اتباع او د نفساني خواهشاتو نه پرهېز كول خنډ دى، كله چې انسان دغه تكليف په ځان باندې تېر كړي، نو جنت ته د داخلېدو مستحق جوړ شو.

علماوو ليكلي دي چې د شهوات نه خوندونه مراد دي چې شريعت حرام كړي دي، مثلاً: زنا، شراب، غيبت، قتل، سود وغيره، د نفس هغه شهوات چې حرام نه بلكې مباح دي هغه به د جهنم ذريعه نه جوړېږي، خو بيا هم داسې شهوتونو پسې كېدل انسان د الله ﷻ نه لرې كوي او د ولايت مقام نه راغورځيږي.

په يو ركعت كې د ډېر سورت ويل

"الثامن: عن أبي عبد الله حُذَيفَةَ بنِ اليَمانِ رضي الله عنهما، قَالَ" د عبد الله بن حذيفه بن يمان ﷺ څخه روايت دى هغه فرمايي چې: "صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ ذَاتَ لَيلَةٍ فَافْتَتَحَ البَقَرَةَ" ما د نبي كريم ﷺ سره يوه شپه لمونځ

وکړ، هغه سوره بقره شروع کړه، "فقلت: يركع عند المئة"نو ما په زړه کې ووېل: کېدی شي چې سل ايتونو
پوره کړي بيا به رکوع وکړي، "ثم مضى"بيا يې په سلو ايتونو باندې هم رکوع ونه کړه، "فقلت: يصلي بها في
ركعة فمضى"نو ما بيا په زړه کې ووېل چې کېدی شي ټول سورت پوره کړي بيا به رکوع ته لاړ شي، ليکن
بيا هم رسول الله ﷺ رکوع ونه کړه او مخکې لاړو، "فقلت: يركع بها"نو ما په زړه کې بيا ووېل چې کېدی
شي اوس به رکوع ته لاړ شي، "ثم افتتح النساء فقرأها"بيا يې سورت النساء شروع کړه او د هغې تلاوت يې
شروع کړو، "ثم افتتح آل عمران فقرأها"بيا يې سورت آل عمران شروع کړو او هغه يې ټول ووېلو، "يقرأ
مترسلا"ټول تلاوت به يې په ترتيل او آرام سره کولو، "إذا مر بآية فيها تسبيح سبح"کله چې به په کوم ايت کې
تسبيح ذکر راغلو، نو نبي اکرم ﷺ به تسبيح ويل، "وإذا مر بسؤال سأل" او کله چې به په کوم آيت کې
سوال ذکر وو، نو نبي اکرم ﷺ به سوال کولو، "وإذا مر بتعوذ تعوذ" او کله چې به په کوم آيت کې د تعوذ او
پناه ذکر وو، نو بيا به نبي اکرم ﷺ په الله ﷻ سره پناه غوښتل، "ثم ركع، فجعل يقول: سبحان ربي العظيم" بيا
يې رکوع وکړه او په رکوع کې به يې دا تسبيحات ويل چې پاك دی زما رب کوم چې لوی ذات دی.
"فكان ركوعه نحوا من قيامه"بيا يې رکوع هم په ډېر زيات وخت کې د قيام په شان وکړه، لکه څومره وخت
چې يې په رکوع کې تېر کړو، دومره وخت يې په قيام کې هم تېر کړو، "ثم قال: سمع الله لمن حمده، ربنا لك
الحمد"بيا يې داسې ووېل: الله ﷻ د هغه چا فرياد او چيغه اوري چې د الله ﷻ پاکي او ثناء بيانوي
"ثم قام طويلا قريبا مما ركع"بيا دومره ډېر وخت ودرېدو لکه څومره وخت يې چې په رکوع کې تېر کړی وو،
"ثم سجد، فقال: سبحان ربي الأعلى"بيا يې سجده وکړه او په سجده کې يې ووېل: پاکي دې وي زما لوی رب
ته، "فكان سجوده قريبا من قيامه"او سجده يې د قيام سره په اوږدوالي کې برابره وه. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

مترسلاً: "ترسله مترسلاً" ددې معنی ده: په نرمۍ او سکون سره تلاوت کول.

نحواً: ددې معنی ده: مقدار او مثل يا جهت.

تشريح: "صليت مع النبي ﷺ" ما د رسول الله ﷺ سره په جمع لمونځ وکړو، ددې نه معلومه شوه
چې نفلي لمونځ هم په جمع سره کېږي، ليکن ددې نه مراد د تهجد لمونځ دی، "ثم افتتح النساء"بيا نبي
کريم ﷺ د سورت البقره څخه تر سورت النساء پورې ښه په آرام او سکون سره تلاوت وکړو، ددې نه
معلومه شوه چې په يو رکعت کې ډېر سورتونه ويل روا دي، بلکه دا چې په لمانځه کې قرآن شريف به
هغه نهج او ترتيب سره ويل پکار دي په کوم ترتيب او نهج سره چې قرآن شريف زموږ مخې ته پروت
دی، علماوو ابتداء کوونکو ماشومانو ته وړوکي وړوکي سورتونه وښودل، ليکن په لمانځه کې د
داسې لوستلو اجازت نشته.

رکوع د قيام په شان اوږده کول:

"فكان ركوعه نحواً من قيامه" د نبي کريم ﷺ رکوع د قيام (ولاړې) په اندازه اوږده وه، ددې دوه مطلبه دي: اول دا چې څومره اوږد قيام يې وو، ددې په برابر به يې رکوع هم اوږده کول، خو د محدثينو په نزد زياته معتبره خبره دا ده چې په دې لمانځه کې د نبي کريم ﷺ قرائت د عادت څخه زيات وو، رکوع يې هم د غسې زياته وه.

د رکوع او سجدې د تسبيح وجه:

"ثم سجد فقال سبحان ربي الأعلى" بيا يې چې سجده وکړه او په سجده کې يې "سبحان ربي الاعلى" وويل، نبي کريم ﷺ به په رکوع کې "سبحان ربي العظيم" او په سجده کې به يې "سبحان ربي الاعلى" ويل، په دې کې حکمت دا دی چې (الاعلى) د اسم تفضيل صيغه ده، په دې کې زيات تعظيم دی په نسبت سره (العظيم) ته او په سجده کې زياته تواضع وي، په نسبت سره رکوع ته، نو ځکه شريعت هم "سبحان ربي الاعلى" په سجده کې د ويلو حکم وکړو.

د راوي حذيفه بن يمان ﷺ مختصر حالات:

اصل نوم يې حذيفه ﷺ دی، کنيت يې ابو عبد الله دی، لقب يې صاحب السر وو، د غطفان قبيلې سره يې تعلق درلود، حذيفه ﷺ د جاهليت په زمانه کې يو کس قتل کړی ؤ، ځکه مدينې منورې ته راغلی وو او دلته مقيم شوی ؤ، حذيفه ﷺ د اسلام راوړلو لپاره د مکې نه مدينې منورې ته راغلی وو، د بدر جهاد څخه علاوه يې په نورو ټولو جهادونو کې شرکت کړی ؤ، د نبي کريم ﷺ تر ژونده پورې په مدينه منوره کې اوسېدلو، ددې نه وروسته په کوفه، عراق، نصيبين او مدائن کې اوسېدلو، په نصيبين کې يې واده هم وکړو، عمر ﷺ د عراق له فتحې وروسته د دجلې سره څنګ ته د خينو خايونو مشر مقرر کړو، بيا وروسته د مدائن والي جوړ شو.

حذيفه ﷺ د فقه ستر ماهر وو، د اسلام په لمن کې چې کوم مافقين وو، د دوی په اړه يې خاص خبر درلود، په دې لحاظ د رسول الله ﷺ هم رازی وو، هغه به خپله فرمايل چې تر قيامته پورې څومره فتنې راځي په هغې باندې زه خبر يم، ليکن ددې نه دې څوك دا نه ګڼي چې زما څخه سېوا بل چاته هم ددې خبرو علم نه وو، اصلي خبره دا ده چې رسول الله ﷺ ددې فتنو متعلق په يو مجلس کې موږ ته ددې ذکر کړی وو، ليکن په دې ټولو خلکو کې اوس زمانه سېوا بل څوك ژوندی نشته.

ساده ژوند به يې تېرولو، سره له دې چې د مدائن والي وو، خو په خپل تمدني ژوند کې يې هيڅ تغير نه وو راغلی، د سپوارلۍ لپاره به يې د خر څخه کار اخيستلو، د (قوت لايموت) نه علاوه يعني د يوې ورځې خوراك نه علاوه به يې خان سره هيڅ نه پرېښودل، يو ځل عمر ﷺ څه مال په هديه کې ورکړو، هغوی سمدستي ټول مال صدقه کړو.

وفات: ٣٦ هجري کې د عثمان ﷺ د وفات څخه څلوېښت ورځې وروسته، هغه وفات شو، په

آخري لمحو کې يې سخته ژړا کول، خلکو پوښتنه وکړه چې صيب! ولې دومره ژاړې؟ هغه ورته وفرمايل چې د دنيا څخه د فوت کېدو په غم نه ژاړم، مرګ راته خوښ دهی، ليکن په دې ژاړم چې زما حشر به څنګه کيږي؟ کله چې يې اخري سلګۍ شروع شوې؛ نو دعا يې وکړه او وې ويل چې اې الله! خپل ملاقات ماته مبارک کړه؛ ځکه چې زما مينه ستاسو سره ده.

مرويات: د هغه څخه د سلو نه زيات حديثونه روايت شوي دي په کومو کې چې په دولسو باندې بخاري او مسلم متفق عليه دي او په اتو کې بخاري او په اوولسو کې مسلم منفرد دی.

په لمانځه کې د قيام او سجدې اهميت

"التاسع: عن ابن مسعود رضي الله عنه قَالَ: صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ لَيْلَةً." عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي چې ما يوه شپه د رسول الله ﷺ سره لمونځ وکړو "فَأَطَالَ القِيَامَ حَتَّى هَمَمْتُ بِأَمْرِ سُوءٍ" نو قيام يې دومره اوږد کړو چې ما د يو ناجائز کار اراده وکړه، "قيل: وَمَا هَمَمْتَ بِهِ؟" چا ورته وويل: د څه ناجائز کار اراده دې وکړه؟ "قَالَ: هَمَمْتُ أَنْ أَجْلِسَ وَأَدَعَهُ" هغه وويل: ما اراده وکړه چې زه يې ځانته پرېږدم او زه خپله کښېنم. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

اوږد قيام غوره دی او که سجده؟

تشريح: "فأطال القيام" نبي کريم ﷺ قيام اوږد کړو، دې باره کې د علماوو رايه مختلفه ده چې د قيام اوږدول غوره دي او که سجده غوره ده؟ د امام ابو حنيفه رحمه الله او امام شافعي رحمه الله په نزد طول قيام غوره دی، د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما، امام احمد رحمه الله او په يو قول د امام شافعي رحمه الله کې کثرت سجود غوره دی، د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد د ورځې په لمانځه کې تکثير د رکعاتو يعنې زياتې سجدې غوره دي او د شپې په لمانځه کې تطويل د قيام غوره دی.

پورتنی روايت د امام ابوحنيفه رحمه الله د مسلك تائيد هم کوي، په يو بل روايت کې دي چې "سئل أي الأعمال أفضل؟ قال طول القيام!" پوښتنه وشوه چې کوم عمل غوره دی؟ ځواب ورکول شو چې طول قيام غوره دی.

"هممت أن أجلس وادعه" وې فرمايل: ما اراده وکړه چې زه کښېنم او نبي کريم ﷺ پرېږدم، دغه عمل ته عبد الله بن مسعود رضي الله عنه بد عمل وايي، اګر چې دا خبره جائز ده که مقتدي عاجز وي يا په لمانځه کې پرې کمزوري راشي؛ نو هغه ته جائز دي چې کښيني، دلته عبد الله بن مسعود رضي الله عنه دې عمل ته بد عمل وايي، ځکه چې دا خبره ښه نه ده چې رسول الله ﷺ دې ولاړ وي او زه دې ناست يم.

په عالم برزخ کې به صرف عمل ﭙکار راځي

"العاشر: عن أنس رضي الله عنه عن رَسُولِ الله ﷺ، قَالَ" د انس رضي الله عنه نه روايت دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "يَتْبَعُ المَيِّتَ ثَلَاثَةٌ" په مړي پسې درې شيان هديرې ته ځي، "أَهْلُهُ وَمَالُهُ وَعَمَلُهُ" د هغه خاندان، مالونه او د هغه عملونه، "فَيَرْجِعُ اثْنَانِ وَيَبْقَى وَاحِدٌ" نو دوه واپس راځي او يو ورسره باقي پاتې کيږي، "يَرْجِعُ أَهْلُهُ وَمَالُهُ وَيَبْقَى عَمَلُهُ" مال او خاندان ئې تول ترې واپس کيږي او عمل ورسره باقي پاتې کيږي، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

د مړي سره درې شيان هديرې ته ځي:

تشريح "يتبع الميت ثلثة" د مړي سره درې شيان هديرې ته ځي، د حديث مطلب دا دی چې لکه څنګه انسان د يو ځای څخه بل ځای ته سفر کوي؛ نو د سفر په اعتبار سره ځان ته د سفر سامان هم تياروي، څومره چې سفر اهم وي دومره ورته هغه سامان هم تياروي، په دې کې هم ددې خبرې ترغيب ورکول کيږي چې انسان به آخر هم د آخرت سفر شروع کوي او بيا به هلته د همېش لپاره اوسيږي، نو زيرکه او هوښيار سړی هغه دی چې د آخرت لپاره توښه تياره کړي او هغه توښه نېک عملونه دي.

دوه شيان ترې واپس راځي:

"يرجع أهله وماله" کورنی او مال ترې واپس کيږي، دلته سوال پيدا کيږي چې کورنی يې خو بيا هم تر هديرې پورې ورسره ځي، د کورنی واپس راتلو په مطلب خو موږ پوه شو، ليکن د مال واپس راتلو څه مطلب دی؟ مال خو په کور کې پاتې کيږي؟ ځواب دا دی چې د عربو رواج دا ؤ چې دوی به د مړي سره د هغه مال هم هديرې ته وړلو، کله چې به مړی ښخ شو، نو مال به يې ترې واپس کړو، په دې وجه وفرمايل شو چې مال به ترې واپس کيږي.

"ويبقى عمله" صرف عمل به ورسره باقي پاتې کيږي، په دې کې دې خبرې ته اشاره ده چې انسان ته پکار ده چې هر وخت د خپلو عملونو خيال وساتي او دا په هر څه مقدم کړي، ځکه چې همدغه نېک اعمال به ستا سره په قبر کې وي او د جهنم د عذاب څخه به د خلاصېدو ذريعه وي، نو ځکه موږ ته پکار ده چې د خپلو اعمالو خيال وساتو.

بنده ته د جنت او جهنم نزدېوالی

"الحادي عشر: عن ابن مسعود ﷺ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ ﷺ:" د عبد الله بن مسعود ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "اَلْجَنَّةُ أَقْرَبُ إِلَى أَحَدِكُمْ مِنْ شِرَاكِ نَعْلِهِ" جنت تاسو ته د بوټ د تسمو څخه زيات نزدې دی، "وَالنَّارُ مِثْلُ ذٰلِكَ" او د جهنم اور هم دغه شان دی، "رواه البخاري".

تشريح "الجنة أقرب إلى أحدكم من شراك نعله" جنت به تاسو کې هر کس ته د هغه د بوټانو د تسمو څخه زيات نزدې دی، علامه ابن حجر ﷺ ددې حديث داسې مطلب بيانوي: د الله ﷻ اطاعت او تابعداري انسان ته جنت يادوي، هغه ته معلومه نه وي چې کومه داسې نيکي به وي چې هغه يې وکړي او الله ﷻ يې قبوله کړي او د جنت فيصله ورته وکړي، دغه شان هغه به کومه بدي وي چې ده له لاسه وشي او الله ﷻ ورته د جهنم فيصله وکړي، علامه ابن جوزي ﷺ فرمايي چې دا حديث کنايه ده ددې څخه چې جنت ډېر په اسانی سره حاصليږي، خو شرط دا دی چې انسان بايد نېک عملونه په صحيح نيت سره وکړي، دغه شان جهنم ته داخلېدل هم دومره مشکل نه دي، بس صرف په خپلو نفساني خواهشاتو پسې کېدل دي او د خدای پاک (العياذ بالله) نافرماني کول دي.

علامه سعد ﷺ ددې حديث مطلب داسې بيان کړی دی چې يو کافر مسلمان شي؛ نو جنت

ته د هغه داخلېدل بالکل نژدې او اسان دي، دغه شان يو مسلمان چې (العياذ بالله) ګناه كبيره وكړي نو جهنم ته دده داخلېدل بالکل اسان او نژدې دي

په زياتو سجدو سره بنده نبي كريم ﷺ ته نژدې كيږي

"الثاني عشر: عن أبي فراس ربيعة بن كعب الأسلمي خادم رسول الله ﷺ ومن أهل الصُّفَّة ﷺ قال" د ابو فراس ربيعة بن كعب اسلمي ﷺ څخه روايت دى، (هغه د رسول الله ﷺ خادم او د اهل صفه څخه وو) فرمايي چې "كُنْتُ أَبِيتُ مَعَ رسولِ اللّٰه ﷺ فآتِيهِ بِوَضُوئِهِ وَحَاجَتِهِ" ما به د رسول الله ﷺ سره شپه تېرول، نو ما به ورته د اودسه لپاره اوبه مسواك او نور د ضرورت شيان راوړل، "فَقَالَ: سَلْنِي! فَقُلْتُ: اسْأَلُكَ مُرَافَقَتَكَ فِي الْجَنَّةِ" يوه ورځ رسول الله ﷺ راته وفرمايل: وغواړه څه چې غواړې! ما ورته وفرمايل: يا رسول الله ﷺ زه ستاسو سره په جنت كې ملګرتيا غواړم، "فَقَالَ: أَوْغَيْرَ ذٰلِكَ؟" نبي اكرم ﷺ وفرمايل: ددې نه علاوه نور څه؟ "قُلْتُ: هُوَ ذَاكَ" ما ورته وويل: بس هم دغه غواړم، "قَالَ: فَأَعِنِّي عَلَى نَفْسِكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ" نبي اكرم ﷺ ورته وفرمايل په زياتو سجدو سره زما مرسته وكړه! رواه‌مسلم.

لغوي تحقيق:

أبيت: "بات بيتاً" باب ضرب يضرب دى، ددې معنى ده: شپه تېرول، شپه په عبادت ريا كول

مرافقتك: "رفق رفاقة" باب كرم يكرم دى، ددې معنى ده: ملګرتيا كول

تشريح: "من أهل الصفة" په نبوي جومات كې يوه چبوتره وه، دې ته په عربي ژبه كې صفه ويل كيږي، د اسلامي تمدن او تهذيب اولنى مدرسه وه، ددې مدرسي استاذ د اسلام ستر پيغمبر محمد رسول الله ﷺ خپله وو، دلته به هغه طالبان وو چې مسكينان او غريبانان به وو، د دين علم يې زده كولو، دين ته يې په دنيا باندې ترجيح وركړې وه، په دې چبوتره به ناست وو، خيل وخت به يې تېرولو، دغو طالبانو ته اصحاب الصفه ويل كيږي، په دې اصحاب الصفه كې يو طالب ربيعه بن كعب ﷺ هم وو چې شپه او ورځ به د نبي كريم ﷺ په درس - تدريس او خدمت كې مصروف وو

ربيعه بن كعب ﷺ په جنت كې د رسول الله ﷺ سره ملګرى دى:

"مرافقتك في الجنة" په جنت كې ستاسو ملګرتيا د الله ﷻ څخه غواړم، په پيغمبر ﷺ باندې د يو وفادار غلام خان قربانول هم دا اسې وي، د پيغمبر له لورې هم دا وفاداري كافي ده چې په دنيا او آخرت كې يې له خان سره يو ځاى ملګرى كړو

زياتو سجدو سره په جنت كې د نبي كريم ﷺ ملګرتيا حاصليږي:

"فاعني على نفسك بكثرة السجود" ته د زياتو سجدو په ذريعه زما مرسته وكړه، مطلب دا چې نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: زه خو به دعاء درته وكړم، ليكن ته هم د لمانځه په ذريعه د الله ﷻ په حضور كې په زياتو سجدو سره د خپلې عاجزۍ اظهار كوه، لكه يو شاعر وايي

فتح قفل ارچه كليد است اے عزيز
جنبش از دست تومى خواهند نيز

ترجمه: زما ملګرې! اګرچې قفل په چابي کلي سره خلاصيږي، ليکن ستا د لاس حرکت هم ورسره ضروري دی.

دې ځخه يوه بله مسئله هم معلومه شوه چې که د کوم بزرګ (ولي الله) د خدمت سعادت درته نصيب شو، نو په دې خدمت سره به دې صرف اخرت مقصود وي، د دنيا حرص او لالچ به دې په زړه کې نه وي او بل دا چې ددې بزرګ خدمت او دعاء به هر څه نه ګڼې (يعنې داسې نه چې ته ووايې ماته پير صاحب دعاء کړې ده، که خير وي زه به جنت سيده ځم) نه! بلکې خپله به هم د الله ﷻ په عبادت کې څه کوتاهي نه کوې

د راوي ربيعه بن کعب رضي الله عنه مختصر حالات:

اصل نوم يې ربيعه رضي الله عنه دی، کنيت يې ابوفراس دی، د پلار نوم يې کعب بن يعمر اسلمي دی. اسلام يې هغه وخت قبول کړو چې کله رسول الله ﷺ د مکې نه مدينې ته هجرت وکړو، د صفه په طالبانو کې شمار شو، اصلاً د مدينې منورې اوسېدونکی نه وو، خو د ډېرې مودې راهيسې هلته اوسېدلو، لهذا هغه هم د مدينې منورې په خلکو کې شمار شو، واده يې هم نه وو کړی، د نبي کريم ﷺ په خدمت کې به مصروف وو، د اوداسه لپاره اوبه راوړل يې خاص خدمت وو، په ډېرو جهادونو کې يې شرکت کړی دی، د نبي کريم ﷺ تر ژونده پورې په مدينه منوره کې اوسېدلو، کله چې رسول الله ﷺ ددې فاني نړۍ ځخه کوچ وکړو، نو هغه هم خپلې قبيلې ته واپس شو

وفات: د حره واقعې ځخه وروسته په درې شپېتم هجري کال کې وفات شو

مرويات: د ابن جوزي رحمه الله په قول د هغه نه روايت شويو حديثونو شماره تر يوولسو پورې رسيږي، ځينو ويلي دي چې څلور حديثونه ترې نقل شوي دي، په مسلم کې صرف هم دغه يو روايت نقل شوی دی، باقي يې اصحاب السنن په خپلو کتابونو کې نقل کړي دي

زياتي سجدې د ګناهونو کفاره ده

"الثالث عشر: عن أبي عبد اللّـــه، ويقال: أبو عبد الرحمان ثوبان -مولى رسول الله ﷺ-، قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول" د ابو عبد الله او ځينې وايي د ابو عبد الرحمن ثوبان رضي الله عنه ځخه روايت دی چې د رسول الله ﷺ غلام وو، فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي، هغه وفرمايل چې: "عَلَيْكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ" په تا باندې لازم دي چې ډېرې سجدې وکړې، "فَإِنَّكَ لَنْ تَسْجُدَ لِلّـــهِ سَجْدَةً إِلَّا رَفَعَكَ اللّٰهُ بِهَا دَرَجَةً" ته چې يوه سجده هم الله ﷻ کوې، نو په دې سره ستا يوه درجه اوچتيږي، "وَحَطَّ عَنْكَ بِهَا خَطِيئَةً" او يوه ګناه درته معاف کيږي. رواه مسلم.

تشريح: "فإنك لن تسجد لله سجدة إلا رفعك الله بها درجة وحط عنك بها خطيئة" ته الله ﷻ ته يوه سجده هم نه لګوې مګر دا چې په دې سره ستا يوه درجه اوچتيږي او يوه ګناه درته معاف کيږي، لسونځ داسې اهم عبادت دی چې دده يو يو رکن د مستقل عبادت درجه لري، دلته د سجدې فضيلت بيانيږي، دغه شان په يو بل

روايت کې دي چې: "أقرب مايكون العبد من ربه وهو ساجد" بنده د الله ﷻ سره هغه وخت زيات نژدې وي کله چې انسان خپل رب ته په سجده پروت وي.

د سجدې نه پوره لمونځ مراد دی:

"تسجد لله" الله ﷻ ته سجده کوه، ددې نه پوره لمونځ مراد دی، خاصته سجده مراد نه ده، ځکه چې د احنافو په نزد خاصته سجده مستقل عبادت نه دی، سجده اهم رکن دی، دلته د سجدې لفظ وويل شو خو مراد ترې پوره لمونځ دی، په ډېرو ځايونو کې داسې کيږي چې ذکر د جزء وشي او مراد ترې کل وي.

د راوي ثوبان رضي الله عنه مختصر حالات:

اصلي نوم يې ثوبان رضي الله عنه دی، کنيت يې ابو عبد الله دی، د يمن مشهور خاندان حمير سره يې تعلق درلود، په اصل کې غلام وو، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: که زړه دي غواړي خپل کور ته لاړ شه او که غواړې؛ نو دلته زموږ سره پاتې شه؛ ستا شمار به د اهل بيت څخه وي، هغه اهل بيت ته په خپل خاندان باندې ترجيح ورکړه، همېش به يې د نبي کريم ﷺ خدمت کولو، د نبي کريم ﷺ اطاعت او تابعداري ورته د خپل ځان نه زياته محبوبه وه، يو ځل نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: د چا نه سوال مه کوه؛ ددې نه وروسته به که د هغه څخه چېرته د اس قيزه پرېوتل، بل کس ته به يې نه ويل چې دا قيزه راپورته کړه؛ خپله به د اس څخه ښکته شو او قيزه به يې راواخيستل، د نبي کريم ﷺ د خدمت په برکت سره يې ډېره استفاده حاصله کړه، په دې وجه ابن عبد البر رحمه الله فرمايي چې ثوبان رضي الله عنه په هغو خلکو کې دی چې حديثونه به يې محفوظ کړل او بيا به يې په خلکو کې خپرول

وفات: د نبي کريم ﷺ تر ژوند پورې په مدينه منوره کې اوسېدلو، بيا وروسته شام ته لاړو بيا په حمص کې وفات شو

مرويات د مروياتو شمېر يې تر يو سل اوه ويشتو/ ۱۲۷ پورې رسيږي

ژوند د عمل سره ښه وي:

"الرابع عشر: عن أبي صفوان عبد الله بن بُسر الأسلمي رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُول الله ﷺ:" د ابو صفوان عبد الله بن بسر اسلمي رضي الله عنه څخه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل "خَيرُ النَّاسِ مَنْ طَالَ عُمُرُهُ، وَحَسُنَ عَمَلُهُ" په خلکو کې غوره کس هغه دی چې عمر يې زيات شي او نېک عملونه کوي، "رواه الترمذي، وَقَالَ: حديث حسن" "بُسْر: بضم الباء وبالسين المهملة" امام ترمذي رحمه الله فرمايي: دا حديث حسن دی او بُسر په ضمې د "ب" او په "سين" مهمله سره دی

لغوي تحقيق:

طَالَ: "طال طولاً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: زيات عمر.

د زيات ژوند سره ښه عمل غوره دی:

تشريح: "خير الناس من طال عمره وحسن عمله" غوره انسان هغه دی چې ژوند يې ډېر وي او عمل يې هم ښه وي، زيات ژوند يو نعمت دی چې په دې کې د نيکو عملونو موقع ترلاسه شي، خو په زيات، اوږد ژوند کې شرط دا دی چې ايمان او صالح اعمال هم ورسره وي، خدای مه کړه که د هغه عمر زيات شي؛ خو اعمال يې خراب وي، نو اوس به همدغه ژوند دده لپاره وبال وي، ددې نه معلومه شوه چې انسان د الله ﷻ د اطاعت او تابعداری لپاره د زيات ژوند سوال کولی شي او ارمان يې هم کولی شي.

د راوي عبد الله بن بسر رضي الله عنه مختصر حالات:

اصلي نوم يې عبد الله رضي الله عنه وو، د پلار نوم يې بسر وو، د مازن قبيلې سره يې تعلق درلود، هغه ته، مور پلار او ورور علي ته او د هغه خور صحما ټولو ته د نبي کريم ﷺ زيارت نصيب شوی ؤ، هغه ته نبي کريم ﷺ د ډېر عمر دعاء کړې وه، پنځوس حديثونه ترې نقل شوي دي، بخاري او مسلم يو - يو روايت ترې نقل کړی دی، د سيرت ليکونکي وايي: هغه اودس کولو چې ناڅاپه راپرېوتلو او وفات شو. د نبي کريم ﷺ د دعاء اثر وو چې د څلور نوي/ ۹۴ کالو په عمر کې اته اتيايمه هجری کې ددې فاني نړۍ څخه فنا شو او د ځينو علماوو په نزد د سلو کالو په عمر کې وفات شو، د زيات وضاحت لپاره تهذيب التهذيب، البدايه والنهايه وغيره بايد ولوستل شي.

د انس بن نضر رضي الله عنه په بدن د اتياوو/ ۸۰ څخه زيات زخمونه وو

"الخامس عشر: عن أنس رضي الله عنه، قَالَ: غَابَ عَمِّي أَنَسُ بْنُ النَّضْرِ رضي الله عنه عَنْ قِتَالِ بَدْرٍ" د انس رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې زما تره د بدر په جنګ کې شريک نه وو، "فَقَالَ: يَا رَسُولَ الله، غِبْتُ عَنْ أَوَّلِ قِتَالٍ قَاتَلْتَ الْمُشْرِكِينَ" نو هغه ووېل: يا رسول الله ﷺ! زه د هغه اولني جهاد څخه پاتې شوی وم چې تاسو د مشرکانو سره کړی وو، "لَئِنِ اللهُ أَشْهَدَنِي قِتَالَ الْمُشْرِكِينَ" قسم په الله ﷻ! که دا ځل را ته الله ﷻ د مشرکانو سره جهاد نصيب کړي، "لَيَرَيَنَّ اللهُ مَا أَصْنَعُ" نو الله ﷻ به وګوري چې زه څه کوم، "فَلَمَّا كَانَ يَوْمُ أُحُدٍ انْكَشَفَ الْمُسْلِمُونَ" هر کله چې د احد جنګ راغلو او مسلمانان خپاره شول، "فَقَالَ: اللَّهُمَّ أَعْتَذِرُ إِلَيْكَ مِمَّا صَنَعَ هٰؤُلَاءِ -يعني: أَصْحَابَهُ- وَأَبْرَأُ إِلَيْكَ مِمَّا صَنَعَ هٰؤُلَاءِ -يعني: الْمُشْرِكِينَ" بيا انس بن نضر رضي الله عنه دا دعاء وکړه چې اې الله! زه تا ته د هغه عمل عذر وړاندې کوم چې مسلمانانو وکړو او تا ته بېزاري پېش کوم د هغه عمل څخه چې مشرکانو وکړو، "ثُمَّ تَقَدَّمَ فَاسْتَقْبَلَهُ سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ" بيا رامخکې شو، مخې ته ورته سعد بن معاذ رضي الله عنه راغلو، "فَقَالَ: يَا سَعْدُ بْنَ مُعَاذٍ، الْجَنَّةُ وَرَبِّ الْكَعْبَةِ إِنِّي أَجِدُ رِيحَهَا مِنْ دُونِ أُحُدٍ" نو وې فرمايل: اې سعد بن معاذ! جنت ته رامخکې شه! د کعبې په رب قسم چې زه د احد د غره له طرفه د جنت خوشبو محسوسوم، "قَالَ سَعْدٌ: فَمَا اسْتَطَعْتُ يَا رَسُولَ اللهِ مَا صَنَعَ!" سعد رضي الله عنه فرمايي چې اې د الله تعالی رسوله! کومې کارنامې چې هغه وکړې د هغې د بيانولو طاقت په ما کې نشته، "قَالَ أَنَسٌ: فَوَجَدْنَا بِهِ بِضْعًا وَثَمَانِينَ ضَرْبَةً بِالسَّيْفِ، أَوْ طَعْنَةً بِرُمْحٍ، أَوْ رَمْيَةً بِسَهْمٍ" انس بن مالک رضي الله عنه فرمايي چې کله موږ د هغه لاش (مړي) ميلاو شو نو حال يې داوو چې د تورو او د نيزو او د غشو پرې د اتياؤ نه زيات زخمونه

وو «وَوَجَدْنَاهُ قَدْ قُتِلَ وَمَثَّلَ بِهِ الْمُشْرِكُونَ فما عَرَفَهُ أَحَدٌ إِلاَّ أُخْتُهُ بِبَنَانِهِ»موږ دي ومونده چي مړ وو او هغه مُوتله شوی وو (يعني غوږونه پوزه وغيره مشركانو ترهنه پري كړي وو) نو هغه هيچانه پيژندو سېوا د هغه خور نه كومې چې د ګوتو په وجه سره و پېژندلو . قَالَ أنس: كُنَّا نَرَى أَوْنَظُنُّ أن هذِهِ الآية نزلت فِيهِ وفي أشباهه، انس ﷺ فرمايي چې موږ ګمان كولو يا به مو ويل چې دا آيت دده او دده په مثل نورو خلكو په شان كې نازل شوی دی ﴿مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللهَ عَلَيْهِ﴾ د مؤمنانو څخه ځيني خلك داسې هم دي چې خپله وعده يې رښتونې كړه، هغه وعده چې دوی د الله ﷻ سره كړې وه "[الأحزاب:۲۳] إِلى آخرها" تر آخره پورې مُتَّفَقٌ عَلَيهِ.

"قوله: لَيُرِيَنَّ اللهُ" روي بضم الياء وكسر الراء: أي لَيُظْهِرَنَّ اللهُ ذٰلِكَ للنَّاس" امام نووي رحمه الله فرمايي: دا قول چې لَيُرِيَنَّ اللّٰـهُ دا په ضم د ياء سره او په كسرې د (ر) سره دی، ددې معنی ده: الله ﷻ به دا كار زما خلكو ته ظاهر كړي. "وَرُوِيَ بفتحهما ومعناه ظاهر" او دا جمله په فتحې د دواړو سره نقل شوې ده او معنی يې ظاهره ده، "والله أعلم" نور الله ﷻ ښه پوهېږي.

لغوي تحقيق:

طعنة: "طعن، طعناً" باب نصر ينصر او د فتح يفتح دواړو څخه په معنی د: نيزې باندې زخمي كولو ته ويل كيږي، او كه مصدر د طعناناً شي، نو بيا ددې معنی دا كيږي: عيب لګول

ببنانه: "البنان" معنی يې ده: د ګوتو بندونه

تشريح: "عن قتال بدر" بدر د يو كلي نوم دی، چېرته چې به هر كال ميله لګېده، كله چې شام ته قافلې تللې، نو په دې كلي به تېرېدلې، دا د مدينې منورې نه اتيا ميله لرې ده، په دې ځای كې مسلمانانو ته لويه فتحه نصيب شوه، "فلما كان يوم أحد" كله چې د احد غزا شروع شوه، (احد) د يو غره نوم دی، د مدينې منورې نه د شمال په طرف تقريباً د يو نيم يا دوه ميله په فاصله پروت دی، په شروع كې مسلمانانو ته څه مشكل پيښ شو، ليكن بيا وروسته الله ﷻ فتحه وركړه.

"اللهم اعتذر إليك مما صنع هؤلاء الخ" اې الله ﷻ كوم څه چې دې صحابه كرامو كړل ددې نه زه ستا په بارګاه كې معذرت كوم، هغه دا چې كوم غشي ويشتونكي صحابه كرام ﷺ نبي كريم ﷺ د غشو ويشتلو لپاره په سنګر كې كېنولي وو، هغوی د غنيمت راجمع كولو لپاره رابښكته شول او سنګر يې خالي پرېښود، يو څو مجاهدين پكې ناست وو چې له امله يې كفارو په بل طرف حمله وكړه او په دې پاتې شويو صحابه كرامو ﷺ يې يرغل وكړو، ددې په نتيجه كې مسلمانانو ته پوره نقصان ورسېده.

د جنت خوشبو راتلل:

"إني لأجد ريحها من دون أحد" د جنت خوشبويي د احد د غره له طرفه محسوسوم، ځينې علماوو ددې حقيقي معنی اخيستې ده او ويلي يې دي چې حقيقتاً هغه ته د جنت خوشبو محسوسېده او ځينو نورو علماوو ددې جملې نه د هغه د شهادت سره مينه او د جنت شوق مراد اخيستی دی، "قال سعد فما استطعت يا

رسول الله ﷺ ما صنع" په يو بل روايت کې دي چې: "فقاتلهم حتى قتل" هغه جنګ وکړو تردې چې شهيد شو "بضعاً وثمانين ضربة بالسيف" د اتياوو نه زيات زخمونه د هغه په بدن وو، د (بضع) اطلاق د درې نه تر نهو پورې کيږي، په دې کې د اتياوو نه تر نهه اتياوو (۸۰/۸۹) پورې احتمال شته چې د هغه په بدن کې زخمونه وو، "إلا أخته ببنانه" د هغه خور د ګوتو له بندونو څخه وپېژندلو، د هغه د خور نوم ځينو محدثينو (ربيع) ښودلی دی، "رجال صدقوا ما عاهدوا الله عليه، كنا نرى أو نظن أن هذه الاية" دا آيت د دوی په څېر خلکو باره کې نازل شوی دی، ددې آيت شان نزول د چا په باره کې شوی دی؟ په دې باره کې د علماوو اختلاف دی ځينو انس بن نضر ﷺ ښودلی دی، ځينو د احد د غزا اويا شهيدان ښودلي دي او ځينو نورو د عقبه ثانيه په موقع باندې هغه اويا صحابه کرام ښودلي دي چې د رسول الله ﷺ سره يې بيعت کړی وو.

د صدقې آيت نازلېدو وروسته د صحابه کرامو حالت

"السادس عشر: عن أبي مسعود عقبة بن عمرو الأنصاري البدري ﷺ، قَالَ" د ابو مسعود عقبه بن عمرو انصاري بدري ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې: "لَمَّا نَزَلَتْ آيَةُ الصَّدَقَةِ كُنَّا نُحَامِلُ عَلَى ظُهُورِنَا" کله چې د صدقې ورکولو آيت نازل شو، نو موږ به په شا باندې بوجونه پورته کول او مزدوري به مو کول، "فَجَاءَ رَجُلٌ فَتَصَدَّقَ بِشَيءٍ كَثِيرٍ، فقالوا مُرَاءٍ" نو يو کس ډېر څه راوړل او د الله ﷻ په لار کې يې صدقه کړل، منافقانو وويل دا خو رياکار دی، "وَجَاءَ رَجُلٌ آخَرُ فَتَصَدَّقَ بِصَاعٍ، فقالُوا: إنَّ اللهَ لَغَنِيٌّ عَنْ صَاعِ هَذَا!" د غه شان بل کس راغلو او هغه د الله ﷻ په لار کې يو صاع خورما صدقه کړې، نو په دې باندې هم منافقانو وويل چې الله ﷻ ته د يو صاع خورما صدقه کولو څه ضرورت دی؟ "فَنَزَلَتْ: ﴿الَّذِينَ يَلْمِزُونَ الْمُطَّوِّعِينَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ فِي الصَّدَقَاتِ وَالَّذِينَ لَا يَجِدُونَ إِلَّا جُهْدَهُمْ﴾" نو دا آيت نازل شو چې ددې ترجمه داسې ده: دا هغه خلك دي چې د زړه له اخلاصه صدقه کوونکو مسلمانانو او غريبانو مزدورانو باندې د صدقې کولو په وجه عيب لګوي [التوبة: ۷۹]. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ بهذا اللفظ البخاري.

"وَنُحَامِلُ: بضم النون وبالحاء المهملة: أي يحمل أحدنا عَلَى ظهره بالأجرة ويتصدق بِهَا" دا قول چې نحامل دی، په ضم د نون سره او په (ح) مهمله سره دی، معنی يې ده: چې موږ به په شا باندې بوجونه پورته کول او مزدوري به مو کول او بيا به مو هغه مال صدقه کولو.

لغوي تحقيق:

نحامل: "حمل حملاً" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: بوج يا پيټی په ملا وړل.

صاع: دا يوه پيمانه ده چې دوه سيره څوارلس چټاکې راځي او د څلورو تولو برابر وي، ددې جمع اصوع او اصوع راځي.

يلمزون: "لمزلمزاً" باب نصر ينصر او ضرب يضرب دواړو څخه راځي، ددې معنی ده: په سترګو اشاره کول، عيب لګول.

تشريح: "لما نزلت آية الصدقة" کله چې د صدقې آيت نازل شو، ددې نه مراد، "خذ من أموالهم صدقةً" دا ايت

دي، "كنا نحامل على ظهورنا" موږ به په خپلو ملاګانو باندې بوجونه او پيټي راوړل، د بخاري شريف په يو بل روايت کې دي: "إنطلق أحدنا إلى السوق" الفاظ راغلي دي، مطلب دا چې د صحابه کرامو سره به چې د صدقې ورکولو لپاره څه نه وو، نو دوی به مزدوري کول او چې په مزدورۍ کې به څه ورته حاصل شول، هغه به يې صدقه کول.

"فجاء رجل فتصدق بشيءٍ كثير" يو کس راغلو او هغه ډېره زياته صدقه راوړه، دا کس عبدالرحمن بن عوف ﷛ وو، عبدالرحمن بن عوف ﷛ څومره صدقه راوړې وه، دې باره کې محدثينو اختلاف کړی دی ځينې وايي چې اته زره، ځينې وايي: څلور زره درهمه او ځينو څلوېښت اوقيې ښودلي ده، "فجاء رجل لم فتصدق بصاع" يو بل کس راغلو او هغه يو صاع صدقه راوړه، دا څوک وو؟ دې باره کې هم اختلاف دی ځينې وايي چې دا عقيل انصاري ﷛ وو، ځينو نورو مختلف نومونه ښودلي دي، هغه ټوله شپه به مزدوري (رېتو ته اوبه) ورکولې چې ددې په بدله کې به ورته يو صاع خورما په لاس ورغله، هغه خورما يې راوړه او د رسول الله ﷺ په خدمت کې به يې وړاندې کړه، نبي کريم ﷺ هغه خورما ترې په ښه مينه واخيسته او د صدقې په ډېرۍ به يې وشيندل

"فقالوا إن الله لغني" منافقانو به ويل: الله ﷻ ستاسو ددې صدقې څخه غني(بې پروا دی، ددې نه معلومه شوه چې څوک داسې کس ته چې زياته صدقه ورکوي هغه ته رياکار وايي او کوم کس چې کمه صدقه ورکوي، هغه باندې رشخند وهي، داسې کس هم د منافقانو په لست کې داخل دی، مؤمنانو ته پکار ده چې د داسې خلکو د رشخند او رياکارۍ نسبت هيڅ پروا ونه ساتي او تر خپله وسه پورې صدقه ورکړي، هيڅ ځان بايد بند نه کړي

"الذين يلمزون المطوعين الخ:" په دې آيت کې، "المطوعين من المؤمنين" څخه مراد عبدالرحمن بن عوف ﷛ دی او د "لايجدون إلا جهدهم" څخه مراد ابو عقيل انصاري ﷛ دی

د راوي عقبة بن عمرو انصاري ﷛ مختصر حالات:

اصل نوم يې عقبه ﷛ دی، کنيت يې ابو مسعود دی، په عقبه ثانيه کې يې اسلام قبول کړو، بدري صحابي دی، هم دغه خبره امام شعبه، امام بخاري او امام مسلم کړې ده، ځينې نورو علماوو فرمايلي دي چې هغه اصلا په بدر کې اوسېدلو، نو ځکه په بدري باندې مشهور شو، د نبوت په زمانه کې او د خليفه ګانو د خلافت په دوره کې په مدينه منوره کې اوسېدلو، د علي ﷛ د خلافت په زمانه کې کوفې ته لاړو، کله چې علي ﷛ جنګ صفين ته روان شو، نو هغه يې خپل نائب امير وټاکلو

وفات: په ۴۰ هجري کې وفات شو، ځينې نور علماء فرمايي چې د امير معاويه ﷛ تر زمانې پورې ژوندی و، خو اولنی قول زيات اصح دی

مرويات: د مروياتو شمېر يې تر ۱۰۲ پورې نقل شوی دی.

الله ﷻ د خپلو بندګانو سره چلند

"الرابع عشر: عن سعيد بن عبد العزيز، عن ربيعة بن يزيد، عن أبي ادريس الخولاني، عن أبي ذر جندب بن جُنادة ﷺ، عن النبيّ ﷺ فيما يروي، عن اللّـٰهِ تبارَكَ وتعالى، أنَّهُ قَالَ" د سعيد بن عبد العزيز نه روايت دی، هغه د ربيعه بن يزيد نه روايت کوي، هغه د ابو ادريس خولاني څخه روايت کوي، هغه د جندب بن جنادة ﷺ څخه، هغه روايت کوي د رسول الله ﷺ څخه، رسول الله ﷺ حديث قدسي بيانوي فرمايي چې الله ﷻ فرمايلي دي: "يَا عِبَادي، إِنِّي حَرَّمْتُ الظُّلْمَ عَلَى نَفْسي" اې زما بندګانو! ما په خپل ځان ظلم حرام کړی دی (يعني زه په چا ظلم نه کوم) "وَجَعَلْتُهُ بَيْنَكم مُحَرَّماً" او دا ظلم مي په تاسو باندې هم حرام کړی دی، (يعني تاسو به هم په يو بل باندې ظلم نه کوئ) "فَلا تَظَالَمُوا" نو ظالمان مه جوړېږئ؛ "يَا عِبَادي، كُلُّكُمْ ضَالٌّ إِلاَّ مَنْ هَدَيْتُهُ فَاسْتَهْدُوني أَهْدِكُمْ" اې زما بندګانو: تاسو ټول بې لارې يئ؛ مګر هغه څوک چا ته چې ما هدايت کړی دی، نو تاسو زما څخه هدايت وغواړئ، زه به تاسو ته هدايت کوم، "يَا عِبَادي، كُلُّكُمْ جَائِعٌ إِلاَّ مَنْ أَطْعَمْتُهُ فَاسْتَطْعِمُوني أُطْعِمْكُمْ" اې زما بندګانو تاسو ټول وږي يئ، مګر چا ته چې زه رزق ورکړم، پس تاسو زما څخه رزق غواړئ، زه به تاسو ته رزق درکوم، "يَا عِبَادي، كُلُّكُمْ عَارٍ إِلاَّ مَنْ كَسَوْتُهُ فَاسْتَكْسُوني أَكْسُكُمْ" اې زما بندګانو! تاسو ټول بربنډ (لوڅ) يئ، مګر چا ته چې زه جامې ورکړم، پس تاسو زما څخه جامې وغواړئ، زه به تاسو ته جامې درکوم. "يَا عِبَادي، إِنَّكُمْ تُخْطِئُونَ بِاللَّيلِ وَالنَّهَارِ وَأَنَا أَغْفِرُ الذُّنُوبَ جَميعاً فَاسْتَغْفِرُوني أَغْفِرْ لَكُمْ" اې زما بندګانو! تاسو ټول د شپې او ورځې خطاګانې او ګناهونه کوئ او زه مو ټول ګناهونه بخښم، پس تاسو زما څخه د ګناهونو بخښنه وغواړئ، زه به تاسو ته ګناهونه درو بخښم، "يَا عِبَادي، إِنَّكُمْ لَنْ تَبْلُغُوا ضَرِّي فَتَضُرُّوني، وَلَنْ تَبْلُغُوا نَفْعِي فَتَنْفَعُوني" اې زما بندګانو تاسو ماته نه څه تکليف رارسولی شئ او نه ماته راحت او ګټه رارسولی شئ! "يَا عِبَادي، لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ" اې زما بندګانو! که چېرته تاسو اول خلک کوم چې تېر شوي دي او آخر خلک انسانان او پيريان، "كَانُوا عَلَى أَتْقَى قَلْبِ رَجُلٍ وَاحِدٍ مِنْكُمْ" دا ټول د يو تقوی دار سړي د زړه په مثل، "مَا زَادَ ذلِكَ في مُلْكي شَيئاً" نو دوی به زما په بادشاهۍ کې ذره برابر زياتوالی نه راولي (يعني که تاسو ټول تقوی دار شئ او ګناهونه نه کوئ؛ نو په دې سره زما بادشاهي نه زياتيږي) "يَا عِبَادي، لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ" اې زما بندګانو! که چېرته تاسو اول خلک کوم چې تېر شوي دي او آخر خلک انسانان او پيريان. "كَانُوا عَلَى أَفْجَرِ قَلْبِ رَجُلٍ وَاحِدٍ مِنْكُمْ" دا ټول جمع شي د يو فاسق او فاجر سړي د زړه په مثل، "مَا نَقَصَ ذلِكَ مِنْ مُلْكي شَيئاً" نو زما په بادشاهۍ کې به ذره برابر کمی نه راځي، "يَا عِبَادي، لَوْ أَنَّ أَوَّلَكُمْ وَآخِرَكُمْ وَإِنْسَكُمْ وَجِنَّكُمْ قَامُوا في صَعِيدٍ وَاحِدٍ فَسَأَلُوني فَأَعْطَيْتُ كُلَّ إِنْسَانٍ مَسْأَلَتَهُ" اې زما بندګانو! که چېرته تاسو اولني او آخرني او انسانان او پيريان وغيره ټول په يو ځای ودرېږئ او بيا زما څخه سوالونه شروع کړئ، نو زه به هر انسان ته د هغه غوښتل شوی شی ورکړم. "مَا نَقَصَ ذلِكَ مِمَّا عِنْدي إِلاَّ كَمَا يَنْقُصُ المِخْيَطُ إِذَا أُدْخِلَ البَحْرَ" دا به کم نه کړي هغه نعمتونه چې زما سره دي، دومره به هم کم نه کړي څومره چې د ګنډلو ستن په سمندر کې ډوبه کړی شي او څومره چې لنده شي او د سمندر نه اوبه کمې شي، "يَا عِبَادي، إِنَّمَا هِيَ أَعْمَالُكُمْ أُحْصِيهَا لَكُمْ" اې زما بندګانو! دا ستاسو

عملونه دي چې ما درته شمار کړي دي، "ثُمَّ أُوَفِّيكُمْ إِيَّاهَا" تاسو ته به د دې عملونو پوره پوره بدله او جزا ملاويږي، "فَمَنْ وَجَدَ خَيْراً فَلْيَحْمَدِ الله" د چا په عملنامه کې چې نېکي وي هغه دي د الله ﷻ ثناء او صفتونه بيان کړي، "وَمَنْ وَجَدَ غَيْرَ ذٰلِكَ فَلَا يَلُومَنَّ إِلَّا نَفْسَهُ" او د کوم کس په عملنامه کې چې زياتې بدي وي، هغه دي خپل ځان ملامته کړي.

"قَالَ سعيد: كَانَ أَبُو ادريس إِذَا حَدَّثَ بهذا الحديث جَثَا عَلَىٰ رُكبتيه" سعيد رحمه الله فرمايي چې کله به دا حديث ادريس خولاني رحمه الله بيانولو، نو په زنګنونو باندې به پرېوتلو. رواه مسلم.

"وروينا عن الإمام أحمد بن حنبل رحمه الله، قَالَ: لَيْسَ لأهل الشام حديث أشرف من هَذَا الحديث" امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمايي چې په احاديثوکې د ټولو نه اشرف او اعلى حديث د شاميانو په نزد هم دا حديث دی، بل حديث د دې په شان نشته.

لغوي تحقيق:

جائع: "جاع جوعاً" باب نصر ينصر دی، د دې معنى ده: لوږه لګېدل.

عار: "عار عورةً" باب سمع يسمع دی، د دې نه هر هغه کار مراد دی چې له امله يې انسان شرمېږي او يا هر هغه اندام چې د انسان په بدن کې چې د هغې په ښکاره کېدو سره پرې شرمېږي.

كسوته: "كسا كسوا" باب نصر ينصر دی، د دې معنى ده: جامې اغوستل.

المخيط: "خاط خيطاً" باب ضرب يضرب دی، د دې معنى ده: جامې ګنډل.

جثاء: "جثا جثواً" او "جثي جيثا" د نصر او ضرب دواړو ښخه راځي، د دې معنى ده: په دواړو زنګنونو باندې کېښناستل.

تشريح "إني حرمت الظلم على نفسي" ما په خپل ځان ظلم بند کړی دی، علامه ابن قيم رحمه الله فرمايي چې د حلال او حرام اطلاق په بنده باندې کېږي، کله چې بنده ته د حرام او حلال نسبت وشي، د لته الله ﷻ ځانته د حرام نسبت کړی دی، د دې معنى دا ده چې الله ﷻ داسې نه کوي چې په چا باندې ظلم وکړي.

"فلا تظالموا" تاسو هم په خپل منځ کې ظلم مه کوئ، دا جمله د مخکې جملې: "جعلته بينكم محرماً" تاکيد دی چې ظلم کول سخته لويه ګناه ده، په دې سره انسان د دوزخ مستحق ګرځي.

"كلكم ضال إلا من هديته" تاسو ټول د شريعت نه وړاندې بې لارې وئ يا د رسول الله ﷺ د راتلو ښخه مخکې بې لارې وئ، الله ﷻ ايمان درکړو او خپل پېغمبران يې راوليږل، د دې لپاره چې د الله ﷻ بندګان د غلطې لارې ښخه سمې لارې ته راولي.

سوال: د دې حديث نه خو معلومه شوه چې انسان اول د حق ښخه لرې وي بيا د پېغمبرانو په ذريعه حق ته غاړه کېږدي چې د دې بالمقابل په بل حديث کې دي چې رسول الله ﷺ فرمايي: "كل مولود يولد على فطرة الإسلام" هر ماشوم چې پيدا کېږي هغه په فطري دين يعنې اسلام باندې پيدا کېږي، ظاهراً به

دې دواړو کې تعارض معلوميږي؟

جواب: "كل مولود" ددې روايت مطلب دا دی چې د هر پيداکيدونکي ماشوم فطري ذوق او طبعيت دا وي چې هغه دين حق قبول کړي، په هم دې وجه دې روايت کې دي چې بيا وروسته مور پلار ئې يهودي، عيسائي يا مجوسي جوړ کړي، ځکه چې هغه دواړه طرفته تللی شي، خو که په خپل حال باندې پرېښودل شي نو خامخا به حق دين قبول کړي، ځکه چې دا د هغه په ذوق او فطرت کې داخل دی. د امام ابو حنيفه رحمه الله مسلك دا دی چې که کوم سړی د غره په څوکه کې پيدا شي او هلته ژوند کوي، تردې پورې چې هغه د توحيد مسئله بيان شوې نه وي، نو بيا هم په هغه باندې واجب دي چې ايمان راوړي، ځکه چې دده په وړاندې ډېر دلائل دي، که هغه وګوري چې دا دومره لوی غرونه، سمندرونه او سيندونه، ونې بوټي او هواګانې چا پيدا کړي دي، خامخا ددې يو پيدا کونکی ذات شته چې هغه الله دی، هم دا مطلب ددې حديث دی چې: "إلامن هديته" مګر دا چې زه هغوی ته هدايت وکړم.

"ياعبادي كلكم جائع": اې زما بندګانو تاسو ټول وږي وئ، مګر دا چې زه چاته خوراك ورکړم، ځکه چې رزق ورکوونکی ذات الله ﷻ دی، په قرآن کې الله ﷻ فرمايي: "وفي السماء رزقكم" ستاسو رزق په آسمان کې دی، دغه شان په بل ځای کې دي: "ومامن دابة في الأرض إلاعلى الله رزقها" نشته د ځمکې پرمخ يو داسې ساه لرونکی چې د هغه رزق په الله ﷻ نه وي، مطلب دا چې د هر چا رزق د الله ﷻ په ذمه دی.

"ياعبادي إنكم تخطئون" اې زما بندګانو! تاسو ټول خطاکار يئ، شپه او ورځ ګناهونه کوئ، زه يې درته معاف کوم، دغه شان په قرآن کريم کې دي: "واستغفرلنا ذنوبنا إناكنا خاطئين".

"أنا أغفر الذنوب" الله ﷻ فرمايي چې ګناهونه خو زه بخښم، ليکن په دې کې يو قانون شته چې هغه شرك او كفر دی، دا درته نه بخښم، بلکه چې کومه ګناه دې زړه غواړي هغه به درته بخښم، "إن الله لا يغفر أن يشرك به ويغفر ما دون ذالك لمن يشاء" الله ﷻ شرك نه بخښي او د شرك نه سيوا چې بله کومه ګناه يې خوښه شي درته بخښي يې.

"يا عبادي انكم تبلغوا ضري": اې زما بندګانو تاسو ټول که سره جمع شي او ماته نقصان رسول وغواړئ؛ نو بيا هم ماته هيڅ نقصان نه شي رسولی، د اهل سنت والجماعت دا عقيده ده چې الله ﷻ ته هيڅوك نقصان يا فايده نه شي رسولی، په الله ﷻ باندې د چا زور نه چليږي، انسان چې څه هم کوي ښه وي او که بد وي، ددې فايده او نقصان صرف انسان ته رسيږي، الله ﷻ ددې ټولو څخه بې نيازه دی، "من عمل صالحاً فلنفسه ومن أساء فعليها".

كانوا على أتقى قلب" که د ټولې دنيا خلك سل په سله مسلمانان او ښه خلك شي، نو بيا هم د الله ﷻ په بادشاهی کې څه زياتی نه راځي، د محدثينو په نزد د "اتقی قلب" نه مراد د نبي کريم ﷺ ذات مبارك دی او د "افجرقلب" څخه شيطان لعين مراد دی، مطلب دا چې که ټوله دنيا د نبي کريم ﷺ په څېر شي او يا ټوله دنيا د شيطان لعين په ډول جوړه شي، نو بيا هم د الله ﷻ په بادشاهی کې څه کمی يا زياتی نه راځي.

"ماتقص ذالك مما عندي" هر سوال کونکي ته به يې ورکړم او د هغه نه نور زيات به هم ورکړم، ليکن بيا هم زما په خزانو کې څه کمی نه راځي، دا به داسې وي لکه په سمندر کې چې يوه ستن دننه کړې او بيرته يې راوباسې، نو ددې ستنې په سر چې څومره اوبه نښتي وي، دومره کمی هم د الله ﷻ په خزانو کې نه راځي، محدثين فرمايي چې حقيقتاً په سمندر کې ستن دننه کول مقصود نه دي، ځکه چې ستن په سمندر کې دننه شي؛ نو د هغې په سر بيا هم اوبه نه وي، خو د الله ﷻ په خزانو کې دومره قدرې کمی هم نه راځي، لکه ددې ستنې په سر پورې چې څومره اوبه وي.

د راوي سعيد بن عبد العزيز رحمه الله مختصر حالات:

اصلاً تابعي دی، قبيله يې تنوخي ده، دمشق کې ستر مفتي وو، امام احمد بن حنبل رحمه الله فرمايي چې د سعيد او اوزاعي په مقابله شوه، دوی به ډېر ژړل، سفيان رحمه الله فرمايي چې ثقه راوي دی

وفات په يو سل اوه شپېته هجري کې د اتيا کالو په عمر کې وفات شو، په سنن اربعه او مسلم شريف کې يې مرويات نقل دي

ددې حديث بل راوي ربيعه بن يزيد رحمه الله مختصر حالات:

کنيت يې ابو شعيب دی، د دمشق ستر مفتي و، خلکو به ويل چې دی د خپلې زمانې مکحول رحمه الله نه زيات مفتي دی

وفات په يو سل دولس هجري کې وفات شو، په صحاح سته کې ترې روايات نقل دي

ددې حديث بل راوي ادريس خولاني رحمه الله مختصر حالات:

د هغه په باره کې اسماء الرجال علماء فرمايي چې دا د غزوه حنين په ورځ پيدا شوی وو، خپل نوم يې عائذ الله وو، امير معاويه رضي الله عنه د دمشق والي جوړ کړو، د شام ستر عالم وو

وفات په اتيايمه هجري کې وفات شو، په صحاح سته کې ترې روايات نقل دي

باب الحث على الازدياد من الخير في أواخر العمر

دولسم باب: په آخري وخت کې ښکو عملونو باندې تيزي پکار ده

"قَالَ اللهُ تَعَالٰى" الله ﷻ فرمايي چې: ﴿أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَنْ تَذَكَّرَ﴾ "آيا ما تاسو ته دومره عمر ژوند نه وو درکړی چې که څوک نه مو پوهول نو ښه پکې پوهېدی شوی، "وَجَاءَكُمُ النَّذِيرُ" او تاسو ته پيغمبر ﷺ هم رالېږل شوی و، [فاطر: ۳۷] "قَالَ ابنُ عَبَّاسٍ وَالمُحَقِّقُونَ" ابن عباس رضي الله عنهما او محققين فرمايي چې: "مَعْنَاهُ أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ سِتِّينَ سَنَةً؟" آيا ما تاسو ته شپېته کاله عمر نه وو درکړی؟ "وَيُؤَيِّدُهُ الحَدِيثُ الَّذِي سَنَذْكُرُهُ إِنْ شَاءَ اللهُ تَعَالٰى" او ددې خبرې تائيد په يو حديث سره هم کيږي چې موږ به يې ان شاء الله وروسته ذکر کړو، "وَقِيلَ: مَعْنَاهُ ثَمَانِيَ عَشْرَةَ سَنَةً" او چا ويلي دي چې ددې معنی ده اتلس کاله، "وَقِيلَ: أَرْبَعِينَ سَنَةً، قَالَهُ الحَسَنُ وَالكَلْبِيُّ وَمَسْرُوقٌ وَنُقِلَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَيْضاً" او چا ويلي دي چې ددې معنی ده: څلوېښت کاله، دا خبره

حسن او كلبي او مسروق رحمهم الله وغيره كړې ده او د ابن عباس رضي الله عنهما نه داسې نقل شوي دي "وَنَقَلُوا أَنَّ أَهْلَ الْمَدِينَةِ كَانُوا إِذَا بَلَغَ أَحَدُهُمْ أَرْبَعِينَ سَنَةً تَفَرَّغَ لِلْعِبَادَةِ" او داسې هم نقل شوي دي چې د مديني خلك به كله ځلوېښتو كالو ته ورسېدل، نو هغوی به خپل ځانونه د الله ﷻ عبادت ته فارغ كړل، دنيوي كارونه به يې پرېښودل، "وقيل: هُوَ الْبُلُوغُ" او ځينې وايي چې ددې څخه مراد بلوغ دی، يعنې كله چې سړی بالغ شي، "وقوله تعالى" او دا قول د الله ﷻ چې "وَجَاءَكُمُ النَّذِيرُ" راغلو تاسو ته وېروونكی، "قَالَ ابن عباس والجمهور: هُوَ النَّبِيُّ ﷺ" عبد الله بن عباس رضي الله عنهما او جمهور فرمايي چې ددې نه مراد نبي اكرم ﷺ دی، "وقيل: الشَّيْبُ، قَالَهُ عِكْرِمَةُ وَابْنُ عُيَيْنَةَ وغيرهما. والله أعلم" او ځينې وايي: ددې نه مراد بوډاتوب دی، دا قول د عكرمه رحمه الله او ابن عيينه رحمه الله وغيرهما دی، الله ﷻ ډېر ښه پوهېږي.

تشريح: "قال ابن عباس رضي الله عنهما والمحققون معناه أولم نعمركم ستين سنة" ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې د محققينو په نزد ددې نه شپېته كاله مراد دي، همدغه خبره ابن جرير رحمه الله او طبراني رحمه الله هم كړې ده، ددې نه وروسته روايت هم ددې تائيد كوي، د حسن بصري رحمه الله، مسروق رحمه الله او كلبي رحمه الله څخه روايت دی چې ددې نه مراد ځلوېښت كاله دي، په يو بل روايت كې د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه هم دغه ځلوېښت كاله نقل دي.

علامه قرطبي رحمه الله فرمايي چې ابن مالك رحمه الله فرمايي: موږ په خپلو ښارونو كې علماء لېدلي دي چې هغوی به تر ځلوېښتو كالو پورې په علم حاصلولو او كاروبارونو كې مشغول وو، كله چې به يې د عمر ځلوېښتم كال شروع شو، نو دا هر څه به يې پرېښودل او په الله الله ويلو كې به مشغول شو.

"قيل هو البلوغ": ځينو ترې د بلوغ عمر مراد كړی دی، د بلوغ عمر د امام شافعي رحمه الله او صاحبينو په نزد پنځلس كاله دی او د امام ابوحنيفه رحمه الله په نزد اتلس كاله دی، په هغه وخت كې چې د بلوغ نخښه پكې ونه موندل شي.

"نذيراً": د جمهورو: عبد الله بن عباس رضي الله عنهما او داسې نورو علماوو په نزد ددې څخه مراد د نبي كريم ﷺ ذات مبارك دی، د عكرمه او ابن عيينه رحمه الله په نزد ددې نه بوډاتوالی مراد دی، هغه چې انسان ترې سخته وېره كوي، ددې نه وروسته خو مرګ دی، ځكه چې دوباره ځواني نه وي.

د راوي حسن بصري رحمه الله مختصر حالات:

د حسن بصري رحمه الله پوره نوم ابو سعيد الحسن بن ابي الحسن يسار بصري دی، د زيد بن ثابت رضي الله عنه يا جميل بن قطبه آزاد شوی غلام دی، د مور نوم يې خيره ده، د ام سلمه رضي الله عنها آزاد كړل شوې وينځه وه، حسن بصري رحمه الله ډېرو صحابه كرامو رضي الله عنهم زيارت كړی دی، ابن المديني رحمه الله فرمايي چې كه د حسن رحمه الله مرسلات د ثقه راويانو څخه روايت شوی وي؛ نو هغه به صحيح وي، دغه شان امام ابو زرعه رحمه الله هم فرمايي.

وفات: وفات يې په يوولس سوه لسم هجري كې شوی دی.

د کلبي رحمة الله عليه مختصر حالات:

پوره نوم يې ابو النضر محمد بن سائب بن بشر بن عمرو بن عبد الحارث دی، د کوفې اوسېدونکی وو، په تاريخ، انساب او تفسير کې يې مهارت درلود، اهل علم ورباندې سخته جرحه کړې ده. امام احمد رحمة الله عليه فرمايي چې د امام کلبي تفسير کتل جائز نه دي، دغه شان حافظ ذهبي رحمة الله عليه هم فرمايي چې: "لايصح ذکره في الکتاب فيکف الاحتجاج به" دده يادونه په کتابونو کې هم صحيح نه ده، نو د هغه څخه په استدلال څنګه صحيح شي.

وفات: په يو سل شپږ څلوېښت هجري کې وفات شوی دی.

د مسروق رحمة الله عليه مختصر حالات:

نوم يې مسروق ؤ، کنيت يې ابو عائشه او د پلار نوم يې اجدع وو، بيا يې وروسته عبد الرحمن نوم کېښود، د ابو بکر صديق رضي الله عنه په زمانه خلافت کې يې اسلام قبول کړو، د يمن اوسېدونکی وو، په مشهور جنګ قادسيه کې يې شرکت کړی وو، د عائشې رضي الله عنها، عبد الله بن مسعود رضي الله عنه، عثمان رضي الله عنه، علي رضي الله عنه، معاذ بن جبل رضي الله عنه او د زيد بن ثابت رضي الله عنه څخه يې علم حاصل کړی دی.

وفات: په درې شپېته هجري کې وفات شو.

ددې حديث بل راوي عکرمه رحمة الله عليه مختصر حالات:

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما غلام وو، حصين بن ابي بحر عنبري عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ته د ډالۍ په توګه ورکړی ؤ، ابن عباس رضي الله عنهما هغوی ته ډېر زيات په خوارۍ سره علم ورښودلی وو، هغه د علي رضي الله عنه، ابو هريره رضي الله عنه، ابن عمر رضي الله عنهما او د ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه علم حاصل کړی دی، هغوی رحمة الله عليه پوره څلوېښت کاله د علم په حصول کې تېر کړي دي.

امام شعبي رحمة الله عليه فرمايي چې عکرمه رحمة الله عليه د خپلې زمانې ستر عالم او مفتي ؤ، کله چې هغه وفات شو، نو خلکو وويل چې: "تات افقه الناس واشعر الناس" نن تر ټولو تکړه مفتي او ښکلي شاعر وفات شو.

د سفيان بن عيينه رحمة الله عليه مختصر حالات:

سفيان بن عيينه رحمة الله عليه د غلام خاندان سره تعلق ساتلو، د پلار نوم يې عيينه او د نيکه نوم يې ابو عمران ميمون وو، په کوفه کې پيدا شوی وو، په يو سل اومه هجري کې د اوه/۷ کالو په عمر کې د قرآن کريم حافظ شو، څنګه چې د قرآن کريم د حفظ څخه فارغ شو، نو د علم دين په حصول کې يې ځان مصروف کړو، د هغه په باره کې خطيب بغدادي رحمة الله عليه فرمايي چې هغه خپله فرمايل "ماکتبت شيئا فقط الا حفظته" ما چې به څه ليکل هغه به زما په حافظه کې پراته وو، ويل کيږي چې "مافي أصحاب الزهري أتقن من ابن عيينه رحمة الله عليه" د امام زهري رحمة الله عليه په شاګردانو کې د ابن عيينه رحمة الله عليه نه زيات قابل اعتماد بل نه وو، امام احمد رحمة الله عليه فرمايي چې په قرآن کريم باندې زيات پوهېدو، په قرآن پوهنه کې مې د هغه څخه زيات بنه عالم څوک نه دی ليدلی.

وفات: وفات یې په یو سل اته نوي؛ ۱۹۸ هجري کې په حرم شریف کې وشو، د جیحون په هدیره کې دفن کړی شو.

د شپېتو کالو وروسته هیڅ عذر نه پاتې کیږي

"وأما الأحاديث فالأول: عن أبي هريرة ﷺ، عن النبيّ ﷺ، قَالَ" هر چې احادیث دي؛ نو اولنی حدیث د ابو هریره ﷺ دی، هغه فرمایي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: "أَعْذَرَ اللهُ إِلَى امْرِءٍ" الله ﷻ د هغه سړي عذر ختم کړو، "أَخَّرَ أَجَلَهُ حَتَّى بَلَّغَهُ سِتِّينَ سَنَةً" د کوم سړي نیته چې مرګ دومره وروسته کړي چې د دغه سړي عمر تر شپېتو کالو پورې ورسیږي. "رواه البخاري".

"قَالَ العلماء: معناه لَمْ يَتْرُكْ لَهُ عُذْراً إِذْ أَمْهَلَهُ هذهِ المُدَّةَ" علماء فرمایي چې ددې مطلب دا دی: هغه ته هیڅ عذر نه پاتې کیږي، هر کله چې هغه ته تر دومره مودې پورې مرګ رانشي چې شپېتو کالو ته ورسیږي. "يقال: أَعْذَرَ الرجُلُ إِذَا بَلَغَ الغايَةَ فِي العُذْرِ" بیا دا مقوله ویل کیږي چې د هغه عذر یې ختم کړو، کله چې هغه په عذرختمولو کې ورته نهایي درجې ته ورسیږي.

لغوي تحقیق:

أعذر: "أعذر أعذارا" باب افعال دی، ددې معنی ده: معذور او مجبور کښل.

أجل: "ددې معنی ده: وخت او موده، جمع یې "آجال" راځي.

تشریح أعذر الله إلى امرء: الله ﷻ د انسان معذوري او مجبوري پیژني، کله چې انسان د شپېتو کالو شي؛ نو انسان نه شي ویلی چې ارمان؛ زما عمر ډېر وی، نو داسې به مې کړي وو او داسې به مې کړي وو.

محدثین فرمایي چې ددې حدیث مطلب هم دا دی چې الله ﷻ د اتمام حجت څخه بغیر انسان ته سزا نه ورکوي، د شپېتو کالو عمر ته چې انسان ورسیږي، نو په هغه باندې د الله ﷻ حجت قائم شو، بله خبره دا هم ده چې د شپېتو کالو نه وروسته باید انسان نور د ګناهونو څخه په پوره توګه ځان وساتي، ځکه چې په ظاهره کې دده د مرګ وخت بیخي نږدې دی، په دې عمر کې چې هم څوک د ګناه او فسق مرتکب شو، نو بیا دي الله ﷻ وبخښه، ددې حدیث خلاصه دا ده چې د شپېتو کالو وروسته نور خپل خدای یاد کړه؛ ګناهونه پرېږده او خپل رب راضي کړه.

کله چې انسان شپېتو کالو ته ورسیږي:

انسان چې د شپېتو کالو شي، نو داسې شوه چې هغه خپل عمر ختم کړو، په یو روایت کې دي چې "أعمار أمتي ما بين ستين إلى سبعين وأقلهم من يجوز ذالك" زما د امت ژوند به د شپېتو څخه تر اوویا پورې وي، ډېر کم خلك به وي چې ددې نه به زیات عمر تېر کړي

د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فضيلت

"الثاني: عن ابن عباس رضى الله عنهما، قَالَ: كَانَ عمر رضي الله عنه يُدْخِلُنِي مَعَ أَشْيَاخِ بَدرٍ فكأنَّ بَعْضَهُمْ وَجَدَ فِي نفسِهِ" دابن عباس رضي الله عنهما روايت دی، فرمايي چې عمر رضي الله عنه به زه د مشرانو صحابه كرامو په ډله كې كېنولم، هغه چې د بدر په جهاد كې به شريكان وو، په دې مشرانو كې ځينو دا خبره خوښه نه كړه چې زه ماشوم يم او د دوی سره ناست يم، "فَقَالَ: لِمَ يَدْخُلُ هَذَا معنا ولنا أَبْنَاءٌ مِثْلُهُ؟" نو په دوی كې يو كس دا خبره وكړه چې ولې ته دا كس زموږ سره كېنوې، حال دا چې دده په عمر زموږ خپل بچيان هم شته؟ "فَقَالَ عُمَرُ: إِنَّهُ مَنْ حَيْثُ عَلِمْتُمْ!" په دې خبره عمر رضي الله عنه وفرمايل چې ابن عباس رضي الله عنهما هم د هغه خاندان نه يو كس دی د كوم خاندان نه چې تاسو علم حاصلوئ! "فَدَعَانِي ذَاتَ يَوْمٍ فَأَدْخَلَنِي مَعَهُمْ فَمَا رَأَيْتُ أَنَّهُ دَعَانِي يَوْمَئِذٍ إِلَّا لِيُرِيَهُمْ" نو زه يې يوه ورځ راوبللم او د دوی سره يې كېنولم، زما دا خيال نه وو چې ددې لپاره مې رابولي چې دوی ته معلومه كړي چې زه د عمر په لحاظ كشر يم، ليكن د علم په لحاظ پوه يم، خو حقيقت هم دغه وو. "قَالَ: مَا تَقُولُونَ فِي قول الله: ﴿إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ﴾؟ [الفتح:]" عمر رضي الله عنه وفرمايل چې تاسو ددې آيت په باره كې څه وايئ، **ترجمه** يې دا ده: "كله چې راشي مدد د الله تعالى او فتح حاصله شي". "فَقَالَ بعضهم: أُمِرْنَا نَحْمَدُ اللَّهَ وَنَسْتَغْفِرُهُ إِذَا نَصَرَنَا وَفَتَحَ عَلَيْنَا" ځينو مشرانو وويل: ددې مطلب دادی چې الله جل جلاله موږ ته امر كوي چې كله درته فتح او مدد د الله جل جلاله له طرفه حاصل شي؛ نو زما حمد او ثناء بيانوئ او زما څخه بخښنه وغواړئ؛ "وَسَكَتَ بَعْضُهُمْ فَلَمْ يَقُلْ شَيْئاً" او ځينې يې بېخي چوپ پاتې شول، هيڅ يې هم ونه ويل "فَقَالَ لِي: أَكَذَلِكَ تَقُولُ يَا ابْنَ عَبَّاسٍ؟" بيا ماته عمر رضي الله عنه وفرمايل: اې ابن عباس رضي الله عنهما ته هم داسې وايې؟ "فَقُلْتُ: لَا. قَالَ: فَمَا تَقُولُ؟" ما ورته وويل: نه، هغه راته وويل: بيا نو ته ددې آيت په باره كې څه وايې؟ "قُلْتُ: هُوَ أَجَلُ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ أَعْلَمَهُ لَهُ" ما وويل چې په دې آيت كې رسول الله ﷺ ته الله جل جلاله د هغه د نيتې په باره كې خبرتيا وركوي كومه چې الله جل جلاله هغه ﷺ ته ښيې، "قَالَ: ﴿إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ﴾ وذلك علامة أجلك" الله جل جلاله فرمايي چې كله د الله جل جلاله له لورې مدد او كاميابي راشي؛ نو د نړۍ څخه به ستا د رخصتېدو علامه وي، ﴿فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّاباً﴾ پس پاكي بيانوه په ثناء د رب خپل او بخښنه غواړه د خپل رب نه، بې شكه الله جل جلاله توبه قبلونكی ذات دی. "فَقَالَ عمر رضي الله عنه: مَا أَعْلَمُ مِنْهَا إِلَّا مَا تَقُولُ" عمر رضي الله عنه چې دا واورېدل نو وې فرمايل: ددې نه بغير بله خبره ماته هم نه ده معلومه. "رواه البخاری".

لغوي تحقيق:

أشياخ: جمع د "شيخ" ده، "شاخ، شيخاً، شيخوخة" باب ضرب يضرب دی، د ډېر عمر سړی، بوډا توب، سپين ږيرتوب.

أبناء: جمع د "ابن" ده، بچي ته وايي

ذات يوم: ذات لفظ د (ذو) مؤنث دی، تثنيه يې ذواتان راځي، جمع يې ذوات راځي، دده او د

تثنيې او د جمع اعراب يې د مفرد، تثنيې او جمع سره مشابه دی، ويل کيږي چې: "لقيته ذات يوم أو ذات ليلة أو ذات مرة".

تشريح "يدخلني مع أشياخ" زه به يې د هغو صحابه کرامو سره په مجلس کې شريکولم چې په بدر کې جنګېدلي وو، عمر ﷛ به عبد الله بن عباس ﷟ د هغو مشرانو او کبارو صحابه کرامو سره په مجلس کې کېنولو چې د بدر او نورو مختلفو غزاګانو کې به شريك شوي وو او کوم چې اهل شورى او ډيان عمر والا کسان وو، "فكأن بعضهم وجد في نفسه" په دې صحابه کرامو کې ځينو صحابه کرامو دا خبره خوښه نه کړه چې عبد الله بن عباس ﷟ دې زمونږ سره په مجلس کې کيني، د ابن نحوي ﷫ په قول ددې نه مراد عبدالرحمن بن عوف دی، لکه د بخاري په يو روايت کې ددې تصريح هم شته.

"إنه من حيث علمتم" عمر ﷛ وفرمايل: د ابن عباس ﷟ مرتبه او مقام تاسو ته معلوم نه دی. په يو بل روايت کې دي "قال المهاجرون لعمر ألا تدعوا أبنائنا كما تدعوا ابن عباس ﷟؟ قال ذاكم فتى الكهول أن له لسانا سؤولا وقلبا عقولا فما رأيت أنه دعاني يومئذ إلا ليريهم" عمر ﷛ زه ددې لپاره راوغوښتلم چې دوی ته زما حيثيت او علميت وښيي.

د ابن سعد ﷫ په يو روايت کې دي چې: "أما إني سأريكم اليوم منه تعرفون به فضله، ذالك علامة أجلك" په دې آيت کې د نبي کريم ﷺ د وفات خبر ورکول شوی دی، په دې وجه ځينو مفسرينو دې سورت ته سورة التوديع نوم ورکړی دی، يعنې د رخصتېدو رخصت، ددې سورت د نازلېدو وروسته تقريباً اتيا ورځې وروسته نبي کريم ﷺ د نړۍ څخه پناه شو.

په دې سورت کې دې طرفته اشاره ده چې کوم مقصد ته رسول الله ﷺ رالېږل شوی ؤ، هغه مقصد اوس پوره شو، "ما أعلم منها إلا ما تقول" زما هم دغه خيال دی کوم چې ته فرمايې، د مسند احمد په يو روايت کې ددې په مقابل کې نور الفاظ راغلي دي: "كيف تلومونى على ما ترون" ددې روايت نه معلومه شوه چې د انسان عزت او مرتبه د عمر په لحاظ سره نه ده، بلکې د علم او عقل په لحاظ سره ده.

فكم من صغير لاحظته عناية من الله فاحتاجت إليه الأكابر

دوفات نه لږ وړاندې د رسول الله ﷺ عادت

"الثالث: عن عائشة رضى الله عنها، قالت: مَا صلَّى رَسُولُ اللهِ ﷺ صلاةً بعْدَ أنْ نَزَلَتْ عَلَيهِ: ﴿إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ﴾، إلاَّ يقولُ فِيهَا" د عائشې ﷞ نه روايت دی، فرمايي چې د سورة "إذا جاء نصر الله" د نزول وروسته رسول الله ﷺ يو لمونځ هم داسې نه دی کړی چې هغه به دغه دعاء په لمانځه کې نه ويل، "سُبْحَانَكَ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي" **ترجمه**: اې الله! تا لره پاکي ده، اې الله! تا لره صفتونه دي، اې الله! ما وبخښې. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ.

"وفي رواية في الصحيحين عنها" او په صحيحنو کې د عايشې ﷞ نه روايت نقل شوی دی چې: "كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يُكْثِرُ أنْ يَقُولَ في رُكُوعِهِ وسُجُودِهِ" نبي اکرم ﷺ به په قرآني حکم باندې د عمل لپاره "إذا جاء نصر الله" ويلو، ددې نه پس به رسول الله ﷺ خپله رکوع او سجده کې دا دعا ډېره زياته لوستل: "سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ،

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِي" ترجمه: اې الله! تا لره پاکي ده، اې الله! تالره صفتونه دي، اې الله! ما وبخښې! "يَتَأَوَّلُ الْقُرْآنَ"
معنی: يَتَأَوَّلُ الْقُرْآنَ، أي يعمل مَا أُمِرَ بِهِ في القرآن في قوله تعالى: د يتأول القرآن" معنی دا ده چې په هغه څه به يې عمل
کولو کوم څه چې به الله ﷻ ورته په قرآن کريم کې فرمايل. لکه په دې آيت کې چې دي: ﴿فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ
وَاسْتَغْفِرْهُ﴾ اې پېغمبره ﷺ! ته د خپل رب پاکي بيان کړه او د خپل رب څخه بخښنه وغواړه!
"وفي رواية لمسلم: كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يُكْثِرُ أَنْ يَقُولَ قَبْلَ أَنْ يَمُوتَ" او د مسلم په روايت کې دي چې رسول الله ﷺ به د
وفات څخه مخکې دا دعاء ډېره لوستل: "سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ" اې الله! تالره پاکي ده،
اې الله! تالره صفتونه دي، زه ستا نه بخښنه غواړم او زه تا ته توبه وباسم، "قَالَتْ عَائِشَةُ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ مَا
هٰذِهِ الْكَلِمَاتُ الَّتِي أَرَاكَ أَحْدَثْتَهَا تَقُولُهَا؟" عائشه رضي الله عنها فرمايي چې ما وويل: اې د الله رسوله! تا سو زه په نوي
کلماتو باندې وينم چې ډېري زياتې يې وايي دا کومې کلمې دي؟ قَالَ: "جُعِلَتْ لِي عَلَامَةٌ فِي أُمَّتِي إِذَا رَأَيْتُهَا قُلْتُهَا"
نبي اکرم ﷺ وفرمايل: زما لپاره يوه نخښه مقرر شوې ده، زما په امت کې چې کله زه هغه نخښه
ووينم، نو ددغو کلماتو وظيفه به کوم، هغه نخښه دا ده: ﴿إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ﴾ اې پېغمبره ﷺ! ته د خپل
رب پاکي بيان کړه او د خپل رب نه بخښنه وغواړه! "إِلَى آخِرِ السُّورَةِ".
"وفي رواية له: كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يُكْثِرُ مِنْ قَوْلِ: سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ أَسْتَغْفِرُ اللهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ" او د مسلم په يو روايت کې دا هم
راغلي دي چې رسول الله ﷺ به دا کلمات ويل: "سبحان الله وبحمده أستغفر الله وأتوب اليه، قَالَتْ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ
أَرَاكَ تُكْثِرُ مِنْ قَوْلِ سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ أَسْتَغْفِرُ اللهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ؟" عائشه رضي الله عنها فرمايي ما ورته وويل: اې د الله رسوله! زه
تا سو وينم چې د ا کلمات ډېر زيات وايئ، "سبحان الله وبحمده أستغفر الله وأتوب اليه؟ فَقَالَ: أَخْبَرَنِي رَبِّي أَنِّي سَأَرَى عَلَامَةً
فِي أُمَّتِي فَإِذَا رَأَيْتُهَا أَكْثَرْتُ مِنْ قَوْلِ: سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ أَسْتَغْفِرُ اللهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ فَقَدْ رَأَيْتُهَا" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: ما ته الله ﷻ
ښودلې ده چې نږدې وخت کې به په خپل امت کې يوه نخښه وويني، کله چې تا سو هغه علامه ووينئ
نو دا کلمات ډېر ډېر وايئ او ما هغه علامه ليدلې ده، هغه دا سورت دی: ﴿إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ﴾ د مکې
فتح چې کله راشي، نو دا خپله د الله تعالى له لورې مرسته او کاميابي ده، ﴿وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ
اللهِ أَفْوَاجًا، فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا﴾ ته به ووينې چې خلک به د الله ﷻ په دين کې ډلې ډلې
داخلېږي، نو پس په ثناء سره د خپل رب پاکي بيانوه او د خپل رب نه بخښنه غواړه، بې شکه الله ﷻ
توبه قبلونکی دی".

لغوي تحقيق:

يكثر: "كثر يكثر كثرة" باب كرم يكرم دی معنی يې ده: کثرت او زياتوالی او که د ضرب يضرب
باب شي، نو معنی يې: کثرت دی، بيا ددې معنی په کثرت سره غالب کېدل مراد دي
يتأول: "تأول تأولاً" باب تفعل دی، ددې معنی ده: د کلام تفسير کول
علامة: "العلامة" ددې معنی ده: نخښه او نشان.

أخبرني: "خبره واخبره"، ددې معنى ده: كوم كس د كومې خبرې يا كار متعلق خبرول.

أفواجاً: "الفوج" ددې معنى ده: جماعت او ډله.

د سورت النصر نازلېدو وروسته د رسول الله ﷺ عادت:

تشريح: ددې ټولو روايتونو خلاصه دا ده چې: كله انسان په ځان باندې پوه شي، نو ر بايد مرګ ته تيارى وكړي، زيات وخت دې تسبيح، تهليل او تكبير وايي، لكه څنګه چې په رسول الله ﷺ باندې سورت النصر نازل شو، نو بيا به يې په كثرت سره دا ذكر كولو: "سبحانك ربنا وبحمدك اللهم اغفرلي، سبحانك اللهم وبحمدك استغفرك واتوب اليك او سبحان الله وبحمده استغفر الله واتوب اليه" د ابو هريره ؓ په روايت كې دي چې سورت النصر نازلېدو نه وروسته رسول الله ﷺ دومره زيات عبادت شروع كړو چې په پښو كې به يې پړسوب پيدا شو.

استغفار ويل د كومې ګناه وغيره له وجې نه وي بلكې د درجاتو د اوچتولو لپاره وي يا امت ته يې تعليم وي چې زه معصوم يم خو بيا هم دومره مجاهده كوم او استغفار وايم، نو امت خو خطاء كار دى، ګناهګار دى، دوى ته خو پكار ده چې زيات وخت د الله ﷻ څخه د خپلو ګناهونو بخښنه وغواړي او سهار، ماښام استغفر الله، سبحان الله، الحمد لله او اللهم اغفرلي ووايي.

نبي كريم ﷺ باندې د وفات كېدو نه مخكې د وحى كثرت

"الرابع: عن أنس ؓ، قَالَ: إِنَّ اللَّـهَ ﷻ تَابَعَ الوَحيَ عَلَى رسولِ الله ﷺ قَبلَ وَفَاتِهِ" انس ؓ فرمايي چې د رسول الله ﷺ د وفات څخه مخكې يې پې درپې په نبي كريم باندې ﷺ وحي را ولېږل. "حَتَّى تُوُفِّيَ أكْثَرَ مَا كَانَ الوَحْيُ" تردې پورې چې رسول الله ﷺ وفات شو. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ.

لغوي تحقيق:

تابع: "تبع تبعاً" باب سمع يسمع دى، ددې معنى ده: په چا پسې وروسته تلل، مسلسل كار كول.

الوحى: "وحى وحياً" باب ضرب يضرب دى، ددې معنى ده: پيغام رسول، اشاره كول. ليكل شوى پيغام، انبياء ته وحي لېږل.

تشريح "أكثر ماكان الوحى عليه" د ژوند په آخري پړاو كې په رسول الله ﷺ باندې وحى د مخكې په نسبت زياته نازلېدل، ددې وجې ځينو علماوو دا ښودلې ده چې په آخري وختونو كې به ډېر خلك را تلل او مسلمانېدل، ددې خلكو د ډېرو سوالونو په وجه به زيات حكمونه نازلېدل يا دا چې په آخري وخت كې د الله ﷻ سره قربت زيات شوى وو، په دې وجه زياته وحى نازلېدل او يا په دې وجه چې د دنيا او آخرت هغه كارونه چې پېغمبرانه فرائضو ته شامل وي، (مثلاً جنت ته د داخلېدو ذريعه او هغه كارونه چې سړى بري د جنت مستحق ګرځي، دغه شان هغه كارونه چې جهنم ته د داخلېدو ذريعه وي، انسان د هغې څخه ځان وساتي يا د جهاد، حج، روژې، لمونځ وغيره احكامات يا د آخرت سره چې كوم څه تړلي دي د هغې بيان، نو د هغې تكميل يې وكړو، ددې لپاره چې د ډېر ته راتلونكو خلكو لپاره پكې رهنمايي پراته وي

انسان چې په کوم حالت کې مړ شي په همغه حالت کې به راپاځي

"الخامس: عن جابر ﷺ، قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ" د جابر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي "يُبْعَثُ كُلُّ عَبْدٍ عَلَى مَا مَاتَ عَلَيهِ" د قيامت په ورځ به هر يو کس هغه حالت کې پاځي په کوم حالت کې چې هغه مړ شوی وي". رواه مسلم.

لغوي تحقيق:

يبعث: "بعث بعثاً" باب فتح يفتح، ددې معنی ده: لېږل، لېږل.

مات: "مات موتاً" باب نصر ينصر دی، مړ کېدل اور مړ کول.

تشريح: ددې حديث مشابه يو بل حديث هم دی چې هغه د "إنما الأعمال بالخواتيم" قريب قريب معنی لري، په دې دواړو کې اشاره ده دې ته چې انسان ته پکار ده په نېکو کارونو کې ځان مشغول کړي، که مرګ ورته راشي نو په داسې حالت کې به وي چې چېرته په کوم نېک کار کې مشغول شي، ددې لپاره چې په نېکو خلکو کې راپاځي، ددې برعکس که په بد عمل کې مشغول شي؛ نو که مرګ ورته راغلو، نو خراب حالت به يې هم وي او حشر به يې هم د بدو خلکو سره کېږي، بيا بالخصوص په بوډاتوب کې خو ځان بالکل د حرامو او ناجائزو کارونو څخه ساتل پکار دي، ځکه چې د مرګ پته نه لګيږي، هر وخت به انسان باندې راتلی شي، مصنف رحمه الله دا باب يعنې (الحث على الازدياد من الخير في أواخر العمر) په دې حديث ختم کړی دی چې: "يبعث كل عبد على ما مات عليه" په دې کې دې خبرې ته اشاره ده چې که دا اخرينی حديث خاتمه مخې ته کېښودلی شي نو د انسان خاتمه به ان شاء الله ښه وي. نسئل الله تعالى أن يرزقنا حسن الخاتمة.

باب في بيان كثرة طرق الخير

ديارلسم باب: د نېکو عملونو ډېرې لارې دي

"قَالَ اللهُ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې: ﴿وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللهَ بِهِ عَلِيمٌ﴾ او تاسو چې د نيکئ کوم کار کوئ الله ﷻ په هغې باندې خبردار دی. [البقرة: ۲۱۵] "وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې: ﴿وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ اللهُ﴾ او تاسو چې د نيکئ کوم کار کوئ الله ﷻ هغه پېژني. [البقرة: ۱۹۷] "وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې: ﴿فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ﴾ او کوم کس چې د نيکئ عمل وکړي اګر چې هغه د يوې ذرې برابر هم وي هغه نېک عمل به هغه ويني. [الزلزلة: ۷]

تشريح د خير نه مراد هغه خير دی چې شرعاً معتبر وي، د ايمان څخه بغير نيکي معتبره نه ده، ځکه چې د ايمان نه بغير هيڅ نېک عمل نېک نه دی، يعنې په آخرت کې به ددې هيڅ قسم بدله نه شي ورکولی. الله ﷻ کافر ته د نيکی بدله په دې دنيا کې ورکوي، ددې آيت نه علماوو استدلال کړی دی چې د کوم سړي په زړه کې ذره برابر ايمان وي هغه بالاخره جنت ته داخليږي، ځکه چې ايمان نه صرف يوه نيکي ده، بلکې يوه لويه سرمايه ده چې انسان بالاخره د ابدي جهنم نه پرې خلاصېدلی شي، ځکه چې که

هغه همېش په جهنم کې وي؛ نو ددې نیکۍ بدله به کله ووینې؟ نو ځکه به بالاخره د جهنم نه راوځي او چې بېرته جنت ته داخل شي نو بیا به هیڅکله د جنت څخه نه وځي، دغه مضمون په ګڼ شمېر حدیثونو کې موجود دی.

"وَقَالَ تَعَالَىٰ" الله جل جلاله فرمایي چې: ﴿مَنْ عَمِلَ صَالِحاً فَلِنَفْسِهِ﴾ کوم کس چې نېک عمل کوي نو د خپل ځان د فایدې لپاره یې کوي. [الجاثية: ۱۵] والآيات في الباب كثيرة په دې باب کې زیات ایتونه دي.

تشریح: په دې ایت کې مؤمنانو ته ترغیب ورکول شوی دی چې تاسو څومره نېک عملونه کوئ، ددې به سل په سله تاسو ته بدله درکول کیږي، ستاسو د نېکو عملونو په ذریعه د الله جل جلاله په بادشاهۍ کې ذره برابر هم زیاتوالی نه راځي او که تاسو ټول ګناه وکړئ، نو بیا هم د الله جل جلاله په بادشاهۍ کې ذره برابر کمی نه راځي چې څه هم کوئ فایده او نقصان به یې تاسو ته رسیږي، زیرک سړی هغه دی چې په شوق سره نېک عملونه وکړي، داسې کسانو ته به بدله هم په څو چنده ورکول کیږي او د بدله ورکوونکي ذات الله جل جلاله په خزانو کې به هم ذره برابر کمی نه راځي، د یوې نیکۍ په بدله کې به لس درجې ورکول کیږي، "والله يضاعف لمن يشاء" الله جل جلاله چې چا ته وغواړي نور هم ورته زیاتوي

"وأما الأحاديث فكثيرة جداً وهي غير منحصرة فنذكر طرفاً منها" او هر چې حدیثونه دي نو ډېر زیات دي، موږ به ترې یو څو دلته ذکر کړو.

د غوره عملونو ترتیب

"الأول: عن أبي ذر جُندب بن جُنادة رضي الله عنه، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَيُّ الأَعْمَالِ أَفْضَلُ؟" د ابو ذر جندب بن جناده رضي الله عنه نه روایت دی هغه فرمایي چې ما ووېل: یا رسول الله ﷺ کوم عمل زیات غوره دی؟ "قَالَ: الإِيمَانُ بِاللهِ وَالجِهَادُ فِي سَبِيلِهِ" نبي اکرم ﷺ وفرمایل: په الله جل جلاله باندې ایمان راوړل او د هغه په لار کې جهاد کول. "قُلْتُ: أَيُّ الرِّقَابِ أَفْضَلُ؟" ما ووېل: کوم غلام آزادول ډېر ښه دي؟ "قَالَ: أَنْفَسُهَا عِنْدَ أَهْلِهَا وَأَكْثَرُهَا ثَمَناً" نو وې فرمایل: کوم غلام چې زیات ګران وي او خپل بادار ته زیات محبوب او خوښ وي. "قُلْتُ: فَإِنْ لَمْ أَفْعَلْ؟" ما ووېل: یا رسول الله ﷺ! که دا کار ونه کړی شم؟ "قَالَ: تُعِينُ صَانِعاً أَوْ تَصْنَعُ لأَخْرَقَ" نبي اکرم ﷺ وفرمایل: چاسره د هغه په کار کې مرسته وکړه او که کوم کس په کار نه پوهیږي، هغه کار ورته وکړه! "قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَرَأَيْتَ إِنْ ضَعُفْتُ عَنْ بَعْضِ العَمَلِ؟" ما ووېل: یا رسول الله ﷺ که زه دا کار ونه شم کړی، نو بیا؟ "قَالَ: تَكُفُّ شَرَّكَ عَنِ النَّاسِ، فَإِنَّهَا صَدَقَةٌ مِنْكَ عَلَى نَفْسِكَ" نبي اکرم ﷺ وفرمایل: د خپل شر څخه خلک وساته ځکه چې ستا لپاره دا هم نیکي او صدقه ده "مُتَّفَقٌ عَلَيهِ".

"الصَّانِعُ: بالصاد المهملة هذا هو المشهور، وروي (ضائعاً) بالمعجمة: أي ذا ضياع من فقر أو عيال ونحو ذلك" صانع کار کوونکي یا جوړوونکي ته وېل کیږي، یو روایت د ضائعاً هم دی. یعنې محتاج یا حاجتمند چې د هغه سبب غریبي وي یا بال بچ یې ډېر وي یا بله څه وجه وي، "وَالأَخْرَقُ: الَّذِي لَا يُتْقِنُ مَا يُحَاوِلُ فِعْلَهُ" اخرق هغه کس ته وایي چې په خپل کار باندې نه پوهیږي.

لغوي تحقيق:

الرقاب: ددې مفرد "الرقبة" دى، څټ ته وايي، غلام ته ويل کيږي، ذکر د جزء دى چې څټ دى او مراد ترې کل دى.

الثمن: خرڅ شوى شى، عوض او بدله، ددې جمع "أثمان" راځي

صانعاً: "صنع صنعاً" باب فتح يفتح، کسب کول. "اليه معروفاً" د چا سره نيکي کول

تكف: "كف كفاً" باب نصر ينصر دى، ددې معنى ده: د کوم کار نه لاس نيول، کار نه کول

تشريح: "أي الأعمال أفضل؟" د کوم عمل ثواب زيات دى؟ "الإيمان بالله" الله ﷻ باندې ايمان راوړل د ټولو عملونو بنياد دى، ددې نه بغير يو نېک عمل هم قبول نه دى. "والجهاد في سبيله" د الله ﷻ په لار کې جهاد کول. "أي الرقاب أفضل؟ قال أنفسها عند أهلها" کوم چې کوروالاته زيات محبوب وي، لکه په قرآن کريم کې دي "لن تنالوا البر حتى تنفقوا مما تحبون" تاسو تر نېکۍ پورې تر هغه پورې نه شئ رسيدلى چې تاسو د محبوب شيان د الله ﷻ په لار کې صدقه نه کړئ. "وأكثرها ثمناً" د کوم غلام قيمت چې زيات وي. يعني هغه داسې غلام وي چې زيرك وي او د هغه قيمت هم زيات وي، علامه نووي رحمه الله فرمايي چې: غلام ازادولو او قربانۍ په ځاروي کې به فرق وي، هغه داسې چې که يو طرفته په زرو روپو باندې دوه غلامان ملاويږي او بل طرفته په همدې زرو روپو باندې يو غلام ملاويږي، نو دغه دوه غلامان ازادول به غوره وي، په نسبت سره هغه ددې يو غلام ته، د قربانۍ په ځارويو کې داسې نه دى چې که يو طرفته دوه ځاروي په زرو روپو ملاويږي او بل طرفته يو ځاروى په زر روپۍ ملاويږي، نو دغه يو ځاروى چې ښه څورب او تندرست وي اخيستل يې غوره دي

علامه ابن حجر رحمه الله فرمايي چې د شمار په لحاظ يې فايده زياته زيات غوره دى

"أو تصنع لأخرق" هغه چې په کار نه پوهيږي هغه ته کار وکړې، ابن المنير رحمه الله فرمايي چې غير هنرمند سړي ته کار کول غوره دي په نسبت سره هغه سړي ته چې په کار پوهيږي او ته ورته کار وکړې، ځکه چې کوم کس په کار نه پوهيږي او هغه کار هم دده په ذمه وي؛ نو هغه به دغه کار ځکه وکړي چې پرې پوهيږي نه او ددې بالمقابل هغه کس چې په کار پوهيږي، خو اوس يې نه شي کولى؛ نو که نن نه شي نو سبا به يې وکړي

د سړي د بدن په هر بند باندې صدقه واجب ده

"الثاني: عن أبي ذر رضي الله عنه: أن رسول الله ﷺ، قال" د ابو ذر رضي الله عنه نه روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "يُصْبِحُ عَلَى كُلِّ سُلَامَى مِنْ أَحَدِكُمْ صَدَقَةٌ" په داسې حال کې چې په تاسو باندې سبا کيږي؛ د هر بند په بدله کې صدقه لازميږي. "فَكُلُّ تَسْبِيحَةٍ صَدَقَةٌ" هر سبحان الله ويل صدقه ده، "وَكُلُّ تَحْمِيدَةٍ صَدَقَةٌ" هر الحمد لله صدقه ده، "وَكُلُّ تَهْلِيلَةٍ صَدَقَةٌ" لا إله إلا الله ويل صدقه ده. "وَكُلُّ تَكْبِيرَةٍ صَدَقَةٌ" او هر الله اكبر ويل صدقه ده، "وَأَمْرٌ بِالْمَعْرُوفِ صَدَقَةٌ" او په هر نېک کار باندې امر کول صدقه ده، "وَنَهْيٌ عَنِ الْمُنْكَرِ صَدَقَةٌ" او د بد

کار ښځه منع کول صدقه ده، "وَيُجْزِىءُ مِنْ ذٰلِكَ رَكْعَتَانِ يَرْكَعُهُمَا مِنَ الضُّحَى" او دوه رکعته لمونځ ددې ټولو
بندونو لپاره کافي دی "رواه‌مسلم"
"السُّلامَى: بضم السين المهملة وتخفيف اللام وفتح الميم: المفصل "لفظ د سلامي په ضمې د سين مهمله او په تخفيف
د لام او په فتحې د ميم سره دی، ددې معنی ده: بندونه.

لغوي تحقيق:

سلامی: سلامی وايي: د بدن هر بند او ساخت ته.

د څاښت لمانځه برکت:

تشريح: "يصبح على كل سلامى من أحدكم صدقة" د هر انسان د هر بند په بدله کې يو صدقه واجب ده.
په يو بل روايت کې دي چې: "فى الانسان ثلاثة مائة وستون مفصلاً" د انسان په بدن کې درې سوه شپېته بندونه
دي، هره ورځ ددې بندونو په بدله کې صدقه ورکول واجب دي چې ددې بندونو په برکت سره انسان
ناسته او ولاړه کوي، هر جوړ بند د الله ﷻ له طرفه يو نعمت دی، ددې نعمت شکريه ادا کول په هر بنده
باندې واجب ده، د شکر ادا کولو اسانه طريقه يې دا ده چې هر انسان يې ادا کولی شي، هغه: "سبحان
الله،والحمدلله" ويل دي

د څاښت لمانځه فضيلت:

"ويجزى من ذلك ركعتان" ددې ټولو بدله دوه رکعته د څاښت لمونځ دی، ځکه چې په لمانځه کې د
بدن ټول اندامونه مشغول وي او ټول بدن يې د الله ﷻ شکر ادا کوي، د څاښت لمونځ دوه نه واخله تر
دولسو پورې کولی شي، ليکن په دې باندې د نبي کريم ﷺ عام عادت دا ؤ چې څلور رکعته لمونځ به
يې کولو، محمد بن جرير طبري رحمه‌الله فرمايي: د څاښت په باره کې چې څومره روايتونه نقل شوي دي،
هغه د تواتر معنوي درجې ته رسيږي، قاضي ابوبکر رحمه‌الله فرمايي چې د څاښت لمونځ د سابقه انبياء
عليهم‌السلام لمونځ دی، علامه سيوطي رحمه‌الله د ابو هريره رضي‌الله‌عنه نه دا روايت نقل کړی دی چې د څاښت لمونځ
به داود عليه‌السلام په کثرت سره کولو، ابن نجار رحمه‌الله د ثوبان رضي‌الله‌عنه نه نقل کړي ي چې د څاښت لمونځ د آدم
عليه‌السلام، نوح عليه‌السلام، ابراهيم عليه‌السلام، موسی عليه‌السلام او عيسی عليه‌السلام هم کولو، په يو روايت کې دي چې کوم
کس به د څاښت دوه رکعته لمونځ په اهتمام سره وکړو، نو د هغه ټول ګناهونه به معاف شي، اګر چې د
سمندر د ځګ هومره ولې نه وي.

په جومات کې لاړې توکول منع دي

"الثالث: عَنْهُ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ ﷺ" د ابو ذر رضي‌الله‌عنه نه روايت دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ
وفرمايل: "عُرِضَتْ عَلَيَّ أَعْمَالُ أُمَّتِي حَسَنُهَا وَسَيِّئُهَا" زما د امت د نېکو عملونو او بدو عملونو فهرست او شمار
زما په وړاندې وشو، "فَوَجَدْتُ فِي مَحَاسِنِ أَعْمَالِهَا الأَذَى يُمَاطُ عَنِ الطَّرِيقِ" نو د ښو کارونو په فهرست کې د لارې

نه د تكليف رسونكي شي او چتول هم وو، "وَوَجَدْتُ فِي مَسَاوِيءِ أَعْمَالِهَا النُّخَاعَةَ تَكُونُ فِي الْمَسْجِدِ لَا تُدْفَنُ" او په بدو كارونو كې دا هم وو چې په جومات كې لاړې تو كړي او بيا يې نه صفا كوي. رواه مسلم.

لغوي تحقيق:

عرضت: "عرض عرضا" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده پيش كول، وړاندې كول، ښودل

الاذى: "أذي أذيًا" باب سمع يسمع دی، تكليف رسول

يماط: "ماط ميطاً وماطة" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده لرې كول او ختمول

النخاعة: "نخع نخاعة" د پوزې يا خولې څخه گند راويستل او تو كول

تدفن: "دفن دفناً" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده كوم شی ښخول، خبره پټول

په جومات كې لاړې تو كول حرام دي:

"ووجدت مساوى اعمالها النخاعة تكون فى المسجد لاتدفن" ددې سره برابر ما په بدو عملونو كې دا هم وليدل چې په جومات كې لاړې تو كړل شي، خو هغه صفا نه كړل شي، په جومات كې لاړې تو كول حرام او گناه ده، كه په غلطى سره تو كړل شي نو بايد چې جومات صفا كړي او ددې سره سره د الله ﷻ نه معافي هم وغواړي، په يو بل روايت كې دي چې: "البزاق فى المسجد خطيئة وكفارتها دفنها" په جومات كې لاړې تو كول گناه ده او ددې كفاره دا ده چې بايد دفن كړل شي، په يو بل روايت كې دي: "التفل فى المسجد سيئة ودفنه حسنة" په جومات كې لاړې تو كول گناه ده او بيا يې پاكول نيكي ده.

په جومات كې د لاړې تو كولو باره كې د محدثينو اقوال:

امام نووي رحمه الله فرمايي چې: "قال النووى فى التحقيق البصاق فى المسجد قال سواء فيه داخله وخارجه" تحقيقي خبره دا ده چې په جومات كې لاړې تو كول گناه ده، برابره خبره ده چې د جومات څخه بهر وي او كه دننه وي، د احنافو په نزد جومات كې لاړې تو كول مكروه تحريمي دي، كه چا تو كړل نو ددې پاكول واجب دي، ملا علي قاري رحمه الله د ابن عماد رحمه الله قول نقل كړی دی، فرمايي چې "قال ابن عماد لاخلاف ان من بصق بالمسجد استهانة به كفر" ابن عماد رحمه الله فرمايي: كوم كس چې په جومات كې لاړې په دې نيت تو كړي چې د جومات سپكوالی او بې عزتي وكړي؛ نو د داسې كس په كفر كې هيڅ شك نشته، ابن ابي حمزه اندلسي رحمه الله فرمايي: ما يو مفتي وليد چې په فتوى وركولو كې خلكو منلی و، د جومات په غاړه ناست و او د جومات سره څنگ ته يو باغ و، هغه مفتي به خوښ نه گڼل چې په دې باغيچه كې لاړې تو كړل شي.

سبحان الله او الحمدلله ويل هم صدقه ده

"الرابع: عَنْهُ" د ابوذر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې: "أَنَّ نَاساً قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، ذَهَبَ أَهْلُ الدُّثُورِ بِالأُجُورِ" څينو خلكو د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وكړه چې يا رسول الله ﷺ! مالداړانو خلكو ډېر زيات اجرونه

وکړل، "يُصَلُّونَ كَمَا نُصَلِّي، وَيَصُومُونَ كَمَا نَصُومُ" دوی هم لمونځونه کوي او موږ هم لمونځونه کوو، دوی هم روژې نيسي او موږ هم روژې نيسو، "وَيَتَصَدَّقُونَ بِفُضُولِ أَمْوَالِهِمْ" خو دوی په خپل زياتي مال صدقې کوي يعنې دوی صدقې او خيراتونه کوي، زموږ سره دا شيان نشته، "قَالَ: أَوَلَيْسَ قَدْ جَعَلَ اللهُ لَكُمْ مَا تَصَدَّقُونَ بِهِ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: ولې تاسو ته يې د صدقې ورکولو نه محرومه کړي يئ؟ نه بالکل نه! "إِنَّ بِكُلِّ تَسْبِيحَةٍ صَدَقَةً" بلکې ستاسو لپاره په هره تسبيح ويلو باندې د صدقې اجر دی، "وَكُلِّ تَكْبِيرَةٍ صَدَقَةً، وَكُلِّ تَحْمِيدَةٍ صَدَقَةً، وَكُلِّ تَهْلِيلَةٍ صَدَقَةً" په هر الله اکبر ويلو کې صدقه ده او په هر الحمد لله ويلو کې صدقه ده او په هر لا اله الا الله ويلو کې صدقه ده، "وَأَمْرٌ بِالْمَعْرُوفِ صَدَقَةٌ، وَنَهْيٌ عَنِ الْمُنْكَرِ صَدَقَةٌ" او ښه کارونو ته خلک رابلل صدقه ده او د بدو کارونو څخه خلک منع کول صدقه ده، "وَفِي بُضْعِ أَحَدِكُمْ صَدَقَةٌ" او د خپلې مېرمنې سره کوروالی هم صدقه ده، "قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، أَيَأْتِي أَحَدُنَا شَهْوَتَهُ وَيَكُونُ لَهُ فِيهَا أَجْرٌ؟" صحابه کرامو ﷺ وفرمايل چې يا رسول الله ﷺ! آيا يو کس به خپل شهوت پوره کوي او هغه ته به په دې باندې اجر ملاوېږي؟ "قَالَ: أَرَأَيْتُمْ لَوْ وَضَعَهَا فِي حَرَامٍ أَكَانَ عَلَيْهِ وِزْرٌ؟" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: تاسو ماته ددې خبر خبر راکړئ: که يو کس په حرام ځای کې کوروالی کوي، آيا په هغه باندې به د ګناه بوج وي او که نه؟ "فَكَذَلِكَ إِذَا وَضَعَهَا فِي الْحَلَالِ كَانَ لَهُ أَجْرٌ" نو دغه شان که يو کس په حلال ځای کې کوروالی کوي؛ نو د هغه لپاره په دې کې اجر دی. "رواه مسلم".

لغوي تحقيق:

"الدُّثُورُ: بِالثَّاءِ الْمُثَلَّثَةِ: الْأَمْوَالُ وَاحِدُهَا: دَثْرٌ" لفظ د اهل الدثور په (ث) مهمله سره دی، معنی يې ده: مالداره خلک. ددې مفرد دثر راځي.

بضع: "البضعة والبضعة" ددې معنی ده: د غوښې ټکړه.

وزر: "وزر وزراً" باب ضرب يضرب او سمع يسمع دواړو څخه راځي، ددې معنی ده: ګناهګار کېدل.

تشريح: "ذهب اهل الدثور" مالداره خلک زموږ غريبانانو څخه وړاندې شول، ددې څخه معلومېږي چې په صحابه کرامو ﷺ کې د نيکۍ په کارونو کې د يو بل څخه وړاندې کېدو څومره جذبه وه، ځکه خو غريب صحابه کرامو شکايت وکړو چې په نورو عملونو کې خو موږ د مالدارو سره برابر يو، ليکن هغوی خپل مالونه د الله ﷻ په لار کې صرف کوي او زموږ سره مالونه نشته چې د الله ﷻ په لار کې يې مصرف کړو، نو دوی زموږ څخه په دې ثواب ګټلو کې وړاندې شول.

صدقه ورکول صرف مالي نه وي بلکې بدني صدقه هم کېدلی شي:

"إن بكل تسبيحة صدقة" د هر سبحان الله په ويلو سره صدقه ده، قاضي عياض رحمه الله فرمايي چې په سبحان الله، الحمدلله ويلو باندې هغومره ثواب ملاوېږي لکه څومره چې په صدقه ورکولو باندې ملاوېږي، دغه شان په دې حديث کې د سبحان الله او الحمدلله وغيره د صدقې ورکولو مثال ورکړل

شوی دی، بله دا چې صدقه صرف مال خرچ کولو ته نه ویل کیږي چې انسان دي مال خرچ کړي نو دا صدقه شوه او که مال خرچ نه کړي؛ نو صدقه نه شوه، نه! بلکې هر سبحان الله الحمدلله ویل صدقه ده، په دې وجه په یو بل روایت کې دي چې: "کل معروف صدقه" هره نېکي صدقه ده، علامه نووي رحمه الله فرمايي چې که په مباح کارونو کې د خیر او ثواب نیت وشي؛ نو هغه هم صدقه او ثواب ګرځي.

"يأتي أحدنا شهوته؟" که یو سړی د خپلې ښځې څخه شهوت پوره کړي؛ نو دا هم صدقه ده، ددې نه معلومه شوه چې هر هغه کار چې د شريعت مطابق وشي، اګر چې هغه مباح کار وي دا صدقه او نیکي ګڼل کیږي، اګر چې هغه خپل فطري ضرورت پوره کړي، شرط یې دا دی چې نیت به یې دا وي چې ماته خدای پاک نېک اولاد راکړي، د بد نظر څخه د بچ کېدو په خاطر وي او ځان د زنا څخه بچ کول مقصود وي.

علامه نووي رحمه الله فرمايي: د دین داسې خبرې چې عموماً پټولی شي، د غه پوښتنې د عالم یا مفتي څخه نه کراهت لري او نه د ادب خلاف دي.

په روڼ تندي د ورور سره ملاوېدل هم نيکي ده

"الخامس: عَنْهُ، قَالَ: قَالَ لِي النَّبِيُّ ﷺ: لَا تَحْقِرَنَّ مِنَ الْمَعْرُوفِ شَيْئاً" د ابوذر رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې ماته رسول الله ﷺ وفرمايل: اې ابوذر رضي الله عنه! وړه شان نېکي هم سپکه مه ګڼه، "وَلَوْ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلِيقٍ" اګر چې هغه نيکي د خپل ورور سره په روڼ تندي باندې ملاقات کول هم وي. رواه مسلم.

لغوي تحقيق:

لاتحقرن: "حقر حقراً وحقارة" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: سپک ګڼل
طليق: "طلق طلوقاً وطليقاً" باب كرم يكرم دی، ددې معنی ده: په خندا او روڼ تندي ملاقات کول

هيڅ نيکي معمولي مه ګڼه!

تشريح: "لاتحقرن من المعروف شيئاً" نیکي هر څومره که وړه وي، هغه وړه مه ګڼه! په دې حدیث کې دې خبرې ته اشاره ده چې نیکي هر څومره وړه وي، وړه یې مه ګڼه! بايد په عمل کې راوستل شي، معلومه نه ده چې همدغه یوه کمزورې نیکي الله جل جلاله قبوله کړي او جنت ته د داخلېدو ذريعه جوړه شي.

د خپل دښمن سره په خندا او روڼ تندي ملاوېدل پکار دي:

"ولوأن تلقى أخاك بوجه طليق" اګر چې هغه نیکي د خپل ورور سره په روڼ تندي او په خندا ملاقات کول ولې نه وي، مولانا ادريس کاندهلوي رحمه الله فرمايي چې ددې حديث نه معلومېږي چې په خنده او په روڼ تندي سره ملاقات کول نیکي ده، په دې سره مخاطب ته خوشحالي حاصلېږي، د مسلمانانو زړونه خوشحالول هم یوه نیکي ده، په دې سره مینه پیدا کیږي کوم، خيني محدثين فرمايي چې که دښمن هم درسره ملاقات کولو ته راشي نو په روڼ تندي ورسره ملاقات کوه، لکه په یو روایت کې دي چې عائشه رضي الله عنها فرمايي: رسول الله ﷺ زموږ سره ناست وو، د یو کس په باره کې یې څه خبرې کولې لږ وروسته هغه کس راغلو، نو رسول الله ﷺ ورسره د بر په خنده او روڼ تندي ملاو شو

په انسان باندې د هر بند په بدل کې صدقه پکار ده

"السادس: عن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ "د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "كُلُّ سُلَامَى مِنَ النَّاسِ عَلَيْهِ صَدَقَةٌ" د انسان په هر بند صدقه واجب ده، "كُلَّ يَوْمٍ تَطْلُعُ فِيهِ الشَّمْسُ" کله چې لمر راخيژي، "تَعْدِلُ بَيْنَ الاثْنَيْنِ صَدَقَةٌ" د دوه کسانو په مينځ کې په انصاف سره فيصله کول هم صدقه ده، "وتُعِينُ الرَّجُلَ فِي دَابَّتِهِ، فَتَحْمِلُهُ عَلَيْهَا أَوْ تَرْفَعُ لَهُ عَلَيْهَا مَتَاعَهُ صَدَقَةٌ" او يا کوم کس چې په سورلۍ نه شي ختلی هغه په سورلۍ باندې خيژول او يا چې کوم کس بوج سورلۍ ته نه شي خېژولی هغه ته د هغه بوج خېژول هم صدقه ده، "وَالكَلِمَةُ الطَّيِّبَةُ صَدَقَةٌ" ښکلې خبره هم صدقه ده، "وبِكُلِّ خَطْوَةٍ تَمْشِيهَا إِلَى الصَّلاةِ صَدَقَةٌ" او په هر يو قدم چې تاسو يې د لمانځه لپاره اخلئ په هغې هم صدقه ده، "وَتُمِيطُ الأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ صَدَقَةٌ" او د لارې څخه تکليف ورکوونکې شی لرې کول هم صدقه ده. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

"ورواه مسلم أيضاً من رواية عائشة رَضي الله عنها، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ الله ﷺ" او امام مسلم رحمه الله هم روايت کړی دی د عايشې رضي الله عنها څخه، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "إِنَّهُ خُلِقَ كُلُّ إِنْسَانٍ مِنْ بَنِي آدَمَ عَلَى سِتِّينَ وثلاثِمئَةِ مَفْصَلٍ" بې شکه په هر انسان کې درې سوه او شپېته بندونه دي او په دې طريقې سره دده تخليق شوی دی. "فَمَنْ كَبَّرَ اللهَ، وحَمِدَ الله، وَهَلَّلَ اللهَ، وَسَبَّحَ الله، وَاسْتَغْفَرَ الله" کوم کس چې الله اکبر ووايي، الحمد لله ووايي، لااله الا الله، سبحان الله او استغفر الله ووايي، "وَعَزَلَ حَجَراً عَنْ طَرِيقِ النَّاسِ" او تکليف ورکوونکې کاڼی د خلکو له لارې لرې کړي، "أَوْشَوْكَةً، أَوْعَظْماً عَنْ طَرِيقِ النَّاسِ" يا د خلکو له لارې ازغی او يا هډوکی لرې کړي، "أَوْأَمَرَ بِمَعْرُوفٍ، أَوْنَهَى عَنْ مُنْكَرٍ" او يا په معروف امر وکړي او د منکر څخه نهي وکړي، "عَدَدَ السِّتِّينَ وَالثَّلاثِمِئَةِ" دا ټول په اندازه د درې سوه شپېتو په حساب سره دی، کله چې دا کار وکړي، "فَإِنَّهُ يُمْسِي يَوْمَئِذٍ وَقَدْ زَحْزَحَ نَفْسَهُ عَنِ النَّارِ" نو په ده باندې شپه شي په داسې حال کې چې دی د دوزخ د اور څخه بری وي.

لغوي تحقيق:

- تعدل: "عدل عدلاً" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: برابري کول، انصاف کول، په چا باندې ظلم نه کول
- تعين: "عون تعويناً" د باب تفعيل څخه اعان راځي او د افعال څخه إعانة راځي، ددې معنی ده مرسته او کومک کول.
- خطوة: "الخطوة" ددې معنی ده د مزل کولو په وخت د دواړو قدمونو ترمينځ فاصله
- مفصل: د مفصل څخه د بدن بندونه او اعضاء مراد دي
- شوکة: "شاك شوكة" باب نصر ينصر دی، ازغی په پښو کې کېدل.
- زحزح: "زحزح زحزحة" د رباعي مجرد باب دی، په معنی ده: لرې کېدو سره دی.

تشريح: "كل سلامى من الناس عليه صدقة" د بدن د هر بند په بدل کې په انسان باندې صدقه واجب ده،

هر بند د الله ﷻ له لورې يو لوی نعمت دی، ددې په ذريعه انسان ناسته او ولاړه کوي، لهذا په انسان باندې لازم دي چې ددې نعمت شکر ادا کولو په بدله کې انسان هره ورځ د... صدقه ورکړي چې الله ﷻ پرې خوشحاله کړي او دغه بندونه درته صحيح او سالم وساتي. "تعدل بين الاثنين صدقة" د دوو مسلمانانو په مينځ کې سوله هم صدقه ده، ددې حديث څخه معلومه شوه چې صدقه دې ته نه وايي چې مال خرج کړه، بلکې د دوه مسلمانو ترمنځ سوله هم د مال ورکولو په شان صدقه ده.

"وتعين الرجل في دابته فتحمله عليها" کوم سړی د هغه په سورلۍ باندې سپرول يا د هغه سامان په سورلۍ ورته کېښودل، ابن بطال رحمه الله فرمايي چې دا ثواب د هغه چا لپاره شو چې هغه ته د هغه په سورلۍ باندې بوج وغيره پورته کړي، که په خپله سورلۍ باندې يې ورته بوج واچولو؛ نو ددې اجر به يې څو چنده وي.

"والكلمة الطيبة صدقة" ښه خبره هم صدقه ده، په قرآن کريم کې هم د الله ﷻ ارشاد دی: "قول معروف ومغفرة خير من صدقة يتبعها أذى".

وكل خطوة تمشيها إلى الصلاة صدقة" هر هغه قدم چې ته يې لمانځه ته ورباندې اخلې دا هم صدقه ده، په يو بل روايت کې ددې پوره وضاحت راغلی دی: "من تطهر في بيته ثم مشى إلى بيت من بيوت الله ليقضي فريضة من فرايض الله كانت خطوته إحداهما تحط خطيئة والأخرى ترفع درجة".

"وقد زحزح نفسه عن النار" خپل ځان يې د جهنم څخه بچ کړو يا دا مطلب دی چې ددې ذکر شوي عملونو په ذريعه د بدن خپل ټول اندامونه د جهنم له عذابه وساتي، دا خبره مونږ مخکې هم بيان کړې ده چې که انسان هيڅ هم نه شي کولی؛ نو د څاښت دوه رکعته لمونځ دې وکړي چې د درې سوه شپېتو بندونو څخه د صدقې ورکولو بدله جوړيږي.

سهار او ماښام جومات ته تلونکي خلک د الله ﷻ ميلمانه دي

"السابع: عَنْهُ، عن النبيّ ﷺ، قَالَ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "مَنْ غَدَا إِلَى الْمَسْجِدِ أَوْ رَاحَ" کوم کس چې سهار وختي د لمانځه لپاره جومات ته لاړ شي او يا بېګا د شپې جومات ته لمانځه ته ځي، "أَعَدَّ اللهُ لَهُ فِي الْجَنَّةِ نُزُلًا كُلَّمَا غَدَا أَوْ رَاحَ" الله ﷻ دده لپاره په جنت کې مېلمستيا کوي، هر کله چې هغه سهار او بېګا لمانځه ته ځي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

"النُّزُلُ: القوت والرزق وما يُهيأ للضيف" د نزل معنی ده: هغه ډوډی چې د مېلمستيا لپاره تياريږي.

لغوي تحقيق:

غدا: "الغدوة" د سهار وخت ته ويل کيږي، کله چې صبا صادق شروع شي

راح: "راح روحاً" باب نصر ينصر دی، د ماښام هغه وخت ته ويل کيږي چې لمر ډوبيږي

نزولاً: "نزل نزولاً" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: مېلمستيا، مېلمانه.

تشريح: "ومن غدا في المسجد أوراح" کوم کس چې سهار او ماښام جومات ته ځي، محدثين فرمايي

چې دا حديث مطلق دی: د جماعت لپاره ځي، اعتکاف ته ځي او که د قرآن کريم تلاوت ته ځي، ځينې نور علماء فرمايي چې په دې حديث کې دې خبرې ته ترغيب ورکول مقصود دی چې بايد مسلمان په جماعت سره لمونځ وکړي، ددې حديث په باره کې معارف الحديث رحمه الله ليکوال ليکي: څوک چې سهار او ماښام ځو ځله د الله جل جلاله کور جومات ته ځي؛ نو داسې کس د الله جل جلاله مېلمه دی او د الله جل جلاله په نزد عزتمند او قدرمند دی او په هر ځل راتلو سره په جنت کې ورته د مېلمستيا خاص سامان تياروي چې هلته رسېدو سره به ورته مخې کېښودل شي، دا ظاهره خبره ده چې د الله جل جلاله د مېلمستيا خاصو خوراکو تصور په دنيا کې څوک نه شي کولی.

د چا ډالۍ معمولي مه ګڼئ!

"الثامن: عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي: "يَا نِسَاءَ الْمُسْلِمَاتِ" اې مسلمانو ښځو! "لَا تَحْقِرَنَّ جَارَةٌ لِجَارَتِهَا وَلَوْ فِرْسِنَ شَاةٍ" کوم ګاونډۍ چې بل ګاونډۍ ته څه ډالۍ او صدقه ورکړي؛ نو هغه دې سپک نه ګڼي، اګر که د اوښ يا د ګډې وزې خپړې يا پښې ولې نه وي. "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ"

"قَالَ الجوهري: الفرسن مِنَ الْبَعِيرِ كَالْحَافِرِ مِنَ الدَّابَّةِ قَالَ: وَرُبَّمَا اسْتُعِيرَ فِي الشَّاةِ" امام نووي رحمه الله فرمايي: امام جوهري رحمه الله فرمايلي دي چې "فرسن" د اوښ د پښې خپړو ته وايي چې د تللو په وخت په ځمکه لګيږي، مګر د ميږې او وزې لپاره هم استعماليږي.

لغوي تحقيق:

جارة: "جاور مجاورة" باب مفاعله دی، ددې معنی ده: ګاونډي.

فرس: د اوښ د پښې خپړې.

ولې يې ښځې په ځانګړي توګه مخاطب کړې؟

تشريح: "يانساء المسلمات" اې مسلمانانو ښځو! په يو بل روايت کې دي چې: "يانساء المومنات!" الفاظ منقول دي، ددې نه معلومه شوه چې په دې عبارت کې ښځې او سړي دواړه شامل دي، هيڅکله يوه وړه هديه، ډالۍ هم کمزورې ونه ګڼئ، په حديث کې په ځانګړې توګه ښځه مخاطب شوې ده، ددې وجه دا ده چې داسې عادت په ښځو کې ډېر زيات وي چې هغوی عموماً هديه سپکه ګڼي.

د لا تحقرن جارة لجارتها مطلب:

"لاتحقرن جارة لجارتها" يوه ګاونډۍ ښځه دې د بلې ګاونډۍ ښځې هديه وړه نه ګڼي، ددې حديث دوه مطلبه بيان شوي دي: يو دا چې په دې حديث کې دې طرفته اشاره ده چې څوک دې د چا هديه، ډالۍ وړه نه ګڼي، کېدی شي چې هغه هديه په ظاهري توګه وړه وي ليکن په هغې کې دومره اخلاص وي چې هغه به خالص د الله جل جلاله د رضا سبب ګرځېدلې وي، دويم مطلب دا دی چې په دې حديث کې دې خبرې ته اشاره ده چې چا هديه ورکړې ده، هغه سپک مه ګڼئ، بل په دې حديث کې دې طرفته هم اشاره ده چې

هديه وركول پكار دي، اګر چې وړه هديه ولې نه وي، ځكه چې نه وركول يې ښيخې ښه نه دي "ولوفرسن شاة" اګر چې هغه د يوې وزې خپړې ولې نه وي، علماء ليكي چې د وزې خپړې چېرته څوك چانه نه وركوي، ځكه چې دا خوبه هديه د وركولو شی نه دي؟ نو ددې ځواب محدثين داسې وركوي: په دې حديث كې مبالغه ده چې هديه كې هر څومره حقير او كمزوري شی وي، بايد وركول شي، تردې چې كه د وزې خپړې وي؛ نو هم يې قبلول پكار دي.

ايمان د اويا/۷۰ څخه زيات شاخونه لري

"التاسع: عَنْهُ،عن النبیﷺ،قَالَ" د ابو هريره ﷺ روايت دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "الايمانُ بِضعٌ وَسَبعُونَ أَوبِضعٌ وسِتُّونَ شُعْبَةً" د ايمان څه دپاسه اويا/ ۷۰ يا څه دپاسه شپېته ښاخونه دي "فَأَفْضَلُهَا قَولُ: لا اِلٰهَ اِلّاالله،وَأَدْنَاهَا إِمَاطَةُ الأَذٰى عَنِ الطَّرِيقِ "ديكې د ټولو نه بهتره كلمه طيبه يعني لا اله الا الله ويل دي او د ټولو نه د كمې درجې ثواب والا شی د لارې څخه تكليف رسونكی شی لرې كول دي. "والحياءُ شُعبةٌمِنَ الايمان" او حياء هم د ايمان يوه حصه ده. "مُتَّفَقٌ عَلَيهِ"

"البِضْعُ: من ثلاثة إِلى تسعة بكسرالباء وقد تفتح" د لفظ "بضع" اطلاق د درې څخه تر نهو پورې كيږي. په كسرې د "با" سره او كله فتح هم وركولی شي، "وَالشُّعْبَةُ:القطعة" او شعبة: ټوټې ته وايي

لغوي تحقيق:

بضع: "البضع" ددې معنی ده: ددې اطلاق د درې څخه تر نهو پورې كيږي

شعبة: "الشعبة" ددې معنی ده شاخ، څانګه

الحياء: "حي حياة" د باب سمع يسمع څخه په معنی د ژوندي سره، كه ادغام پكې وكړل شي يعني "حيّ يحْيَ" ترې نه جوړ شي، نو بيا ددې معنی په شرمېدو سره كيږي. "الحياء" معنی ده: شرم او حياء

د لفظ بضع تحقيق:

تشريح "بضع وستون" د شپېتو دپاسه لږه برخه، د "بضع" په مصداق كې ابن حجر رحمه الله يو څه اقوال نقل كړي دي: په دې كې مشهور قول دا دی چې د درې څخه تر لسو پورې ددې اطلاق كيږي، ابن منده رحمه الله فرمايي چې د بضع اطلاق د درې څخه تر لسو پورې كيږي، په يو قول سره د درې نه تر لسو پورې او ځينې علماء وايي: د درې څخه تر نهو پورې مراد دی او يو قول دا دی چې د دوه څخه تر لسو پورې مراد دی

شعبة: په دې باندې تنوين د تعظيم لپاره دی، يعني حياء د ايمان ډېره ستره برخه ده، په دې حديث كې نبي كريم ﷺ اجمالاً د ايمان اويا شاخونه ذكر كړل، ليكن ددې تفصيل يې بيان نه كړو، ځكه چې كه د هغې تفصيل يې بيانولی، نو بيا خبره اوږده كېدل. خو په ډېر ښكلي انداز يې ددې شعبو ته اشاره وكړه.

د حديث جامعيت:

محدثين فرمايي چې د ټولو شعبو دوه قسمونه دي:
(۱) يو هغه چې د هغې تعلق د حقوق الله سره وي.
(۲) دويم هغه چې د هغې تعلق د حقوق العباد سره وي.
اولنی خبره يې په قول د (لا اله الا الله) سره ذکر کړه، کلمه طيبه د الله ﷻ په حقونو کې تر ټولو ستر او لوی حق دی، دويم حق يې د "اماطة الأذی عن الطريق" سره تعبير کړو، ځينې نور محدثين فرمايي چې د ايمان شعبې دوه قسمه دي: (۱) قولي (۲) او فعلي.
قولي لکه (لا إله إلا الله) او فعلي لکه: "إماطة الاذی عن الطريق" په دې کې دې خبرې ته اشاره ده چې د ايمان د تازګۍ لپاره اقوال او افعال صحيح کېدل ضروري دي، ځينې علماء ددې داسې وضاحت کوي چې د ايمان په شعبو کې ځينې داسې شعبې دي چې د زړه سره تعلق ساتي، ځينې يې د نه زړه سره تعلق ساتي، په "لا اله الا الله" کې يې د زړه طرفته اشاره وکړه او په "إماطة الاذی عن الطريق" کې يې نه زړه ته اشاره وکړه.

په ايماني شعبو باندې ليکل شوي کتابونه:

علامه عيني رحمه الله په ايماني شعبو باندې د ليکل شويو کتابونو تذکره داسې کړې ده.
(۱) د امام ابو عبد الله حليمي رحمه الله کتاب (المنهاج) دی.
(۲) د امام ابوبکر البيهقي رحمه الله کتاب (شعب الايمان).
(۳) د شيخ عبد الجليل رحمه الله کتاب (شعب ايمان).
(۴) د علامه اسحاق بن قرطبي کتاب (النصائح) دی.
(۵) د امام ابوحاتم ابن حبان بستي رحمه الله کتاب (وصف الايمان و شعبه).
الحياء شعبة من الايمان: حياء هم په بضع وستون کې داخله وه، ليکن ددې اهميت او مقام ته په کتو سره يې مستقله ذکر کړه، کله چې په انسان کې حيا وي؛ نو بيا د ټولو ديني کارونو خيال ساتي او کله چې بې حياء شي؛ نو څه يې چې خوښه شي، هغه کوي.

سپي ته د اوبو ورکولو په بدل کې جنت

"العاشر: عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ ﷺ، قَالَ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِي بِطَرِيقٍ اشْتَدَّ عَلَيْهِ الْعَطَشُ" په داسې حال کې چې يو کس په لار روان وو، سخته تنده پرې راغله، "فَوَجَدَ بِئْرًا فَنَزَلَ فِيهَا فَشَرِبَ" هغه يو کوهی وليدو، هغه دغه کوهي ته ښکته شو، "ثُمَّ خَرَجَ فَإِذَا كَلْبٌ يَلْهَثُ يَأْكُلُ الثَّرَى مِنَ الْعَطَشِ" کله چې بهر راووتلو، نو سپی يې وليد چې غاپي او د تندې له وجې د کرهې خټې خوري، "فَقَالَ الرَّجُلُ: لَقَدْ بَلَغَ هَذَا الْكَلْبَ مِنَ الْعَطَشِ مِثْلُ الَّذِي كَانَ قَدْ بَلَغَ مِنِّي" هغه کس ووېل: داسې ښکاري چې دا سپی هم د تندې له امله دومره بد حالت شوی دی لکه څومره چې زه بد حالت شوی وم، "فَنَزَلَ الْبِئْرَ فَمَلأَ خُفَّهُ مَاءً" هغه

کس کوهي ته ښکته شو او خپله موزه يې د اوبو څخه ډکه کړه، "ثُمَّ أَمْسَكَهُ بِفِيهِ حَتَّى رَقِيَ" هغه موزه يې په خوله کې ونيول او بهر راووتلو، "فَسَقَى الْكَلْبَ" نو سپي ته يې اوبه ورکړې، "فَشَكَرَ اللهُ لَهُ" الله ﷻ ته د عمل ډېر زيات خوښ شو، "فَغَفَرَلَهُ" نو د هغه بخښنه يې وکړه، "قَالُوا: يَارَسُولَ اللهِ، إِنَّ لَنَا فِي الْبَهَائِمِ أَجْرًا؟" صحابه وو وفرمايل: اې د الله رسوله! آيا موږ ته په چارپايانو او څناورو کې هم ثواب شته؟ "فَقَالَ: فِي كُلِّ كَبِدٍ رَطْبَةٍ أَجْرٌ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: په هر ژوندي کې تاسو ته اجر دی. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ.

وفي رواية للبخاري او د بخاري په روايت کې داسې دي: "فَشَكَرَ اللهُ لَهُ، فَغَفَرَلَهُ، فَأَدْخَلَهُ الْجَنَّةَ" کله چې الله ﷻ ته د هغه دا عمل زيات خوښ شو؛ نو د هغه بخښنه يې وکړه او جنت ته يې داخل کړو. "وفي رواية لهما" او په يو بل روايت کې د دواړو داسې ذکر دي: "بَيْنَمَا كَلْبٌ يُطِيفُ بِرَكِيَّةٍ قَدْ كَادَ يَقْتُلُهُ الْعَطَشُ" په داسې حال کې چې يو سپی د کوهي شاوخوا تاوېدو او راتاوېدو، نژدې وه چې د تندې له امله مړ شي، "إِذْ رَأَتْهُ بَغِيٌّ مِنْ بَغَايَا بَنِي إِسْرَائِيلَ" ناڅاپه هغه سپی د بني اسرائيلو يوې زنا کارې ښځې وليدو، "فَنَزَعَتْ مُوقَهَا فَاسْتَقَتْ لَهُ بِهِ" نو هغې خپلې پنې وويستلې او هغه سپي ته يې پکې اوبه ورکړې، "فَسَقَتْهُ" او په سپي باندې يې اوبه وڅښلې، "فَغُفِرَلَهَا بِهِ" په دې عمل سره د هغه بخښنه وشوه.

"الْمُوقُ: (الخف) موق موزې ته وايي، وَيُطِيفُ: يدور حول، د يطيف معنى ده: تاوېدل راتاوېدل، "رَكِيَّةٌ": وهي البئر، ركية معنى ده: کوهی.

لغوي تحقيق:

العطش: "عطش عطشا" باب سمع يسمع دی، ددې معنى ده: تږی.

يلهث: "لهث لهثا" باب سمع يسمع دی، د تندې له امله سپی خپله ژبه راوباسي

الثرى: "ثري ثريًا" باب سمع يسمع دی، خاوره چې لنده شي او خټه شي

ركية: "الركية" ددې معنى ده: د اوبو کوهی، جمع ددې "رکايا او رکيًا" راځي.

موقها: "الموق" ددې معنى ده: موزه/ پنې

تشريح: "رجل يمشي بطريق اشتد عليه العطش" يو سړی په لاره روان وو، ډېر سخت تږی وو، سپي ته د اوبو ورکولو په باره کې دوه واقعې دي: يوه دا واقعه ده، بله د بني اسرائيلو د بد کارې ښځې واقعه ده

ولې يې په خوله کې موزه ونيول؟

"فنزل البئر فملأ خفه ماءً" هغه کوهي ته ښکته شو، موزه يې ډکه کړه په خوله کې يې ونيول او بهر راووتلو، په عربو کې عموماً د څرمنې موزې استعماليږي، په دې کې چې اوبه راواخيستل شي؛ نو نه ترې تويېږي، موزه يې په خوله کې ځکه ونيول چې د ښکته کېدو او بېرته راپورته کېدو لپاره د لاس لګولو ته ضرورت وي، ددې وجې يې په خوله کې ونيول

ابن حجر رحمه الله فرمايي چې ددې څخه هغه څناور مستثنی دي چې په شريعت کې يې د وژلو

حکم شوی دی، لکه مار، لړم، وغیره... لیکن د خینو نورو علماوو رایه دا ده چې دلته هم دغه حکم دی، اګر چې شریعت ددې د وژلو حکم کړی دی، لیکن دا مطلب نه دی چې هغه دې له تندې مړ کیږي او نه اوبه مه ورکوه! شریعت په قتل کولو کې هم د بهترۍ رعایت کړی دی.

"فقال فی کل کبدرطبة اجر" په هر ساه لرونکي کې ثواب دی، په بل روایت کې دي چې هر یو ساه لرونکی اجر لري، ددې حدیث نه یوه بله مسئله هم مستنبط شوه چې الله ﷻ ته د چا کوم عمل خوښ شي، هغه که هر څومره وړوکی وي، په دې باندې ورته الله ﷻ د ټول عمر ګناهونه معاف کوي، خلاصه دا چې په هر عمل کې د اخلاص ډېر ضرورت دی، معلومه نه ده چې هغه معمولي شان عمل الله ﷻ ته خوښ شي او په دې باندې زموږ کار روان شي.

په ونې کاټولو باندې جنت ته داخلېدل:

"الحادی عشر: عَنْهُ، عن النَّبِيِّ ﷺ، قَالَ:" د ابو هریره ﷺ روایت دی، فرمایي چې رسول الله ﷺ فرمایلي "لَقَدْ رَأَيْتُ رَجُلاً يَتَقَلَّبُ فِى الْجَنَّةِ" په تحقیق سره ما په جنت کې یو کس ولید چې تلو راتلو، "فی شَجَرَةٍ قَطَعَهَا مِنْ ظَهْرِ الطَّرِيقِ كَانَتْ تُؤْذِى الْمُسْلِمِينَ" په سبب د یوې ونې چې هغه پرې کړې وه، هغه ونه د لارې په مینځ کې وه خلکو ته به ترې ضرر او تکلیف رسېدو. رواه مسلم

وفی روایة: "مَرَّرَجُلٌ بِغُصْنِ شَجَرَةٍ عَلَى ظَهْرِ طَرِيقٍ" په بل روایت کې دي: یو کس په لاره روان وو، په لاره کې ورته د ونې یوه څانګه په مخه راغله، هغه چې د لارې په مینځ کې وه، "فَقَالَ: وَاللهِ لَأُنَحِّيَنَّ هَذَا عَنِ الْمُسْلِمِينَ لَا يُؤْذِيهِمْ" هغه قسم وکړو چې زه به خامخا دا ونه له مخې لرې کوم، ځکه چې ددې په وجه خلکو ته تکلیف رسیږي. "فَأُدْخِلَ الْجَنَّةَ" په دې وجه جنت ته داخل شو.

وفی روایة لهما: "بَيْنَمَا رَجُلٌ يَمْشِي بِطَرِيقٍ وَجَدَ غُصْنَ شَوْكٍ عَلَى الطَّرِيقِ" او په یو روایت کې دي: په دا سې حال کې یو کس په لار روان وو، نو هغه د لارې په مینځ کې د ازغو څانګه وموندله، "فَأَخَّرَهُ فَشَكَرَ اللهُ لَهُ، فَغَفَرَلَهُ" نو هغه څانګه یې د لارې د مینځ نه اخوا کړه الله ﷻ ته دا عمل ډېر زیات خوښ شو؛ نو په دې عمل یې د هغه بخښنه وکړه.

لغوي تحقیق:

غصن: "الغصن" ددې معنی ده: شاخ، څانګه

لانحین: "نحي نحیا" باب فتح یفتح دی، ددې معنی ده: زائل کول، ختمول

تشریح "یتقلب فی الجنة" په جنت کې مې په ګرځېدو راګرځېدو ولید، یعنې د جنت د میوو خوند یې اخیستل. "قطعها من ظهر الطریق" هغه ونه یې د لارې د مینځ څخه کاټ کړه، خلک د نقصان څخه بچ کول د الله ﷻ ډېر خوښ دي، ددې مثال داسې ورکول شوی دی چې یو سړي هغه ونه کټ کړه چې د لارې په مینځ کې وه، الله ﷻ ته دا عمل دومره خوښ شو چې دده بخښنه یې پرې وکړه، خینې علما، فرمایي چې ددې نه صرف ونه کټ کول مراد نه دي، بلکې هر هغه شی مراد دی چې خلکو ته ترې

تکليف رسيږي، لکه: ګندګي، د بران، ازغي، مېخ، مرداره وغيره دا ټول پکې شامل دي، غرض دا چې هر هغه شی چې خلکو ته ترې تکليف رسيږي د لارې نه يې لرې کول، باعث د اجر او ثواب دي او ددې برعکس خلکو ته تکليف رسول، لاره کې ګندګي غورځول، ازغي ښخول وغيره په دې ټولو کارونو باندې الله ﷻ ناراضه کيږي.

د يوې جمعې لمونځ په جماعت سره تر بلې جمعې پورې کفاره ده

"الثاني عشر: عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله ﷺ" د ابو هريره ؓ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ ثُمَّ أَتَى الْجُمُعَةَ" کوم کس چې په ښکلي شان اودس وکړي، بيا د جمعې لمونځ ته راشي، "فَاسْتَمَعَ وَأَنْصَتَ" غوږ ورته ونيسي او چوپ شي، "غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ وَزِيَادَةُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ" الله ﷻ هغه ته د هغو ګناهونو بخښنه کوي چې ددې جمعې نه تر بلې راتلونکې جمعې پورې وي او نورې درې ورځې ورپسې زياتې، "وَمَنْ مَسَّ الْحَصَا فَقَدْ لَغَا" او چا چې په شګو کې ګوتې ووهلې هغه بيکاره کار وکړو. رواه مسلم.

لغوي تحقيق:

مس: "مس مساً" باب نصر ينصر او ضرب يضرب دواړو څخه دی: ددې معنی ده: لاس وړل.
الحصى: "حصي حصياً" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: په کاڼو ويشتل.

تشريح "فأحسن الوضوء" په ښکلي شان اودس وکړي، په دې جمله کې په ښکلي طريقه اودس څخه مراد دا دی چې په هغې کې سنت، مستحب ټول شامل وي، "أتى الجمعة" د جمعې د لمانځه لپاره جومات ته راشي، ددې نه معلومه شوه چې په جماعت سره لمونځ د انفرادي لمونځ څخه يو په پنځه ويشت او يو په اوه ويشت درجې زيات ثواب لري او بله دا چې د جمعې ورځې لمونځ بغير د جماعت څخه نه ادا کيږي.

د خطبې په مينځ کې د ضرورت په اندازه امام خبرې کولی شي:

"فاستمع وانصت" په خاموشۍ سره يې خطبه ولوسته، په شريعت کې خطبه اورېدل واجب دي، د خطبې په مينځ کې خبرې کول حرام دي، چاته ښه خبره کول هم ګناه ده، يعنې که د خطبې په مينځ کې يو کس ووايي: چوپ شه! خبرې مه کوه! نو دا هم ګناه ده، ليکن د ضرورت په اندازه امام خبرې کولی شي، اورېدونکو ته د خبرو اجازه نشته، لکه په يو روايت کې دي: "من قال يوم الجمعة والامام يخطب انصت فقد لغا" امام چې خطبه ورکوي او بل کس ووايي چې چوپ شه! نو دا هم لغو کار دی.

"غفرله ما بينه وبين الجمعة وزيادة ثلاثة أيام" نو دده وړاندې ګناهونه او تر راتلونکې جمعې پورې ټول ګناهونه معاف کيږي، ورسره درې ورځې نورې هم زياتې، ځکه چې د شريعت قاعده ده: "من جاء بالحسنة فله عشر أمثالها" کوم کس چې يو نېک عمل وکړي: نو دا سې کس ته لږ تر لږه لس چنده ثواب ملاويږي، په دې وجه جماعت سره د جمعې لمونځ د لسو ورځو ګناهونه معاف کوي

"من مس الحصاء فقد لغا" کوم کس چې په ګټکو باندې لوبې وکړي هغه لغوه کار وکړو، د نبي کریم ﷺ په زمانه کې به په جوماتونو کې شګې وې، په دې حدیث کې وفرمایل شو چې کوم کس د خطبې په مینځ کې په دې شګو باندې لوبې وکړي (مطلب هسې بې اړوې) نو دا هم لغوه کار دی او ګناه يې وکړه، ددې نه معلومه شوه چې خطبه د ېر په شوق او په خاموشۍ سره اورېدل پکار دي.

په اودس سره د هر اندام صغیره ګناهونه معاف کيږي

"الثالث عشر: عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ، قَالَ" د ابو هریره ﷺ روایت دی چې رسول الله ﷺ فرمایلي: "إِذَا تَوَضَّأَ الْعَبْدُ الْمُسْلِمُ أَوِ الْمُؤْمِنُ" کله چې یو مسلمان یا يې داسې وفرمایل چې یو مؤمن، "فَغَسَلَ وَجْهَهُ خَرَجَ مِنْ وَجْهِهِ كُلُّ خَطِيئَةٍ نَظَرَ إِلَيْهَا بِعَيْنَيْهِ مَعَ الْمَاءِ" او خپل مخ ووينځي، د اوبو د هر څاڅکي سره د هغه هره ګناه چې د هغه له سترګو څخه شوې وي، "أَوْ مَعَ آخِرِ قَطْرِ الْمَاءِ" او یا يې داسې وفرمایل چې د آخرني هر څاڅکې سره، "فَإِذَا غَسَلَ يَدَيْهِ خَرَجَ مِنْ يَدَيْهِ كُلُّ خَطِيئَةٍ كَانَ بَطَشَتْهَا يَدَاهُ مَعَ الْمَاءِ" او کله چې لاسونه ووينځي، د لاسونو څخه يې هر هغه ګناه چې په لاسونو سره يې کړې وي، د هر څاڅکې سره راوځي، "أَوْ مَعَ آخِرِ قَطْرِ الْمَاءِ" او یا يې داسې وفرمایل چې د هر آخري څاڅکي سره، "فَإِذَا غَسَلَ رِجْلَيْهِ خَرَجَتْ كُلُّ خَطِيئَةٍ مَشَتْهَا رِجْلَاهُ مَعَ الْمَاءِ أَوْ مَعَ آخِرِ قَطْرِ الْمَاءِ" او کله چې پښې ووينځي نو هر هغه ګناه چې هغه په پښو سره کړې وي د اودس د اوبو سره او یا يې داسې وفرمایل چې د آخري څاڅکې سره راوځي، "حَتَّى يَخْرُجَ نَقِيًّا مِنَ الذُّنُوبِ" تر دې پورې چې هغه د ګناهونو څخه صفا سوتره شي. رواه مسلم.

لغوي تحقیق:

بطشتها: "بطش بطشاً" باب نصر ینصر او ضرب یضرب دی، ددې معنی ده: نیول.
نقیاً: "نقي نقاء" باب سمع یسمع دی، ددې معنی ده: صاف او خالص کېدل.

تشریح "العبد المسلم أو المومن" کله چې مسلمان سړی یا مؤمن سړی اودس وکړي، دا د راوي شك ظاهروي. دلته راوي ته شك دی چې نبي کریم ﷺ د مسلم لفظ استعمال کړو او که د مؤمن

په اوداسه سره د ګناهونو اثر ختميږي:

"خرج من وجهه کل خطیئة" قاضي ابوبکر ابن عربي فرمايي چې ټول ګناهونه يې معاف کيږي، تقدیري عبارت داسې دی: (خرج من وجهه أثر کل خطیئة)، چې د ګناه کوم اثر دی هغه ختميږي، لکه په یو روایت کې دي: کله چې یو بنده ګناه وکړي؛ نو دده په زړه باندې یو تور داغ ولګيږي، څومره چې هغه په دې ګناه ګې ترقي کوي دومره به يې د زړه تور داغ زیاتيږي، نو د اودس په برکت سره به د دغه تور داغ اثر ختميږي. لکه علامه ابو المواهب د عبدالوهاب شعراني رحمه الله په حواله د امام ابو حنیفه رحمه الله قول نقل کړی دی چې یو سړي د هغه په وړاندې اودس کولو، نو امام صاحب رحمه الله ورته وفرمایل: زنا مه کوه، دده د اودس په اوبو کې د زنا اثر معلومیدو، "نظر الیها بعینیه" کومه ګناه چې د سترګو څخه شوې وي،

په دې روايت کې صرف د سترګې ذکر دی، لیکن په يو بل روايت کې د خولې ذکر هم دی، "حتی یخرج نقیاً من الذنوب" تر دې پورې چې هغه د ګناهونو څخه پاك راووځي

ايا په اوداسه سره صغيره او كبيره ګناهونه معاف کيږي؟

امام نووي رحمه الله فرمايي: په اوداسه سره صغيره ګناهونه معاف کيږي، کبيره ګناهونه نه معاف کيږي، څکه چې د کبيره معاف کېدو لپاره توبه ویستل ضروري دي، ځينو نورو علماوو ددې نور خوابونه کړي دي: دلته د ګناهونو څخه صغائر مراد دي، څکه چې کبيره ګناهونه بغير د توبې څخه نه معاف کيږي، په حديث کې راځي: "حتی یخرج نقیاً من الذنوب" تردې چې د ګناهونو څخه پاکيزه ووځي، د مسلمان د شان څخه دا خبره بعيده ده چې هغه دې مرتکب د کبيره ګناهونو شي، که چېرته کبيره ګناه ترې وشي؛ نو تر څو چې يې توبه نه وي ویستلې تر هغې ورته آرام نه ملاوېږي، همدغه خواب د شيخ الهند رحمه الله نه نقل شوی دی، په دې حديث کې لفظ د عبد ذکر شوی دی، ممکنه ده چې په دې بنياد شوی وي او ځينې نور علماء په دې کې چوپ پاتې شوي دي، علامه ابن حجر رحمه الله فرمايي: دلته صغيره ګناهونه مراد دي، څکه چې په يو بل روايت کې دي: "مالم تؤت کبيرة" تر څو پورې چې يې کبيره ګناه نه وي کړې

يوه روژه تر بلې روژې د ګناهونو لپاره کفاره ده

"الرابع عشر: عَنْهُ، عن رَسُول الله ﷺ، قَالَ" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي: "اَلصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ، وَالْجُمُعَةُ إِلَى الْجُمُعَةِ" پنځه وخته لمونځ او د يوې جمعې څخه تر بلې جمعه پورې، "وَرَمَضَانُ إِلَى رَمَضَانَ مُكَفِّرَاتٌ لِمَا بَيْنَهُنَّ" او يوه روژه تر بلې روژې پورې په دې سره ګناه ختميږي، دا ټول مکفرات دي، "إِذَا اجْتُنِبَتِ الْكَبَائِرُ" خو ګله چې د لويو ګناهونو څخه ځان وساتي. رواه مسلم.

تشريح "الصلوات الخمس" پنځه وخته لمونځونه، د يوې جمعې څخه تر بلې جمعې پورې او د يوې روژې څخه تر بلې روژې پورې چې ددې په مينځ کې څومره ګناهونه شوي وي، ددې ټولو عملونو په برکت الله جل جلاله ورته ګناهونه معاف کوي

په اعمالو سره صغيره ګناهونه معاف کيږي:

"إذا اجتنبت الكبائر" تر څو پورې چې د لويو ګناهونو څخه ځان ساتي، ددې روايت نه معلومېږي چې په اعمالو سره صغيره ګناهونه معاف کيږي او د کبيره ګناهونو د معافی لپاره توبه شرط ده، همدغه د جمهورو عالمانو مسلك دی، په دې باندې د امت اجماع ده، مولانا عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله فرمايي چې: اتفاق است علماء را که مراد گناه هائے صغيره است بدليل قوله عليه السلام: "الصلوات الخمس والجمعة الى الجمعة" بله دا چې که صغيره او کبيره دواړه ګناهونه معاف شي؛ نو بيا به يو سړی هم جهنم ته لاړ نه شي، څه نا څه عمل خو هر مسلمان کوي

درجې اوچتوونکي عملونه

"الخامس عشر: عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ" د ابو هريره ﷜ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي: "أَلا أَدُلُّكُمْ عَلَى مَا يَمْحُو اللهُ بِهِ الخَطَايَا وَيَرْفَعُ بِهِ الدَّرَجَاتِ؟" ايا زه تاسو ته هغه څه ونه ښيم چې الله ﷻ د انسان ګناهونه لرې کوي او درجې يې پرې اوچتوي؟ "قَالُوا: بَلَى، يَا رَسُولَ اللهِ" صحابه کرامو وفرمايل: اې د الله رسوله! ولې نه! موږ ته يې وښيئ! "قَالَ: إِسْبَاغُ الوُضُوءِ عَلَى المَكَارِهِ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: کامل اودس د تکليف سره، "وَكَثْرَةُ الخُطَا إِلَى المَسَاجِدِ" او جوماتونو ته ډېر زيات قدمونه اخيستل، "وَانْتِظَارُ الصَّلاةِ بَعْدَ الصَّلاةِ فَذلِكُمُ الرِّبَاطُ" او د يو لمانځه څخه تر بل لمانځه پورې انتظار کول او هم دغه ستاسو رباط دی. رواه مسلم
"إسباغ الوضوء تمامه، والمكاره تكون بشدة البرد وألم الجسم" اسباغ الوضوء دې ته وايي چې کامل اودس وکړي، سره له دې چې سخته يخني وي او ستا بدن ته هم پرې تکليف رسيږي، څکه تبې وغيره نيولې يې

لغوي تحقيق:

أدلكم: "دل دلالة و دلولة" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: لار ښودل، رهنمايي کول.

يمحو: "محا محياً" باب فتح يفتح دی، ددې معنی ده: لرې کول.

الرباط: هر هغه پټی چې وتړل شي، هغه لښکر ته هم ويل کيږي چې په سرحداتو باندې پړاو اچوي، ددې جمع "ربوط" راځي.

تشريح: "يمحوالله به الخطايا" الله ﷻ درته ګناهونه معاف کړي، قاضي عياض رحمه الله فرمايي چې دا کنايه ده د مغفرت څخه، بلکه دا چې الله ﷻ د عملونو په وسيله ګناهونه معاف کوي.

په اوداسه کې مبالغه:

"إسباغ الوضوء" اودس ښه په مبالغې سره پوره کول، اندامونه يو ځل وينځل فرض دي او درې ځله وينځل سنت دي، د درې ځله نه زيات وينځلو جواز ددې روايت نه معلوميږي، علامه شامي رحمه الله فرمايي چې د احنافو علماوو نه د وينځلو پوره تعداد نه دی نقل شوی، علامه شامي رحمه الله فرمايي چې "لوزادعلى الثلاث لطمأنية القلب لابأس به لقوله عليه السلام: دع ما يريبك الى مالايريبك".

"على المكاره" د مشقت او تکليف په وخت، ددې نه مراد دا دی چې کله اوبه په پيسو اخيستلې شي يا سخت يخ وي يا ورته په اوبو سره جسماني درد او تکليف رسيږي، نو بيا هم هغه اودس کوي.

"إنتظار الصلوة بعد الصلوة" د يو لمونځ نه تر بل لمونځ پورې انتظار کول، ددې دوه مطلبه دي: يو مطلب دا دی چې سړی لمونځ وکړي او په خپل ځای ناست وي تر څو د بل لمانځه وخت راشي، بل مطلب يې دا دی چې سړی د جوماتت څخه ووځي خو زړه يې د لمانځه سره تړلی وي، "وقلبه معلق بها" دا فکر کوي چې کله به د لمانځه وخت راشي چې جماعت ته لاړ شم.

د رباط تحقيق:

"فذالكم الرباط" رباط په اصل کې د دښمن نه د سرحداتو حفاظت ته ويل کيږي. دې اعمالو ته رباط ځکه ويل کيږي چې ددې اعمالو په ذريعه انسان د شيطان نه بچ کيږي، په مؤطا إمام مالك کې دي "فذالك الرباط" دوه ځله تکرار شوی او په ترمذي کې درې ځله تکرار شوی دی.

د سهار او مازيګر په لمانځه جنت

"السادس عشر: عن أبي موسى الأشعري رضي الله عنه، قال: قال رسول الله ﷺ" د ابو موسى اشعري رضي الله عنه نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "مَنْ صَلَّى الْبَرْدَيْنِ دَخَلَ الْجَنَّةَ" چا چې د يخنۍ دوه لمونځونه وکړل هغه به جنت ته داخل شي، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. "الْبَرْدَانِ: الصبح والعصر" د "البردان" نه مراد د سهار او مازيګر لمونځونه دي.

لغوي تحقيق:

البردين: "برد برداً" باب نصر ينصر دی، او د کرم يکرم څخه هم راځي، ددې معنی ده: يخ کېدل، او "البردان والابردان" سهار او ماښام لمونځونو لپاره استعمال شوی دی.

د سهار او مازيګر لمانځه فضيلت:

"من صلى البردين" د (بردين) لفظ وضاحت خپله په حديث کې بيان شوی دی چې ددې نه د سهار او مازيګر لمونځ مراد دی، په يو روايت کې دا مضمون هم راځي: "لايلج النار أحد سلى قبل طلوع الشمس وقبل غروبها يعني الفجر والعصر" يعني کوم سړی چې د لمر راختلو نه مخکې لمونځ وکړي او د لمر ډوبيدو نه مخکې لمونځ وکړي، داسې کس به جهنم ته نه داخليږي، (يعني د سهار او مازيګر لمونځونه وکړي).

آيا جنت ته د داخلېدو لپاره صرف د سهار او مازيګر لمونځ کافي دی؟

سوال: آيا صرف د سهار او مازيګر لمونځ کافي کيږي چې سړی پرې جنت ته داخل شي، اګر که نور لمونځونه نه کوي او که د ګناه کارونه کوي بيا هم خير دی؟

جواب: علامه عيني فرمايي چې دا په ابتداء د اسلام کې وو، کله چې د سهار او مازيګر لمونځ فرض وو، پنځه وخته لمونځ لاتر اوسه فرضنه وو، دويم جواب دا دی چې علامه طيبي رحمه الله د مشکاة په شرح کې داسې فرمايي: کوم کس چې د سهار او مازيګر لمونځونو اهتمام کوي، هغه به ددې باقي وختونو اهتمام خپله کوي، ځکه چې د الله جل جلاله ارشاد مبارك دی: "إن الصلاة تنهى عن الفحشاء والمنكر" بې شکه لمونځ د بې حياء او فحشاء کارونو څخه انسان منع کوي، د لمونځ په برکت به هغه د نورو ګناهونو څخه بچ شي، په دې وجه به جنت ته داخل شي.

په ناروغۍ او سفر کې سړي ته پوره اجر ملاوېږي

"السابع عشر: عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ" د ابو موسي اشعري رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "إِذَا مَرِضَ الْعَبْدُ أَوْ سَافَرَ كُتِبَ لَهُ مِثْلُ" کله چې بنده بيمار شي او يا مسافر شي، هغه ته به دومره اجر ليکل کېږي، "مَا كَانَ يَعْمَلُ مُقِيماً صَحِيحاً" کوم عمل چې به هغه د اقامت او روغتيا په حالت کې کولو. رواه البخاري

تشريح: د دې حديث مضمون په ګڼ شمېر روايتونو کې ملاوېږي چې کله انسان د مرض يا د سفر په وجه هغه عملونه نه شي کولی کوم چې به هغه د صحت او قيام په حالت کې کول، د کومو چې هغه عادي وو، نو الله جل جلاله به په خپل فضل او کرم سره د هغو اعمالو ثواب او اجر ورکوي کوم بې چې په صحت او اقامت کې کول.

ابن بطال رحمه الله فرمايي چې په دې حديث کې هغه اعمال مراد دي کوم چې نفلي او مستحب وي چې د دې په نه کولو سره پوره پوره ثواب ورکول کېږي، ليکن فرض او واجب په هر حال کې ضروري دي، هغه ته به د دې د ادا کولو اجر په سفر او مرض کې هم ملاوېږي، اګر چې د مرض په حالت کې بې په صحيح توګه نه شي ادا کولی، نو بيا به هم ورته پوره ثواب ملاوېږي، مثلاً که هغه په ولاړه لمونځ نه شي کولی نو په ناسته دې وکړي؛ نو د دې ناقص لمونځ پوره ثواب به ورته ملاوېږي.

هر نېک عمل صدقه ده

"الثامن عشر: عن جَابِرٍ رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رسولُ اللّٰهِ ﷺ" د جابر رضي الله عنه نه روايت دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "كُلُّ مَعْرُوفٍ صَدَقَةٌ" هر نېک کار صدقه دی، "رواه البخاري، ورواه مسلم مِنْ رواية حُذَيفة رضي الله عنه" دا حديث امام بخاري رحمه الله روايت کړی دی او امام مسلم رحمه الله په روايت د حذيفه رضي الله عنه سره نقل کړی دی.

تشريح: "معروف" امام راغب رحمه الله فرمايي چې معروف هر هغه کار ته وايي چې شرعاً او عقلاً ښه ګڼل کېږي، په دې حديث کې دې طرفته اشاره ده چې صدقه صرف دې ته نه ويل کېږي چې مال ورکړه شي بلکې هر هغه نېک کار او عمل چې د يو مسلمان سړي سره وکړل شي؛ نو هغه هم د ثواب په اعتبار سره صدقه ده. ابن بطال رحمه الله فرمايي چې هر عمل، هغه که قولي وي او که فعلي وي؛ خو چې نېک وي، په دې باندې د صدقې پوره ثواب ملاوېږي.

بله خبره دا ده چې د صدقې اطلاق په هر هغه شي باندې کېږي چې واجب نه وي، خو کله کله د صدقې اطلاق په واجب باندې هم کېږي، لکه د فقهې په کتابونو کې باب صدقة الفطر عنوان قائم شوی دی، حالانکې صدقة الفطر واجب ده. نقل نه ده، "من رواية حذيفه" دلته مصنف رحمه الله د متفق عليه لفظ استعمال نه کړو، ځکه چې متفق عليه لفظ هلته استعمالېږي چېرته چې بخاري او مسلم سنداً او متناً متفق وي، دلته په متن کې دواړه متفق دي، خو د سند په اعتبار سره متفق نه دي، ځکه چې په بخاري کې دا روايت د جابر رضي الله عنه څخه نقل شوی دی او په مسلم کې د حذيفه رضي الله عنه نه روايت شوی دی.

کښت کول هم صدقه ده

"التاسع عشر: عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ" د جابر رضي الله عنه نه روايت دی. فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْساً إِلَّا كَانَ مَا أُكِلَ مِنْهُ لَهُ صَدَقَةٌ" نشته يو مسلمان چې د مېوو يو قسم باغ وکري مګر شته د هغه لپاره د صدقې اجر، هر هغه څه چې ددې باغ نه وخوړل شي. "وَمَا سُرِقَ مِنْهُ لَهُ صَدَقَةٌ" او يا کوم څه چې ددې نه غلا شي په هغې کې هم د صدقې اجر شته. "وَلَا يَرْزَؤُهُ أَحَدٌ إِلَّا كَانَ لَهُ صَدَقَةٌ" او نه کموي ددې باغ نه څه قسم مېوه مګر د هغه لپاره به په دې کې صدقه وي. رواه مسلم.

"وفي رواية له" او په يوه روايت کې دي: "فَلَا يَغْرِسُ الْمُسْلِمُ غَرْساً" يو انسان د مېوو باغ نه کري. "فَيَأْكُلَ مِنْهُ إِنْسَانٌ وَلَا دَابَّةٌ وَلَا طَيْرٌ" چې ددې باغ څخه څه قسم خوراک وخوري انسان يا چارپايي او يا مارغان. "إِلَّا كَانَ لَهُ صَدَقَةً إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ" مګر دا چې وي به د هغه لپاره تر قيامته پورې صدقه. "وفي رواية له: لَا يَغْرِسُ مُسْلِمٌ غَرْساً" او په بل روايت کې دي چې: مسلمان يو باغ نه کري، "وَلَا يَزْرَعُ زَرْعاً" او نه کري څه کښت. "فَيَأْكُلَ مِنْهُ إِنْسَانٌ وَلَا دَابَّةٌ وَلَا شَيْءٌ" چې د هغې نه انسان وي که څناور وي او که څه بل څه شی وي څه خوراک وکړي. "إِلَّا كَانَتْ لَهُ صَدَقَةٌ" مګر وي به د هغه لپاره په دې کې صدقه. "وروياه جميعاً من رواية أنس رضي الله عنه" دا ټول حديثونه د انس رضي الله عنه نه روايت شوي دي. "قوله: يَرْزَؤُهُ أي ينقصه" دا قول چې "يرزؤه" ددې معنی ده: کمېدل.

لغوي تحقيق:

يغرس: "غرس غرساً" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: ونې کرل.

يرزؤه: "رزأ رزأ" باب فتح يفتح دی، ددې معنی ده کمول، کم ورکول، څه حصه لاس ته راوړل.

يزرع: "زرع زرعاً" باب فتح يفتح دی، ددې معنی ده: په ځمکه کې تخم کرل.

تشريح: د حديث مفهوم دا دی چې: که يو سړی پټی، وکري يا ونې ولګوي او خلک، څاروي وغيره ترې خوراک کوي او فايدې ترې حاصلوي؛ نو ددې ټولو ثواب مالک ته رسيږي، په دې حديث کې د پټي او باغ مالک ته يو قسم تسلي ده، هغه دا چې تاسو ته کوم نقصان ورسيږي په هغې باندې صبر کول، ددې بدله به الله ﷻ درکوي.

د نيت نه بغير ثواب ولې؟

سوال: د عملونو ثواب په نيت موقوف دي او دلته د پټي کرونکي نيت نه وي چې خلک دې ترې خوراک وکړي؟ **جواب:** ددې په ځواب کې شاه عبدالعزيز بن شاه ولي الله رحمهما الله فرمايي چې د پټي کرلو مقصد هم دا دی چې څه پکې وشي؛ نو انسان او څناور ترې فايده حاصله کړي، د ثواب حاصلېدو لپاره اجمالي نيت کافي دی، د فصل، باغ مالک ته ثواب حاصلیږي، د همدې اجمالي نيت په ذريعه چې هغه د انسان او حيوان د ژوند د بقاء نيت کړی دی، اوس ددې پټي او باغ څخه که انسان فايده حاصلوي او که څناور، هغه که په جائزه طريقه وي او که په ناجائزه طريقه وي، ثواب به يې مالک ته ملاويږي.

جوماتته په تلو سره هر قدم باندې ثواب ملاويږي

"العشرون: عَنْهُ، قَالَ" د جابر ﷺ روايت دی، فرمايي چې: "أراد بنو سَلِمَةَ أن ينتقلوا قرب المسجد" د بنو سلمه قبيلې خلکو اراده وکړه چې دوی خپل کورونه رانقل کړي او نبوي جومات ته رانژدې شي. "فبلغ ذلك رسول الله ﷺ" دا خبره رسول الله ﷺ ته راورسېده، "فَقَالَ لَهم: إِنَّهُ قَدْ بَلَغَنِي أَنَّكُمْ تُرِيدُونَ أَنْ تَنتقِلوا قُرْبَ المَسْجِد؟" نبي اکرم ﷺ دوی ته وفرمايل: ماته دا خبره راورسېدلې ده چې تاسو خپل کورونه رانقل کوئ، مسجد نبوي ته يې نژدې راوړئ؟ "فقالُوا: نَعَمْ، يَارَسُولَ اللهِ قَدْ أَرَدْنَا ذَلِكَ" هغوی ټولو ورته وفرمايل: يارسول الله ﷺ! هو مونږ ددې خبرې اراده کړې ده، "فَقَالَ: بَنِي سَلِمَةَ، دِيَارَكُمْ، تُكْتَبْ آثَارُكُمْ" نبي اکرم ﷺ ورته وفرمايل: اې بنو سلمه! تاسو خپل کورونه په خپل ځای باندې پرېږدئ! ستاسو قدمونه به شمارل کيږي او ددې اجر به تاسو ته درکولی شي، "دِيَارَكُمْ تُكْتَبْ آثَارُكُمْ" تاسو خپل کورونه په خپل ځای باندې پرېږدئ! ستاسو قدمونه به شمارل کيږي او ددې اجر به درکولی شي، "رواه مسلم. وفي رواية: إِنَّ بِكُلِّ خَطْوَةٍ دَرَجَةً" دا حديث امام مسلم رحمه الله روايت کړی دی او په يوه روايت کې داسې دي چې تاسو ته به په هر قدم باندې يوه درجه وي "رواه مسلم، رواه البخاري أيضاً بمعناه مِنْ رِوَايَةِ أنس ﷺ." امام مسلم او امام بخاري (رحمهما الله) هم د انس ﷺ نه په دې معنی سره رانقل کړی دی، "وَبَنُوسَلِمَةَ: بكسر اللام: قبيلة معروفة مِنَ الأنصار ﷺ" او بنو سلمه په کسرې د لام سره دا په انصارو کې يوه مشهوره قبيله ده، "وَآثَارُهُمْ: خطاهُم" دآثار نه مراد قدمونه دي

تشريح: "فقال بنوسلمه ديارکم تکتب اثارکم" اې بنو سلمه! تاسو په خپلو کورونو کې اوسېږئ! ستاسو قدمونه به ليکل کيږي، علماء فرمايي چې زيات فضيلت د هغه کور دی چې د جومات سره نژدې وي، ځکه چې په جومات باندې د الله ﷻ رحمت نازليږي، نو ددې سره نژدې کورونه هم ترې خالي نه وي، لکه په يو روايت کې چې دي: "فضل الدار القريبة من المسجد على الشاسعة كفضل الغازي على القاعد" د جومات سره نژدې کورونو فضيلت داسې دی لکه د مجاهد سړي فضيلت چې په ناست سړي دی، جومات ته نژدې خو لرې کورونه آباد پرېږي باقي نور کورونه ترې لرې وي، ځکه شريعت د دوی خيال هم وساتلو او ورته يې وويل: تاسو چې څومره قدمونه ږدئ، دومره به تاسو ته نيکی حاصليږي، په ځينو نورو رواياتو کې راځي چې صحابه کرامو ﷺ به جومات ته د تلو په وخت واړه واړه قدمونه اېښودل، ددې لپاره چې ثواب يې زيات شي.

د نيک عمل حرص کول

"الحادي والعشرون: عن أبي المنذر أُبَيِّ بن كعب ﷺ، قَالَ: كَانَ رَجُلٌ لا أعْلَمُ رَجلاً أبْعَدَ مِنَ المَسْجِدِ مِنْهُ" د ابو المنذر ابي بن کعب ﷺ روايت دی، فرمايي چې زه يو داسې کس پېژنم چې د هغه نه بل کس دومره زيات لرې نه وو، "وَكَانَ لا تُخْطِئُهُ صَلاةٌ" د هغه څخه به کله هم جمع نه قضاء کېده، "فَقِيلَ لَهُ أَوْ فَقُلْتُ لَهُ" يوه ورځ چا ورته وويل: که ما ورته وويل چې: "لَوِ اشْتَرَيْتَ حِمَاراً تَرْكَبُهُ في الظَّلْمَاءِ وفي الرَّمْضَاءِ" که ځانته خر واخلې چې په هغه باندې په تياره کې او په ګرمۍ کې پرې ښې راشې؟ "فَقَالَ: مَا يَسُرُّنِي أنَّ مَنْزِلِي إلَى جَنْبِ المَسْجِدِ" هغه وويل: زه

دا خبره نه خوښوم چې زما کور دې د جومات سره نزدې شي، "إِنِّي أُرِيدُ أَنْ يُكْتَبَ لِي مَمْشَايَ إِلَى الْمَسْجِدِ وَرُجُوعِي إِذَا رَجَعْتُ إِلَى أَهْلِي" زه اراده لرم چې ماته زما په عمل نامه کې جومات ته تلل راتلل وليکل شي، کله چې زه خپلې کورنۍ ته ځم او راځم، "فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: قَدْ جَمَعَ اللّٰهُ لَكَ ذٰلِكَ كُلَّهُ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: الله ﷻ دا ټول ستا لپاره په عملنامه کې راجمع کړل. "رواه مسلم. وفي رواية: إِنَّ لَكَ مَا احْتَسَبْتَ" په يو روايت کې داسې دي چې ستا لپاره هم هغه څه وليکل شول د کومو چې تا نيت کړی وو. "الرَّمْضَاءُ: الْأَرْضُ الَّتِي أَصَابَهَا الْحَرُّ الشَّدِيدُ" رمضاء هغې ځمکې ته ويلی شي چې ډېره ګرمه وي.

څومره چې کور د جومات څخه لرې وي، دومره به يې اجر زيات وي:

تشريح: په دې حديث کې هغې خبرې ته ترغيب دی چې انسان چېرته اوسيږي، په خپل ځای بايد پاتې شي، د جومات نه لرې کېدل بده خبره نه ده، ځکه چې هم دغه لرې والی به ورته د ثواب ذريعه جوړه شي، د کور نه جومات ته تلل او بېرته واپس راتلل، په دې ټولو سره انسان ته ثواب ملاوېږي، په يو روايت کې دي چې: "الأبعد فالأبعد من المسجد أعظم" د جومات نه چې څوک څومره لرې وي هغومره اجر به ورته ملاوېږي، "في الظلماء" ددې نه د شپې لمونځونه مراد دي، يعنې د سهار ماښام او ماسخوتن لمونځونه، "الرمضاء" ځکه چې ګرمه شي، ددې نه مراد د ماسپښين او مازيګر لمونځ مراد دی. "قد جمع الله لك ذالك كله" ستا لپاره الله ﷻ دا ټول جمع کړي دي، يعنې ستا نيت هم صفا دی او اراده دې هم صحيح ده، په دې باندې هم د الله ﷻ له طرفه ثواب ملاوېږي، "كله" دا کلمه د "ذالك" لپاره تاکيد دی

د راوي ابو المنذر ابي بن کعب رضي الله عنه مختصر حالات:

اصل نوم يې ابو المنذر دی، کنيت يې ابو الطفيل دی، سيد القراء، سيد الانصار او سيد المسلمين يې لقبونه وو، د مور نوم يې صهيله وه، په عقبه ثانيه کې مسلمان شوی وو، د بدر نه واخله تر طائف پورې ټولو غزاګانو کې يې د رسول الله ﷺ سره شرکت کړی ؤ، ابو بکر رضي الله عنه د قرآن کريم د ترتيب او تدوين لپاره يو څو صحابه ګمارلي وو، په هغوی کې دا صحابي هم ؤ، عمر رضي الله عنه د فتوی ورکولو کار ده ته سپارلی ؤ، کله چې هغوی درخواست وکړو چې ما په کور کار کښېنوئ، نو عمر رضي الله عنه ورته وفرمايل: زه نه غوارم چې ستا دين په دنيا کې دفن کړل شي، د قرآن کريم سره سره د تورات او انجيل عالم هم وو، د هغه په درس کې به د عربو، عجمو، روم، شام او داسې نورو علاقو څخه خلک راتلل او د دين علم به يې حاصلولو.

د رسول الله ﷺ سره يې بې حده زياته مينه کول، په خپل کور کې يې د حنانه ستنه د تبرک لپاره ايښې وه، (دا هغه ستنه ده چې رسول الله ﷺ به دې ته درېدو او خطبه به يې ويل، بيا دغه ستن لرې کړی شوه او منبر ورته جوړ شو چې په هغه منبر باندې کښېنستلو، دغه ستن په ژړا شوه، ددې وجې ورته حنانه وايي) کله چې دغه ستنه چينجو وخوړل بيا يې د خپل کور نه جدا کړه.

وفات په نهه دېرشمه هجري کې د عثمان رضي الله عنه په دور خلافت کې وفات شو، عثمان رضي الله عنه

ورباندې جنازه وکړه او په مدينه منوره کې دفن کړی شو.

مرويات: د احاديثو په روايت کې به يې حد درجه احتياط کولو، په دې وجه د هغه څخه صرف يو سل شپږ څلويښت حديثونه روايت شوي دي، په دې کې درې په بخاري او مسلم دواړو کې دي او په بخاري کې يو او په مسلم کې اوه ځانته منفرد دي.

د شيدې والا وزه ډالی کولو فضيلت

"الثاني والعشرون: عن أبي محمد عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ" د ابو محمد عبد الله بن عمرو بن العاص ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل "أَرْبَعُونَ خَصْلَةً" محبوب خويونه څلويښت دي: "أَعْلَاهَا مَنِيحَةُ الْعَنْزِ" د ټولو نه اوچت او ښه خوی دا دی چې چا ته د شيدو لپاره ونه يا بل څاروی ورکړي، "مَا مِنْ عَامِلٍ يَعْمَلُ بِخَصْلَةٍ مِنْهَا، رَجَاءَ ثَوَابِهَا وَتَصْدِيقَ مَوْعُودِهَا" يو کس هم په تاسو کې داسې نشته چې په دې خصلتونو او خويونو کې يو هم د ثواب په نيت وکړي او په دې کې چې د کومو ښيانو وعده شوې ده د هغې تصديق وکړي. "إِلَّا أَدْخَلَهُ اللهُ بِهَا الْجَنَّةَ" مګر دا چې الله ﷻ به هغه جنت ته داخل کړي "رواه البخاري" "الْمَنِيحَةُ: أَنْ يُعْطِيَهُ إِيَّاهَا لِيَأْكُلَ لَبَنَهَا ثُمَّ يَرُدَّهَا إِلَيْهِ" منيحه دې ته ويلی شي چې د شيدو والا څاروی چاته د شيدو لپاره ورکړي چې: هغې شيدې وڅښي او د ضرورت پوره کولو نه پس بيې مالک ته واپس کړي.

لغوي تحقيق:

خصلة: ددې معنی ده: عادت، ښه وي او که بد وي، زيات وخت د ښه عادت لپاره استعماليږي، ددې جمع "خصال" راځي.

منيحة: شيدې ورکوونکې څاروی، ددې لپاره يې چاته ورکړي چې شيدې يې وڅښي، بيا يې بېرته واپس کړي.

العنز: دا مصدر دی، چېلۍ ته ويل کيږي، هوسۍ ته ويل کيږي.

څلويښت خصلتونه:

تشريح: "ربعون خصلة" څلويښت خصلتونه دي، د مسند احمد په يو روايت کې د خصلة پر ځای حسنة لفظ راغلی دی، څلويښت خصلتونه يا نيکۍ کومې دي؟ محدثينو هغه راجمع کړي دي، په هغې کې يو څو دا دي:

د کار کوونکي سره مرسته کول.

د بوټانو تسمه ورکول.

د مسلمانانو عيبونه پټول.

د مسلمانانو په خوشحالۍ کې شامليدل.

مجلس ته راتلونکي کس لپاره ځای پرېښودل.

نېک کار ته دعوت ورکول

وني او بوټي لګول

زميندارۍ/ کښت کول

نصيحت کول

رحم او نرمي کول

د سلام ځواب ورکول

د پرنجي/ انګشي ځواب ورکول

د لارې نه تکليف ورکوونکي شی لرې کول

"أعلاها منيحة العنزة" په دې ټولو خصلتونو کې اعلی خصلت دا دی چې چاته شيدو والاچېلۍ ورډ ورکړي

د لفظ منيحة تحقيق:

علامه ابو عبيد رحمه الله فرمايي چې: "منيحة" د عظيمة په وزن دی، ددې دوه معناګانې دي يو دا چې چاته شيدو والاځاروی ورکړل شي، کله چې هغه ترې فايده واخلي؛ نو بېرته يې واپس کړي

دويمه معنی دا ده چې مستقل طور ځاروی په هديه کې ورکړي او بېرته يې ترې واپس نه اخلي، ليکن زياته استعمالېدونکې اولنی معنی ده

"تصديق موعودها" د الله ﷻ وعده رښتونې کنې. يعنې چې الله ﷻ په خپله وعده کې رښتونی دی، "وعدالله حقاً" او په يو بل ځای کې ارشاد دی "ومن أصدق من الله حديثاً" ايا د الله ﷻ نه زيات بل څوک په خبرو کې رښتونی کېدی شي؟ هيڅوک هم نه! "أدخله الله بها الجنة" نو الله ﷻ دغه کس ددې چېلۍ/ وزې په وجه جنت ته داخل کړو، الله ﷻ خپله وعده خامخا رښتيا کوي.

د راوي ابومحمد عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې عبد الله، ابو محمد او ابو عبد الرحمن يې کنيت وو، د پلار نوم يې عمرو بن العاص ؤ او د مور نوم يې ريطه بنت منبه ؤ، د خپل پلار عمرو نه يې مخکې اسلام قبول کړی ؤ، د نبي کريم ﷺ په خدمت کې به حاضرېدو او کله چې به يې څه اورېدل هغه به يې ليکل، ابو هريره رضي الله عنه خپله فرمايي چې هغه ته زما نه زيات حديثونه ياد ؤ، هغه به ليکل او ما به نه ليکل، د نبي کريم ﷺ سره يې په ځينو جهادونو کې شرکت کړی دی، د يرموک په غزا کې عمرو بن العاص رضي الله عنه د اسلام بيرغ هغه ته ورکړی ؤ

د درس حلقه يې ډېره وسيعه وه، د خپلو شاګردانو سره به يې بې حده زياته مينه کول، يوه ورځ يې روژه نيول بله ورځ به يې کوژه وه، د شپې اکثره حصه به يې په عبادت کې تېرول، په دريمه ورځ به يې ختم خپل عادت جوړ کړی ؤ

وفات وفات يې د ضعاط په مقام کې په پنځه شپېتمه هجري کې شوی، دغه وخت د مروان بن

حکم او عبد الله بن زبير ﷺ تر منځ جنګ شروع و، په دې وجه خلکو په خپل کور کې دفن کړو، ځکه چې جنازه يې سر عام هديرې ته رسول مشکل و.

مرويات د هغه څخه پوره اوه سوه/ ۷۰۰ حديثونه رانقل شوي دي، په دې کې اولس/ ۱۷ حديثونه د بخاري او مسلم متفق عليه دي، په اتو کې امام بخاري او په شلو کې امام مسلم منفرد دی.

د جهنم نه ځان بچ کړئ اګر چې د خورما په يوه ټکړه ولې نه وي

"الثالث والعشرون: عن عَدِيِّ بنِ حَاتِمٍ ﷺ، قَالَ: سمعت النَّبِيَّ ﷺ يقول" د عدي بن حاتم ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "اتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ" د جهنم د اور څخه ځانونه بچ کړئ، اګر چې د خورما په يوه ټکړه سره ولې نه وي. **مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ**

"وفي رواية لهما عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله ﷺ" او په يو بل روايت کې هم د عدي بن حاتم ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "مَا مِنْكُمْ مِنْ أَحَدٍ إلاَّ سَيُكَلِّمُهُ رَبُّهُ لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ تُرْجُمَانٌ" په تاسو کې هر کس به د خپل رب سره خبرې کوي، دده او د الله ﷻ په مينځ کې به هيڅ قسم ترجمان وغيره نه وي، "فَيَنْظُرُ أَيْمَنَ مِنْهُ فَلاَ يَرَى إلاَّ مَا قَدَّمَ" نو دا کس به ښي طرفته وګوري، کوم عملونه چې هغه کړي دي، ښه وي او که بد وي، هغه ټول به ويني، "وَيَنْظُرُ أَشْأَمَ مِنْهُ فَلاَ يَرَى إلاَّ مَا قَدَّمَ" او کله چې شانه وګوري؛ نو کوم عملونه چې يې کړي دي، ښه وي او که بد وي، هغه به ويني، "وَيَنْظُرُ بَيْنَ يَدَيْهِ فَلاَ يَرَى إلاَّ النَّارَ تِلْقَاءَ وَجْهِهِ" کله چې وګوري مخ په وړاندې وګوري؛ نو د جهنم اور به ويني، مخامخ به وي ورته، "فَاتَّقُوا النَّارَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ" بس تاسو ځانونه د جهنم له اوره بچ کړئ، اګر چې د خورما په يوې ټوټې سره هم وي، "فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَبِكَلِمَةٍ طَيِّبَةٍ" او که د خورما ټوټه يې ونه موندل، نو په ښکلي او ښو خبرو سره دې ځان د جهنم له اوره بچ کړي.

لغوي تحقيق: بشق: "الشق" ددې معنی ده: نيم، جانب، کناره.

ترجمان: ترجمه، ددې معنی ده: کلام، ترجمه کول، اسم صفتي ددې ترجمان راځي، جمع يې تراجم او تراجمه راځي.

أشأم: "الشامة والمشامة" ددې معنی ده چپ طرف، نحوست، بې برکتي.

تشريح: "إتقوا النار ولو بشق تمرة" د دوزخ نه ځان بچ کړئ؛ اګر چې د خورما په يوې ټوټې صدقه کولو سره وي، په دې حديث کې دې طرفته اشاره ده چې بايد انسان د خپل ځان او جهنم تر مينځ څند جوړ کړي، اګر چې هغه د يوې خورما په ټوټې سره ولې نه وي، که زيات څه نه شي ورکولی نو يوه خورما دې صدقه کړي، که دا هم درسره نه وي؛ نو مبالغة ووبل شو چې بيا دې د خورما ټوټه صدقه کړي، ليکن ځان بايد د جهنم له اوره بچ کړي.

"ليس بينه وبينه ترجمان" دده او د الله ﷻ تر مينځ به هيڅ يو ترجمان نه وي، په دې کې دې طرفته اشاره ده چې انسانه! ووېرېږه! د ګناهونو نه ځان بچ کړه! ستا به د الله ﷻ په وړاندې ورځې! بيا به الله ﷻ نه څه ځواب ورکوې!

د قيامت په ورځ به عملونه وليدل شي:

"فينظر أيمن منه فلا يرى إلا ما قدم" هر سړی به خپل ښي طرفته وګوري؛ نو خپل ټول عملونه به ورته نظر راشي، دغه ډول چپ طرفته به وګوري؛ نو بيا به هم ورته خپل ټول عملونه په نظر ورشي، همدغه مضمون په قرآن کريم کې دی: "ووجدوا ما عملوا حاضراً" د قيامت په ورځ به انسان خپل ټول هغه عملونه ويني چې په دنيا کې يې کړي وو.

"فمن لم يجد فبكلمة طيبة" که د خورما ټوټه يې ونه موندل، نو په ښه خبره دې بايد ځان د جهنم نه بچ کړي، دا مضمون هم په قرآن کريم کې پروت دی: "قول معروف ومغفرة خير من صدقة يتبعها أذى".

د خوراک نه وروسته الحمد لله ووايه!

"الرابع والعشرون: عن أنس ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ" د انس ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي: "إِنَّ اللهَ لَيَرْضَى عَنِ الْعَبْدِ أَنْ يَأْكُلَ الْأَكْلَةَ، فَيَحْمَدَهُ عَلَيْهَا" الله ﷻ د هغه بنده نه زيات خوشحاليږي چې سهار او ماښام خوراک کوي او د الله ﷻ حمد او ثناء ووايي. "أَوْ يَشْرَبَ الشَّرْبَةَ، فَيَحْمَدَهُ عَلَيْهَا" او يا اوبه وڅښي او دغه وخت الحمد لله ووايي، "رواه مسلم. وَالْأَكْلَةُ: بفتح الهمزة: وَهِيَ الغَدْوَةُ أَوِ العَشْوَةُ" او "اكله" وايي د غرمې يا د ماښام ډوډۍ ته.

د خوراک نه وروسته الحمد لله ويل د روژې برابر ثواب لري:

تشريح: خوراک څښاک د انسان فطري ضرورت دی، ددې نه بغير د انسان ژوند پاتې کېدل ناممکن دي، په موږ باندې د الله ﷻ احسان دی چې د هغه راکړې خوراک وکړو او خپله ګېډه پرې ډکه کړو او بيا د هغه شکر پرې وباسو، نو ددې په بدله کې به موږ ته د يوې روژې ثواب هم راکړي، (سبحان الله) يو طرفته خېټه مړه شي بل طرفته د روژې ثواب، "الطعام الشاكر مثل الصائم الصابر" هغه خلک چې خوراک هم کوي او بيا په دې شکر وباسي، داسې ده: لکه هغه کس چې روژه نيسي او صبر کوي. دا په موږ باندې څومره لوی فضل او احسان دی چې يو طرفته خپل فطري ضرورت پوره کوو او ور سره سم د روژې ثواب په مفته کې ملاويږي. الله اکبر

په هر مسلمان باندې صدقه ورکول لازم دي

"الخامس والعشرون: عن أبي موسى ﷺ، عن النَّبِيِّ ﷺ، قَالَ" د ابو موسى اشعري ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايي: "عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ صَدَقَةٌ" په هر مسلمان باندې صدقه واجب ده، "قَالَ: أَرَأَيْتَ إِنْ لَمْ يَجِدْ؟" صحابه کرامو ﷺ وفرمايل: اې د الله تعالى رسوله! که د چا سره د خرچ کولو لپاره څه نه وي. "قَالَ: يَعْمَلُ بِيَدَيْهِ فَيَنْفَعُ نَفْسَهُ وَيَتَصَدَّقُ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: دواړه لاسونه په کار کې استعمال کړه، يعني محنت او مزدوري وکړه! خپله ترې فايده واخله او صدقه هم وکړه! "قَالَ: أَرَأَيْتَ إِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ؟" صحابي وفرمايل: که ددې طاقت هم نه وي نو بيا؟ "قَالَ: يُعِينُ ذَا الْحَاجَةِ الْمَلْهُوفَ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: د يو

ضرورتمند او پرېشان حاله سړي سره مرسته وکړه، "قَالَ: أَرَأَيْتَ إِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ؟" صحابي وفرمايل: که ددې وس او طاقت هم نه وي نو بيا؟ "قَالَ: يَأْمُرُ بِالْمَعْرُوفِ أَوِالْخَيْرِ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: بيا دې امر بالمعروف او نهي عن المنكر وکړي، "قَالَ: أَرَأَيْتَ إِنْ لَمْ يَفْعَلْ؟" صحابي وفرمايل: که ددې وس او طاقت هم نه وي؛ نو بيا؟ "قَالَ: يُمْسِكُ عَنِ الشَّرِّ، فَإِنَّهَا صَدَقَةٌ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: بيا دې ځان د شر او د بدو کارونو څخه وساتي، دا هم صدقه ده. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ.

لغوي تحقيق:

الملهوف: ملهوف وايي دلسوز او غمجن سړي ته.

په خپل لاس ګټل شوی مال صدقه کول غوره دي:

"يعمل بيديه فينفق ويتصدق" په خپل لاس يې ګټي او بيا يې د الله ﷻ په لار کې صدقه کوي، ابن بطال رحمه الله فرمايي: که په دې حديث کې يو طرفته د صدقې ورکولو ترغيب دی، بل طرفته په خپل لاس حلال کسب او مال ګټل هم غوره عمل دی.

امام غزالي رحمه الله فرمايي: مخکينيو خلکو به دا خبره بښه نه ګڼل چې د صدقې څخه بغير ورځ وربانډې تېره شي، برابره خبره ده چې دا صدقه د خورما برابر ولې نه وي، او يا د ډوډۍ يوه ټوټه ولې نه وي، ځکه چې انسان به د قيامت په ورځ د خپلې صدقې تر سيورې لاندې وي.

"يعين ذا الحاجة الملهوف" د کوم محتاجه او ضرورتمند سړي مرسته وکړه، علماء فرمايي چې حديث عام دی. که هغه محتاج وي، بايد مدد يې وکړي، بيا برابره خبره ده چې مدد يې په عملي شکل وي او که په ژبه هغه ته تسلي ورکول وي.

"يأمر بالمعروف أو الخير" لفظ د (أو) دلته د شك لپاره دی، راوي ته شك دی چې نبي کريم ﷺ (يأمر بالمعروف) وفرمايل او که (يأمر الخير) يې وفرمايل، بهر حال (امر بالمعروف) بغير شك او شبهې يو اهم عمل دی، د نېکو عملونو مور ده، بلکه دا چې دا کار د ټولو انبياوو عليهم السلام کار دی.

"يمسك عن الشر فإنها صدقة" د صدقې مفهوم ډېر عام دی: نيکي کول هم صدقه ده، د بد عمل څخه ځان ساتل هم صدقه ده، نه په ژبه تکليف رسول، نه د بدن په نورو اعضاوو تکليف رسول، د فارسي يو شاعر ډېر ښه شعر ويلی دی.

مرا بخير تو اميد نيست، بد مرسان

باب في الإقتصاد في العبادة

څوارلسم باب: د الله ﷻ په عبادت کې میانه روي اختیارول

"قَالَ اللّٰهُ تَعَالَىٰ" الله ﷻ فرمايي چې: ﴿طه مَا أَنزَلْنَا عَلَيْكَ الْقُرْآنَ لِتَشْقَىٰ﴾ " اې طه! موږ قرآن پاك ددې لپاره نه دی نازل کړی چې تاسو په مشقت او تکليف کې پرېوځئ! [طه]

تشريح: د (طه) د لفظ په تفسير کې متعدد اقوال دي: ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي: ددې نه مراد (يا رجل!) دی او د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما څخه نقل دي چې ددې څخه مراد (يا حبيبي) دی، ليکن د اکثرو مفسرينو په نزد دا لفظ د متشابهاتو څخه دی چې په معنی يې يو الله ﷻ پوهيږي، ليکن د عکرمه رحمه الله، سعيد بن جبير رحمه الله، مجاهد رحمه الله وغيرهم څخه نقل دي چې ددې ترجمه په (يا رجل) سره شوې ده.

"ما أنزلنا عليك القرآن لتشقى" علامه ضحاك رحمه الله فرمايي: ابتداء کې به د قرآن کريم د نزول په وخت صحابه کرام رضي الله عنهم او خپله نبي کريم ﷺ د شپې تهجدو ته پورته کېدو، دومره اوږد قيام به يې وکړو چې د ډېر درد له امله به يې پښې وپړسېدلې او د ورځې به يې تبليغ کولو چې خلك اسلام قبول کړي، په دې آيت کې د دواړو تکليفونو څخه ځان بچولو لپاره الله ﷻ آيت نازل کړو چې موږ په تاسو باندې د قرآن کريم نزول ددې لپاره نه کوو چې تاسو په مشقت کې ځان واچوئ، ددې آيت نه وروسته د رسول الله ﷺ معمول داسې جوړ شو چې د شپې په اوله حصه کې به يې خوب کولو او بيا په دريمه حصه کې به پاڅېدو او د الله ﷻ عبادت به يې کولو.

"وَقَالَ تَعَالَىٰ" الله ﷻ فرمايي چې: "يُرِيدُ اللّٰهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ" الله ﷻ ددې خبرې اراده لري چې په تاسو اساني وکړي او ددې خبرې اراده نه لري چې په تاسو باندې سختي وکړي [البقرة:۱۸۵].

تشريح: د آيت مطلب دا دی چې د اول نه د روژې ذکر شروع دی، نو وې فرمايل: که په روژه کې څوك مريض شي يا مسافر شي نو في الحال دې روژه ماته کړي بيا دې وروسته ددې قضائي راوګرځوي، يا دې فديه ورکړي، شريعت اساني کړې ده، داسې نه چې که مړ کېږي او که ژغورل کېږي په هر حال کې به روژه نيسي. لکه د عمر رضي الله عنه نه چې روايت دی، هغه فرمايي چې موږ دوه ځله د رسول الله ﷺ سره په روژه کې جهاد وکړو، يو ځل په جنګ بدر کې او دويم ځل په فتحه مکه کې، په دې دوه ځايونو کې موږ روژې پرېښودلې وې، ابن عمر رضي الله عنهما فرمايي چې نبي کريم ﷺ د فتح مکې په ورځ وفرمايل "إنه يوم قتال فافطروا" نن د جنګ ورځ ده، لهذا روژه ماته کړئ.

په يو بل روايت کې دي: "إنكم قد دنوتم من عدوكم فافطروا هو أقوى لكم" يعني ستاسو د دښمن سره مقابله راتلونکې ده، لهذا تاسو روژې ماتې کړئ ددې لپاره چې طاقت درکې پيدا شي

دوس نه زيات عبادت پکار نه دی

"وعن عائشة رضي الله عنها: أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ دخل عَلَيْهَا وعِندها امرأة" عائشه رضي الله عنها يو ځل په کور کې ناسته وه چې رسول الله ﷺ پرې داخل شو، د هغې سره يوه بله ښځه هم ناسته وه، قَالَ: مَنْ هٰذِهِ؟" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: دا څوك ده؟ "قَالَتْ: هٰذِهِ فُلَانَةُ تَذْكُرُ مِنْ صَلَاتِهَا" ام المؤمنين عائشې رضي الله عنها وفرمايل: دا هغه ښځه ده چې زيات لمونځونه کوي، يعني خلك يې د ډېر ښه يادوي، "قَالَ: مَهْ! عَلَيْكُمْ بِمَا تُطِيقُونَ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: چې مه! بس په تاسو باندې دومره لمونځ واجب دی څومره چې ستاسو طاقت دی، "فَوَاللهِ لَا يَمَلُّ اللهُ حَتَّى تَمَلُّوا" قسم په الله! چې الله جل جلاله نه ستړي کيږي او نه عاجزه کيږي مګر تاسو به ستړي او عاجزه شئ! "يعني الله جل جلاله په ثواب ورکولو او عبادت قبلولو باندې کله هم نه ستړي کيږي او نه چېرته عاجز کيږي، "وكَانَ أَحَبُّ الدِّينِ إِلَيْهِ مَا دَاوَمَ صَاحِبُهُ عَلَيْهِ" او الله جل جلاله ته هغه دين او عبادت زيات خوښ دی چې عمل کوونکی يې هميش وکړي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

"وَمَهْ: كَلِمَةُ نَهْيٍ وَزَجْرٍ" او د (مَهْ) کلمه د نهي او د يو کار څخه د بندېدو لپاره راځي، "ومعنى: لَا يَمَلُّ اللهُ: لَا يَقْطَعُ ثَوَابَهُ عَنْكُمْ وَجَزَاءَ أَعْمَالِكُمْ وَيُعَامِلُكُمْ مُعَامَلَةَ الْمَالِّ" او د (لايمل الله) جملې معنی دا ده چې ستاسو نه ثواب نه پرې کوي او نه هم ستاسو د اعمالو سزا، "حَتَّى تَمَلُّوا فَتَتْرُكُوا" تر دې چې تاسو خپله نه وي ستړي شوي او هغه عمل پرېږدئ! "فَيَنْبَغِي لَكُمْ أَنْ تَأْخُذُوا مَا تُطِيقُونَ الدَّوَامَ عَلَيْهِ لِيَدُومَ ثَوَابُهُ لَكُمْ وَفَضْلُهُ عَلَيْكُمْ" لهذا په تاسو باندې هغه عملونه لازم دي چې تاسو د هغې د کولو طاقت لرئ او په هغې باندې دوام او هميشوالی کوئ، ددې لپاره چې د هغه عمل ثواب او فضيلت تاسو ته هميش ورسيږي.

لغوي تحقيق:

مه: د اسم فعل صيغه ده او مبني علی السکون ده، ددې معنی ده: ودرېدل.

يمل: "مل ملاً وملالاً" ددې معنی ده: ستړي کېدل، پاتې کېدل.

داوم: "دام دوماً ودواماً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: ثابت قدمه کېدل، ډېر وخت تېرول، جاري اوسېدل.

دوس مطابق عمل کول:

"عليکم بما تطيقون" د وس مطابق عمل کوئ، يعني په داسې اندازې سره بايد انسان عمل وکړي چې تر مرګه پورې پرې عمل کولی شي، قاضي عياض رحمه الله فرمايي چې ددې خبرې احتمال شته چې دا تنبيه د تهجدو د لمانځه په باره کې وي او دا احتمال هم شته چې دا د ټولو عملونو لپاره وي، دغه دويم مفهوم زيات واضح دی، ځکه چې نبي کريم ﷺ په (عليکم) لفظ سره خطاب صرف دغې ښځې ته نه دی کړی، بلکې د قاعدې کليې په طور يې ټول مخاطب کړي، اګر چې صيغه مذکر ده، ليکن په دې کې ښځې هم شاملې دي.

"لايمل الله حتى تملوا" الله ﷻ نه ستړی کيږي؛ خو تاسو به ستړي شئ، مطلب دا چې په عبادت کې زياتی کولو سره به تاسو ستړي شئ او بيا به د نورو فرائضو نه هم وغورځېږئ، خکه چې الله ﷻ په ثواب ورکولو نه ستړی کيږي، لهذا د عبادت په معامله کې اعتدال پکار دی، ددې لپاره چې هميش عبادت هم جاري وي او د الله ﷻ له طرفه د ثواب سلسله هم جاري وي، لکه په يو روايت کې چې دي غوره عمل هغه دی چې لږ وي او هميش وي.

"وعن أنس ﷺ، قَالَ: جَاءَ ثَلَاثَةُ رَهْطٍ إِلَى بُيُوتِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ ﷺ يَسْأَلُونَ عَنْ عِبَادَةِ النَّبِيِّ ﷺ" د انس ﷺ روايت دی، فرمايي چې درې کسان د نبي اکرم ﷺ د عبادت معلومولو لپاره د نبي کريم ﷺ د مېرمنو کورونو ته راغلل، "فَلَمَّا أُخْبِرُوا كَأَنَّهُمْ تَقَالُّوهَا" کله چې هغوی ته د نبي اکرم ﷺ د عمل په باره کې خبر ورکړل شو، نو هغوی دا عمل ډېر کم وګڼلو، "وَقَالُوا: أَيْنَ نَحْنُ مِنَ النَّبِيِّ ﷺ وَقَدْ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ" نو دوی وويل د نبي اکرم ﷺ په وړاندې زموږ څه حيثيت کېدی شي؟ حال دا چې هغه ته مخکې او راتلونکي ګناهونه (بالفرض که شوي هم وي) معاف دي، زموږ دا لږ شان عمل به څه وي، "قَالَ أَحَدُهُمْ: أَمَّا أَنَا فَأُصَلِّي اللَّيْلَ أَبَداً" په دې کسانو کې يو کس وويل: زه به هميش د شپې عبادت کوم، "وَقَالَ الآخَرُ: وَأَنَا أَصُومُ الدَّهْرَ أَبَداً وَلَا أُفْطِرُ" هغه بل کس وويل: زه به هميش روژې نيسم، "وَقَالَ الآخر: وَأَنَا أَعْتَزِلُ النِّسَاءَ فَلَا أَتَزَوَّجُ أَبَداً" هغه بل کس وويل زه به د ښځو څخه جدائي اختياروم او کله به هم واده (نکاح) ونه کړم، "فَجَاءَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إليهم، فَقَالَ: أَنْتُمُ الَّذِينَ قُلْتُمْ كَذَا وَكَذَا؟" په دغه حالت کې رسول الله ﷺ پرې داخل شو او وې فرمايل: تاسو هغه کسان يئ چې اوس مو دغه شان خبرې وکړې؟ "أَمَا وَاللهِ إِنِّي لَأَخْشَاكُمْ لِلهِ" هر چې زه يم نو زه د الله ﷻ نه ډېر زيات وېرېدونکی يم ستاسو څخه، "وَأَتْقَاكُمْ لَهُ" او ستاسو نه زياته پرهيزګاري اختياروم، "لَكِنِّي أَصُومُ وَأُفْطِرُ" ليکن زه روژه هم نيسم او افطار هم کوم (يعنې کله روژه نيسم او کله نه)، "وَأُصَلِّي وَأَرْقُدُ" او لمونځ هم کوم او خوب هم کوم، "وَأَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ" او د ښځو سره واده هم کوم، "فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي" کوم کس چې زما د سنت نه بې رغبتي اختيار کړي هغه زموږ څخه نه دی. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

لغوي تحقيق:

رهط: "الرهط" ددې معنی ده: قوم، قبيله، ډله، د درې نه واخله تر لسو پورې يې هم اطلاق کيږي، ددې واحد نشته، جمع يې أرهط، و أرهاط راځي او جمع الجمع يې اراهط او اراهيط راځي

إعتزل: "عزل، عزلاً" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی جدا کول ده، د باب افتعال نه جدا کېدل.

أرقد: "رقد رقداً" او رقوداً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: ويده کېدل

د دغو درې صحابه کرامو ﷺ نمونه:

تشريح: "جاء ثلاثة رهط" درې کسان راغلل، ددې درې کسانو نومونه دا دي: علي ﷺ، عبد الله بن عمرو بن العاص ﷺ او عثمان بن مظعون ﷺ

موږ کله نبي کريم ﷺ ته په عمل کې رسېدی شو؟

"أين نحن من النبي ﷺ؟" زموږ د رسول الله ﷺ سره څه مناسبت دی؟ مطلب دا دی چې نبي کريم ﷺ ته د بخښني او مغفرت وعده د الله ﷻ له طرفه شوې ده، د نبي کريم ﷺ مغفرت او بخښنه خو يقيني ده، زموږ مغفرت او بخښنه شکمنه ده، نو ځکه به موږ په عبادت کې ښه خواري کوو چې الله ﷻ را څخه راضي شي او زموږ بخښنه وکړي، "أنتم الذين قلتم كذا وكذا" تاسو هغه کسان يئ چې داسې داسې خبرې مو کړې دي؟ په بل روايت کې دي: "ما بال أقوام قالوا كذا وكذا" څه شوي دي په هغو خلکو چې داسې داسې يې ويلي دي.

زه په تاسو کې زيات د الله ﷻ نه ېرېدونکی يم:

"أما والله إني لأخشاكم لله وأتقاكم له" زه په تاسو ټولو کې د الله ﷻ نه زيات وېرېدونکی يم، تقوی داره هم يم، مطلب دا چې په عبادت کې مبالغه کول خالص د الله ﷻ له وېرې مينځ ته راځي، نبي کريم ﷺ وفرمايل: زه په تاسو ټولو کې د الله ﷻ نه زيات ېرېدونکی يم، لهذا ماته زيات عبادت پکار دی، بله خبره دا ده چې اعتدال الله ﷻ ته خوښ دی، لکه څنګه چې اول دا خبره تېره شوه چې زياتې مبالغې والا خلک ډېر زر ستړي شي او عبادت پرېږدي.

"فمن رغب عن سنتي" څوک چې زما د سنت عمل څخه مخ واړوي هغه زموږ څخه نه دی، ځکه چې د رسول الله ﷺ په دين کې رهبانيت نشته. "لا رهبانية في الاسلام" په اسلام کې رهبانيت نشته، رهبانيت دې ته ويل کيږي چې انسان هر څه پرېږدي، چېرته ځنګل يا غر ته لاړ شي، نه څه خوراک کوي او نه څه ښځې او نه نکاح کوي، په اسلام کې نکاح کول هم شته، تجارت وغيره ټول جائز کارونه شته.

تکلف کوونکي خلک غرق شول

"وعن ابن مسعود رضي الله عنه: أن النبي ﷺ، قال" د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "هلك المتنطعون" سختي کونکي تباه شول، "قالها ثلاثاً" دا الفاظ يې درې ځله وفرمايل، "رواه مسلم" "المتنطعون: المتعمقون المشددون في غير موضع التشديد" معنی يې ده: د جواز نه بغير ژورې او باريکې خبرې راويستونکی، يعنې سختي کوونکي.

تشريح: په دې حديث کې د زيات مشقت سره مخالفت ښودل شوی دی، په ميانه روی باندې د کار کولو ترغيب ورکول شوی دی، د (هلك) معنی ده: تباه او برباد شو، دا بدء دعاء نبي کريم ﷺ درې ځله وکړه، علامه ابن اثير رحمه الله فرمايي چې (متنطعون) په خبرو کې زياتې مبالغې ته وايي، بيا برابره خبره ده که په عمل کې مبالغه کوي او که په قول کې، ددې نه معلومه شوه چې د شريعت په مسئلو کې ډېرې پيچدګۍ راويستل هم ضروري نه دي، دا عموماً د داسې خلکو عادت وي چې د عمل کولو سره يې هيڅ تعلق نه وي.

دين هيبت ناک مه جوړوئ !

"عن أبي هريرة ﷺ، عن النبيّ ﷺ، قَالَ" د ابو هريره ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل "إنَّ الدِّينَ يُسْرٌ" دين ډېر آسان دی. "وَلَنْ يُشَادَّ الدِّينَ إلاَّ غَلَبَهُ" او داسې څوك نشته چې په دين کې څه سخته خبره يا طريقه خپله کړي، مګر دا چې دين په هغه باندې غالب کيږي. "فَسَدِّدُوا" بس ميانه روي اختيار کړئ "وَقَارِبُوا" او په قدر د طاقت عمل کوئ! "وَأبْشِرُوا" او خوشخبري حاصله کړئ. "وَاسْتَعِينُوا بِالغَدْوَةِ وَالرَّوْحَةِ" او د الله ﷻ نه د ورځې په اول وخت او د ماښام په وخت کې مدد حاصل کړئ. "وَشَيْءٍ مِنَ الدُّلْجَةِ" او څه حصه د شپې کې. رواه البخاري

"وفي رواية لَهُ" په يو بل روايت کې دي: "سَدِّدُوا وَقَارِبُوا" ميانه روي اختيار کړئ او د خپل طاقت په اندازه په دين باندې عمل وکړئ! "وَاغْدُوا وَرُوحُوا، وَشَيْءٌ مِنَ الدُّلْجَةِ" د عبادت لپاره د سهار اول وخت او د ورځې آخري وخت او څه د شپې آخري وخت اختيار کړئ! "القَصْدَ القَصْدَ تَبْلُغُوا" ميانه روي کوئ! او ميانه روي کوئ!

"قوله: الدِّينُ: هُوَ مرفوع عَلَى مَا لَمْ يسم فاعله" دا قول چې (الدين) دی، مرفوع دی فاعل يې معلوم نه دی، وروی منصوباً وروی او منصوب هم نقل شوی دی. "لن يشادَّ الدينَ أحدٌ" او "لَنْ يُشَادَّ الدين احدٌ. وقوله ﷺ: إلا غَلَبَهُ: أي غَلَبَهُ الدِّينُ وَعَجَزَ ذلِكَ المُشَادُّ عَنْ مُقَاوَمَةِ الدِّينِ لِكَثْرَةِ طُرُقِهِ" او دا قول د نبي اکرم ﷺ چې (الا غلبه) ددې مطلب دا دی چې دين به په هغه غالب راشي او د دين ډېرې طريقې دي، په دې وجه به ددې په يو جزء باندې سختي کونکی عاجز او بې وسه شي. يعنې د دين دومره ډېرې طريقې دي چې په ټولو طريقو باندې د عمل کولو څخه به عاجزه پاتې شي، "وَالغَدْوَةُ: سير أولِ النهارِ" غدوة د ورځې په اوله برخه کې سفر ته وايي. "وَالرَّوْحَةُ: آخِرُ النهارِ" او روحة ويلی شي د ورځې آخري برخې ته. "وَالدُّلْجَةُ: آخِرُ اللَّيلِ" او الدلجة ويلی شي د شپې آخرينی برخې ته.

"وهذا استعارة وتمثيل" په دې حديث کې دا الفاظ د مثال په طور سره استعمال شوي دي. "ومعناهُ: اسْتَعِينُوا عَلَى طَاعَةِ اللهِ ﷻ بالأعْمَالِ في وَقْتِ نَشَاطِكُمْ وَفَرَاغِ قُلُوبِكُمْ" د الله ﷻ نه په خوشحالی کې د زړه د اخلاصه او فراخه زړه سره هر وخت کې مدد وغواړئ او د الله ﷻ نزدېکت د عبادت سره په طريقه حاصل کړئ. "بِحَيْثُ تَسْتَلِذُّونَ العِبَادَةَ ولا تَسْأمُونَ وتبلُغُونَ مَقْصُودَكُمْ" داسې عبادت چې تاسو ته پکې مزه او خوند حاصل شي او ستړي نه شئ او خپل مقصد ته هم پکې ورسېږئ! "كَمَا أنَّ المُسَافِرَ الحَاذِقَ يَسيرُ في هذِهِ الأَوْقَاتِ ويستريحُ هُوَ وَدَابَّتُهُ في غَيرِهَا" لکه يو هوښيار مسافر چې په دې وختونو کې سفر کوي. بيا خپله او د هغه اسپه په نورو وختونو کې راحت حاصلوي، "فَيَصِلُ المَقْصُودَ بِغَيْرِ تَعَبٍ" نو خپل مقصود ته به په خير ورسېږي بغير د ستړياوې څخه، والله أعلم.

لغوي تحقيق:

يشاد: "شد شدة" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: مضبوطېدل، سختي کول

فسددوا: "سد سداً وسداداً" باب سمع يسمع دی، ددې معنی ده: سيده کول.
قاربوا: "قارب مقاربة" باب مفاعله دی، ددې معنی ده: خپلو کې يو ځای کېدل، نژدې کېدل، ميانه روي کول.
الدلجة: ددې معنی ده: د شپې آخري برخه.

په دين باندې ييخې عمل آسان دی:

تشريح: "إن الدين يسر" په يو بل روايت کې دي: "ان هذا الدين يسر" لکه څرنګه چې په قرآن کريم کې د الله ﷻ ارشاد دی: "يريد الله بکم اليسر" الله ﷻ ستاسو سره اساني کول غواړي، په يو بل ځای کې ارشاد دی: "وما جعل عليکم في الدين من حرج" ستاسو په دين کې هيڅ قسم سختي نشته، د نبي کريم ﷺ دين د نورو دينونو په نسبت ډېر آسان دی، په قرآن کريم او د رسول الله ﷺ په حديثونو کې ددې خبرې څو څو ځله ذکر راغلی دی چې اسلام يو فطري دين دی.

دين غالب کيږي:

"لن يشاد الدين الا غلبه" کوم کس چې په دين کې د سختی لاره اختيار کړي، هغه مغلوب ګڼل کيږي، په بل روايت کې دي چې: "لن يشاد الدين أحد إلا غلبه" هيڅوک د دين په معامله کې سختي نه کوي مګر دا چې دين په هغه غالب شي، علامه ابن المنير رحمه الله فرمايي: کوم کس چې په دين کې سختي وکړي، آخر به هغه دين پرېږدي، په شريعت کې ددې څخه منع راغلې ده چې انسان په نفلي عباداتو کې دومره مبالغه وکړي چې آخر ستړی شي او عمل پرېږدي، يا ددې مطلب دا دی چې کوم کس په ځان باندې غير واجب شيان واجب کړي، نو يو څو ورځې وروسته به هغه ستړی شي او د عمل کولو نه به عاجزه پاتې شي، دين به پرې غالب راشي.

"فسددوا" ميانه روي اختيار کړئ، يعني نه په افراط کې ځانونه مبتلا کوئ او نه په تفريط کې، "وقاربوا" علامه طيبي رحمه الله فرمايي چې د "وقاربوا" ترجمه په (سددوا) سره هم کېدی شي، ليکن ځينو نورو محدثينو د قاربوا معنی دا کړې ده چې الله ﷻ ته ځان نژدې کړئ: "وابشروا" هميش اعتدال او ميانه روی سره ژوند تېر کړئ، اجر او ثواب به يې زيات وي، اګر چې عمل به يې کم وي.

تر هغه پورې عبادت وکړه چې زړه دې پکې ولګيږي:

"واستعينوا بالغدوة والروحة" د الله ﷻ نه د ماښام په وخت کې او د سهار په وخت کې مدد حاصل کړئ، په دې کې دې خبرې ته اشاره ده چې بايد انسان خپل ځانته داسې وخت مقرر کړي چې په هغه وخت کې ځانته عبادت کوي، په دې سره به انسان تازه هم وي او په عبادت کې به يې خوند هم وي، خو دا په نفلي عباداتو کې کيږي، فرضي عبادات خو الله ﷻ په خپل وخت مقرر کړی دی، ددې رعايت په هر حال کې ضروري دی.

كه په عبادت باندې ستړى شې؛ نو آرام كوه!

"وعن أنس ﷺ، قَالَ: دَخَلَ النَّبِيُّ ﷺ المَسْجِدَ" د انس ﷺ روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ يوه ورځ جومات ته داخل شو. "فَإِذَا حَبْلٌ مَمْدُودٌ بَيْنَ السَّارِيَتَيْنِ" ناځاپه يې وليدل چې د دوه ستنو په مېنځ كې يو پړې تړل شوى دى. "فَقَالَ: مَا هَذَا الحَبْلُ؟" نبي اكرم ﷺ وفرمايل: دا څه دي؟ "قَالُوا: هَذَا حَبْلٌ لِزَيْنَبَ، فَإِذَا فَتَرَتْ تَعَلَّقَتْ بِهِ" هغوى وويل: دا د زينب ﷺ پړې دى، د عبادت په مېنځ كې چې كله پرې خوب غالب شي؛ نو خان پرې وتړي چې چېرته ونه غورځېږي. "فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: حُلُّوهُ، لِيُصَلِّ أَحَدُكُمْ نَشَاطَهُ" نبي اكرم ﷺ وفرمايل: دا پړې خلاص كړئ كله چې طبعيت بښه وي لمونځ دې كوي، "فَإِذَا فَتَرَ فَلْيَرْقُدْ" او كله چې پرې خوب غالب شي نو ويده دې شي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

لغوي تحقيق:

حبل: "حبل حبلاً" باب نصر ينصر دى، ددې معنى ده: رسى، تړل.

السارىتين: دا تثنيه ده، د "سارية" معنى ده: ستنه، "سور" د قلا څلورو د يوالونو ته ويل كيږي

فترت: "فتر فتوراً" باب نصر ينصر او ضرب يضرب دواړو څخه راځي، ددې معنى ده د يو څه سختۍ نه وروسته نرمي كول او د تيزۍ نه وروسته په قلاره كېدل.

تشريح "بين السارىتين" د دوه ستنو ترمنځ رسى تړل، په بل روايت كې دي: «سوارى المسجد» د جومات په ستنو يې رسۍ تړلې وه، ځينو بل نوم ذكر كړى دى.

كه د عبادت پرمهال ستړى شوې، نو عبادت موقوف كړه!

"ليصل أحدكم نشاطه فإذا فتر فليرقد" تاسو بښه په تندرستۍ او شوق سره عبادت كوئ، كله چې ستړي شوئ نو بيا آرام وكړئ، مطلب دا چې هر سړي ته پكار ده چې د الله ﷻ په عبادت كې د خپل وس او طاقت په اندازه كوشش وكړي، زړه چې تنګ وي او طبعيت برابر نه وي؛ نو داسې وخت كې عبادت موقوف كول پكار دي، علماء فرمايي څوک چې د عبادت په منځ كې ستړى شي او چېرته آرام كول غواړي، په دې نيت چې كه طبعيت مې بښه شو؛ نو بيا به عبادت شروع كړم، شريعت ورته دا موقوف وخت هم په عبادت كې حسابوي

ليكن ددې دا مطلب نه دى چې انسان دې بلكل مجاهده نه كوي، يو خل چې د كوم كس طبيعت مجاهدې والاجوړ شي؛ نو بيا چې څومره وخت په عبادت كې تيروي، دومره به خوند وركوي، دا به يې طبعيت ثاني جوړ شي، په نفس به هم ګرانه نه وي، كه په طبعيت كې مجاهده نه وي؛ نو د دوه ركعته وروسته به طبعيت دروند شي، كه په طبعيت كې مجاهده وي؛ نو سل ركعته نفل هم ورته د يو ګلاس اوبو ځښلو څخه اسان وي

په خوب راتلو سره لمونځ موقوف کړه!

"وعن عائشة رضي اللـــه عنها: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ، قَالَ" د عائشې ؓ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "إِذَا نَعَسَ أَحَدُكُمْ وَهُوَ يُصَلِّي فَلْيَرْقُدْ" کله چې په تاسو کې يو کس ته خوب راشي په داسې حال کې چې هغه لمونځ کوي، نو ويده دې شي، "حَتَّى يَذْهَبَ عَنْهُ النَّوْمُ" تردې چې د خوب غلبه ترې لاړه شي، "فَإِنَّ أحدكم إِذَا صَلَّى وَهُوَ نَاعِسٌ" او دا ځکه چې کله په تاسو کې يو کس لمونځ کوي او په ده باندې خوب غالب شي، "لَا يَدْرِي لَعَلَّهُ يَذْهَبُ يَسْتَغْفِرُ فَيَسُبُّ نَفْسَهُ" نو بيا هغه نه پوهيږي، کېدی شي چې ځانته د الله ﷻ نه بخښنه غواړي او حال دا چې ځانته به يې ښېرا کړې وي مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

لغوي تحقيق:

نعس: "نعس نعساً" باب فتح يفتح او نصر ينصر دواړو څخه دی، ددې معنی ده د خوب پرکالي غلبه راتلل.

فيسب: "سب سباً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: ښيرې يا ښکنځل کول

د خوب د غلبې له وجې د دعاء په ځای ښېرا ونه کړې:

تشريح: "لعله يذهب يستغفر فيسب نفسه" هغه ته به پته ونه لګيږي، خانته به بد دعا وکړي او د خولې نه به يې ښيرا ووځي، مثلاً وايي چې: "اللهم اغفرلي" ليکن د خوب د غلبې له امله به يې د خولې داسې جمله ووځي: "اللهم اعفرلي" اې الله ما هلاك کړې:

د نبي کريم ﷺ خطبه او لمونځ معتدل وو

"وعن أبي عبد الله جابر بن سمرة رضي الله عنهما، قَالَ" د ابو عبد الله جابر بن سمرة ؓ روايت دی. فرمايي چې: "كُنْتُ أُصَلِّي مَعَ النَّبِيِّ ﷺ الصَّلَوَاتِ" ما د نبي اکرم ﷺ سره د جمعې لمونځونه کول، "فَكَانَتْ صَلَاتُهُ قَصْداً" نو لمونځ به يې هم مختصر او اعتدال والا وو، "وَخُطْبَتُهُ قَصْداً" اوخطبه به يې هم مختصره او اعتدال والا وه، "رواه مسلم، قوله: قَصْداً: أي بين الطّول والقصر" د قصداً معنی: اعتدال دی، يعني نه به يې ډېر زيات اوږد لمونځ کول او نه به يې زيات مختصر.

تشريح: سنت خطبه هغه ده چې مختصره وي، ددې اندازه علامه شامي ؒ د طوال مفصل سورتونو په مقدار ښودلې ده، ددې نه نوره خطبه زياتول مکروه دي

سوال: په پورتني حديث کې خو تېر شول چې لمونځ او خطبه بايد يو برابر وي، ليکن د عمار ؓ په يو روايت کې دي: "إن طول صلاة الرجل وقصر خطبته من فقهه فأطيلوا الصلاة واقصروا الخطبة" اوږد لمونځ او مختصره خطبه ويل د سړي په فقاهت او پوهې باندې دلالت کوي، لهذا تاسو لمونځ اوږد کوئ او خطبه لنډه وايئ؛ ددې حديث نه معلومه شوه چې لمونځ بايد اوږد وي او خطبه بايد مختصره وي؟

جواب: ددې ځواب علامه نووي ؒ په شرح مسلم کې داسې کړی دی "وليس هذا الحديث

مخالفاً للأحاديث المشهورة في الأمر بتخفيف الصلاة لقوله في رواية أخرى: كانت صلواته قصداً وخطبته قصداً لأن المراد بالحديث الذي نحن فيه أي حديث عمار أن الصلاة تكون طويلة بالنسبة إلى الخطبة لاتطويلاً يشق على المامومنين وهي حينئذ قصدٌ أي معتدلة والخطبة قصدٌ بالنسبة إلى وضعها".

د راوي جابر بن سمرة ﷺ مختصر حالات:

اصل نوم يې جابر ﷺ دی، ابو عبد الله يې كنيت دی يا ابو خالد دی، د پلار نوم يې سمرة بن جنادة بن جندب بن حجير بن رياب دی، پلار او زوی دواړه مسلمان شوي وو، دواړه د رسول الله ﷺ صحابه ﷺ دي، د مشهور صحابي سعد بن ابي وقاص ﷺ خوريې ؤ، په كوفه كې وفات شو.

وفات: په كوفه كې په ۷۴ هجري كې وفات شو.

روايات: د هغه څخه د روايت شويو حديثونو مجموعه تر يو سل شپږ شلو پښتو پورې رسيږي، په دې كې په دوه حديثونو باندې امام بخاري او امام مسلم متفق عليه دي، مسلم ﷺ په يو سل درويشتو حديثونو كې منفرد دی.

ابو درداء ﷺ په د فقيرئ ژوند تېرولو

"وعن أبي جُحَيْفَة وَهْب بن عبد الله ﷺ، قَالَ: آخَى النَّبِيُّ ﷺ بَيْنَ سَلْمَانَ وَأَبِي الدَّرْدَاءِ" د ابو جحيفه وهب بن عبد الله ﷺ روايت دی، فرمايي چې نبي اكرم ﷺ د سلمان فارسي ﷺ او ابو درداء ﷺ ترمنځ ورورولي قائم كړه، "فَزَارَ سَلْمَانُ أَبَا الدَّرْدَاءِ" نو يوه ورځ سلمان ﷺ د ابودرداء ﷺ زيارت وكړو، "فَرَأَى أُمَّ الدَّرْدَاءِ مُتَبَذِّلَةً" سلمان ﷺ د ابودرداء ﷺ مور وليده چې زړې او شلېدلي جامې يې اغوستلي دي، "فَقَالَ: مَا شَأْنُكِ؟" سلمان فارسي ﷺ ورته وفرمايل: ستا څه حال دی، ولې دې دومره زړې جامې اغوستې دي؟ "قَالَتْ: أَخُوكَ أَبُو الدَّرْدَاءِ لَيْسَ لَهُ حَاجَةٌ فِي الدُّنْيَا" هغې ورته وويل: ستا ورور ابو درداء ﷺ د نړۍ څخه بې رغبته دی، هغه د دنيا سره كار نه لري، (مطلب دا چې هيڅ مزدوري نه كوي) "فَجَاءَ أَبُو الدَّرْدَاءِ فَصَنَعَ لَهُ طَعَامًا" په دې حالت كې ابو درداء ﷺ راغلو، مور يې مخې ته ډوډۍ كېښوده، "فَقَالَ لَهُ: كُلْ فَإِنِّي صَائِمٌ" ابو درداء ﷺ سلمان ﷺ ته وويل: ډوډۍ وخوره، زه روژه يم، "قَالَ: مَا أَنَا بِآكِلٍ حَتَّى تَأْكُلَ فَأَكَلَ" سلمان ﷺ وفرمايل: زه به تر هغه خوراک ونه كړم چې تا نه وي كړی، ابو درداء ﷺ هم ډوډۍ وخوړل، "فَلَمَّا كَانَ اللَّيْلُ ذَهَبَ أَبُو الدَّرْدَاءِ يَقُومُ" كله چې نيمه شپه شوه، ابودرداء ﷺ پاڅېدو چې تهجد وكړي، "فَقَالَ لَهُ: نَمْ، فَنَامَ" ابو درداء ﷺ سلمان ﷺ ته وفرمايل: ويده شه نو هغه ويده شو، "ثُمَّ ذَهَبَ يَقُومُ فَقَالَ لَهُ" لږ وخت پس بيا راپورته شو؛ نو هغه ورته وويل: "نَمْ" ويده شه: هغه بيا ويده شو، "فَلَمَّا كَانَ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ قَالَ سَلْمَانُ: قُمِ الآنَ" كله چې د شپې آخرنی حصه داخله شوه؛ نو سلمان فارسي ﷺ وفرمايل: اوس اوچت شه: "فَصَلَّيَا جَمِيعاً فَقَالَ لَهُ سَلْمَانُ" نو دواړو د تهجد لمونځ وكړو، بيا سلمان فارسي ﷺ هغه ته وفرمايل: "إِنَّ لِرَبِّكَ عَلَيْكَ حَقًّا" ستا رب هم په تا باندې حق لري، "وَإِنَّ لِنَفْسِكَ عَلَيْكَ حَقًّا" ستا

بدن هم په تا باندې حق لري، "وَلأَهْلِكَ عَلَيكَ حَقّاً" ستا خاندان هم په تا باندې حق لري، "فَأَعْطِ كُلَّ ذِي حَقٍّ حَقَّهُ" بس ورکړه هر حقدار ته د هغوی حق، "فَأَتَى النَّبِيَّ ﷺ فَذَكَرَ ذلِكَ لَهُ" دغه صحابي ﷺ نبي اکرم ﷺ ته راغلو، تو له کيسه يې ورته بيان کړه، "فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: صَدَقَ سَلْمَانُ" نبي اکرم ﷺ ورته وفرمايل سلمان فارسي ﷺ رښتيا ويلي دي. رواه البخاري.

لغوي تحقيق:

أخى: "أخى مواخاة" باب مفاعله دی، ددې معنى: وروروولي ده.

متبذلة: "تبذل تبذلاً" باب تفعل دی، ددې معنى ده: هميش استعمال شوې جامې اغوستل يعنې زړې جامې استعمالول.

نبي کريم ﷺ د سلمان او ابودرداء ﷺ ترمنځ وروروولي قائم کړل:

"أخى النبى ﷺ بين سلمان وأبى الدرداء" نبي کريم ﷺ د سلمان فارسي ﷺ او ابو درداء ﷺ ترمنځ وروروولي قائم کړه، يعنې مدينې ته د هجرت وروسته نبي کريم ﷺ د يو مهاجر صحابي ﷺ چې سلمان فارسي ﷺ دی او يو انصاري صحابي چې ابو درداء ﷺ دی، د دواړو ترمنځ يې وروروولي قائم کړه، هغه دا چې دغه انصاري صحابي ﷺ به ددې مهاجر صحابي ﷺ خيال ساتي، د ابو درداء ﷺ مېرمن ام درداء ﷺ بيبي خيرنې او زړې جامې اچولي وې، مطلب دا چې ام درداء ﷺ د ښول او سنګار جامې پرې ايښې وې او ددې پر ځای يې چېرته زړې او شلېدلي جامې اچولي.

"ماشانك؟" ستا څه حال دی؟ په يو بل روايت کې دي: "ما شانك متبذلة؟" تاسو د غه خيرنې زړې جامې اغوستې دي، ددې څه وجه ده؟ ددې نه معلومه شوه چې د ضرورت په اندازه د غير محرم سره خبرې کول روا دي، "ليس له حاجة فى الدنيا" په يو بل روايت کې دي: "ليس له حاجة فى النساء الدنيا" ددې سره په يو بل روايت کې داسې الفاظ هم شته چې د هغه مېرمنې وويل: "يصوم النهار ويقوم الليل" د ورځې روژه نيسي او د شپې عبادت کوي.

د مېلمه په خاطر نفلي روژه ماتول جائز دي:

"فاكل": ابو درداء ﷺ روژه ماته کړه او خوراک يې وکړو، معلومه شوه چې که مېلمه درته راشي نو روژه ماتولی شي، خو وروسته يې قضائي راوړل واجب دي، "قال سلمان قم الان فصليا" سلمان فارسي ﷺ وويل: اوس پاڅه: لمونځ وکړه، په يو بل روايت کې دي: "فقاما فتوضاء ثم ركعا ثم خرجا إلى الصلاة".

"لأهلك عليك حقاً" ستا د ښځې په تا باندې حق دی، په يو بل روايت کې دي: "ولضيفك عليك حقاً" په نورو روايتونو کې داسې الفاظ هم راځي: "فصم وأفطر وصل ونم وآت أهلك" روژه هم نيسه، ماتوه يې هم لمونځ هم کوه، خوب هم کوه او خپل کوروالاته هم راځه.

سلمان رضي الله عنه رښتيا وويل:

"صدق سلمان"سلمان رضي الله عنه رښتيا وويل، په بل روايت کې دي "سلمان افقه منك"سلمان رضي الله عنه ستا نه په فقه کې زيات ماهر دی، همدغه شان په بل روايت کې دي "فقال رسول الله ﷺ مثل ما قال سلمان"يعني رسول الله ﷺ هغه څه وفرمايل کوم چې سلمان فارسي رضي الله عنه فرمايلي وو.

د راوي ابو جحيفه وهب بن عبد الله رضي الله عنه مختصر حالات:

اصل نوم يې وهب رضي الله عنه دی، کنيت يې ابو جحيفه دی، د پلار نوم يې عبد الله دی، ځينې نور وايي چې دا په اصل کې وهب السوائي وو، کله چې رسول الله ﷺ د دې نړۍ څخه رحلت وکړو، نو هغه لا ماشوم ؤ، د اسماالرجال ماهرين وايي: هغه نابالغ ؤ، علي کرم الله وجهه به د هغه سره زيانه مينه کول. بيا يې وروسته کوفې ته واستولو، دغه وخت کوفه د دين او علم مرکز ؤ.

وفات په ۷۲ هجري کې په کوفه کې وفات شو.

روايات: د هغه څخه پنځه څلوېښت حديثونه روايت شوي دي، په دوه حديثونو کې بخاري او مسلم متفق عليه دي، او په بخاري کې يو او په مسلم کې درې مرويات منفرد دي.

د درې صحابه کرامو رضي الله عنهم واقعه

"وعن أبي محمد عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما، قال" د ابو محمد عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې "أُخبر النبي ﷺ أني أقول: والله لأصومن النهار، ولأقومن الليل ما عشت"زما په اړه چا رسول الله ﷺ ته ددې خبر ورکړو چې ما ويلي دي: تر څو پورې چې زه ژوندی يم؛ نو قسم په الله ﷺ چې زه به همېش د ورځې روژه يم او د شپې به تهجد کوم، "فقال رسول الله ﷺ: أنت الذي تقول ذلك؟"نبي اکرم ﷺ ماته وفرمايل: اې عبد الله! ته هغه کس يې چې داسې خبرې کوې؟ "فقلت له: قد قلته بأبي أنت وأمي يا رسول الله"ما ورته وويل: اې د الله تعالی رسوله! په تاسو باندې دې زما مور پلار قربان شي، رښتيا ما داسې ويلي دي، "قال: فإنك لا تستطيع ذلك فصم وأفطر"نبي اکرم ﷺ وفرمايل: ته د داسې کار طاقت نه لرې، بلکې روژه نيسه هم او کله يې پرېږده؛ "ونم وقم"او د شپې ويده کېږه هم او تهجد هم کوه؛ "وصم من الشهر ثلاثة أيام"او په هره مياشت کې درې ورځې روژه نيسه؛ "فإن الحسنة بعشر أمثالها وذلك مثل صيام الدهر"ځکه چې يوه نيکي په لس چنده ده او دا داسې ده لکه ټول عمر چې يې روژه نيولې وي، "قلت: فإني أطيق أفضل من ذلك"ما ورته وويل: اې د الله تعالی رسوله! زه ددې نه هم زيات طاقت لرم، "قال: فصم يوما وأفطر يومين"نبي اکرم ﷺ ورته وفرمايل: بيا داسې کوه چې يوه ورځ روژه نيسه او دوه ورځې يې پرېږده؛ "قلت: فإني أطيق أفضل من ذلك"ما ورته وويل: زه ددې نه هم زيات د نيولو طاقت لرم، "قال: فصم يوما وأفطر يوما فذلك صيام داود ﷺ"نبي اکرم ﷺ وفرمايل: بيا يوه ورځ روژه نيسه او بله ورځ يې پرېږده؛ داؤد عليه السلام به داسې کول. "وهو أعدل الصيام"او دا درميانه روژه ده.

وفي رواية: "هو أفضل الصيام" په يو روايت کې دي چې دا غوره روژه ده، "فقلت: فإني أطيق أفضل من ذلك" ما ورته
ووېل: زه ددې نه هم زيات طاقت لرم، "فقال رسول الله ﷺ: لا أفضل من ذلك" نو رسول الله ﷺ وفرمايل: نه!
ددې نه زيات غوره او افضل نشته، "ولأن أكون قبلت الثلاثة الأيام التي قال رسول الله ﷺ أحب إلي من أهلي ومالي"
صحابي رضي الله عنه فرمايي چې که ما هغه درې ورځې قبول کړې وای کومې چې رسول الله ﷺ ماته ښودلې
وې: نو دا خبره به ماته زما د اهل او کورنۍ څخه ډېره غوره وه.

"وفي رواية: "ألم أخبر أنك تصوم النهار وتقوم الليل؟" او په يوه روايت کې داسې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل:
ماته خبر را رسېدلی دی چې تاسو د ورځې روژه نيئ او د شپې تهجد کوئ؟ "قلت: بلى، يا رسول الله" ما
ووېل: هو! يا رسول الله ﷺ! "قال: فلا تفعل: صم وأفطر، ونم وقم" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: داسې مه کوه! بلکې
کله روژه نيسه او کله افطار کوه او کله ويده کېږه او کله د تهجد و لپاره پاڅېږه! "فإن لجسدك عليك حقا، وإن
لعينيك عليك حقا، وإن لزوجك عليك حقا" دا ځکه چې په تا باندې ستا د بدن حق دی. په تا باندې ستا د سترګو
حق دی او په تا باندې ستا د ښځې حق دی، "وإن لزورك عليك حقا" او په تا باندې ستا د ميلمه حق دی.
"وإن بحسبك أن تصوم في كل شهر ثلاثة أيام" او ستا لپاره دا کافي ده چې ته په هره مياشت کې درې ورځې روژه
ونيسې، "فإن لك بكل حسنة عشر أمثالها" بې شکه ستا لپاره په هره نيکۍ باندې لس چنده ثواب دی، "فإن
ذلك صيام الدهر" دا داسې دي لکه تا چې ټول عمر روژه نيولې وي، "فشددت فشدد علي، قلت: يا رسول الله، إني أجد
قوة" عبد الله بن عمرو رضي الله عنه فرمايي چې ما په ځان باندې سختي وکړه، نو په ما باندې هم سختي وشوه،
بيا ما ووېل: يا رسول الله ﷺ! ددې نه زيات طاقت لرم، "قال: صم صيام نبي الله داود ولا تزد عليه" نبي اکرم ﷺ
وفرمايل: بيا د داؤد عليه السلام د روژې په مثل روژه ونيسه او په دې باندې زياتی مه کوه! "قلت: وما كان
صيام داود؟" ما ووېل: د داؤد عليه السلام څنګه روژه نيول؟ "قال: نصف الدهر" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: نيمه زمانه
به يې روژه نيول (يعنې يوه ورځ به يې روژه وه او بله ورځ به يې افطار کولو)، "فكان عبد الله يقول بعد ما كبر"
بيا چې کله عبد الله بن عمرو رضي الله عنه لوی بوډا او کمزوری شو، نو وې ويل: "يا ليتني قبلت رخصة رسول الله ﷺ"
کاش چې ما د رسول الله ﷺ رخصت قبول کړی وای.

"وفي رواية: "ألم أخبر أنك تصوم الدهر، وتقرأ القرآن كل ليلة" په بل روايت کې دي چې رسول الله ﷺ
وفرمايل: ماته خبر را رسېدلی دی چې ته ټوله زمانه روژه نيسې او ټوله شپه تلاوت کوې؟ "فقلت: بلى يا
رسول الله، ولم أرد بذلك إلا الخير" ما ورته ووېل: هو! اې د الله تعالی رسوله! په دې سره زما بل هيڅ مقصد
نشته سيوا له خير او ثواب نه، "قال: فصم صوم نبي الله داود، فإنه كان أعبد الناس" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: بيا د
داؤد عليه السلام په څېر روژه ونيسه، ځکه چې هغه د خلکو نه زيات د الله ﷻ عبادت کوونکی وو، "واقرأ
القرآن في كل شهر" او په هره مياشت کې يو ځل ختم کوه! "قلت: يا نبي الله، إني أطيق أفضل من ذلك" ما ورته
ووېل: اې د الله ﷻ پېغمبره ﷺ! زه ددې نه هم زيات وس او طاقت لرم، "قال: فاقرأه في كل عشرين" نبي

اکرم ﷺ وفرمايل: بيا په هره شلمه ورځ ختم کوه؛ "قُلْتُ: يَانَبِيَّ اللهِ، إِنِّي أُطِيقُ أَفْضَلَ مِنْ ذٰلِكَ؟" ما وويل: يا رسول الله ﷺ! زه ددې نه هم زيات وس لرم؟ "قَالَ: فَاقْرَأْهُ فِي كُلِّ عَشْرٍ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: بيا په هره لسمه ورځ ختم کوه؛ "قُلْتُ: يَانَبِيَّ اللهِ، إِنِّي أُطِيقُ أَفْضَلَ مِنْ ذٰلِكَ؟" ما وويل: يا رسول الله ﷺ! زه ددې نه هم زيات وس لرم؟ "قَالَ: فَاقْرَأْهُ فِي كُلِّ سَبْعٍ وَلَا تَزِدْ عَلَى ذٰلِكَ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: بيا په هره اومه ورځ ختم کوه؛ خو ددې نه نور مه زياتېږه؛ (يعنې په پنځمه يا څلورمه ورځ ختم مه خلاصوه؛ "فَشَدَّدْتُ فَشُدِّدَ عَلَيَّ" عبد الله بن عمرو رضي الله عنه فرمايي: ما په ځان باندې سختي وکړه؛ نو په ما باندې هم سختي وشوه، "وَقَالَ لِي النَّبِيُّ ﷺ: إِنَّكَ لَا تَدْرِي لَعَلَّكَ يَطُولُ بِكَ عُمْرٌ" ما ته نبي اکرم ﷺ وفرمايل: کېدی شي چې ستا عمر ډېر زيات شي، "قَالَ: فَصِرْتُ إِلَى الَّذِي قَالَ لِي النَّبِيُّ ﷺ" عبد الله رضي الله عنه فرمايي: زه هغه حالت ته وګرځېدم کومه خبره چې نبي اکرم ﷺ ماته کړې وه، (يعنې د زيات عمر خبره رښتيا شوه) "فَلَمَّا كَبِرْتُ وَدِدْتُ أَنِّي كُنْتُ قَبِلْتُ رُخْصَةَ نَبِيِّ اللهِ ﷺ" عبد الله بن عمرو رضي الله عنه فرمايي: کله چې زه بوډا شوم؛ نو اوس ماته ارمان راځي چې کاشکې مې د رسول الله ﷺ رخصت قبول کړی وای، "وفي رواية: وَإِنَّ لِوَلَدِكَ عَلَيْكَ حَقًّا" په يو روايت کې دي چې په تا باندې ستا د بچو حق دی، "وفي رواية: لَا صَامَ مَنْ صَامَ الْأَبَدَ، ثلاثاً" په بل روايت کې دي: د هغه چا روژه صحيح نه ده چې هميش روژه نيسي، دا الفاظ مبارك يې درې ځله وفرمايل، "وفي رواية: أَحَبُّ الصِّيَامِ إِلَى اللهِ تَعَالَى صِيَامُ دَاوُدَ، وَأَحَبُّ الصَّلَاةِ إِلَى اللهِ تَعَالَى صَلَاةُ دَاوُدَ" په بل روايت کې داسې هم دي: زياته خوښه روژه الله ﷻ ته هغه ده چې داؤد عليه السلام به نيول او ډېر خوښ لمونځ الله ﷻ ته هغه دی چې داؤد عليه السلام به کولو، "كَانَ يَنَامُ نصف الليل، ويقوم ثلثه" هغه به نيمه شپه ويده کېدو او د شپې په دريمه برخه کې به يې لمونځ کولو، "وينام سدسه" او د شپې په شپږمه حصه کې به يې آرام کولو، "وكان يصوم يوماً ويفطر يوماً، وَلَا يَفِرُّ إِذَا لَاقَى" يوه ورځ به يې روژه نيول او بله ورځ به يې پرېښودل، کله چې به د دښمن سره مخامخ شو، نو تښتېدو به نه.

"وفي رواية قال: أَنْكَحَنِي أَبِي امْرَأَةً ذَاتَ حَسَبٍ" په يو بل روايت کې دي چې زما پلار د يوې ښځې سره واده وکړو کومه چې د غټ نسب والا وه، "وَكَانَ يَتَعَاهَدُ كَنَّتَهُ" د هغې ډېر خيال به يې ساتلو، "أي: امْرَأَةَ وَلَدِهِ" يعنې د بل زوی د ښځې خيال به يې ساتلو، "فَيَسْأَلُهَا عَنْ بَعْلِهَا" نو زما پلار به زما د ښځې نه زما په باره کې پوښتنې کولې چې هغه څنګه دی او څنګه چلن درسره کوي، "فَتَقُولُ لَهُ: نِعْمَ الرَّجُلُ مِنْ رَجُلٍ لَمْ يَطَأْ لَنَا فِرَاشاً" زما ښځې به ورته ويل: دومره ښه سړی دی چې تراوسه يې زما سره آرام نه دی کړی (يعنې زما سره څملاستلی نه دی)، "وَلَمْ يُفَتِّشْ لَنَا كَنَفاً مُنْذُ أَتَيْنَاهُ" نه يې تر اوسه پورې د بکارت پرده سپړلې ده، يعنې زما سره يې تر اوسه کوروالی نه دی کړی، "فَلَمَّا طَالَ ذٰلِكَ عَلَيْهِ ذَكَرَ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ ﷺ" کله چې ددې خبرې ډېر وخت تېر شو؛ نو يوه ورځ نبي اکرم ﷺ ته ددې خبرې ذکر وشو، "فَقَالَ: الْقَنِي بِهِ فَلَقِيتُهُ بَعْدَ ذٰلِكَ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: هغه (عبد الله بن عمرو رضي الله عنه) دې زما سره ملاقات وکړي، ما ورسره ملاقات وکړو، "فَقَالَ: كَيْفَ تَصُومُ؟ قُلْتُ: كُلَّ يَوْمٍ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: ته څنګه روژه نيسې؟ ما ورته وويل: هره ورځ روژه

نيسم، "قَالَ: وَكَيْفَ تَخْتِمُ؟" بيا نبي اکرم ﷺ وفرمايل: څنګه د قرآن کريم ختم کوې؟ "قُلْتُ: كُلَّ لَيْلَةٍ" ما ورته وويل: هره شپه ختم کوم، "وَذَكَرَ نَحْوَمَا سَبَقَ" بيا يې پوره واقعه بيان کړه، لکه څنګه چې مخکې تېره شوه، "وَكَانَ يَقْرَأُ عَلَى بَعْضِ أَهْلِهِ السُّبُعَ الَّذِي يَقْرَؤُهُ" عبد الله بن عمرو رضي الله عنه به د قرآن کريم اومه حصه د خپل کور يو کس ته د ورځې اوروله، "يَعْرِضُهُ مِنَ النَّهَارِ لِيَكُونَ أَخَفَّ عَلَيْهِ بِاللَّيْلِ" ددې لپاره چې د شپې ورباندې بوج نه وي، "وَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَتَقَوَّى أَفْطَرَ أَيَّاماً" او کله چې به يې بدن ته آرام ورکولو، نو څو ورځې به يې روژه نه نيول، "وَأَحْصَى وَصَامَ مِثْلَهُنَّ كَرَاهِيَةَ أَنْ يَتْرُكَ شَيْئاً فَارَقَ عَلَيْهِ النَّبِيَّ ﷺ" او د هغې ورځو به يې حساب نيولو، بيا به يې قضايي رانيوله، ځکه چې هغه به دا خبره بده ګڼل چې په کوم حالت کې مې د نبي اکرم ﷺ نه جدا والى راغلى دى، هغه حالت چېرته رانه پاتې نه شي، "كل هذه الروايات صحيحة، معظمها في الصحيحين، وقليل منها في أحدهما" امام نووي رحمه الله فرمايي: دا ټول روايتونه صحيح دي او زياته حصه يې د بخاري او مسلم شريکه ده، لږه برخه يې داسې ده چې د بخاري او مسلم نه به په يو کتاب کې خامخا روايت شوې ده.

لغوي تحقيق:

عشت: "عاش يعيش" باب سمع يسمع دى، ددې معنى ده: ژوند تېرول

جسدك: "جسد" باب سمع يسمع دى، ددې معنى ده: وينه وچېدل، انساني بدن او جسم، ددې جمع "اجساد" راځي.

لزورك: "زار زيارة" باب نصر ينصر دى، ددې معنى ده: ملاقات کول

بحسبك: مصدر دى، ددې معنى ده: کافي کېدل، کفايت کېدل

فشددت: "شد شدة" باب ضرب يضرب دى، ددې معنى ده: سختي کول

يفتش: "فتش فتشاً" باب ضرب يضرب دى، ددې معنى ده: يو شى لټول، بحث کول.

تشريح: په دې حديث کې که يو طرفته د صحابه کرامو په عبادت کې د آخرت سره د مينې اظهار کيږي؛ نو بل طرفته د نبي کريم ﷺ صحابه کرامو ته د اعتدال تعليمات ښودل شوي دي، اعتدال بايد په دې شان سره وي چې د آخرت د تقاضو سره د دنيا تقاضې هم پوره شي، ددې حديث نه دا هم معلومېږي چې انسان بايد په داسې شکل عبادت وکړي چې دده جسماني طاقت بلکل مړ نه شي، بلکه دا چې انسان بايد په داسې طريقه عبادت وکړي چې تر مرګه پورې يې په دې عبادت کې قوت رانشي، په ځوانۍ کې بايد په داسې اعتدال سره عبادت وشي چې د بوډاتوب په زمانه کې يې کول هم آسان وي، لکه څرنګه چې په يو حديث کې دي "أحب الأعمال إلى الله أدومها وإن قل" الله جل جلاله ته زيات خوښ هغه عمل دى چې همېش يې وکړي اګر چې لږ وي.

په ښځو کې بايد د سړو نه زياته حياء وي:

ددې حديث نه دا هم معلومه شوه چې په ښځو کې بايد دومره شرم وي چې د نورو خلکو په وړاندې خپل د پردې خبرو برملا اظهار ونه کړي، نه چاته خپل عيبونه ظاهر کړي، لکه دغې صحابيه

ﷺ چې د خپل خاوند د بې رغبتۍ او د نه کوروالي اظهار یې هم ونه کړو، بلکې پټ یې وساتلو او کله چې خسر ترې پوښتنه وکړه؛ نو ډېر په کنایي او محتاط انداز یې ددې اظهار وکړو.

د حنظله رضي الله عنه خپل ځان ته منافق ویل

"وعن أبي ربعي، حنظلة بن الربيع الأسيدي الكاتب أحد كتاب رسول الله ﷺ، قَالَ: لَقِيَنِي أَبُو بَكْرٍ رضي الله عنه، فَقَالَ: كَيفَ أَنْتَ يَا حَنْظَلَةُ؟" د ابو ربعي حنظله بن ربيع اسيدي الكاتب چې د رسول الله ﷺ د کاتبانو څخه یو ؤ، هغه فرمايي چې یوه ورځ راسره ابوبکر صدیق رضي الله عنه ملاقات وکړو، هغه راته وویل: حنظله! څنګه یې؟ "قُلْتُ: نَافَقَ حَنْظَلَةُ! قَالَ: سُبْحَانَ اللهِ مَا تَقُولُ؟" ما ورته وویل: حنظله خو منافق شوی دی، هغه راته وویل سبحان الله دا ته څه وایې؟ "قُلْتُ: نَكُونُ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ ﷺ يُذَكِّرُنَا بِالجَنَّةِ وَالنَّارِ كَأَنَّا رَأْيَ عَيْنٍ" ما ورته وویل کله چې موږ د رسول الله ﷺ سره ناست یو او موږ ته چې د جنت او دوزخ ذکر وشي، زموږ داسې حالت وي لکه موږ چې یې په خپلو سترګو وینو، "فَإِذَا خَرَجْنَا مِنْ عِنْدِ رَسُولِ اللهِ ﷺ عَافَسْنَا الأَزْوَاجَ وَالأَوْلاَدَ وَالضَّيْعَاتِ نَسِينَا كَثِيراً" او کله چې موږ د هغه له مجلس څخه بهر شو، د ښځې، بچیانو او باغونو او د دنیا په کاروبار کې مشغول شو، نو موږ ډېرې خبرې هیرې کړو، "قَالَ أَبُو بَكْرٍ رضي الله عنه: فَوَاللهِ إِنَّا لَنَلْقَى مِثْلَ هَذَا" ابو بکر رضي الله عنه وفرمایل په الله ﷻ قسم چې ماته هم داسې حالت راپېښ کیږي، لکه څنګه چې تاسو وایې. "فَانْطَلَقْتُ أَنَا وَأَبُو بَكْرٍ حَتَّى دَخَلْنَا عَلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ فَقُلْتُ: نَافَقَ حَنْظَلَةُ يَا رَسُولَ اللهِ ﷺ" نو بیا موږ دواړه د نبي اکرم ﷺ په خدمت کې حاضر شو، ما وویل: یارسول الله ﷺ حنظله خو منافق شو! "فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: وَمَا ذَاكَ؟" نبي اکرم ﷺ وفرمایل هغه څنګه؟ "قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، نَكُونُ عِنْدَكَ تُذَكِّرُنَا بِالنَّارِ وَالجَنَّةِ كَأَنَّا رَأْيَ العَيْنِ" ما وویل اې د الله تعالی رسوله! کله چې موږ ستاسو سره ناست یو، د جنت او دوزخ ذکر زموږ په وړاندې وشي؛ نو زموږ حالت داسې شي، لکه موږ چې هر څه په خپلو سترګو وینو، "فَإِذَا خَرَجْنَا مِنْ عِنْدِكَ عَافَسْنَا الأَزْوَاجَ وَالأَوْلاَدَ وَالضَّيْعَاتِ نَسِينَا كَثِيراً" او کله چې ستاسو د مجلس څخه بهر شو او خپلو بچیانو، کاروبار، ځمکې او باغونو کې مشغول شو، نو ستا د مجلس ډېرې خبرې زموږ څخه هیرې شي. "فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَوْ تَدُومُونَ عَلَى مَا تَكُونُونَ عِنْدِي" نبي اکرم ﷺ وفرمایل: قسم په هغه ذات چې زما ساه د هغه په ولکه کې ده، که چېرته تاسو همېشه والی وکړې په هغه حالت چې تاسو زما سره یئ؛ "وَفِي الذِّكْرِ" او د الله ﷻ په ذکر کې همېش یئ؛ "لَصَافَحَتْكُمُ المَلاَئِكَةُ عَلَى فُرُشِكُمْ وَفِي طُرُقِكُمْ" نو پرښتو به ستاسو سره په بسترو او لارو کې ستړي مشي کولې. "لَكِنْ يَا حَنْظَلَةُ سَاعَةً وَسَاعَةً" "لیکن اې حنظله رضي الله عنه! داسې حالت کله کله وي، "ثَلاَثَ مَرَّاتٍ" نبي اکرم ﷺ درې ځله داسې وفرمایل. رواه مسلم..... "قَوْلُهُ: رِبْعِيٌّ بِكسر الراء" دا قول چې (ربعي) په کسرې د (ر) سره دی، و "الأُسَيِّدِي: بضم الهمزة وفتح السين وبعدها ياء مكسورة مشددة" او لفظ د الاسیدي په ضم د همزې سره او په فتحې د سین سره دی او وروسته ترې (یاء) مکسوره مشدده ده، "وقوله: عَافَسْنَا هُوَ بِالعينِ والسينِ المهملتينِ أي: عَالَجنا ولاعبنا" او دا قول چې (عافسنا) په عین سره او په سین مهمله دواړو سره دی، معنی یې ده: مشغول کېدل، "وَالضَّيْعَاتُ: المعايش" او دا قول چې (الضیعات) دی، معنی یې ده: ژوند او کاروبار کول.

لغوي تحقيق:

نافق: "نافق منافقة ونفاقاً" باب مفاعله دی، ددې معنی ده: په زړه کې کفر پټول او په ژبه د اسلام ځغېږ وهل.

الضيعات: دا جمع د ضيعة ده، ددې معنی ده: جايداد، ځمکه، مال او اسباب.

يدومون: "دام دواماً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: ثابت قدم اوسېدل، د هر وخت تېرول

لصافحتكم: "صافح صفاحاً مصافحة" مصافحه کول، لاس ملاول.

تشريح "نافق حنظلة" حنظله خو منافق شو، لکه څرنګه چې منافق سړی په زړه کې يو څه ساتي او په ظاهره کې بل څه وايي، دغه ډول حنظله ﷺ وفرمايل چې زما هم دا کيفيت دی چې د رسول الله ﷺ سره په مجلس کې ناست يم نو د زړه کيفيت مې يو شان وي او کله چې کور ته لاړ شم، خپلوانو سره مجلس کوم، نو بيا د زړه کيفيت بل شان وي.

"لصافحتكم الملائكة على فرشكم" نو پرښتو به ستاسو سره په بسترو او لارو کې سترګې مشي کړې وای، پرښتې خو هسې هم مصافحې کوي، ليکن که ستاسو د غه کيفيت همېش وي لکه څرنګه چې تاسو زما سره ناست وی، نو بيا خو به پرښتو ستاسو سره ښکاره سترګې مشي کول.

"ساعةً وساعةً" ليکن کله به داسې وي او کله هغسې وي، يعنې کله چې د عبادت وخت شي: نو بيا کيفيت يو شان وي او کله چې د کسب معاش، بال بچ سره ناسته پاسته راشي: نو بيا د زړه کيفيت بل شان وي، يعنې په دې کې هيڅ حرج نشته.

د راوي حنظله ﷺ مختصر حالات:

اصل نوم يې حنظله ﷺ دی، کنيت يې ابو ربعي دی، پوره نوم يې حنظله بن ربيع بن صفي بن رباح بن حارث دی، قياساً دا خبره کېدلی شي چې د اسلام په شروع کې مسلمان شوی ؤ، د اسلام راوړلو وروسته د رسول الله ﷺ د خط ليکلو ذمه واري په هغه وه، د طائف له جهاد مخکې رسول الله ﷺ هغه بنو ثقيف ته وليږلو چې وګوري: دوی سولې ته آماده دي او که نه؟ د عمر ﷺ په زمانه کې د قادسيې په جهاد کې هم شريك شوی ؤ، د ايماني کيفيت واقعه يې په دې حديث کې ده، کله چې به کور ته راغلو او زړه به يې معمولي شان متغير شو نو ځان به ورته منافق ښکارېدو

وفات کوفه چې آباده شوه: نو کوفې ته لاړو او کله چې جنګ جمل وشو، نو ترقيسا ته لاړو او بيا د امير معاويه ﷺ د خلافت په زمانه کې هم دلته وفات شو

روايات: پوره اته روايتونه ترې نقل شوي دي

کوم نذر چې نه شي پوره کولی، منل يې جائز نه دي:

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما، قال: بينما النبي ﷺ يخطب إذا هو برجل قائم فسأل عنه" د عبد الله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ يوه ورځ خطبه کول چې يو سړی يې ولاړ

وليد، نو وې فرمايل: دا څوك دى؟ "فقالوا: أَبُو إِسْرَائِيلَ نَذَرَ أَنْ يَقُومَ فِي الشَّمْسِ وَلَا يَقْعُدَ" خلكو ورته وويل: دا ابو اسرائيل دى او ددې خبرې نذر يې منلى دى چې لمر ته به دريږي او چېرته به نه کيني، "وَلَا يَسْتَظِلَّ" او نه به سوري ته راځي، "وَلَا يَتَكَلَّمَ، وَيَصُومَ" نه به خبرې کوي او همېش به روژه نيسي، "فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: مُرُوهُ فَلْيَتَكَلَّمْ، وَلْيَسْتَظِلَّ، وَلْيَقْعُدْ، وَلْيُتِمَّ صَوْمَهُ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: هغه ته حکم وکړئ چې خبرې شروع کړي او سوري ته کيني او ناسته دې اختيار کړي او خپله روژه دې پوره کړي رواه البخاري

لغوي تحقيق:

نذر: "نذر نذراً ونذوراً" باب ضرب يضرب دى، ددې معنى ده: د الله ﷻ په نوم نذر منل

لايقعد: "قعد قعوداً ومقعداً" باب نصر ينصر دى، ددې معنى ده: نه کېنستل.

يتكلم: ابو اسرائيل يې کنيت وو، په اصلي نوم کې يې اختلاف دى: ځينې يې قشير بولي، ځيني يې قيصر بولي او ځينې نور ورته يسر وايي.

تشريح: "مروه فليتكلم وليستظل وليقعد" نبي کريم ﷺ وفرمايل: دوى ته ووايئ چې سوري ته کينې او خبرې شروع کړي، مطلب دا چې کوم نذر پوره کول امکان لري هغه پوره کړئ او کوم نذر چې نه پوره کيږي، هغه پوره کول جائز نه دي، لکه څنګه چې دلته يو کس نذر ومنلو چې زه به خبرې نه کوم، هغه بل وويل: زه به سوري ته نه کېنم، نو دا نشي پوره کېدى، ځکه چې خبرې کول هم ضروري دي، مثلاً د سلام خواب ورکول، په لمونځ کې قرائت کول او داسې نور... دا هم امکان نه لري چې انسان به بلکل نه کيني، ځکه چې په لمانځه کې آخري قعده فرض ده او فرض چې پرېښودل شي، لمونځ نه کيږي، لهذا ناسته هم ضروري ده.

نبي کريم ﷺ د روژې پوره کولو حکم ورکړ:

"وليتم صومه" روژه پوره کول امکان لري، ځکه خو رسول الله ﷺ حکم وفرمايلو چې روژه پوره کړه، ليکن په دې کې هم هغه پنځه ورځې (عيد الفطر، عيد الاضحى، درې ورځې د ايام التشريق) روژې نيول منع دي.

باب في المحافظة على الأعمال

پنځلسم باب: د خپلو عملونو حفاظت کول

"قَالَ اللهُ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "أَلَمْ يَأْنِ لِلَّذِينَ آمَنُوا أَنْ تَخْشَعَ قُلُوبُهُمْ لِذِكْرِ اللَّهِ وَمَا نَزَلَ مِنَ الْحَقِّ" ترجمه: ايا په مؤمنانو باندې هغه وخت نه دى راغلى چې د هغوى زړونه د الله ﷻ نازل شوي ذکر (حق) ته عاجزه او ښکته شي، "وَلَا يَكُونُوا كَالَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْأَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ" او د هغو خلکو په شان نه شي چې کتاب ورکړل شوى وو او په دې حال کې دوى باندې ډېره موده تېره شوه، مګر د هغوى زړونه سخت شول [الحديد:۱۶]

شان نزول:

تشریح: علامه ابن کثیر رحمه الله فرمايي: کله چې الله جل جلاله د مسلمانانو په زړونو کې لږه سستي محسوسه کړه، نو په دې باندې دا آیت کریمه نازل شو، علامه آلوسي رحمه الله د امام اعمش رحمه الله قول نقل کړی دی چې کله صحابه کرام رضي الله عنهم مدینې منورې ته راغلل، نو څه نا څه د ژوند سهولتونه، اسانتیاوې ورته په لاس ورغلل، نو په اعمالو کې یې لږ شان سستي پیدا شوه، په دې باندې دا آیت نازل شو.

"أن تخشع قلوبهم" د زړه د خشوع څخه مراد د زړه نرمېدل دي، د قرآن کریم لپاره خشوع دا ده چې دې په اوامرو او نواهیو باندې مکمل عمل وشي، په دې باندې عمل کولو کې هیڅ سستي ونه کړي، تر ټولو اول چې په کوم شي د خلکو له زړونو وځي هغه خشوع ده، "وما نزل من الحق" د (ما نزل) نه مراد قرآن شریف دی، "كالذين أوتوا الكتب من قبل" د دې نه مراد یهودیان او عیسایان دي، "فطال عليهم الأمد" د دې نه مراد زیاته زمانه ده کومه چې د انبیاء علیهم السلام او د امتونو په منځ کې تېره شوې ده، دې ته د فطرت زمانه هم ویل کیږي یا دا چې کومه زمانه په کفر او شرك تېره شوې ده، مطلب دا چې مسلمانانو ته خطاب دی چې یهودیانو او عیسایانو د الله جل جلاله حکم ونه منلو، نو چېرته تاسو د دوی په څېر نه شئ!

"وَقَالَ تَعَالَى" الله جل جلاله فرمايي چې: "وَقَفَّيْنَا بِعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَآتَيْنَاهُ الْإِنْجِيلَ" او بیا مو د هغه نه پس عیسی علیه السلام د انجیل سره راولېږلو، "وَجَعَلْنَا فِي قُلُوبِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ رَأْفَةً وَرَحْمَةً وَرَهْبَانِيَّةً ابْتَدَعُوهَا" او د هغه منونکو په زړونو کې مو محبت او نرمي پیدا کړه او رهبانیت چې هغوی له ځانه پیدا کړی وو، "مَا كَتَبْنَاهَا عَلَيْهِمْ" موږ پرې (رهبانیت) فرض کړی نه وو، "إِلَّا ابْتِغَاءَ رِضْوَانِ اللَّهِ فَمَا رَعَوْهَا حَقَّ رِعَايَتِهَا" او دوی چې د خپل ځان نه کوم رهبانیت پیدا کړی ؤ، دا یې صرف د الله جل جلاله د رضا لپاره پیدا کړی ؤ، لیکن بیا یې د دې هم پوره خیال او رعایت ونه ساتلو. [الحدید:۲۷]

تشریح: "وآتيناه الإنجيل" په دې آیت کې د عیسی علیه السلام او په هغه باندې نازل شوي کتاب انجیل ذکر دی، "رأفة ورحمة" د عیسی علیه السلام په ملګرو کې دا صفت وو چې د هغوی په زړونو کې یو بل ته مهرباني او نرمي پرته وه، د (رأفة ورحمة) یوه ترجمه دا ده: مهرباني او شفقت، ځینو ویلي دي چې د رحمت معنی شفقت ده او د (رافة) معنی ده: په سختۍ سره شفقت او مهرباني کول، دلته په شفقت کې لږ مبالغه ده، ځینو نورو ویلي دي: که یو سړی درنه ما تحت الاسباب څه قسم تکلیف لرې کړي، نو دې ته 'رأفة' ویل کیږي او که ماتحت الاسباب فایده درکړي؛ نو دې ته رحمت ویل کیږي.

د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په امت کې دا صفت پروت دی چې دوی خپل مینځ کې (رحماء بينهم) په خپلو منځونو کې مهرباني کونکي او رحم کونکي دي، او (أشداء على الكفار) د کفارو په مقابل کې سخت دي، لیکن د عیسی علیه السلام په حوارینو کې دا دویم صفت نه وو، ځکه چې په دوی باندې جهاد فرض نه وو. "ورهبانية" ځینې نورو حوارینو رهبانیت خپل کړی وو، کله چې د دین په باره کې په دوی باندې لږه سختي راغله،

نو دوی ځنګلونو ته لاړل او هلته يې عبادت شروع کړو، دا رهبانيت په دوی باندې لازم نه ؤ، خو کله چې هغوی په ځانونو باندې لازم کړو، نو د الله ﷻ له طرفه هم په دوی باندې دا خبره لازمه شوه چې اوس به تاسو دا کار خامخا کوئ، ليکن بيا هم اکثره په دې باندې هم ثابت قدمې پاتې نه شول او ددې رهبانيت پوره حق يې ادا نه کړو، ليکن د نبي کريم ﷺ په امت کې داسې نشته، "لارهبانية في الاسلام" په اسلام کې د رهبانيت هيڅ قسم ځای نشته.

"وَقَالَ تَعَالَى" او الله ﷻ فرمايي: "وَلَا تَكُونُوا كَالَّتِي نَقَضَتْ غَزْلَهَا مِنْ بَعْدِ قُوَّةٍ أَنكَاثًا" تاسو د هغې ښځې په شان مه کيږئ چې اول خپل تار او رسی برابره کړي بيا يې بېرته ټوټه ټوټه کړي. [النحل:۹۲]

شان نزول

په مکه مکرمه کې يوه ښځه اوسيده چې د هغې نوم سعيده اسديه وه، ځينې نورو مفسرينو ددې نوم رابطه بنت عمر بن سعدبن کعب ښودلې ده او د ابن کثير په قول ددې نوم خرقاء وه، هغې د لېونۍ عادت درلود، هغې به تبوله ورځ د ورې نه رسۍ، تار جوړ کړو او چې ماښام به شو، نو بيا به يې خلاص کړو، هغې به همدغه کار کولو، په دې باندې دا آيت نازل شو، مطلب دا شو چې د خپلو عملونو لحاظ وساتئ، دا مه ضايع کوئ؛ لکه هغه ښځه چې تبوله ورځ به محنت او خواري وکړي او بيا به يې خپل محنت خپله ضايع کړو، "وَقَالَ تَعَالَى" او الله ﷻ فرمايي: "وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّى يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ" او ته د خپل رب عبادت کوه تر دې پورې چې مرګ درته راشي. [الحجر:۹۹].

تشريح په دې آيت کې اګر چې خطاب نبي کريم ﷺ ته دی، ليکن ټول امت ته پکې ترغيب ورکول شوی دی، د آيت مطلب دا دی چې تر مرګه پورې د خپل رب عبادت کوه، ځکه چې که يو طرفته په ذکر او عبادت سره آخرت ښکلی کيږي؛ نو بل طرفته پکې دا خاصيت هم موجود دی چې کوم انسان په ذکر او فکر کې مشغول شي، نو د داسې انسان د زړه نه الله ﷻ غمونه او فکرونه ختموي، دغه شان حکم عيسى عليه السلام ته هم الله ﷻ کړی ؤ، "وأوصاني بالصلوة والزكوة مادمت حيا" په يو بل روايت کې دي چې نبي کريم ﷺ وفرمايل: الله ﷻ زه مال جمع کونکی او له ځانه تاجر جوړوونکی نه يم رالېږلی، بلکې په ما وحي نازله شوې ده چې: "فسبح بحمد ربك وكن من الساجدين واعبد ربك حتى يأتيك اليقين" د خپل رب پاکي بيانوه او د هغو خلکو ملګری شه چې خپل رب ته سجده لګوونکي دي او تر هغه پورې د خپل رب عبادت کوه چې تا ته مرګ راشي.

وَأَمَّا الْأَحَادِيث فمنها:

الله ﷻ ته خوښ عمل هغه دی چې همېش وي

"حديث عائشة: وَكَانَ أَحَبُّ الدِّينِ إِلَيْهِ مَا دَاوَمَ صَاحِبُهُ عَلَيْهِ" د عائشې ﷺ نه روايت دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله ﷻ ته هغه دين زيات خوښ دی چې عمل کوونکي ورباندې همېش عمل وکړي، "وَقَدْ سَبَقَ فِي الْبَابِ قَبْلَهُ" دا حديث په مخکنې باب کې هم تېر شوی دی.

"وعن عمر بن الخطاب ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ" د عمر بن خطاب ﷺ څخه روايت دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: "مَنْ نَامَ عَنْ حِزْبِهِ مِنَ اللَّيلِ، أَوْعَنْ شَيءٍ مِنْهُ" کوم کس چې د شپې د خپلې وظيفې نه يا د هغې څه حصې يا د تهجد لمونځ وغيره نه ويده شو. "فَقَرَأَهُ مَا بَيْنَ صَلاةِ الفَجْرِ وَصَلاةِ الظُّهْرِ" بيا هغه د سهار او ماسپښين تر منځ هغه ولوستل يا يې پوره کړل، "كُتِبَ لَهُ كَأَنَّمَا قَرَأَهُ مِنَ اللَّيلِ" نو هغه ته به دومره ثواب ملاويږي څومره چې ورته په وخت باندې په لوستلو سره ملاوېدو، ددې مثال داسې دی لکه هغه چې په خپل وخت ورد او وظيفه لوستلې وي. رواه مسلم.

تشريح: د حديث مطلب دا دی چې کله هم يو انسان يو نېک عمل شروع کړي، نو بايد چې تر مرګه پورې يې وکړي، کله يې هم پرېنږدي، اګر چې عمل لږ وي، ليکن که هغه په همېشوالي سره وشي داسې عمل الله ﷻ ته زيات خوښ وي د هغه عمل نه چې يوه ورځ ښه ډېر وشي او بيا پرېښودل شي، د خينو علماوو قول دی: "الإستقامة فوق ألف الكرامة" يو استقامت د زرو کرامتونو څخه زيات غوره دی.

د اعمالو قضائي هم پوره ثواب لري

"وعن عبد الله بن عمرو بن العاص رَضِيَ اللَّـه عنهما، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّـهِ ﷺ" د عبد الله بن عمرو بن عاص ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "يَا عَبدَ اللهِ، لاَ تَكُنْ مِثْلَ فُلانٍ" اې عبد الله بن عمرو بن عاص ﷺ! ته د هغه کس په څېر مه کېږه! "كَانَ يَقُومُ اللَّيلَ فَتَرَكَ قِيَامَ اللَّيلِ" کوم کس چې به لوړی د شپې عبادت کولو او بيا يې پرېښودلو. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ.

لغوي تحقيق:

حزبه: حزب حزباً باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده غم او مصيبت رسيدل، حزب القرآن د قرآن کريم يوه مقرره حصه لوستل، الحزب، پارټې، ډلې ته هم ويل کېږي، وظيفې ته هم ويل کېږي جمع ددې احزاب راځي.

لفظ حزبه تحقيق:

"حزبه من الليل" حزب په اصل کې په نمبر سره اوبو راخيستلو ته ويل کېږي، بيا وروسته د هغو وظيفو لپاره مستعمل شو چې انسان يې په خپل ځان باندې مقرر کړي، مطلب دا دی چې کوم کس په خپل ځان باندې د قرآن کريم د تلاوت کومه حصه مقرر کړې يا د شپې څه قدرې حصه يې د ځان د عبادت لپاره مقرر کړې وي او دی دا خپله وظيفه پوره نه کړي او د عبادت نه ويده پاتې شي، نو سهار دې خپله وظيفه ولولي او ددې عبادت قضائي دې راوړي! نو ددې وظيفې او عبادت به پوره ثواب ورته ملاوېږي، علامه قرطبي رحمه الله فرمايي: په موږ باندې د الله ﷻ ډېر لوی فضل دی، سره له دې چې عبادت او وظيفه په خپل مقرر وخت باندې ونه شي، خو بيا هم ددې پوره اجر او ثواب ورته ملاوېږي

سمدستي دې قضاء راوړي:

ددې حديث نه يوه بله مسئله هم معلوميږي، هغه دا چې کله د سړي نه کومه وظيفه عبادت وغيره قضاء شي؛ نو ددې قضائي بايد سمدستي راوړي، په دې مفهوم کې دا حديث هم دی "من نام عن الوتر أو نسيه فليوتر إذا ذكره أو استيقظ" کوم کس چې په تاسو کې د وترو څخه ويده شي يا ترې هېر شي نو بايد څنګه چې ورته په ياد شي، سمدستي دې قضاء راوړي

عبدالله بن عمر رضي الله عنه ته د نبي کريم ﷺ نصيحت:

تشريح: محدثينو ددې دوه مطلبونه بيان کړي دي. اول دا چې رسول الله ﷺ په عمل، مجاهده، رياضت وغيره کې د اعتدال تعليم ورکړی دی چې اې عبد الله: ته د هغه سړي په څېر مه کېږه چې اول د شپې عبادت شروع کړي، خو وروسته يې بيخي ترک کړي، په بل روايت کې داسې مضمون دی "أحب الأعمال إلى الله أدومها وإن قل" الله ﷻ ته زيات خوښ عمل هغه دی چې همېش وي، اګر چې لږ وي، دويم مطلب يې دا دی چې يو ځل نېک عمل شروع کړې او بيا يې پرېږدې داسې مه کوه؛ د داسې عمل نه رسول الله ﷺ هم په الله ﷻ سره پناه غوښتې ده.

نبي کريم ﷺ د تهجدو د لمانځه قضاء راوړل

"وعن عائشة رضي الله عنها، قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِذَا فَاتَتْهُ الصَّلاةُ مِنَ اللَّيْلِ مِنْ وَجَعٍ أَوْ غَيْرِهِ" د عائشې رضي الله عنها نه روايت دی، فرمايي چې کله به د رسول الله ﷺ نه د شپې تهجد د درد او تکليف يا بلې وجې څخه پاتې شول، "صَلَّى مِنَ النَّهَارِ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً" نو بيا به يې د ورځې دولس رکعته لمونځ وکړو. رواه مسلم.

لغوي تحقيق: فاتت: "فات فوتاً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده وخت ختمېدل تېرېدل

وجع: "وجع وجعاً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده درد، تکليف، ناروغه کېدل

تشريح: "فاتته الصلوة من الليل من وجع" د شپې عبادت د رسول الله ﷺ نه د بيمارۍ او تکليف له امله قضاء شو؛ نو بيا به يې د ورځې قضائي راوړل

ايا د تهجدو لمونځ په رسول الله ﷺ باندې فرض وو:

د ځينو علماوو رايه دا ده چې په رسول الله ﷺ باندې ـ تهجدو لمونځ فرض وُ. لکه څنګه چې په قرآن کريم کې ارشاد دی، "نافلة لك" د پنځه وخته لمونځونو څخه علاوه د تهجدو لمونځ هم په تا باندې زياتي فرض دی، اګر چې دا قول علامه قرطبي رحمه الله او داسې نورو محققينو علماوو مرجوح ګرځولی دی، بهرحال ددې قول په اعتبار سره د رسول الله ﷺ نه تهجد قضاء کېدل او بيا د هغې قضايي راوړلو کې هيڅ اشکال نشته. که راجح قول واخيستل شي چې هغه د تهجدو لمونځ په رسول الله ﷺ باندې او په امت باندې نفل کېدل دي، نو بيا ددې قضاء راوړلو مطلب محدثينو داسې بيان کړی دی. اګر چې د نفلو قضائي نشته ليکن که څوک يې اهتمام کوي؛ نو قضاء راګرځول يې مستحب دي

باب في الأمر بالمحافظة علی السنة وآدابه

شپاړسم باب: په سنتو او مستحبو باندې مداومت کول

"قَالَ اللهُ تَعَالَى" الله جل جلاله فرمايي چې: "وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا" کوم څه چې تاسو ته پېغمبر ﷺ درکوي هغه اخلئ او د کوم شي څخه چې تاسو منع کوي د هغې نه منع شئ! [الحشر:۷]

د نبي کريم ﷺ د حکم اطاعت د قرآن شريف په ځېر واجب دی:

دا آيت د عام حکم لري، کله چې هم د رسول الله ﷺ له طرفه کوم حکم راشي؛ نو هغه به بلا ستې قبلولی شي، کله چې د کوم شي نه منع وفرمايي؛ نو خان د هغه شي څخه ساتل پکار دي او د کوم کار کولو حکم چې راته وکړي، هغه کار به کوو، دا اوامر او نواهي داسې منل ضروري دي لکه څرنګه چې د قرآن کريم اوامر او نواهي منل ضروري دي.

علامه قرطبي رحمه الله فرمايي: دلته د (أتی) په مقابل کې د (نهی) لفظ راغلی دی، د (نهی) لفظ په وجه به د (أتی) معنی په امر سره کوو، يعنې د کوم شي حکم چې وکړي، د هغې کول واجب دي او د کوم شي څخه چې منع وفرمايي د هغې څخه خان ساتل واجب دي.

د ډېرې خبرې ځواب د قرآن نه:

صحابه کرامو، تابعينو او تبع تابعينو به د نبي کريم ﷺ حکم د قرآن په ځېر منلو، علامه قرطبي رحمه الله ليکلي چې يو خل عبد الله بن مسعود رضي الله عنه يو کس د احرام په حالت کې په ګنډل شويو جامو کې وليدو، هغه ورته وفرمايل: دا جامې وباسه! هغه وويل: د قرآن کريم څخه راته فتوی راکړئ، عبد الله بن مسعود رضي الله عنه ورته پورتنی آيت تلاوت کړو، دغه شان يو خل امام شافعي رحمه الله خلکو ته وويل: زه به د هرې مسئلې ځواب د قرآن کريم نه درکوم، خلکو د مسئلو په باره کې پوښتنې شروع کړې، هغه ورته دغه آيت تلاوت کړو.

"وَقَالَ تَعَالَى" الله جل جلاله فرمايي چې: "وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَى إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَى" او پېغمبر ﷺ له خانه خبرې نه کوي، بلکې دا خو خالص وحې ده چې هغه ته کيږي. [النجم:۳-۴]

تشريح په دې آيت کې دې خبرې ته اشاره ده چې رسول الله ﷺ هر څه وايي هغه وحې ده، بيا که د هغې الفاظ او معنی دواړه د الله جل جلاله له لورې وي، نو دې ته قرآن ويل کيږي او که معنی يې د الله جل جلاله له لورې وي او الفاظ د رسول الله ﷺ وي؛ نو دې ته حديث او سنت ويل کيږي، دا ځانته خبره ده چې کله هغه معامله د الله جل جلاله له طرفه صفا او واضحه راغلې وي او پېغمبر ﷺ يې په خپلو الفاظو سره بيان کړې او کله کله داسې هم وي چې هغه معامله د الله جل جلاله له طرفه د قاعده کليې په شکل راغلې وي بيا نبي کريم ﷺ د خپل خان له طرفه د اجتهاد په توګه بيان کړې وي، بيا که په دې اجتهاد کې خطا وشي؛ نو د الله جل جلاله له طرفه د وحې په ذريعه د دې خطا اصلاح کيږي.

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي" اې پيغمبره! ته دوی ته ووايه چې که تاسو د الله ﷻ سره مينه کوئ؛ نو زما تابعداري وکړئ، "يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ" الله ﷻ به ستاسو سره مينه وکړي او ستاسو گناهونه به معاف کړي [آل عمران:٣١]

شان نزول:

تشريح: د ابن جرير رحمه الله، ابن المنذر رحمه الله او حسن بصري رحمه الله نه مرسلا روايت نقل دی يو څو کسانو رسول الله ﷺ ته ووېل: په الله تعالى قسم چې موږ د الله ﷻ سره مينه لرو، په دې باندې دا آيت نازل شو، مينه يو پټ شی دی، داسې يوه پيمانه نشته چې د محبت اندازه پرې ولگول شي چې د فلانکي سره دده څومره مينه ده، صرف د آثارو څخه معلومېدی شي، دغه شان په دې آيت کې هم ارشاد دی چې تاسو خو د الله ﷻ سره د مينې دعوه کوئ؛ نو دا خپله دعوه د رسول الله ﷺ د تابعدارۍ په ترازو باندې وتلئ، څومره چې په خپله دعوه کې رښتوني يئ، دومره به ستاسو په ژوند کې د رسول الله ﷺ اتباع وي، څومره چې په خپله دعوه کې دروغجن يئ، دومره به ستاسو په ژوند کې د رسول الله ﷺ تابعداري نه وي، په دې وجه بل آيت کې د الله ﷻ ارشاد دی: "ومن يطع الرسول فقد أطاع الله" کوم کس چې د پيغمبر ﷺ تابعداري وکړي، هغه په حقيقت کې د الله ﷻ تابعداري وکړه، د پيغمبر ﷺ تابعداري د الله ﷻ تابعداري ده

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ" بې شکه ستاسو لپاره د رسول الله ﷺ په طريقو کې ښايسته نمونه ده، "لِمَن كَانَ يَرْجُو اللَّهَ وَالْيَوْمَ الْآخِرَ" د هغه کس لپاره چې د الله ﷻ نه د ثواب اميد ساتي او د قيامت د ورځې د راتلو باور لري [الأحزاب:٢١]

تشريح: "أسوة" د "اسوة" معنى ده پېشوا، لاربنود، مطلب دا چې د رسول الله ﷺ ژوند ستاسو لپاره يوه نمونه ده، په دې کې هغه ښکلې صفتونه دي چې ستاسو لپاره پرې عمل کول واجب دي يا دا مطلب دی چې رسول الله ﷺ ستاسو لپاره مقتداء دی، ستاسو لپاره د هغه ذات اقتداء مناسب ده

"لمن كان يرجوا الله واليوم الاخر" عبد الله بن عباس رضي الله عنهما ددې آيت دا مطلب بيان کړی دی چې د رسول الله ﷺ اقتداء د هغه کس لپاره ده چې د آخرت عقيده او اميد ساتي، د داسې کسانو لپاره د رسول الله ﷺ "أسوة حسنة" ښکلې نمونه ده، مقاتل رحمه الله د (يرجو) معنى په خوف سره کړې ده، مطلب يې داسې بيان کړی دی چې کوم کس د الله ﷻ نه وېرېږي او کله چې به د حشر په ميدان کې عملنامې ملاوېږي، سعيد بن جبير رحمه الله فرمايي: د رسول الله ﷺ اتباع به هر هغه انسان کوي چې د قيامت په ورځ يې ايمان ساتلی وي او د عملونو د جزا او سزا يقين يې په زړه کې وي

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې: "فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ" ستا په رب مې قسم دی، دوی به تر هغه پورې مسلمانان نه شي ترڅو چې په خپلو معاملاتو کې ستا فيصله ونه مني، "ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا" او ستا د فيصلې له وجې د دوی په زړونو کې تنگي نه وي، بلکې د زړه په خوشحالۍ سره يې ومني [النساء:٦٥]

تشریح: د ګڼ شمیر آیتونو څخه دا خبره ثابته شوه چې د رسول الله ﷺ اتباع ضروري او فرض ده، په دې آیت کې هم الله ﷻ قسم کړی دیی چې تر هغه به مؤمن مسلمان جوړ نه شي چې په کامله توګه بې د زړه له تله د رسول الله ﷺ تقلید شروع کړی نه وي او کومې فیصلې چې ورته رسول الله ﷺ بیانوي هغه بې د زړه د اخلاصه منلې نه وي او بیا د دوی په زړونو کې هیڅ قسم تنګي نه وي، مفسرین فرمایي چې دا آیت صرف د رسول الله ﷺ تر ژوند پورې خاص نه دی، د نبي کریم ﷺ په ژوندانه کې به خپله رسول الله ﷺ ته رجوع کوو او د وفات وروسته به یې شریعت ته رجوع کوو.

شان نزول:

د یو منافق او یهودي جنګ شو، نبي کریم ﷺ د یهودي په حق کې فیصله وکړه، منافق وویل عمر رضي الله عنه ته راځه هغه به راته فیصله وکړي، عمر رضي الله عنه ته یې مقدمه راوړه، عمر رضي الله عنه ته په نخښو یا د چا په بیان سره معلومه شوه چې ددې نه وړاندې هم رسول الله ﷺ فیصله کړې ده، دغه منافق د رسول الله ﷺ فیصلې ته غاړه نه ږدي، عمر رضي الله عنه وویل: لږ صبر وکړئ زه راځم! کور ته دننه شو، توره یې راواخیسته او د هغه منافق سرې سر یې پرې قلم کړو، بیا د مقتول وارثانو د رسول الله ﷺ په وړاندې د عمر رضي الله عنه خلاف د قتل فیصله غوښتل چې موږ ته دې د قاتل څخه قصاص واخیستل شي، په دې باندې دغه آیت رانازل شو.

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمایي: "فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ ان کنتم تؤمنون بالله واليوم الاخر" که تاسو څه معامله کې جګړه راشي؛ نو د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ حکمونو ته یې راوړاندې کړئ! که تاسو په الله ﷻ او په ورځ د آخرت باندې ایمان لرئ! [النساء:٥٩] "قَالَ العلماء: معناه إلى الكتاب والسُّنَّة" علماء ددې معنی دا لیکي چې کتاب الله یعني قرآن کریم او سنت د رسول الله ﷺ ته یې راوړاندې کړئ!

تشریح: په کومه مسئله کې چې اختلاف راشي؛ نو الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ ته یې راجع کړئ! علماء فرمایي چې الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ ته د رجوع کولو مطلب دا دی چې قرآن او حدیثو ته رجوع وکړئ، ددې مطلب دا دی چې کتاب الله او سنت رسول ﷺ ته د رجوع کولو دوه صورتونه دي: یو دا چې هغه حکم په قرآن او حدیث کې په واضحه توګه موجود وي، دویم دا چې که هغه حکم صراحةً موجود نه وي؛ نو بیا به قیاس او اجتهاد کولی شي، خینې مفسرین لیکي چې ددې آیت نه د اجتهاد او قیاس ثبوت ملاویږي، "فردوه الى الله والرسول" دا عامه جمله ده، دواړو صورتونو ته شامله ده.

"وَقَالَ تَعَالَى: مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ" کوم کس چې د رسول الله ﷺ تابعداري وکړي، هغه په حقیقت کې د الله ﷻ تابعداري وکړه. [النساء:٨٠]

تشریح: په دې آیت کې دې ته اشاره ده چې کوم کس د پیغمبر ﷺ تابعداري کوي هغه په حقیقت کې د الله ﷻ تابعداري کوي، ځکه چې په پیغمبر ﷺ باندې تبلیغ دی، حکم ورکوونکی ذات خو صرف یو دی چې هغه الله ﷻ دی، په دې وجه په یو حدیث کې ارشاد دی: "من أطاعني فقد أطاع الله ومن يعصني فقد

عصى الله"کوم کس چې زما تابعداري وکړي، هغه د الله ﷻ تابعداري وکړه او کوم کس چې د پيغمبر ﷺ نافرماني وکړي، هغه د الله ﷻ نافرماني وکړه.

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې: "وَإِنَّكَ لَتَهْدِي إِلَى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ صِرَاطِ اللَّهِ" او اې پيغمبره ﷺ بې شکه تاسو به خلکو ته لاره ښيئ! سمه سيده لار د الله ﷻ والا﴾[الشورى: ۵۲-۵۳]

تشريح: "صراط مستقيم" ددې نه مراد اسلام دی، په دې آيت کې خاص خطاب رسول الله ﷺ ته شوی دی چې ستاسو ﷺ کار دا دی چې خلك به سيده لارې ته رابلئ، دوی به د اسلام په لاره تسموئ، هغه چې سيده جنت ته تللې ده.

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ" پکار ده چې وويريږي هغه کسان چې د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ د امر مخالفت کوي، "أَن تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ" چې وبه رسيږي دوی ته سخ... يې او يا به ورسيږي دوی ته سخت او دردناك عذاب. [النور: ۶۳]

تشريح: فتنة: د مجاهد رحمه الله په نزد د فتنې نه مراد دنيوي عذابونه دي او د (عذاب اليم) نه د آخرت عذاب مراد دی، خلاصه دا شوه چې کوم خلك د الله ﷻ حکم نه مخ اړوي؛ نو دوی ته وېره پکار ده چې په دنيا کې په عذاب باندې ککړ نه شي او په آخرت کې به هم ورته عذاب ملاوېږي په دې آيت کې هغو خلکو ته اخطار ورکول مقصود دی چې د رسول الله ﷺ د تابعداری نه مخ اړوي چې، دوی به په دنيا کې هم په عذاب کې راګېر شي او په آخرت کې به يې هم خلاصی نه وي، "من عمل عملا ليس عليه أمرنا فهو رد" کوم کس چې يو داسې کار وکړي چې زمونږ حکم ورته نه وي شوی، نو هغه رد دی

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې: "وَاذْكُرْنَ مَا يُتْلَى فِي بُيُوتِكُنَّ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ وَالْحِكْمَةِ" تاسو په خپلو کورونو کې د الله ﷻ ايتونه تلاوت وکړئ په هغو کې چې حکمت او بصيرت پکې پروت دی [الأحزاب: ۳۴]

"والآيات في الباب كثيرة" په دې باب کې ايتونه زيات دي

تشريح: "ايات الله" د آيت نه مراد قرآن کريم دی او د (الحكمة) نه مراد سنت رسول ﷺ دی، "واذكرن مايتلى" ددې آيت دوه مطلبونه بيان شوي دي يو دا چې قرآن او حديث ښه ياد کړئ چې ددې نتيجه د عمل په شکل کې راووخي، دويم دا چې د قرآن کريم کومه حصه د دوی په کورونو کې د دوی په وړاندې په رسول الله ﷺ باندې نازله شوه يا د رسول الله ﷺ سنت طريقې چې کومې يې تر نظر لاندې تېرې شوي دي؛ نو ددې ذکر به نورو خلکو ته کوي، ابن عربي رحمه الله فرمايي ددې آيت نه معلومه شوه چې کوم کس ته آيت يا کوم حديث ياد وي، په هغه باندې لازم دي چې هغه آيت يا حديث نورو ته ورسوي، تر دې چې په ازواج مطهراتو باندې هم دا خبره لازمه وه چې ددې ذکر به امت ته کوي، د دوی سره د امت امانت پروت دی، بله دا چې د قرآن کريم او حديثو دواړو تبليغ او تعليم په دې امت باندې لازم دی او ... دې کې سستي کول لوی تاوان دی

د نبي كريم ﷺ نه دبې ځايه پوښتنو ممانعت:

"وأما الأحاديث: فالأول: عن أبي هريرة رضي الله عنه، عن النبيّ ﷺ، قَالَ" اولنی حديث د ابو هريره رضي الله عنه دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "دَعُونِي مَا تَرَكْتُكُمْ" كومه خبره چې زه تاسو ته ونه كړم د هغې متعلق پوښتنې مه كوئ! "إِنَّمَا أَهْلَكَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ كَثْرَةُ سُؤَالِهِمْ وَاخْتِلَافُهُمْ عَلَى أَنْبِيَائِهِمْ" بې شكه ستاسو نه مخكې زمانه په دې وجه هلاك شول چې هغوی به ډېرې زياتې پوښتنې كولې او بل به يې د انبياء عليهم السلام په فرمونه په باره كې اختلافات كول، "فَإِذَا نَهَيْتُكُمْ عَنْ شَيْءٍ فَاجْتَنِبُوهُ" كله چې زه تاسو د يو شي څخه منع كوم؛ نو تاسو تربنه منع شئ! "وَإِذَا أَمَرْتُكُمْ بِأَمْرٍ فَأْتُوا مِنْهُ مَا اسْتَطَعْتُمْ" او كله چې زه تاسو ته د يو كار امر وكړم، نو تاسو په هغې باندې تر خپل وسه عمل وكړئ! مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

شان نزول:

يو ځل رسول الله ﷺ خطبه وركړه، په خطبه كې يې وفرمايل: الله جل جلاله حج فرض كړی دی، يو صحابي چې اقرع بن حابس رضي الله عنه يې نوم دی، پوښتنه يې وكړه چې اې د الله تعالى رسوله! ايا هر كال حج فرض دی، نبي كريم ﷺ چوپ پاتې شو، تردې چې پوښتنه كونكي خپله پوښتنه درې ځله تكرار كړه، بيا وروسته نبي كريم ﷺ وفرمايل: كه چېرته ما په دې مهال ويلي وای نو بيا به په هر مسلمان هر كال حج فرض شوی وای، "دعوني ماتركتكم" ما پرېږدئ تر څو چې زه تاسو پرېږدم، په بل روايت كې د "دعوني" پر ځای (ذروني) الفاظ نقل دي، ددې دواړو معنی يوه ده، د رسول الله ﷺ مطلب دا ؤ چې زه ستاسو په وړاندې ددې مسئلو وضاحت كوم، د سوال كولو ضرورت نشته، لكه څرنګه چې بني اسرائيلو د غوا په باره كې تر هغې پورې پوښتنې كولې چې ځانونه يې په مشقت كې واچول، په اول كې دوی ته دا حكم شوی ؤ چې هره غوا دوی ذبح كړي؛ نو هغه ترې صحيح كېده

په قرآن كريم كې ارشاد دی: "يا أيها الذين آمنوا لا تسئلوا عن أشياء إن تبدلكم تسؤكم" اې مؤمنانو! تاسو د ډېرو مسئلو پوښتنې مه كوئ! هسې نه كه د هغې حكم درته وشي؛ نو بيا به خفه شئ! "فأتوا منه ما استطعتم" څومره چې ستاسو وس وي دومره عمل كوئ، مثلاً د لمانځه پوره شرطونه نشي پوره كولی؛ نو څومره چې كولی شئ هغومره وكړه، يعنې كه ودرېدی نه شئ نو په ناسته لمونځ وكړه او كه په ناسته لمونځ نه شې كولی؛ نو په ملاسته لمونځ وكړه! لكه څرنګه چې په قرآن كريم كې دي: "فاتقوا الله ما استطعتم" تاسو د الله جل جلاله نه وېرېږئ څومره چې ستاسو وس وي.

د نبي كريم ﷺ د اثر نه ډكه خطبه

"الثاني: عن أبي نَجيحٍ العِرباضِ بنِ سَارِيَةَ رضي الله عنه، قَالَ: وَعَظَنَا رسولُ اللهِ ﷺ مَوعظةً بَليغَةً وَجِلَتْ مِنْهَا القُلُوبُ" د ابو نجيح عرباض بن ساريه رضي الله عنه نه روايت دی، هغه فرمايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ موږ ته وعظ وكړو چې له امله يې زموږ زړونه په لړزا شول، "وَذَرَفَتْ مِنْهَا العُيُونُ" او زموږ سترګې له اوښكو ډكې شوې، "فَقُلْنَا: يَا رسولَ اللهِ، كَأَنَّهَا مَوْعِظَةُ مُوَدِّعٍ فَأَوْصِنَا" نو موږ رسول الله ﷺ ته وويل: اې د الله تعالى رسوله!

داسې معلوميږي چې دا اخري نصيحت دى، موږ ته څه نصيحتونه وكړئ "قَالَ: أُوصِيكُمْ بِتَقْوَى اللهِ" نبي اكرم ﷺ وفرمايل: زه تاسو ته د تقوى په باره كې وصيت كوم چې تقوى اختيار كړئ "وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ وَإِنْ تَأَمَّرَ عَلَيْكُمْ عَبْدٌ حَبَشِيٌّ" او د حكم اوريدو او په هغه باندې د عمل كولو حكم درته كوم، اګر چې تاسو ته حكم كوونكى يو حبشي غلام وي، "وَإِنَّهُ مَنْ يَعِشْ مِنْكُمْ فَسَيَرَى اخْتِلَافًا كَثِيرًا" په تاسو كې چې څوك زمانه وروسته ژوندي پاتې شي هغه به ډېر اختلافات ويني، "فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ" په تاسو باندې زما سنت او زما د خليفه ګانو سنت لازم دي چې هدايت يافته او په نيغه لار روان خلك دي، "عَضُّوا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ" په دې باندې د ژامو غاښونو كلك ولګوئ (يعنې په سختۍ سره عمل ورباندې وكړئ) "وَإِيَّاكُمْ وَمُحْدَثَاتِ الْأُمُورِ" په دين كې د نويو خبرو (بدعت) پيدا كولو نه ځانونه وساتئ "فَإِنَّ كُلَّ بدعة ضلالة" ځكه چې هر بدعت ګمراهي ده، "رواه أبو داود والترمذي، وَقَالَ: حديث حسن صحيح" دا حديث امام ابوداؤد او ترمذي روايت كړى دى.

"النَّوَاجِذُ: بِالذَّالِ المعجمة، الْأَنْيَابُ: وَقِيلَ: الْأَضْرَاسُ" النواجذ په ذال معجمه سره دى، ځينې وايي چې "الانياب" غاښونو ته وايي او ځينې وايي چې اضراس ته ويل كيږي

لغوي تحقيق:

وجلت: "وجل وجلاً وموجلاً" باب سمع يسمع او نصر ينصر دواړو څخه راځي، ويريدلو ته وايي.
ذرفت: ذرف ذرفاً وذريفاً" باب ضرب يضرب دى، ددې معنى ده سترګو نه وښكې توندل
عضوا: "عض عضاً وعضيضاً" باب سمع يسمع دى، ددې معنى ده: په غاښونو كې څه شى نيول
النواجذ: "نجذ نجذاً" باب فتح يفتح، (نواجذ: د ژامو او داړو مضبوطو غاښونو ته وايي) په دې سره څه شى نيول كيږي

تشريح: "موعظة بليغة" د اثر نه ډك وعظ او بيان يې وكړو، علامه توريشتي رحمه الله فرمايي: رسول الله ﷺ په خپل بيان كې وعيدات زيات ذكر كړل، ځكه په صحابه وو باندې ويره راغله، "كأنها موعظة مودع" ګويا يو كس په سفر باندې تلونكى وي او هغه داسې وصيت وكړي، نو هغه په خپل بيان كې متاثر كې راوړي، دغه شان رسول الله ﷺ هم په دغه موقع د صحابه كرامو په ذهنونو كې د خبرې د مضبوطولو لپاره سخت اهتمامي الفاظ استعمال كړه.

دامير اطاعت واجب دى:

"تأمر عليكم عبد حبشي" اګر چې په تاسو باندې يو حبشي غلام امير وټاكل شي، كله چې د يو امير امارت په شرعي طريقه نافذ شي؛ نو بيا د هغه اطاعت په جائزو خبرو كې واجب دى، په دې باندې اجماع ده.

د غلام شخه خليفه جوړول جائز نه دي:

سوال: ايا غلام حاکم جوړول جائز دي؟

جواب: اگر چې د غلام خليفه جوړول جائز نه دي، خو د يوې علاقې والي جوړول يې جائز دي، د دې حديث هم دغه مطلب دی، يا دا چې د مبالغې په توگه وويل شو چې که په تاسو باندې بالفرض کوم غلام حاکم جوړ شي او هغه هم داسې وي چې نسل يې حبشي وي، نو بيا هم د هغه اطاعت واجب دی.

"فعليکم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين المهديين" لکه څرنگه چې د رسول الله ﷺ اطاعت او تابعداري ضروري ده، دغه شان د خلفاء راشدينو مهديينو اطاعت هم ضروري دی، په دې حديث کې دې طرفته اشاره ده چې د خلفاء راشدينو اطاعت په تاسو باندې لازم دی.

بدعت گمراهي ده:

"إياکم ومحدثات الأمور" بدعت دې ته ويل کيږي چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې، دغه شان د خلفاء راشدينو ﷺ په زمانه کې يو کار نه وي شوی او هغه د دين حصه وگڼل شي او پوره په اهتمام سره يې وکړي، څوک چې يې نه کوي په هغوی باندې رَد بد وايي، امام شافعي رحمه الله فرمايي: کوم کار چې په دين کې نوی پيدا شي، هغه که د کتاب الله نه مخالف وي، د صحابه کرامو ﷺ د عمل څخه مخالف وي او د امت له اجماع څخه مخالف وي؛ نو دا ضلالت دی او که داسې نه وي، نو بيا پکې هيڅ حرج نشته.

د راوي ابو نجيح عرباض بن ساريه رضي الله عنه مختصر حالات:

اصل نوم يې عرباض ﷺ دی، ابو نجيح يې کنيت دی، د پلار نوم يې ساريه ؤ، د اصحاب صفه صحابه کرامو څخه ؤ، هغه به خپله فرمايل: زه څلورم کس وم چې مسلمان شوم، زما څخه وړاندې درې کسانو اسلام قبلو کړی ؤ.

وفات: شام ته لاړو او بيا تر مرگه پورې په حمص کې اوسېدلو، ګڼ شمېر شاگردان يې درلودل

روايات: پنځه اويا حديثونه ترې نقل دي، ابن حزم رحمه الله فرمايي: يو دېرش حديثونه ترېنه نقل دي

زما اطاعت کونکي به جنت ته ځي

"الثَّالِثُ: عَنْ أَبِي هريرةَ ﷺ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "كُلُّ أُمَّتِي يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ إِلَّا مَنْ أَبَى" زما هر امتي به جنت ته داخليږي، مگر هغه چې انکار وکړي، "قِيلَ: وَمَنْ يَأْبَى يَا رَسُولَ اللهِ؟" يو کس پوښتنه وکړه: اې د الله تعالى رسوله! کوم کس به انکار کوي؟ "قَالَ: مَنْ أَطَاعَنِي دَخَلَ الْجَنَّةَ، وَمَنْ عَصَانِي فَقَدْ أَبَى" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: کوم کس چې زما تابعداري وکړي، هغه به جنت ته داخليږي او کوم کس چې زما نافرماني وکړي هغه انکار وکړو، رواه البخاري.

لغوي تحقيق:

ابى: "أبى اباءً واباءةً" باب فتح او ضرب دواړو څخه راځي، ددې معنى ده: انكار كول، بوڅې ناخوښه ګڼل، مكروه ګڼل.

عصانى: "عصى عصياً ومعصيةً" باب ضرب يضرب دى، ددې معنى ده: نافرماني كول.

تشريح: "كل أمتي يدخلون الجنة" زما د امت ټول خلك به جنت ته داخليږي.

سوال: د نبي كريم ﷺ په امت كې خو كفار هم داخل دي، ايا هغوى به هم جنت ته داخليږي؟

جواب: دلته د امت نه مراد امت اجابت دى، په كفارو باندې خو جنت د قرآن او حديث په نصوصو سره حرام دى، "من أطاعني دخل الجنة" كوم كس چې اطاعت وكړو، هغه به جنت ته داخل شي، دا خبره مخكې هم بيان شوې ده چې د رسول الله ﷺ تابعداري په حقيقت كې د الله ﷻ تابعداري ده، لكه څرنګه چې د الله ﷻ ارشاد دى: "من يطع الرسول فقد أطاع الله" كوم كس چې د رسول الله ﷺ اطاعت وكړي هغه په حقيقت كې د الله ﷻ اطاعت وكړو.

"ومن عصاني فقد أبى" د (ابى) نه مراد كافر دى، په يو بل حديث كې ددې نور وضاحت هم شوى دى، "لتدخلن الجنة الامن أبى وشرد على الله شراد البعير" الفاظ هم نقل شوي دي.

په ښي لاس د خوراك څخه انكار كوونكي سزا

"الرابع: عن أبي مسلم، وقيل: أبي إياس سلمة بن عمرو بن الأكوع ﷺ: أَنَّ رَجُلاً أَكَلَ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ ﷺ بِشِمَالِهِ، فَقَالَ: كُلْ بِيَمِينِكَ" د ابو مسلم او چا ويلي چې د ابو اياس سلمه بن عمرو بن اكوع ﷺ څخه روايت دى، هغه فرمايي چې يو كس د رسول الله ﷺ سره ډوډى وخوره، نو نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: په ښي لاس ډوډى وخوره!، "قَالَ: لاَ أَسْتَطِيعُ. قَالَ: لاَ اسْتَطَعْتَ" هغه كس وويل: زه په ښي لاس خوراك نه شم كولى، نبي اكرم ﷺ ورته وفرمايل: تا ته دې طاقت حاصل نه شي. "مَا مَنَعَهُ إِلاَّ الْكِبْرُ فَمَا رَفَعَهَا إِلَى فِيهِ" نبي اكرم ﷺ وفرمايل: دا كس د تكبر له امله په ښي لاس خوراك نه منع شوى دى، بيا هغه كس خپل ښى لاس تر آخره خولې ته رانه وړو. رواه مسلم.

لغوي تحقيق:

اكل: "اكل أكلاً" باب نصر ينصر دى، ددې معنى ده: خوراك كول.

بشماله: "شمل شملاً" باب نصر ينصر دى، شمالي هواګانو ته هم ويل كيږي او چپ لاس ته هم ويل كيږي.

الكبر: تكبر او غرور لويه ګناه ده.

تشريح: "اكل عند رسول الله ﷺ بشماله" د رسول الله ﷺ په وړاندې يو كس په چپ لاس خوراك كولو، ددې سړي نوم بسر اشجعي دى، "كل بيمينك" په ښي لاس خوراك وكړه، په ښي لاس خوراك سنت دى، د چپ

لاس په باره کې د عبد الله بن عمر ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل. په چپ لاس شيطان خوراك كوي او د عايشې ﷺ روايت دی: كوم كس چې په چپ لاس خوراك كوي: نو شيطان ورسره شريك كيږي او خوراك ورسره كوي، "لاأستطيع" زما له وسه پوره نه ده، هغه د تكبر په توګه دا خبره وكړه، ددې خبرې وروسته د هغه لاس د همېش لپاره شل شو، تر مرګه پورې يې بيا لاس خپلې خولې ته پورته نه وړلو، د سنتو څخه د اعراض او سر غړونې له وجې دا سزا ملاو شوه، الله ﷻ دې موږ ټول د رسول الله ﷺ په سنتو باندې مزين كړي آمين

د راوي سلمه بن اكوع ﷺ مختصر حالات:

اصل نوم يې سلمه ﷺ دی، ابو مسلم يا ابو اياس يې كنيت دی، پوره نوم يې داسې دی: سلمه بن عبد الله بن عبد الله بن قشر بن خزيمه، د حديبيې وروسته يې په ټولو جهادونو كې شركت كړی دی، د صلح حديبيه پر مهال بيعت رضوان كې هم شريك و، هغه د رسول الله ﷺ په لاس درې خله بيعت وكړو، هغه داسې چې رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: سلمه ﷺ بيعت نه كوې؟ عرض يې وكړو چې ولې ته يو ځل خو مې بيعت كړی دی، نبي كريم ﷺ ورته وفرمايل: په بيا بيعت كولو كې څه حرج دی. بيا بيعت وشو.

تقريباً په څوارلسو غزاګانو كې يې شركت كړی دی. په اوه غزاګانو كې د رسول الله ﷺ سره او اوه غزاګانې يې د هغه څخه وروسته كړې دي، څلور صفتونه په كامله درجه پكې موجود وو.

د الله ﷻ په لار كې به يې ښه له اخلاصه خرچ كولو.

صدقې به يې خاتته ښځې حرامې ګڼلې

د ټولو اوامرو او نواهيو زيات اهتمام به يې كولو

په كامله معنی بهادري پكې وه، د هغه په باره كې ويل كيږي: "كان من الشجعان ويسبق الفرس عدواً" په بهادرو صحابه كرامو شمارل كېدو، كله چې به د اسپو سره په منډه شو، نو اسونه به ترې نه شوې مخكې كيدلی، په صلح حديبيه كې رسول الله ﷺ وفرمايل: په سپرو خلكو كې غوره ابوقتاده ﷺ دی او په پياده خلكو كې غوره سلمه بن اكوع ﷺ دی، نبي كريم ﷺ ورته دوه حصې مال غنيمت وركړی و، يوه حصه يې د سپاره او بله حصه يې د پياده.

وفات د عثمان ﷺ د شهادت وروسته ربذه مقام ته لاړو، هلته يې خاتته واده وكړو، بيا يو ځل مدينې منورې ته راغلو، درې څلور ورځې وروسته په ٧٤ هجري كې وفات شو

مرويات د مروياتو شمېر يې تر ٧٧ پورې رسيږي، په شپاړسو كې بخاري او مسلم متفق عليه دي او په پنځو كې بخاري منفرد دی او په نهو كې مسلم منفرد دی. (تهذيب الكمال)

"الخامس: عن أبي عبد الله النعمان بن بشير رضي الله عنهما قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول:" د ابو عبد الله نعمان بن بشير ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي "لَتُسَوُّنَّ صُفُوفَكُمْ، أَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللهُ بَيْنَ وُجُوهِكُمْ" خپل صفونه په اهتمام سره برابر كړئ كنه ستاسو ترمنځ به الله ﷻ مخالفتونه پيدا كړي

يعني په زړونو کې به مو بغض او حسد پيدا شي. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ.

"وفي رواية لمسلم: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُسَوِّي صُفُوفَنَا حتى "او د مسلم په يو روايت کې دي چې رسول الله ﷺ به زموږ صفونه داسې سيده کول، "كَأَنَّمَا يُسَوِّي بِهَا القِدَاحَ "لکه په غشي سره يې چې برابروي، "حَتَّى رَأَى أَنَّا قَدْ عَقَلْنَا عَنْهُ "کله چې به هغه زموږ په برابرېدو پوه شو، نو بيا يې دومره اهتمام پرېښودلو. "ثُمَّ خَرَجَ يَوماً فَقَامَ حَتَّى كَادَ أَنْ يُكَبِّرَ "يو ورځ په دې حالت کې د خپل کور نه د لمانځه لپاره ووتلو او نږدې وه چې الله اکبر يې ويلې واى، "فَرَأَى رَجُلاً بَادِياً صَدْرُهُ "نو ناڅاپه يې په يو کس باندې نظر پرېوتو چې خپله سينه يې د صف نه راوېستې وه، "فَقَالَ: عِبَادَ اللهِ، لَتُسَوُّنَّ صُفُوفَكُمْ أَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللهُ بَيْنَ وُجُوهِكُمْ "نو نبي اکرم ﷺ وفرمايل اې د الله ﷻ بندګانو! تاسو به خامخا خپل صفونه سيده کوئ او که داسې ونه کړئ نو الله ﷻ به مو په خپلو منځونو کې مخالفتونه او نفرتونه پيدا کړي

لغوي تحقيق:

"لتسون صفوفكم "تاسو خپل صفونه سيده کړئ! علماوو ليکلي دي چې دا جمله خبريه هم ده او انشائيه هم ده، په دې خبره اتفاق دى چې د لمانځه په ستنو کې تر ټولو زيات تاکيد په دې شوى دى چې صفونه سيده کړى شي، خينو علماوو دې ته واجب ويلي دي، ليکن په دې باندې د ټولو اتفاق دى چې دا د لمانځه په شرائطو کې داخل نه دى، صرف د علامه ابن حزم ظاهري نه منقول دي چې هغه به د عدم تسويه په صورت کې لمونځ ته فاسد ويل، خو جمهور علماء ددې بالمقال د فساد فتوى نه ورکوي

که صفونه سيده نه کړئ: نو زړونه به مو مخالف شي:

"أو ليخالفن الله بين وجوهكم "کنه نو الله ﷻ به مو په زړونو کې مخالفت واچوي، محدثين ددې جملې دوه مطلبه بيانوي: يو دا چې الله ﷻ به ستاسو په زړونو کې د يو بل سره حسد پيدا کړي. لکه په يو بل روايت کې چې دي: "أو ليخالفن الله بين قلوبكم "الله ﷻ به ستاسو په زړونو کې مخالفت پيدا کړي. دويم مطلب يې دا دى چې: الله ﷻ به ستاسو مخونه مسخ کړي، ددې تائيد هم په يو بل روايت سره کيږي چې: "لتسون الصفوف أو لتطمس الوجوه "الله ﷻ به ستاسو مخونه مسخ کړي

"كأنما يسوى بها القداح "لکه په غشي سره يې چې سيده کوي، غشي چې تر څو سيده نه وي تر هغې پورې پرې سم ګزار نه کيږي او نه مخکې مزل کوي، صفونه به يې داسې سيده کړل چې که غشي سيده کولو ته ضرورت پېښ شي، نو په دې صف سره يې هم سيده کولى شو.

د راوي نعمان بن بشير ﷺ مختصر حالات:

اصل نوم يې نعمان ﷺ دى، ابو عبد الله يې کنيت دى، د پلار نوم يې بشير ؤ، په کبارو صحابه کرامو کې شمار ؤ. والده يې د عبد الله بن رواحه خور وه، د هجرت وروسته په انصارو ﷺ کې تر ټولو اول پيدا شوى ماشوم ؤ، بيا شپږ مياشتې وروسته عبد الله بن زبير ﷺ پيدا شو، کله چې لوى شو، نو بيا به د منبر رسول ﷺ سره نږدې کېناستلو او د نبي کريم ﷺ وعظ او نصيحت اورېدلو.

په نهه پنځوسمه هجري کې امير معاويه ﷺ د کوفې حاکم جوړ کړو، بيا د حمص امير مقرر
شو، د هغه په باره کې صاحب فهري ليکي چې: "کان حليماً ناسکاً يحب العافية" هغه زيات د نرم زړه څښتن،
عابد او عافيت خوښونکی صحابي ﷺ ؤ، خو ددې سره سره يې په شجاعت کې هم برابر/ ساری نه
درلود.

وفات: په پنځه شپېتمه هجري د حمص په ښار بيران کلي کې ؤ چې د مروان او ابن زبير ﷺ
ترمنځ جنګ وشو، په دغه جنګ کې يې د ابن زبير ﷺ ملګرتيا وکړه، د مروان ملګری خالد بن عدي
الکلامي راغلو او هغه يې شهيد کړو او سر يې ترې پرې کړو، مېرمنې يې د هغه سر راواخيستلو او په
خپل لمنه کې يې کېښود، دغه وخت يې عمر څلور شپېته کاله وو.

روايات: مرويات يې يو سل څلورويشت دي، په پنځو کې بخاري او مسلم متفق عليه دي، په يو
کې بخاري او په څلورو کې مسلم منفرد دی.

د ويده کېدو په وخت اور مړ کول پکار دي:

"السادس: عن أبي موسى ﷺ، قَالَ" د ابو موسى اشعري ﷺ نه روايت دی، هغه فرمايي چې: "احْتَرَقَ
بَيْتٌ بِالْمَدِينَةِ عَلَى أَهْلِهِ مِنَ اللَّيْلِ" د شپې له خوا د مدينې منورې په خلکو کې د يو کس کور اور واخيست،
"فَلَمَّا حُدِّثَ رَسُولُ اللهِ ﷺ بِشَأْنِهِمْ" کله چې نبي اکرم ﷺ ته ددې خبر حاصل شو، "قَالَ: إِنَّ هٰذِهِ النَّارَ عَدُوٌّ لَكُمْ" نو وې
فرمايل: دا اور ستاسو د ښمن دی، "فَإِذَا نِمْتُمْ فَأَطْفِئُوهَا عَنْكُمْ" کله چې تاسو ويده کېږئ نو دا اور مړ کوئ
يعنې د سوځولو سکروټې وغيره د ځان سره مه پرېږدئ؛ مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

لغوي تحقيق:

احترق: "حرق حرقاً بالنار" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: اور بلېدل.
فاطفئوها: "طفئت طفوا" باب سمع يسمع دی، ددې معنی ده: اور مړ کول.

تشريح: "إن هذه النار عدوٌّ لکم" دا اور ستاسو د ښمن دی چې ددې څخه احتياط ونه کړل شي؛ نو د
انسان مال او جان هر څه ورسره لولپه کېږي.

د اور مړ کولو حکم د امت لپاره د شفقت په توګه دی:

"فإذا نمتم فاطفئوها عنکم" کله چې د ويده کېد اراده ولرئ، نو اور مړ کړئ؛ علامه قرطبي رحمه الله
فرمايي: د رسول الله ﷺ دا اراشاد امت ته د شفقت په توګه دی، ابن دقيق العيد فرمايي: دلته امر د
وجوب لپاره نه دی، علامه قرطبي رحمه الله فرمايي: که يو کس د ويده کېدو اراده ولري؛ نو هغه ته پکار
ده چې اور مړ کړي او يا داسې طريقه ورسره اختيار کړي چې هغه ته ترې نقصان ونه رسيږي او که داسې
ونه کړل شي، نو هغه د سنت طريقې مخالفت وکړو، ددې نه وروسته علامه قرطبي رحمه الله يو بل روايت
هم نقل کړی دی: "جاءت فارة تجر الفتيلة فالقتها بين رسول الله ﷺ على الخمرة التي كان قاعداً عليها فاحرقت منها مثل موضع

...رهم فقال: إذا نمتم فأطفئوا سرجكم فإن الشيطان تدل مثل هذه على هذه فيحرقكم" يو موږک د ډيوې بتئ پوليتې
حوله کې راغله، دغه بتئ يې د رسول الله ﷺ په وړاندې په پوزکي واچول. په کوم پوزکي چې به رسول
الله ﷺ کېنستلو، په دې سره د يو درهم په اندازه پوزکې وسوځېدو. نبي کريم ﷺ وفرمايل کله چې
...سو ويده کېدو ته راځئ نو ډيوې مړې کړئ" ځکه چې شيطان د موږك په څېر حيوانات داسې حرکت ته
...ماده کوي او د شيطان په سبب تاسو وسوځېږئ" په دې حديث کې دې خبرې ته اشاره ده چې کله هم ويده
کېږئ نو بله رڼا بنده کړئ، که ددې نه بچ کېدو ذريعه وي او د سوځېدو خطره نه وي، لکه نن سبا چې
برېښنا برقونه وغيره دي، بيا که مړ نه شي؛ نو هم هيڅ پروا نه کوي او که دا هم گل کړل شي، نو ډېره ښه
خبره ده، ځکه چې د بې ځايه اسراف څخه به ځان وژغورل شي

ځمکه درې ډوله ده او انسانان هم درې ډوله دي:

"السابع: عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ" د ابو موسى اشعري ؓ نه روايت دی. فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "إِنَّ مَثَلَ مَا بَعَثَنِي اللهُ بِهِ مِنَ الهُدَى وَالعِلْمِ، كَمَثَلِ غَيْثٍ" د الله ﷻ له خوا زما د رالېږلو مثال د هغه باران په څېر دی چې د هدايت او علم راکولو سره، "أَصَابَ أَرْضاً فَكَانَتْ مِنْهَا طَائِفَةٌ طَيِّبَةٌ، قَبِلَتِ الْمَاءَ فَأَنْبَتَتِ الْكَلَأَ وَالعُشْبَ الكَثِيرَ" چې په يوه ځمکه باندې ووريږي، د ځمکې ښې او عمده برخه اوبه راکش کړې، د هغه ځای وچ وابښه شنه او تازه شول. "وَكَانَ مِنْهَا أَجَادِبُ أَمْسَكَتِ المَاءَ فَنَفَعَ اللهُ بِهَا النَّاسَ فَشَرِبُوا مِنْهَا وَسَقَوْا وَزَرَعُوا" او د ځمکې ځينې ښکته برخې وې (يعنې سخت ځای وو) په کوم کې چې به اوبه راجمع شوې، په دې سره الله ﷻ خلکو ته فايده ورسول، نو د هغې نه يې اوبه هم وڅښلې او پټو ته يې ورکړې او پټيانو ته يې هم اوبه ورکړې. "وَأَصَابَ طَائِفَةً مِنْهَا أُخْرَى إِنَّمَا هِيَ قِيعَانٌ لَا تُمْسِكُ مَاءً وَلَا تُنْبِتُ كَلَأً" د باران اوبه هغه حصو ته هم ورسيدلې چې هغه ځمکې ددې صلاحيت نه درلود چې يا پکې اوبه جمع شي او يا پرې څه وابښه وغيره زرغون شي، "فَذَلِكَ مَثَلُ مَنْ فَقُهَ فِي دِينِ اللهِ وَنَفَعَهُ بِمَا بَعَثَنِي اللهُ بِهِ فَعَلِمَ وَعَلَّمَ" داسې مثال د نبي اکرم ﷺ هم دی چې د الله ﷻ له طرفه خلکو ته د علم ښودلو لپاره رالېږل شوی دی. په دې چې څوك به وه شول هغوی ګټه وکړل، ځپله يې هم علم حاصل کړو او نورو ته يې هم خبر ورکړ. "وَمَثَلُ مَنْ لَمْ يَرْفَعْ بِذَلِكَ رَأْساً وَلَمْ يَقْبَلْ هُدَى اللهِ الَّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ" او بل هغه دی چې هغه دين ته د کتلو لپاره سترګې او چتې کړې هم نه دي او نه يې د الله ﷻ هغه هدايت قبول کړی چې زما په ذريعه رالېږل شوی دی "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ".

"فَقُهَ: بِضَمِّ القَافِ عَلَى المَشْهُورِ وَقِيلَ بِكَسْرِهَا: أَيْ صَارَ فَقِيهاً" فقه، په ضمې د قاف سره دی او دا مشهور روايت دی او چا ويلي دي په کسرې يې معنی ده. فقيه او يوه ګرځېدل

لغوي تحقيق:

غيث: "غاث غيثاً" باب ضرب يضرب دی، په ځمکه باران ورېدل

فانبتت: "نبت نبتاً ونباتاً البقل" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده وابښه زرغون کېدل

العشب: "عشب عشباً وعشب عشابة" باب سمع يسمع دی، ځمکه چې شنه او تروتازه شي

تشريح: علامه نووي رحمه الله ددې حديث تشريح داسې کړې ده: لکه څرنګه چې په ځمکه کې درې ډوله خلک اوسيږي، دغه شان انسانان هم په درې ډوله دي:

اولاً: کله چې باران وشي او ځمکه اوبه خانته جذب کړي بيا ددې اوبو په ذريعه ميوې او فصلونه ښه او راټوکيږي، دغه ډول په خلکو کې هم يو قسم هغه کسان دي چې د قرآن او حديثو علم او هدايت په لاس ورغلو، خپله يې هم ترې فايده واخيسته او نورو ته هم ترې فايده ورسېده، لکه ائمه اربعه، امام ابوحنيفه رحمه الله، امام شافعي رحمه الله، امام احمد بن حنبل رحمه الله او امام مالک رحمه الله وغيره دي

دويم: قسم هغه ځمکه ده چې باران پرې وشي، اوبه ځانته جذب نه کړي، خو اوبه پرې بره د ډنډ په څېر ودريږي چې دد ښه خلکو او څارويو ته فايده ورسيږي، دغه ډول ځينې خلکو قرآن او حديث ياد کړو، ليکن په دوی کې د اجتهاد ماده نه وه، دوی ددې علم نه فايده وانخيسته، خو کومو خلکو ته چې د دوی نه علم منتقل شوی دی، په هغوی کې د استنباط ماده پرته وه، هغوی ترې ښه فايده واخيسته، لکه محدثين چې دوی احاديث ښه ياد کړل، ليکن ددې نه يې د مسئلو استنباط ونه کړو، دغه ماده الله ﷻ صرف په فقهاوو کې ايښې ده.

دريم قسم: دريم ډول هغه ځمکه ده چې باران پرې وشي ليکن دومره له کانو ډکه وي چې نه پکې اوبه دريږي چې خلک ترې فايده واخلي، نه خپل ځانته اوبه جذب کوي چې ځمکې ته فايده ترې ورسيږي، دغه شان په خلکو کې هم ځينې کسان شته چې نه خو هغوی د قرآن او حديثو علم حاصل کړو، نه يې ددې څخه فايده واخيسته او نه ترې نورو فايده واخيسته، لکه کافرانو غيره

خلک د پتنګانو په څېر جهنم ته غورځيږي

"الثامن: عن جابر رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ" د جابر رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "مَثَلِي وَمَثَلُكُمْ كَمَثَلِ رَجُلٍ أَوْقَدَ نَاراً" زما او ستاسو مثال د هغه کس په شان دی چې اور بل کړي، "فَجَعَلَ الجَنَادِبُ وَالفَرَاشُ يَقَعْنَ فِيهَا" په هغه اور کې پتنګان او نور خزندګان په تېزۍ سره ځانونه غورځوي، "وَهُوَ يَذُبُّهُنَّ عَنْهَا" مګر هغه سړی يې په اور کې د غورځېدو نه بچ کوي، "وَأَنَا آخِذٌ بِحُجَزِكُمْ عَنِ النَّارِ، وَأَنْتُمْ تَفَلَّتُونَ مِنْ يَدَيَّ" بس زه هغه يم چې ستاسو ملا نيسم او د غورځېدو څخه تاسو بچ کوم او تاسو زما د لاس نه وخويږئ او په اور کې وغورځيږئ: رواه مسلم.

"الجَنَادِبُ": نَحْوُ الجرادِ وَالفَرَاشِ، هَذَا هُوَ المَعْرُوفُ الَّذِي يَقَعُ فِي النَّارِ" جنادب په مثل د ملخانو او پتنګانو وي. وَالحُجَزُ: جَمْعُ حُجْزَةٍ وَهِيَ مَعْقِدُ الإزَارِ وَالسَّرَاوِيلِ" حجز وايي پرتوګ يا د لنګ تړلو ځای ته کوم چې خانونه اور ته اچوي.

لغوي تحقيق:

اوقد: "أوقد إيقاداً" باب افعال دی، ددې معنی ده: اور بلول

الجنادب: "الجنادب" د جندب جمع ده، جندب ملخ ته ويل کيږي

الفراش: پتنګ.

يحجز: "حجز حجزاً او حجازةً" باب نصر او ضرب دواړو څخه راځي، ددې معنى ده . د لاسه نيول او بندول

تشريح: "وهويـذُبُّـهنّ عنها" هغه به دغه خلك له اوره بچ کول، په دې حديث کې د رسول الله ﷺ جر درجه مهرباني ته اشاره ده، ددې څخه معلوميږي چې رسول الله ﷺ څومره زيات د امت په ايمان راوړلو باندې حرص درلود.

نبي کريم ﷺ د کفارو په اسلام راوړلو زيات حريص و:

"وأنتم تفتلون من يدي" او تاسو زما له لاسونو پرېوتئ او په جهنم کې غورځېدئ، په دې جمله کې د کفارو د حالت ذکر دی، باوجود له دې چې نبي کريم ﷺ د کفارو په ايمان باندې زيات حرص درلود، هغه به کوشش کولو چې څنګه دوی ايمان راوړي، خو هغوی بدبختانه چې د اسلام څخه ځانونه محروم کړل، لکه څنګه چې پتنګان په شمع ځانونه سوځوي، دغه شان کفار هم د اسلام نه تښتي او ځانونه په جهنم کې غورځوي.

غورځېدلی خوراك پاك کړه او ويې خوره!

"التاسع: عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ أَمَرَ بِلَعْقِ الأَصَابِعِ وَالصَّحْفَةِ" د جابر ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ د لوښو او ګوتو په څټلو امر کړی دی، "وَقَالَ: إِنَّكُمْ لا تَدْرُونَ فِي أَيِّهَا الْبَرَكَةُ" او وې فرمايل: تاسو ته د پوهيږئ چې په کوم يو کې ستاسو لپاره برکت دی. رواه مسلم.

"وفي رواية له: إِذَا وَقَعَتْ لُقْمَةُ أَحَدِكُمْ فَلْيَأْخُذْهَا، فَلْيُمِطْ مَا كَانَ بِهَا مِنْ أَذًى" په بل روايت کې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې ستاسو د لاس نه لقمه/ ګوله وغورځيږي؛ نو هغه دې راواخلي او په هغې پورې چې کومه ګندګي نښتې وي، هغه دې لرې کړي، "وَلْيَأْكُلْهَا وَلاَ يَدَعْهَا لِلشَّيْطَانِ" او هغه دې وخوري او د شيطان لپاره دې نه پرېږدي، "وَلاَ يَمْسَحْ يَدَهُ بِالْمِنْدِيلِ حَتَّى يَلْعَقَ أَصَابِعَهُ فَإِنَّهُ لاَ يَدْرِي فِي أَيِّ طَعَامِهِ الْبَرَكَةُ" خپل لاسونه دې په توليه/ دسپاک باندې نه وچوي تردې چې خپلې ګوتې وڅټي. ځکه چې هغه نه پوهيږي چې په کوم طعام کې ورته برکت وي.

"وفي رواية له: إِنَّ الشَّيْطَانَ يَحْضُرُ أَحَدَكُمْ عِنْدَ كُلِّ شَيْءٍ مِنْ شَأْنِهِ" د مسلم په بل روايت کې دي چې رسول الله ﷺ فرمايي: هر وخت ستاسو سره او په هره موقع کې شيطان موجود وي، "حَتَّى يَحْضُرَهُ عِنْدَ طَعَامِهِ" تردې چې د ډوډۍ په وخت کې هم حاضريږي، "فَإِذَا سَقَطَتْ مِنْ أَحَدِكُمُ اللُّقْمَةُ فَلْيُمِطْ مَا كَانَ بِهَا مِنْ أَذًى، فَلْيَأْكُلْهَا وَلاَ يَدَعْهَا لِلشَّيْطَانِ" بس کله چې ستاسو د لاس نه کومه لقمه پرېوځي؛ نو هغه دې راواخلي او کومه ګندګي چې ورپورې نښتې وي، هغه دې ترېنه لرې کړي او بيا دې په خوله کړي، پکار ده چې شيطان ته يې پرېنږدي.

لغوي تحقيق:

يلعق: "لعق، لعقاً" باب سمع يسمع دی، ددې معنی ده: په ژبه باندې ګوتې څټل.

الصحفة: غټه پياله چې د پنځو شپږو کسانو لپاره کافي کيږي.

د ګوتې څټلو فايدې:

تشريح: "أمر بلعق الأصابع" د ګوتو څټلو حکم يې وکړو، په يو بل روايت کې دي "إذا وقعت لقمة أحدكم فليأخذها فليمط" که لقمه پرېوځي؛ نو بايد اوچته کړی شي او وخوړل شي، علامه نووي رحمه الله فرمايي چې د غوړځېدلي لقمې پورته کولو حکم او بيا هغه صفا کول او د خوړلو حکم يې څکه شوی چې هسې نه په دې لقمه کې برکت وي او هغه ترې محروم پاتې شي، بله دا چې په دې کې عاجزي او خاکساري هم شته، په داسې عمل سره سړی د متکبرينو څخه جدا کيږي، د الله ﷻ د نعمت قدر هم پکې پروت وي او تر ټولو غوره خبره دا ده چې شيطان په داسې عمل سخت ذليله او خفه کيږي.

فليأخذها فليمط ماكان بها من أذىٰ" کومه لقمه چې پرېوځي هغه بايد راپورته کړی شي او که څه ګند پرې لګېدلي وي؛ نو صفا دې کړي او ودې خوړل شي، که داسې ګند پرې نښتي وي چې پرېمنځل کيږي نو بيا هم نه صفا کيږي، بيا دې چېرته کوم څاروي ته واچول شي، خو ضايع کول يې پکار نه دي.

د حذيفه رضي الله عنه کيسه:

يو ځل د حذيفه رضي الله عنه له لاسه لقمه پرېوتل، هغه سمدستي پورته کړه او صفايي يې کړه، بيا يې وخوړل، خلکو وويل: دلته خو د غير مسلمو مشر ناست دی، دا خلک به څه وايي؟ حذيفه رضي الله عنه په قهر شو او وې فرمايل چې: "أنترك سنة حبيبي ﷺ لهؤلاء الحمقاء؟" ايا زه ددې بې وقوفو له وجې د خپل حبيب ﷺ سنت طريقه پرېږدم؟ مطلب دا چې داسې نه شم کولی.

د نبي کريم ﷺ وعظ او نصيحت

"العاشر: عن ابن عباس رضي الله عنهما، قَالَ: قَامَ فِينَا رَسُولُ اللهِ ﷺ بِمَوْعِظَةٍ، فَقَالَ" د عبد الله بن عباس رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ ولاړ شو او موږ ته يې نصيحت وکړو، وې فرمايل: "يَا أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّكُمْ مَحْشُورُونَ إِلَى اللهِ تَعَالَى حُفَاةً عُرَاةً غُرْلاً" اې خلکو تاسو به الله ﷻ ته پښې ابله، ناسنته او برېنډ راجمع کړی شئ؛ "كَمَا بَدَأْنَا أَوَّلَ خَلْقٍ نُعِيدُهُ وَعْداً عَلَيْنَا إِنَّا كُنَّا فَاعِلِينَ" لکه د الله ﷻ ارشاد دی چې څنګه حال کې موږ تاسو پيدا کړي وی، په هم هغه حالت کې به دوباره ماته جمع کولی شئ، دا زموږ وعده ده او دا به موږ پوره کوو، [الأنبياء: ۱۰۴] "ألا وَإنَّ أَوَّلَ الخَلاَئِقِ يُكْسَى يَوْمَ القِيَامَةِ إبراهيمُ ﷺ" وا اورئ چې په مخلوق کې به د ټولو نه اول ابراهيم عليه السلام ته جامې واغوستل شي، "ألا وَإنَّهُ سَيُجَاءُ بِرِجَالٍ مِنْ أُمَّتِي فَيُؤْخَذُ بِهِمْ ذَاتَ الشِّمَالِ، فَأَقُولُ: يَا رَبِّ أَصْحَابِي" دا هم واورئ چې زما د امت نه به ځينې خلک راوستل شي چې مخونه به يې دوزخ ته اړول شوي وي، نو زه به ووايم چې اې الله! دا خو زما امتيان دي، "فَيُقَالُ: إنَّكَ لاَ تَدْرِي مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ" ماته به وويل

شي: تاسو ته پته نشته چې کله تاسو وفات شوي وئ، نو هغوی له ځانه خومره بدعات پيدا کړي وو "فَأَقُولُ كَمَا قَالَ الْعَبْدُ الصَّالِحُ: وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيداً مَا دُمْتُ فِيهِمْ" زه به هم هغه جواب ورکوم چې د الله ﷻ يو نيک بنده عيسى عليه السلام ويلي وو، "وكنت شهيداً إلى آخره" إِلَى قَوْلِهِ: ﴿الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ﴾ [المائدة: ۱۱۷-۱۱۸] فَيُقَالُ لِي: إِنَّهُمْ لَمْ يَزَالُوا مُرْتَدِّينَ عَلَى أَعْقَابِهِمْ مُنْذُ فَارَقْتَهُمْ" ماته به وويل شي: ستا د جدا کېدو نه پس دوی په ارولو پوندو د دين څخه لرې کېدل. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

"غُرْلاً: أَيْ غَيْرَ مَخْتُونِينَ" د "غرلاً" معنى ده: ناسنته چې سنتي يې نه وي شوي

لغوي تحقيق:

حفاة: "حفي حفاً" باب سمع يسمع دى، ددې معنى ده: پښې ابله، لوڅې پښې ګرځېدل.

عراة: "عري عرية وعرياً من ثيابه" باب سمع يسمع دى، ددې معنى ده: بربند/لوڅ

د قيامت په ورځ به هر سړى لوڅې پښې، ناسنته او بربند وي:

"حفاة: عراة عرلاً كما بدأنا أول خلق نعيده" پښې ابله پښې، ناسنته او بربند خلک به راپورته کولی شي، لکه څرنګه چې اول ځل پيدا شوي وو، دا مضمون د ګڼ شمېر ايتونو څخه هم معلومېږي، مثلاً: "كما بدأكم تعودون" دغه شان په بل آيت کې دي: "كما بدأنا أول خلق نعيده" علامه ابن عبد البر رحمه الله فرمايي: د قيامت په ورځ به خلک هم په هغسې شکل او صورت کې راپورته کولی شي، لکه څرنګه چې پيدا شوي وو، هيڅ اندام به يې خراب يا کم نه وي، که کوم اندام ترې په دنيا کې پرې شوی وي، نو هغه به هم ورسره الله ﷻ پيوست کړي، لکه د ختنې (سنتي) څرمن وغيره

تر ټولو اول به ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته جامې واغوستل شي:

"أول الخلائق يكسى يوم القيامة إبراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ" په قيامت کې به تر ټولو اول ابراهيم عليه السلام ته جامې واغوستل شي.

ولې ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ ته دا فضيلت ورکړ شو؟

علماوو ددې ګڼ شمېر ځوابونه کړي دي، مثلاً:

اولاً: ابراهيم عليه السلام به په دنيا کې فقيرانو او مسکينانو ته جامې اغوستولې

ثانياً: کله چې نمرود په اور کې واچولو، نو د هغه څخه يې کپړې وويستلې، دا هغه اولنى شخصيت دى چې د الله ﷻ په لار کې ترې جامې وويستل شوې.

ثالثاً: په دنيا کې به يې د ستر او پردې زيات لحاظ ساتلو.

ابراهيم عليه السلام ته به جامې په غاړه کړى شي، خو ددې دا مطلب نه دى چې د رسول الله ﷺ نه به وړاندې ورته جامې ورکړل شي، ځکه چې په يو روايت کې دي: "أنا أول من ينشق عنه الأرض فأكسى حلة من حلل الجنة ثم أقوم عن يمين العرش" د قيامت په ورځ به تر ټولو اول به زما قبر چوي، ماته به د جنت جامې راوړل

شي، هغه به زه په غاړه کړم او د عرش نبي طرفته به ودرېږم، "فأقول کما قال العبد الصالح هو عيسی علیه السلام" زه به هغه څه وايم چې يو نېک بنده عيسی علیه السلام ويلي دي، په قرآن کريم کې دي، (مفهوم يې دا دی :) کله چې به الله ﷻ عيسی علیه السلام ته ووايي : ايا تا ويلي وو چې خلک دې ما او زما مور د الله ﷻ څخه بغير په خدايي ونيسي؟ عيسی علیه السلام به څواب ورکړي چې : اې الله! که ما ويلي وای، نو ته خو په دې خبردار ذات يې، ما هغه څه ورته ويلي دي چې تاسو راته حکم کړی دی، ته پوهېږې چې زما په زړه کې څه دي او په هغه څه زه نه پوهېږم کوم چې ستاسو سره دي، مطلب دا چې عيسی علیه السلام به هم د برائت اظهار وکړي او نبي کريم ﷺ به هم د برائت اظهار وکړي.

په کاڼو لوېې منع دي

"الحادي عشر: عن أبي سعيد عبد الله بن مُغَفَّلٍ رضي الله عنه، قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ ﷺ عَنِ الخَذْفِ" د عبد الله بن مغفل رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ د خذف نه منع فرمايلې ده، "وقَالَ: إنَّهُ لاَ يَقْتُلُ الصَّيْدَ، وَلاَ يَنْكَأُ العَدُوَّ" او نبي اکرم ﷺ فرمايلي دي : په دې سره نه ښکار کېږي او نه پرې دښمن قتلېږي، "وَإنَّهُ يَفْقَأُ العَيْنَ، وَيَكْسِرُ السِّنَّ" البته په دې سره د چا سترګه خرابېدی شي او يا پرې غاښ ماتېدی شي مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ (خذف دې ته وايي چې په غټه ګوته کاڼی کېږدي او بيا پرې ګزار وکړي)

"وفي رواية: أنَّ قَرِيباً لابْنِ مُغَفَّلٍ خَذَفَ فَنَهَاهُ" په يو روايت کې دي چې د ابن مغفل رضي الله عنه يو رشته دار و، هغه په خذف سره ويشتل کول، ابن مغفل رضي الله عنه منع کړو، "وَقَالَ: إنَّ رَسُولَ الله ﷺ نَهَى عَنِ الخَذْفِ" هغه ته يې وويل : رسول الله ﷺ ددې نه منع فرمايلې ده، "وَقَالَ: إنَّهَا لاَ تَصِيدُ صَيداً" او دا يې هم ورته وويل : په دې باندې ښکار نه کېږي، "ثُمَّ عَادَ" هغه رشته دار بيا په خذف سره ويشتل شروع کړل، "فَقَالَ: أُحَدِّثُكَ أنَّ رَسُولَ الله ﷺ نَهَى عَنْهُ، ثُمَّ عُدْتَ تَخْذِفُ!؟" ابن مغفل رضي الله عنه ورته وفرمايل : زه تاته د رسول الله ﷺ حديث بيانوم او ته بيا په خذف سره ويشتل کوې؟ "لاَ أُكَلِّمُكَ أبَداً" زه به ستا سره هيڅکله خبرې ونه کړم

لغوي تحقيق:

الخذف: "خذف خذفاً" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی په کاڼو او شګو باندې ويشتلو ته وايي.

ينکا: "نکأ نکاءً" باب فتح يفتح دی، ددې معنی ده : قتلونه کول، فساد جوړول.

يفقأ: فقأ فقاءً العين" باب فتح يفتح دی، ددې معنی ده: سترګې راويستل

له درې ورځو زيات تعلق قطع کول جائز نه دي:

تشريح : "إنه لايقتل الصيد ولا ينکأ العدو" په دې کاڼو سره نه ښکار کېدلی شي او نه پرې دښمن مرادرولی شي، په يو بل روايت کې دي : "لايقتل الصيد" په ځای (لاتصيد صيدا) لااکلمك ابدا" زه به ستا سره کله هم خبرې ونه کړم، علامه نووي رحمه الله فرمايي : ددې نه معلومه شوه چې بدعتيان، فاسقان، فاجران او د

سنتو له مخالفينو سره تعلق پرې کول جائز دي.

سوال: په يو بل حديث کې دي: "لايحل لمسلم أن يهجر أخاه فوق ثلاث" هيڅ مسلمان ته دا جائزه نه ده چې د خپل مسلمان ورور سره له درې ورځو زيات تعلق پرې کړي، ددې حديث نه معلومات وشو چې تعلق پرې کول لويه ګناه ده؟

جواب: دا دی چې که تعلق پرې کول د دنيوي مقصدونو لپاره وي نو بيا د درې ورځو نه زيات نه وي، لکه د ذکر شوي حديث نه معلومه شوه او که دا تعلق پرې کول د کوم ديني غرض په خاطر وي؛ نو بيا په دې کې د ورځو هيڅ قيد نشته، لکه د تبوک په غزا کې چې هغه درې صحابه کرامو ﷺ سره پوره پنځوس ورځې خبرې بندي وې، دغه شان عائشې ﷺ د عبد الله بن زبير ﷺ سره تر ډېرې موده پورې خبرې بندي کړي وې، دغه شان عبد الله بن عمر ﷺ د خپل زوی بلال سره تعلق قطع کړی ؤ، غرض دا چې که تعلق قطع د ديني اغراضو په خاطر وي؛ نو بيا د درې ورځو نه زيات هم جائز دی.

د راوي عبد الله بن مغفل ﷺ مختصر حالات:

اصل نوم يې عبد الله ﷺ دی، ابو سعيد يې کنيت دی، په شپږمه هجري کې مسلمان شوی وو، په غزوه حديبيه کې يې شرکت کړی دی، په بيعت رضوان کې هم شريک ؤ، خيبر، فتح مکه او تبوک غزا کې يې شرکت کړی ؤ، خپله بهادري يې پکې ښودلې وه، د نبي کريم ﷺ تر ژوند پورې په مدينه منوره کې اوسېدلو، کله چې رسول الله ﷺ ددې فاني نړۍ څخه رخصت شو، نو عمر ﷺ هغه د تعليم لپاره بصرې ته ولېږلو او د مرګ تر اخيري سلګۍ هلته اوسېدلو، د بدعتونو څخه يې سخت نفرت درلود، د هغه زوی دا خبره وکړه چې زما والد صاحب به د بدعتونو څخه سخته کرکه او نفرت کولو.

وفات: په نهه پنځوسمه هجري کې چې کله په بصره کې د مرګ په ناروغۍ اخته شو، نو په آخري وخت يې کې څو وصيتونه وکړل، اول وصيت يې دا ؤ چې د غسل په اوبو کې به کافور راته استعمالوي، بله دا چې په کفن کې به راته د دوه څادرونو او يو کميس څخه زيات نه وي، د غسل په وخت کې به صرف صحابه کرام وي، د جنازې نه مخکې به راته رڼا يې نه جوړوي، ابن زياد چې د مکې والي ؤ، په جنازه کې به شريک نه وي، دا وصيت يې هم کړی ؤ چې زما جنازه به ابو برزه اسلمي ﷺ کوي، لهذا د وفات نه وروسته په دې وصيتونو عمل وشو او په بصره کې دفن کړی شو.

مرويات: درې څلوېښت حديثونه ترې نقل دي، په څلورو کې بخاري رحمه الله او مسلم رحمه الله متفق عليه دي او په يو کې امام بخاري رحمه الله او په يو کې امام مسلم رحمه الله منفرد دی.

په حجر اسود کې نفع او نقصان نشته

"وعن عابس بن ربيعة، قال: رأيت عمر بن الخطاب ﷺ يقبل الحجر- يعني: الأسود" د عابس بن ربيعه رحمه الله نه روايت دی، فرمايي چې ما عمر ﷺ وليد چې حجر اسود يې مچو کولو، "ويقول: إني أعلم أنك حجر ما تنفع ولا تضر" او دا به يې ويل: زه په دې خبره ښه پوهېږم چې ته يو کاڼی يې، نه چاته ضرر رسولی شې او نه

فايده، "وَلَوْلَا أَنِّي رَأَيْتُ رسولَ الله ﷺ يُقَبِّلُكَ مَا قَبَّلْتُكَ" که چيري ما رسول اللهﷺ نه واى ليدلى چې ته يې ښكلولې، نو ما به چيري هم ښكل كړى نه وې. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

يقبل: "قبل تقبيلاً" باب تفعيل دى، ددې معنى ده: ښكلول، مچو اخيستل.

تنفع: "نفع نفعاً" باب فتح يفتح دى، ددې معنى ده: فايده رسول.

تضر: "ضر ضراً" باب نصر ينصر دى، ددې معنى ده: نقصان رسول.

تشريح: "إعلم أنك حجرٌ ما تنفع ولا تضر" عمر رضي الله عنه وفرمايل: ماته پته ده چې ته يو كانړى يې، نه چاته فايده رسولى شې او نه نقصان، په بل روايت كې دي: "إني لأعلم أنك حجر لا تضر ولا تنفع ولولا أمرني ربي أن أقبلك ماقبلتك" ماته علم دى چې ته يو كانړى يې، نه چاته فايده رسولى شې او نه نقصان، كه ماته زما رب د ښكلولو حكم نه واى كړى، نو ما به ته نه واى مچو كړى، همدغه خبره عمر رضي الله عنه وكړه: كله چې د هغه سره څو نوي مسلمان بانډچيان ناست وو، دا يې ښكاره وويل چې هغوى په دې خبره پوه شي چې كانړى نه چاته فايده رسولى شي او نه نقصان، بلكې ددې د ښكلولو مقصد صرف او صرف د رسول الله ﷺ اتباع ده، نبي كريم ﷺ ښكل كړې ده، نو موږ به يې هم ښكلوو او نبي كريم ﷺ ته الله ﷻ فرمايلي دي چې دا كانړى مچو كړه.

ددې نه معلومه شوه چې د رسول الله ﷺ په اتباع كې حكمتونه او علتونه لټول پكار نه دي، كله حكمت په ذهن كې راشي او كله نه، لكه څرنګه چې دلته هم وجه او حكمت زموږ په ذهن كې نه راځي، اصلي مقصد د رسول الله ﷺ اتباع ده، علماوو دا مسئله ليكلې ده چې د حجر اسود نه علاوه بل هيڅ كانړى مچو كول جائز نه دي.

د راوي عابس بن ربيعه رضي الله عنه حالات:

دا په اصل كې تابعي دى، حافظ ابن حجر رحمه الله د مشرانو تابعينو څخه شمار كړى دى، د قبيله نخع سره يې تعلق درلود، په دې وجه ورته نخعي ويل كيږي، د كوفې اوسېدونكى وو، علماوو رحمهم الله په ثقه رجالو كې شمار كړى دى.

باب في وجوب الإنقياد لحكم الله
وما يقوله من دُعِيَ إِلَى ذلِكَ وأُمِرَ بمعروف أَوْ نُهِيَ عن منكر

اولسم باب: د الله ﷻ د حكم اطاعت ضروري دى، څوك چې دې ته راوبلل شي، د ښكو كارونو حكم كوي او د بدو څخه منع كوي؛ نو هغه ته څه ويل پكار دي

"قَالَ اللهُ تَعَالَى: فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّى يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ" الله ﷻ فرمايي: اې پيغمبره ﷺ! دوى به تر هغه

مؤمنان جوړ نه شي چې دوی تا حاکم جوړ نه کړي په هغو خبرو کې چې دوی اختلاف لري، "ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجاً مِمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيماً" او بيا دوی په خپلو زړونو کې هيڅ تنګي محسوسه نه کړي د هغې فيصلې په اړه چې تا ورته بيان کړې وي او هغوی يې په سر سترګو قبوله کړي. [النساء:٦٥]

يادونه: د دې آيت پوره وضاحت په (باب الامر بالمحافظة على السنة وآدا به) کې تېر شوی دی.

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "إِنَّمَا كَانَ قَوْلَ الْمُؤْمِنِينَ إِذَا دُعُوا إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ" کله چې د الله ﷻ او د رسول ﷺ د حکم مطابق مؤمن بنده فيصلې ته راوبلل شي، "أَنْ يَقُولُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ" نو هغه ته داسې جواب پکار دی چې موږ واورېدل او موږ هر قسم حکم ته سر ښکته کوو او تابعدار يو، د دواړو جهانونو کاميابي خو د هم داسې مؤمنانو لپاره ده. [النور:٥١]

تشريح: د "المؤمنين" نه مراد کامل مؤمن دی، د دې آيت مطلب دا دی چې د مسلمانانو کار هم دا دی چې کله دوی د الله ﷻ حکم يا د رسول الله ﷺ طريقې ته راوبلل شي؛ نو دوی به په خوشحالۍ سره خبره واوري او وې مني، دوی وايي: موږ د زړه نه خبره ومنل او وامو اورېده.

سوال: بلنه خو صرف رسول الله ﷺ ته کېږي، الله ﷻ ته يې څنګه نسبت وکړو؟

جواب: د نبي کريم ﷺ فيصله په حقيقت کې د الله ﷻ فيصله ده، د الله ﷻ حکم هم دی، نو څکه نسبت الله ﷻ ته وشو.

د مسلمانانو صفت: سمعنا وأطعنا

"وفيه من الأحاديث: حديث أبي هريرة المذكور في أول الباب قبله وغيره من الأحاديث فيه" په دې اړه حديثونه ډېر زيات دي، د ابوهريره ﷺ يو حديث په مخکې باب کې تېر شوی دی.

"عن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: لَمَّا نَزَلَتْ عَلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ" د ابو هريره ﷺ روايت دی، فرمايي کله چې په رسول الله ﷺ باندې دا آيت نازل شو "لِلَّهِ مَا فِي السَّمَاوَاتِ وَمَا فِي الْأَرْضِ وَإِنْ تُبْدُوا مَا فِي أَنْفُسِكُمْ أَوْ تُخْفُوهُ" خاص الله ﷻ لره دي هغه څه چې په آسمانونو کې دي او هغه څه چې په ځمکه کې دي او کوم څه چې تاسو ظاهروئ او يا يې پټوئ، "يُحَاسِبْكُمْ بِهِ اللَّهُ" د هغې حساب به الله ﷻ ستاسو سره وکړي، "الآية[البقرة:٢٨٤] اشْتَدَّ ذَلِكَ عَلَى أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ ﷺ" دا خبره د رسول الله ﷺ په صحابه کرامو ﷺ باندې ډېره بوج شوه، "فَأَتَوا رَسُولَ اللهِ ﷺ ثُمَّ بَرَكُوا عَلَى الرُّكَبِ، فَقَالُوا: أَيْ رَسُولَ الله" نبي اکرم ﷺ ته راغلل او ډېر ساعت سوچ يې وکړو، بيا يې وويل: اې د الله تعالى رسوله: "كُلِّفْنَا مِنَ الْأَعْمَالِ مَا نُطِيقُ: الصَّلَاةَ وَالْجِهَادَ وَالصِّيَامَ وَالصَّدَقَةَ" موږ ته د دې کارونو حکم شوی دی او موږ به په دې مکلف يو چې د کومو کارونو طاقت په موږ کې شته. لکه لمونځ، روژه، جهاد، صدقه، "وَقَدْ أُنْزِلَتْ عَلَيْكَ هَذِهِ الآيَةُ وَلَا نُطِيقُهَا" نو اوس په تاسو باندې دا آيت نازل شوی دی چې زموږ د طاقت نه بهر دی، "قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: أَتُرِيدُونَ أَنْ تَقُولُوا كَمَا قَالَ أَهْلُ الْكِتَابَيْنِ مِنْ قَبْلِكُمْ: سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا؟" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: ايا تاسو د دې خبرې اراده لرئ چې تاسو هم هغه شان خبره وکړئ کومه چې اهل کتابو کړې ده، ويل يې

"سمعنا وعصينا" يعنې موږ خو واورېدل خو منلی يې نه شو؟ "بَلْ قُولُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ" بلکې تاسو په خواب کې داسې وايې چې "سمعنا" موږ خبره واورېدله "واطعنا" او موږ دې خبرې منلو ته تيار يو او ستا نه بخښنه غواړو، اې ربه! بې شکه ستا طرفته واپس کېدل دي. "فَلَمَّا اقْتَرَأَهَا الْقَوْمُ، وَذَلَّتْ بِهَا أَلْسِنَتُهُمْ أَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى فِي إِثْرِهَا" کله چې صحابه کرامو ﷺ دا آيت وويلو او په ژبو يې قبول کړو، نو د هغې نه پس دا آيت نازل شو، "آمَنَ الرَّسُولُ بِمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِ مِنْ رَبِّهِ وَالْمُؤْمِنُونَ" پېغمبر ﷺ په هغه څه باندې ايمان لري چې په هغه باندې نازل شوي دي او مؤمنان هم پرې ايمان لري، "كُلٌّ آمَنَ بِاللَّهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِنْ رُسُلِهِ" ټول په الله ﷻ باندې ايمان لري، په پرښتو، کتابونو او پېغمبرانو باندې ايمان لري او دوی وايي چې موږ د دوی په منځ کې په هيڅ شي کې فرق نه کوو، (يعنې داسې نه کوو چې په څينو ايمان راوړو او په څينو ايمان نه لرو) "وَقَالُوا سَمِعْنَا وَأَطَعْنَا غُفْرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ" او دوی وايي: موږ د الله ﷻ حکم واورېدو او موږ د الله ﷻ حکم منلو ته تابعدار يو، موږ د خپلو ګناهونو بخښنه د الله ﷻ نه غواړو او اې الله ﷻ! ستا طرفته واپس کېدل دي، [البقرة: ۲۸۵] "فَلَمَّا فَعَلُوا ذَلِكَ نَسَخَهَا اللهُ تَعَالَى" کله چې دوی دا کار وکړو، نو الله ﷻ دا حکم منسوخ کړو، "فَأَنْزَلَ اللهُ ﷻ: لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا" بس الله ﷻ دا آيت نازل کړو چې "لا يكلف الله الخ" ترجمه: او الله ﷻ يو نفس هم نه مکلف کوي مګر د خپل طاقت په اندازه، "لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ" د ښه کار بدله به هم هغه ته رسيږي او د بد کار بدله به هم هغه ته رسيږي، "رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَا إِنْ نَسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا" اې ربه! موږ په هغه کار مه نيسې کوم کار چې زموږ نه په خطاء او يا په هېره وشي، [البقرة: ۲۸۶] "قَالَ: نَعَمْ" الله ﷻ ورته وفرمايل: ښه ده، "رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِنَا" اې زموږ ربه! هغه بوج په موږ باندې مه اچوه کوم بوج چې تا په هغو خلکو باندې اچولی وو چې زموږ نه وړاندې وو، "قَالَ: نَعَمْ" الله ﷻ ورته وفرمايل: ښه ده! "رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِ" اې الله! په موږ باندې دومره بوج مه اچوه د کوم بوج د پورته کولو طاقت چې په موږ کې نه وي، "قَالَ: نَعَمْ" الله ﷻ ورته وفرمايل: ښه ده! "وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا أَنْتَ مَوْلَانَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ" اې الله! موږ ته بخښنه وکړه او ګناهونه مو معاف کړه او اې زموږ مولا! په موږ باندې رحم وکړه، د کافرانو په مقابل کې زموږ مرسته وکړه! "قَالَ: نَعَمْ" الله ﷻ ورته وفرمايل: ښه ده! رواه مسلم.

لغوي تحقيق:

كلفنا: "كلف، تحـ فاً" ددې معنی ده: د کوم مشکل او ګران کار حکم ورکول.

نسخها: "نسخ نسخاً" باب فتح يفتح دی، ددې معنی ده: ختمول، ضايع کول.

ايا په زړه کې په پټو خبرو باندې مؤاخذه شته؟

تشريح: په زړه کې به په پټو خبرو هم حساب کيږي، که څوك په دې باندې اشکال وکړي چې په حديث شريف کې دي : "إن الله تجاوز عن أمتي عما حدثت أنفسها مالم يتكلموا أو يعملوا به" الله ﷻ زما امت ته د فکر خبرو معافي کوي چې د دوی په زړونو کې ځي راځي، تر څو يې چې په خوله ويلې نه وي او يا يې پرې عمل نه وي کړی، ددې ځواب دا دی چې ددې نه هغه وسوسې او غير اختياري سوچونه مراد دي چې د قصد او ارادې څخه بغير په زړونو کې ځي راځي، په قرآن کريم کې چې په کومو خبرو باندې د مواخذې ذکر دی، هغه ارادې او نيتونه دي چې انسان يې په زړه کې کوي، د عمل لپاره هم تدبيرونه کوي، خو د يو خنډ له امله موجود نشي، د قيامت په ورځ به ددې حساب کولی شي، دا ځانته خبره ده چې که الله ﷻ يې درته معاف کړي؛ نو بيا د هغه ذات نه پوښتنې والا څوك دی

"إشتد ذالك علىّ" دا آيت په صحابه کرامو باندې لږ مشکل شو، دوی فکر کولو چې په هره وسوسه او خيال باندې مؤاخذه شته، دوی ته وويل شو : ددې نه هغه فکرونه مراد دي چې قصداً په زړه کې راوړل شي، په دې باندې به درسره حساب کولی شي او کوم چې خپله په زړه او ذهن کې راځي، په دې باندې محاسبه نشته، په دې خبره د صحابه کرامو لږ اطمينان وشو، "لايكلف الله نفساً إلا وسعها" که په غير اختياري خيالاتو باندې مؤاخذه وشي؛ نو بيا خو انسان په مشقت او تکليف کې پريوځي، معلومه شوه چې صرف په هغو خيالونو او سوچونو به مؤاخذه وي چې قصداً په زړه کې راوړل شي او کوم چې بې اختياره په زړه کې راشي، په دې باندې مؤاخذه نشته.

باب في النهي عن البدع ومحدثات الأمور

اتلسم باب: په دين کې د نوي کار پيدا کولو نه منع فرمايل

"قَالَ اللهُ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي : "فَمَاذَا بَعْدَ الْحَقِّ إِلاَّ الضَّلاَلُ" د حق نه وروسته بله لار نشته سېوا د ګمراهۍ څخه. [يونس:٣٢]

تشريح: د آيت په باره کې علماء فرمايي چې دلته سوال انکاري دی، مطلب دا چې د حق نه وروسته د ګمراهۍ څخه بغير بل څه نشته، ددې نه معلومه شوه چې د حق او ګمراهۍ ترمنځ بل څه نشته، که حق نه وي؛ نو ګمراهي واضحه ده، داسې کار نشته چې نه دې حق وي او نه دې ګمراهي وي، خو دا قاعده د فقهاء کرامو رحمهم الله په اجتهادي مسئلو کې نه چليږي، هلته په مخالف جانب باندې د ګمراهۍ فتوی نشي ورکولی او نه ورته ګمراهي ويل کيږي

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي : "مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِن شَيْءٍ" موږ په کتاب (لوح محفوظ) کې هيڅ شی نه دی پرې ايښی. [الأنعام:٣٨]

تشريح: "الكتاب" ددې نه يا لوح محفوظ مراد دی، په دې صورت کې به د آيت مطلب دا شي چې

د الله ﷻ علم په ظاهري او باطني ټولو شيانو دى، هيڅ شى د الله ﷻ د علم څخه بهر نه دى او د ځمکي په مخ داسي يو شى نشته چي د هغي تقدير او اندازه په لوح محفوظ کي نه وي

دويم دا چي که د "الكتاب" نه مراد قرآن مجيد شي او د (من شئ) نه ديني امور مراد شي؛ نو په دي صورت کي به د آيت مطلب دا شي چي په قرآن کريم کي د ديني کارونو پوره تفصيل پروت دى، هغه که اجمالاً وي او که تفصيلاً وي.

سوال : د الله ﷻ علم ازلي او محيط دى، کافي او شافي دى، نو بيا ولي الله ﷻ دا شيان ليکل؟

جواب : بي شکه چي د الله ﷻ علم کافي، شافي او محيط دى، خو د ليکلو په ذريعه قيد کېدل او عامو ذهنونو ته رسول مقصود دى.

"وَقَالَ تَعَالَى" "الله ﷻ فرمايي چي: "فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ" "که تاسو په کومه مسئله کي اختلاف کوئ، نو دا مسئله د الله ﷻ حکم او د رسول الله ﷺ سنت ته راوړاندي کړئ! [النساء:۵۹]

"أَيِ الْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ" ددي نه مراد د الله ﷻ کتاب قرآن کريم او د سنت نه مراد حديثونه دي. "وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي : "وَأَنَّ هَذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا" دغه لار زما سيده لار ده، "فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيلِهِ" "بس په دي لار باندي لاړ شئ او په نورو لارو باندي مه ځئ! کنه نو د نيغي لاري څخه به گمراه شئ!

[الأنعام:۱۵۳]

تشريح: "وأن هذا صراطي مستقيما" په "هذا" کي اسلامي دين ته اشاره ده، يا قرآن کريم ته او يا سورت انعام ته يکي اشاره ده، په اول او دويم صورت کي به د آيت مطلب دا شي چي اسلام يا قرآن سيده لار ده، ددي تابعداري وکړئ او په دريم صورت کي به (هذا) اشاره د سورت انعام معنى ته شي، ځکه چي په دي سورت انعام کي هم الله ﷻ د اسلام پوره اصول، توحيد، رسالت او اصول احکام بيان کړي دي، په دي آيت کي اشاره ده چي په په دي سورت کي کوم مضمون بيان شوى دى بس هغه زما لار ده، ددي اتباع کوئ! "ولا تتبعوا السبل فتفرق بكم عن سبيله" سبل د سبيل جمع ده، يعني الله ﷻ ته د رسيدو او د هغه خوشحالي حاصلولو لاره هم صرف يوه ده، ليکن خلکو د خپلو فکرونو په بنياد نوي نوي لاري خاصي جوړي کړي دي، په دي لارو کي چي په يوه لاره هم مزل ونه کړي، نو گمراه به شي، په يو روايت کي دي چي عبد الله بن مسعود ؓ فرمايي : رسول الله ﷺ يو ځل سيده خط راکش کړو او وې فرمايل. دا سيده لار د الله ﷻ ده، بيا يې ددي نه اخوا دېخوا خطونه راکش کړل او وې فرمايل. دا د شيطان لاري دي، په دي لارو باندي يو يو شيطان مسلط دى چي خلك د الله ﷻ ددي نيغي لاري نه راکاږي او په غلطو لارو يې روانوي، بيا نبي کريم ﷺ هغه پورتنى آيت تلاوت کړو.

"وَقَالَ تَعَالَى" "الله ﷻ فرمايي : "قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي" اې پيغمبره! ورته ووايه! که تاسو د الله ﷻ سره مينه لرئ نو زما تابعداري وکړئ، "يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ" "نو الله ﷻ به ستاسو سره مينه

وکړي او ستاسو ګناهونه به معاف کړي، [آل عمران:٣١] "وَالآيَاتُ فِي الْبَابِ كَثِيرَةٌ مَعْلُومَةٌ" په دې باب کې ډېر زيات ايتونه دي او معلوم هم دي

ددې آيت وضاحت په باب في الأمر بالمحافظة علي السنة وادابها کې تېر

وَأَمَّا الأَحَادِيثُ فَكَثِيرَةٌ جِدًا، وَهِيَ مَشْهُورَةٌ فَنَقْتَصِرُ عَلَى طَرَفٍ مِنْهَا هر چې حديثونه دي نو هغه ډېر او مشهور دي موږ به په يو څو حديثونو باندې اكتفاء وکړو:

په بدعت باندې زورنه / تهديد:

"عن عائشة رَضِيَ اللهُ عنها، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هَذَا" عائشه رضي الله عنها فرمايي چې رسول الله ﷺ فرمايلي: کوم کس چې په دين کې داسې خبره يا کار له ځانه پيدا کړي: "مَا لَيْسَ مِنْهُ" کوم چه خبر يا کار چې په دين کې نه وي، "فَهُوَ رَدٌّ" بس هغه کار يا خبره به مردوده وي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

"وفي رواية لمسلم: مَنْ عَمِلَ عَمَلاً لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا" په مسلم کې دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې داسې عمل کوي چې په هغې باندې زموږ حکم نه وي، "فَهُوَ رَدٌّ" بس دا عمل به رد وي

لغوي تحقيق:

أحدث: "أحدث إحداثاً" ددې معنی ده: نوی شی پيدا کول

رد: ردةً ومرداً ومردوداً" ددې معنی ده: رد شوی شی، يو شی نه خوښول، د شريعت خلاف عمل کول

تشريح: په دې حديث کې د بدعتي کارونو وضاحت شوی چې بد ... څه شی دی؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: د کوم په اره چې موږ امر نه وي کړی، خلک يې له ځانه کوي، دغه بدعت دی، ځان ساتل ترې ضروري دي.

هر شی بدعت نه دی:

ددې حديث په وضاحت کې ابن رجب رحمه الله فرمايي: "كل من أحدث في الدين مالم يأذن به الله ورسوله فليس من الدين في شيء" **ترجمه:** کوم کس چې په دين کې داسې خبره يا کار وکړي چې نه الله ﷻ اجازه ورکړې وي او نه رسول ﷺ د هغه اجازه ورکړې وي، نو د داسې کار هيڅ تعلق د دين سره نشته

يعني هر نوی شی بدعت نه دی، بدعت هغه دی چې په دين کې يې پيدا کړي، ددې وجې په څينو روايتونو کې د (أمرنا) په ځای (ديننا) الفاظ هم نقل دي، حافظ ابن حجر رحمه الله د (أمرنا هذا) تشريح په (والمراد أمر الدين) سره کړې ده.

مطلب دا چې هر کار بدعت نه دی او هر نوی شی مردود نه وي، بلکې مردود شوی شی هغه دی چې په اسلام کې داسې طريقه پيدا کړی شي چې په دين کې نه وي او د دين نه وشمارل شي، دغه شان مولانا خليل احمد سهارنپوري رحمه الله فرمايي د (أمرنا هذا) نه مراد دين دی، په دې حديث کې د بدعت په اره ډېره ښکلې ضابطه بيان شوې ده، که دغه ضابطه موږ مخې ته کېږدو، نو بيا به بدعتونو څخه ډېر په اسانۍ سره بچ شو او کوم بدعتونه چې پيدا وي، د هغې پرېښودل به هم راته آسان شي.

د نبي كريم ﷺ د خطبې په وخت حالت

"وعن جابر ﷺ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ إِذَا خَطَبَ احْمَرَّتْ عَيْنَاهُ" د جابر ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ به كله خطبه لوستل، نو سترګي مباركې به يې سرې شوې، "وَعَلَا صَوْتُهُ" آواز به يې اوچت شو، "وَاشْتَدَّ غَضَبُهُ" او د غوسې اثرات به پرې ښکاره شو، "حَتَّى كَأَنَّهُ مُنْذِرُ جَيْشٍ، يَقُولُ: صَبَّحَكُمْ وَمَسَّاكُمْ، وَيَقُولُ: بُعِثْتُ أَنَا وَالسَّاعَةُ كَهَاتَيْنِ" زه او قيامت داسې نزدې سره راغلي يو، "وَيَقْرِنُ بَيْنَ أُصْبُعَيْهِ السَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى" سبابه ګوته او وسطى ګوته به يې سره نزدې كړل، "وَيَقُولُ: أَمَّا بَعْدُ، فَإِنَّ خَيْرَ الْحَدِيثِ كِتَابُ اللهِ" بيا به يې وفرمايل: امابعد، بې شكه چې بهترينې خبرې د الله ﷻ كتاب قرآن پاك دی "وَخَيْرَ الْهَدْيِ هَدْيُ مُحَمَّدٍ ﷺ" بهترينه هديه د محمد ﷺ هديه ده، "وَشَرَّ الْأُمُورِ مُحْدَثَاتُهَا" په ټولو شرونو كې لوی شر نوی كار پيدا كول دي، "وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ" هر بدعت ګمراهي ده، "ثُمَّ يَقُولُ: أَنَا أَوْلَى بِكُلِّ مُؤْمِنٍ مِنْ نَفْسِهِ" زه هر مومن لره د هغه د نفس او ځان څخه ورته نزدې يم، "مَنْ تَرَكَ مَالًا فَلِأَهْلِهِ، وَمَنْ تَرَكَ دَيْنًا أَوْ ضَيَاعًا فَإِلَيَّ وَعَلَيَّ" كوم كس چې مال پرېږدي هغه يې د خپلو وارثانو لپاره پرېږدي او په كوم كس چې قرض پاتې شي يا يې بچي پاتې شي، نو هغه زما په ذمه او په ما باندې دي، "رواه مسلم، وعن العرباض بن سارية ﷺ حديثه السابق في باب المحافظة على السنة"

لغوي تحقيق:

إحمرت: "إحمر إحمراراً" ددې معنى ده: سور كېدل

علا: "علا علواً" باب نصر ينصر دی، ددې معنى ده: اوچت ځای

جيش: "الجيش" ددې معنى ده: لښكر

تشريح "احمرت عيناه وعلا صوته": د خطبې په وخت به د رسول الله ﷺ سترګي مباركې سرې شوې، آواز به يې تېز شو، په دې وجه علماء فرمايي چې د خطبې په وخت بايد د خطيب آواز لږ اوچت وي او خبرې يې لنډې وي، په خطبه كې بايد داسې انداز وراندې شي چې په خلكو د آخرت شوق او غلبه زياته شي.

قيامت نزدې دی:

"بعثت أنا والساعة كهاتين" زه او قيامت داسې نزدې يو، لكه دا دوه ګوتې، چې يوه د شهادت ګوته ده او بله مينځنۍ ګوته. يعنې لكه څرنګه چې مينځنۍ ګوته معمولي شان غټه وي، نو دغه شان د رسول الله ﷺ نه وروسته قيامت راتلل دومره نزدې دي، ددې تائيد په يو بل حديث سره هم كېږي، "قال بعثت في نفس الساعة فسبقتها كما سبقت هذه هذه وأشاره بأصبعيه السبابة والوسطى" نبي كريم ﷺ وفرمايل: زه د قيامت په شروع كې رالېږل شوی يم، زه د قيامت نه دومره مخكې يم لكه دا مينځنۍ ګوته چې څومره د شهادت له دې ګوتې لرې ده.

دبدعت دوه قسمونه:

"وخیرالهدی هدی محمد ﷺ وشرالأمور محدثاتها وكل بدعة ضلالة" تر ټولو غوره او بهترینه لاره د رسول الله ﷺ لار ده، تر ټولو بد ترینه او خرابه لاره هغه ده چې په دین کې نوې خبرې او نوي کارونه ایجاد شي، هر بدعت ګمراهي ده، د بدعت دوه قسمونه دي: يو بدعت حسنه او بل بدعت سيئه دی.

بدعت حسنه هغه ته ویل کیږي چې د اسلامي اصولو مطابق وي، د قرآن او حدیثو خلاف نه وي، مثلاً مدرسې جوړول وغیره، بدعت سیئه دې ته ویل کیږي چې د بدعت حسنه مخالف وي، یعني کوم کار چې د اسلام د منشاء خلاف او د قرآن او سنت مخالف وي، د داسې بدعت په خلاف ویلی شو چې: "كل بدعة ضلالة".

"ومن ترك دیناً أوضیاعاً فإلیّ وعليّ" کوم کس چې قرض پرېږدي یا بچي ترې پاتې شي؛ نو هغه زما په ذمه داری کې دی، ددې نه معلومه شوه چې که د چا پلار مړ شي او د هغه ماشومان بچي پاتې شي؛ نو ددې بچو تربیه او پالنه به د بیت المال څخه وي

باب فيمن سن سنة حسنة أو سيئة

نولسم باب: د هغه سړي په باره چې کوم ښه یا غلطه طریقه ایجادوي

"قَالَ اللهُ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "وَالَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ" هغه خلك چې دا دعا کوي: اې الله! موږ ته زموږ د ښځو او بچیانو نه د سترګو یخوالی رانصیب کړې، "وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَاماً" او نه موږ د متقیانو لپاره پېشوا وګرځوې [الفرقان:۷۴]

تشریح مخکې د نېکو خلکو صفتونه بیان شول، په دې صفاتو کې یو صفت دا هم دی چې په خپلو دعاګانو کې داسې دعا وکړي چې: اې الله! زموږ اولاد او ښځې زموږ لپاره د سترګو یخوالی وګرځوې، د حسن بصري رحمه الله په نزد د سترګو د یخوالي نه مراد دا دی چې خپل بچې او ښځې د الله ﷻ په عبادت ووینې، بدني صحت یې برقرار وي، په عافیت او خوشحالی کې یې ووینې، ددې نه معلومه شوه چې نېک خلك صرف د خپل ځان اصلاح نه غواړي، بلکې د خپل ځان سره د خپلو بچیانو، ښځو وغیره اصلاح هم غواړي.

"واجعلنا للمتقين إماماً" امام مکحول رحمه الله فرمايي مطلب دا دی چې دوی د ځان لپاره په دعاء کې د داسې تقوی او اوچت مقام سوال د الله ﷻ نه کوي چې په دنیا کې خلکو ته هم زموږ د عمل په ذریعه فایده ورته ورسیږي، ابراهیم نخعي رحمه الله ددې جملې داسې مطلب بیانوي چې متقیان په خپلو دعاګانو کې داسې وايي: اې الله موږ داسې جوړ کړه چې خلك په دین او عمل کې زموږ اقتداء وکړي او زموږ د علم او عمل په ذریعه دوی ته هم فایده ورسیږي، ددې لپاره چې د دوی ثواب موږ ته هم ملاو شي، په دې تشریح سره هغه اشکال له منځه ختم شو چې د خلکو له لوړې په کېدلو، په دې آیت کې چې کومه دعا ذکر ده د هغې غوښتل جائز نه دي، ځکه چې په دې کې د خپل ځان لپاره د اوچتوالي دعا ده او هغه ناجائز ده.

"وَقَالَ تَعَالَىٰ" الله ﷻ فرمايي: "وَجَعَلْنَاهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا" او موږ دوی امامان او پیشواګان وګرځول چې خلکو ته به زموږ په امر سمه لاربنوونه وکړي [الأنبياء:۷۳].

تشریح: دانبیاء علیهم السلام تذکره کېدل، د هغوی په شان کې دا جمله ذکر شوی ده چې ټول انبیاء علیهم السلام موږ د ښکو کارونو لپاره د دعوت او د بدو کارونو څخه د منع کولو لپاره مقتداء او امامان جوړ کړل چې زموږ په هدایت او امر سره به خلکو ته سیده لار ښيي، دوی ته به یې زموږ د دین صحیح منهج او طریقه وربنودل.

د صدقې لپاره د رسول الله ﷺ خطبه

"عن أبي عمرو جرير بن عبد الله ﷺ، قَالَ: كنا في صَدْرِ النَّهارِ عِنْدَ رَسُولِ الله ﷺ فَجَاءَهُ قَوْمٌ عُرَاةٌ مُجْتَابِي النِّمَارِ أَوِ العَبَاءِ، مُتَقَلِّدِي السُّيُوفِ" د جرير بن عبد الله ﷺ نه روایت دی، فرمایي چې موږ د رسول الله ﷺ سره د ورځې په شروع کې ناست وو چې په دې حالت کې داسې خلك راغلل چې د ضرورت جامې یې اغوستې وې، نور لوڅ وو، د څانونو څخه یې څادرونه یا چپنې تاو کړي وو، توري یې رازوړندې کړي وې، "عَامَّتُهُمْ من مضر بَلْ كُلُّهُمْ مِنْ مُضَرَ" ډېر زیات پکې د مضر قبیلې والا وو، بلکې ټول د مضر قبیلې خلك وو، "فَتَمَعَّرَ رَسُولُ الله ﷺ لِمَا رَأَى بِهِمْ مِنَ الفَاقَةِ" د رسول الله ﷺ رنګ مبارك بدل شو او په دې باندې پرېشانه شو چې هغوی لوږې راخيستي وو، "فَدَخَلَ ثُمَّ خَرَجَ، فَأَمَرَ بِلالاً فَأَذَّنَ وَأَقَامَ، فَصَلَّى ثُمَّ خَطَبَ" نبي اکرم ﷺ خپل کور ته داخل شو، بیا راووتلو، بلال ﷺ ته یې حکم وکړو چې اذان وکړي، بلال ﷺ اذان وکړو، بیا یې اقامت وکړو او جمع یې وکړه، بیا یې خطبه وویل، "فَقَالَ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ نَفْسٍ وَاحِدَةٍ" إِلَى آخرِ الآيَة... بیا یې په خطبه کې دا آیت ولوستلو، **ترجمه**: اې خلکو! د خپل رب نه ووېرېږئ هغه رب چې تاسو یې د یو نفس څخه پیدا کړي یئ چې هغه آدم علیه السلام دی تردې چې دا برخه یې ولوسته، "إِنَّ اللهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيباً" بې شکه الله ﷻ په تاسو باندې نګهبان دی، "وَالآيَةَ الأُخْرَى التي في آخر الحَشْرِ" او د سورت حشر آخريني آيت یې هم ولوستلو، "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللهَ وَلْتَنْظُرْ نَفْسٌ مَا قَدَّمَتْ لِغَدٍ" خبردار! اې هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی، د الله ﷻ نه ووېرېږئ او هر سړی دې د خپل ځان سره سوچ وکړي د هغه عمل په باره کې چې سبا ورځ د قیامت لپاره یې وړاندې کوي، "تَصَدَّقَ رَجُلٌ مِنْ دِينَارِهِ، مِنْ دِرْهَمِهِ، مِنْ ثَوْبِهِ، مِنْ صَاعِ بُرِّهِ، مِنْ صَاعِ تَمْرِهِ" نو ځینو کسانو دینار صدقه کړل، ځینو نورو درهم، ځینو جامې، ځینو یوه پیمانه غنم او ځینو د خورما یوه پیمانه صدقه کړه، "حَتَّى قَالَ - وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ" تردې چې نبي اکرم ﷺ وفرمایل. صدقه وکړئ اګر چې د خورما یوه ټوټه هم وي، "فَجَاءَ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ بِصُرَّةٍ كَادَتْ كَفُّهُ تَعْجَزُ عَنْهَا" نو انصاري صحابي ﷺ راغلو او د ځان سره یې دومره ډکه خلته/ توکری راوړه چې د درونډوالي له وجې یې لاسونه ستړي شوي وو، نزدې وه چې د لاس نه یې غورځېدلې وی، "بَلْ قَدْ عَجَزَتْ" بلکې لاسونه یې د پورته کېدو څخه عاجزه شول، تردې پورې چې خلته یې نه شوه پورته کولی، "ثُمَّ تَتَابَعَ النَّاسُ حَتَّى رَأَيْتُ كَوْمَيْنِ مِنْ طَعَامٍ وَثِيَابٍ" ددې نه وروسته خلك د یو بل پسې راتلل او د خپل طاقت او وس مطابق یې صدقه کول، تردې چې ما ولیدل چې د صدقې:

خوراك او كپړو نه پوره دوه ډېري جوړې شول، "حَتّٰى رَأَيْتُ وَجْهَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ يَتَهَلَّلُ كَأَنَّهُ مُذْهَبَةٌ" تردې چې ما د رسول الله ﷺ مخ مبارك وليدو چې د سرو زرو په شان پرقېدو، "فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ مَنْ سَنَّ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةً حَسَنَةً فَلَهُ أَجْرُهَا، وَأَجْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا بَعْدَهُ" نبي اكرم ﷺ وفرمايل: كوم كس چې په اسلام كې د نېكۍ او د ښه كار يوه طريقه جاري كړي؛ نو هغه ته به يې هم اجر وي او دومره اجر به ورسره نور هم وي، كوم خلك چې په دې طريقه عمل كوي، "مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أُجُوْرِهِمْ شَيْءٌ" د هغوى په اجرونو كې به هيڅ قسم كمى نه راځي. "وَمَنْ سَنَّ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةً سَيِّئَةً كَانَ عَلَيْهِ وِزْرُهَا، وَوِزْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ بَعْدِهِ" او كوم كس چې په اسلام كې يوه بده طرقه جاري كړي؛ نو په هغه باندې به يې هم وبال وي او د هغو خلكو د ګناه وبال به هم ورباندې وي چې نور خلك په دې بده طريقه باندې عمل كوي، "مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أَوْزَارِهِمْ شَيْءٌ" بې له دې چې كوم خلك په دې بده طريقه باندې عمل كوي، د هغوى له ګناه څخه به هيڅ شى كم نه شي. رواه مسلم.

"قَوْلُهُ: مُجْتَابِي النِّمَارِ: هُوَ بِالْجِيْمِ وَبَعْدَ الْأَلِفِ بَاءٌ مُوَحَّدَةٌ، وَالنِّمَارُ جَمْعُ نَمِرَةٍ وَهِيَ كِسَاءٌ مِنْ صُوْفٍ مُخَطَّطٌ" دا قول چې (مجتابي النمار) په جيم سره او وروسته ترې "الف" او "ب" موحده سره لوستل كيږي، دا جمع د "نمرة" ده دا هغه څادر ته وايي چې د ګډې/ مېږې له وړيو څخه جوړ وي او خطونه پكې وي، "وَمَعْنٰى: مُجْتَابِيْهَا، أَيْ: لَابِسِيْهَا قَدْ خَرَقُوْهَا فِيْ رُؤُوْسِهِمْ" اغوستل شوى هغه څادر چې د سر له طرفه شلېدلى وي، "وَالْجَوْبُ: الْقَطْعُ، وَمِنْهُ قَوْلُهُ تَعَالٰى: وَثَمُوْدَ الَّذِيْنَ جَابُوا الصَّخْرَ بِالْوَادِ" او د "جوب" معنى ده پرې كړي او شلېدلي، "أَيْ نَحَتُوْهُ وَقَطَعُوْهُ" د ناوو د كاڼو نه تېر شول او لاره يې پرې كړه، "وَقَوْلُهُ: تَمَعَّرَ: هُوَ بِالْعَيْنِ الْمُهْمَلَةِ: أَيْ تَغَيَّرَ" دا قول چې "تمعر" معنى د تغير ده، يعني تغير او تبديلي پكې راغله. "وَقَوْلُهُ: رَأَيْتُ كَوْمَيْنِ: بِفَتْحِ الْكَافِ وَضَمِّهَا: أَيْ صُبْرَتَيْنِ" دا قول چې "رايت كومين" په فتح د كاف او ضمې سره ويلى شي، معنى يې ده ډېرې. "وَقَوْلُهُ: كَأَنَّهُ مُذْهَبَةٌ: هُوَ بِالذَّالِ الْمُعْجَمَةِ وَفَتْحِ الْهَاءِ وَالْبَاءِ الْمُوَحَّدَةِ قَالَهُ الْقَاضِيْ عِيَاضٌ وَغَيْرُهُ وَصَحَّفَهُ بَعْضُهُمْ، فَقَالَ: مُدْهُنَةٌ: بِدَالٍ مُهْمَلَةٍ وَضَمِّ الْهَاءِ وَبِالنُّوْنِ وَكَذَا ضَبَطَهُ الْحُمَيْدِيُّ. وَالصَّحِيْحُ الْمَشْهُوْرُ هُوَ الْأَوَّلُ. وَالْمُرَادُ بِهِ عَلَى الْوَجْهَيْنِ: الصَّفَاءُ وَالْاِسْتِنَارَةُ" او دا قول چې "مذهبة" د قاضي عياض رحمه الله نه نقل دي چې دا لفظ "مدهنة" دى او حميدي رحمه الله دا په همدې طريقه ليكلى دى. صحيح او مشهور روايت اولنى دى، د دواړو معنى يوه ده: يعني صفا او ځلېدونكى

لغوي تحقيق:

مجتابي: "اجتاب، اجتياباً" باب افتعال دى. "الصخرة" د كاڼي تراشلو ته ويل كيږي، القميص، كميس/ لباس

العباء: "العباء" چوغې ته ويل كيږي.

فتمعر: "تمعر تمعراً" باب تفعل دى، ددې معنى ده: د غوسې له امله د مخ هيئت بدلېدل

كومين: "كوم تكويماً المتاع" باب تفعيل دى، يو لوى ډېرى.

تشريح "كَانِّى صدر النهار" د ورځې په شروع كې، صدر د ورځې شروع ته وايي، "فَاَذَّنَ وَاَقَامَ" ددې نه

د ماښپښين لمونځ مراد دی، "ثم خطب" بيا يې خطبه ولوستل، علماوو ليکلي دي چې کله کومه اهمه يا معامله وي؛ نو خطيب ته پکار ده چې خلکو ته ددې په باره کې ترغيب ورکړي، لکه څرنګه چې رسول الله ﷺ وکړل

صحابه کرامو ﷺ به په خپلو ځانونو نورو ته ترجيح ورکول:

"تصدق رجل من ديناره" يو کس په دينار او درهم سره صدقه ورکړه، صحابه کرامو ﷺ ته به چې کله هم ترغيب ورکړل شو، نو هغوی به سمدستي آماده شول، اګر چې عموماً د هغوی سره څه په لاسونو کې نه وو، په خپلو ځانونو به يې نورو ته ترجيح ورکول، ددې خبرې شاهدي قرآن کريم ورکړې ده.

کوم کس چې په اسلام کې ښه طريقه جاري کړي د هغې اجر به ورته ملاويږي:

"من سن في الاسلام سنة حسنة فله أجرها" کوم کس چې په اسلام کې ښه طريقه جاري کړي، هغه ته به د خپل عمل اجر ملاويږي او د هغو خلکو اجر به هم الله ﷻ ورکوي چې ددې نه وروسته په دې لاره ځي او عمل پرې کوي، بيا يې مخکې ووېل: کوم خلك ورپسې روان وي او په دې لاره عمل کوي؛ نو د دوی په اجر کې به هم هيڅ کمی نه راځي، په دې وجه علماء فرمايي چې اطاعت او تابعداري کوونکي خلکو ته کوم اجر ملاويږي هغه به د ښك او صالح عمل کولو په وجه وي او کوم کس چې ښک کار ته خلك رابولي، نو هغه ته به د دعوت ورکولو په وجه اجر ملاويږي، دغه شان د ګناه حال هم دی چې کوونکي ته به يې سزا ملاويږي او دعوت ورکوونکي ته به يې هم سزا ورکولی شي.

يوه ضروري تنبيه:

دلته د سنت جاري کولو په باره کې د محققينو علماوو په نزد په دې حديث کې د حسنه قيد دی يعني هغه طريقه چې په شريعت کې دلالةً يا اشارةً موجوده وي او يا په ادله اربعه کې د کوم دليل لاندې وي، دا هيڅکله مراد نه دی چې د خپل ځان له طرفه دې کومه طريقه جاري کړي، دې ته بيا بدعت ويل کيږي او بدعت حرام دی، خينو نورو علماوو ليکلي دي چې د سنت نه هغه سنت مراد دی چې د رسول الله ﷺ يا د خلفاء راشدينو وي او هغه په خلکو کې متروك العمل وي، نو دې متروك العمل طريقو ته خلك دعوت کول او خپله هم پرې عمل کوي

د راوي ابو عمر جرير بن عبد الله ﷺ مختصر حالات:

اصل نوم يې جرير ﷺ دی، ابو عمر يې کنيت دی، جرير د يمن د شاهي کورنۍ سره تعلق درلود، د بجليه قبيلې سردار ؤ، په دې وجه هغه ته بجلي ويل کيږي، علامه واقدي ﷫ فرمايي په لسمه هجري کې د روژې په مياشت کې په اسلام مشرف شو، د حجة الوداع په موقع د رسول الله ﷺ سره وو، کله چې هغه د اسلام قبلولو لپاره حاضر شو، نو رسول الله ﷺ هغه ته خپل څادر خپور کړو، عثمان ﷺ هغه د همدان علاقې والي جوړ کړو، عمر ﷺ به د هغه په باره کې فرمايل الله ﷻ دې پرې رحم وکړي، دوی د جاهليت په زمانه کې هم ښه وو او د اسلام په زمانه کې هم ښه مشر دی

وفات: په اصل کې د يمن اوسېدونکی و، بيا کوفې ته لاړو، بيا يې په قيبا کې اقامت اختيار کړو، بيا په څلور پنځوسمه هجري کې همدلته وفات شو.

مرويات: د هغه څخه سل حديثونه روايت شوي دي، په اتو / ۸ کې بخاري رحمه الله او مسلم رحمه الله متفق عليه دي، په يو کې بخاري رحمه الله منفرد دی او په اوه / ۷ کې امام مسلم رحمه الله منفرد دی.

د هر مړي / قتل ګناه قابيل ته رسيږي

"وعن ابن مسعود رضي الله عنه: أن النبيّ ﷺ، قَالَ: لَيْسَ مِنْ نَفْسٍ تُقْتَلُ ظُلْماً" د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: داسې کس نشته چې په ظلم ووژل شي، "إلاَّ كَانَ عَلَى ابْنِ آدَمَ الأَوَّلِ كِفْلٌ مِنْ دَمِهَا" مګر دا چې د آدم عليه السلام د اولني زوی قابيل حصه به په دې قتل کې وي، "لأَنَّهُ كَانَ أَوَّلَ مَنْ سَنَّ الْقَتْلَ" او دا ځکه چې هغه ددې قتل بنياد ايښی دی. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ.

لغوي تحقيق:

کفل: "کفل کفلاً وکفولاً" باب نصر ينصر، ضرب يضرب، سمع يسمع، کرم يکرم ټولو څخه راځي، ددې معنی ده: د کوم سړي يا مال ضامن کېدل.

کوم کس چې مړ کړل شي:

تشريح: "إلاکان على ابن آدم الاول من دمها" مګر دا چې د آدم عليه السلام په اولني زوی (قابيل) باندې به ددې قتل پوره وبال وي، ددې واقعه په قرآن کريم کې په داسې الفاظو سره بيان شوې ده، "واتل عليهم نبأ ابنى آدم بالحق إذقربا قرباناً فتقبل من أحدهما ولم يتقبل من الآخر قال لأقتلنك قال إنما يتقبل الله من المتقين" دا حديث ددې نه وړاندينې حديث لپاره ضابطه او مثال دی، علامه نووي رحمه الله فرمايي: کوم کس چې غلط کار شروع کړي؛ نو هغه ته ددې عمل ګناه هم رسيږي او کوم خلك چې ددې نه وروسته په دې غلطه لار باندې مزل کوي، د دوی د ګناه بيتی به هم دده په سر وي، دا سلسله به تر قيامته پورې جاري وي، په دې حديث کې دې طرفته اشاره ده چې انسان ته پکار ده داسې غلط ګام وانخلي چې د شريعت مخالف وي، ځکه چې ددې نه وروسته به هم خلك د هغه پسې روان وي او دا دومره ستره ګناه ده چې تر قيامته پورې څوک په دې غلطه لار روان وي؛ نو ددې ګناه وبال به هم دده په سره وي، لکه څرنګه چې ددې نه وړاندې حديث کې تېر شو چې کوم سړی د يو نېك عمل بنياد کيږدي، نو هغه ته به هم اجر ملاوېږي او دده نه وروسته چې کوم خلك د هغه پسې په دې لار روان وي او عمل پرې کوي؛ نو د دوی اجر به هم ورته الله جل جلاله ورکوي.

باب في الدلالة على خير والدعاء إلى هدى أو ضلالة

شلم باب: نيک کار يا بد کار ته خلک رابلل

"قَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "وَادْعُ إِلَىٰ رَبِّكَ" خلك د خپل رب طرفته راوبله. [القصص:۸۷]

تشريح: په دې آيت کې خاص رسول الله ﷺ ته خطاب دی چې د الله ﷻ توحيد، معرفت او عبادت ته خلك راوبله، ځينې مفسرين وايي: که خلك ستا خبره مني او که يې نه مني، ته خپل دعوت کوه، "سواء عليهم ءانذرتهم أم لم تنذرهم لا يؤمنون" بې شکه کوم خلك کافران چې ته هغوی وېروې او که يې نه وېروې، دوی ايمان نه راوړي.

په دې آيت کې الله ﷻ د ازلي کفارو لپاره نصيحت کول يا نه کول دواړه برابر ښودلي دي، د نکر مقام دی چې: د (عليهم) قيد يې په دې وجه ولګولو چې دې طرفته اشاره وشي چې د کفارو په حق کې دا خبره برابره ده که تبليغ ورته وشي او که ونه شي، هغوی ايمان نه راوړي، باقي ستاسو اجر هغه به درته په تبليغ خامخا ملاوېږي.

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "ادْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ" خلك خپل رب ته په حکمت او ښکلي بيان سره راوبله؛ [النحل:۱۲۵]

تشريح: "أدع إلى سبيل ربك" د (أدع) معنی بلنه ده، دعوت د ټولو انبياوو اجتماعي فريضه ده، بيا د ختم نبوت په برکت سره د رسول الله ﷺ په ټول امت باندې دعوت الی الله فرض شو، د "بالحكمة" لفظ ګڼ شمېر معناګانې شوي دي، خو علامه آلوسي رحمه الله د حکمت تفسير داسې کړی دی: "إنها الكلام الصواب الواقع من النفس أجمل موقع" يعني حکمت هغه سمه خبره ده چې په زړه کې ځای ونيسي، ځينو مفسرينو د حکمت نه قرآن، ځينو ترې حديث او ځينو ترې نوره فقه او ځينو نبوت مراد کړی دی.

"الموعظة" وعظ په لغت کې د خير هغې خبرې ته وايي چې د مخاطب په زړه کې ځای ونيسي، ددې سره د قبلولو ثوابونه او د نه قبلولو عذابونه هم بيان کړي، "الحسنة" په نصيحت کې بايد داسې طريقه اختيار کړی شي چې د مخاطب زړه ورسره مطمئن شي، مخاطب په دې باندې پوه شي چې دا واعظ صرف او صرف زما خير غواړي، بل هيڅ مقصد يې نشته، د خير خبره بايد په داسې طريقه وشي چې مخاطب پکې سپک نه شي يا د هغه په زړه کې څه غم او غوسه پيدا نه شي.

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ" او د يو بل سره په نېکو کارونو کې مدد کوئ؛ [المائدة:۲]

تشريح: "البر والتقوى" د "البر او تقوی" ګڼ شمېر معناګانې شوي دي، دلته "فعل الخيرات" يعني نېک عملونه مراد دي، تقوی دې ته وايي چې "ترك المنكرات" يعني د يو بل سره په نېکو عملونو کې مرسته وکړي او د بدو کارونو څخه په منع کې کې د يو بل مرسته وکړي، همدغه مضمون په يو بل

روايت کې دی: "الدال على الخير كفاعله" د نېك عمل لارښود ته به هم هغه ثواب ملاوېږي څومره چې يې کوونکي ته ملاوېږي، دغه شان په يو بل روايت کې دي: کوم کس چې خلکو ته د هدايت او نيکۍ دعوت ورکوي، نو څومره خلك چې دده په دعوت عمل وکړي، د دوی ټولو برابر ثواب به دغه داعي ته ورکولی شي او د هغو خلکو په نېکو عملونو کې به هم هيڅ کمی نه راځي، علامه ماوردي رحمه الله فرمايي: د تقوی په ذريعه انسان د الله ﷻ رضا او خوشحالي ګټلی شي.

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ" په تاسو کې داسې يوه ډله خامخا شته چې خلك به نېکو کارونو ته رابولي. [آل عمران:۱۰۴].

تشريح په دې آيت سره الله ﷻ د امر بالمروف او نهي عن المنكر لويه ذمه واري د نبي کريم ﷺ د امت په غاړه اېښې ده، په نورو امتونو باندې د نبي کريم ﷺ د امت د فضيلت فريضه همدا بنودل شوې ده، ددې دعوې د ثبوت لپاره ګڼ شمېر روايات موجود دي، لکه به يدعون إلى الخير به ددې امت عام شعار او د ژوند مقصد هم دغه دی چې دوی به خلك خير ته رابولي، د خير تفسير خپله د رسول الله ﷺ نه "الخير هو اتباع القرآن وسنتي" الفاظو سره منقول دی، د خير جامع تعريف ددې نه زيات بل نه شي کېدی، نبي کريم ﷺ وفرمايل: د خير نه مراد قرآن شريف او زما د سنتو اتباع ده، "يدعون" د فعل مضارع صيغه ده، ددې معنی ده: پرلپسې، يعنې دا جماعت به مسلسل په خپله وظيفه کې مصروف وي، په دې کې به ذره برابر سستي نه کوي.

علامه ابن کثير رحمه الله فرمايي: أمر بالمعروف او نهي عن المنكر خو فرداً فرداً هم ضروري دی، ليکن ددې به يو خاص جماعت هم وي، لکه څرنګه چې د نورو ايتونو او حديثونو څخه ددې ثبوت شته، لکه په يو حديث کې چې راغلي دي: کوم کس چې په تاسو کې د ګناه کار ووينې؛ نو که وس يې وي بايد په لاس سره يې منع کړي، که په لاس يې وس نه رسيږي، بايد په بيان او نصيحت يې منع کړي او که په دې هم کار نه کيږي؛ نو بيا دې په زړه کې ورسره بد وګڼي او که دا کيفيت هم نه وي بيا خو ذره برابر ايمان نشته، معلومه شوه چې دعوت إلى الله دوه درجې لري:

(۱) کفار د خير طرفته رابلل، يعنې اسلام ته يې دعوت کول، مسلمانان بايد فرداً او دا جماعت خصوصاً د دنيا ټولو کفارو ته په ژبه او په عمل سره د اسلام دعوت ورکړي.

(۲) دويمه درجه خپله د مسلمانانو په مينځ کې يو بل ته د خير او د نېکۍ دعوت ورکول دي، صحابه کرامو دعوت إلى الخير او امر بالمعروف - نهي عن المنكر لوی مقصد په ټوله نړۍ خپور کړو، د روم او ايران لويه بادشاهي يې ړنګه کړل او دوی ته يې د اسلام ښکلي او پاکيزه اخلاقي تعليماتو درس ورکړو، دوی ته يې وښودل چې پادشاهي څنګه کيږي، ژوند څنګه تېرولی شي، انسان د انسانانو ژوند وکړي او څه ځناور دي د څرو او ځناور ژوند وکړي

نيکۍ ته بلونکي ته به هم اجر ملاويږي:

"وعن أبي مسعود عُقبةَ بن عمرو الأنصاري البدري ﷺ، قَالَ: قَالَ رسولُ الله ﷺ" د ابو مسعود عقبه بن عمرو انصاري بدري ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "مَنْ دَلَّ عَلَى خَيْرٍ فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِ فَاعِلِهِ" کوم کس چې په نېك کار باندې خبرتيا ورکړي او امر پرې وکړي، هغه ته به دومره اجر ملاويږي څومره چې ددې کار کوونکي ته ملاويږي. رواه مسلم.

لغوي تحقيق:

دل: "دل دلالةً ودلولةً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: لارښودنه

تشريح لکه څرنګه چې د قرآن کريم شان نزول وي دغه شان د احاديثو شان ورود وي، په کوم خاص وخت او واقعه کې چې رسول الله ﷺ ارشاد فرمايلی وي، دغه ته شان ورود ويل کيږي. لکه يو صحابي ﷺ راغلو او د رسول الله ﷺ نه يې د سفر لپاره اس وغوښتلو، رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: زما سره سورلۍ نشته، بل کس ورته ووېل: زه به درته يو کس وښيم چې تاته سورلۍ درکړي، په دې خبره باندې رسول الله ﷺ دغه ارشاد وفرمايلو.

په دې حديث کې د الله ﷻ له طرفه د ډېر ستر انعام ورکولو بيان دی، که خپله کار نه شي کولی خو نورو ته ددې دعوت ورکوي او نور خلك په دې نېک عمل باندې تيزوي، مثلاً خپله نادارده وي، مال ورسره نه وي، خو نورو خلکو ته د صدقې او زکات ورکولو ترغيب ورکړي، فضيلت يې ورته بيان کړي، هغوی د خپلو مالونو څخه صدقې او زکاتونه وباسي؛ نو دغه واعظ ته به پوره اجر ملاويږي؛ يو کس خپله روژه نه شي نيولی، حج نه شي کولی، جهاد نه شي کولی، غرض دا چې کوم کار خپله نه شي کولی، شرعي عذر يې مخې ته پروت وي، خو نورو خلکو ته ددې ترغيب ورکوي، نو د هغوی سره سره به هغه هم په دې اجر کې شريك وي.

نيکۍ يا بد عمل ته رابلونکي ته هم اجر يا سزا ملاويږي

"وعن أبي هريرة ﷺ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ، قَالَ: مَنْ دَعَا إِلَى هُدًى" د ابو هريره ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې خلک ته د هدايت په طرف دعوت ورکوي، "كَانَ لَهُ مِنَ الأَجْرِ مِثْلُ أُجُورِ مَنْ تَبِعَهُ" هغه ته به دومره اجر ورکول شي څومره چې دده په دعوت نېک کار طرفته راغلي وي، "لاَ يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْئاً" ددې خلکو په نېکيو کې به هيڅ کمی نه کيږي، "وَمَنْ دَعَا إِلَى ضَلاَلَةٍ، كَانَ عَلَيْهِ مِنَ الإِثْمِ مِثْلُ آثَامِ مَنْ تَبِعَهُ" او کوم کس چې خلك د ګمراهۍ طرفته دعوت کوي، دومره ګناه به دده هم وي څومره چې په دې ګمراهۍ باندې خلك عمل کوي، "لاَ يَنْقُصُ ذَلِكَ مِنْ آثَامِهِمْ شَيْئاً" او ددې خلکو په ګناه کې به هم هيڅ کمی نه راځي. رواه مسلم.

لغوي تحقيق:

تبعه: "تبع تبعاً" باب سمع يسمع دی، ددې معنی ده په چا پسې تلل، تابعداري کول.
ضلالة: "ضل ضلالاً وضلالةً" باب سمع يسمع دی، ددې معنی د دين څخه اوښتل، سيده لار پرېښودل.

د (هدی) نه مراد د رسول الله ﷺ سنت دي:

"قال من دعا إلى هدیً" کوم کس چې د هدايت په طرف دعوت چلوي، د (هدی) نه مراد د رسول الله ﷺ سنت طريقې دي، ددې وضاحت په بل روايت کې داسې دی: "من أحيا سنة من سنتي قد أميتت بعدي" کوم کس چې زما سنت طريقه داسې ژوندی کړي چې هغه مړه وي، دغه ډول په يو بل روايت کې دي: داسې "من استن خيراً" کوم کس چې د هدايت په سمه لار روان شي، ددې ټولو حديثونو نه معلومه شوه چې کوم کس داسې طريقې ته دعوت ورکړي چې د رسول الله ﷺ نه منقول وي، نو کوونکي ته به يې هم اجر ملاوېږي او دعوت ورکوونکي ته به هم اجر ملاوېږي.

دغه شان په قرآن کريم کې هم د الله ﷻ ارشاد دی: "وهل جزآء الإحسان إلا الإحسان" دغه شان که يو کس د ګناه باعث جوړ شي او ګناه ته دعوت ورکوي؛ نو دی به په ګناه کې پوره شريك وي، اګر چې خپله يې نه کوي، ځکه چې ددې ګناه باعث جوړ شو، لکه څرنګه چې په يو اثر کې دا خبره شته: "الدال على الشر کفاعله" بد کار ته دعوت کوونکی داسې دی لکه خپله يې چې کړی وي او په قرآن کې د الله ﷻ ارشاد دی: "وجزآءُ سيئةٍ سيئةٌ مثلها".

د خيبر په غزا کې د علي رضي الله عنه اعزاز

"وعن أبي العباس سهل بن سعد الساعدي رضي الله عنه: أنَّ رسولَ الله ﷺ، قال يوم خيبر" د ابو العباس سهل بن سعد ساعدي رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "لأُعطينَّ الرَّايةَ غداً رجلاً يَفتحُ اللهُ على يديه" زه به خامخا دا بيرغ سهار هغه کس ته ورکوم چې په لاس به يې الله ﷻ د خيبر قلعه فتح کوي. "يُحبُّ اللهَ ورسولَهُ، ويُحبُّهُ اللهُ ورسولُهُ" دی د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ سره مينه کوي او الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ دده سره مينه کوي، "فباتَ النَّاسُ يَدُوكونَ ليلتَهُم أيُّهُم يُعطاها" بس ټولو خلکو په دې سوچ شپه تېره کړه چې په موږ کې به کوم يو ته بيرغ ورکوي، "فلمَّا أصبحَ النَّاسُ غَدوا على رسولِ الله ﷺ كلُّهُم يَرجُونَ أن يُعطاها" کله چې سهار شو؛ نو خلك سهار وختي رسول الله ﷺ ته راغلل، هر کس دا اميد ساتلو چې ماته به بيرغ راکوي، "فقال: أينَ عليُّ ابنُ أبي طالب؟ فقيلَ: يا رسولَ الله، هُوَ يشتكي عينيه" نبي اکرم ﷺ وفرمايل علي رضي الله عنه بن ابي طالب چېرته دی؟ خلکو ورته وويل: د هغه سترګې درد کوي، "قال: فأرسِلوا إليه، فأُتيَ به فبصقَ رسولُ الله ﷺ في عينيه" علي رضي الله عنه ته يو کس واستول شو، هغه راوستل شو، نبي اکرم ﷺ خپلې لاړې مبارکې د علي رضي الله عنه په سترګو کې واچولې، "ودعا لهُ فبرئَ حتَّى كأن لم يكُن بهِ وجعٌ" هغه ته يې دعاء وکړه، هغه سمدستي صحيح شو، لکه

بلکل چې پرې هيڅ قسم درد او تکليف نه وي راغلی، "فَأَعْطَاهُ الرَّايَةَ. فَقَالَ عَلِيٌّ ؓ: يَارَسُولَ اللهِ، أُقَاتِلُهُمْ حَتَّى يَكُونُوا مِثْلَنَا؟" نبي اکرم ﷺ هغه ته بيرغ ورکړو، علي ؓ ورته وويل: اې د الله تعالى رسوله! ايا د دوی سره تر هغه پورې جهاد وکړم چې تر څو زموږ په څېر شوي نه وي؟ "فَقَالَ: انْفُذْ عَلَى رِسْلِكَ حَتَّى تَنْزِلَ بِسَاحَتِهِمْ، ثُمَّ ادْعُهُمْ إِلَى الْإِسْلَامِ" نبي اکرم ﷺ ورته وفرمايل: ته سيده د جنګ ميدان ته لاړ شه! تر دې چې کله هلته ورسېږې نو بيا دوی ته د اسلام دعوت ورکړه! "وَأَخْبِرْهُمْ بِمَا يَجِبُ عَلَيْهِمْ مِنْ حَقِّ اللهِ تَعَالَى فِيهِ" بيا دوی ته خبر ورکړه چې په دوی باندې کوم حقونه د الله ﷻ له لورې واجب شوي دي، "فَوَاللهِ لَأَنْ يَهْدِيَ اللهُ بِكَ رَجُلًا وَاحِدًا خَيْرٌ لَكَ مِنْ حُمْرِ النَّعَمِ" قسم په الله ﷻ که ستا په ذريعه يو کس ته هدايت وشي، دا به د سرو اوښانو څخه ډېره غوره وي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

"قوله: يَدُوكُونَ: أي يَخُوضُونَ وَيَتَحَدَّثُونَ" دا قول چې (يدوكون) معنى دا خلېدل، په يوه خبره کې پرې بحث او سوچ کول، "وقوله: رِسْلِكَ: بكسر الراءِ وبفتحها لغتانِ، والكسر أفصح" او دا قول چې رسلك په کسرې د (ر) سره هم دی او په فتح سره هم دی، خو کسره فصيح لغت دی

لغوي تحقيق:

بات: "بات بيتاً وبياتاً وبيتوتاً" باب ضرب يضرب او سمع يسمع دواړو څخه دی، ددې معنى ده: کوم ځای شپه تېرول.

يشتكي: "اشتكى، إشتكاءً" باب افتعال دی، ددې معنى ده: ناروغه کېدل، درد او تکليف.

يدوكون: "داك، دوكاً ومداكاً" باب نصر ينصر دی، ددې معنى ده: مضطرب کېدل.

بصق: "بصق بصقاً" باب نصر ينصر دی، ددې معنى ده: لاړې توکول.

تشريح: "يوم خيبر" د خيبر د ورځې نه مراد (يوم من أيام خيبر) د خيبر په ورځو کې يوه ورځ ده، عرب مختصر صرف داسې وايي: د خيبر ورځ، د خيبر جهاد په ۷ هجري کې شوی ؤ، خيبر د يهودو کلی وو.

"لأعطين هذه الراية غداً" دا بيرغ به سبا زه هغه کس ته ورکوم چې د هغه په لاس به الله ﷻ فتح راکړي، (رايه) هغه بيرغ ته ويل کېږي چې عموماً د امير په لاس کې وي، "يحب الله ورسوله" هغه د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ سره مينه کوي، په بل روايت کې دي: "لايرجع حتى يفتح الله له" هغه به تر هغه نه واپس کېږي تر څو چې د هغه په لاس الله ﷻ فتح رانکړي، "اين علي ابن ابي طالب؟" علي بن ابن ابي طالب چېرته دی؟ ددې نه علماوو رحمهم الله د علي ؓ په فضيلت باندې استدلال کړی دی چې ددې نه ثابته شوه هغه د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ سره مينه ساتي او الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ دده سره مينه ساتي

فبراء: د علي ؓ د سترګو تکليف بالکل ختم شو، په بل روايت کې دي: ددې نه وروسته د علي ؓ په دغه سترګه کې تر مرګه پورې درد پيدا نه شو. "انفذ على رسلك" په سکون سره لاړ شه! په بل روايت کې دي چې: "لاتلتفت حتى يفتح الله عليك" اخوا دېخوا مه ګوره! فکرونه مه کوه! تردې پورې چې الله ﷻ ستاسو په لاس باندې مسلمانانو ته فتح نصيب کړي.

په جنګ به تر ټولو وړاندې دعوت ورکولی شي:

"ثم ادعوهم الى الإسلام" بیا دوی اسلام ته راوبلل، د اسلام قانون دا دی چې تر ټولو اول به اسلام ته دعوت ورکولی شي، که دوي نه منکر شي نو بیا به پرې جزیه مقرر کولی شي او که دوي نه هم انکار وکړي؛ نو مجبوراً به د دوی سره جنګ کولی شي

که یو کس په سمه لاره شي؛ نو د سرو اوښانو څخه زيات غوره ده:

"لأن يهدي الله بك رجلاً واحداً" يو کس چې په سمه لار روان شي، نو دا د سرو اوښانو څخه زيات غوره دی، په عربو کې سره اوښان ډېر زيات خوښېدل، ځکه یې وفرمایل: تر سرو اوښانو زيات غوره دی، دا هسې یو مثال ورکړل شوی دی، کنه نو که یو سړی په سمه لار لاړ شي؛ نو دا دنیا او په دې کې چې څه دي، ددې ټولو نه زيات غوره دی، علامه ابن صمام رحمه الله ليکلي دي چې که يو کافر مسلمان شي؛ نو دا د زرو کافرانو له وژلو زیاته غوره ده.

د راوي ابو العباس سهل بن سعد رضي الله عنه حالات:

اصل نوم یې سهل رضي الله عنه دی، ابو العباس، ابو يحيى او ابو مالك يې کنيت دی، د هجرت نه پنځه کاله وړاندې پیدا شوی دی، د پلار نوم يې حزن وو، نبي کريم ﷺ د ده نوم سهل ايښی دی، پلار يې د بدر غزا ته د تللو اراده وکړه، خو د شرکت څخه وړاندې وفات شو، نبي کريم ﷺ د ټولو مجاهدينو سره د دوی پلار ته هم حصه ورکړه، کله چې ګڼ شمېر صحابه کرام رضي الله عنهم وفات شول، نو بیا به خلکو په خپلو ديني مسئلو کې هغوی ته رجوع کول، خلك به د لرې علاقو څخه د دوی درس ته راتلل، يو ځل سهل رضي الله عنه نبي کريم ﷺ ته د مدينې منورې له مشهور کوهي بئر بضاعه نه اوبه راوړستي وې او نبي کريم ﷺ ته يې ورکړې

وفات: په يو نوي هجري کې چې کله د دوی عمر شپږ نوي کاله شو، نو دغه پتنګ ددې فاني نړۍ څخه رخصت شو.

مرويات: د مروياتو شمېر يې يو سل اته اتيا ۸۸ دی، په شپږ ويشتو کې بخاري رحمه الله او مسلم رحمه الله متفق عليه دي.

د جهاد اراده کوونکی چې ناروغ شي، هغه ته به پوره اجر ملاويږي

"وعن أنس رضي الله عنه: أن فتىً مِنْ أسلم، قَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنِّي أُرِيدُ الْغَزْوَ وَلَيْسَ مَعِي مَا أَتَجَهَّزُ بِهِ" د انس رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې د بنو اسلم قبيلې يو ځوان د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او وې فرمايل: يارسول الله ﷺ زه د جهاد اراده لرم او زما سره داسې شی نشته چې جهاد پرې وکړم، يعنې د جهاد لپاره وسله نه لرم، "قَالَ: ائْتِ فُلَانًا فَإِنَّهُ قَدْ كَانَ تَجَهَّزَ فَمَرِضَ، فَأَتَاهُ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: ته فلانکي کس ته لاړ شه! هغه د جهاد لپاره تیاری کړی ؤ، خو هغه ناروغ شو، د هغه چې څومره وسله وي، هغه ترې راواخله! دغه ځوان هغه کس ته راغلو، "فَقَالَ: إِنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ يُقْرِئُكَ السَّلَامَ، وَيَقُولُ: أَعْطِنِي الَّذِي تَجَهَّزْتَ بِهِ" هغه کس راغلو او ورته

وويل: نبي اکرم ﷺ په تاسو باندې سلام وايي او فرمايي چې ماته تيوله هغه اسلحه وغيره راکړه چې تا د جهاد لپاره اخيستې وه، "فَقَالَ: يَا فُلَانَةُ، أَعْطِيهِ الَّذِي تَجَهَّزْتُ بِهِ" هغه کس خپلې مېرمنې ته وويل: اې فلانکې! ټول هغه څه ورکړه چې ما د جهاد لپاره تيار کړي وو، "وَلَا تَحْبِسِي مِنْهُ شَيْئاً" پام کوه چې هيڅ شى ترې ايسار نه کړې، "فَوَاللهِ لَا تَحْبِسِينَ مِنْهُ شَيْئاً فَيُبَارَكَ لَكِ فِيهِ" ځکه چې په الله ﷻ قسم: که لږ څه دې هم ايسار کړل، نو الله ﷻ به موږ ته په هغې کې برکت نه اچوي. رواه مسلم.

لغوي تحقيق:

تجهز: "تجهز تجهزاً" د سفر سامان، د سفر تياري کول.

تشريح: "إن فتى من أسلم" د اسلم قبيلې يو کس وويل، په ځينو روايتونو کې د اسلم بن قصي بن حارثه نوم راغلى دى، "قد كان تجهز فمرض" هغه د جهاد لپاره سامان تيار کړو، خو بيمار شو. ددې نه علماوو استدلال کړى دى چې که يو کس د يو نيک کار اراده وکړي، خو د نېکۍ ځخه وړاندې بيمار شي يا کوم عذر ورته پېښ شي چې له امله يې هغه نېک کار ونه پاتې کيږي، نو هغه چې کوم څه د ځان لپاره تيار کړي دي هغه سامان بل چاته ورکړي، نو ان شاء الله چې هغه ته به ددې پوره پوره اجر ملاويږي.

"لا تحبسي منه شيئاً" په هغې کې هيڅ شى خانته ايسار نه کړې، علماوو ليکلي دي: چا چې کوم سامان د الله ﷻ د لارې لپاره تيار کړى وي، بيا يې په بله لار کې خرچ کړي؛ نو په دې کې به الله ﷻ هيڅ برکت نه اچوي.

باب في التعاون على البر والتقوى

په نېکۍ او تقوى کې د يو بل مرسته کول

يوويشتم باب: په نېکۍ او تقوى کې د يو بل مرسته کول

"قَالَ اللهُ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى" د يو بل سره په نېکو کارونو کې مرسته کوئ! [المائدة: ۲] "وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې: "وَالْعَصْرِ إِنَّ الْإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ" قسم مې دى په زمانه چې انسان په تاوان او نقصان کې دى، "إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ" مګر هغه خلک په تاوان کې نه دي چې ايمان يې راوړى او نېک عمل کوي، "وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ" يو بل ته د حق ادا کولو او صبر کولو نصيحت کوي. [العصر: ۱-۳] "قَالَ الإِمَامُ الشَّافِعِي - رَحِمَهُ اللهُ - كَلَاماً مَعْنَاهُ" امام شافعي ﷫ فرمايي: ددې معنى دا ده: "إِنَّ النَّاسَ أَوْ أَكْثَرَهُمْ فِي غَفْلَةٍ عَنْ تَدَبُّرِ هٰذِهِ السُّورَةِ" بې شکه زيات خلک په دې سورت کې د سوچ کولو نه غافله پراته دي.

تشريح: د حسن بصري ﷫ په نزد د عصر نه مراد د زوال نه تر غروب پورې زمانه ده، د علامه قتاده ﷫ په نزد د ورځې آخري ساعت مراد دى او د مقاتل ﷫ په نزد د ماز يګر لمونځ مراد دى، خو د عامو مفسرينو په نزد ددې نه وخت او زمانه مراد ده چې د انسان ټول حرکات او سکنات په دې زمانه کې دي.

"إن الإنسان لفي خسر" د خسر معنی ده: تاواني کېدل، ضايع کېدل، يعني د انسان دنيوي ژوند د آخرت لويه سرمايه ده، خو که ددې دنيا په حرص کې مصروف شي، نو لويه سرمايه يې ضايع کړه، ددې تاوان څخه د بچ کېدو لپاره په انسان کې څلور صفتونه ضروري دي:

(۱) ايمان راوړل، (۲) نېک عملونه، (۳) نورو ته هم ددې وصيت کول، (۴) په هر تکليف باندې صبر کول، "تواصوا بالحق" تواصي د وصيت څخه دی، وصيت په موثر او تاکيدي انداز سره نصيحت ته وايي، په دې وجه کوم کس چې مړ کېږي، او هغه چې څه وايي دې ته وصيت ويل کېږي، اولنۍ دوه جزنه د انسان د ذات سره تعلق ساتي او اخرنۍ دوه جزنه د عامو انسانانو د هدايت او اصلاح سره تعلق ساتي

"تواصوا بالصبر" د صبر معنی ده: خپل ځان ساتل، يعني کوم شي ته چې امر بالمعروف ويل کېږي په دې باندې چې سړي ته کوم تکليف ملاوېږي، هغه تکليف برداش کول، مفتي شفيع رحمه الله فرمايي چې په دې صورت کې د مسلمانانو لپاره عام نصيحت دی چې د يو انسان د قرآن شريف او د سنتو سره سمول خومره ضروري دي، دومره دا هم ضروري ده چې د بل سړي خيال وساتي او هغوی ته د قرآن شريف او سنتو دعوت ورکړي چې د دوی عملونه او عقيدې هم د قرآن او سنتو مطابق شي، ځکه چې صرف عمل د خلاصون ذريعه نه ده، په قرآن او حديثو کې په هر مسلمان باندې امر بالمعروف او نهي عن المنکر فرض ده.

ددې صورت اهميت د امام شافعي رحمه الله د هغه قول څخه ظاهر شو چې په متن کې ذکر دی، دغه شان امام ابن کثير رحمه الله فرمايي: دوه صحابه کرام وو، کله چې به دوی په خپلو کې ملاقات وکړو، نو تر هغه به سره نه جدا کېدل تر څو چې به دوی يو بل ته دغه صورت تلاوت کړی نه وو

د مجاهد سړي مرسته کول هم د اجر او ثواب باعث دی

"وعن أبي عبد الرحمان زيد بن خالد الجهني رضي الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: "من جهز غازيا في سبيل الله فقد غزا" د ابو عبد الرحمان زيد بن خالد جهني رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د مجاهد لپاره د جهاد شيان تيار کړي؛ بې شکه هغه هم جهاد وکړو، "ومن خلف غازيا في أهله بخير فقد غزا" او کوم کس چې د مجاهد په غير موجودګۍ کې د هغه د کورنۍ خبر واخلي، هغه هم داسې دی لکه جهاد چې يې وکړو. متفق عليه.

تشريح: "من جهز غازيا في سبيل الله" په يو بل روايت کې دي: "من جهز غازيا حتى يستقل كان له مثل أجره حتى يموت أو يرجع" په دې حديث کې د جهاد عمل زيات نه زيات مؤثر جوړولو ترتيب ښودل شوی دی، په اجر او ثواب کې يې تول شريك کېدلی شي، هغه داسې چې په معاشره کې ډېر داسې خوانان شته چې د جنګ اسباب ورسره نشته او ډېر داسې خوانان هم شته چې د جنګ اسباب ورسره شته خو د کوم عذر په بناء جنګ ته تللی نه شي، نو په دې حديث کې يو ترتيب ښودل شوی چې د چا سره اسباب وي او هغه خپله نه شي تللی، بايد هغه د داسې خلکو مدد وکړي چې جهاد ته تللی شي خو اسباب ورسره نه وي، نو جنګ به څنګه وکړي؟ لهذا دغه کسان دې خپل اسباب هغو کسانو ته ورکړي چې اسباب ورسره نه وي او په

اجر کې به دواړه شريکان وي، دغه ډول هغه خلك چې ددې غازيانو د کورنۍ ساتنه کوي، د دوی ضروريات پوره کوي؛ نو داسې خلك هم د ثواب نه محروم نه دي.

د راوي زيد بن خالد رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې زيد رضي الله عنه دی، ابو عبد الرحمن يې کنيت دی، د پلار نوم يې خالد دی، جهينه قبيلې سره تعلق لري، په دې وجه هغه ته جهيني ويل کيږي، د صلح حديبيې نه وړاندې مسلمان شوی وو، مدينې منورې ته راغلو او هم دلته آباد شو، د مکې د فتحې په ورځ ده د قبيلې بيرغ دده په لاس کې وو.

وفات : د وفات په تاريخ کې يې اختلاف دی، زيات راجح قول دا دی چې په مدينه منوره کې په اته اويايمه/ ۷۸ هجري کې وفات شو، په دې وخت کې يې عمر پنځه اتيا کاله وو.

مرويات: د مروياتو شمېر يې يو اتيا حديثونه نقل شوي دي، په پنځو باندې بخاري او مسلم متفق عليه دي، په مسلم رحمه الله کې درې حديثونه داسې دي چې په بخاري کې نشته.

که په دوه کې يو جهاد ته لاړشي، نو اجر به دواړو ته رسيږي

"وعن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه: أن رسول الله ﷺ بعث بعثاً إلى بني لحيان من هذيل" د ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ يوه ډله بنو لحيان ته ولېږل چې د هذيل قبيلې سره يې تعلق درلود. "فقال: لينبعث من كل رجلين أحدهما والأجر بينهما" نبي اکرم ﷺ ورته وفرمايل: که د کور په دوه کسانو کې يو کس هم په جهاد کې شريك شي، نو اجر به يې دواړو ته يو شان ورکولی شي. رواه مسلم.

تشريح: "بعث بعثاً إلى بني لحيان من هذيل" بنو لحيان د هذيل قبيلې خاندان وو او هذيل د عربو مشهوره قبيله ده، کوم مهال چې رسول الله ﷺ دوی ته د جهاد لپاره لښکر روان کړو، په دې مهال هغوی بالاتفاق کافران وو.

"فقال لينبعث من كل رجلين" په هر دوه کسانو کې به يو کس ضرور ځي، په بل روايت کې دي چې "بعث إلى بني لحيان ليخرج من كل رجلين رجل" يعنې کوم مجاهد چې جهاد ته لاړ شي؛ نو دوی ته به هسې نه اجر ملاويږي، خو کوم خلك چې ددې مجاهدينو د بچيانو او کورنۍ خيال ساتي، د دوی ضروريات پوره کوي، دوی ته به د مجاهدينو د جهاد برابر ثواب ملاويږي.

ايا د ماشوم حج صحيح دی؟

"وعن ابن عباس رضي الله عنهما: أن رسول الله ﷺ لقي ركباً بالروحاء" د ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ د روحا په مقام کې د يو څو کسانو سره ملاقات وشو کوم چې په سورليو باندې سپاره وو، "فقال: من القوم؟" نبي اکرم ﷺ ترې پوښتنه وکړه چې تاسو څوك يئ؟ "قالوا: المسلمون، فقالوا: من أنت؟" هغوی وويل: موږ مسلمانان يو او تاسو څوك يئ؟ "قال: رسول الله" نبي اکرم ﷺ ورته وفرمايل: زه د الله ﷻ رسول او استازی يم؛ "فرفعت إليه امرأة صبياً، فقالت: ألهذا حج؟ قال: نعم، ولك أجر" په

هغوی کې یوې ښځې ماشوم رامخې ته کړو او وې ویل: آیا ددې ماشوم حج کېدی شي؟ نبي اکرم ﷺ ورته وفرمایل: هو! کېدی شي او تاته بې هم پوره اجر ملاویږي. رواه مسلم.

تشریح: "فرفعت إليه امرأة صبيا" یوې ښځې ورته ماشوم راپورته کړو، علماوو په دې مسئله باندې اتفاق کړی دی چې که ماشوم حج کول غواړي نوحج یې کیږي، که دغه ماشوم داسې حرکت وکړي چې دم (قرباني) پرې لازمیږي، نو نه په هغه باندې دم شته او نه یې په ولي باندې دم شته، که ماشوم ممیز وي او د شیانو په فرق باندې پوهیږي، نو د حج ارکان به خپله ادا کوي او که غیر ممیز وي؛ نو دده ولي به دده له طرفه نیت کوي او د حج افعال به ادا کوي او هغه ته به هم احرام تړي، ګنډل شوي جامې به ترې وباسي

دامام نووي رحمه الله چشم پوشي:

علامه نووي رحمه الله په شرح مسلم کې لیکلي دي چې د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد د ماشوم حج صحیح نه دی، د ماشوم حج صرف یو مشق دی، ددې قول نسبت امام ابوحنیفه رحمه الله ته بلکل صحیح نه دی.

د ماشوم حج ثواب به ولي ته رسیږي:

که ماشوم حج وکړي، نو ددې ثواب به ولي ته ملاویږي، په دې هم اتفاق دی چې د بلوغ نه وروسته که صاحب نصاب شو؛ نو اوس بیا په دغه ماشوم حج فرض دی، صرف د داؤد ظاهري رحمه الله په نزد د ماشوموالي حج کفایت کوي.

مزدورته هم اجر ملاویږي:

"وعن أبي موسى الأشعري رضي الله عنه، عن النبي ﷺ، أنه قال" د ابو موسی اشعري رضي الله عنه روایت دی، فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل "الْخَازِنُ الْمُسْلِمُ الأَمِينُ الَّذِي يُنْفِذُ مَا أُمِرَ بِهِ" امانتګر، مسلمان او خزانچي هغه دی چې په یو حکم باندې پوره پوره عمل کوي، "فَيُعْطِيهِ كَامِلاً مُوَفَّراً طَيِّبَةً بِهِ نَفْسُهُ فَيَدْفَعُهُ إِلَى الَّذِي أُمِرَ لَهُ بِهِ" په خوشحالی سره هغه کس ته پوره پوره ورکړي خومره چې د یو سړي په باره کې ورته د ورکولو حکم شوی دی، "أَحَدُ الْمُتَصَدِّقَيْنِ" په دې صورت کې دغه خزانچي هم د صدقې ورکونکو د ډلې څخه حسابیږي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

"وفي رواية: الَّذِي يُعْطِي مَا أُمِرَ بِهِ" په یو روایت کې دي: دغه سړی چې چاته ورته د ورکړې حکم شوی دی، "وضبطوا: الْمُتَصَدِّقَيْنِ بفتح القاف مع كسر النون على التثنية، وعكسه على الجمع وكلاهما صحيح" دا هم صدقه کونکي دی، "مُتَصَدِّقِيْنَ" د جمع په صیغه او "مُتَصَدِّقَيْنِ" د تثنیې په صیغه دواړو سره ویل صحیح دي

لغوي تحقیق:

الخازن: "خزن، خزناً المال" باب نصر ینصر دی، ددې معنی ده مال جمع کول، خزانچي، وزیر خزانه

ینفذ: "نفذ نفوذاً ونفاذاً الامر والقول" باب نصر ینصر دی، ددې معنی ده حکم یا قول پوره کول

د ثواب لپاره څلور شرطونه دي:

تشريح: "الخازن المسلم الامين" مسلمان امانتدار خزانچي چې چاته څه ورکړي؛ نو هغه ته هم په دې کې ثواب شته، ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: په دې حديث کې څلور شرطونه کېښودل شول.

(١) اذن، د مالك په اجازې سره به وي.

(٢) "فيعطيه كاملاً" چې مالك ورته د څومره مال ورکولو اجازه کړې ده، همدومره مال ورکړي چې کمي او زياتي پکې ونه کړي.

(٣) "طيبة به نفسه" په خوشحالي سره يې ورکړي.

(٤) "فيدفعه الى الذى امرله" کوم فقير چې ته چې د ورکولو امر وکړي، هغه ته يې ورکړي، بل چاته يې ورنه کړي.

"أحد المتصدّقين" د تثنيه صيغه ده، هغه خزانچي چې مال جمع کوي، هغه هم په هغو خلکو کې شمار دى چې صدقه ورکونکي دى، يعنې يو خو د صدقې ورکولو مالك مراد دى، بل هغه مزدور مراد دى چې په ذريعه يې صدقه ورکولى شي، په دويم روايت کې لفظ د (متصدقون) جمع صيغه راغلې ده، په دې وخت کې به معنى دا شي چې مزدور هم په صدقه ورکونکو کې شمار دى.

باب في النصيحة

دوه ويشتم باب: د خير خواهى بيان

"قَالَ تَعَالَى" الله جل جلاله فرمايي چې: ﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ﴾ بې شکه مؤمنان په خپل مينځ کې سره ورونه دي. [الحجرات: ١٠]

تشريح: مسلمانان په خپل مينځ کې ورونه دي، ځکه چې اصل شى د دوى په مينځ کې ايمان دى، نو ځکه ټول مسلمانان په خپل مينځ کې سره ورونه دي، دغه ډول په يو حديث کې راځي: "المؤمنون كرجل واحد إن اشتكى عينه إشتكى كله وإن اشتكى رأسه اشتكى كله" **ترجمه:** ټول مسلمانان د يو کس په شان دي، که د هغه په سترګه درد وي، نو هم يې ټول اندامونه په لړزان وي او که په سر يې درد شي، نو هم يې د بدن نور غړي په تکليف وي، شيخ سعدي رحمه الله دا مضمون په خپلو شعرونو کې داسې بيان کړى دى.

بني آدم اعضائے يکديگرند   چو عضوے بدرد آورد روزگار
که در آفرينش زيک گوهرند   ديگر عضوها را نماند قرار

دغه شان د يو اوږد حديث په آخر کې راغلي دي چې "وكونوا عباد الله إخواناً" په خپل مينځ کې سره ورونه شئ.

"وَقَالَ تَعَالَى إخباراً عن نوح عليه السلام" الله جل جلاله د نوح عليه السلام څخه حکايت کوي او فرمايي چې: ﴿وَأَنْصَحُ لَكُمْ﴾ او زه ستاسو خير خواه يم. [الأعراف: ٦٢]

تشريح: "أنصح لكم" نوح علیه‌السلام چې کله خپل قوم ته دعوت ورکړو او د الله ﷻ عبادت ته يې خلک راوبلل، په ځواب کې ورته د قوم مشرانو وويل: "إنا لنراك في ضلال مبين" اې نوح علیه‌السلام (معاذ الله) ته خو ښکاره په ګمراهۍ کې مبتلا يې چې تاسو موږ د خپل پلار - نيکه له دين څخه اړوې، ددې تولو خبرو په ځواب کې نوح علیه‌السلام په ځای ددې چې غوسه وکړي يا خفه شي، وې فرمايل: زه خو تاسو ته نصيحت کوم او زه پوهيږم چې تاسو نه پوهيږئ؛ مفسرين ليکي چې په دې آيت کې واعظينو ته لوی تعليم او هدايت پروت دی، هغه دا چې که کوم کس د وعظ او نصيحت په منځ کې غلطې خبرې وکړي، بد رد ورته ووايي؛ نو داسې نه چې ورته په غوسه شي او سختې خبرې او ځوابونه شروع کړي، بلکې ډېر په دردمندانه لهجه او په ښکلي وعظ سره ورته خپله خبره بيان کړه او د نوح علیه‌السلام طريقه خپله کړئ، لکه څرنګه چې هغه کړې وه.

"أنصح نصح" ددې معنی ده: د کوم کس خيرخواهي کول، هغه که قولي وي او که عملي وي، علامه بغوي رحمه‌الله فرمايي: د (انصح) معنی ده: کوم سړي چې خاتته څه خوښوي هغه نورو ته خوښ کړي

"وعن هود ﷺ" د هود علیه‌السلام څخه حکايت کوي: "وأنا لكم ناصح أمين" او زه ستاسو لپاره خيرخواه او امانتدار يم. [الأعراف:۶۸].

تشريح: د آيت مطلب دا دی کله چې هم الله ﷻ کوم قوم ته پيغمبر لیږي، قوم هغه ته قولي او فعلي تکليفونه رسولي دي، په هغه يې اعتراضونه کړي دي، خو پيغمبر ددې حالاتو سره سم د خپل قوم سره مينه کړې ده او دا جمله به يې ورته فرمايل: "وأنا لكم ناصح أمين" زه ستاسو امانت دار او خيرخواه يم

"ناصح" د اسم فاعل صيغه ده: زه ستاسو خيرخواه يم، "أنبياء عليهم السلام" کله هم د خپل قوم سره انتقامي جذبه نه ده ساتلې، زيات صبر به يې کولو، انبياء عليهم السلام به د خپل قوم خيرخواه او همدرد وو، په ښکلي انداز به يې د خلکو زړونه ګټل، فرمايل به يې چې "وأنا لكم ناصح أمين" زه ستاسو خير غواړم

دين د خيرخواهي نوم دی:

"وأما الأحاديث: فالأول: عن أبي رقية تميم بن أوس الداري رضي الله عنه: أن النبي ﷺ قال" د ابو رقيه تميم بن اوس داري رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "الدين النصيحة" دين ټوله خيرخواهي ده، "قلنا: لمن؟" موږ پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ! د چا لپاره؟ "قال: لله ولكتابه ولرسوله ولأئمة المسلمين وعامتهم" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: د الله ﷻ لپاره او د هغه د کتاب لپاره او د هغه د رسول ﷺ لپاره، د مسلمانانو د حاکمانو لپاره او د عامو مسلمانانو لپاره. رواه مسلم.

د (النصيحة) لفظي ترجمه:

"الدين النصيحة" دين د خيرخواهي نوم دی، حافظ ابن حجر رحمه‌الله د علامه ابن دقيق العيد رحمه‌الله نه نقل کړي دي چې (النصيحة) لفظي ترجمې ادا کولو لپاره په ټوله عربي کې يو لفظ نشته. همدغه خبره علامه خطابي رحمه‌الله هم کړې ده، علامه نووي رحمه‌الله فرمايي: دا حديث د ټول دين خلاصه ده. څکه چې

(النصيحة) عمومي معنی لري، اخلاص ته پکې اشاره ده، په کوم عمل کې چې اخلاص نه وي هغه عمل د الله ﷻ په نزد هيڅ شی نه دی.

په پښتو ژبه کې ددې ترجمه په خیرخواهی سره شوې ده، په دې کې ټوله خیرخواهي داخله ده، مثلاً کوم کس چې سلام وکړي، د هغې خواب ورکړي، د ناروغو پوښتنه وکړي، د کمزورو مرسته وکړي، په کشرانو شفقت او نرمي وکړي، د غریبانانو مرسته وکړي، د غیبت او چغل خوری نه ځان وساتي، خلاصه دا چې د ټول شریعت اوامرو او نواهیو ته شامل حکم دی.

د الله ﷻ سره د خیر خواهی مطلب:

(لله) د الله ﷻ لپاره، ددې مطلب دا دی چې د الله ﷻ په ذات او صفاتو باندې ایمان وساتل شي، د هغه سره څوك شریك جوړ نه کړی شي، د هغه عبادت په اخلاص سره وشي، ټول اوامر يې پر ځای کړي او د نواهیو څخه ځان وساتي

د کتاب سره د خیر خواهی مطلب:

(الکتاب) د کتاب لپاره، د کتاب سره د خیرخواهی مطلب دا دی: په دې باندې یقین وساتل شي چې دا کتاب د الله ﷻ کتاب دی، په دې کې هیڅ تغیر او تبدیل نشته، ددې تلاوت باید په ښه غور او فکر سره وشي.

د رسول الله ﷺ سره د خیر خواهی مطلب:

(ولرسوله) او د رسول الله ﷺ لپاره، د رسول الله ﷺ لپاره د خیرخواهی مطلب دا دی چې د رسول الله ﷺ د سنتو سره مینه د خپل ځان، مال، اولاد، مور -پلار نه باید زیاته وي او په دې باندې عمل هم وکړل شي.

د امیرانو سره د خیر خواهی مطلب:

(ولائمة المسلمین): د مسلمانانو مشرانو سره د خیر خواهی مطلب دا دی چې کوم خلیفه د شریعت سره مطابق وي، د هغه اطاعت باید وشي، د هغه خلاف باید د بغاوت څخه ځان وساتل شي او که هغه د سمې لارې نه مخ واړوي؛ نو په حکمت او بصیرت سره باید پوه کړل شي.

د عامو مسلمانانو سره د خیر خواهی مطلب:

(وعامتهم) د عامو مسلمانانو سره د خیر خواهی مطلب دا دی چې د دوی دیني او دنیوي اغراضو خیال وساتل شي، د دوی د اصلاح فکر وشي، هغوی ته د ښو خبرو تعلیم وشي، د حسد او غلطو کارونو څخه منع شي، غرض دا چې د هر مسلمان سره د دنیا او آخرت د فایدې لپاره فکر وشي او هغه ته هیڅ تکلیف ونه رسول شي

دا حدیث جوامع الکلم دی:

علامه قطب الدین دهلوي رحمه الله فرمايي: دا حدیث جوامع الکلم دی، په دې کې ټولې ښېګڼې

او سعادتونه شامل دي، هغه که دنيوي وي او که اخروي وي

د راوي تميم اوس داري رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې تميم رضي الله عنه دی، کنيت يې ابورقيه دی، او نسبت يې اوس ته کيږي، د شام اوسېدونکی وو، د بنوتميم قبيلې سره يې نسبي تعلق درلود، د اسلام راوړلو نه وړاندې عيسائي وو، په نهمه هجري کې د خپل ورور نعيم سره يو ځای مسلمان شو، د نبي کريم ﷺ، د ابوبکر رضي الله عنه او د عمر رضي الله عنه تر زمانې پورې په مدينه منوره کې اوسېدلو، خو کله چې د عثمان رضي الله عنه په دور خلافت کې فتنې شروع شوې، نو مجبوره شو، مدينه منوره يې پرېښوده او شام ته واپس لاړو.

همدغه صحابي دی چې د نبي کريم ﷺ په جومات کې يې ډيوه بله کړه، رسول الله ﷺ وړاندې زيات خوشحال شو، ښکلې شکل او صورت يې درلود، وضع او صورت يې په سنتو برابر وو.

وفات: تر مرګه پورې يې د درويشۍ او فقيرۍ ژوند تېر کړو، په څلوېښتمه هجري کې وفات شو او په بيت جبرون کې دفن کړی شو.

مرويات: د مروياتو شمېر يې اتلس ته رسيږي، يو حديث په مسلم کې دی او باقي حديثونه په سنن کې دي، په بخاري کې د دوی نه روايت نشته.

د جرير بن عبد الله رضي الله عنه بيعت:

"الثاني: عن جرير بن عبد الله رضي الله عنه قال: بَايَعْتُ رسولَ اللهِ ﷺ عَلَى إِقَامِ الصَّلَاةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ" د جرير بن عبد الله رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ سره په دې خبره بيعت وکړو چې د لمانځه پابندي به کوم، زکاة به ورکوم، "وَالنُّصْحِ لِكُلِّ مُسْلِمٍ" او د هر مسلمان سره به خيرخواهي کوم مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

دا حديث په مختلفو طريقو نقل شوی دی:

"بايعت رسول الله ﷺ على إقام الصلوة وإيتاء الزكوة" ما د رسول الله ﷺ سره په لمانځه او په زکات ورکولو پابندي بيعت وکړو، په بل روايت کې دي "بايعت رسول الله ﷺ على شهادة أن لا إله إلا الله وأنه محمداً رسول الله ﷺ وإقام الصلوة وإيتاء الزكوة والسمع والطاعة والنصح لكل مسلم" د مسلم په روايت کې دا الفاظ هم نقل شوي دي چې "فيما استطعت والنصح لكل مسلم" د دې ټولو روايتونو نه معلوميږي چې انسان بايد خپل ټول طاقت په نېکو عملونو کې صرف کړي.

محدثين فرمايي: د ټولو عباداتو مجموعه دوه شيان دي: (١) بدني (٢) مالي، په بدني عباداتو کې يې لمونځ او په مالي عباداتو کې يې زکات بيان کړو، په دې سره يې پوره دين جمع کړو.

سوال: په دې روايت کې خو حج او روژه ذکر نه دي؟

ځواب: تر دې وخته پورې روژه او حج فرض شوي نه وو

د ټولو مسلمانانو سره د خير خواهۍ مطلب:

"والنصح لكل مسلم" د ټولو مسلمانانو سره خيرخواهي كول، هر مسلمان سره ښه كول چاته نقصان نه رسول، علامه نووي رحمه الله فرمايي: همدغه صحابي جرير رضي الله عنه يوه اسپه واخسته، د اس مالك ورته وويل: په درې سوه درهمه يې دركوم، جرير رضي الله عنه ورته وويل: درې سوه كمې دي ځلور سوه اخلې؟ هغه وويل: څنګه چې ستاسو خوښه وي، بيا يې ورته وويل: پنځه اخلې شپږ سوه اخلې؟ تردې چې په اته سوه روپۍ يې ترې واخيسته، چا پوښتنه وكړه چې هغه په درې سوه خرڅول، نو تا ولې دومره زيات قيمت ورته ادا كړ؟ هغه وفرمايل: ما د رسول الله ﷺ سره په دې خبره باندې بيعت كړى دى چې زه به د هر مسلمان سره ښېګڼه كوم، په دې لحاظ ما د هغه اس قيمت صحيح ادا كړو، هغه اس د دې قيمت لائق ؤ.

څه چې ځانته خوښوې، بل مسلمان ته يې هم خوښ كړه!

"الثالث: عن أنس رضي الله عنه، عن النبيّ ﷺ، قَالَ" د انس رضي الله عنه روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "لايُؤمِنُ أحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ" تر هغه به كامل مسلمان جوړ نه شي تر څو چې هغه څه خپل مسلمان ورور ته خوښ نه كړئ كوم څه چې د ځان لپاره خوښوي. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ.

په بل حديث سره د دې وضاحت شوى دى:

تشريح "لايؤمن أحدكم" د نسائي په روايت سره د دې حديث پوره وضاحت شوى، هغه داسې چې: "والذى نفس محمد ﷺ بيده، لايؤمن أحدكم حتى يحب لأخيه مايحب لنفسه من الخير" قسم په هغه ذات چې د هغه په لاس كې د محمد ﷺ روح ده، تاسو به تر هغو (كامل) مسلمانان نه شئ تر څو چې هغه څه بل مسلمان ورور ته خوښ نه كړئ كوم څه چې تاسو د ځان لپاره خوښوئ! په دې روايت كې د دنيا او آخرت خير او ښېګڼه پرته ده.

د دنيا د خير نه مراد څه دى؟

د دنيا د خير نه مراد دا دى چې په دنيا كې عزت، نېک نامي او خوشحالي الله ﷻ انسان ته نصيب كړي، مال او دولت وركړي، په سكون او راحت سره ژوند تېر كړي، نېک عمله مېرمن وي او خبره منونكي بچيان يې وي.

د آخرت د خير نه مراد څه دى؟

د آخرت خير دا دى چې سړي ته په دنيا كې د نېكو عملونو توفيق ملاو شي، خاتمه يې په خير شي، د قبر د سختيو څخه محفوظ شي او د آخرت په وخت حساب كتاب ورته آسان شي او د دوزخ نه بچ شي، جنت الفردوس ورته نصيب شي، د الله ﷻ ديدار يې نصيب شي، نو دا د دنيا او اخرت خير او ښېګڼه ده، كوم انسان يې چې خاتمه غواړي، پكار ده چې ټولو مسلمانانو ته يې هم په خپلو نېكو دعاګانو كې وغواړي، په داسې شان سره به د ده ايمان كامل شي.

علامه كرماني رحمه الله د بخاري شريف په شرح كې فرمايي: د ځان لپاره چې كوم شيان خوښوي

هغه د خپل مسلمان ورور لپاره هم خوښ کړه، دغه شان ستا ایمان به مضبوط شي او دا خبره هم په دې کې شامله ده چې د کوم شي نه خپله نفرت کوئ او نه يې خوښوئ، هغه بل مسلمان هم مه خوښوه

باب في الأمر بالمعروف والنهي عن المنكر

درویشتم باب: د نېکۍ حکم کول او د بدو څخه منع کول

"قَالَ اللهُ تَعَالَى" "الله ﷻ فرمايي چې "وَلْتَكُن مِّنكُمْ أُمَّةٌ يَدْعُونَ إِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ" بايد په تاسو کې يوه داسې ډله وي چې خلك نېکو کارونو ته رابولي او د بدو کارونو څخه يې منع کوي، "وَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ" او هم دغه کسان کامیابي ترلاسه کوي [آل عمران:۱۰۴]

تشريح: "ولتكن منكم أمة يدعون إلى الخير" لږ وړاندې په (باب في الدلالة على الخير والدعاء إلى هدى أوضلالة) کې ذکرشوي دي، خو علامه نووي رحمه الله دلته پوره آیت کریمه ذکر کړو، څکه چې اوس به مختصر تفسير يو ځل بيا ذکر کولی شي. "ولتكن منكم أمة يدعون إلى الخير" ددې آيت تفسير په سورة العصر کې هم بيان شوی دی چې ددې خلاصه دا ده: د خپل ځان د اصلاح سره سره به د نورو خلکو د اصلاح خیال هم ساتی او په هر مسلمان باندې دا ذمه واري پرته ده، په حدیث کې راځي:

"والذي نفسي بيده لتأمرن بالمعروف ولتنهون عن المنكر أوليوشكن الله أن يبعث عليكم عقابا من عنده ثم لتدعنه فلا يستجب لكم" قسم دی زما په هغه ذات چې په لاس کې يې زما روح دہ، خامخا به امر بالمعروف او نهي عن المنكر کوئ! کنه نو داسې وخت به راشي چې الله ﷻ به د ګناهګارو خلکو سره تاسو هم هلاك کړي بيا به تاسو الله ﷻ ته فریادونه کوئ او ستاسو فرياد به نه شي اورېدلی، دا خبره د قطعي نصوصو څخه ثابته ده چې په دې امت باندې فرداً فرداً امر بالمعروف او نهي عن المنكر لازم دی، يو جماعت به خامخا په دې کار کې سهار او ماښام مشغول وي.

"يأمرون بالمعروف" په دې کې ټولې هغه خوبۍ داخلې دي چې په اسلام کې د هغې د کولو امر شوی دی، هر نبي په خپله زمانه کې ددې د اشاعت کوشش کړی دی، دغو کارونو ته څکه (معروف) ویل کیږي چې دا کارونه پېژندل کیږي او هر سړی يې مني چې دا ښه کار دی، "ينهون عن المنكر" مفتي محمد شفيع رحمه الله فرمايي: منکر هغه کارونه دي چې ناجائز کېدل يې معروف وي.

سوال: په دې آيت کې يې معاصي ونه فرمايل، بلکې منکر يې ورته وویل دا ولې؟

ځواب: حکمت يې دا دی چې د داسې کارونو څخه منع کول او سختي کول صرف او صرف په هغو مسئلو کې وي چې مشهور، معلوم او متفق عليه وي، خلکو پرې اتفاق کړی وي چې دا کار ناجائز دی او کومې مسئلې چې اجتهادي وي په هغې باندې داسې سختي کول پکار نه دي، خو افسوس چې نن سبا د اجتهادي مسئلو څخه اعتقادي مسئلې جوړې شوې دي او دا کار يا په پوره منصوبې سره ترسره کیږي او يا د ناپوهۍ له امله، په مسلمانانو کې هم به دې اجتهادو مسئلو باندې فرقې او ګوندونه جوړیږي او دا يو ډېر ښه کار ګڼلی شي، ددې په مقابل کې متفق عليه معاصي او ګناهونه پرېښودل

کېږي، په دې باندې هيڅ ممانعت نشته، که څوک شراب څښي، د دوی پرې پرواه نه وي او که زنا کوي پرواه يې نه وي؛ خو که دده د اجتهادي مسئلې او د خپل ذهن نه تراشل شوي مسئلې لږ مخالفت وشي او مخالفت هم لږې خبره ده، که لږ دليل ورباندې پېش کړل شي، بس بيا به ميدان گرم وي، الله ﷻ دې مورپوه کړي.

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې: "كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ" تاسو زيات غوره امت يئ، تاسو د خلکو لپاره ويستل شوي يئ چې: "تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ" تاسو به خلکو ته په نېکو کارونو باندې امر کوئ او د بدو کارونو څخه به يې منع کوئ. [آل عمران:۱۱۰]

شان نزول:

تشريح: "كنتم خير أمة أخرجت للناس" مالك بن ضيف او وهب بن يهود دواړه يهوديان وو، دوی ته عبد الله بن مسعود رضي الله عنه او معاذ بن جبل رضي الله عنه او سالم د ابو حذيفه رضي الله عنه مولی د اسلام دعوت وکړو، نو دغو يهوديانو وويل: زموږ دين ستاسو د دين څخه غوره دی، په دې باندې دا آيتونه رانازل شول.

مولانا سر فراز خان صفدر رحمه الله فرمايي: د نبي کريم ﷺ د امت شرافت او عزت په دې وجه دی چې دا امت د امر بالمعروف او نهي عن المنکر يوه عظيمه فريضه ترسره کوي، لکه څرنگه چې دا خبره واضحه ده چې د نبي کريم ﷺ نه وروسته به هيڅ قسم پيغمبر (که هغه ظلي وي او که تشريحي، تشريعي وي) نه راځي او اسلام (دين) به تر قيامته پاتې کېدونکی دين وي، نو ځکه د دعوت او تبليغ دغه لويه او اهمه ذمه واري ددې امت د فرد فرد په اوږو باندې بار ده، ددې مبارک کار په برکت دا شرافت او عزت دغه امت ته په برخه شوی دی.

د قتاده رحمه الله روايت دی، فرمايي چې يو ځل عمر فاروق رضي الله عنه دغه آيت: "كنتم خير أمة" تلاوت کړو، بيا يې وفرمايل: څوک چې دې امت ته په راتلو باندې خوشحال وي هغه دې د الله تعالی حمد ادا کړي، په داسې کسانو لازم دي چې هغه ددغو يورتنيو شرطونو لحاظ وساتي چې وړاندې يې ذکر وشو (يعنې امر بالمعروف او نهي عن المنکر).

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې: "خُذِ الْعَفْوَ وَأْمُرْ بِالْعُرْفِ" عفو او بخښنه خپل کار وگرځوه او په نېکو کارونو باندې امر کوه! "وَأَعْرِضْ عَنِ الْجَاهِلِينَ" او د ناپوهه خلکو څخه اعراض وکړه! [الأعراف:۱۹۹]

تشريح: "خذ العفو" د عفو کې شمېر معناگانې شوي دي: لومړی معنی يې دا ده: هر هغه کار چې بې تکليفه ترسره شي، مطلب دا شو چې نبي کريم ﷺ ته حکم دی چې تاسو هم ددې خلکو نه هغه څه قبلوئ چې په اسانی سره يې کوي، د اعلی معيار مطالبه ترې مه کوئ! همدغه تفسير عبد الله بن زبير رضي الله عنه هم کړی دی، ددې آيت د نزول نه وروسته نبي کريم ﷺ وفرمايل: الله ﷻ خلکو ته په عملونو او اخلاقو کې صرف د سرسري اطاعت قبلولو حکم کړی دی، تر څو پورې چې زه په دوی کې ژوندی يم تر هغې به داسې کوم

دويمه معنی يې داده چې: معافي کول، عفو کول، په يو روايت کې دي چې: کله چې دا آيت نازل شو، نو نبي کريم ﷺ د جبرئيل علیه السلام نه پوښتنه وکړه چې ددې آيت مطلب څه دی؟ جبرئيل علیه السلام د الله ﷻ نه پوښتنه وکړه، نو الله ﷻ وفرمايل: ددې آيت مطلب دا دی چې په تاسو باندې کوم ظلم او زياتی وشي، تاسو يې معاف کړئ، کوم کس چې تاسو ته څه نه درکوي هغوی ته تاسو څه ورکوئ او کوم کس چې ستاسو سره تعلق پرې کوي، د هغوی سره تعلق وساتئ.

"بالعرف" د عرف معنی ده: معروف، ښه کار، مستحسن کار، يعنې کومو خلکو چې به د رسول الله ﷺ سره ظلم زياتی کولو، جنګونه به يې ورسره کول، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم کله هم د ځان لپاره له چا څخه انتقام نه دی اخيستی، هغوی به معاف هم کړل او ورسره به يې د ښکو کارونو هدايت وکړو چې د ظلم بدله په انصاف سره نه، بلکې په احسان سره ورکړه.

"وأعرض عن الجاهلين" علامه ابن کثير رحمه الله فرمايي ددې ايت مطلب دا دی چې دوی ته د دوی بدی بدله په بدی سره مه ورکوه؛ او مه هم دوی ته هدايت ورکول پرېږده؛ ځکه چې د بدی ځواب په بدی سره ورکول د نبوت د شان سره نه ښايي، جعفر صادق رحمه الله فرمايي په قرآن مجيد کې د مکارم اخلاق په باره کې ددې نه پورته بل کوم آيت نشته.

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې: "وَالْمُؤْمِنُونَ وَالْمُؤْمِنَاتُ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ" مؤمنان سړي او مؤمنانې ښځې د يو بل ملګرې دي، "يَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ" دوی به يو بل ته په ښکو کارونو باندې امر کوي او د بدو کارونو څخه به منع کوي. [التوبة:۷۱].

تشريح: ددې نه وړاندې د منافقينو حال بيان شو، "والمنافقون والمنفقت بعضهم من بعض يأمرون بالمنكر وينهون عن المعروف" منافق سړي او منافقې ښځې ټول يو شی دي چې دوی په بدو خبرو او کارونو باندې امر کوي او د ښه کارونو څخه خلک منع کوي، پورتني ايتونه چې د مؤمنانو او منافقينو په باره کې دي، الله ﷻ د دوی ترمينځ تقابل کړی دی، د مؤمنانو په باره کې يې وفرمايل: "بعضهم أولياء بعض" او د منافقينو په باره کې يې وفرمايل: "بعضهم من بعض" دې طرفته اشاره ده چې کوم منافقين تر يو بل خارېږي او تعلق ساتي هغه يا خانداني تعلق وي يا کوم بل غرض يې وي، دوی به خپل مينځ کې د زړه نه دوستي نه ساتي او د زړه همدردي نه کوي، ددې په مقابل کې د مسلمانانو لپاره يې لفظ د (اولياء) ذکر کړو، په دې کې دې ته اشاره ده چې د دوی په خپل مينځ کې تعلق صرف او صرف د الله ﷻ د رضاء لپاره دی، که ملګري ورسره موجود وي او که ترې لرې وي، په هر حال کې د هغه همدردي کوي، که ملګري ورسره وي جنګ ورسره نه کوي او که ترې لرې وي؛ نو د هغه په غير موجودګۍ کې چې نور خلک ورپسې ستغې وايي؛ نو هغه يې دفاع کوي، مطلب د دوی دوستي د دنيوي اغراضو په بنسټ نه وي، لکه څرنګه چې په يو روايت کې راغلي دي "مثل المؤمنين في توادهم وتراحمهم كمثل الجسد الواحد إذا اشتكى منه عضو تداعى له سائر الجسد بالحمى والسهر."

"يأمرون بالمعروف وينهون عن المنكر" د مؤمنانو صفت دا دی چې دوی به يو بل ته امر: بالمعروف او

نهي عن المنکر کوي، علامه قرطبي رحمه الله فرمايي چې کوم کس امر بالمعروف او نهي عن المنکر نه کوي؛ په هغه کې د منافقينو صفت پروت دی، هغه دا چې دوی امر بالمنکر او نهي عن المعروف کوي.

"وَقَالَ تَعَالَى" الله جل جلاله فرمايي چې "لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُدَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ" په هغو کسانو چې د بني اسرائيلو څخه (کافران) وو، د داؤد عليه السلام او عيسی عليه السلام (چې د مريم زوی ؤ) په ژبه لعنت وکړل شو، "ذَلِكَ بِمَا عَصَوْا وَكَانُوا يَعْتَدُونَ" دا په سبب ددې چې دوی به نافرماني کول او دوی به د حد نه تجاوز کولو، "كَانُوا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُنْكَرٍ فَعَلُوهُ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ" دوی به د هغو بدو کارونو څخه منع نه کول چې دوی به کول، بد دي هغه چې دوی يې کوي [المائدة:۷۸]

بني اسرائيل:

تشريح د يعقوب عليه السلام دويم نوم اسرائيل وو، ځکه يې اولاد د بني اسرائيلو په نوم باندې مشهور شول، "على لسان داؤد" د داؤد عليه السلام په ژبه په زبور کې د هغه اتباع کونکي د ايله اوسېدونکي وو کوم چې د هفتې په ورځ د ماهيانو له ښکار څخه منع شوي وو، ليکن هغوی ددې امر مخالفت وکړو، داؤد عليه السلام هغوی ته بده دعا وکړه چې اې الله! په دوی باندې لعنت نازل کړه او دوی د عبرت سامان وګرځوه؛ د داؤد عليه السلام دعاء قبوله شوه او د هغوی نه خنزيران او شادوګان جوړ شول.

"وعيسى ابن مريم" عيسی عليه السلام په انجيل کې بده دعا کړې وه، کله چې يې اتباع کونکو غوښتنه وکړه چې موږ ته دې د آسمان څخه دسترخوان نازل کړل شي؛ نو موږ به مسلمانان شو، دسترخوان نازل شو، ليکن هغوی مسلمان نه شول، عيسی عليه السلام خيرې وکړې، د هغوی نه خنزيران جوړ شول، د دوی شمېر پنځه زره/ ۵۰۰۰ پورې وو.

"كانوا لا يتناهون عن منكر فعلوه" هغوی به يو بل د بدو کارونو څخه منع کول، ابوبکر صديق رضي الله عنه فرمايي چې ما خپله د رسول الله ﷺ نه واورېدل فرمايل يې چې ظالم په ظلم ووينئ؛ نو هغه د لاسه ونيسه، کنه نو غالبه خبره دا ده چې په تاسو به يو شان عذاب نازل شي، دغه ډول په يو بل روايت کې دي: په کوم قوم کې چې ځينې خلک ګناه کوي او هغه قوم يا جماعت؛ د له دغه خلک د طاقت لرلو باوجود هغه خلک د ګناه څخه منع کوي، نو په داسې خلکو به د مرګ نه وړاندې د الله جل جلاله له طرفه عذاب راځي.

"لبئس ما كانوا يفعلون" د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه يو اوږد روايت دی چې د رسول الله ﷺ ارشاد دی، کله چې بني اسرائيلو يو بل د ګناه نه د منع کولو کوشش پرېښودو؛ نو الله جل جلاله د نېکو او بدو خلکو زړونه سره يو شی کړل، بيا د دوی نه شادوګان او خنزيران جوړ شول، د داؤد عليه السلام په ژبه يې پرې لعنت وکړو، ددې وجه دا وه چې د الله جل جلاله نافرماني به يې کول او د حد نه به يې زيات تجاوز کولو، قسم دی په هغه ذات چې په لاس کې يې زما روح ده، تاسو به خامخا يو بل ته د نېکۍ هدايت کوئ او له بدو کارونو څخه به يې منع کوئ او ظالم به د ظلم نه منع کوئ، هغه به حق ته راکاږئ، کنه نو الله جل جلاله به ستاسو زړونه هم سره ګډوډ کړي بيا به په تاسو باندې داسې لعنت وکړل شي لکه څرنګه چې په هغوی باندې لعنت شوی وو.

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې: "وَقُلِ الْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ" اې پيغمبره ﷺ! ورته ووايه چې حق يعني اسلام د الله ﷻ له طرفه رانازل شوى دى، "فَمَن شَاءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَاءَ فَلْيَكْفُرْ" بس چې د چا خوښه وي ايمان دې راوړي او د چا چې خوښه وي كافر دې شي. [الكهف:۲۹]

شان نزول:

عيينه بن حصن خزاعي چې د مضر قبيلې سردار وو، د نبي كريم ﷺ په خدمت كې حاضر شو او وې ويل: تاسو ﷺ دغه غريبانان صحابه چې بد بوى ترې خي، د خپل مجلس څخه يې وشړئ، نو موږ به ستاسو مجلس ته راځو، ايمان به دريانديږ راوړو، ددې په ځواب كې الله ﷻ وفرمايل: اې نبي كريم ﷺ! تاسو د اغريبانان صحابه د خپل ځان سره كېنوئ او دوى ﷺ د خپل مجلس نه مه شړئ، برابره خبره ده چې دغه كفار ايمان راوړي او كه نه، مفسرين علماء فرمايي: په دې آيت كې هغو خلكو ته اخطار دى چې ايمان نه راوړي، هغوى ته جهنم تيار دى او دوى به همېش پكې سوځي.

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ" ته هغه څه بيان كړه چې تا ته يې امر كېږي. [الحجر:۹۴]

تشريح: په دې آيت كې نبي كريم ﷺ ته حكم دى چې تاسو د الله ﷻ حكم خلكو ته واضحه بيان كړئ، د دوى نه ويره مه كوئ، د ابن عباس رضي الله عنهما په قول چې: "فاصدع" خپل دعوت تبليغ جاري ساته، د ضحاك رحمه الله په قول: اعلان وكړه، د اخفش په نزد ددې آيت مطلب دا دى: د قرآن كريم په ذريعه حق او باطل جدا كړه.

عبد الله بن عبيد فرمايي ددې آيت د نازلېدو نه وړاندې به رسول الله ﷺ او صحابه كرامو ﷺ دعوت او تبليغ په پټه كولو او د قرآن كريم تلاوت به يې هم پټه كولو، خو ددې آيت په نازلېدو سره الله ﷻ ورته وفرمايل: زه تاسو ته ددې كفارو د استهزاء او ايذاء په مقابل كې كافي يم، زه به ستاسو حفاظت كوم، تاسو په بې فكرۍ سره خپل دعوت كوئ او د قرآن تلاوت كوئ، موږ ستاسو په مقابل كې د دوى لپاره كافي يو.

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې: "فَأَنجَيْنَا الَّذِينَ يَنْهَوْنَ عَنِ السُّوءِ" موږ د عذاب څخه خلاصى وركړو هغو كسانو ته چې د بدو كارونو څخه يې خلك منع كول، "وَأَخَذْنَا الَّذِينَ ظَلَمُوا بِعَذَابٍ بَئِيسٍ بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ" او هغه خلك چې ظالمان وو په سخت ناكاره عذاب كې راګير شول، په دې وجه چې دوى به د حد نه تجاوز كولو او فاسقان وو. [الأعراف:۱۶۵] "والآيات في الباب كثيرة معلومة" په دې باب كې ډېر زيات ايتونه دي.

تشريح: لومړى د اصحاب السبت واقعه روانه وه، هغه خلك چې د هفتې په ورځ د ماهيانو له ښكار څخه منع شوي وو، په هغوى كې درې ډلې جوړې شوې

لومړۍ ډله هغه ده چې د الله ﷻ د حكم نافرماني يې وكړه.

دويمه ډله هغه ده چې چوپ پاتې شول

دريمه ډله هغه ده چې امر بالمعروف يې وكړو

په دې آيت کې ارشاد دى چې کومې ډلې امر بالمعروف کولو، يعنې د هفتې په ورځ يې د ماهيانو د ښکار څخه خلك منع کول، هغوى ته نجات ملاو شو، هغوى معذب نه شول او کومو خلکو چې ظلم کولو، يعنې ماهيان به يې نيول، هغوى په عذاب کې راګېر شول، د دوى نه خنزيران او شادوګان جوړ شول او کوم خلک چې غلې پاتې شول، نه يې نيول او نه يې منع کول، د دوى څه حال شو؟

د دوى په باره کې ابن زيد فرمايي: هغوى هم هلاك شول، خو عکرمه رحمه الله فرمايي چې کوم خلك ظالمان وو، د هغوى دغه عمل چوپ پاتې کېدونکو خلکو ته په نظر کې ښه نه راتلو او د دوى عمل څخه يې برائت اعلان کړو، نو هغوى بچ شول، څکه چې د دوى په باره کې قرآن کريم نه دې فرمايلي چې هغوى هم هلاك شول، معلومه شوه چې الله ﷻ هغوى بچ کړل.

بد عمل به په لاس يا په خوله منع کوئ او يا به ورته په زړه کې بد وايئ!

"وأما الأحاديث: فالأول: عن أبي سعيد الخدري ؓ، قَالَ: سَمِعت رَسُول الله ﷺ يقول" د ابو سعيد خدري ؓ نه روايت دى، فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي: "مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَراً فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ" په تاسو کې چې کوم کس يو خلاف شرع کار ووينې؛ نو بايد په لاس يې منع کړي، "فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ" که په لاس يې طاقت نه وي، نو په ژبه يې بايد منع کړي، "فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ" او که په ژبه يې د منع کولو طاقت نه وي، بايد په زړه کې يې بد وګڼي، "وَذَلِكَ أَضْعَفُ الإِيمَانِ" او دا د کمزورې ايمان درجه ده. رواه مسلم.

لغوي تحقيق:

منکراً: د "کرم يکرم" څخه د اسم مفعول صيغه ده، هغه قول يا عمل چې الله ﷻ پرې ناراضه کېږي، ددې جمع منکرات راځي.

فليغيره: "غير تغيراً" غير الشي، ددې معنى ده: بدلول، تغير او تبديلي کول.

امر بالمعروف او نهي عن المنکر په هر سړي لازم دی:

تشريح: "من رأى منکم منکراً" په دې جمله کې لفظ د (من) راغلى دى، په عربي ژبه کې د عموم لپاره وي، ددې امر مخاطب د امت هر سړى دى، يعنې امر بالمعروف نېکو کارونو ته خلك دعوت کول او نهي عن المنکر د بدو کارونو څخه خلك منع کول په هر سړي لازم او فرض دي، هغه که نر وي او که ښځه وي، غلام وي او که آزاد وي، نېک وي او که بد وي، فاسق وي او که فاجر وي، په هر چا لازم او فرض دي.

په حديث کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر درې درجې بيان شوې دي، که طاقت وي نو په لاس سره يې منع کړه، که د لاس وس دې نه وي؛ نو په ژبه يې منع کړه او که دا طاقت دې هم نه وي؛ نو په زړه کې يې بد وګڼه: او ددې نه لاندې د ايمان بله درجه نشته

د علامه نووي رحمه الله تحقيق:

امام نووي رحمه الله د مسلم په شرح کې ليکي: په دې حديث کې چې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوم ترتيب بيان شوی دی، هغه د قرآن، حديث او اجماع امت نه ثابت دی، دې باره کې د هيڅا هيڅ قسم اختلاف نشته، البته د ځينو روافضو اختلاف شته ليکن د دوی اختلاف ته هيڅ اعتبار نشته

د عدم قبوليت په ګومان سره د دعوت فريضه نه ساقطيږي:

امام نووي رحمه الله دا هم ليکي: که د عدم قبوليت ګومان پيدا شي؛ نو بيا هم د امر بالمعروف او نهي عن المنکر ذمه نه ساقطيږي، لهذا که د چا دا ګومان وي چې فلانکی سړی به ښه خبره قبوله نه کړي نو بيا هم په هغه لازم دي چې هغه ته د نېك عمل تلقين وکړي، په تا چې کومه ذمه واري ده هغه پوره کړه؛ خلکو خو پېغمبرانو عليه السلام ته هم د دروغو نسبت کړی دی او د هغوی عليه السلام د نصيحت څخه يې انکار کړی دی، آيا دغو پيمغبرانو عليه السلام خپل مشن او خپله دنده پرېښوده؟ هيڅ کله نه؛ بلکې نور هم په خپل دعوت او تبليغ کې تېز شول.

څوك چې په ژبه بد عمل منع کړي، په هغه کې ايمان نشته

"الثانی: عن ابن مسعود رضي الله عنه: أن رَسُول الله ﷺ،قَالَ" د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "مَا مِن نَبِيّ بَعَثَهُ اللهُ فِى أُمَّةٍ قَبْلِى اِلَّاكَانَ لَهُ مِنْ أُمَّتِهِ حَوَارِيُّونَ وَأَصْحَابٌ" زما نه وړاندې په يو امت کې هم الله ﷻ داسې پېغمبر نه دی رالېږلی مګر دا چې د هغه په امت کې به يې حواري او ملګري خامخا وو، "يَأْخُذُونَ بِسُنَّتِهِ وَيَقْتَدُونَ بِأَمْرِهِ" د خپل نبي عليه السلام طريقه به يې خپلول، د هغه په حکمونو به يې عمل کولو، "ثُمَّ إِنَّهَا تَخْلُفُ مِنْ بَعْدِهِمْ خُلُوفٌ" ددې زماني د ملګرو او حواريونو نه پس داسې خلك راغلل چې د بر زيات بې خونده خلك وو، "يَقُولُونَ مَالَا يَفْعَلُونَ وَيَفْعَلُونَ مَالَا يُؤْمَرُونَ" هغوی به داسې خبرې کولې چې عمل به يې پرې نه کولو او داسې کارونه به يې کول چې په هغې به ورته امر نه وو شوی؛ "فَمَنْ جَاهَدَهُمْ بِيَدِهِ فَهُوَ مُؤْمِنٌ" کوم کس چې د هغوی په لاس جهاد وکړي، هغه مؤمن دی، "وَمَنْ جَاهَدَهُمْ بِقَلْبِهِ فَهُوَ مُؤْمِنٌ" او کوم کس چې په زړه جهاد وکړي يعنې بد يې وګڼي، هغه هم مؤمن دی، "وَمَنْ جَاهَدَهُمْ بِلِسَانِهِ فَهُوَ مُؤْمِنٌ" او کوم کس چې په ژبه جهاد وکړي، هغه هم مؤمن دی، "وَلَيْسَ وَرَاءَ ذَلِكَ مِنَ الإِيمَانِ حَبَّةُ خَرْدَلٍ" ددې نه علاوه په بله طريقه کې د جواري د دانې په اندازه هم ايمان نشته. رواه مسلم.

لغوي تحقيق:

"حواريون" الحواري ددې معنی ده: نصيحت کوونکی، مرستندوی. د ځينو په نزد ددې نه هغه خلك مراد دي چې د انبياء عليهم السلام مرسته وکړي، يعنې د عيسی عليه السلام مرستندويه ملګري

خلوف: الخلف مصدر دی، ددې معنی ده: قائم مقام/ نائب.

حبة: ددې معنی ده: دانه

خردل: ددې معنی ده: د جوارو دانه.

تشريح "من أمته حواريون" مخلص ملګري، علامه طيبي رحمه الله فرمايي: حواري داسې مخلص سړي ته وايي چې د هر قسم طمع نه پاك وي، ځينې وايي: د حواري نه مراد د راز ملګرى دى، "ويقتدون بأمره" د دوى د حکم اطاعت کوونکي، يعنې د کومو کارونو حکم چې ورته شوى هغه هغه پوره کړي او د کومو کارونو څخه چې منع شوى دى د هغوى نه منع شي.

"يقولون مالا يفعلون مالا يؤمرون" د دوى خبرې د عمل سره موافقې نه وې، دوى هغه کارونه کول چې امر يې ورته نه وو شوى، وجه يې دا وه چې د دوى د غلطو طريقو سره مينه وه، د حق له خبرو څخه يې نفرت درلود، همدغه د يهوديانو صفت وو چې په قرآن کريم کې ذکر دى، (سمعنا وعصينا) موږ واورېدل ليکن د زړه نه يې نه منو، نافرماني مو وکړه.

"فمن جاهدهم بيده فهو مومن" ددې نه معلومه شوه چې امر بالمعروف او نهي عن المنکر په هر مسلمان باندې تر خپل طاقت پورې فرض ده، که داسې وويل شي چې دا کار د ايمان لپاره بنسټ دى، که هغه يې په لاس سره منع کړي نو د کامل ايمان خاوند دى، که په ژبه يې منع کړي، د هغه په کمال ايمان کې څه نه څه نقصان شته او که په زړه کې يې بد وګڼي؛ نو ايمان يې کمزورى دى او ددې نه لاندې د ايمان بله درجه نشته.

په هر حال د امير اطاعت لازم دى

"الثالث: عن أبي الوليد عبادة بن الصامت رضي الله عنه، قَالَ" د ابو الوليد عبادة بن صامت رضي الله عنه نه روايت دى هغه فرمايي چې: "بَايَعْنَا رَسُولَ اللهِ ﷺ عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ فِي الْعُسْرِ وَالْيُسْرِ" موږ د رسول الله ﷺ سره بيعت وکړو چې د هغه خبره به اورو او د هغه تابعداري به کوو په سختۍ او اسانۍ کې، "وَالْمَنْشَطِ وَالْمَكْرَهِ" په ښه او سخت دوارو حالتونو کې به د رسول الله ﷺ تابعداري کوو، "وَعَلَى أَثَرَةٍ عَلَيْنَا" او اګر چې بل کس ته په موږ باندې ترجيح ورکړي، "وَعَلَى أَنْ لَا نُنَازِعَ الْأَمْرَ أَهْلَهُ" او موږ به د خپلو حاکمانو سره جګړې نه کوو، "إِلَّا أَنْ تَرَوْا كُفْرًا بَوَاحًا عِنْدَكُمْ مِنَ اللهِ تَعَالَى فِيهِ بُرْهَانٌ" مګر دا چې کله په دوى کې تاسو ښکاره کفر ووينئ او په هغې کې ستاسو سره د الله ﷻ له طرفه څه دليل وي، "وَعَلَى أَنْ نَقُولَ بِالْحَقِّ أَيْنَمَا كُنَّا لَا نَخَافُ فِي اللهِ لَوْمَةَ لَائِمٍ" او بله خبره دا چې موږ به حق خبره کوو چېرته چې هم يو، موږ به د الله ﷻ په باره کې د ملامته کونکو د ملامتيا څخه نه وېرېږو. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

"الْمَنْشَطُ وَالْمَكْرَهُ": بفتح ميميهما: أي في السهل والصعب لفظ د منشط او مکره په فتح د دواړو ميمونو سره دى، معنى يې ده: سختي او اساني. "وَالْأَثَرَةُ": الاختصاص بالمشترك وقد سبق بيانها" په داسې معاملو کې استعماليږي چې د ټولو حق شريك وي او څوك پکې يو کس ته ترجيح ورکړي، "بَوَاحًا" بفتح الباء الموحدة بعدها واو ثم ألف ثم حاء مهملة: أي ظاهرا لا يحتمل تأويلا" لفظ د "بواحا" په فتح د "ب" موحده او وروسته ترې "واو" بيا "الف" بيا "ح" مهمله دى، ددې معنى ظاهرا دا ده چې د احتمال تاويل نه لري.

لغوي تحقيق:

بايعنا: "بايع مبايعة" باب مفاعله دی، ددې معنی ده خپل مينځ کې عهد کول، "بايعه بالخلافة وبويع بالخلافة" خلکو د هغه سره په خلافت باندې بيعت وکړو، خلکو د هغه خلافت ومنلو

المنشط: "نشط نشاطاً" باب سمع يسمع دی، ددې معنی ده: چست، تازه.

المكره: "كره كرهاً وكُرهاً وكراهة" باب سمع يسمع دی، ددې معنی ده، شی نه خوښول

كه ظاهراً په امير كې كفر وليدل شي هغه به معزول كولی شي:

تشريح د حديث مطلب دا دی چې كله په يو امير كې د امارت شرطونه موجود شي او د هغه امارت موجود شي، نو اوس د هغه سره جګړه جائز نه ده، هو! كه په دې امير كې ښكاره كفر موجود شي، نو اوس ورسره جګړه كول جائز دي، د بواح كفر نه مراد دا دی چې ظاهراً داسې كفري خبرې يا عمليات شروع كړي چې اسلام ته پكې نقصان او كفر ته پكې ګټه وي؛ نو په داسې حالت كې هغه د امارت نه معزول كول واجب دي او جګړه ورسره كول جائز دي

علامه قرطبي رحمه الله د بواح كفر مطلب دا بيان كړی دی چې ستا يقين وي چې دا كفر دی، د هغه په كفر كې شك نه وي، په داسې صورت كې هغه د امارت نه لرې كول جائز او جنګ ورسره كول واجب دي او علامه نووي رحمه الله فرمايي: د بواح كفر نه مراد دا دی چې هغه په ظاهره داسې ګناه كوي چې په حرمت يې دليل موجود وي او د هغې په ګناه والي كې هيڅ شك نه وي، بهر حال هر كله چې په امير كې داسې كارونه څرګند شي چې هغه صراحتاً كفر بلل كيږي، لكه: د غير الله نه غوښتنې، نذر ونياز، غير الله ته سجده لګول، د قبرونو طوافونه كول او داسې نور ... په دغه حالت كې په مسلمانانو واجب دي چې هغه د امارت نه معزول كړي.

د راوي عبادة بن صامت رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې عباده رضي الله عنه دی، كنيت يې ابو الوليد دی، د خزرج قبيلې سره يې تعلق دی، د پلار نوم يې صامت دی، د مور نوم يې قرة العين دی، په بدر او نورو جهادونو كې يې شركت كړی دی او په بيعت رضوان كې هم شريك ؤ، د ابوبكر صديق رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه په خلافت كې يې هم په مختلفو جهادونو كې شركت كړی ؤ، عمر رضي الله عنه په خپل خلافت كې د فلسطين قاضي جوړ كړی وو، د قرآن قاري هم وو، اصحاب صفه ته يې قرآن كريم ښودلو

عمر رضي الله عنه په خپل خلافت كې لر وخت شام ته هم ليږلی وو چې د هغه ځای خلكو ته تعليم وښيي، د قرائت سره يې په فقه كې هم مهارت درلود، يو ځل قتاده رضي الله عنه د هغه سره ملاقات وشو، نو قتاده رضي الله عنه وفرمايل چې "وكأن قد تفقه في دين الله" هغه په الهي دين كې فقيه دی

وفات: په څلور دېرشمه هجري كې د دوه اويا كالو په عمر كې وفات شو، د وفات په وخت يې خپل بچي ته نصيحت وكړو چې بچيه! په تقدير باندې يقين ساته! كنه نو د ايمان خير دې نشته، په كرم

ځای کې دفن دی؟ دې باره کې درې قوله دي: ځيني وايي: په رمله کې دفن دی، ځيني وايي: په فلسطين کې دفن دی او ځينو بيت المقدس ښودلی دی، په دې درې واړو خبرو کې اصلاً هيڅ تضاد نشته، ځکه چې رمله هم په فلسطين کې ده او بيت المقدس هم په فلسطين کې دی.

مرويات: د مروياتو شمېر يې تر يو سل يو اتيا پورې رسيږي، شپږ په بخاري او مسلم دواړو کې دي بيا بخاري رحمه الله په دوه حديثو کې منفرد دی.

که ظالم د ظلم نه منع نه کړل شي؛ نو عذاب به په ټولو راځي

"الرابع: عن النعمان بن بشير رضي الله عنهما، عن النبي ﷺ قَالَ" د نعمان بن بشير رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "مَثَلُ الْقَائِمِ فِي حُدُودِ اللهِ وَالْوَاقِعِ فِيهَا" د الله جل جلاله د حکمونو منونکو او نه منونکو مثال داسې دی: "كَمَثَلِ قَوْمٍ اسْتَهَمُوا عَلَى سَفِينَةٍ فَصَارَ بَعْضُهُمْ أَعْلَاهَا وَبَعْضُهُمْ أَسْفَلَهَا" چې هغوی په يوه کشتۍ کې د سپرېدو لپاره قرعه اندازي وکړي، ځيني يې د کشتۍ په پورتني چت او ځيني يې په لاندیني چت کې سپاره شي، "وَكَانَ الَّذِينَ فِي أَسْفَلِهَا إِذَا اسْتَقَوْا مِنَ الْمَاءِ مَرُّوا عَلَى مَنْ فَوْقَهُمْ" لاندیني چت والا به د اوبو لپاره پورتني چت ته تلل، (هغوی به پرې خفه کېدل) "فَقَالُوا: لَوْ أَنَّا خَرَقْنَا فِي نَصِيبِنَا خَرْقًا وَلَمْ نُؤْذِ مَنْ فَوْقَنَا" لاندیني چت والا په خپل مېنځ کې مشوره وکړه چې که موږ لاندې خپله حصه کشتۍ سوری کړو او پورتنيو خلکو ته په تکليف هم نه وي، د نزدې ځای نه به اوبه راواخلو، "فَإِنْ تَرَكُوهُمْ وَمَا أَرَادُوا هَلَكُوا جَمِيعاً" اوس که پورتني خلک دا لاندیني خلک منع نه کړي؛ نو لاندې او پورته به ټول تباه شي، "وَإِنْ أَخَذُوا عَلَى أَيْدِيهِمْ نَجَوْا وَنَجَوْا جَمِيعاً" او که چېرته يې ددې حرکت نه منع کړي؛ نو خپله به هم بچ شي او هغه نور به هم ځان سره بچ کړي. رواه البخاري.

"الْقَائِمُ فِي حُدُودِ اللهِ تَعَالَى: معناه: المنكر لها، القائم في دفعها وإزالتها" د "القائم في الخ" ددې معنی ده: د الله جل جلاله حدود ختمونکي يعني نافرمانه، "وَالْمُرَادُ بِالْحُدُودِ: مَا نَهَى اللهُ عَنْهُ، اسْتَهَمُوا: اقْتَرَعُوا".

تشريح: "والواقع فيها" د الله جل جلاله په حدودو کې واقع کېدونکي، يعني الله جل جلاله چې کوم حدونه ټاکلي دي، د هغې نه تجاوز کول او دا تجاوز په داسې ډول چې الله جل جلاله د کومو ګناهونو سزاګانې ټاکلي دي، مثلاً د زنا کار لپاره سل دورې دي، د شرابي لپاره اتيا دورې دي، ددې مرتکبين پرېښودل او هغوی ته شرعي سزا نه ورکول، په امر بالمعروف او نهي عن المنكر کې غفلت کول، نبي کريم ﷺ ددې ګناهونو کوونکو مثال داسې وښودلو، لکه په يوه کشتۍ کې چې سپاره وي او په دې کې لاندې طرفته سپاره خلک کشتۍ سوری کړي او پورتني خلک يې منع نه کړي؛ نو دواړه ډلې به هلاک شي، دغه شان د ګناه نه خلک نه منع کول او په دې باندې انکار نه کول د دوی به داسې حال شي لکه په کشتۍ کې چې د سپاره خلکو څنګه حال دی چې دواړه ډلې به هلاکې شي، "واتقوا فتنة لا تصيبن الذين ظلموا منكم خاصة" تاسو ځان وساتئ د هغه عذاب نه چې په تاسو کې به په خاصو ګناهګارو خلکو باندې نه راځي، بلکې عام عذاب به وي چې وچ او لانده دواړه به سوځوي.

"استهموا سفينة" په کشتۍ کې د پورتنۍ او لاندې حصو لپاره پچه واچول شي.

که يو کس غلط کار وکړي، نو سزا به يې ټولو ته ملاويږي:

"فكان الذي في أسفلها" (الذي) مفرد دی، په دې کې اشاره ده دې خبرې ته چې که دغه لاندې کسانو کې يو کس دا غلط کار وکړي؛ نو بيا يې هم ټولو ته نقصان رسيږي، د بخاري په روايت کې داسې الفاظ دي: "فكان الذين في أسفلها يمرون بالماء على الذين في أعلاها فتأذوا به".

د اوبو راخيستلو نه مراد څه دی؟

"إذا استقوا من الماء" کله چې هغوی د اوبو راخيستو لپاره پورتنی برخې ته راپورته شي، زيات شارحين رحمهم الله فرمايي چې ددې اوبو نه عامې اوبه مراد دي چې څښل کيږي او په استعمال کې راوستل کيږي، ليکن ځينې نور شارحين فرمايي چې ددې اوبو نه تشې متيازې مراد دي، چې په لاندې حصه کې يې کوم سړی په يو لوښي کې وکړي بيا پورته راوخيژي چې په سمندر کې يې توی کړي، نو پورتني خلکو ته په دې کې تکليف وي.

"لو أنا خرقنا نصيبنا خرقاً ولم نؤذ من فوقنا" که موږ په دې لاندينی حصه کې خاته سوری وباسو چې بيا به پورتنيو خلکو ته تکليف نه رسيږي، د بخاري په روايت کې دي دا: "فأخذ فأساً فجعل ينقر أسفل السفينة فأتوه فقالوا مالك؟ قال تأذيتم بي ولا بد لي من الماء" الفاظ نقل شوي دي.

"أخذوا على أيديهم" په دې کې يې د جمع صيغه ذکر کړې ده او د ګناه په ځای يې د مفرد صيغه ذکر کړه، په دې کې دې طرفته اشاره ده چې که يو کس ګناه وکړي نو ددې په بدله کې به ذمه داري په ټولو مسلمانانو پريوځي.

حاکمان چې تر څو لمونځ کوي، تر هغو به يې په خلاف بغاوت نه کيږي

"الخامس: عن أم المؤمنين أم سلمة هند بنت أبي أمية حذيفة رضي الله عنها، عن النبي ﷺ أنه قال: إنه يستعمل عليكم أمراء فتعرفون وتنكرون" د ام المؤمنين ام سلمه رضي الله عنها هند بنت ابي اميه حذيفه نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په تاسو باندې به داسې اميران مقرر شي چې د هغوی ځينې خبرې به تاسو ته ښې معلوميږي او ځينې به درباندې بدې لګيږي، "فمن كره فقد برئ، ومن أنكر فقد سلم" چا چې په دغو خبرو ناخوښي ښکاره کړه د هغه غاړه خلاصه شوه او چا چې هغه خبرې بدې وګڼلې هغه محفوظ شو، "ولكن من رضي وتابع" خو کوم کس چې پرې راضي شو او تابعدار شو، هغه کس به په هغوی کې شامل وي، "قالوا: يا رسول الله، ألا نقاتلهم؟ قال: لا، ما أقاموا فيكم الصلاة" صحابه کرامو وفرمايل: يارسول الله ﷺ! آيا موږ د هغوی سره جهاد ونه کړو؟ نبي اکرم ﷺ ورته وفرمايل: نه، تر څو پورې چې لمونځ کوي، تر هغه پورې به ورسره جهاد نه کوئ. رواه مسلم.

"معناه: من كره بقلبه ولم يستطع إنكاراً بيد ولا لسان فقد برئ من الإثم" ددې معنی دا ده: کوم کس چې يې په زړه بد وګڼي او ددې بد کار په لاس يا ژبه د بندولو طاقت ونه لري، نو داسې کس هم د ګناه نه خلاص دی، "وأدى وظيفته" او خپله وظيفه يعنې مکلفيت يې پوره کړو، "ومن أنكر بحسب طاقته فقد سلم من هذه المعصية" او

کوم کس چې د خپل طاقت مطابق په هغوی رد وکړي، نو داسې کس هم د ګناه د بوج څخه خلاص شو، "وَمَنْ رَضِيَ بِفِعْلِهِمْ وَتَابَعَهُمْ فَهُوَ الْعَاصِي" خو کوم کس چې د هغوی په بد عمل راضي شو او د هغوی تابع شو؛ نو داسې کس ګناهګار دی.

په جائزو کارونو کې د امير په اطاعت اجماع ده:

تشريح: علامه نووي رحمه الله فرمايي د حديث مطلب دا دی: کله چې د امير امارت په شرعي توګه نافذ شي؛ نو په جائزو کارونو کې د هغه اطاعت ضروري دی، البته په ناجائزه کارونو کې د هغه اطاعت ضروري نه دی، په جائزو کارونو کې د امير اطاعت ضروري دی، په دې باندې اجماع نقل ده.

د نبي کريم ﷺ پيش ګوئي (وړاندېز)

"إنه يستعمل عليكم أمراء فتعرفون وتنكرون" په تاسو به ځينې داسې مشران پيدا شي چې تاسو به د هغوی ځينې کارونه خوښوئ او ځينې نور به يې نه خوښوي، مطلب دا چې د امير نه کله کوم قبيح او خلاف شريعت کار ظاهر شي؛ نو په زړه کې به يې بد ګڼئ او په مناسب انداز به د هغه د اصلاح کوشش کوئ، کوم کس چې قلباً او عملاً د هغوی په حرکاتو خاموش پاتې شي، دی هم په دې ګناه کې ورسره برابر شريک دی

ايا خلک به هلاک کيږي تر څو چې نيک خلک موجود وي؟

"السادس: عن أم المؤمنين أم الحكم زينب بنتِ جحش رَضِيَ اللهُ عنها: أن النَّبيَّ ﷺ دخل عَلَيْهَا فَزِعاً، يقول: لا إلهَ إلاّ اللهُ، وَيْلٌ لِلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدِ اقْتَرَبَ" د زينب بنت جحش رضي الله عنها نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ يوه ورځ زما کور ته تشريف راوړو په داسې حال کې چې د ېر زيات د ويرې په حالت کې وو او دا کلمه يې ويل: "لا إله إلا الله" د عربو لپاره هلاکت دی، د هغه بدۍ له وجې چې په نزدې وخت کې راتلونکې ده، "فُتِحَ الْيَوْمَ مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلُ هذِهِ" نن د ياجوج او ماجوج د ديوال نه دومره حصه سوری شوې ده، "وحلق بأصبعيه الإبهام والتي تليها" او د سوري اندازه يې په دې شکل وښودل چې غټه او مسواکۍ ګوته يې حلقه کولو سره وښودل، "فقلتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَنَهْلِكُ وَفِينَا الصَّالِحُونَ؟ قَالَ: نَعَمْ، إِذَا كَثُرَ الْخَبَثُ" ام المومنين زينب بنت جحش رضي الله عنها فرمايي: ما د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه چې يا رسول الله ﷺ! آيا موږ هلاک کېدی شو؟ په داسې حال کې چې په موږ کې نېکان خلک موجود وي؟ نبي اکرم ﷺ ورته وفرمايل: هو! ولې به نه هلاک کيږئ کله چې خباثت زيات شي (يعنې زنا کاري او فسق زيات شي، نو نېکو خلکو په موجودګۍ کې به هم هلاک شئ؛ مُتَّفَقٌ عَلَيهِ

لغوي تحقيق:

ويل: "الويل" ددې معنی ده: شر او فساد، هلاکت او يا په دوزخ کې يوه کنده ده

ردم: "ردم ردماً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: بهبدل، د غور څېدلي ديوال ملبه

تشريح: "فزعاً" ددې معنی ده: وېرېدل، په بل روايت کې ددې پوره وضاحت راغلی دی،

"استيقظ النبي ﷺ من النوم محمراً وجهه ويقول" نبي كريم ﷺ له خوبه رابيدار شو او د هغه مخ مبارك سور ځليدو.
"ويل للعرب" د عربو لپاره هلاكت دى، عرب يې په خاص ډول ذكر كړل. ځكه چې په هغه زمانه كې عرب د اسلام له خاطره معزز وو، "من شر قد اقترب" د هغه شر نه چې نژدې راغلى دى، ددې نه د عثمان ﷛ شهادت مراد دى، ددې شهادت وروسته پرلپسې فتنې شروع شوې.

د شر نه مراد څه دى؟

علامه قرطبي رحمه الله فرمايي: د شر نه مراد هغه دى چې ام سلمه ﷝ بيان كړى دى، يوه ورځ نبي كريم ﷺ وفرمايل: "ماذا أنزل الليلة من الفتن وماذا أنزل من الخزائن" نن شپه څومره زياتې فتنې نازلې شوې او د الله ﷻ څومره خزانې هم نازلې شوې، د نبي كريم ﷺ نه وروسته ډېرې زياتې فتحې وشوې، بيا په خلكو كې د مال په اعتبار سره مقابلې شروع شوې، د يو بل نه په مالدارى كې وړاندې كېدل، "فتح اليوم من ردم يأجوج ومأجوج" دا هغه دېوال دى چې د ياجوج ماجوج د فتنې نه د بچ كېدو لپاره د الله ﷻ په امر ذو القرنين جوړ كړى دى، ددې ذكر په سورت كهف كې شته.

كله چې خباثت غالب شي:

"نعم إذا كثر الخبث" هو! كله چې خباثت زيات شي، علامه نووي رحمه الله فرمايي: كله چې خباثت زيات شي؛ نو په داسې وخت كې به عمومي عذاب راځي. ښه او بد به ټول پكې هلاكيږي، هوا كه هغوى خلكو ته حق خبره بيانول او هغوى نه منل، نو د قيامت په ورځ به دوى ددې فاسقو خلكو څخه جدا كيږي، "ثم يبعث كل أحد على نيته" د قيامت په ورځ به هر سړى د خپل نيت موافق د قبر نه پورته كيږي.

د راوي أم المؤمنين زينب بنت جحش ﷝ حالات:

اصل نوم يې زينب ﷝ دى، كنيت يې أم الحكم دى، د قريشو خاندان اسد بن خزيمه سره يې تعلق درلود، د پلار نوم يې جحش بن رباب وو، د مور نوم يې اميمه ده، دا د نبي كريم ﷺ حقيقي د ترور لور وه، د هغې د اسلام په اړه د اسد الغابه مصنف (علامه ابن الاثير رحمه الله) فرمايي چې "قديماً اسلام" راوړنكې ده.
لومړى نكاح يې د زيد بن حارثه ﷛ سره شوې وه چې د نبي كريم ﷺ آزاد كړى غلام او متبنى زوى يې دى، ددې نه وروسته د نبي كريم ﷺ په نكاح كې راغله، نبي كريم ﷺ د هغې سره زياته مينه درلوده، ددې وجې عائشه ﷝ فرمايي: "هي التي كانت تساوني منهن في المنزلة عند رسول الله" په ميرمنو كې به هغې زما سره په عزت او مرتبه كې مقابله كول، ډېره اخلاقي او عبادتګزاره ميرمن وه، ام سلمه ﷝ به خپله فرمايل: "كانت زينب صالحة صوامة قوامة" زينب ﷝ ډېره نېكه، روژه داره او لمونځ ګزاره ميرمن وه.
وفات: د هغې انتقال په شلمه هجرى كې د درې پنځوسو كالو په عمر كې وشو، د نبي كريم ﷺ سره يې چې كله نكاح كېده؛ نو ۆ اته دېرشو كالو عمر يې درلود، علامه واقدي رحمه الله پنځه دېرش كاله ﴿١﴾ بيان كړي دي، خو د اكثره علماوو په نزد لومړى قول راجح دى.
مرويات: د مروياتو شمېر يې يوولس دي، په دوه روايتونو كې بخاري او مسلم متفق عليه دي

د لارې څه حقونه دي؟

"السابع: عن أبي سعيد الخُدري ﷺ، عن النَّبيِّ ﷺ، قَالَ: إِيَّاكُمْ وَالجُلُوسَ فِى الطُّرُقَاتِ" د ابو سعيد خدري ﷺ روايت دی، فرمايي چې نبي اکرم ﷺ وفرمايل: اې خلکو! په لاره کې د ناستې څخه ځانونه وساتئ! "فقالوا: يَارَسُول الله، مَا لَنَا مِنْ مجَالِسنَا بُدٌّ، نَتحدث فِيهَا" صحابه کرامو وفرمايل: يا رسول الله ﷺ! په لارو کې د مجلسونو او ناستې نه بغير زمونږ چاره نشته، "فَقَالَ رسولُ الله ﷺ: فَإِذَا أَبَيْتُمْ إلاَّ المَجْلِسَ، فَأَعْطُوا الطَّرِيقَ حَقَّهُ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: کله چې ستاسو په لارو کې ناسته ډېره ضروري ده؛ نو بيا تاسو د لارې حق ادا کړئ! "قَالُوا: وما حَقُّ الطَّرِيقِ يَا رسولَ الله؟" صحابه کرامو وفرمايل: اې د الله تعالی رسوله! د لارې حق څه دی؟ "قَالَ: غَضُّ البَصَرِ، وَكَفُّ الأَذَى، وَرَدُّ السَّلامِ، وَالأمْرُ بِالمَعْرُوفِ، والنَّهيُ عنِ المُنْكَرِ" نبي کريم ﷺ وفرمايل: د لارې حق دا دی چې سترګې بايد ښکته وي، د لارې نه ضرري شی لرې کول، د سلام ځواب ورکول او امر بالمعروف او نهي عن المنکر کول. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ.

لغوي تحقيق:

أبيتم: "بات بيتا وبياتاً وبيتوتةً" ضرب يضرب باب دی، ددې معنی ده: چېرته شپه تېرول

غض: "غض غضاضةً" باب سمع يسمع او ضرب يضرب دی، د سترګو نظر ښکته ساتل، ونې بوټې تازه کېدل

كف: "كف كفا وكفافةً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: ځان ساتل، بندول

رد: "رد، رداً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: واپس کېدل

د لارې څوارلس حقونه دي:

"يارسول الله ﷺ! مالنامن مجالسنا؟" اې د الله تعالی رسوله! زمونږ مجلسونو ته د لارو ضرورت دی، نبي کريم ﷺ وفرمايل: بيا د لارې حق ادا کړئ، د لارې حق دا دی چې د سترګو نظر ښکته وساتل شي، تکليف ورکوونکی شی د لارې څخه لرې کړې، د سلام ځواب ورکړې، د نېك عمل امر وکړې، له بدو کارونو څخه خلك منع کړې، په يو بل روايت کې ددې نوره اضافه هم شوې ده، هغه دا چې لاروي ته لار ښودل، کوم سړي چې زيات پنډ په سر اېښی وي د هغه سره مدد کول، د مظلوم او مصيبت زده سړي سره مرسته کول، ښې خبرې کول، پرنجي کوونکي ته ځواب ورکول، ځينو نورو علماوو څوارلس ادبونه ذکر کړي دي چې هغه ټول يې په شعر کې ذکر کړي دي:

جمعت آداب من رام الجلوس على ال	طريق من قول خير الخلق انساناً
افش السلام واحسن فى الكلام واشم	ت عاطساً وسلاماً رد احساناً
فى الحمل عاون مظلوماً اعن اغث	لهفان أهد سبيلا واهد حيرانا
بالعرف مر وانه عن المنكر وكف اذى	وغض طرفاً وأكثر ذكر مولانا

د يو صحابي ايماني غيرت

"الثامن: عن ابن عباس رضي الله عنهما: أن رَسُول اللهِ ﷺ رأى خاتَماً مِنْ ذهب في يد رجل فنزعه فطرحه" د عبد الله بن عباس ﷜ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ د يو کس په لاس کې د سرو زرو ګوتمه وليده، نو هغه يې ترې راوويستل او وې غورځول، "وَقَالَ: يَعمِدُ أحَدُكُمْ إلى جَمْرَةٍ مِنْ نَارٍ فَيَجْعَلُهَا في يَدِهِ!" په تاسو کې ځينې کسان د پوهې سره په خپل لاس د اور سکروټې اچوي، "فقيل للرجل بعد ما ذهب رَسُول اللهِ ﷺ: خُذْ خَاتَمَكَ انتَفِعْ بِهِ" کله چې نبي اکرم ﷺ لاړو، نو چا هغه کس ته وويل چې ګوتمه دې راواخله او بله فايده ترې واخله "قَالَ: لا والله لا آخُذُهُ أبداً وَقَدْ طَرَحَهُ رسولُ الله ﷺ" هغه کس وويل: نه، په الله ﷻ مې قسم وي چې هيڅ کله به يې راوانخلم، حال دا چې هغه ګوتمه رسول الله ﷺ غورځولې ده. رواه مسلم.

لغوي تحقيق:

فنزعه: "نزع نزعاً" د ضرب يضرب باب دی، ددې معنی ده: راښکل، راويستل.
فطرحه: "طرح طرحاً" باب فتح يفتح دی، ددې معنی ده: غورځول، لرې کول.
الجمرة: "الجمر" ددې واحد دی، ددې معنی ده: سکروټې.

سړی به د سرو زرو ګوتمه نه په لاس کوي:

"رأى خاتماً من ذهب في يد رجل" ددې نه معلومه شوه چې لکه ځرنګه د سرو لپاره د سرو زرو شيان استعمال حرام دي، دغه شان د سرو زرو ګوتمه په لاس کول هم حرام دي او د ښځو لپاره حلال دي، لکه د يو روايت نه معلوميږي چې سره زر او وريښم زما د امت په نارينه وو باندې حرام دي او د ښځو لپاره جائز دي.

ددې نه دا هم معلوم شوه چې د واده او کوزدې په وخت سړي ته چې د سرو زرو کومه ګوتمه په لاس ورکوي، هغه بالکل حرامه ده، "فنزعه فطرحه" هغه وويستل او وې غورځول، ددې نه معلومه شوه چې که د کوم کس په لاس يو غير شرعي کار منع کولی شي او طاقت يې لري؛ نو بايد چې په لاس يې ختم کړي، لکه ځرنګه چې دلته رسول الله ﷺ په خپلو لاسو مبارکو باندې دا کار منع کړو، "إذا رأى أحد منكم منكراً فليغيره بيده" کله چې په تاسو کې کوم سړی يو غير شرعي کار ووينې، که طاقت يې وي چې په لاس يې منع کړي، بايد په لاس يې منع کړي، "خذ خاتمك انتفع به" ګوتمه را پورته کړه او په دې سره نوره فايده حاصله کړه، دد صحابي انتهايي ايماني غيرت وکړو، کنه نو دغه ګوتمه يې په نورو کارونو کې هم استعمالولی شول.

بد ترين حاكمان هغه دي چې ظالمان دي

"التاسع: عن أبي سعيد الحسن البصري: أن عائذ بن عمرو ﷺ دخل على عُبَيْدِ اللهِ بن زياد، فَقَالَ: أي بُنَيَّ" د ابو سعيد حسن بصري رحمه الله نه روايت دی، فرمايي چې عائذ بن عمرو ﷺ د عبيد الله بن زياد مجلس ته راغلو او ورته يې وويل: اې بچيه! "إني سمعت رَسُول اللهِ ﷺ، يقول: إِنَّ شَرَّ الرِّعَاءِ الحُطَمَةُ، فَإِيَّاكَ أَنْ تَكُونَ مِنْهُمْ" ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي چې فرمايل يې: بد ترين حاكمان هغه دي چې خلك پائمال كوي (يعنې د خلكو سره ظلم كوي او د هغوی حقونه پايمال كوي) نو گوره ځان وساته چې ته د هغوی له ډلې نه شې! "فَقَالَ لَهُ: اجلس فَإِنَّمَا أَنتَ مِنْ نُخَالَةِ أَصْحَابِ مُحَمَّدٍ ﷺ" عبيد الله وويل: بس كړه، دا خبره پرېږده او كېنه! ته هم د نبي كريم ﷺ د صحابه وو ﷺ په بوسو كې يې! "فَقَالَ: وهل كَانَتْ لَهُمْ نُخَالَةٌ إِنَّمَا كَانَتِ النُّخَالَةُ بَعْدَهُمْ وَفِي غَيْرِهِمْ" هغه ورته وويل: د نبي كريم ﷺ په اصحابو ﷺ كې بوس نه وو، د هغوی نه وروسته په مسلمانانو او كافرانو كې بوس پيدا شول. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

الحطمة: "ددې معنى ده: ظالم او بې حده ظالم شپونكى.

النخالة: ددې معنى ده: بوس.

ايا صحابه كرام ﷺ د بوسو په څېر وو؟

تشريح: "أنت من نخالة" ته خو د بوسو په شان يې، د حديث مطلب دا دی چې د بصرې والي عبيد الله بن زياد چې د حسين ﷺ قاتل ؤ، ډېر ظالم والي ؤ، دده په وړاندې عائذ بن عمرو ﷺ ډېر په جرات سره د حق خبره وكړه، په دې خبره عبيد الله بن زياد د رسول الله ﷺ اصحابو ته بوس وويل چې هغوی ﷺ نعوذ بالله د بوسو په شان وو، هغه سمدستي ځواب وركړو چې د رسول الله ﷺ اصحاب بوس نه دي، بلكې بوس د رسول الله ﷺ د اصحابو نه وروسته پيدا شوي دي، د رسول الله ﷺ اصحابو باره كې خپله رسول الله ﷺ فرمايلي دي: د دوی مثال د ستورو په شان دی، دوی به تر قيامته پورې د راتلونكو خلكو لپاره سرداران وي، په دې باندې د ټولو خلكو اتفاق دی چې صحابه كرام سل په سله كې عدول وو، "الصحابه كلهم عدول".

د راوي حسن بصري رحمه الله مختصر حالات:

اصل نوم يې حسن رحمه الله دی، كنيت يې ابوسعيد دی، د پلار نوم يې يسار ده، مور او پلار يې غلامان وو، په يوويشتمه هجري كې پيدا شوی دی، هغه وخت چې د عمر فاروق ﷺ د خلافت دوه كاله پاتې وو، حسن بصري رحمه الله ته ام المومنين ام سلمه ﷺ شيدې هم وركړي دي، وجه دا وه چې د دوی مور به د كور په كار كې مشغوله وه، نو حسن بصري رحمه الله به په ژړا شو، ام المومنين ام سلمه ﷺ به راواخيست او خپلې سينې ته به يې واچولو، هغه ته به يې شيدې وركولې، حسن رحمه الله د ام سلمه ﷺ په تربيت كې لوی شو، ددې نه علاوه د نورو ازواج مطهراتو په كورونو كې يې هم تربيت شوی دی، ددې

برکت دا شو چې حسن رحمه الله علمي او روحاني هر اعتبار سره د کمال نه ډک شو.

ابن سعد رحمه الله فرمايي چې: "كان الحسن جامعاً عالماً رفيعاً فقيهاً مأموناً عابداً ناسكاً كثير العلم فصيحاً جميلاً الخ" حسن بصري رحمه الله د جامع صفاتو عالم ؤ، الله ﷻ لوړ مقام ورته نصيب کړی وو، فقيه مامون رح، عابد او زاهد وو، ستر عالم، فصيح او بليغ انسان وو، ډېره ښکلې څېره يې درلوده، حافظ ابن حجر رحمه الله دده په حق کې فرمايي چې: "علامة من بحور العلم فقيه النفس بليغ الموعظة" علامه نووي رحمه الله فرمايي: د دوی په فقاهت او لوړ مقام باندې د ټولو اتفاق دی.

وفات: د مرګ په آخري لمحو کې يې يو کاتب راوغوښتلو او ورته يې وفرمايل: وليکه چې حسن ددې شاهدي ادا کوي چې: "لا إله إلا الله محمد رسول الله" کوم کس چې په رښتوني زړه ددې شاهدي ادا کړي هغه به جنت ته داخليږي، په يو سل دولسم هجري کې د جمعې په شپه وفات شو، محدث ايوب رحمه الله او حميد طويل رحمه الله ورته غسل ورکړو، د جمعې په ورځ يې جنازه وشوه، دومره مخلوق ورته راغلی وو چې ټول ښار خالي شوی وو، د بصرې په جامع جوماتو کې څوك د مازيګر د جماعت لمونځ ورکوونکی پاتې نه وو.

په امر بالمعروف او نهي عن المنکر پرېښودلو باندې په دنيا کې عذاب راځي:

"العاشر: عن حذيفة ﷺ، عن النبي ﷺ قال: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ، وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ" د حذيفه ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: قسم مې دی په هغه ذات چې په لاس کې يې زما ساه ده يا خو به تاسو امر بالمعروف او نهي المنکر کوئ دا ستاسو فريضه ده، "أَوْ لَيُوشِكَنَّ اللهُ أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عِقَابًا مِنْهُ" کنه ډېر زر به الله ﷻ په تاسو باندې عذاب رانازل کړي، "ثُمَّ تَدْعُونَهُ فَلَا يُسْتَجَابُ لَكُمْ" بيا به الله ﷻ په تاسو باندې عذاب رانازل کړي، بيا به تاسو د الله ﷻ نه سوالونه کوئ او دعاګانې به کوئ؛ خو الله ﷻ به يې نه قبلوي. رواه الترمذي، وقال: ((حديث حسن)).

امر بالمعروف او نهي عن المنکر پرېښودلو سره دعاګانې نه قبليږي:

تشريح: د حديث مطلب دا دی چې تر څو پورې تاسو امر بالمعروف او نهي عن المنکر فريضه ادا کوئ، نو د الله ﷻ له طرفه به رحمتونه او برکتونه نازليږي، الله ﷻ به ستاسو دعاګانې قبلوي او که خدای مه کړه؛ تاسو په دې اهمه او ستره فريضه کې سستي وکړه، د الله ﷻ له طرفه به په تاسو باندې عذابونه راځي او بيا به تاسو دعاګانې کوئ خو دعا به مو نه قبليږي، ددې تائيد په يو بل حديث سره هم شوی دی، رسول الله ﷺ وفرمايل: دوه خبرې دي چې په دې کې يوه ضروري ده، که تاسو امر بالمعروف او نهي عن المنکر فريضه سر ته ورسول، نو دعاګانې به مو قبليږي او که دا کار مو پرېښودلو، نو الله ﷻ به په تاسو باندې رحم نه کوي او داسې خلك به درباندې مشران کړي چې په تاسو به رحم نه کوي، دغه مهال به ستاسو نېکان خلك دعاګانې غواړي؛ خو د هغوی دعاګانې به هم نه قبليږي

د ظالم پاچا په وړاندې حق خبره غوره جهاد دی

"الحادي عشر: عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه، عن النبي ﷺ، قال: أَفْضَلُ الْجِهَادِ كَلِمَةُ عَدْلٍ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ" د ابو سعيد خدري رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: غوره جهاد دا دی چې د ظالم بادشاه په وړاندې د حق خبره وکړې! رواه أبوداود والترمذي، وقال: ((حديث حسن)).

د جهاد مراتب:

تشريح: د جهاد مختلف مراتب دي: د نېك عمل حكم هم جهاد دی، د نفس خلاف عمل كول هم جهاد دی او د دښمن په وړاندې مبارزه كول هم جهاد دی، خو په دې حديث كې غوره جهاد هغه ته وويل شو چې د ظالم حاكم په وړاندې د حق خبره وكړي، ددې وجه علامه خطابي رحمه الله داسې بيان كړې ده چې د دښمن په وړاندې په دوه خبرو كې يوه خبره لازماً وي، لومړی دا چې د خان بچ كېدو اميد يې وي، دويم دا چې شهادت ورته نصيب شي، خو د ظالم پاچا په وړاندې حق خبره كوونكي ته صرف او صرف خپل مرگ ښكاري.

ملا علي قاري رحمه الله ددې وجه داسې بيان كړې ده چې د ظالم پاچا په وړاندې حق خبره كولو ته خكه افضل جهاد وويل شو چې د پاچا د مشرۍ لاندې رعايا/ عوام وي، كه هغه د خپل خان خيال ساتلو پرته ظالم پاچا د ظلم نه منع كړو، نو لكه چې هغه د ټولو خلكو سره احسان وكړو، خكه ورته افضل جهاد وويل شو.

د ظالم پاچا په وړاندې حق خبره تر ټولو ستر جهاد دی

"الثاني عشر: عن أبي عبدالله طارق بن شهاب البجلي الأحمسي رضي الله عنه: أَنَّ رجلاً سأل النبي ﷺ وقد وضع رجله في الغرز: أيُّ الجهاد أفضل؟" د ابو عبد الله طارق بن شهاب بجلي احمسي رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې يو كس د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وكړه، په داسې حال كې چې نبي اكرم ﷺ پښه مباركه د اوښ په پايدان (ركاب) كې ايښې وه، كوم جهاد ډېر غوره دی؟ "قَالَ: كَلِمَةُ حَقٍّ عِنْدَ سُلْطَانٍ جَائِرٍ" نبي اكرم ﷺ وفرمايل: د ظالم بادشاه په وړاندې حق خبره كول غوره جهاد دی. رواه النسائي بإسناد صحيح.

"الغرز: بغين معجمة مفتوحة ثم راء ساكنة ثم زاي: وهو ركاب كور الجمل إذا كان من جلد أو خشب وقيل: لايختص بجلد وخشب" الغرز په غين معجمه مفتوحه سره دی، بيا (ر) ساكنه ده، بيا (ز) ده، معنی يې ده: د اوښ هغه پايدان چې د څرمنې او يا د لرگي نه جوړ وي او چا ويلي دي چې دا په لرگي يا څرمن پورې تخصيص نه لري.

الغرز: "غرزه غرزاً" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: په ركاب كې پښه كېښودل

تشريح "غرز" پالان ته ويل كېږي، يعنې د اوښ يا اسپي لاندې ركاب چې پښه پكې كېښودل كېږي، كله چې هغه د لرگي يا د څرمنې نه جوړ وي او څينو ويلي چې "غرز" هر ركاب ته ويل كېږي، هغه كه د څرمنې وي او كه د لرگي او يا ددې نه علاوه د بل شي څخه جوړ وي

جائر: ظالم ته ويل كېږي، په لغت كې ظلم بې اعتدالی ته ويل كېږي، بيا دا په هر هغه ځای كې

استعماليږي چې بې انصافي او بې اعتدالي پکې کيږي، ظالم يا جائر هغه پاچا ته ويل کيږي چې د خپل ولس سره ظلم او بې انصافي کوي، ظالم او جائر پاچا ته هغه څوك حق خبره کولى شي چې ايمان يې کامل وي، د خپل خان غم ورسره نه وي، د دښمن سره په مقابله کې دومره د سختۍ سزا اميد نه وي لکه څومره چې د ظالم پاچا په وړاندې حق خبره کولو کې يې اميد وي.

د راوي ابو عبد الله طارق بن شهاب بجلي رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې طارق رضي الله عنه دى، کنيت يې ابو عبد الله دى، د پلار نوم يې شهاب دى، د بجلي قبيلې سره يې تعلق درلود، هغوى رضي الله عنه د جهالت او اسلام دواړو زمانه ليدلې ده، د نبي کريم ﷺ صحبت يې اختيار کړو، د ابوبکر صديق رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه په زمانو کې درې دېرش يا څلور دېرش خله په جهاد کې شريك شوى دى، په آخر کې کوفې ته لاړو، هلته يې مستقل سکونت اختيار کړو.

وفات: انتقال يې په کوفه کې په دوه اويايمه هجري يا په درې اويايمه هجري کې وشو.

مرويات: يو څو روايتونه ترې نقل شوي دي، په بخاري او مسلم کې ترې هيڅ روايت نشته، روايات يې په سنن ابوداؤد او نسائي کې موجود دي

امر بالمعروف او نهي عن المنكر د رحمت باعث دى

"**الثالث عشر:** عن ابن مسعود رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: إِنَّ أَوَّلَ مَا دَخَلَ النَّقْصُ عَلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ" د عبد الله بن مسعود رضي الله عنه روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: اولنى نقصان چې په بني اسرائيلو کې داخل شو، هغه دا وو چې: "أَنَّهُ كَانَ الرَّجُلُ يَلْقَى الرَّجُلَ، فَيَقُولُ: يَا هٰذَا، اتَّقِ اللهَ وَدَعْ مَا تَصْنَعُ فَإِنَّهُ لَا يَحِلُّ لَكَ" کله به يو کس د بل کس سره ملاقات وشو او هغه به يې په بد عمل وليدو، نو هغه به ورته وويل: اې فلانکيه! د الله جل جلاله نه ووېرېږه او د ګناه کار پرېږده! دا ستا لپاره جائز نه دى، "ثُمَّ يَلْقَاهُ مِنَ الْغَدِ وَهُوَ عَلَى حَالِهِ، فَلَا يَمْنَعُهُ" په دويم سهار به يې بيا هم په هغه حالت کې وليدو چې د ګناه په کار کې به مشغول وو، دا ځل به يې نه منع کولو، "ذٰلِكَ أَنْ يَكُونَ أَكِيلَهُ وَشَرِيبَهُ وَقَعِيدَهُ" دا ځکه چې دا کس د هغه د ناستې پاستې او د خوراك څښاك وغيره ملګرى وو، "فَلَمَّا فَعَلُوا ذٰلِكَ ضَرَبَ اللهُ قُلُوبَ بَعْضِهِمْ بِبَعْضٍ" کله چې اکثره داسې وشول چې د ګناه نه به يې نه منع کولو، نو الله جل جلاله د دوى زړونه د يو بل سره مشابه کړل، "ثُمَّ قَالَ: لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ عَلَى لِسَانِ دَاوُدَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ" بيا نبي اکرم ﷺ وفرمايل: د داؤد عليه السلام او د عيسى عليه السلام په ژبه لعنت وکړى شو په هغو کسانو چې د بني اسرائيلو څخه کافران شوي وو، "ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَكَانُوا يَعْتَدُونَ" دا په سبب د دې چې دوى به نافرماني کول او د حد نه به يې زيات تجاوز کولو، "كَانُوا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُنْكَرٍ فَعَلُوهُ لَبِئْسَ مَا كَانُوا يَفْعَلُونَ" دوى به د منکر او ناروا کارونو څخه منع نه کول، هغه چې دوى به کول، بد دي هغه کارونه چې دوى به يې کوي، "تَرَى كَثِيرًا مِنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَبِئْسَ مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ أَنْفُسُهُمْ" ته به په دوى کې ډېر زيات ووينې چې د هغو کسانو سره به دوستي کوي چې کافران دي، بس بد دي هغه څه چې دوى يې خاتمه د قيامت څخه وړاندې کوي، "إِلَى قوله - فَاسِقُونَ" تر دې قوله پورې چې فاسقون دي. [المائدة: ۷۸-۸۱] "ثُمَّ قَالَ: كَلَّا وَاللهِ

لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ، وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ" بيا نبي اكرم ﷺ وفرمايل : داسې نه ده؛ تاسو به خامخا خلك نيكو كارونو ته رابولئ او خامخا به خلك د بدو كارونو څخه منع كوئ. "وَلَتَأْخُذُنَّ عَلَى يَدِ الظَّالِمِ" او تاسو به خامخا د ظالم سړي لاس نيسئ! "وَلَتَأْطِرُنَّهُ عَلَى الْحَقِّ أَطْراً" حق خبرې ته به يې راكش كړئ! "وَلَتَقْصُرُنَّهُ عَلَى الْحَقِّ قَصْراً" په حق خبره بې مجبور كړئ! "أَوْلَيَضْرِبَنَّ اللهُ بِقُلُوبِ بَعْضِكُمْ عَلَى بَعْضٍ، ثُمَّ لَيَلْعَنَنَّكُمْ كَمَا لَعَنَهُمْ" كنه نو الله ﷻ به ستاسو زړونه هم د يو بل په شان كړي او بيا به په تاسو هم داسې لعنت وكړي، لكه په هغوى يې چې لعنت ولېږلو رواه أبوداود والترمذي، وَقَالَ: ((حديث حسن)).

"هَذا لفظ أبي داود، ولفظ الترمذي، قَالَ رَسُول الله ﷺ: لَمَّا وَقَعَتْ بَنُو إسْرَائِيلَ فِي الْمَعَاصِي نَهَتْهُمْ عُلَمَاؤُهُمْ فَلَمْ يَنْتَهُوا" د عبد الله بن مسعود ﷺ روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل كله چې بني اسرائيل په ګناهونو كې ګرفتار شول، علماوو يې غوښتل چې منع يې كړي، نو منع نه شول. "فَجَالَسُوهُمْ فِي مَجَالِسِهِمْ، وَوَاكَلُوهُمْ وَشَارَبُوهُمْ" نو بيا دغه مولويانو ددغو خلكو سره ناسته ولاړه خوراك څښاك وغيره شروع كړل. "فَضَرَبَ اللهُ قُلُوبَ بَعْضِهِمْ بِبَعْضٍ" نو الله ﷻ د دغو مولويانو او عوامو زړونه سره مشابه كړل، "وَلَعَنَهُمْ عَلَى لِسَانِ دَاوُدَ وعيسى ابنِ مَرْيَمَ ذَلِكَ بِمَا عَصَوا وَكَانُوا يَعْتَدُونَ" الله ﷻ په دوى باندې د داؤد عليه السلام او عيسى عليه السلام په ژبه لعنت رانازل كړو، "فَجَلَسَ رَسُول الله ﷺ وكان مُتَّكِئاً، فَقَالَ: لا، وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ حَتَّى تَأْطِرُوهُمْ عَلَى الْحَقِّ أَطْراً" نبي اكرم ﷺ تكيه وهلې وه چې كېښستلو او وې فرمايل نه داسې نه ده؛ زما دې قسم وي په هغه ذات چې زما روح يې په قبضه كې ده، تاسو به دوى حق خبرې ته رابولئ او حق ته ته به يې په زوره مجبوروئ!

"قوله: تأطروهم: أي تعطفوهم" حق ته ته بې مائل كړئ "ولتقصرنه: أي لتحبسنه" او په حق خبره يې ودروئ.

لغوي تحقيق:

النقص: "النقيصة" ددې معنى ده : خراب خصلت، بد عيبونه؛ بد عادتونه.

دع: "ودع يدع ودعاً الشئ" ددې معنى ده : امانت كېښودل.

ولتطرنه: "اطره اطراً" باب ضرب يضرب دى، ددې معنى ده : راوړل، يوې حقې مسئلې ته مجبور كول.

د ښو خلكو زړونه به هم د خرابو خلكو زړونو په شان شي:

تشريح "ضرب الله قلوب بعضهم ببعض" ملا علي قاري رحمه الله ددې ترجمه داسې كړې ده چې د دوى د ملايانو او د بدو خلكو زړونه سره يو شي شو، ملا علي قاري رحمه الله زياتوي چې په (ببعض) كې "ب" د سببيت لپاره دى، اوس به ددې معنى داسې شي چې الله ﷻ ددې ګناهګارو خلكو په وجه ددې ښو خلكو زړونه هم تور كړل، په دې وجه د دوى زړونه سخت شول، بيا په دې ټولو باندې د الله ﷻ سخت عذاب نازل شو.

په شروع كې به د بني اسرائيلو ملايانو خپل عوام په مسئله پوهول، خو عوام چې به سمه لار روان نه شول، نو بيا د دوى ملايانو هم هغه كارونه شروع كړل چې د دوى عوامو به كول، حالانكې د دوى

ملايانو ته پکار وه چې که کم از کم د دوی خبرې يې نه منلې؛ نو د ديني غيرت له امله يې بايد ناسته او ولاړه ورسره نه وای کړې، ليکن دوی ورسره ناستې پاستې څه چې هغه کارونه شروع کړل چې د دوی عوامو به هم نه کول، همدغه وجه ده چې "لكل مجلس تأثير".

"لتأمرن بالمعروف ولتنهون عن المنكر" په الله ﷻ قسم چې تاسو به ضرور امر بالمعروف او نهي عن المنكر کوئ؛ لکه څرنګه چې د قرآن کريم او د رسول الله ﷺ د حديثو نه دا خبره واضحه ده چې امر بالمعروف او نهي عن المنكر ددې امت په غاړه يوه لويه ذمه واري ده.

د دعوت کارکوونکو ته تسلي

"الرابع عشر: عن أبي بكر الصديق ﷺ، قال: يَا أَيُّهَا النَّاسُ، إِنَّكُمْ لَتَقْرَؤُونَ هٰذِهِ الآيَةَ" د ابو بکر صديق ﷺ روايت دی، فرمايي: اې خلکو! تاسو دا آيت لولئ: "يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ" خبردارا هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی په تاسو باندې لازم دی د خپل ځان هدايت، "لَا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ" تاسو ته هغه خلك هيڅ ضرر او تکليف نه شي رسولئ چې خپله ګمراه وي او تاسو په هدايت وئ. [المائدة: ۱۰۵] "وإني سمعت رَسُولَ الله ﷺ، يقول: إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوُا الظَّالِمَ فَلَمْ يَأْخُذُوا عَلَى يَدَيْهِ" او ما خپله د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي چې فرمايل يې: کله چې خلك يو ظالم په ظلم باندې ووينې او هغه منع نه کړي، "أَوْشَكَ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللهُ بِعِقَابٍ مِنْهُ" نو نژدې ده چې الله ﷻ تاسو ټول په عمومي عذاب کې ګرفتار کړي، "رواه أبو داود والترمذي والنسائي بأسانيد صحيحة" دا حديث ابوداؤد، ترمذي او نسائي په صحيح سند سره روايت کړی.

لغوي تحقيق:

تقرؤون: "قرأ وقراءة" باب نصر ينصر او فتح يفتح دواړو څخه دی، ددې معنی ده: لوستل.

أوشك: "وشك وشكاً وشكاكة" باب کرم يکرم دی، ددې معنی ده: تلوار کول، تيزي کول، تېز مزل کول او نژدې راتلل، ددې په خبر کې زيات وخت لفظ د (أن) راځي.

ددې آيت تعارض د نورو ايتونو سره او د هغې ځواب:

"يا أيها الناس إنكم تقرؤون هذه الاية: (يأيها الذين آمنو عليكم انفسكم الخ" ترجمه: اې خلکو! تاسو دا آيت تلاوت کوئ، اې مؤمنانو! تاسو د خپل ځان خيال وساتئ؛ هغه خلك به تاسو ته هيڅ ضرر ونه رسوي، د آيت ظاهري مطلب دا دی چې هر انسان ته پکار ده صرف د خپل ځان او عمل خيال وساتي او په دې فکر کې مشغول شي، د نورو خلکو خيال ورسره نه وي، خو دا مطلب اخيستل د قرآن کريم د ګڼ شمېر ايتونو خلاف دی، په کومو ايتونو کې چې د "امر بالمعروف او نهي عن المنكر" تذکره شوې ده او کوم عمل ته چې د رسول الله ﷺ د امت خانګړی عمل ويل شوی دی، په دې وجه چې کله دا آيت نازل شو، نو ځينو خلکو ته شك پيدا شو نو څکه ابوبکر صديق ﷺ په منبر باندې کېناستلو او دغه اشکال يې ختم کړو.

د سعيد بن جبير رحمة الله عليه ځواب:

مفتي محمد شفيع رحمه الله فرمايي چې: سعيد بن جبير رحمه الله د دې آيت مطلب داسې بيان کړی دی چې: تاسو فرضي احکامات پوره کوئ په کوم کې چې جهاد او امر بالمعروف داخل دي، دا ټول کارونه چې ترسره کړئ او د دې سره سم بيا هم ځينې خلک ګمراه پاتې شي، نو په تاسو هيڅ نقصان نشته او نه درباندې وبال شته، په قرآن کريم کې چې کوم ارشاد دی "إذا اهتديتم" د دې آيت نه معلومېږي چې تاسو به په سمه لار روان ياست او په سمه لاره تلل همدغه دي چې امر بالمعروف او نهي عن المنکر وکړل شي، که دا مو پرېښودل نو په سمه لاره به روان نه شئ!.

باب تغليظ عقوبة من أمر بمعروف أو نهى عن منكر وخالف قوله فعله

څلرويشتم باب: کوم کس چې امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوي، خود هغه قول د عمل سره مخالف وي

"قَالَ اللّٰــهُ تَعَالَى" الله جل جلاله فرمايي: "أَتَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَتَنْسَوْنَ أَنْفُسَكُمْ" ايا تاسو خلکو ته په نېکۍ امر کوئ او خپل ځانونه مو هير کړي دي، "وَأَنْتُمْ تَتْلُونَ الْكِتَابَ أَفَلَا تَعْقِلُونَ" حال دا چې تاسو د الله جل جلاله کتاب هم لولئ، آيا تاسو عقل نه لرئ؟ [البقرة:٤٤]

تشريح په دې آيت کې هغو کسانو ته زورنه ده چې خلکو ته د نېکۍ دعوت ورکوي، خو خپله پرې عمل نه کوي، مفتي محمد شفيع رحمه الله فرمايي: د دې آيت دا مطلب نه دی چې يو کس دې فاسق وي او هغه دې خلکو ته نصيحت نه کوي، نه! بلکې نېک عمل خانته نېکي ده او د نېک عمل دعوت ورکول مستقله نېکي ده، او څرګنده دې وي چې نېک عمل نه کولو سره بل نېک عمل پرېښودل ښه خبره نه ده.

علامه قرطبي رحمه الله فرمايي: امام مالک رحمه الله د سعيد بن جبير رحمه الله نه نقل کړي دي چې که هر سړی دا خبره له ځان سره وساتي چې تر څو زه خپله صحيح مسلمان شوی نه يم، بد عملونه مې پرېښودلي نه وي، تر هغو به بل چاته د نېک عمل دعوت ورنه کړم، بيا خو به چېرته هم داعيان پيدا نه شي چې خلک نېکۍ ته راوبولي او د بدۍ څخه يې منع کړي، ځکه چې داسې به څوک وي چې هغه به ګناهګار نه وي او بلکل پاک او صفا به وي؟!، علامه قرطبي رحمه الله د حسن بصري رحمه الله قول نقل کړی دی چې: شيطان دا غواړي چې خلک دې په دې پوچه مفکوره کې پرېوځي او د دعوت لاره دې بنده شي مفتي محمد شفيع رحمه الله فرمايي چې مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله به فرمايل: کله چې به زه په ځان پوه شوم چې فلانکۍ ګناه يا کمی راڅخه شوی دی، نو د هغې ګناه ذکر به مې خاص په خپلو نصيحتونو کې د دې لپاره کولو چې هغه ګناه يا کمی اول زما څخه ختم شي.

"وَقَالَ تَعَالَى: يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لَا تَفْعَلُونَ" خبردار! اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی، ولې تاسو هغه خبره کوئ چې بيا يې عملي کوئ نه. "كَبُرَ مَقْتًا عِنْدَ اللَّهِ أَنْ تَقُولُوا مَا لَا تَفْعَلُونَ" د الله ﷻ په نزد دا ډېره لويه ګناه ده چې خبرې کوئ خو عملي کوئ يې نه! [الصف:۲-۳]

شان نزول:

تشريح: ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي چې مسلمانانو يوه ورځ دا خبره وکړه چې که موږ ته پته ولګي چې کوم عمل الله ﷻ ته ډېر خوښ دی؛ نو هغه به خپل کړو، په دې باندې دا آيت نازل شو: "يا أيها الذين آمنوا هل أدلكم على تجارة" ليکن کله چې په ځينو مسلمانانو باندې جهاد لږ مشکل شو، نو په دې باندې پورتنی آيت نازل شو، مطلب دا چې د کوم کار عزم او اراده د انسان سره نه وي، د هغې د کولو دعوه دې هم نه کوي، ځکه چې بنده په داسې دعوې سره خپل شهرت ترلاسه کول غواړي، ليکن ظاهره ده چې ددې آيت د شان نزول پر مهال د صحابه کرامو حال داسې نه وو چې هغوی دې د يو عمل اراده نه وي کړې او دعوه يې کړې وي، په دې کې بلې خبرې ته هم اشاره ده، هغه دا چې اګر چې انسان د يو کار اراده کړې وي، خو بيا هم په خپل نفس باندې دومره کېدل پکار نه دي، ځکه چې دا هم د عبديت د شان نه بعيده خبره ده، بيا مفتي صاحب رحمه الله ليکي چې پاتې شوه د دعوت او تبليغ خبره چې کوم کس خپله عمل نه کوي نورو ته دې نصيحت نه کوي، هغه په دې آيت کې داخل نه دی، دلته يې دا نه دي فرمايلي چې کوم کار خپله نه کوئ نورو ته هم دعوت مه ورکوئ، بلکې نورو ته دې هم دعوت ورکوي چې ددې په برکت به يوه ورځ هغه هم په دې عمل شروع کړي، لکه څرنګه چې د تجربې نه ثابته خبره ده. د مولانا حسن جان شهيد رحمه الله په وينا: د دعوت مثال د هغه بال/ توپ په شان دی چې ديوال ته وويشتل شي، هغه په ديوال ولګيږي، بيا بېرته واپس راشي، دعوت هم دغسې دی چې بل ته نصيحت کوې يوه ورځ به ته هم پرې عمل شروع کړې!

"وَقَالَ تَعَالَى إِخْبَارًا عَنْ شُعَيْبٍ ﷺ" الله ﷻ د شعيب عليه السلام څخه خبر ورکوي او حکايت کوي چې: "وَمَا أُرِيدُ أَنْ أُخَالِفَكُمْ إِلَى مَا أَنْهَاكُمْ عَنْهُ" زه نه غواړم چې د کومو خبرو نه تاسو منع کوم هغه دې په خپله وکړم. [هود:۸۸]

تشريح: شعيب عليه السلام په خپل قوم ته په خطاب کې فرمايل: د کوم شي نه چې تاسو منع کوم هغې ته خپله هم نه راځم، که ما هغه کار خپله کولی د کوم څخه چې زه تاسو منع کوم، نو بيا تاسو ته د خبرو کولو مجال وو، ددې نه معلومه شوه چې د داعي په نصيحت کې به د عمل په وخت کې زيات اثر وي، کله چې واعظ د حرامو شيانو ارتکاب خپله وکړي، د داسې واعظ په وعظ کې به هيڅ قسم اثر نه وي، خو بيا هم ددې دا مطلب نه دی چې بې عمله داعي دې دعوت نه چلوي او خلکو ته دې وعظ او نصيحت نه کوي، مطلب دا دی چې واعظ او مبلغ بايد باعمله انسان وي.

نورو ته نصيحت کول او خپله پرې عمل نه کول باعث د عذاب دی

"وعن أبي زيد أسامة بن حارثة رضي الله عنهما، قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول: يُؤْتَى بالرَّجُلِ يومَ القيامةِ فيُلْقَى في النَّارِ" د ابو زيد اسامة بن حارثه ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به يو کس راوستل شي او د جهنم په اور کې به واچول شي، "فَتَنْدَلِقُ أَقْتَابُ بَطْنِهِ فَيَدُورُ بِهَا كَمَا يَدُورُ الحِمَارُ في الرَّحَى" چې ددې په وجه به د هغه کلمې راوځي، هغه به د کولمو نيولو سره ګرځي، لکه څنګه چې خر په ژرندې ګرځولو سره ګرځي، "فَيَجْتَمِعُ إِلَيْهِ أَهْلُ النَّارِ، فَيَقُولُونَ: يَا فُلانُ، مَا لَكَ؟ أَلَمْ تَكُ تَأْمُرُ بِالمَعْرُوفِ وَتَنْهَى عَنِ المُنْكَرِ؟" خلك به ورته راجمع شي او ورته به ووايي: اې فلانکيه! په تا څه شوي دي چې دوزخ ته داخل شوې، ايا تا به امر بالمعروف او نهي عن المنکر نه کولو؟ "فَيَقُولُ: بَلَى، كُنْتُ آمُرُ بِالمَعْرُوفِ وَلَا آتِيهِ" هغه به ورته ووايي: هو! ما به امر بالمعروف کولو، خو ما خپله پرې عمل نه کولو، "وأَنْهَى عَنِ المُنْكَرِ وَآتِيهِ" خلك به مې د بدو کارونو څخه منع کول، خو خپله به مې بيا هغه بد عمل کولو. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

"قوله: تَنْدَلِقُ: هُوَ بِالدالِ المهملةِ، ومعناه تَخرُجُ" دا قول چې تندلق په دال مهمله سره دی، معنی يې ده: راوځي به. "وَالأَقْتَابُ: الأمعاءُ، واحدها قِتْبٌ" الاقتاب جمع د قتب ده، معنی يې ده: کولمې.

تشريح په دې حديث کې د هغه سړي سخت مذمت بيان شوی دی چې نورو ته د عمل کولو ترغيب ورکوي ليکن خپله پرې عمل نه کوي، نور خلك د الله ﷻ نه يروي، ليکن خپله ترې لرې وېره هم نه ساتي، په يو روايت کې دي چې ځينې جنتيان به ځينې جهنميان ويني، پوښتنه به ترې وکړي چې تاسو جهنم ته څنګه داخل شوي يئ؟ حال دا چې موږ خو د هغو نېکو عملونو په وجه جنت ته داخل شو چې تاسو به راته ويل، دوزخيان به ورته ووايي: دا خبره صحيح ده، خو اصلي خبره دا ده چې موږ به تش په خوله درته بيان کولو، خپله به مو پرې عمل نه کولو.

باب الأمر بأداء الأمانة

پنځه ويشتم باب: د اما نتونو ادا کولو حکم

"قَالَ اللهُ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې "إِنَّ اللهَ يَأْمُرُكُمْ" بې شکه الله ﷻ تاسو ته ددې خبرې امر کړی دی چې: "أَنْ تُؤَدُّوا الأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا" تاسو خپل اهل او لائقو خلکو ته امانتونه ورکړئ. [النساء:۵۸]،

شان نزول:

د بيت الله کيلي/ چابي د جاهليت زمانې راهيسې د عثمان بن طلحه ﷺ سره وه، يو خل نبي کريم ﷺ خانه کعبې ته داخلېدو، هغه منع کړو، نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: اې عثمان! کېدی شي چې يوه ورځ دا چابي زما په لاس کې ووينې او بيا به زما خوښه وي چې چاته يې ورکوم، بهر حال کله چې مکه مکرمه فتحه شوه، نو کيلي د رسول الله ﷺ لاسونو ته راغله. کله چې دا آيت نازل شو، نو رسول الله ﷺ هغه کيلي بېرته عثمان بن طلحه ﷺ ته ورکړه.

د انس ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ به ډېر کم وخت داسې خطبه لوستل چې په هغې کې به يې داسې نه فرمايل : "لاإيمان لمن لاأمانة له" خبردار! په کوم کس کې چې امانتداري نه وي په هغه کې ايمان نشته. "الامانات" جمع ده، په دې کې هر قسم امانت داخل دی، هغه که مالي امانت وي او که ذمه واري وي، داسې ټول شيان پکې داخل دي چې محترم او عزتمند شی وي او د هغې ساتنه ضروري وي، د مجلس خبرې هم په امانت کې داخلې دي، د کوم کس نه چې مشوره واخيستل شي هغه هم امين دی، د يو سړي خبره په راز کې ساتل هم امانت دی.

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې : "إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ" بې شکه مونږ په آسمانونو، په ځمکو او په غرونو امانت وړاندې کړو، "فَأَبَيْنَ أَنْ يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا" هغوی ددې نه امانت څخه انکار وکړو چې دا بوج نه شو پورته کولی او ترې ووېرېدل، "وَحَمَلَهَا الْإِنْسَانُ إِنَّهُ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا" او انسان دغه بوج پورته کړو، بې شکه انسان زياتی کوونکی او ناپوه دی. [الأحزاب:۷۲].

د امانت نه مراد څه دی؟

تشريح: "إنا عرضنا الأمانة" د امانت په باره کې د مفسرينو رحمهم الله ګڼ قولونه نقل دي، مثلاً د عفت ساتنه، د فرضي احکاماتو حفاظت، د جنابت غسل، لمونځ، روژه، زکوة، حج، تبليغ، جهاد، وغيره دا ټول پکې داخل دي، قاضي ثناءالله پاني پتي رحمه الله فرمايي : د امانت نه مراد د شريعت ټول مکلفات دي چې څه اوامر او نواهي دي، د خينو نورو په نزد د امانت نه ټول شريعت مراد دی.

سوال :په آسمان او ځمکه کې خو شعور نشته نو بيا څنګه مخاطب کړی شول؟

ځواب : الله ﷻ ځمکې او آسمان ته د وينا او شعور طاقت ورکړی دی، همدا قول د جمهور امت دی چې دا عرض حقيقتاً دی، "فأبين أن يحملنها" هغوی ددې بار پورته کولو نه انکار وکړو، دې ټولو سوال وکړو چې که مونږ ددې امانت حق پوره کړو، نو مونږ ته به څه راکولی شي او که نافرماني مو وکړه، نو بيا به څه وي؟ په دې باندې الله ﷻ وفرمايل : که د امانت حق مو پوره کړو، نو ډېر زيات اجر به درته ملاوېږي او که کوتاهي مو وکړه بيا سزا هم شته، په دې باندې ټولو ووېل : که مونږ ته اختيار وي نو بيا مونږ ددې بار پورته کولو نه عاجزه يو، الله ﷻ چې کله آدم عليه السلام ته دا خبره وکړه نو هغه ددې بار پورته کولو ته تيار شو، "إنه كان ظلوماً جهولاً" بې شکه انسان ډېر زيات ظالم او جاهل دی، دا قول د زياتو خلکو په اعتبار سره دی، انبياء عليهم السلام ددې نه مستثنی دي، هغوی په دې حکم کې داخل نه دي.

د منافق سړي درې علامې دي

"وعن أبي هريرة ﷺ: أن رسول الله ﷺ، قال: آية المنافق ثلاث" د ابو هريره ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل : د منافق درې علامې دي : "إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ" کله چې خبرې کوي؛ نو دروغ وايي، "وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ" کله چې وعده کوي، نو ماتوي يې، "وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ" او کله چې امانت ورسره کېښودل شي، نو خيانت پکې کوي مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

"وفي رواية" په يو بل روايت کې دي چې: "وَإِنْ صَامَ وَصَلَّى" اګر چې روژه هم نيسي او لمونځ هم کوي.
"وَزَعَمَ أَنَّهُ مُسْلِمٌ" او هغه ګمان کوي چې زه مسلمان يم.

لغوي تحقيق: كذب: "كذب كذباً" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: دروغ ويل.

خلف: "خلف خلفاً" باب سمع يسمع دی، ددې معنی ده: د وعدې مخالفت کول، وعده نه پوره کول.

خان: "خان خوناً وخيانةً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: په امانت کې خيانت کول

تشريح: منافق هغه چاته ويل کيږي چې په ظاهره د اسلام چغې وهي، خو په باطن کې يې کفر وي، داسې منافقت د کفر نه هم زيات خطري دی، په دې وجه قرآن کريم کې د داسې کس لپاره سخته سزا مقرره شوې ده.

د منافق عذاب:

"إن المنافقين في الدرك الأسفل من النار" منافقين به د جهنم تر ټولو لاندې مرتبې کې وي، دا منافقين د رسول الله ﷺ په زمانه کې وو، رسول الله ﷺ ته هغوی د وحې په ذريعه معلوم شول.

نفاق په دوه ډوله دی:

منافقت په دوه ډوله دی: اعتقادي نفاق او عملي نفاق، اعتقادي نفاق کفر دی او ابدي جهنمي دی، د کافر نه هم بدتر دی او بل عملي منافق اګر چې کافر نه دی خو د منافقينو چې کوم علامات دي، د هغې نه بچ کېدل هم لازم دي، عملي نفاق په عامو مسلمانانو کې هم موندل کيږي، خو په دې سره دوی نه کافران کيږي، اګر چې د داسې خصلتونو نه ځان ساتل فرض دي کوم چې په عمومي توګه په منافقين کې وي چې هغه دروغ ويل دي، د وعدې مخالفت شو او يا په امانت کې خيانت شو.

سوال: په دې حديث کې د منافقينو درې خصلتونه بيان شوي، خو په بل حديث کې څلور خصلتونه بيان شوي دي؟

ځواب: درې يا څلور خصلتونه اتفاقي قيد دی، په ځينو حديثونو کې به درې خصلتونه بيان شوي وي او په ځينو نورو کې به څلور بيان شوي وي، ځينې علماء فرمايي چې اول ځل رسول الله ﷺ ته د منافق درې خصلتونه د وحې په ذريعه ښودل شوي وو، وروسته ورته څلورم خصلت هم وښودل شو، نو ځکه رسول الله ﷺ څلورم خصلت هم بيان کړو.

د قيامت علامه دا هم ده چې امانتداري به ختمه شي

"وعن حذيفة بن اليمان رضي الله عنه، قال: حدثنا رسول الله ﷺ حديثين قد رأيت أحدهما وأنا أنتظر الآخر" د حذيفه بن يمان رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ مونږ ته دوه حديثونه بيان کړي دي: يو ما وليدو او د بل انتظار به کوم، "حدثنا أن الأمانة نزلت في جذر قلوب الرجال" يو يې راته دا بيان وکړو چې امانت په اصل کې د خلکو په زړونو کې دننه شوی وو، "ثم نزل القرآن فعلموا من القرآن، وعلموا من السنة" خلکو د امانت په رڼا سره د

قرآن کريم او د حديثو علم حاصل کړو، "ثُمَّ حَدَّثَنَا عَن رفع الأمانة" بيا مونږ ته نبي اکرم ﷺ د سينو څخه د امانت پورته کېدو بيان وکړو، "فَقَالَ: يَنَامُ الرَّجُلُ النَّوْمَةَ فَتُقْبَضُ الأَمَانَةُ مِنْ قَلْبِهِ" خلك به د عادت مطابق د شپې ويده شي او سهار چې راپاڅي نو الله ﷻ به د هغه د زړه څخه امانت ويستلی وي. "فَيَظَلُّ أَثَرُهَا مِثْلَ الوَكْتِ" صرف لږ اثر (احساس) به پاتې شوی وي. "ثُمَّ يَنَامُ النَّوْمَةَ فَتُقْبَضُ الأَمَانَةُ مِنْ قَلْبِهِ" بيا به ويده شي، نو هغه اثر به هم تړې ختم شوی وي. "فَيَظَلُّ أَثَرُهَا مِثْلَ أَثَرِ المَجْلِ" او ساده نشان به يې پاتې شي، "كَجَمْرٍ دَحْرَجْتَهُ عَلَى رِجْلِكَ فَنَفِطَ، فَتَرَاهُ مُنْتَبِراً وَلَيْسَ فِيهِ شَيْءٌ" لکه تاسو چې په خپلو پښو باندې څه سکروټه وغورځوئ او د هغې په وجه په پښه کې تناکه جوړه شي، هغه خو تاته ښکاره په نظر باندې پړسيدلې ښکاري، مگر په هغې کې دننه هيڅ نه وي، "ثُمَّ أَخَذَ حَصَاةً فَدَحْرَجَهُ عَلَى رِجْلِهِ" بيا نبي اکرم ﷺ يوه شگه راواخيسته او خپله پښه مبارکه يې پرې وويشتل، "فَيُصْبِحُ النَّاسُ يَتَبَايَعُونَ، فَلَا يَكَادُ أَحَدٌ يُؤَدِّي الأَمَانَةَ حَتَّى يُقَالَ: إِنَّ فِي بَنِي فُلَانٍ رَجُلاً أَمِيناً" بيا به سهار شي خلك به اخيستل خرڅول کوي، خو ته به يو کس هم ونه وينې چې امانتدار وي تر دې پورې چې دا خبره به کيږي: په فلانکی قبيله کې يو امانت دار سړی دی، "حَتَّى يُقَالَ لِلرَّجُلِ: مَا أَجْلَدَهُ! مَا أَظْرَفَهُ! مَا أَعْقَلَهُ! وَمَا فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ" او يا چا ته د امين ويلو په ځای به دا خبره کولی شي چې څومره لوی تهذيب يافته او هوښيار دی، حقيقت به دا وي چې د هغه په زړه کې به د جوارې د دانې هومره ايمان نه وي، "وَلَقَدْ أَتَى عَلَيَّ زَمَانٌ وَمَا أُبَالِي أَيَّكُمْ بَايَعْتُ: لَئِنْ كَانَ مُسْلِماً لَيَرُدَّنَّهُ عَلَيَّ دِينُهُ" حذيفه ﷺ فرمايي چې ما هغه دور او زمانه هم ليدلې ده چې د اخيستلو خرڅولو په وخت به مې د قيمت لګولو يا د مال به والې او بد والي او د کتلو ضرورت هم نه ګڼلو او نه به مې پروا کول، او نه به مې دا فکر کولو چې د چا سره معامله وکړم او چا سره يې ونه کړم، ځکه چې که معامله کونکی مسلمان وي؛ نو د هغه دين به ماته خپل حق راکړي، يعنې هغه به زما سره خيانت يا وهل ټکول نه کوي، "وَإِنْ كَانَ نَصْرَانِيّاً أَوْ يَهُودِيّاً لَيَرُدَّنَّهُ عَلَيَّ سَاعِيهِ" او که معامله کونکی يهودي يا عيسائي وي؛ نو د هغه نه به زما حق د هغه د سردار ماته پوره راکړي، "وَأَمَّا اليَوْمَ فَمَا كُنْتُ أُبَايِعُ مِنْكُمْ إِلَّا فُلَاناً وَفُلَاناً" ليکن نن سبا زه په پټو سترګو ستاسو يو کس سره هم اخيستل او خرڅول نه شم کولی، بغير د فلانې او فلانې څخه، مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

"قوله: جَذْرُ: بفتح الجيم وإسكان الذال المعجمة: وَهُوَ أصل الشيء" جذر بنياد ته ويلی شي، "وَالوكت: بالتاء المثناة من فوق: الأثر اليسير" وکت وايي معمولي نخښې ته وايي، "وَالمَجْل: بفتح الميم وإسكان الجيم: وَهُوَ تَنَفُّط في اليدِ ونحوها من أثرِ عمل وغيرِهِ، قوله" مجمل دې ته وايي چې په لاسونو او پښو باندې د کار کولو نخښې پاتې شي، يعنې داغ ولګيږي، "مُنْتَبِراً: مرتفعاً" معنی يې ده: اوچته تناکه، "قوله: ساعيه: الوالي عَلَيهِ" سردار او مشر.

تشريح: "الأمانة نزلت في جذر قلوب الرجال" امانتونه د خلکو په زړونو کې دننه شوي دي، د امانت لفظ تحقيق په (انا عرضنا الامانة) کې تير شوی دی، ځينې محدثين فرمايي: دلته د امانت نه ايمان مراد دی، ځکه چې د حديث د اخيرنی جملې څخه هم دا معلوميږي چې: "ومافي قلبه مثقال حبة من خردل من إيمان".

د حديث مطلب:

د حديث مطلب دا دی چې الله ﷻ د خلکو په زړونو کې د امانت نور او رڼا ددې لپاره واچول چې د رڼا په واسطه دوی د اصلاح او فلاح په مسير روان شي، د دين او شريعت پابند شي، خو کله چې خلکو ددې لوی نعمت ناقدري وکړه او په ګناهونو کې اخته شول، نو الله ﷻ هم د دوی نه دغه نعمتونه واپس واخيستل، د دوی د زړونو څخه يې د امانت رڼا ختمه کړه، کله چې دوی سهار له خوبه راپاڅېدل، نو دوی خپله محسوس کړل چې د زړونو اوس هغه حالت او کيفيت پاتې نه دی چې د امانت په موجودګی کې وو، البته د امانت نخښه به پاتې وي او کله به هغه د (وکت) په څېر شي او کله به هغه د (مجل) په څېر شي، مجل اګر چه مصدر دی، دلته ترې تناکه مراد ده، دا د (وکت) څخه کمه وي، وکت د تناکې داغ ته وايي.

د خوب نه حقيقي خوب مراد نه دی:

"ينام الرجل النومة" له خوبه به راپاڅيږي، د ځينو علماوو په نزد حقيقي خوب مراد دی، د ځينو نورو په نزد د غفلت څخه کنايه ده، ځکه چې د خوب په ذريعه هم سړی غفلت ته رسيږي، داسې انسان به څه هوښيار وي چې د هغه د پوهې تعريف وکړی شي ليکن د هغه د ايمان تعريف ونه شي، د ايمان نه علاوه هيڅ شی معتبر نه دی، تعريف د هغه سړي معتبر دی چې د ايمان او تقوی حامل وي.

"وما في قلبه مثقال حبة من خردل من إيمان" حال دا چې د هغه په زړه کې ذره برابر ايمان نه وي، محدثينو ددې دوه مطلبه بيان کړي دي. يو دا چې ددې نه کمال ايمان نفي مراد ده، يعنې د داسې سړي ايمان کامل نه دی، دويم مطلب يې دا دی چې بالکل مؤمن نه دی، په هغه کې بالکل ايمان نشته.

نبي کريم ﷺ به د جنت دروازه خلاصه کړي:

"وعن حُذَيفَة وأبي هريرة رضي الله عنهما، قالا: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: يَجمَعُ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى النَّاسَ فَيَقُومُ المُؤمِنُونَ حَتَّى تُزلَفَ لَهُمُ الجَنَّةُ" د حذيفه رضي الله عنه او ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، دواړه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل الله ﷻ به د قيامت په ورځ خلك راغونډ کړي، مؤمنان به ټول ودرېږي تردې چې جنت به بالکل مخامخ وويني، "فَيَأتُونَ آدَمَ صَلَوَاتُ اللهِ عَلَيهِ، فَيَقُولُونَ: يَا أَبَانَا استَفتِح لَنَا الجَنَّةَ" دوی به آدم عليه السلام ته راشي او ورته به وايي چې اې زموږ بابا جانه! موږ ته د جنت دروازه خلاصه کړه چې داخل شو، "فَيَقُولُ: وَهَل أَخرَجَكُم مِنَ الجَنَّةِ إِلَّا خَطِيئَةُ أَبِيكُم! لَستُ بِصَاحِبِ ذَلِكَ" آدم عليه السلام به ورته ووايي چې بچو! ستاسو د جنت د راوتلو ذريعه زما تېروتنه وه، زه ددې کار طاقت نه لرم، "اذهَبُوا إِلَى ابنِي إِبرَاهِيمَ خَلِيلِ اللهِ" تاسو زما زوی ابراهيم عليه السلام ته لاړ شئ، "قَالَ: فَيَأتُونَ إِبرَاهِيمَ فَيَقُولُ إِبرَاهِيمُ: لَستُ بِصَاحِبِ ذَلِكَ إِنَّمَا كُنتُ خَلِيلاً مِن وَرَاءَ وَرَاءَ" دوی به ابراهيم عليه السلام ته راشي، هغه به ورته ووايي: دا کار زما څخه نه شي کېدلی، زه خو د پردې نه اخوا خليل وم. "اعمِدُوا إِلَى مُوسَى الَّذِي كَلَّمَهُ اللهُ تَكلِيماً، فَيَأتُونَ مُوسَى، فَيَقُولُ: لَستُ بِصَاحِبِ ذَلِكَ" تاسو موسی عليه السلام ته لاړ شئ چې د الله ﷻ سره يې مخامخ خبرې کړي دي، نو هغوی به موسی عليه السلام ته لاړ شي، هغه به هم ورته ووايي:

زه ددې کار طاقت نه لرم، "اذْهَبُوا إِلَى عِيسَى كَلِمَةِ اللَّهِ وَرُوحِهِ، فَيَقُولُ عِيسَى: لَسْتُ بِصَاحِبِ ذَلِكَ" ليکن تاسو عيسى علیه السلام ته لاړ شئ چې د الله کلمه ده او روح د الله ﷻ دی، دوی به عيسى علیه السلام ته راشي، هغه به ورته ووايي: زه ددې کار لپاره مناسب نه يم، "فَيَأْتُونَ مُحَمَّدًا ﷺ فَيَقُومُ فَيُؤْذَنُ لَهُ" دوی به محمد ﷺ ته راشي؛ نو نبي اکرم ﷺ به راپورته شي او هغه ته به د شفاعت اجازت ورکړل شي، "وَتُرْسَلُ الْأَمَانَةُ وَالرَّحِمُ فَيَقُومَانِ جَنَبَتَيِ الصِّرَاطِ يَمِينًا وَشِمَالًا" امانت او صله رحمي به راوستل شي، دواړه به د جنت دواړو طرفونو ښي او چپ طرفته ودريږي، "فَيَمُرُّ أَوَّلُكُمْ كَالْبَرْقِ، قُلْتُ: بِأَبِي وَأُمِّي، أَيُّ شَيْءٍ كَمَرِّ الْبَرْقِ؟" اولنی کس به په مثل د بجلی د پړق تېر شي، صحابي وفرمايل: يا رسول الله ﷺ په تاسو باندې دې زما مور - پلار قربان شي، د بجلی په شان د تېرېدو مطلب څه دی؟ "قَالَ: أَلَمْ تَرَوْا كَيْفَ يَمُرُّ وَيَرْجِعُ فِي طَرْفَةِ عَيْنٍ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل تاسو بجلي نه ده ليدلي چې څومره په تېزی سره د سترګې په رپ کې لاړه شي او واپس راشي، "ثُمَّ كَمَرِّ الرِّيحِ، ثُمَّ كَمَرِّ الطَّيْرِ، وَشَدِّ الرِّجَالِ تَجْرِي بِهِمْ أَعْمَالُهُمْ، وَنَبِيُّكُمْ قَائِمٌ عَلَى الصِّرَاطِ" بيا به څه خلك د باد او هوا په څېر تېر شي او څه خلك به د مارغانو په څېر او څوك به د تېزې منډې والا انسان په شان تېر شي چې دا رفتار او فرق به د عملونو په سبب وي، دغه وخت به ستاسو نبي ﷺ په پل صراط باندې ولاړ وي، "يَقُولُ: رَبِّ سَلِّمْ سَلِّمْ، حَتَّى تَعْجِزَ أَعْمَالُ الْعِبَادِ" او وايي به چې (رَبِّ سَلِّمْ سَلِّمْ) بيا به د کمزورو عملونو والا خلك تيريږي، "حَتَّى يَجِيءَ الرَّجُلُ لَا يَسْتَطِيعُ السَّيْرَ إِلَّا زَحْفًا" نو داسې خلك به پکې راشي چې په پښو به يې د تللو طاقت نه وي، په خېږوځو او په ښويېدو به روان وي، "وَفِي حَافَتَيِ الصِّرَاطِ كَلَالِيبُ مُعَلَّقَةٌ مَأْمُورَةٌ بِأَخْذِ مَنْ أُمِرَتْ بِهِ" او د پل صراط دواړو طرفونو ته به هتکړې لګېدلي وي د چا په باره کې چې د نيولو حکم وشي؛ نو په هتکړيو کې به ونيول شي، "فَمَخْدُوشٌ نَاجٍ" کوم کس چې په ټکرو ونښويېدلو، هغه هم خلاصی وموندولو، "وَمُكَرْدَسٌ فِي النَّارِ" څه خلك به لاندې باندې دوزخ ته وغورځول شي، "وَالَّذِي نَفْسُ أَبِي هُرَيْرَةَ بِيَدِهِ، إِنَّ قَعْرَ جَهَنَّمَ لَسَبْعُونَ خَرِيفًا" په هغه ذات مې قسم دی چې د ابو هريره رضی الله عنه ساه د هغه په لاس کې ده، د دوزخ ژوروالی د اويا کالو په اندازه دی. رواه مسلم

"قوله: (وراءَ وراءَ) هُوَ بِالفتحِ فيهما، وقيل: بِالضمِّ بلا تنوين ومعناه: لستُ بتلك الدرجة الرفيعة" امام نووي رحمه الله فرمايي چې "وراء وراء" په دواړو ځايونو کې فتحه ده او چا ويلي دي په ضمې سره دی، بغير د تنوين نه، ددې معنی ده: زه ددې اوچت مقام او مرتبې لائق نه يم، "وهي كلمة تذكر على سبيل التواضع، وقد بسطت معناها في شرح صحيح مسلم، والله أعلم" دا يوه داسې کلمه ده چې په مقام د تواضع کې ذکر کولی شي او ددې په معنی کې امام مسلم رحمه الله ډېره زياته تشريح کړې ده، نور الله ﷻ ښه پوهيږي.

لغوي تحقيق:

تزلف: "زَلَفَ زلفاً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: نږدې راتلل

استفتح: "استفتح إستفتاحاً" باب إستفعال دی، ددې معنی ده: دروازه خلاصول.

زحف: "زحف زحفاً" باب فتح يفتح دی، ددې معنی ده : د پښو په سر يا کوناتو باندې په مزه مزه ښوييدل او راتلل.

کلاليب: کلاليب د کليب جمع ده او کليب د اوسپنې کونډو ته ويل کيږي.

مخدوش: "خدش خدشاً" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: په نوکانو باندې مخ ځيرې کول، تراشل.

مکردس: "کردس عليه" په پټو سترګو يو شي ته داخلېدل، نظر او فکر نه کول.

د قيامت په ورځ به جنت نزدې راوړل شي:

تشريح "حتی تزلف بهم الجنة" تردې چې جنت به نزدې کړل شي، په سورت تکوير کې هم داسې دي، "واذا الجنة أزلفت علمت نفس ما أحضرتْ" د قيامت په ورځ به جنت نزدې راوړل شي. بيا به هر سړي ته پته ولګيږي چې هغه څه ډول عمل کړی دی، دغه شان په بل آيت کې هم دغه مضمون دی، "وأزلفت الجنة للمتقين" جنت به متقيانو ته نزدې راوړل شي.

"هل أخرجكم من الجنة الا خطيئة أبيكم آدم" د جنت نه د خپل پلار د غلطۍ په وجه تاسو وويستل شوی، دغه مضمون په قرآن کريم کې په داسې الفاظو سره بيان شوی دی، "يا آدم اسكن انت وزوجك الجنة فكلا من حيث شئتما ولا تقربا هذه الشجرة فتكونا من الظالمين، إن الشيطان لكما عدو مبين".

"إنما كنت خليلاً من وراء وراء" زما خليل جوړېدل مخکې مخکې دي، تاسو موسی عليه السلام ته لاړ شئ! په ځينو رواياتو کې دي چې ابراهيم عليه السلام دلته د خپلو درې دروغو ذکر وکړو، عذر يې وړاندې کړو او په ځينو نورو رواياتو کې راځي چې ابراهيم عليه السلام د تواضع او خاکسارۍ په طور عذر وړاندې کړو چې ماته کوم خليليت ملاو شوی دی هغه د جبرئيل عليه السلام په واسطه دی او د موسی عليه السلام د الله ﷻ سره خبرې بې واسطې د جبرائيل عليه السلام دي.

"فيأتون محمداً" ټول خلک به د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شي، نبي کريم ﷺ دلته خپل نوم ذکر کړو، محدثين فرمايي : وجه يې دا ده چې په لفظ د محمد کې د حمد معنی ده، نبي کريم ﷺ به په مقام حمد يعني مقام محمود کې ولاړ وي چې مقام د شفاعت دی، د پل صراط په باره کې احاديثو کې راځي چې د ويښته نه نرۍ دی او د تورې نه تېره دی، مؤمنان به د خپل ايمان په اعتبار په دې تيريږي.

"کلاليب معلقة" د پل صراط په دواړو طرفونو د اوسپنې تارونه وي چې په دې سره به ځينې خلک ژوبل کيږي او په زخمي حالت کې به په پل صراط باندې تېرېږي، ځينو نور به په جهنم کې پرېوځي او د ګناهونو په اندازه به يو څه موده په جهنم کې وي، بيا به ترې راوځي، ددې نه معلومه شوه چې مسلمان به د همېش لپاره په جهنم کې نه وي، د خپلو ګناهونو سزا حاصلېدو وروسته به جنت ته داخل شي

د وصيت او ميراث تقسيم نه وړاندې بايد قرض ادا کړی شي

"وعن أبي خُبيب -بضم الخاء المعجمة- عبد الله بن الزبير رضي الله عنهما، قَالَ: لَمَّا وَقَفَ الزُّبَيْرُ يَوْمَ الْجَمَلِ دَعَانِي فَقُمْتُ إِلَى جَنْبِهِ، فَقَالَ: يَا بُنَيَّ، إِنَّهُ لاَ يُقْتَلُ الْيَوْمَ إِلاَّ ظَالِمٌ أَوْ مَظْلُومٌ" ابو خبيب په ضمې د "خ" معجمه سره، د عبد الله بن زبير ﷺ روايت دی، فرمايي چې کله د جنګ جمل ورځ راغله؛ نو زما پلار زبير ﷺ زه راوبللم او زه د هغه خوا ته ودرېدم، راته يې وفرمايل: بچيه! نن به يا ظالم مري او يا به مظلوم مري، "وَإِنِّي لاَ أُرَانِي إِلاَّ سَأُقْتَلُ الْيَوْمَ مَظْلُوماً" زه پوهېږم چې نن به زه د مظلوميت په حالت کې خامخا وژل کېږم، "وَإِنَّ مِنْ أَكْبَرِ هَمِّي لَدَيْنِي، أَفَتَرَى دَيْنَنَا يُبْقِي مِنْ مَالِنَا شَيْئاً؟" او زما سره ددې خبرې ډېر زيات فکر دی چې زما مال او دولت به زما د قرض ادا کولو لپاره کافي شي او که نه؟ "ثُمَّ قَالَ: يَا بُنَيَّ، بِعْ مَا لَنَا وَاقْضِ دَيْنِي، وَأَوْصَى بِالثُّلُثِ وَثُلُثِهِ لِبَنِيهِ، يعني لبني عبد الله بن الزبير ثُلُثُ الثُّلُث" بيا يې راته وفرمايل: اې بچيه! زما مال خرڅ کړه او زما قرض پرې پوره کړه، بيا يې د خپل مال د دريمې حصې وصيت وکړو بيا يې دريمه حصه خپلو لمسيانو يعنې د عبد الله ﷺ زامنو ته وصيت وکړو، "قَالَ: فَإِنْ فَضَلَ مِنْ مَالِنَا بَعْدَ قَضَاءِ الدَّيْنِ شَيْءٌ فَثُلُثُهُ لِبَنِيكَ" بيا يې وفرمايل: که چېرته زما د مال نه کومه حصه باقي پاتې شي، د قرض پوره کولو وروسته، نو بيا دې دريمه حصه ستا د بچيانو وي، "قَالَ هِشَام: وَكَانَ بَعْضُ وَلَدِ عَبْدِ اللهِ قَدْ وَازَى بَعْضَ بَنِي الزُّبَيْرِ خُبَيْبٍ وَعَبَّادٍ، وَلَهُ يَوْمَئِذٍ تِسْعَةُ بَنِينَ وَتِسْعُ بَنَاتٍ" هشام وايي: د عبد الله ﷺ بعضې زامن دغه وخت د زبير ﷺ د زامنو حبيب ﷺ او عباد ﷺ سره په عمر کې برابر وو، دغه وخت د زبير ﷺ نهه زامن او نهه لورګانې وې، "قَالَ عَبْدُ اللهِ: فَجَعَلَ يُوصِينِي بِدَيْنِهِ وَيَقُولُ: يَا بُنَيَّ، إِنْ عَجَزْتَ عَنْ شَيْءٍ مِنْهُ فَاسْتَعِنْ عَلَيْهِ بِمَوْلاَيَ" عبد الله ﷺ فرمايي چې پلار به بار بار د خپل قرض په باره کې تاکيداً وينا کول او بيا يې وويل: اې زويه! که ته ددې قرض ادا کولو نه عاجزه شوې او اداء کولی يې نه شې، نو بيا يې زما د آقا، مولی نه وغواړه! "قَالَ: فَوَاللهِ مَا دَرَيْتُ مَا أَرَادَ حَتَّى قُلْتُ: يَا أَبَتِ مَنْ مَوْلاَكَ؟ قَالَ: اللهُ" ما فکر کولو چې زما د پلار آقا به څوک وي؟ ما د هغه نه پوښتنه وکړه چې اې پلار جانه! ستا مولی څوک دی؟ هغه وويل: الله تعالی دی، "قَالَ: فَوَاللهِ مَا وَقَعْتُ فِي كُرْبَةٍ مِنْ دَيْنِهِ إِلاَّ قُلْتُ: يَا مَوْلَى الزُّبَيْرِ اقْضِ عَنْهُ دَيْنَهُ فَيَقْضِيَهُ" عبد الله ﷺ فرمايي چې ما ته کله هم د پلار په قرض اداکولو کې څه مشکل راپېښېدو، نو ما به الله ﷻ ته آواز کولو چې اې د زبير ﷺ آقا! د هغه قرض اداء کړه! بس الله ﷻ به د هغه قرض ادا کړو، "قَالَ: فَقُتِلَ الزُّبَيْرُ وَلَمْ يَدَعْ دِينَاراً وَلاَ دِرْهَماً إِلاَّ أَرَضِينَ، مِنْهَا الْغَابَةُ وَإِحْدَى عَشْرَةَ دَاراً بِالْمَدِينَةِ، وَدَارَيْنِ بِالْبَصْرَةِ، وَدَاراً بِالْكُوفَةِ، وَدَاراً بِمِصْرَ" هغه فرمايي: لنډه دا چې زبير ﷺ شهيد کړی شو، نو هغه نه دينار پرېښودل او نه درهم، البته دوه قسمه ځمکې يې په ميراث پرېښودلې، يو قسم يې ځنګلي ځمکه وه چې د مدينې منورې سره نژدې وه او دويم هغه کورونه وه چې يوولس په مدينه کې وو او دوه په بصره کې وو، ځينې يې په کوفه او ځينې يې په مصر کې وو، "قَالَ: وَإِنَّمَا كَانَ دَيْنُهُ الَّذِي كَانَ عَلَيْهِ أَنَّ الرَّجُلَ كَانَ يَأْتِيهِ بِالْمَالِ، فَيَسْتَوْدِعُهُ إِيَّاهُ" او په هغه باندې چې کوم قرضونه وو، د هغې وجه دا وه چې چا به خپل مال د امانت لپاره کېښودلو، "فَيَقُولُ الزُّبَيْرُ: لاَ، وَلَكِنْ هُوَ سَلَفٌ إِنِّي أَخْشَى عَلَيْهِ الضَّيْعَةَ، وَمَا وَلِيَ إِمَارَةً قَطُّ وَلاَ جِبَايَةً وَلاَ خَرَاجاً وَلاَ شَيْئاً إِلاَّ أَنْ يَكُونَ فِي غَزْوٍ مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ أَوْ مَعَ أَبِي بَكْرٍ وَعُمَرَ

وَعُثْمَانَ ؓ" نو زبير ؓ به ورته فرمايل: زه امانت نه شم ساتلی، که قرض يې راکوي، نو اخلم يې، ځکه
چې د امانت په صورت کې د مال ضائع کېدو خطره ده، زبير ؓ نه چېرته حاکم پاتې شوی وو او نه
يې چېرته ټيکس اخيستلو، زه يې هيڅ ذمه واري نه اخلم، مگر دا چې د همېش لپاره د نبي اکرم ﷺ
سره او ددې نه پس ابوبکر ؓ، عمر ؓ او عثمان ؓ سره په جنگونو او جهادونو کې شريك شوی
وم، "قَالَ عَبْدُ اللهِ: فَحَسَبْتُ مَا كَانَ عَلَيْهِ مِنَ الدَّيْنِ فَوَجَدْتُهُ أَلْفَيْ أَلْفٍ وَمِائَتَيْ أَلْفٍ! فَلَقِيَ حَكِيمُ بْنُ حِزَامٍ عَبْدَ اللهِ بْنَ الزُّبَيْرِ، فَقَالَ: يَا ابْنَ
أَخِي، كَمْ عَلَى أَخِي مِنَ الدَّيْنِ؟" عبد الله ؓ فرمايي: ما د هغه د قرض حساب ولگولو نو دوه ويشت لکه وو،
يو ورځ حکيم بن حزام ؓ د عبد الله بن زبير ؓ سره ملاو شو، پوښتنه يې ترې وکړه چې وراره! زما
په وروړ باندې څومره قرضه وه؟ "فَكَتَمْتُهُ وَقُلْتُ: مِائَةُ أَلْفٍ. فَقَالَ حَكِيمٌ: وَاللهِ مَا أَرَى أَمْوَالَكُمْ تَسَعُ هٰذِهِ. فَقَالَ عَبْدُ اللهِ:
أَرَأَيْتَكَ إِنْ كَانَتْ أَلْفَيْ أَلْفٍ وَمِائَتَيْ أَلْفٍ؟ قَالَ: مَا أُرَاكُمْ تُطِيقُونَ هٰذَا، فَإِنْ عَجَزْتُمْ عَنْ شَيْءٍ مِنْهُ فَاسْتَعِينُوا بِي" نو ما اصلي مقدار پټ
کړو او دا مې ورته ووېل: يو لك قرضه ۆ، هغه ووېل: والله ما ته خو ستا په مال کې دومره گنجائش په
نظر نه راځي، يعنې ستا سره گنجائش نشته چې دا دومره قرض اداء کړې، عبد الله ؓ فرمايي: ما
ورته ووېل: که دوه ويشت لکه قرضه وي نو بيا څه وايې؟ حکيم ؓ ووېل: بيا خو زما دا خيال دی
چې ته به د قرض په خلاصېدو کله هم قادر نه شې، حکيم ؓ ورته ووېل: وراره! که څه سختي يا
مشکل راغی، نو بغير څه تکليفه زما څخه مرسته غوښتلی شې، "قَالَ: وَكَانَ الزُّبَيْرُ قَدِ اشْتَرَى الْغَابَةَ بِسَبْعِينَ
وَمِائَةِ أَلْفٍ، فَبَاعَهَا عَبْدُ اللهِ بِأَلْفِ أَلْفٍ وَسِتِّمِائَةِ أَلْفٍ، ثُمَّ قَامَ فَقَالَ: مَنْ كَانَ لَهُ عَلَى الزُّبَيْرِ شَيْءٌ فَلْيُوَافِنَا بِالْغَابَةِ" عبد الله ؓ
فرمايي: پلار مې د ځنگل ځمکه په يو لك اويا زره روپۍ اخيستې وه (۱۷۰۰۰۰)، او ما په شپاړس
لکه خرڅه کړه، عام اعلان مې وکړو چې د چا هم په زبير ؓ باندې قرض وي، هغه دې د ځنگل خواته
راشي او خپله قرضه دې واخلي، "فَأَتَاهُ عَبْدُ اللهِ بْنُ جَعْفَرٍ، وَكَانَ لَهُ عَلَى الزُّبَيْرِ أَرْبَعُمِائَةِ أَلْفٍ، فَقَالَ لِعَبْدِ اللهِ: إِنْ شِئْتُمْ تَرَكْتُهَا
لَكُمْ؟ قَالَ عَبْدُ اللهِ: لَا، قَالَ: فَإِنْ شِئْتُمْ جَعَلْتُمُوهَا فِيمَا تُؤَخِّرُونَ إِنْ أَخَّرْتُمْ، فَقَالَ عَبْدُ اللهِ: لَا" نو هغه ته عبد الله بن جعفر ؓ
راغلو او ورته يې ووېل: په زبير ؓ باندې زما څلور لکه روپۍ قرض دي، که ته غواړې نو زه يې
معاف کولی شم، عبد الله ؓ ووېل: نه، بيا عبد الله بن جعفر ؓ ووېل: که مهلت غواړې؛ نو هم يې
درکولی شم، عبد الله ؓ ورته ووېل: نه، "قَالَ: فَاقْطَعُوا لِي قِطْعَةً، قَالَ عَبْدُ اللهِ: لَكَ مِنْ هَاهُنَا إِلَى هَاهُنَا. فَبَاعَ عَبْدُ اللهِ
مِنْهَا فَقَضَى عَنْهُ دَيْنَهُ وَأَوْفَاهُ" هغه ورته ووېل: نو بيا ما ته زما حصه راکړه، عبد الله ؓ ورته ووېل: ددې ځای
نه تر هغه ځای پورې ستا ځمکه شوه، دغه شان عبد الله بن زبير ؓ به ځمکه خرڅول او خلکو ته به يې
خپله خپله قرضه ادا کول، "وَبَقِيَ مِنْهَا أَرْبَعَةُ أَسْهُمٍ وَنِصْفٌ، فَقَدِمَ عَلَى مُعَاوِيَةَ وَعِنْدَهُ عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ، وَالْمُنْذِرُ بْنُ الزُّبَيْرِ، وَابْنُ زَمْعَةَ،
فَقَالَ لَهُ مُعَاوِيَةُ: كَمْ قُوِّمَتِ الْغَابَةُ؟" دغه وخت عبد الله ؓ يو ځل امير معاويه ؓ ته لاړو، هلته د هغوی سره
عمرو بن عثمان ؓ، منذر بن زبير ؓ او ابن زمعه ؓ هم ناست وو، امير معاويه ؓ د هغه نه
پوښتنه وکړه چې د ځنگل د ځمکې قيمت دې څو لگولی دی؟ "قَالَ: كُلُّ سَهْمٍ بِمِائَةِ أَلْفٍ، قَالَ: كَمْ بَقِيَ مِنْهَا؟ قَالَ:
أَرْبَعَةُ أَسْهُمٍ وَنِصْفٌ، فَقَالَ الْمُنْذِرُ بْنُ الزُّبَيْرِ: قَدْ أَخَذْتُ مِنْهَا سَهْمًا بِمِائَةِ أَلْفٍ، قَالَ عَمْرُو بْنُ عُثْمَانَ: قَدْ أَخَذْتُ مِنْهَا سَهْمًا بِمِائَةِ أَلْفٍ. وَقَالَ ابْنُ

زَمْعَةَ: قَدْ أَخَذْتُ سَهْماً بِمِئَةِ أَلْفٍ" عبد الله رضي الله عنه ورته ووېل : د يوې حصې (قطعې) څمکې يو لك روپۍ دي، معاويه رضي الله عنه ووېل : نورې څومره حصې پاتې دي؟ وې ويل : څلور نيمې حصې، منذر رضي الله عنه ووېل : يوه قطعه يعني ټوټه په يو لك زما شوه، عمرو بن عثمان رضي الله عنه ووېل : دويمه ټوټه په يو لك شوه، ابن زمعه رضي الله عنه ووېل چې دريمه ټوټه څمکه هم زما په يو لك شوه، "فَقَالَ مُعَاوِيَةُ: كَمْ بَقِيَ مِنْهَا؟ قَالَ: سَهْمٌ وَنِصْفُ سَهْمٍ، قَالَ: قَدْ أَخَذْتُهُ بِخَمْسِينَ وَمِئَةِ أَلْفٍ. قَالَ: وَبَاعَ عَبْدُ اللهِ بْنُ جَعْفَرٍ نَصِيبَهُ مِنْ مُعَاوِيَةَ بِسِتِّ مِئَةِ أَلْفٍ" امير معاويه رضي الله عنه ووېل : نور څه پاتې شول؟ هغه ووېل : يوه نيمه قطعه پاتې ده، امير معاويه رضي الله عنه ووېل : په يو نيم لك زما شوه، راوي وايي چې عبد الله بن جعفر رضي الله عنه په قرض کې د ځنګل څومره څمکه اخيستې وه، هغه يې په معاويه رضي الله عنه په شپږ لكه روپۍ خرڅه کړه چې دوه لكه روپۍ يې پکې وګټلې، "فَلَمَّا فَرَغَ ابْنُ الزُّبَيْرِ مِنْ قَضَاءِ دَيْنِهِ، قَالَ بَنُو الزُّبَيْرِ: اقْسِمْ بَيْنَنَا مِيرَاثَنَا، قَالَ: وَاللهِ لَا أَقْسِمُ بَيْنَكُمْ حَتَّى أُنَادِيَ بِالْمَوْسِمِ أَرْبَعَ سِنِينَ: أَلَا مَنْ كَانَ لَهُ عَلَى الزُّبَيْرِ دَيْنٌ فَلْيَأْتِنَا فَلْنَقْضِهِ. فَجَعَلَ كُلَّ سَنَةٍ يُنَادِي فِي الْمَوْسِمِ" کله چې عبد الله رضي الله عنه د قرض اداء کولو څخه فارغ شو، نو د زبير رضي الله عنه وارثانو ووېل : اوس په موږ خپله خپله حصه تقسيم کړه، هغه ووېل : ستاسو تر منځ به تر هغه پورې مال نه تقسيموم چې څلور کاله مې د حج په موقعه دا اعلان نه وي کړی چې په زبير رضي الله عنه باندې د هر چا قرض وي، نو هغوی دې راشي، هغه قرض به موږ ورکړو، "فَلَمَّا مَضَى أَرْبَعُ سِنِينَ قَسَمَ بَيْنَهُمْ وَدَفَعَ الثُّلُثَ، وَكَانَ لِلزُّبَيْرِ أَرْبَعُ نِسْوَةٍ، فَأَصَابَ كُلَّ امْرَأَةٍ أَلْفُ أَلْفٍ وَمِئَتَا أَلْفٍ، فَجَمِيعُ مَالِهِ خَمْسُونَ أَلْفَ أَلْفٍ وَمِئَتَا أَلْفٍ" کله چې په هر کال د اعلانونو څلور کاله تېر شول، نو بيا يې باقي مال د زبير رضي الله عنه په اولاد کې تقسيم کړو او کوم وصيت چې يې د دريمې حصې د مال بېلولو کړی وو، هغه يې ترې جدا کړو، د زبير رضي الله عنه څلور ښځې وې، د هرې ښځې په حصه کې دولس لكه روپۍ ورسېدلې چې د هغه ټول مال پنځه کروړه او دوه لكه روپۍ وې. رواه البخاري

لغوي تحقيق:

وقف: "وقف وقفاً ووقوفاً" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: دربدل.

جنبه: "الجنب" مصدر دی، ددې معنی ده : يو طرف، جمع يې اجناب راځي.

همی: "هم هماً ومهمةً" نصر ينصر باب دی، ددې معنی ده: غمجن او خفه کېدل.

لدينه: "دانه يدينه ديناً" ددې معنی ده : قرض پوره کول، صفت فاعلي يې دائن راځي، صفت مفعولي يې مديون راځي

كربة: "كرب كرباً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده : سخت او مشکل کار

تشريح "لايقتل اليوم الا ظالم أو مظلوم" نن چې کوم خلك مره کېږي، هغه به يا ظالمان وي او يا به مظلومان وي، دا خبره يې په يو مشهور جنګ کې کړې وه، کوم ته چې جنګ جمل ويل کېږي، هغه جنګ چې د علي رضي الله عنه او عائشې رضي الله عنها ترمينځ شوی وو

"وأوصى بالثلث وثلثه لبنيه" د دريمې حصې مال وصيت يې وکړو (۳-۱) او بيا په دريمه حصه کې يې د دريمې حصې نور مال وصيت خپلو لمسيانو ته وکړو، ددې نه معلومه شوه چې د دريمې حصې مال

وصيت هر سړی کولی شي.

"بعد قضاء الدين" د قرض ادا کولو وروسته، ددې نه معلومه شوه چې که په مړي باندې قرض وي؛ نو تر ټولو وړاندې به قرض ادا کولی شي، بيا به وروسته وصيتونه په ځای کوي او ميراث به تقسيموي

د ځان سره مال ساتل جائز دي:

"منها الغابة وإحدى عشرة دارا بالمدينة الخ" د ځنګل ځمکه او يوولس کورونه يې په مدينه منوره کې وو، ددې نه معلومه شوه چې کوم کس قرض اداکولی شي هغه ته قرض اخيستل جائز دي او بله دا هم معلومه شوه چې ځمکه او کورونه د ځان سره ساتل جائز دي. "فقال يا ابن أخي كم على أخي من الدين؟فكتمته" وي فرمايل: وراره! د زبير ﷺ په ذمه څومره قرض وو، ما د هغه څخه قرض پټ کړو

صحابه کرام ﷺ د اخلاقو نمونه ده:

صحابه کرام د ښکلي اخلاقو يوه نمونه وه، ځينو يې مرسته وکړه او ځينو ورته قرض معاف کړو، يا يې د قرض وروسته کولو خواهش وکړو، خو عبد الله بن زبير ﷺ ددې ټولو نه د اوچتو اخلاقو مظاهره وکړه او د چا وړانديز يې خوښ نه کړو، هغه خالص په الله ﷻ باور وساتلو چې د هغه لپاره کافي شو، د هغه په مال او جائداد يې دومره پيسې پيدا کړې چې قرضونه هم خلاص شو او باقي نور مال هم پاتې شو.

"ولکن هوسلف" د امانت په ځای به يې قرض اخيستو، ځکه چې امانت ضايع شي؛ نو د هغه تاوان نه شي ادا کولی او قرض چې ضايع شي نو د هغه تاوان واجب الاداء دی، هغه به خامخا ادا کولی شي، لهذا زبير ﷺ به د خلکو سره دا خير خواهي کول چې د خلکو مالونه به يې د قرض په توګه اخيستل نه د امانت په توګه، ددې لپاره چې ضايع شي؛ نو تاوان به يې ورکړي

د راوي عبد الله بن زبير ﷺ حالات:

اصل نوم يې عبد الله ﷺ دی، کنيت يې ابو حبيب، ابو بکر او خبيب دی، د پلار نوم يې زبير ﷺ دی، د مور نوم يې اسماء ﷺ ده، د مور لقب يې ذات النطاقين هم وو

ولادت د هجرت په لومړي کال د مهاجرو صحابه کرامو ﷺ په کورونو کې لومړی پيدا شو، نبي کريم ﷺ د تبرک په توګه خورما راواخيسته او په خوله مبارکه کې يې وژووله، بيا يې هغه ته ورکړه، د اوه کالو په عمر کې يې د نبي کريم ﷺ سره بيعت وکړو، تر ټولو وړاندې د يرموک په غزا کې شريک شو، په دې جنګ کې يې چې کومه توره راخيستې وه هغه يې د مرګ تر اخره پرېښنوده. ابن زبير ﷺ په ډېرو ژبو کې مهارت درلود، دده زيات غلامان وو، هغوی به مختلفې ژبې استعمالولې، ابن زبير ﷺ به د دوی ټولو سره د هغوی په مورنۍ ژبه ورسره خبرې کولې

وفات په دوه شپېتمه هجري کې عبد المالك بن مروان د حجاج بن يوسف په واسطه د عبد الله بن زبير ﷺ سره وکړه، په دې وخت کې هغه په حرم کې ناست وو، تر ډېره وخته په حرم کې بندي وو، تر

ډېرو ورځو پورې داسې سخت جنګ وشو لکه د اور بخري، بالاخره د جمادی الثاني میاشت په دري اويايمه هجري کې د رسول الله ﷺ صحابي د اسماء ﷺ ذات النطاقين د سترګو تور د خپل رب سره ملاقي شو.

مرويات: د مروياتو شمېر يې درې ډېرش دي، په دوه حديثونو کې بخاري رحمه الله او مسلم رحمه الله متفق عليه دي او په شپږو کې امام بخاري او په دوه حديثونو کې امام مسلم منفرد دی.

باب تحريم الظلم والأمر بردّ المظالم

شپږويشتم باب: ظلم حرام دی او د ظالم لاس نيولو حکم شوی دی

"قَالَ اللّٰهُ تَعَالٰى" الله ﷻ فرمايي: "مَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ حَمِيْمٍ وَّلَا شَفِيْعٍ يُّطَاعُ" د ظالمانو به نه څوک دوست وي او نه به د هغوی لپاره د چا سفارش قبلولی شي [غافر:۱۸]

تشريح: د مشرکانو لپاره به د قيامت په ورځ نه څوک ملګری وي او نه به يې څوک سفارش وکړي، ځکه چې د قيامت په ورځ به هغه څوک سفارش کولی شي چې اجازت ورته وشي، د ظالمانو لپاره به الله ﷻ سفارش بالکل خوښ نه کړي او نه به چاته اجازه ورکړي چې د هغوی لپاره سفارش وکړي.

"وَقَالَ تَعَالٰى" الله ﷻ فرمايي چې: "وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ نَّصِيْرٍ" د ظالمانو به څوک مددګار نه وي، [الحج:۷۱] د آيت مطلب هم دا دی چې د ظالمانو يعنې هغو کسانو چې الله ﷻ خفه او ناراضه کړی دی، د دوی به نه څوک مدد ګار وي چې له عذابه يې خلاص کړي او نه به يې څوک سفارش وکړي.

"وأمّا الأحاديث فمنها: حديث أبي ذر ﷺ المتقدم في آخر باب المجاهدة" هر چې حديثونه دي نو په دې کې "باب المجاهده" د ابي ذر ﷺ نه روايت تېر شوی دی.

ظلم به د قيامت په ورځ د تيارو په شکل وي

"وعن جابر ﷺ: أن رسول الله ﷺ قال: اتّقوا الظّلم، فإنّ الظّلم ظلمات يوم القيامة" د جابر ﷺ نه روايت دی، هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: خانونه د ظلم څخه بچ کړئ، ځکه چې ظلم به د قيامت په ورځ د تيارو په شکل کې وي، "وَاتّقوا الشّحّ، فإنّ الشّحّ أهلك من كان قبلكم" شومتيا مه کوئ؛ ځکه چې د شومتيا له وجې مخکې خلك تباه شوي دي، "حملهم على أن سفكوا دماءهم، واستحلّوا محارمهم" په دې تورګه چې هغوی يې په قتل او وينه تويولو باندې باعث کړل او کومې خبرې چې د هغوی لپاره حرامې وې؛ نو حلال ګڼلو باندې به يې خلك لمسول رواه مسلم

لغوي تحقيق:

الظلم: "ظلم ظلماً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: کوم شی بې ځايه کېښودل، کوم شی چې غلط استعمال شي دې ته ظلم ويل کيږي، شرارت او د حق کمی کول دې ټولو ته شامل ده

الشح: "شح شحاً" نصر ينصر او د ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: بخل، حرص، لالچ كول.

سفكوا: "سفك سفكاً" ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: وينه تویول.

تشريح "فإن الظلم ظلمات يوم القيامة" د قيامت په ورځ به ظلم د تيارو په شكل كې وي، مطلب دا دی چې د قيامت په ورځ به ظالم په تورو تيارو كې راګېر وي، د هغه سره به هغه نور او رڼا نه وي چې مسلمانانو ته به ملاوېږي، د كوم ذكر چې په قرآن كريم كې په داسې الفاظو سره راغلی دی: "نورهم يسعى بين أيديهم وبأيمانهم" د قيامت په ورځ به رڼا د مسلمانانو نه وړاندې ځي، ددې نه به ظالمان محرومه وي، خو ځينې نور محدثين فرمايي چې دلته د تيارو نه مراد د قيامت په ورځ سختی او تكليفونه دي، يعنې ظالمان به په تكليفونو او كړاوونو كې وي.

بخيلي د هلاكت ذريعه ده:

"فإن الشح أهلك من كان قبلكم" د بخل نه ځان وساتئ؛ ځكه چې د بخل په وجه ستاسو نه وړاندې قومونه هم هلاك شوي دي، "شح" معنی: د مال سره سخته مينه درلودل، كله چې د انسان په زړه كې د مال مينه او محبت دننه شي؛ نو بيا هغه نه د حرامو خيال ساتي او نه د حلالو، بيا ددې لپاره ناحقه قتلونه هم كوي، بس صرف مال جمع كوي.

"أهلك" هلاك شول، دا خبر هم كېدلی شي چې په دنيا كې هلاك شول، دويمه دا چې په آخرت كې به هلاك شي، ځينې نور فرمايي چې په دنيا او اخرت دواړو كې به هلاك شي.

د قيامت په ورځ به بې ښكره چېلی ته د ښكروالا نه بدل اخيستلی شي

"وعن أبي هريرة ﷺ: أن رسول الله ﷺ قال: لتؤدن الحقوق إلى أهلها يوم القيامة" د ابو هريره ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د قيامت په ورځ به حقدارو ته خپل حقونه خامخا وركولی شي، "حتى يقاد للشاة الجلحاء من الشاة القرناء" تردې پورې چې د ښكرور خاروي نه به د بې ښكرو خاروي لپاره كه هغه بې وهلی وي بدله به وراخيستل شي. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

جلحاء: "جلح جلحاً" باب سمع يسمع دی، ددې معنی ده: د سر وېښتان ختمېدل او ګنجي.

كېدل، خو دلته يې معنی ده: بې ښكره چېلی.

القرناء: "قرن قرناً" باب سمع يسمع دی، ددې معنی ده: ښكروالا چېلی.

د عدل مثال:

تشريح "حتى يقاد للشاة الجلحاء من الشاة القرناء" د حديث مطلب دا دی چې د قيامت په ورځ به دومره زيات عدل وي چې حد درجې ته رسېدلی وي، تردې پورې چې هغه بې ښكره چېلی ته به د هغې چېلی نه بدله واخيستل شي چې ښكر يې وي او هغې دغه بې ښكره چېلی زخمي كړې وي، يعنې الله ﷻ

دومره انصاف والاذات دی چې د مظلومو څارويو فرياد هم اوري او هغه ته به انصاف ورکوي، په دې کې دې خبرې ته اشاره ده کله چې يو بې شعوره څاروي ته انصاف ورکولی شي او د يو مظلوم څاروي لپاره د ظالم څاروي نه بدله اخيستلی شي، نو څنګه به يو عاقل بالغ انسان معاف کړی شي چې هغه په يو مظلوم باندې ظلم کړی وي، د ظلم تلافي هم دغه ده چې د ظلم نه دې توبه وويستل شي.

هر نبي خپل قوم د دجال د شر نه وېرولی دی:

"وعن ابن عمر رضی الله عنهما، قال: كُنَّا نَتَحَدَّثُ عَنْ حَجَّةِ الْوَدَاعِ، وَالنَّبِيُّ ﷺ بَيْنَ أَظْهُرِنَا" د ابن عمر رضی الله عنه روايت دی، فرمايي چې موږ به د رسول الله ﷺ په موجودګۍ کې د حجة الوداع په باره کې خبرې کولې: "وَلَا نَدْرِي مَا حَجَّةُ الْوَدَاعِ حَتَّى حَمِدَ اللهَ رَسُولُ اللهِ ﷺ وَأَثْنَى عَلَيْهِ ثُمَّ ذَكَرَ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ فَأَطْنَبَ فِي ذِكْرِهِ" او موږ به ويل چې حجة الوداع څه ته ويل کيږي؟ چې نبي کريم ﷺ د الله جل جلاله ثناء او صفت بيان کړو او دجال يې پکې ښه په تفصيل سره ذکر کړو، "وَقَالَ: مَا بَعَثَ اللهُ مِنْ نَبِيٍّ إِلَّا أَنْذَرَهُ أُمَّتَهُ أَنْذَرَهُ نُوحٌ وَالنَّبِيُّونَ مِنْ بَعْدِهِ" او داسې يې وفرمايل: يو نبي هم الله جل جلاله نه دی رالېږلی مګر دا چې هغه نبي به خپل امت د دجال د فتنې څخه خامخا وېرولو، نوح عليه السلام او د هغه نه پس پېغمبرانو هم خپل قومونه وېرولي وو، "وَإِنَّهُ إِنْ يَخْرُجْ فِيكُمْ فَمَا خَفِيَ عَلَيْكُمْ مِنْ شَأْنِهِ فَلَيْسَ يَخْفَى عَلَيْكُمْ، إِنَّ رَبَّكُمْ لَيْسَ بِأَعْوَرَ وَإِنَّهُ أَعْوَرُ عَيْنِ الْيُمْنَى" دا دجال به په تاسو کې ښکاره کيږي، يعنې د دې امت په اخري زمانه کې به ښکاره کيږي، که نخښې يې ستاسو نه پټې پاتې شي؛ نو هيا يې هم دا ښکاره نخښه ده چې ستاسو رب ړوند نه دی او هغه ښي سترګه به ړنده وي، "كَأَنَّ عَيْنَهُ عِنَبَةٌ طَافِيَةٌ" د هغه سترګه به د انګور د دانې په شان بهر پړسېدلې راوتلې وي، "أَلَا إِنَّ اللهَ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا، فِي بَلَدِكُمْ هَذَا، فِي شَهْرِكُمْ هَذَا، أَلَا هَلْ بَلَّغْتُ؟" خبردار! بې شکه الله جل جلاله په تاسو باندې ستاسو وينې (تويول) او مالونه (غلا کول او په زور اخيستل) حرام کړي دي، لکه څرنګه چې نن د دې ورځې حرمت دی او د دې ښار حرمت دی او د دې مياشتې حرمت دی، ښه وواياست ما تاسو ته (دين) ورسولو؟ "قَالُوا: نَعَمْ، قَالَ: اللَّهُمَّ اشْهَدْ، ثَلَاثًا، وَيْلَكُمْ - أَوْ وَيْحَكُمْ -، انْظُرُوا: لَا تَرْجِعُوا بَعْدِي كُفَّارًا يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ" صحابه کرامو ورته وفرمايل: هو! بيا نبي اکرم ﷺ وفرمايل: يا الله! شاهد شه! درې ځله يې دا جمله وفرمايل، بيا نبي اکرم ﷺ داسې وويل: "وَيْلَكُمْ - أَوْ وَيْحَكُمْ" معنی دا چې ستاسو لپاره هلاکت دی او يا ستاسو لپاره افسوس دی، (که داسې وشو) ښه سوچ وکړئ دا خبره واورئ! زما نه وروسته چېرته تاسو کافران نه شئ چې د يو بل څټونه وهئ! رواه البخاري، وروی مسلم بعضه.

لغوي تحقيق:

بأعور: "عور عوراً" باب سمع يسمع دی، د دې معنی ده: په يوه سترګه ړند پدل.

عنبة: "العنب" انګور ته ويل کيږي، د دې جمع اعناب راځي، "عنبة طافية" يعنې د انګورو هغه دانه چې جوړلې وي او بهر ته راوتلې وي.

تشريح:

"مابعث الله من نبي إلا أنذره أمته" داسې يو پيغمبر نه دی راغلی مګر دا چې هغه خپل قوم د دجال د شر نه وېرولی دی.

سوال: دجال به قيامت ته نژدې اخري زمانه کې راځي، لومړی خلکو ته هيڅ وېره نه وه، بيا يې ولې وېرول؟

ځواب: الله ﷻ د دجال د خروج متعين وخت چاته نه دی ښودلی، هوا دومره خبره ضرور بيان شوې ده چې هغه به قيامت ته نژدې وخت کې راوځي او د قيامت علم د چا سره نشته چې کله به راځي.

دجال به ړوند وي:

"إن ربكم ليس بأعور" ستاسو رب ړوند نه دی، دا خبره نبي کريم ﷺ په دې بنياد وکړه چې: "كلم الناس على قدر عقولهم" د خلکو د هغوی د عقلونو په اندازه خبرې کوه، په دې وجه نبي کريم ﷺ داسې وفرمايل، کنه نو الله ﷻ د جسم نه پاك او مبرا ذات دی، الله ﷻ په خپل ذات او صفاتو کې د هر قسم عيبونو او نقصانونو څخه پاك دی.

د دجال د سترګې په باره کې د احاديثو تعارض او تطبيق:

"كان عينه عنبة طافية" طافة د انګور هغې دانې ته وايي چې د نورو خوالې له وجې وچوېږي او بهر ته راوځي، علامه توربشتي رحمه الله فرمايي: د دجال د سترګې په باره کې کې شمېر حديثونه نقل شوي دي چې ددې په مېنځ کې ظاهراً تعارض معلومېږي، ددې روايتونو په مېنځ کې تطبيق ضروري دی، تطبيق به داسې کوو چې د هغه يوه سترګه بالکل نشته او بله سترګه به يې عيب داره وي.

"إن الله حرم عليكم دمائكم وأموالكم" بې شکه الله ﷻ په تاسو باندې ستاسو مالونه او وينې تويول حرام کړي دي، مطلب دا چې هر مسلمان د بل مسلمان ورور دی، د هغه مال، وينه او عزت هر څه ستا لپاره حرام دي، په دې وجه د مسلمان ناحقه وژل او په ناحقه طريقه يې مال خوړل حرام دي.

"لا ترجعوا بعدي كفاراً" زما نه وروسته چېرته تاسو کافران نه شئ چې د يو بل څټونه سره ماتوئ، لکه څرنګه چې د جاهليت په زمانه کې به جاهلانو د يو بل وينې تويولې، په معمولي معمولي خبرو به يې سره په ډېرو ډېرو جنګونه کول، چېرته تاسو دغه ډول نه شئ.

غصب کوونکي ته به د قيامت په ورځ ځمکه ورپه غاړه وي

"وعن عائشة رضي الله عنها: أن رسول الله ﷺ، قال: مَنْ ظَلَمَ قِيدَ شِبْرٍ مِنَ الأرْضِ" د عائشه رضي الله عنها روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: چا چې يوه لوېشت ځمکه په ظلم نيولې وي، "طُوِّقَهُ مِنْ سَبْعِ أَرَضِينَ" الله ﷻ به د اوه / ۷ طبقو ځمکو طوق جوړ کړي او د هغه په غاړه کې به يې واچوي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

ناحقه د بل سړي ځمکه غصب کول:

تشريح په يو روايت کې دي "عن يعلى بن مرة قال سمعت رسول الله ﷺ يقول: من أخذ أرضا بغير حقها كلف أن يحمل ترابها المحشر" يعلى بن مرة ﷺ روايت کوي چې ما د رسول الله ﷺ نه واورېدل فرمايل يې: کوم سړي چې د بل کس ځمکه ناحقه غصب کړي، د قيامت په ورځ به دغه سړي ته وويل شي چې اوس ددې ځمکې ټوله خاوره په سر واخله. په بل روايت کې دي: "خسف به يوم القيامة إلى سبع أرضين" ناحقه ځمکه غصب کوونکي ته به تر اومې ځمکې پورې وربه غاړې کړی شي.

په دې رواياتو کې چې د بنده د حقونو څومره خيال ساتل شوی، تاسو يې خپله اندازه وکړئ.

"طوقه" غاړې ته به يې ورته هار جوړ کړي، ځينې محدثين فرمايي چې د "طوقه" نه مراد هغه ده چې په حديث کې تېر شو، يعنې هغه به په ځمکه کې دننه کړی شي او هغه ځمکه چې ده په غصب نيولې وي، د هغې نه به ورته هار جوړ کړی شي او هغه ته به په غاړه کې واچول شي.

الله جل جلاله په اول ځل ظالم ته مهلت ورکوي

"وعن أبي موسى ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: إن الله ليملي للظالم، فإذا أخذه لم يفلته" د ابو موسى اشعري ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: الله جل جلاله ظالم ته مهلت ورکوي، مګر کله يې چې راونيسي نو بيا يې نه پرېږدي، "ثم قرأ: وكذلك أخذ ربك إذا أخذ القرى وهي ظالمة إن أخذه أليم شديد" بيا نبي اکرم ﷺ دا آيت تلاوت کړو: ستا د رب نيول هم داسې وي چې کله هغه د يو کلي ظالمان نيسي، د هغه نيول زيات سخت او دردناک وي [هود:١٠٢] متفق عليه

لغوي تحقيق:

ليملي: "أملى إملاء" باب افعال دی، ددې معنی: موقع ورکول، مهلت ورکول.

يفلته: "فلت فلتا" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: پرېښودل؛ خوشې کول.

تشريح: "إن الله ليملي للظالم" بې شکه الله جل جلاله ظالم ته مهلت ورکوي، الله جل جلاله د خپلې ارادې په تو که ظالم او ګناهګار ته مهلت ورکوي چې توبه وباسي، ليکن کله چې يې د نيولو اراده وکړي؛ نو بيا د هغه نه بچ کوونکی څوک نشته، څوک به يې هم ترې خلاص نه کړي، په دې حديث کې دې طرفته ته اشاره ده چې انسان بايد ځان د ظلم نه بچ کړي، د الله جل جلاله په مهلت ورکولو باندې مغروره نه شي؛ هسې نه هم الله جل جلاله راته څه نه وايي، ځکه چې هيڅ معلومه نه ده چې کله به دې مهلت ختم شي او د الله جل جلاله په نيولو کې به راشي.

نبي کريم ﷺ معاذ ﷺ د يمن حاکم جوړ کړو

"وعن معاذ ﷺ، قال: بعثني رسول الله ﷺ فقال: إنك تأتي قوما من أهل الكتاب فادعهم إلى شهادة أن لا إله إلا الله، وأني رسول الله" د معاذ ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ زه حاکم جوړ کړم، د لېږلو په وخت يې راته دا هدايت وکړو چې ستا خوا ته به د اهل کتابو يوه ډله راشي، دوی ته دې خبرې ته راوبوله چې ددې

خبري شاهدي ادا کړي چې د الله ﷻ نه سېوا بل څوک د عبادت لائق نشته او زه د الله ﷻ رسول يم. "فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذٰلِكَ، فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللهَ قَدِ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ خَمْسَ صَلَوَاتٍ فِي كُلِّ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ" که دوی ددې خبرې تابعداري وکړه، نو بيا دوی پوه کړه چې الله ﷻ په دوی باندې پنځه وخته لمونځ په شپه او ورځ کې فرض کړی دی، "فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذٰلِكَ، فَأَعْلِمْهُمْ أَنَّ اللهَ قَدِ افْتَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ" که دوی دا خبره ومنې نو بيا ورته ووايه چې الله ﷻ په دوی باندې زکات فرض کړی دی چې د مالدارانو څخه به اخيستل کيږي او په غريبانو به تقسيمولی شي. "فَإِنْ هُمْ أَطَاعُوا لِذٰلِكَ، فَإِيَّاكَ وَكَرَائِمَ أَمْوَالِهِمْ" که دوی دا خبره هم درسره ومنې نو بيا په زکات اخيستلو کې د دوی نه شې اخيستلو څخه ځان وساته "وَاتَّقِ دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ، فَإِنَّهُ لَيْسَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ اللهِ حِجَابٌ" او د مظلوم د بدو ښېرو نه ځان وساته، ځکه چې د مظلوم د ښېرو او د الله ﷻ په مينځ کې هيڅ پرده نه وي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

فترد: "رد رداً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: واپس کېدل، مخ اړول

حجاب: "الحجاب" مصدر دی، ددې معنی ده: پرده، د دوه شيانو ترمينځ مانع جوړېدونکې ته حجاب ويل کيږي.

تشريح "بعثني رسول الله ﷺ" زه (معاذ رضي الله عنه) رسول الله ﷺ يمن ته روان کړم

معاذ رضي الله عنه کله يمن ته روان شو؟

د ابن سعد په نزد د هجرت په ۱۰ کال او د ابن حجر رحمه الله په نزد ۱۰ کال د نبي ﷺ د حج نه مخکې روان شو.

د مکې د فتحې په کال، د

"فادعهم إلى شهادة أن لا إله إلا الله" دوی ته دعوت ورکړه او دې خبرې ته يې راوبله چې نشته لائق د عبادت سېوا د الله ﷻ نه، يعنې تر ټولو اول ورته د توحيد کلمه وښايه، کله چې درسره دا ومني؛ نو بيا ورته د اسلام نور احکامات بيان کړه.

ايا د يو ښار زکات بل ښار ته وړلی شي؟

"فترد إلى فقرائهم" د دوی د مالدارانو څخه به زکات اخيستلی شي او د دوی په غريبانانو به تقسيمولی شي، ددې جملې نه امام شافعي رحمه الله او امام مالك رحمه الله استدلال کوي چې د يو ځای زکات بل ځای ته وړل مناسب نه دي، په خلاف د امام ابو حنيفه رحمه الله چې د هغه په نزد بغير د کومې معقولې وجې بل ځای ته زکات وړل مکروه دي، ليکن که د بل ځای خلک غريبانان او زيات محتاجه وي، نو بيا کراهيت پکې نشته. "احناف کثر الله سوادهم" فرمايي چې دا جمله "فترد إلى فقرائهم" (هم ضمير مسلمانانو غريبانو ته راجع دی، بيا هغه عام دی: که ددې ښار غريبانان وي او که د بل ښار وي، علامه طيبي رحمه الله فرمايي: په دې خبره اتفاق دی چې که د بل ځای غريبانانو ته زکات ورکړل شو، نو ذمه بالکل فارغه ده او زکات ساقط شو.

په دې حديث کې د روژې او حج ذکر نشته:

سوال: په دې حديث کې ولې د حج او روژې ذکر ونه شو؟

ځواب: په حديث کې يو اعتقادي جزء چې هغه د شهادت کلمه ده، دويم جزء يې بدني عبادت دی، يعنې لمونځ او دريم جزء يې مالي عبادت دی چې هغه زکات دی، په دې کې ټول عبادات داخل شول، علامه شبير احمد عثماني رحمه الله فرمايي: د اسلام د ټولو ارکانو شمارل مقصود نه وو، هغه خو معاذ رضی الله عنه ته معلوم وو، صرف يو حد يې پکې ذکر کړو چې مقصود پکې دعوت إلى الاسلام دی، يعنې يو ځل ټول اسلام ته مه دعوت کوئ؛ بلکې تدريجاً مزه په مزه يې په شريعت روان کړه.

"**واتق دعوة المظلوم**" د مظلوم د ښېرو نه ځان وساته، د مظلوم په ښېرو د الله ﷻ عذاب نازليږي، ځکه چې د مظلوم او د الله ﷻ ترمنځ هيڅ پرده نشته.

د راوي معاذ رضی الله عنه حالات:

اصل نوم يې معاذ رضی الله عنه دی، کنيت يې ابو عبد الرحمن دی، لقب يې امام الفقهاء دی، د خزرج قبيلې سره يې تعلق درلود، د اتلسو کالو په عمر کې د مصعب بن عمير رضی الله عنه په لاس مسلمان شو، نبي کريم ﷺ دده سره ډېره زياته مينه درلوده، د نبي کريم ﷺ سره په ټولو جهادونو کې شريک شوی ؤ، کله چې نبي کريم ﷺ هغه يمن ته روان کړو، نو يمنيانو ته يې خط وليکلو، په هغې کې يې وليکل "**بعثت لكم خير أهلي**" زه په خپلو ملګرو کې تر ټولو غوره انسان تاسو ته درليږم.

عمر رضی الله عنه چې کومه شورى جوړه کړې وه، په هغې کې معاذ رضی الله عنه هم شريک وو، عمر رضی الله عنه د هغه په باره کې وفرمايل: "**اعلمهم بالحلال والحرام معاذ بن جبل رضی الله عنه**" زموږ د صحابه وو په جماعت کې تر ټولو زيات په حلالو او حرامو پوه انسان معاذ بن جبل رضی الله عنه دی، په يوه بله موقع باندې عمر رضی الله عنه وفرمايل: "**لولا معاذ لهلك عمر**" که معاذ رضی الله عنه نه وای، نو عمر رضی الله عنه به هلاک شوی وو، بل ځای يې وفرمايل: که څوک فقه زده کول غواړي، نو هغه دې معاذ رضی الله عنه ته رجوع وکړي.

وفات: د عمواس په طاعون کې وفات شو، دغه مهال د هغه عمر شپږ دېرش کاله وو، په اتلسمه هجري کې په هغه ځای باندې دفن کړی شو د کوم ځای څخه چې عيسى عليه السلام پورته اسمان ته پورته شوی ؤ.

مرويات: د مروياتو شمېر يې تر يو سل اوه پنځوسو پورې رسيږي، په دوه حديثونو کې بخاري رحمه الله او مسلم رحمه الله متفق عليه دي.

عامل به د چا دالی نه قبلوي

"**وعن أبي حميد عبد الرحمن بن سعد الساعدي رضی الله عنه قال استعمل النبي ﷺ رجلا من الأزد يقال له: ابن اللتبية على الصدقة فلما قدم قال: هذا لكم وهذا أهدي إلي**" د ابو حميد عبد الرحمن بن سعد ساعدي رضی الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ يو کس چې د ازد قبيلې سره يې تعلق درلود، نوم يې ابن اللتبية وو، هغه يې په زکات

غونډولو باندې عامل مقرر کړو، کله چې واپس راغلو، نو هغه ووېل: دا شيان ستاسو لپاره دي او دغه يو شى ماته په هديه/ ډالۍ کې راکړل شوى دى، "فقام رسول الله ﷺ على المنبر فحمد الله واثنى عليه ثم قال امابعد: فاني استعمل الرجل منكم على العمل مما ولاني الله فيأتي فيقول هذا لكم وهذا هدية أهديت إلي" نبي کريم ﷺ پورته شو او په منبر باندې کېښستلو، بيا يې د الله حمد او ثناء ووېل، بيا يې وفرمايل: زه په تاسو کې يو کس داسې کار باندې عامل مقرر کړم چې الله ﷻ يې امر ماته سپارلى دى، کله چې هغه راشي؛ نو وايي: دا د صدقې مال دى، دا ستا دى او دا زما مال دى چې خلکو ماته په تحفه کې راکړى دى، "أفلا جلس في بيت أبيه أو أمه حتى تأتيه هديته إن كان صادقاً" ولې هغه د خپل مور پلار په کور کې نه کېني، بيا به ورته په ولګېږي چې هغه ته صدقې او تحفې راځي او که نه؛ که چېرته هغه رښتونى وي، "والله لا يأخذ أحد منكم شيئاً بغير حقه إلا لقي الله تعالى يحمله يوم القيامة فلا أعرفن أحداً منكم لقي الله يحمل بعيراً له رغاء أو بقرة لها خوار أو شاة تيعر" په الله ﷻ قسم چې کوم کس د خپل حق نه بغير نور شيان واخلي، نو د قيامت په ورځ به يې د الله ﷻ سره داسې ملاقات وشي چې هغه مال به ورباندې بار وي، زه تاسو په داسې حال کې ونه وينم چې د الله تعالى سره د برېدلي اوښ، د غړېدلي غوا او چغېدلي بزې غوندې ملاو شئ، "ثم رفع يديه حتى روي بياض إبطيه فقال: اللهم هل بلغتُ" بيا نبي کريم ﷺ د دعاء لپاره خپل لاسونه اوچت کړل، دومره يې اوچت کړل چې د ترخونو سپين والى يې ښکاره شو، بيا يې وفرمايل: اې الله! ما ستا حکم ورسولو. متفق عليه

لغوي تحقيق:

رغاء: "رغاء رغاءً" باب نصر ينصر دى، ددې معنى ده: د اوښ غړېدل، چغې وهل

خوار: "خار خوار" باب نصر ينصر دى، ددې معنى ده: د غوا آوازونه او چيغې

تيعر: "يعر ييعر يعاراً" ددې معنى ده: د چېلۍ آواز.

د (ازد) قبيلې د سړي د نوم په باره کې د محدثينو اختلاف:

"رجلاً من الأزد يقال له إبن اللتبية" د ازد قبيلې يو سړى چې په ابن اللتبية باندې مشهور وو، ددې سړي په اصلي نوم کې د محدثينو اختلاف دى، ځينې وايي: داود دى، ځينې وايي: دراء بن غوث دى او ځينو نورو اسد ښودلى دى او ځينو پکې عبد الله نوم اضافه کړى دى

"هذه هدية اهدية إلي" دا يوه ډالۍ ده چې ماته په تحفه کې راکول شوې ده، ددې نه معلومه شوه چې که يو کس په کومه چوکۍ باندې ناست وي هغه ته پکار نه دي چې د چا ډالۍ/ تحفه قبوله کړي، مطلب دا چې د ډالۍ او تحفې ورانديز هغه ته ذاتي نه وي شوى، بلکې د چوکۍ او عهدې له امله ورته دغه ډالۍ ورکول شوې وي، دا ناجائز عمل دى، که چېرته ددې نه وړاندې هم هغه ته دغه تحفې او ډالۍ ورکړل شوي وې او د هغه سره يې وړاندې هم دغه معمول وو، نو اوس هغه ته تحفه يا ډالۍ اخيستل هيڅ باک نه لري.

"إلا لقي الله تعالى يحمله يوم القيامة" د الله ﷻ سره به د قيامت په ورځ ملاقي شي، د قيامت په ورځ به

هر سړی د خپلو ګناهونو پنډ په سر وړي، د بل سړي د ګناهونو پنډ به چيرې هم وانخيستل شي او نه به ترې څه کم کړي، لکه څرنګه چې په قرآن کريم کې الله ﷻ فرمايي: "ليحملوا أوزارهم كاملة يوم القيامة" او دوی به د خپلو ګناهونو پوره پنډونه په سرونو راخيستي وي، بل ځای الله ﷻ فرمايي: "وهم يحملون أوزارهم على ظهورهم" هغوی به د خپلو ګناهونو پنډونه په خپلو شاګانو راخيستي وي.

"يعيرله رغآء" اوښان به اوازونه شروع کړي او راروان به وي، په دې حديث کې د دې خبرې شاهدي ورکول شوې ده چې په دنيا کې څوک د چا نه يو شی غصب کړي، اګر چې اوس خلک خبر نه دي ليکن الله ﷻ به يې د قيامت په ورځ د ټولو خلکو په وړاندې رسوا او شرمنده کړي، اوښانو به اوازونه شروع کړي وي، غواګانو به اوازونه شروع کړي وي، وايي به چې دغه سړي زه غلا کړی وم، بيا به ټولو ته معلومه شي چې دا خو د غلا څاروی وو.

د نبي کريم ﷺ د ترخ/ بغل مبارک نه بدبويي نه تله:

"بياض إبطيه" د ترخ سپينوالی

سوال: په ترخ کې خو توروالی وي؟

ځواب که د شروع نه د ترخ ويښتانو ويستلو عادت جوړ شي چې دا سنت طريقه هم ده، بيا په ترخ/ بغل کې سپينوالی پيدا کيږي، اګر چې خريل يې هم جائز دي، علماء فرمايي: که يو کس د شروع نه د ترخ/ بغل ويښتانو په ويستلو عادت نه وي، نو بيا دي وروسته نه وباسي، ځکه چې بيا انسان ته تکليف رسيږي، علامه زين الدين عراقي رحمه الله فرمايي: د نبي کريم ﷺ په ترخ کې به ويښتان نه وو او ځينو نورو علماوو ويلي دي چې ويښتان وو، خو په دې خبره د ټولو اتفاق دی چې د نورو خلکو په څېر به يې بغل بد بوی نه کولو.

د راوي ابو حميد عبد الرحمن بن سعد رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې عبد الرحمن دی، کنيت يې ابو حميد دی، د پلار نوم يې عمرو دی، د نيکه نوم يې سعد دی، نسب نامه يې دا ده: عبدالرحمن بن عمرو بن سعد بن مالك بن خالد بن ثعلبة بن حارثه بن عمرو الخ، د مديني منورې اوسېدونکی وو.

وفات: د امير معاويه رضي الله عنه په دور خلافت کې وفات شو

مرويات: د مروياتو شمېر يې يو سل يوويشت حديثونه دي، په درې حديثونو کې بخاري رحمه الله او مسلم رحمه الله متفق عليه دي، په يو حديث کې بخاري او په يو حديث کې مسلم منفرد دی.

د قيامت په ورځ به د ظالم نه د ظلم په بدله کې نېکۍ اخيستل کيږي

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال: من كانت عنده مظلمة لأخيه من عرضه أومن شئ فليتحلله منه اليوم قبل أن لايكون دينار ولا درهم" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د کوم سړي سره چې د خپل مسلمان ورور د ضرر رسولو يا عزت اخيستلو يا د حق تلفی کرمه غوښتنه پاتې وي، نن

دي ترې معافي وغواړي، مخکې د هغې ورځې نه چې د بدلې ورکولو لپاره نه روپۍ وي او نه مال وي، "إن كان له عمل صالح أخذ منه بقدر مظلمته وإن لم يكن له حسنات أخذ من سيئات صاحبه فحمل عليه" که دده سره نېکي وي نو د هغه د ظلم په اندازه به ترې نېکي اخيستلې شي او مظلوم ته به ورکولې شي او که نېکۍ ورسره نه وي، نو د مظلوم ګناهونه به رااخيستل کيږي او د ظالم په سر به اچولې شي. رواه البخاري

"وعن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما، عن النبي ﷺ، قَالَ: اَلْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُوْنَ مِنْ لِسَانِهٖ وَيَدِهٖ" د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه نه روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کامل مسلمان هغه دى چې د لاس او ژبې څخه يې نور مسلمانان په امن کې وي، "وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللّٰهُ عَنْهُ" حقيقي هجرت کونکی سړی هغه دى چې د هغه کارونو څخه منع شي د کومو کارونو نه چې الله ﷻ منع کړې وي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

عرضه: "العرض" ددې معنى ده: عزت او ناموس.

د قيامت په ورځ به د عملونو سکه / پيسې چليږي:

تشريح: "من كانت عنده مظلمة" د بخاري په بل روايت کې دي: "كانت له مظلمة".

"لايكون دينار ولا درهم" د هغه سره به نه د قيامت په ورځ دينار وي او نه به درهم وي، مطلب دا چې کوم کس په چا باندې ظلم کړی وي، نو واجب ده چې په دې دنيا کې ترې معافي وغواړي، ددې ظلم د معافي په مقابله کې که د پيسو مطالبه کوي، بايد چې ورېې کړي، ځکه چې داسې يوه ورځ راروانه ده چې نه به هلته دينار چليږي او نه به درهم چليږي، بلکې د هغه نه به ددې ظلم په بدل کې نېکۍ اخيستل کيږي او يا به د هغه مظلوم د ګناهونو پنډ دده په سر واچول شي.

"بقدر مظلمته" د هغه د ظلم په اندازه.

سوال: د ظلم کيفيت نه پيژندل کيږي، نو ددې برابر بدله به څنګه ترې اخيستل کيږي؟

ځواب: د قيامت په ورځ به عملونو ته جسم ورکړل شي، لکه څرنګه چې د اکثره علماوو دا قول دی، نو دا به اندازه کولی شي او بدله به ترې اخيستلی شي، بل ځواب دا دی چې يو بل ته به هغه نعمتونه يا عذابونه ملاويږي چې ددې نيکيو يا بدو عملونو په بدله کې د جزاء يا سزا د الله ﷻ له طرفه مقرر دي.

کامل مسلمان هغه دی چې دده د لاس او ژبې له ضرر نه نور مسلمانان خوندي وي

"عن عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه عن النبي ﷺ قال" د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده" په تاسو کې کامل مؤمن هغه دی چې نور مسلمانان دده د لاس او ژبې د ضرر نه په امن کې وي، "والمهاجر من هجر ما نهى الله عنه" او حقيقي مهاجر هغه دی چې الله ﷻ منع کړی دی، د هغې څخه منع شي. متفق عليه

لغوي تحقيق:

سلم: "سلم سلامة" باب سمع يسمع دی، ددې معنی ده: محفوظ پاتې کېدل

هجر: "هجر هجراً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: پرېښودل.

تشريح "المسلم" الف لام عهدي دی، په دې سره کامل مسلمان مراد دی

سوال: په حديث کې خو: "المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده" ذکر شوی، يعنې د هغه له ژبې او لاس د ضرر نه نور خلك په امن کې وي، هغه کامل مسلمان دی، اګر چې هغه لمونځ، روژه او زکات نه ادا کوي

ځواب: ابن حجر رحمه الله فرمايي: په داسې روايتونو کې د: "مع مراعاة باقي الأركان" قيد مقدر دی، اګر چې په لفظ کې نه وي ذکر شوی، د باقي نورو ارکانو رعايت او خيال ساتل هم ضروري دي

سوال: په حديث کې خو مسلمان ذکر شوی دی، يعنې مسلمان ته به ضرر نه شي رسولی، که غير مسلمان ته ضرر ورسول شي، نو بيا به څه وي؟

ځواب: دا قول د اکثريت په اعتبار سره دی، ځکه چې د مسلمانانو اکثره واسطه: مسلمانانو سره وي او د مسلمان په قيد سره د دوی شان او عظمت ته اشاره ده، د محارب کافر نه علاوه چاته هم نقصان رسول صحيح نه دي.

من لسانه: په دې کې ښيرې، لعنت، طعن، بهتان، غيبت، دروغ او چغل خوري ټولو ته شامل دی.

ويده: په دې قيد کې وژل، وهل، غلطه ليکنه وغيره هر څه شامل دي

سوال: د (لاس) تخصيص ولې وکړی شو، حال دا چې ضرر او تکليف په نورو طريقو سره هم رسولی شي؟

ځواب: دا ځکه چې اکثره کارونه په لاس سره ترسره کيږي، ځکه يې داسې ذکر وکړو

سوال: "لسان" يې په (يد) ولې مقدم کړو؟

ځواب: دا ځکه چې د ژبې تکليف او ضرر عام وي، په ژبې سره حاضر او غير حاضر وغيره ټول په نخښه کېدلی شي، ددې بر خلاف په لاس سره داسې نه شي کېدلی، په دې باندې علامه بدر الدين عيني رحمه الله دا شعر ليکلی دی:

جراحات السنان لها التيام ولا يلتام ما جرح اللسان

ترجمه: د نيزو زخمونه به جوړ شي، خو هغه زخمونه نه جوړيږي چې په ژبې سره زخمي شي

حقيقي مهاجر څوك دی؟

"والمهاجر من هجر ما نهى الله عنه" دلته هم په "المهاجر" کې الف لام عهدي دی، يعنې کامل هجرت دا دی چې سړی ځان د ګناهونو نه بچ کړي. ځينې محدثين فرمايي: دا ارشاد يې هغه وخت وفرمايلو چې کله د مکې مهاجرينو صحابه کرامو مدينې منورې ته هجرت وکړو، نو انصارو صحابه کرامو رضي الله عنهم ډېره زياته قرباني ورکړه، مهاجرو ورونو ته يې ډېر سامان او جايدادونه ورکړل. په دې باندې تنبيه وفرمايل

شوه چې د دغو شيانو د حاصلولو لپاره چې هجرت ونه کړئ، کنه نو د هجرت عمل به مو ضايع شي، بلکې د ګناهونو نه د بچ کېدو اهتمام وکړئ! دا حقيقي هجرت دی، ځينې نور محدثين فرمايي: يو ظاهري هجرت دی او بل باطني، ظاهري هجرت دا دی چې انسان د دار الکفر نه دار الاسلام ته هجرت وکړي او باطني هجرت دا دی چې په حديث کې تېر شو چې سړی ځان د ګناهونو نه بچ کړي، هجرت من دار الکفر إلى دار الاسلام بذات خود مقصود نه دی، بلکې باطني هجرت يعنې هجرت من الذنوب والمعاصي مقصود دی.

د مال غنيمت نه لږه غلا هم حرامه ده

"وعنه رضي الله عنه قَالَ: كَانَ عَلَى ثَقَلِ النَّبِيِّ ﷺ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ كِرْكِرَةُ، فَمَاتَ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: هُوَ فِي النَّارِ" د عبد الله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه نه روايت دی، هغه فرمايي چې: کرکره نوم والا يو کس د نبي اکرم ﷺ د سامان حفاظت کونکی و، کله چې مړ شو، نو نبي اکرم ﷺ وفرمايل: دا کس جهنمي دی، "فَذَهَبُوا يَنْظُرُونَ إِلَيْهِ فَوَجَدُوا عَبَاءَةً قَدْ غَلَّهَا" صحابه کرامو پته ولګول چې د هغه کور ته لاړ شي، نو هلته هغوی يوه چوغه وليدل چې خيانت کولو سره يې هلته ايښې وه. رواه البخاري

لغوي تحقيق:

عباء: "العباء" ددې معنی ده: چپن، چوغه.

غلها: "غل غلا" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: غلا کول، په پټه سامان وړل.

تشريح "يقال له کرکرة" دا کس په کرکره باندې مشهور ؤ، خکه يې په اصلي نوم کې اختلاف دی، په جنګ کې به د رسول الله ﷺ سوارلۍ سره روان وو.

"فذهبوا ينظرون إليه" صحابه کرامو دده په باره کې تحقيق شروع کړو، نو دده کور ته ورسېدل، يحيى رحمه الله فرمايي: "فذهبوا" کې (ف) عاطفه ده، لکه ددې عبارت نه مخکې چې دا مفهوم محذوف دی، هغه دا چې کله صحابه کرامو د نبي کريم ﷺ دا ارشاد واورېدو، نو دوی ته پته ولګېده چې د کرکرة په باره کې يې دا وعيد وفرمايلو، ددې نه وروسته صحابه کرامو تحقيق شروع کړو، هغوی ته پته ولګېده چې هغه د مال غنيمت نه غلا کړې وه، معلومه شوه چې غلا او خيانت څومره لوی جرم دی چې ددې په وجه انسان د جهنم مستحق ګرځي، دا کس اګر چې د رسول الله ﷺ خادم وو، بله دا چې که د مال غنيمت څخه وروکی شان مال پټ کړي يا غټ مال پټ کړي، تول په جرم کې يو برابر دی، دا حرام کار دی او دا د نورو غلاګانو څخه سخته غلا ده، څکه چې عامه غلا صرف د يو کس نه کېږي او د مال غنيمت نه غلا د ټولو مجاهدينو حق دی.

د حجة الوداع وروسته زمانه خپل اصلي حالت ته ګرځي

"وعن أبي بكرة نفيع بن الحارث رضي الله عنه عن النبي ﷺ قَالَ: إِنَّ الزَّمَانَ قَدِ اسْتَدَارَ كَهَيْئَتِهِ يَوْمَ خَلَقَ اللهُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ: السَّنَةُ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا، مِنْهَا أَرْبَعَةٌ حُرُمٌ" د ابو بکرة نفيع بن حارث رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زمانه

په خپل هغه ګردش کې ده چې په هغې کې الله ﷻ د ځمکې او آسمان د پيدايش ورځ ايښې وه. کال د دولسو مياشتو وي چې په هغې کې ځلور د عزت مياشتې دي "ثَلَاثٌ مُتَوَالِيَاتٌ: ذُو الْقَعْدَةِ، وَذُو الْحِجَّةِ، وَالْمُحَرَّمُ، وَرَجَبُ مُضَرَ الَّذِي بَيْنَ جُمَادَى وَشَعْبَانَ" درې مياشتې پرلپسې دي: ذوالقعدة، ذوالحجه، محرم او رجب چې د جمادى الثاني او شعبان په مينځ کې ده، "أَيُّ شَهْرٍ هَذَا؟ قُلْنَا: اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، فَسَكَتَ حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ، قَالَ: أَلَيْسَ ذَا الْحِجَّةِ؟ قُلْنَا: بَلَى" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: دا کومه مياشت ده؟ موږ وويل: الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ ډېر ښه پوهيږي، نبي اکرم ﷺ چوپ شو تردې چې موږ ګومان وکړو چې کېدى شي دغې مياشتې ته کوم بل نوم کېږدي، نبي اکرم ﷺ وفرمايل: ايا دا ذوالحجه مياشت نه ده؟ موږ وويل: يا رسول الله ﷺ! هو: ده، "قَالَ: فَأَيُّ بَلَدٍ هَذَا؟ قُلْنَا: اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، فَسَكَتَ حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ. قَالَ: أَلَيْسَ الْبَلْدَةَ؟ قُلْنَا: بَلَى" بيا نبي اکرم ﷺ وفرمايل: دا کوم ښار دى؟ موږ وويل: الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ ډېر ښه پوهيږي، نبي اکرم ﷺ چوپ پاتې شو تردې چې موږ ګومان وکړو چې کېدى شي دې ښار ته بل نوم کېږدي، بيا نبي اکرم ﷺ وفرمايل: آيا دا بلد حرم يعنې د مکې ښار نه دىي؟ موږ وويل: هو دى! "قَالَ: فَأَيُّ يَوْمٍ هَذَا؟ قُلْنَا: اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ، فَسَكَتَ حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ سَيُسَمِّيهِ بِغَيْرِ اسْمِهِ. قَالَ: أَلَيْسَ يَوْمَ النَّحْرِ؟ قُلْنَا: بَلَى" بيا نبي اکرم ﷺ وفرمايل: دا کومه ورځ ده؟ موږ وويل چې الله ﷻ او د هغه رسول ﷺ ډېر ښه پوهيږي، بيا نبي اکرم ﷺ چوپ پاتې شو تردې چې موږ ګومان وکړو چې کېدى شي بل نوم ورته تجويز کړي، بيا نبي اکرم ﷺ وفرمايل: آيا دا د لوى اختر ورځ نه ده؟ موږ ورته وويل: هو، ده! "قَالَ: فَإِنَّ دِمَاءَكُمْ وَأَمْوَالَكُمْ وَأَعْرَاضَكُمْ عليكم حَرَامٌ، كَحُرْمَةِ يَوْمِكُمْ هَذَا فِي بَلَدِكُمْ هَذَا فِي شَهْرِكُمْ هَذَا" بيا نبي اکرم ﷺ وفرمايل: ستاسو وينې تويول او ناحقه مالونه خوړل او د يو بل عزتونه اخيستل دا داسې حرام دي لکه دا نن ورځ چې څنګه حرامه ده، دا ښار چې څنګه حرام دى او دا مياشت چې څنګه حرامه ده، "وَسَتَلْقَوْنَ رَبَّكُمْ فَيَسْأَلُكُمْ عَنْ أَعْمَالِكُمْ" تاسو به د خپل رب سره مخامخ کېږئ! ستاسو څخه به ستاسو د عملونو په باره کې پوښتنې کيږي، "أَلَا فَلَا تَرْجِعُوا بَعْدِي كُفَّارًا يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ" خبردار! تاسو زما څخه وروسته چېرته کافران نه شئ چې د يو بل څټونه پرې کوئ! "أَلَا لِيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ" خبردار! کوم حاضرين چې دلته ناست دي، هغوى دې غائبو خلکو ته دا دين ورسوي، "فَلَعَلَّ بَعْضَ مَنْ يَبْلُغُهُ أَنْ يَكُونَ أَوْعَى لَهُ مِنْ بَعْضِ مَنْ سَمِعَهُ" ځکه کېدى شي چې څوک غير حاضر داسې راپيدا شي چې د اوريدونکي نه ډېر زيات ددې خبرې ساتونکى وي، "ثُمَّ قَالَ: أَلَا هَلْ بَلَّغْتُ، أَلَا هَلْ بَلَّغْتُ؟ قُلْنَا: نَعَمْ. قَالَ: اللّٰهُمَّ اشْهَدْ" بيا نبي اکرم ﷺ وفرمايل: آيا ما دين ورسولو؟ آيا ما دين ورسولو؟ موږ وويل: هو! نو نبي اکرم ﷺ وفرمايل: اې الله! ته دې شاهد يې! مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

لغوي تحقيق:

متواليات: "ولي وليًا" باب سمع يسمع دى، ددې معنى ده: پرلپسې، متصل، د جمع مؤنث اسم فاعل صيغه ده

أوعى: "أوعى إيعاء" باب افعال دى، ددې معنى ده: يادول، جمع کول

په کال کې دولس مياشتې وي:

"إن الزمان قد استدار كهيئته يوم خلق الله السموات والأرض" بې شكه چې د زمانې خپل هغه اصلي گردش پوره شو په كومه وضع چې الله ﷻ ځمکه او آسمان پيدا کړی دی، دغه شان په قرآن کريم کې هم شته "إن عدة الشهور عند الله اثنا عشر شهراً في كتاب الله يوم خلق السموات والأرض" بې شکه د مياشتو شمار د الله ﷻ په كتاب كې دولس مياشتې دی په كومه ورځ چې الله ﷻ ځمکه او آسمان پيدا كړو، د جاهليت په زمانه كې د عربو عادت دا وو چې كله به يې كال د ديارلسو مياشتو حسابولو او كله به يې ددې څخه كم حسابولو، په دې اعتبار سره به د حج مياشته بدلېده او رابدلېده، ليكن په كوم كال چې رسول الله ﷺ حج وكړو، په دغه كال د ذي الحجې مياشت په خپل اصلي حالت باندې وه، په دې وجه رسول الله ﷺ دا ارشاد وفرمايلو.

د حرمت څلور مياشتې دي:

"منها أربعة حرم" په كوم كې چې څلور مياشتې د حرمت دي، هغه ذي القعده، ذي الحجه محرم او رجب دي، دا د حرمت مياشتې دي، قرآن كريم كې هم شته، "فلا تظلموا فيهن أنفسكم" په دې مياشتو كې په ځانونو باندې ظلم مه كوئ!

اوس ددې مياشتو حرمت باقي دی او كه ختم دی؟

د ډېرو علماوو په نزد ددې مياشتو حرمت منسوخ دی، ځكه چې په ذو القعده او شوال كې د طائف خلك محاصره شول او د هوازن قبيلې سره پكې جنگ وشو، "رجب مضر" مضر د عربو مشهوره قبيله ده، دغې قبيلې به د رجب مياشتې زيات عزت كولو، په دې وجه رجب ته رجب مضر ويل كېږي.

"أي شهر هذا" نبي كريم ﷺ د خلكو نه د مياشتو، د ورځې او ښار پوښتنه وكړه، ددې لپاره چې د دوی په زړونو او ذهنونو كې ددې مياشتې، ورځې او ښار حرمت او عظمت پوره كېني، دغه شان به د هغوی په زړونو كې د هغو خبرو اهميت كېني چې وروسته ورته بيان شوې

كوم كس ته چې واورول شو، ممكنه ده چې د اورېدونكي نه په زيات ياد كړي:

"فلعل بعض من يبلغه أن يكون أوعى له من بعض من سمعه" دا ځكه چې كېدی شي كوم كس ته چې دا خبرې واورول شي هغه به يې زياتې حفظ كړي، ددې نه معلومه شوه چې كله يو سړي ته د دين په باره كې كومې مسئلې پته ولگيږي، نو تر خپل ذات پورې يې بايد محدود نه كړي، بلكې نورو ته يې هم بايد ورسوي، ممكنه ده چې هغه به يې دده نه زياته حفظ كړي او په دې باندې به عمل وكړي، بل چا ته د حديثو تبليغ كول د فايدې څخه خالي نه دي، ځكه چې ددې نه به هوښيار خلك فايده واخلي او د دوی په علم كې به نوره اضافه هم وشي، كه هغه يې نورو ته بيان نه كړي بلكې تر خپل ځان پورې يې محدود كړي؛ نو په مزه مزه به يې علم ختم شي

ناحقه قسم خوړلو والا به جهنمي وي:

"وعن أبي أمامة إياس بن ثعلبة الحارثي رضي الله عنه: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ: مَنِ اقْتَطَعَ حَقَّ امْرِىءٍ مُسْلِمٍ بِيَمِينِهِ، فَقَدْ أَوْجَبَ اللهُ لَهُ النَّارَ، وَحَرَّمَ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ" د ابو امامة اياس بن ثعلبة حارثي رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د يو مسلمان سړي مال په قسم خوړلو سره واخلي، الله ﷻ به په هغه باندې جهنم واجب کړي او جنت به پرې حرام کړي، "فَقَالَ رَجُلٌ: وَإِنْ كَانَ شَيْئاً يَسِيراً يَا رَسُولَ اللهِ؟ فَقَالَ: وَإِنْ قَضِيباً مِنْ أَرَاكٍ" يو کس ووېل: يا رسول الله ﷺ اګر چې وړوکی شی وي، نبي اکرم ﷺ وفرمايل: هو اګر چې د کيکر (مسواکی بوټي) يو ښاخ ولې نه وي. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

اقتطع: باب افتعال دی، ددې معنی ده: د چا مال ځانته پرې کول

قضيباً: "القضيب" ددې معنی ده: پرې شوې او تراشل شوې څانګه، جمع يې قضبان راځي.

أراك: د کيکر ونه.

تشريح: په دې حديث کې په دروغو قسم خوړلو او د چا ناحقه مال خوړلو باندې سخت وعيد ذکر شوی دی، د داسې کس لپاره جهنم واجب دی، "اوجب له النار" داسې کس لپاره جهنم واجب شو، ددې دوه تاويله دي: يو دا چې دې سړي په ناحقه قسم وخوړلو او پردی حرام مال يې ځانته حلال وګڼلو، په دې باندې هغه کافر شو، ځکه چې حرامو ته حلال ويل کفر دی، لهذا هغه به ابدي جهنمي وي دويم دا چې داسې کس اګر چې د جهنم مستحق دی، خو بيا يې الله ﷻ په خپل فضل او کرم سره معاف کړي او جنت ته يې داخل کړي، د غه شان جنت ورباندې حرام دی، يعنې اول ځل د عذاب څخه بغير جنت ته نه شي داخلېدلی، د سزا ګاللو وروسته به جنت ته داخلېږي.

د راوي ابو امامه رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې اياس وو، خو ځينې وايي چې نوم يې عبد الله بن ثعلبة وو او ځينو نورو ددې عکس يعنې ثعلبة بن عبد الله ليکلی دی، کنيت يې ابو امامه دی، د پلار نوم يې ثعلبة يا عبد الله دی، د خزرج قبيلې سره يې تعلق درلود.

مرويات: د مروياتو شمېر يې د ځينو محدثينو په نزد دوه او ځينې وايي: درې حديثونه ترې نقل شوي دي، يو په بخاري کې دی او يو په مسلم کې دی.

د مال غنيمت نه د ستنې برابر شی اخيستل هم خيانت دی:

"وعن عدي بن عميرة رضي الله عنه، قال: سمعت رسول الله ﷺ يقول: مَنِ اسْتَعْمَلْنَاهُ مِنْكُمْ عَلَى عَمَلٍ، فَكَتَمَنَا مِخْيَطاً فَمَا فَوْقَهُ" د عدي بن عميره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې موږ په تاسو عامل جوړ کړو او بيا هغه د ستنې برابر غلا وکړي يا ددې څخه هم لږ، "كَانَ غُلُولاً يَأْتِي بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" هغه به په غلا

کې شمارل کيږي او د قيامت په ورځ به را وړل شي، "فَقَامَ إِلَيهِ رَجُلٌ أَسْوَدُ مِنَ الأَنْصَارِ، كَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَيْهِ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، اقْبَلْ عَنِّي عَمَلَكَ، قَالَ: وَمَا لَكَ؟ قَالَ: سَمِعْتُكَ تَقُولُ كَذَا وكَذَا، قَالَ: وَأَنَا أَقُولُهُ الآنَ" په دې دوران کې يو تور رنګ والا انصاري پاڅېدو، هغه منظر اوس هم زما د سترګو وړاندې دی، هغه ووېل: يا رسول الله ﷺ زمانه دا خدمت واپس واخله! نبي اکرم ﷺ ورته وفرمايل: ولې څه خبره ده؟ هغه ووېل: ما اورېدلي دي چې تاسو داسې وېلي دي، نبي اکرم ﷺ وفرمايل: دغه خبره خو زه اوس هم کوم چې "مَنِ اسْتَعْمَلْنَاهُ عَلَى عَمَلٍ فَلْيَجِئْ بِقَلِيلِهِ وَكَثِيرِهِ، فَمَا أُوتِيَ مِنْهُ أَخَذَ، وَمَا نُهِيَ عَنْهُ انْتَهَى" موږ چې په تاسو کې يو کس په يو کار باندې عامل جوړ کړو، زره برابر شی به هم حاضروي، ورکړی وي او که لوی وي او د کومو شيانو څخه منع کولی شي، د هغه څخه به ځان ساتي. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

فكتمناه: "كتم كتماً وكتماناً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: کوم شی پټول.

مخيطاً: "المخيط" ددې معنی ده: ستن.

غلولاً: "الغل" ددې معنی ده: زولنې، زنځير، جمع يې اغلال او غلول راځي.

تشريح: "إستعملناه منكم على عمل" کوم کس چې په يو کار باندې ذمه وار کړم، بيا هغه په دې کار کې خيانت وکړي، د هغه لپاره سخته سزا ده، د قيامت په ورځ به دغه خيانت شوی شی الله ﷻ ته حاضر کړي اګر چې په دنيا کې ترې څوك خبر نه وي، خو د قيامت په ورځ چې به د غلا په باره کې کوم اعلان کيږي هغه به ټول راوړي، الله ﷻ به يې د ټولو خلکو په مخکې شرمنده کړي، بله خبره دا چې په مال غنيمت کې خيانت لويه ګناه او حرام کار دی، د مال غنيمت څخه چې يې څه راخيستي وي هغه به واپس کوي.

د راوي عدي بن عميره رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې عدي رضي الله عنه دی، د پلار نوم يې عميره دی، نسب نامه يې داسې ده: عدي بن عميرة بن فروة بن زرارة، ابو زراره الكندي دی، دا د کندي حضرمي قبيلې وو.

وفات د کوفې اوسېدونکی وو، بيا جزيرې ته نقل شو او هم هلته وفات شو

مرويات ټول درې حديثونه ترې نقل دي، يو په مسلم کې دی، پاتې نور يې په صحاح سته کې دي، په بخاري کې يو روايت هم نشته

د بنده حق په شهادت سره هم نه معاف کيږي

"وعن عمر بن الخطاب رضي الله عنه، قَالَ: لَمَّا كَانَ يَوْمُ خَيْبَرَ أَقْبَلَ نَفَرٌ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ ﷺ، فَقَالُوا: فُلَانٌ شَهِيدٌ، وفُلَانٌ شَهِيدٌ، حَتَّى مَرُّوا عَلَى رَجُلٍ، فَقَالُوا: فُلَانٌ شَهِيدٌ" د عمر رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې د خيبر په ورځ ځينې صحابه وو چا د وژل شوو خلکو ذکر کولو چې فلانی شهيد دی، فلانی شهيد دی، تردې چې د بل کس په باره کې يې هم ووېل فلانکی هم شهيد دی، "فَقَالَ النَّبِيُّ ﷺ: كَلَّا، إِنِّي رَأَيْتُهُ فِي النَّارِ فِي بُرْدَةٍ غَلَّهَا أَوْ عَبَاءَةٍ" نبي اکرم ﷺ چې دا

وروستني نوم واورېدو، نو وې فرمايل: هيڅکله داسې نه ده، زه هغه کس په اور کې وينم، هغه يو څادر يا چوغه پټه کړې وه. رواه مسلم

تشريح: "انى رأيته فى النار" ما هغه په جهنم کې وليدو، معلومه شوه چې د بنده حق په شهادت سره هم نه معاف کيږي، د بنده حق ادا کولو پوره اهتمام پکار دی، راوي ته شک دی چې نبي کريم ﷺ بردة وفرمايل او که عباءة يې وفرمايل، په ځينو نورو روايتونو کې راغلي دي چې ددې نه وروسته نبي کريم ﷺ وفرمايل: اې عمر بن خطاب! په خلکو کې اعلان وکړه چې جنت ته به نه داخليږي مگر مؤمن سړی به داخليږي، عمر ﷺ فرمايي: ما په خلکو کې اعلان وکړو چې جنت ته به نه داخليږي مگر هغه سړی چې مؤمن به وي.

په شهادت سره قرض نه معاف کيږي

"وعن أبي قتادة الحارث بن ربعي ﷺ، عن رسول الله ﷺ: أَنَّهُ قَامَ فِيهِمْ، فَذَكَرَ لَهُمْ أَنَّ الْجِهَادَ فِي سَبِيلِ اللهِ، وَالْإِيمَانَ بِاللهِ أَفْضَلُ الْأَعْمَالِ، فَقَامَ رَجُلٌ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ ﷺ" د ابو قتاده الحارث بن ربعي ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ يوه ورځ د صحابه کرامو ﷺ په مجلس کې ودرېدلو او وې فرمايل: د الله ﷻ په لار کې جهاد او په الله ﷻ باندې ايمان راوړل تر ټولو غوره عمل دی، يو کس پاڅېدو او وې ويل: يا رسول الله ﷺ! "أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فِي سَبِيلِ اللهِ، تُكَفَّرُ عَنِّي خَطَايَايَ؟ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ: نَعَمْ، إِنْ قُتِلْتَ فِي سَبِيلِ اللهِ، وَأَنْتَ صَابِرٌ مُحْتَسِبٌ مُقْبِلٌ غَيْرُ مُدْبِرٍ" ددې خبرې په باره کې خبر راکړه چې که زه د الله ﷻ په لار کې شهيد شم نو زما گناهونه به معاف شي؟ نبي اکرم ﷺ وفرمايل: هو! که چېرته ته د الله ﷻ په لار کې شهيد شې او ته صبر کوونکی وې او د ثواب اميد لرونکی وې او مخ په وړاندې تلونکی وې، واپس کېدونکی نه وې او ثابت قدمه وې؛ نو ستا گناهونه به الله ﷻ معاف کړي، "ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: كَيْفَ قُلْتَ؟" بيا نبي اکرم ﷺ وفرمايل: تا اوس څه خبره وکړه؟ "قَالَ: أَرَأَيْتَ إِنْ قُتِلْتُ فِي سَبِيلِ اللهِ، أَتُكَفَّرُ عَنِّي خَطَايَايَ؟" هغه کس وويل: که زه د الله ﷻ په لار کې شهيد شم نو زما گناهونه به معاف شي؟ "فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ ﷺ: نَعَمْ، وَأَنْتَ صَابِرٌ مُحْتَسِبٌ، مُقْبِلٌ غَيْرُ مُدْبِرٍ، إِلَّا الدَّيْنَ، فَإِنَّ جِبْرِيلَ ﷺ قَالَ لِي ذَلِكَ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: هو! گناهونه به دې معاف شي چې ته صبر کوونکی وې، د ثواب اميد لرونکی وې، مخ په وړاندې تلونکی وې، په شا باندې وروسته راتلونکی نه وې، مگر دا چې قرض به درته نه معاف کيږي او ماته دا خبره اوس جبرئيل عليه السلام وکړه. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

أتكفر: "كفر الله له الذنب" الله ﷻ د هغه گناهونه معاف کړل

مقبل: "القُبل والقُبُل" د هر شي مخکينی حصه

مدبر: "الدبْر والدبُر" ددې معنی ده: د هر شي وروستنی حصه

د دين نه مراد حقوق العباد دي:

په دې حديث کې د حقوق العباد په ادا کولو باندې زور ورکول شوی دی، ځکه چې د حقوق العباد معامله ډېره سخته ده، الله ﷻ خپل حق بخښي، ليکن د بنده حق نه بخښي، د بنده حق ادا کول دومره اهم دي چې په شهادت سره هم نه معاف کېږي.

"فإن جبرئيل قال لي" د دې نه معلومه شوه چې جبرئيل عليه السلام به صرف د قرآن کريم وحي نه راوړل، بلکې د دې نه علاوه نور احکامات به يې هم راوړل، ځينې علماء فرمايي چې په شهادت سره هم د بنده حق نه معاف کېږي، د دې نه هغه شهيد مراد دی چې په وچه شهيد شي، خو کوم کس چې په سمندر کې شهيد شي، هغه د دې حکم څخه مستثنی دی، لکه څرنګه چې په حديث کې د رسول الله ﷺ ارشاد دی په سمندر کې د شهيد لپاره هره ګناه معاف ده، تردې چې (دين) حقوق العباد هم ورته معاف دی.

د راوي ابو قتادة الحارث بن ربعي رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې حارث دی، ابو قتاده يې کنيت دی، په فارس رسول الله لقب سره مشهور دی، د خزرج قبيلې سلمه خاندان سره يې تعلق ساتلو.

ولادت: د هجرت نه لس کاله وړاندې په مدينه منوره کې پيدا شو، د بدر جهاد نه سيوا په ټولو جهادونو کې شريك شوی دی، علي رضي الله عنه هغه د مکې والي جوړ کړی وو، د هغه ډېر زيات ملګري وو، په حديبيه کې چې کله رسول الله ﷺ مکې ته روان شو، نو په لاره کې د ملګرو او دوستانو سره ډېرې ښې توقې او خنداګانې کولې.

د حنين په غزا کې د ډېرو بهادرو ښې وښوېدې، ليکن په دې موقع هم هغه ښه په ميړانه وجنګېدو، د حديث په بيانولو کې يې زيات احتياط کولو، د کوم وخت څخه يې چې د رسول الله ﷺ دغه حديث اورېدلی ؤ: "من كذب علي متعمداً" نو زيات احتياط به يې کولو.

وفات: د وفات په تاريخ کې يې اختلاف دی، ځينې علماء وايي: په ۴۰ هجري وفات شوی، خو د اکثره علماوو اتفاق په دې دی چې د څلوېښتمې او پنځوسمې هجري ترمنځ وفات شوی.

مرويات: د مروياتو شمېر يې تر يو سل اويا (۱۷۰) پورې رسېږي، په يوولسو کې امام بخاري او امام مسلم رحمهما الله متفق عليه دي، په دوه کې بخاري او په اتو کې مسلم منفرد دی.

غريب څوك دی؟

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه: أن رسول الله ﷺ، قال: أتدرون من المفلس؟" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو پوهېږئ چې غريب چاته ويل کېږي؟ "قالوا: المفلس فينا من لا درهم له ولا متاع" صحابه کرامو وفرمايل: مفلس (غريب) سړی خو موږ هغه چاته وايو چې درهم (پيسې) او سامان ورسره نه وي، "فقال: إن المفلس من أمتي من يأتي يوم القيامة بصلاة وصيام وزكاة، ويأتي وقد شتم هذا، وقذف هذا، وأكل مال هذا، وسفك دم هذا، وضرب هذا" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: زما په امت کې حقيقي مفلس هغه کس دی چې د

قيامت په ورځ داسې حالت کې راشي چې ډېر لمونځونه به يې کړي وي او روژې به يې نيولې وي او زکاتونه به يې ورکړي وي، ليکن حالت به يې دا وي چې چاته به يې په دنيا کې ښېرې کړې وي او په چا باندې به يې د دروغو تهمت لګولی وي او د چا نه به يې په ناجائزه طريقه مال خوړلی وي او څوک به يې ناحقه وژلی وي او څوک به يې ناحقه وهلی وي، "فَيُعْطَى هَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ، وَهَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ" نو دده ټولې نيکۍ به دغو متاثرينو او مظلومو ته ورکړل شي، "فَإِنْ فَنِيَتْ حَسَنَاتُهُ قَبْلَ أَنْ يُقْضَى مَا عَلَيْهِ" که چېرته دده نيکۍ ختمې شي مخکې له دې چې د خلکو حقونه ختم شي، "أُخِذَ مِنْ خَطَايَاهُمْ فَطُرِحَتْ عَلَيْهِ، ثُمَّ طُرِحَ فِي النَّارِ" نو ددې مظلوم ګناهونه به راواخيستل شي او دده په سر به وغورځول شي، بيا به هغه په جهنم کې وغورځول شي. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

شتم: "شتم شتماً" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: سپکې سپورې ويل

قذف: "قذف قذفاً" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: تهمت لګول

طرح: "طرح طرحاً" باب فتح يفتح دی، ددې معنی ده: غورځول

تشريح "إن من أمتي من يأتي يوم القيامة" زما په امت کې غريب سړی هغه دی چې د قيامت په ورځ به په داسې حال کې راشي چې د هغه سره به لمونځونه، زکاتونه او روژې وغيره ډېر څه وي، ددې نه معلومه شوه چې د روژې، لمونځ، زکاة سره اخلاق سمول او ددې اهتمام کول هم ډېر ضروري دي، صرف په عباداتو باندې کار نه کيږي، تر څو پورې چې اخلاقيات او معاملات سم نه کړي، ددې بالعکس که يو کس صرف اخلاق سموي او په عباداتو کې سستي کوي، نو بيا هم نجات نه شي موندلی، ددې ټولو خيال ساتل پکار دي

ناحقه د بل مال خوړل د جهنم اور په خېټه کې اچول دي

"وعن أم سلمة رضي الله عنها: أن رسول الله ﷺ قال: إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ، وَإِنَّكُمْ تَخْتَصِمُونَ إِلَيَّ، وَلَعَلَّ بَعْضَكُمْ أَنْ يَكُونَ أَلْحَنَ بِحُجَّتِهِ مِنْ بَعْضٍ" د ام سلمه ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زه هم انسان يم، تاسو خپل اختلافات د فيصلې لپاره ماته راوړئ او تاسو د يو بل نه په دليل پيش کولو کې ډېر تېز يئ او خبره ښه برابرونکي يئ، "فَأَقْضِيَ لَهُ بِنَحْوِ مَا أَسْمَعُ، فَمَنْ قَضَيْتُ لَهُ بِحَقِّ أَخِيهِ" نو زه چې څنګه خبره واورم د هغې مطابق خبره او فيصله کوم، که ما چاته د بل کس حق ورکړو، "فَإِنَّمَا أَقْطَعُ لَهُ قِطْعَةً مِنَ النَّارِ" په دې خبره دې ښه خان پوه کړي چې ما د اور يوه ټوټه پرې کړه او هغه ته مې ورکړه. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

"أَلْحَنَ: أي: أعلم" د "ألحن" معنی ده: په خبرو کې ډېر پوه او چالاک انسان

زه يو بشر / انسان يم:

تشريح "إنما أنا بشر" بې شکه زه يو انسان او بشر يم، لکه څرنګه چې يو انسان د بل د ژبې د تيزۍ او چالاکۍ نه متاثره کيږي او خلاف واقعه خبره يې په ذهن کې کيني، دغه شان زما سره هم کېدی شي. د يادونې وړ ده چې دا خبره د عصمت نبي ضد نه ده، ځکه چې دا خبره د رسالت فريضې سره تعلق نه ساتي

"أن يكون ألحن" هغه به ډېر چالاکه او زيرك انسان وي، د بخاري په روايت کې د "ألحن" په ځای د "أبلغ" لفظ راغلی دی. يعني هغه به زيات فصيح او بليغ وي

"فأقض له بنحو ما أسمع" زه به د هغه خبره واورم د هغې مطابق به فيصله وکړم. ځکه چې د قاضي لپاره لازم دي چې هغه به د دلائلو، شاهدانو يا د قسم په رڼا کې فيصله کوي

"فأقض له ما أسمع" په بل روايت کې ددې الفاظو پرځای (إنما أقضي بينكم برأيي فيما لم ينزل علي فيه" د کوم شي په باره کې چې په ما باندې وحی نه وي نازله شوې، په هغې کې زه په خپله رايه فيصله کوم

د قاضي فيصله ظاهراً نافذه وي:

"فمن قضيت له بحق أخيه" د چا لپاره چې زه د هغه د ورور د حق فيصله وکړم، په دې باندې محدثين فرمايي چې د قاضي فيصله ظاهراً نافذه وي، په دې فيصله باندې هيڅ شی نه حلاليږي او نه حراميږي، د فيصلې وروسته به هم هغه چالاك او زيرك سړی چې ناحقه د خپل ورور مال اخلي. هغه دې واپس کړي، ځکه چې دا د جهنم د اور يوه حصه ده چې خپلې خېټې ته يې اچوي

تر څو چې مسلمان قتل و نه کړي، دين به يې محفوظ وي

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما، قال: قال رسول الله ﷺ: لَنْ يَزَالَ الْمُؤْمِنُ فِي فُسْحَةٍ مِنْ دِينِهِ" د ابن عمر ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: مؤمن سړی تر هغه پورې د دين په حفاظت او فراخۍ کې وي، "مَا لَمْ يُصِبْ دَمًا حَرَامًا" تر څو پورې يې چې څوك ناحقه مسلمان قتل کړی نه وي. رواه البخاري

لغوي تحقيق:

فسحة: "الفسحة" ددې معنی ده: ګنجائش، د دوه دېوالونو ترمنځ فراخوالی

د فراخۍ دوه مطلبه دي:

"لن يزال المؤمن في فسحة من دينه" مسلمان چې تر څو پورې ناحقه مړی و نه کړي تر هغه پورې به په دين کې آزاد ګرځي، عموماً محدثين ددې دوه مطلبه بيانوي:

(۱) مسلمان چې تر څو ناحقه قتل او مړې و نه کړي تر هغو به ورته په دين باندې عمل کول اسان وي.

(۲) دويم مطلب دا دی چې د الله ﷻ رحمت دده لپاره پراخه وي، کله چې هغه ناحقه مړی وکړي، نو بيا پرې د الله ﷻ د رحمت دروازه بنده شي، په هغه باندې د الله ﷻ رحمت راتنګ شي، بيا د هغه شمار په هغو خلکو کې کيږي چې د الله ﷻ د رحمت نه محروم وي.

د ابن عربي رحمه الله په نزد د حديث مطلب:

ابن عربي رحمه الله فرمايي: ناحقه د حيواناتو په وژلو باندې هم په حديثو کې ممانعت راغلى دى، بيا په انسانانو کې د مسلمانانو قتل چېرته روا کېدلى شي؟

د پردي مال خوړلو ممانعت:

"وعن خولة بنتِ عامر الأنصارية، وهي إمرأة حمزة رضي الله عنه وعنها، قَالَتْ: سمعت رَسُول الله ﷺ يقول: إنَّ رِجَالاً يَتَخَوَّضُونَ في مَالِ اللهِ بِغَيْرِ حَقٍّ" د خوله بنت عامر انصاريه رضي الله عنها نه روايت دى او دا د حمزه رضي الله عنه مېرمن وه، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ډېر خلك داسې دي چې د الله جل جلاله په مالونو کې ناحقه کوي، "فَلَهُمُ النَّارُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" بس داسې خلکو لپاره به د قيامت په ورځ د جهنم اور وي. رواه البخاري

يتخوضون: "تخوض تخوضاً" باب تفعل دى، د دې معنى ده: داخلېدل.

د بل کس ناحقه مال خوړلو باره کې څو حديثونه:

تشريح: "إن رجالاً يتخوضون في مال الله" ځيني خلك د الله جل جلاله په مال کې ناحقه تصرف کوي، دا مضمون په ګڼو حديثونو کې ذکر شوى دى، "إن الدنيا حلوة خضرة وإن رجالاً يتخوضون في مال الله بغير حق لهم النار يوم القيامة" بې شکه دنيا ډېره تازه شنه او خوندوره ده، ځيني خلك د الله جل جلاله په مالونو کې ناحقه تصرف کوي، د داسې کسانو لپاره په آخرت کې د جهنم عذاب دى او په يو بل روايت کې دي: "إن الدنيا خضرة حلوة فمن أخذها بحقها بورك له فيها ورب متخوض في مال الله ومال رسوله في النار يوم يلقى الله" بې شکه دنيا ډېره شنه او خوږه ده، کوم کس چې د دې نه خپل حق واخلي هغه ته به پکې برکت واچول شي او کوم کس چې د الله جل جلاله او د هغه د رسول ﷺ په مال کې ناحقه تصرف وکړي، داسې کسانو لپاره په آخرت کې د جهنم اور تيار دى، د دې ټولو خلاصه دا شوه چې کوم خلك د عامو مسلمانانو په مالونو کې ناحقه تصرف کوي، هغه د عامې نفعې پر ځاى يې خاص مصالحو کې استعمالوي، نو داسې کسان د ګناه کبيره مرتکب دي، د دوى لپاره د جهنم عذاب دى.

د راويه خوله انصاريه رضي الله عنها حالات:

اصلي نوم يې خوله رضي الله عنها دى، کنيت يې ام محمد يا ام حبيبه ده، د پلار نوم يې عامر وو او ځيني وايي چې د پلار نوم يې قيس بن فهد ؤ، ځينو نورو ويلي دي چې عامر بن قيس بن فهد يې لقب وو، د خولانيه قبيلې سره يې تعلق درلود.

مرويات: ځينو ويلي دي چې يو روايت ترې نقل دى او ځينو نورو ويلي چې اته حديثونه ترې نقل دي، کوم روايت چې په کتاب کې موجود دى دا د بخاري روايت دى، باقي نور روايتونه په صحاح سته کې موجود دي، د هغه نه عموماً نعمان بن ابي العياش روايت کوي

باب تعظيم حرمات المسلمين وبيان حقوقهم والشفقة عليهم ورحمتهم

اوه ويشتم باب: د مسلمانانو د عزتمندو شيانو تعظيم او په هغوی باندې د شفقت بيان

"قَالَ اللهُ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "وَمَنْ يُعَظِّمْ حُرُمَاتِ اللهِ فَهُوَ خَيْرٌ لَهُ عِنْدَ رَبِّهِ" څوک چې د الله ﷻ د عزتمندو شيانو تعظيم او خيال ساتي، الله ﷻ ته دده دا عمل ډېر ښه شمارلی شي. [الحج:۳۰]

تشريح: "يعظم حرمات الله" کوم کس چې د الله ﷻ د احکاماتو قدر وکړي، د زجاج رحمه الله په قول د حرمات نه مراد هر هغه شی دی چې ادا کول يې واجب وي، په دې کې کمی کول حرام دي او د ليث رحمه الله په نزد ددې نه مراد هر هغه اوامر او نواهي دي چې د الله تعالی له لورې نازل وي، د ابن زيد رحمه الله په نزد د حرمت نه مراد حرمت والا ښار دی، يعنې مکه مکرمه، حرمت والا مياشت يعنې رجب، شوال، ذي القعده او ذي الحجه، "فهو خير له عند ربه" دا د الله ﷻ په نزد غوره ده، ځکه چې ددې حرمت لحاظ ساتلو په واسطه انسان د دائمي عذاب څخه ساتل کيږي.

وَقَالَ تَعَالَى، الله ﷻ فرمايي چې: ﴿وَمَنْ يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللهِ فَإِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوبِ﴾ دا الله ﷻ ارشاد دي څوک چې د الله ﷻ د خاصو نښانو عزت زړی نښه ده﴾ [الحج:۳۲]

تشريح: شعائر الله: "شعائر د شعيرة جمع ده، علامې ته وايي، هر هغه شی چې د خاص مذهب يا جماعت علامه ګڼل کيږي، شعائر اسلام د هغو خاصو احکاماتو نوم دی چې په عرف کې د مسلمانېدو علامه ګڼل کيږي، د حج اکثره احکام شعائر الله دي.

"من تقوى القلوب" دا د زړونو پرهېزګاري ده، يعنې د شعائر اسلام تعظيم او د حرمت خيال هغه کس ساتي چې په زړه کې يې تقوی وي او د الله ﷻ نه وېرېږي، معلومه شوه چې د تقوی تعلق د انسان د زړه سره دی، کله چې په يو انسان کې تقوی وي؛ نو د هغې اثرات د بدن په ټولو اندامونو کې ظاهرېږي، ددې وجې په يو روايت کې سينې ته اشاره شوې ده چې: "التقوى هٰهنا" تقوی دلته يعنې په سينه کې ده.

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې: ﴿وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِينَ﴾ د مهرباني او د نرمي لاسونه او وزري د مؤمنانو لپاره ښکته کړه﴾ [الحجر:۸۸]

تشريح: په آيت کې نبي کريم ﷺ ته خاص خطاب دی چې تاسو په عامو مسلمانانو باندې رحم کوئ، نرمي ورسره کوئ، سختي ورباندې مه کوئ، د دوی نه کله هم مه ناراضه کېږئ، په دې سره مسلمانان خوشحالېږي او دوی نور هم په دين کې تيزېږي، کافرانو سره چې هرڅومره نرمي يا سختي وکړې، دوی ته هيڅ فايده نه رسيږي، "سواء عليهم ءأنذرتهم أم لم تنذرهم لا يؤمنون" که يروې يې او که نه دوی ايمان نه راوړي، بس ستاسو کار تبليغ او د دين دعوت دی، هدايت د الله ﷻ په لاس کې دی.

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي "مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا" کوم کس چې

يو بل كس قتل كړي يا په ځمكه كې فساد وكړي، دا داسې ده لكه ټول انسانيت چې قتل كړي، "وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعاً" او كوم كس چې هغه ژوندى وساتلو، نو لكه چې هغه ټول انسانيت وژلى وي [المائدة:۳۲].

تشريح: علامه بغوي رحمه الله فرمايي چې: ابن عباس رضي الله عنهما او عكرمه رضي الله عنه ددې مطلب داسې بيان كړى دى: كوم كس چې نبي يا خليفه يا كوم انصاف كونكى قتل كړي، گويا هغه ټول انسانيت قتل كړو او كوم كس چې د نبي ياخليفه مدد وكړي، نو لكه هغه چې ټول خلك د مرگ څخه بچ كړل او علامه مجاهد رحمه الله فرمايي: د آيت مطلب دا دى چې كوم كس ناحقه مړى وكړي؛ نو هغه به جهنم ته داسې داخليږي لكه ټول خلك چې ووژني او جهنم ته داخليږي او كوم كس چې يو انسان د ناحقه قتل نه بچ كړي نو لكه هغه چې ټول خلك بچ كړي وي، قتاده رضي الله عنه ددې آيت تفسير داسې كوي چې: الله ﷻ د يو سړي د قتل جرم او لويوالى بيان كړيې دى، مطلب دا چې كوم كس يو مسلمان قتل كړي او هغه حلال وگڼي؛ نو په هغه باندې به دومره وبال وي، لكه ټول خلك چې يې وژلي وي.

يو مسلمان د بل مسلمان لپاره د دېوال د خښتې په شان دى

"وعن أبي موسى، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: الْمُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضاً" د ابو موسى اشعري رضي الله عنه روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: يو مسلمان د بل مسلمان لپاره داسې دى لكه يو دېوال چې د هغې يوه حصه بله حصه مضبوطه ساتي، "وَشَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ" نبي اكرم ﷺ د مثال لپاره خپلې گوتې مباركې په يو بل كې ننويستلې او خلكو ته يې وښودلې. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

كالبنيان: "البنيان" مصدر دى، ددې معنى ده: عمارت، "كأنهم بنيان مرصوص" لكه هغوى چې د مضبوط د دېوال په څېر وي.

شبك: چې شبك وشبك الشئ چې ددې معنى ده: د يو لاس گوتې د بل لاس په گوتو كې داخلول.

تشريح: په دې حديث كې مسلمانانو ته د اجتماعيت ترغيب وركول شوى دى او ددې تشبيه يې د يو كور د دېوال سره وركړې ده، لكه څرنگه چې د يو كور دېوال يوه خښته د بلې خښتې لپاره تكيه وي، دغه شان بايد يو مسلمان د بل مسلمان سره په ديني كارونو كې معاون جوړ شي.

ددې نه وروسته نبي كريم ﷺ: "شبك بين أصابعه" د خپلو مباركو لاسونو گوتې په يو بل كې دننه كړې او په دې سره يې يو مثالي صورت وركړو چې لكه څرنگه د يو لاس گوتې په بل لاس كې دننه كړى شي او دا بيامضبوطې شي، ددې خلاصول مشكل دي، دغه شان كه چېرته مسلمانان په خپلو كې متحد شي، نو بيا د دنيا يو طاقت دوى ته ماتې نه شي وركولى.

يو مسلمان دې بل مسلمان ته ضرر نه رسوي

"وعنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: مَنْ مَرَّ فِي شَيْءٍ مِنْ مَسَاجِدِنَا، أَوْ أَسْوَاقِنَا" د ابو موسى اشعري رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كوم كس چې زموږ په جوماتونو يا كوڅو وغيره كې تيريږي، "وَمَعَهُ نَبْلٌ فَلْيُمْسِكْ، أَوْ لِيَقْبِضْ عَلَى نِصَالِهَا بِكَفِّهِ" او د هغه سره غشي وي نو هغه ته پكار ده چې يا خو د غشي په سر لاس ونيسي يا دې د غشي ډنډه په لاس كې ونيسي، "أَنْ يُصِيبَ أَحَداً مِنَ الْمُسْلِمِينَ مِنْهَا بِشَيْءٍ" هسې نه چې د بې احتياطۍ په وجه چيرته كوم مسلمان ته تكليف ونه رسيږي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

نبل: "نبل نبلاً" باب نصر ينصر دی، ددې معنى ده: غشى، جمع يې نبال او انبال راځي

نصالها: "نصل نصلاً" باب نصر ينصر دی، ددې معنى ده: د غشي تيره والی، څوكه

تشريح "مساجدنا أو أسواقنا" زموږ په جوماتونو يا بازارانو كې تيريږي او غشي يې په لاس كې وي، دلته راوي ته شك دی چې جومات يې وفرمايل او كه بازار يې وفرمايلو، د جومات يا بازار نه هر هغه ځای مراد دی چې د خلكو ګڼه ګوڼه وي، خلك پكې زيات وي، ددې لپاره چې خلكو ته تكليف ونه رسيږي، معلومه شوه چې شريعت د انسان بالخصوص د مسلمانانو څومره خيال ساتلی دی.

"ليقبض على نصالها" د مسلم په روايت كې دي "فليأخذ بنصالها" هغه بايد د غشي په تيره ځای لاس كيږدي، "بكفه" په مخكې تيره ځای څوكه باندې لاس كيږدي، په بل روايت كې ددې نور وضاحت هم شوی دی: "لايعقر بكفه مسلماً" فكر وكړه! كه چاته معمولي شان غشی ولګيږي، نو وينه به ترې روانه شي، شريعت دغه معمولي وينه تويول هم حرام كړي دي.

ټول مسلمانان د يو بدن په څير دي

"وعن النعمان بن بشير رضى الله عنهما، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: مَثَلُ الْمُؤْمِنِينَ فِي تَوَادِّهِمْ وَتَرَاحُمِهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ" د نعمان بن بشير رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د مسلمانانو په خپل مينځ كې د مينې او محبت، رحم كولو او نرمۍ مثال داسې دی لكه: "مَثَلُ الْجَسَدِ إِذَا اشْتَكَى مِنْهُ عُضْوٌ تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ الْجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى" د بدن په يو اندام چې د بيمارۍ اثر وي؛ نو ټول بدن يې د هغې له وجې شكايت كوي او هغه ته تبه ولګيږي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

توادهم: "وادہ وداداً" ددې معنى ده: مينه او محبت كول

تراحمهم: "تراحم القوم" يو بل باندې يې ترس راغلو، رحم كول، مهرباني كول

عاطفهم: "عاطف القوم" ددې معنى ده: نرمي كول

تشريح ټول مسلمانان په اتفاق كې د يو بدن په څير دي، د مسلمانانو خپل مينځ كې مينه

محبت، ربط او تعلق به صرف د اسلام په وجه وي، بايد داسې جوړ شي لكه دوه حقيقي وروڼه چې وي، هغه د ژوند په هر حالت كې د يو بل سره په درد او تكليف كې شريك شي، ټول معاملات د رحم او مهرباني په بنياد ترسره كړي، د يو بل مرسته وكړي، كله چې دا كار په شخصي توګه د يو بل سره د تعلق جوړولو ذريعه جوړه شي؛ نو بيا به په مزه مزه ټول مسلمانان سره متحد او يو موټی شي، بيا فكر نه كوم چې كوم قوت ورته ماتې وركړي، ځكه خو رسول الله ﷺ وفرمايل: مسلمانان د يو بدن په شان دي، كه په بدن كې يو اندام خراب وي او درد وكړي، نو ټول بدن ترې په درد وي، دغه شان بايد مسلمانان هم وي چې كوم بل مسلمان وررور په تكليف كې ووينې؛ نو داسې دې وګڼي چې دا تكليف زما تكليف دی او دا به د رنګ، نسل، ژبې، علاقې، هېواد او ملت په بنياد نه وي، بلكې صرف او صرف به د اسلام او مسلمانۍ په بنسټ وي.

نبي كريم ﷺ حسن رضي الله عنه مچو كړو

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: قَبَّلَ النَّبِيُّ ﷺ الْحَسَنَ بْنَ عَلِيٍّ رضي الله عنهما، وَعِنْدَهُ الأَقْرَعُ بْنُ حَابِسٍ" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ يوه ورځ حسن رضي الله عنه ښكل/ مچو كړو، اقرع بن حابس رضي الله عنه ناست وو، "فَقَالَ الأَقْرَعُ: إنَّ لِي عَشرَةً مِنَ الوَلَدِ مَا قَبَّلْتُ مِنْهُمْ أحَداً" اقرع بن حابس رضي الله عنه وويل: زما خو لس زامن دي، ما تر اوسه يو هم نه دی ښكل/ مچو كړی، "فَنَظَرَ إلَيْهِ رَسُول الله ﷺ، فَقَالَ: مَنْ لاَ يَرْحَمْ لاَ يُرْحَمْ!" نبي اكرم ﷺ هغه ته وكتل او وې فرمايل: كوم كس چې په بل كس رحم نه كوي، الله تعالى په هغه باندې رحم نه كوي. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ

لغوي تحقيق:

قبل: "قبل تقبيلاً" باب تفعيل دی، ددې معنى ده: ښكلول/ مچو كول.

تشريح: د أقرع بن حابس رضي الله عنه خپل نوم فراس وو، د بنو تميم قبيلې سره يې تعلق درلود، د نبي كريم ﷺ سره په فتح مكه، حنين او طائف كې شريك وو، د كلي او اسپه ونكی وو.

د نبي كريم ﷺ په اتباع كې ماشومان ښكل / مچو كول ثواب دی:

"ماقبلت منهم" په دې ماشومانو كې ما يو هم نه دی ښكل كړی، په بل روايت كې دي: "ماقبلت إنساناً قط" ما تر اوسه انسان نه دی ښكل كړی، محدثين فرمايي چې كمكي ماشومان ښكلول او د هغوی سره مينه كول نه دا چې صرف جائز دي بلكې د الله ﷻ د رحمت حاصلولو ذريعه ده، خو په دې ښكلولو كې بايد صرف د رسول الله ﷺ تابعداري مقصود وي، شهرت وغيره مقصود نه وي.

"من لايرحم لايرحم" څوك چې په چا رحم نه كوي، په هغه به رحم نه كيږي، يعنې څوك چې د الله ﷻ په بندګانو باندې رحم نه كوي، الله ﷻ به په هغوی باندې رحم نه كوي، لكه څرنګه چې په قرآن كريم كې راغلي دي: "من يعمل سوءً يجزبه" كوم كس چې څنګه عمل وكړي هغه ته به ددې بدله ملاويږي، برابره خبره ده چې ښه يې كړي وي او كه بد.

ماشومان ښکلول او مينه ورسره ساتل د الله ﷻ د رحمت ذريعه ده

"وعن عائشة رضي الله عنها، قَالَتْ: قَدِمَ نَاسٌ مِنَ الأَعْرَابِ عَلَى رسولِ الله ﷺ" د عائشه ﷞ روايت دی، فرمايي چې د کليو ځينې خلك د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شول، "فقالوا: أتُقَبِّلُونَ صِبيَانَكُمْ؟ فَقَالَ: نَعَمْ" هغوی وويل: تاسو خپل بچي ښکلوئ؟ نبي اکرم ﷺ وفرمايل: هو! "قالوا: لَكِنَّا والله مَا نُقَبِّلُ! فَقَالَ رَسُولُ الله ﷺ: أَوَأَمْلِكُ إنْ كَانَ اللهُ نَزَعَ مِنْ قُلُوبِكُمُ الرَّحْمَةَ" هغوی وويل: په الله قسم! موږ خو يې نه ښکلوو، نبي اکرم ﷺ وفرمايل: آيا زه ددې خبرې مالك يم چې الله ﷻ ستاسو د زړونو نه مينه او رحمت ويستلی وي، (يعنې الله ﷻ چې ستاسو د زړونو نه مينه او محبت ويستلی دی، نو زه هيڅ نشم کولی) مُتَّفَقٌ عَلَيهِ.

لغوي تحقيق:

نزع: "نزع نزعاً" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: ويستل.

تشريح: "قدم ناس من الأعراب" يو څو کوچيان د نبي کريم ﷺ په خدمت کې حاضر شول، هسې هم کليوال خلك سخت طبيعته وي، لکه په قرآن کريم کې چې ارشاد دی: الأعراب أشد كفراً ونفاقاً الآية" چې دا څوك وو؟ د دوی په باره کې د محدثينو څخه مختلف اقوال نقل دي: ځينې وايي: اقرع بن حابس ﷛ و او ځينې وايي: عيينه بن حصين و.

"أو أملك إن كان الله نزع من قلوبكم الرحمة" ايا زه يې ذمه وار يم چې الله ﷻ ستاسو د زړونو نه رحمت او نرمي ويستلې ده؟ مطلب دا چې د بې رحمی او سخت زړه په خلاف د نفرت اظهار مقصود دی، دا مطلب هم کېدی شي چې نرمي او مهرباني د الله ﷻ له طرفه يوه غوره عطيه ده، که الله ﷻ د چا د زړه نه رحمت وباسي؛ نو بيا د چا د وس خبره نه ده چې رحمت، نرمي او شفقت د هغه په زړه کې واچوي.

څوك چې په چا رحم نه کوي، په هغه به رحم نه کيږي:

"وعن جرير بن عبد الله ﷛، قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله ﷺ: مَنْ لاَ يَرْحَمِ النَّاسَ لاَ يَرْحَمْهُ الله" د جرير بن عبد الله ﷛ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې په خلکو رحم نه کوي، الله ﷻ په هغه باندې رحم نه کوي. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ.

تشريح: "من لا يرحم الناس لا يرحمه الله" کوم کس چې په چا رحم نه کوي، په هغه هم الله ﷻ رحم نه کوي، د الله ﷻ په مخلوق باندې رحم کول، د شفقت او مهرباني معامله کول الله ﷻ ته بې حده خوښ عمل دی، صرف انسان نه، بلکې د خناورو سره هم د رحم معاملې حکم شوی دی، ددې رحم او مهرباني په واسطه الله ﷻ خوشحاله شي او په هغه باندې رحم وکړي، په حديث کې "الناس" يعنې د خلکو تذکره د خصوصيت په بناء وشوه خو خبره دا ده چې په دې حکم کې خناور، څاروي او تول مارغان شامل دي

ددې مضمون يو څو نور حديثونه:

ددې حديث مضمون زيات د اهميت وړ دی، ځکه خو دغه مضمون په ګڼ شمېر حديثونو کې ذکر شوی دی، مثلاً "من لم يرحم المسلمين لم يرحمه الله" کوم کس چې خصوصاً په مسلمانانو باندې رحم نه کوي، الله ﷻ په هغه باندې رحم نه کوي، "من لا يرحم من في الارض لا يرحمه من في السماء" څوک چې د ځمکې په مخلوقاتو رحم نه کوي، نو د اسمان والا به په هغه باندې رحم نه کوي.

"إرحموا من في الأرض يرحمكم من في السماء" تاسو د ځمکې په اوسېدونکو رحم وکړئ، آسمان والا به په تاسو باندې رحم وکړي، "إرحم من في الأرض يرحمكم من في السماء" کوم مخلوقات چې په ځمکه دي تاسو په هغوی رحم وکړئ، هغه ذات چې په آسمان کې دی، هغه به په تاسو رحم وکړي، محدثين فرمايي څوک چې په دنيا کې څنګه معامله وکړي، الله ﷻ به د قيامت په ورځ د هغه سره هم دغسې معامله کوي او د هغې بدله به ورکوي، "فهل جزاء الإحسان إلا الإحسان" د نېکۍ بدله نيکي ده، څوک چې نېک عمل کوي او رحم کوي؛ نو الله ﷻ به هم د قيامت په ورځ په هغه باندې رحم وکړي، جهنم ته به يې داخل نه کړي، څوک چې رحم کوي، صدقه ورکوي؛ نو الله ﷻ به پرې رحم کوي، د هغه نه مصيبتونه او کړاوونه رفع کوي

امام به لنډه جمعه ورکوي

"وعن أبي هريرة ﷺ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ: إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ لِلنَّاسِ فَلْيُخَفِّفْ، فَإِنَّ فِيهِمُ الضَّعِيفَ وَالسَّقِيمَ وَالْكَبِيرَ" د ابو هريره ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کله چې په تاسو کې يو کس خلکو ته امامت کوي نو بايد چې لمونځ لنډ او مختصر وکړي، ځکه چې په خلکو کې کمزوري، بيمار او بوډاګان هم وي، "وَإِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ لِنَفْسِهِ فَلْيُطَوِّلْ مَا شَاءَ" او کله چې په تاسو کې يو کس ځانته لمونځ کوي؛ نو بيا يې چې څومره خوښه وي اوږده رکعتونه دې کوي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

"وفي رواية: وَذَا الْحَاجَةِ" په يو بل روايت کې دي چې حاجت والا خلك هم پکې وي.

لغوي تحقيق:

فليخفف: "خفف يخفف تخفيفاً" ددې معنی ده سپك، مختصر

فليطول: "طال طولاً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: زيات، اوږد.

تشريح "إذا صلی أحدكم" کله چې په تاسو کې څوك جمعه ورکوي، په بل روايت کې دي: "إذا أم أحدكم فليخفف" څوك چې په تاسو کې امامت ورکوي؛ نو امام ته پکار ده چې د مقتديانو خيال وساتي، جمعه بايد مختصر ورکړي، د تخفيف مطلب دا دی چې قرآنت به زيات اوږد نه وي، رکوع، سجده کې به تسبيحات د درې خلو نه زيات نه وايي، خو په فرضو، سنتو، واجبو کې به تخفيف نه کوي، د تعديل ارکان خيال به پوره ساتي.

امام به د معذورو خلکو خيال ساتي:

"والسقيم والكبير" د بيمارو او بوډاګانو خيال به ساتي، په بل روايت کې: "حامل والمرضع" د حاملې ښځې او شيدې ورکوونکې ښځې تذکره هم راغلې ده، په بل حديث کې دي: "عابر السبيل" مسافرو اضافه هم شوې ده، په بل روايت کې دي: "ذالحاجة" يعنې د بيمارو، بوډاګانو، حاملو ښځو، شيدو ورکوونکو ښځو، مسافر او د ضرورت مند سړي پوره خيال به ساتي.

نبي کريم ﷺ به د فرضيت له ويرې عمل پرېښودلو

"وعن عائشة رضى الله عنها، قالت: إن كان رسول الله ﷺ ليدع العمل" د عائشه ﷺ روايت دی، فرمايي چې نبي اکرم ﷺ به يو عمل په دې وجه پرېښودو، "وهو يحب أن يعمل به" او هغه به دا خوښول چې زه پرې عمل وکړم، "خشية أن يعمل به الناس فيفرض عليهم" ليکن نبي اکرم ﷺ به هغه عمل په دې وجه پرېښودو چې هسې نه خلك پرې عمل شروع کړي او بيا پرې فرض شي. متفق عليه

د نبي کريم ﷺ د شفقت ذکر:

تشريح "ليدع العمل" عمل به يې پرېښودو هسې نه چې په امت باندې فرض شي، په دې حديث کې هم ددې خبرې ذکر دی چې نبي کريم ﷺ به څينې وخت يو عمل ددې ويرې پرېښودو چې هسې نه په امت باندې فرض شي، بيا به امت په مشقت کې پرېوځي، لکه څرنګه چې اهل کتابو په خپلو ځانونو باندې رهبانيت ضروري کړو، ليکن کله چې الله ﷻ پرې فرض کړو، نو بيا يې: "فما رعوها حق رعايتها" ددې پوره حق ادا نه کړی شو.

"خشية أن يعمل به الناس فيفرض عليهم" ددې ويرې له وجې چې خلك به پرې عمل شروع کړي؛ نو بيا به په دوی باندې فرض شي، لکه څرنګه چې رسول الله ﷺ درې ورځې تراويح ادا کړې بيا په څلورمه شپه صحابه کرامو ﷺ انتظار کولو چې نبي کريم ﷺ به تشريف راوړي، تراويح به وکړو، خو نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل: "مامنعنى إلا خشية أن تفرض عليكم فتعجزوا عنها" زه منع شوی نه يم، صرف ددې ويرې له وجې رانغلم چې هسې نه په تاسو باندې فرض شي، بيا به ترې عاجزه شئ!

نبي کريم ﷺ خپل امت پرلپسې روژو نيولو څخه منع کړی دی

"وعنها رضى الله عنها، قالت: نهاهم النبي ﷺ عن الوصال رحمة لهم، فقالوا: إنك تواصل؟" د عائشه ﷺ روايت دی، فرمايي چې نبي اکرم ﷺ خلك د وصال (پرلپسې روژو نيولو نه) منع کړل، صحابه کرامو ورته وويل: يا رسول الله ﷺ! تاسو چې پرلپسې روژې نيسئ؟ "قال: إني لست كهيئتكم" نبي اکرم ﷺ ورته وفرمايل: زه ستاسو په شان نه يم، "إني أبيت يطعمني ربي ويسقيني" زما رب ماته خوراك او څښاك راکوي، "متفق عليه. معناه: يجعل في قوة من أكل وشرب" يعنې په خوراك او څښاك سره چې انسان ته کوم قوت حاصليږي، هغه قوت الله ﷻ ماته بغير له خوراکه او څښاکه راکوي.

لغوي تحقيق:

الوصال: "وصل وصلاً" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: پرلپسې

تشريح "عن الوصال" پرلپسې روژو نيولو نه يې منع فرمايلې ده، يعنې داسې روژې چې په مينځ کې يې بالکل افطار نه وي، نه پيشمنی وي، شپه ورځ مسلسل نه خوراک وشي او نه څښاک وشي، ددې نه نبي کريم ﷺ منع فرمايلې ده، رسول الله ﷺ موږ ته آسان دين راوړی دی، په دې کې هيڅ مشقت نشته، د امام ابوحنيفه رحمه الله امام مالک رحمه الله او امام شافعي رحمه الله په نزد دا روژې نيول مکروه دي

الله جل جلاله ماته خوراک څښاک راکوي:

"إني أبيت يطعمني ربي ويسقيني" ماته زما رب خوراک او څښاک راکوي، په دې کې ګڼ شمېر اقوال دي مثلاً حقيقةً خوراک او څښاک مراد دی، خينې وايي: ددې نه مقصود طاقت دی، يعنې الله ﷻ بغير خوراک او څښاک په نبي کريم ﷺ کې طاقت پيدا کوي، ابن قيم رحمه الله فرمايي: مطلب دا دی چې الله ﷻ ما د خپل عظمت او انوارا تو په مشاهده کې مشغول ساتي چې له وجې يې د خوراک څښاک نه بې پرواه کېږم، ځکه چې روحاني غذا د جسماني غذا نه زياته طاقتوره وي.

د ماشوما نو د ژړا له وجې د رسول الله ﷺ لمونځ مختصر کول

"وعن أبي قتادة الحارث بن ربعي رضي الله عنه، قال: قال رسول الله ﷺ: إِنِّي لَأَقُومُ إِلَى الصَّلَاةِ" د ابو قتاده حارث بن ربعي رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زه چې لمانځه ته ودرېږم، "وَأُرِيدُ أَنْ أُطَوِّلَ فِيهَا" زه اراده وکړم چې قرائت پکې زيات کړم، "فَأَسْمَعُ بُكَاءَ الصَّبِيِّ فَأَتَجَوَّزُ فِي صَلَاتِي كَرَاهِيَةَ أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمِّهِ" نو زه د ماشوم ژړا واورم، بيا لمونځ مختصر کړم، په دې وجه چې هسې نه مور ته يې تکليف جوړ نه شي. رواه البخاري

لغوي تحقيق:

بكاء: "بكى بكاءً" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: ژړېدل

فأتجوز: "تجوز في الأمر" په کوم کار کې اختصار کول چې "في الصلاة" شي معنی يې ده: لمونځ مختصر کول

تشريح "إني لأقوم إلى الصلاة" زما خيال وي چې اوږد لمونځ وکړم، دلته په امت باندې د رحم ذکر دی، هغه دا چې سره له دې چې زه د اوږد لمونځ اراده لرم، خو خپله اراده منسوخ کړم، دلته د اختصار في الصلاة نه مراد قرائت دی، لکه څرنګه چې په يو بل حديث کې دي: "فاقرأ بالسورة القصيرة" په لمانځه کې لنډ سورتونه وايه.

"كراهية أن أشق على أمه" زه دا خبره بښه نه ګڼم چې د هغه مور زما په وجه پريشانه شي، په بل روايت کې دي: "فأتجوز في صلاتي فما أعلم من شدة وجد أمه من بكائه" ددې نه معلومه شوه چې امام به د مقتديانو خيال ساتي.

د سهار لمونځ سره بنده د الله ﷻ په حفاظت کې راځي

"وعن جندب بن عبد الله رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله ﷺ: مَنْ صَلَّى صَلاةَ الصُّبْحِ فَهُوَ فِي ذِمَّةِ الله" جندب بن عبد الله رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل کله چې يو کس د سهار لمونځ وکړي؛ نو دا کس د الله ﷻ په ذمه وارۍ کې داخل شي، "فَلاَ يَطْلُبَنَّكُمُ الله مِنْ ذِمَّتِه بِشَيءٍ، فَإنَّهُ مَنْ يَطْلُبْهُ مِنْ ذِمَّتِه بِشَيءٍ يُدْرِكْهُ" نو دا لمونځ مه ماتوئ او مه يې پرېږدئ. هسې نه چې الله ﷻ ستاسو نه د خپلې ذمه وارۍ په باره کې مطالبه وکړئ او پوښتنه وکړي، "ثُمَّ يَكُبُّهُ عَلَى وَجْهِهِ فِي نَارِ جَهَنَّمَ" ځکه چې هغه د چا نه څه مطالبه او پوښتنه وکړي؛ نو هغه بيا مومي او بيا پرمخې يې جهنم ته غورځوي رواه مسلم

لغوي تحقيق:

ذمة: "الذمة" مصدر دی. ددې معنی ده امن. حفاظت. ذمه داري

يکبه: "کب کباً" باب نصر ينصر دی. پرمخې پرېوتل

تشريح "من صلى صلاة الصبح" څوک چې د سهار لمونځ وکړي، هغه د الله ﷻ په ذمه کې راځي. چاته جائز نه دي چې د هغه مال يا بدن ته نقصان ورسوي، په دې کې اشاره ده دې خبرې ته چې سهار لمونځ په تاکيد سره ادا شي، د سهار د لمانځه وخت د غفلت او خوب وخت وي، ددې لمانځه په اهتمام باندې زيات ترغيب ورکول شوی دی، په حديث کې پوره په وضاحت سره راغلي دي چې کوم سړی لمونځ کوي بيا بالخصوص د سهار لمونځ کوي، نو داسې کس د الله ﷻ په ذمه کې راشي، داسې کس ته تعارض کول يا نقصان رسول حرام دي

د راوي جندب بن عبد الله رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې جندب رضي الله عنه دی، د پلار نوم يې عبد الله دی، د سفيان بن بجلي علقي لمسی وو، علقه د بجلي قبيلې يو شاخ دی. هغه ددې قبيلې سره تعلق ساتلو. اول په کوفه کې اوسېدلو. وروسته بصرې ته لاړو او په بصره کې وفات شو.

مرويات: دري څلوېښت حديثونه ترې روايت دي، دولس حديثونه په بخاري کې دي، او ۷ حديثونه په بخاري او مسلم دواړو کې دي

مسلمان د مسلمان ورور دی

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما: أنَّ رَسُولَ الله ﷺ، قَالَ: المُسْلِمُ أَخُو المُسْلِم، لاَ يَظْلِمُهُ، وَلاَ يُسْلِمُهُ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل يو مسلمان د بل مسلمان ورور دی، خپله به هم پرې ظلم نه کوي او نه به يې بل چاته حواله کوي چې هغه پرې ظلم وکړي، "مَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أخِيه، كَانَ اللهُ فِي حَاجَتِه" څوک چې د يو مسلمان ورور حاجت پوره کړي، الله ﷻ به د هغه حاجت پوره کړي، "وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً، فَرَّجَ اللهُ عَنْهُ بِهَا كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ القِيَامَةِ" او څوک چې د يو مسلمان نه تکليف لرې کړي،

کړي، الله ﷻ به د هغه نه د آخرت تکلیف لرې کړي، "وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِماً سَتَرَهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" او څوک چې په یو مسلمان باندې پرده واچوي، الله ﷻ به په هغه باندې په قیامت کې پرده واچوي مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقیق:

فرج: "فرج فرجاً" باب ضرب یضرب دی، ددې معنی ده: خلاصول، زائله کېدل.

کربة: "الکرب" ددې معنی ده: رنځ، غم، درد او تکلیف.

ستر: "ستر ستراً" باب نصر ینصر دی، ددې معنی ده: پرده.

تشریح "المسلم أخو المسلم" مسلمان د مسلمان ورور دی، یعني مسلمانان د یو خاندان او فامیل په شان دي، لکه څرنګه چې مور پلار، وروڼه د یو بل په تکلیف خفه کیږي، هغه بې یار او بې مرستې پاتې کیږي، نه په هغه ظلم کوي او نه یې کوم ظالم ته پرېږدي، نو دغه شان چلند باید د ټولو مسلمانانو سره وشي، که په حدیث باندې عمل وشي نو یقیناً چې د نړۍ څخه به د جنت نمونه جوړه شي.

"ومن فرج عن مسلم کربة فرج الله بها کربة یوم القیامة" کوم کس چې د یو مسلمان تکلیف لرې کړي، ددې په ذریعه به الله ﷻ د هغه نه د آخرت غم لرې کړي، څوک چې په دنیا کې د بل مسلمان نه مصیبت لرې کړي، نو د قیامت په ورځ چې ډېره سخته ورځ ده، هلته به هیڅوک د چا مدد نه کوي، په داسې ورځ به الله ﷻ ستا مدد وکړي، غمونه او تکلیفونه به دې ختم کړي.

څوک چې په مسلمان پرده واچوي، الله ﷻ په هغه باندې پرده اچوي

"من ستر مسلماً ستره الله یوم القیامة" څوک چې په یو مسلمان باندې پرده واچوي، الله ﷻ به د قیامت په ورځ هغه باندې پرده واچوي، یعني دده عیبونه به د قیامت په ورځ ظاهر نه کړل شي، نه به د هغه سره محاسبه وکړی شي، د عملنامې وراندې کولو پر مهال به هم په هغه پرده واچول شي، دلته یوه علمي نکته ده، هغه دا چې: د راویانو حدیث او د شاهدانو تحقیق او د اهل علم د حالاتو اظهار کول، نه صرف دا چې جائز دي، بلکې واجب دي ځکه چې په دې صورت کې د دین، علم او د خلکو د حقونو حفاظت کیږي.

هیڅ مسلمان ته سپک مه ګورئ!

"وعن أبي هريرة ﷺ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ، لَا يَخُونُهُ، وَلَا يَكْذِبُهُ" د ابو هریره ﷺ روایت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: یو مسلمان د بل مسلمان ورور دی، نه به ورسره خیانت کوي او نه به ورته دروغ وايي، "وَلَا يَخْذُلُهُ" نه به یې شرموي، "كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ عِرْضُهُ وَمَالُهُ وَدَمُهُ" هر مسلمان په بل مسلمان باندې حرام دی، د هغه عزت اخیستل، مال یې غلا کول او ناحقه یې وینه تویول حرام دي. "التَّقْوَى هَاهُنَا" د تقوی ځای دا دی، نبي اکرم ﷺ خپلې سینې طرفته اشاره وکړه، "حَسْبُ امْرِئٍ مِنَ الشَّرِّ أَنْ يَحْقِرَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ" د سړي د بدۍ لپاره دا ډېره زیاته ده چې هغه خپل مسلمان ورور ته سپک وګوري رواه الترمذي، وَقَالَ: حديث حسن.

لغوي تحقيق:

يخذله: "خذل خذلاً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: رسوا او شرمنده کول

يحقر: "حقر حقراً" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: سپک ګڼل

تشريح: "لايخونه" د هغه سره به خيانت نه کوي، په قرآن کريم کې هم راځي: "إن الله لايحب الخائنين" الله ﷻ د خيانت کوونکو سره مينه نه کوي، بل ځای دي چې: "إن الله لايهدي كيد الخائنين".

"ولايكذبه" نه به ورته دروغ وايي او نه به په دروغو ويلو سره هغه ته دوکه ورکوي

"حرام عرضه وماله ودمه" د يو مسلمان عزت، مال او بدن په بل مسلمان باندې حرام دی، په دې حديث کې هم د مسلمانانو د عزت بيان شوی دی، د شرعي وجې څخه بغير د هغه مال او بدن سپکول يا يې غلا کول حرام دي.

تقوی په زړه کې وي:

"التقوى ههنا" تقوي وېرې ته ويل کيږي، د الله ﷻ نه وېره اصل او بنيادي شی دی، تقوی يو داخلي کيفيت دی چې د الله ﷻ نه سېوا بل څوک پرې خبر نه وي، په دې کې دې طرفته اشاره ده چې يو کس دې ځانته بزرګ نه وايي او بل کس دې سپک نه ګڼي، ځکه چې د ظاهري اعمالو څخه بغير د ايمان، اخلاص او تقوی درجه څوک نه شي معلومولی، صحيح علم صرف يو الله ﷻ سره دی، بل چاته ددې علم نشته، دغه مضمون په قرآن کريم کې هم شته، "هو أعلم بمن اتقى" الله ﷻ ښه پوهيږي چې څوک څومره تقوی دار دی.

د يو مسلمان مال او بدن په بل مسلمان باندې حرام دی

"وعنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: لاَ تَحَاسَدُوا، وَلاَ تَنَاجَشُوا" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: په خپل منځ کې حسد مه کوئ، په سودا اخيستلو کې بل څوک مه دوکه کوئ! "وَلاَ تَبَاغَضُوا، وَلاَ تَدَابَرُوا" بغض او غوسه مه کوئ او د يو بل سره تعلق مه ختموئ! "وَلاَ يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ" د يو بل په سودا باندې سودا مه کوئ! "وَكُونُوا عِبَادَ اللّٰهِ إِخْوَاناً" تاسو ټول د خدای بندګان شئ او وروڼه وروڼه جوړ شئ! "اَلْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ: لاَ يَظْلِمُهُ وَلاَ يَحْقِرُهُ" يو مسلمان د بل مسلمان ورور دی، نه به پرې ظلم کوي او نه به يې سپک ګڼي، "وَلاَ يَخْذُلُهُ" او نه به يې شرموي، "اَلتَّقْوَى هَاهُنَا - وَيُشِيرُ إِلَى صَدْرِهِ ثَلاَثَ مِرَارٍ" بيا نبي اکرم ﷺ وفرمايل: تقوي او پرهيزګاري دلته ده او خپلې سينې ته يې اشاره وکړه، دا جمله يې درې ځله وويل، "بِحَسْبِ امْرِىءٍ مِنَ الشَّرِّ أَنْ يَحْقِرَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ" انسان ته دا بدي بس ده چې خپل مسلمان ورور سپک ګڼي، "كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ، دَمُهُ وَمَالُهُ وَعِرْضُهُ" د يو مسلمان لپاره د بل مسلمان ناحقه وينه تويول، مال يې لوټل او عزت يې اخيستل حرام دي. رواه مسلم

"اَلنَّجْشُ: أَنْ يَزِيدَ فِي ثَمَنِ سِلْعَةٍ يُنَادَى عَلَيْهَا فِي السُّوقِ وَنَحْوِهِ، وَلاَ رَغْبَةَ لَهُ فِي شِرَائِهَا بَلْ يَقْصِدُ أَنْ يَغُرَّ غَيْرَهُ، وَهٰذَا حَرَامٌ" نجش دې ته

وايي چې نيلام يا سودا کې بولي يا زيات قيمت اوچت ووايي چې بل کس زيات قيمت ورکړي او په خپله يې د اخيستلو اراده نه وي، دا سې عمل حرام دی.

"وَالتَّدَابُرُ: أَنْ يُعْرِضَ عَنِ الْإِنْسَانِ وَيَهْجُرَهُ وَيَجْعَلَهُ كَالشَّيْءِ الَّذِي وَرَاءَ الظَّهْرِ وَالدُّبُرِ" او تدابر دي ته وايي چې يو مسلمان وروسته وغورځوي، د خلکو په نظر کې د مسلمان سپک ګڼلو ته ځان ساتل

تشريح: "لاتحاسدوا" په خپل مينځ کې حسد مه کوئ، حسد دې ته وايي چې د يو کس سره نعمت ويني؛ نو د هغې د ختميدو ارمان وکړي. دا حرام دی، په قرآن کريم کې هم د حسد نه په الله ﷻ سره پناه غوښتل شوې ده. "ومن شرحاسدٍ إذا حسد" په الله ﷻ سره د حاسد د حسد نه پناه غواړم کله چې هغه حسد شروع کړي.

"ولاتناجشوا" د اخيستلو او خرڅولو په وخت هسې له خانه بيعه مه کوئ، چې اخلې يې نه او هسې بل مسلمان پرې ورتېز کړې، دا دوکه ده چې صراحتا حرام عمل دی

"ولاتباغضوا" او په خپل منځ کې بغض مه کوئ او کينه هم مه ساتئ، دا هم يوه ډېره خرابه بيماري ده، يعنې ټولې هغه بيمارياني چې د باطن سره تعلق ساتي حرامې دي، لکه حسد، بغض، عداوت، رياکاري، کفر او شرك وغيره دا ټولې حرامې دي، بغض د اسلامي اخوت منافي عمل دی، شريعت غواړي چې مسلمانان په خپل منځ کې ورونه شي

څه چې ځانته خوښوې بل ته يې هم خوښ کړه!

"وعن أنس رضي الله عنه، عن النبي ﷺ، قَالَ: لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ" د انس رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: تاسو تر هغه پورې مومن مسلمان نه شئ جوړېدئ، "حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ" تر څو چې خپل مسلمان ورور ته هغه څه خوښ نه کړې کوم څه چې خپل ځانته خوښ نه کړې مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

تشريح: "لايؤمن أحدكم" ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: ددې نه کامل ايمان مراد دی، "مايحب لنفسه" په بل روايت کې دي: "من الخير" لفظ اضافه شوی دی، اوس مطلب دا شو چې د دنيا او اخرت په هره معامله کې چې يو مسلمان ځانته کوم شی خوښوي، بايد بل مسلمان ورور ته يې هم خوښ کړي

په دنيا کې کوم شيان ښه دي؟

بايد يو مسلمان ته په دنيا کې، عزت، عفت، پتمني، خوشحالي، ښه عمل او نيك عمله خاندان، تابعداره بچيان او بيا چې دا هرڅه د آخرت لپاره وسيله جوړه شي، دا ډېر ښه شيان دي

په آخرت کې کوم شيان ښه دي؟

د آخرت ښه والی دا دی چې د انسان خاتمه په خير وشي، د قبر له سختيو څخه، د قيامت په ورځ د سخت سوال ځواب، د جهنم له عذابه خلاص شي، د الله ﷻ په فضل او کرم په جنت کې د اوچتې درجې څښتن شي، دغه شيان هر سړی ځانته خوښوي، لکه څرنګه چې يې ځانته خوښوي، دغه شان بايد بل مسلمان ورور ته يې هم خوښ کړي، دې ته کامل ايمان ويل کيږي

ظالم د ظلم نه منع کول د هغه سره مرسته ده

"وعنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: اُنْصُرْ أَخَاكَ ظَالِماً أَوْ مَظْلُوماً" د انس ﷺ روايت دی. فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل د خپل ورور مدد وکړه، برابره خبره ده چې هغه ظالم وي او که مظلوم وي. "فَقَالَ رجل: يَارَسُولَ اللهِ، أَنْصُرُهُ إِذَا كَانَ مَظْلُوماً، أَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ ظَالِماً كَيْفَ أَنْصُرُهُ؟" يو کس دا خبره وکړه چې يا رسول الله ﷺ! زه خو به د هغه مدد وکړم چې کله مظلوم وي او که ظالم وي؛ نو د هغه مدد به څنګه وکړم؟ "قَالَ: تَحْجُزُهُ -أَوْ تَمْنَعُهُ- مِنَ الظُّلْمِ فَإِنَّ ذٰلِكَ نَصْرُهُ" نبي اکرم ﷺ ورته وفرمايل: ته هغه بند کړه او د ظلم څخه يې منع کړه؛ دا به ستا مرسته وي د هغه سره. رواه البخاري

تشريح "أنصر أخاك ظالماً أو مظلوماً" د خپل ورور مرسته وکړه، هغه که ظالم وي او که مظلوم وي. ابن بطال رحمه الله فرمايي: په عربي ژبه کې نصر مرستې ته ويل کيږي، په معاشره کې د ظلم او فساد ختمولو لپاره دا حديث جامع دی، يعنې دا نه چې انسان بايد د مظلوم سره صرف همدردي وکړي، بلکې د اخلاقو څخه بايد کار واخلي او ظالم هم د ظلم نه منع کړي، کله نو ظالم به ظالم پاتې شي او مظلوم به مظلوم پاتې شي، ليکن دا کار زيات اخلاقي جرات او بهادري غواړي، که يو خل به سړي کې دا اوصاف پيدا شي، نو بيا د يو مسلمان د خير خواهی حق ادا کولی شي.

"تحجزه أو تمنعه من الظلم" ظالم د ظلم نه منع کړه، په بل روايت کې دي "تأخذون يده" هغه د لاسه ونيسه، په بل روايت کې ددې نور وضاحت هم راغلی دی "إن كان مظلوماً أخذ له بحقه وإن كان ظالماً أخذ له من نفسه".

"فإن ذلك نصره" همدغه دده سره مرسته ده، په بل روايت کې ددې نور وضاحت هم راغلی دی.

"تمسكه من الظلم فذاك نصرك إياه" ظالم د ظلم نه منع کړه دا د هغه مرسته ده.

د يو مسلمان په بل مسلمان باندې پنځه حقونه دي

"وعن أبي هريرة ﷺ: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ، قَالَ: حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ خَمْسٌ" د ابو هريره ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د يو مسلمان په بل مسلمان باندې پنځه حقونه دي "رَدُّ السَّلَامِ" د سلام جواب ورکول. "وَعِيَادَةُ الْمَرِيضِ" د ناروغ پوښتنې ته تلل. "وَاتِّبَاعُ الْجَنَائِزِ" کله چې مړ شي، جنازې ته ورتلل. "وَإِجَابَةُ الدَّعْوَةِ" کله چې دعوت درکړي د هغه دعوت قبلول. "وَتَشْمِيتُ الْعَاطِسِ" او کله چې پرنجی درشي، ته الحمدلله ووايي نو په ځواب کې يې يرحمك الله ويل. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

"وفي رواية لمسلم: حَقُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ سِتٌّ" د مسلم په روايت کې دي: د يو مسلمان په بل مسلمان باندې شپږ حقونه دي "إِذَا لَقِيتَهُ فَسَلِّمْ عَلَيْهِ" کله چې ورسره مخامخ شي نو سلام پرې کوه؛ "وَإِذَا دَعَاكَ فَأَجِبْهُ" او کله چې دعوت درته وکړي؛ نو قبول يې کړه؛ "وَإِذَا اسْتَنْصَحَكَ فَانْصَحْ لَهُ" او کله چې درته نصيحت وغواړي نو نصيحت ورته وکړه؛ "وَإِذَا عَطَسَ فَحَمِدَ اللهَ فَشَمِّتْهُ" او کله چې پرنجی وکړي، الحمدلله ووايي؛ نو په ځواب

کې بې يرحمك الله ووايه؛ "وَإِذَامَرِضَ فَعُدْهُ" او کله چې بيمار شي پوښتنه يې وکړه؛ "وَإِذَامَاتَ فَاتَّبِعْهُ" او کله چې مړ شي نو جنازې ته يې لاړ شه!

تشريح: "حق المسلم على المسلم" د يو مسلمان په بل مسلمان باندې پنځه حقونه دي، د حق نه مراد د ابن حجر رحمه الله په نزد وجوب ته اشاره ده، يعنې د يو مسلمان په بل مسلمان باندې پنځه حقونه واجب دي.

خمس: پنځه حقونه دي.

سوال: په بل روايت کې شپږ ذکر دي، د دواړو حديثونو ترمنځ تعارض موجود دی؟

ځواب: دا قيد اتفاقي دی، په يو روايت کې پنځه دي، په بل روايت کې شپږ دي، دلته هيڅ تعارض نشته، بل ځواب دا دی چې په اول ځل رسول الله ﷺ پنځه حقونه بيان کړل بيا يې شپږ بيان کړل.

لومړی حق: د سلام ځواب ورکول، د سلام ځواب ورکول واجب دي، په قرآن کريم کې هم ارشاد دی: "وإذا حييتم بتحية فحيوا بأحسن منها أو ردوها" کله چې څوك تاته دعا وکړي، ته هم ورته دعا کوه! دلته د تحية نه د مفسرينو په اتفاق سلام مراد دی، د سلام د فضيلت لپاره دا هم کافي ده چې دا د انبياء عليهم السلام او پرښتو شعار دی او د جنتيانو عادت دی.

دويم حق: د بيمار پوښتنه کول "عيادة المريض" فقهاء فرمايي: د بيمار پوښتنې ورتلل سنت مؤکده دي، امام بخاري رحمه الله د وجوب قائل دی، ابن حمدان رحمه الله فرض کفايه ښودلی دی، رسول الله ﷺ به هم د خپلو صحابه کرامو ﷺ پوښتنې ته ورتللو او د صحابه وو هم يو مستقل عادت جوړ شوی ؤ.

دريم حق: جنازې ته تلل "اتباع الجنائز" د جنازې سره تلل او په دفن کې شريك کېدل، فقهاوو فرض کفايه ښودلی دی، په ګڼو روايتونو کې ددې تاکيد راغلی دی، ابو سعيد خدري ﷺ فرمايي نبي کريم ﷺ وفرمايل چې د مريض پوښتنه کوئ؛ د جنازې سره يې ځئ! ددې په ذريعه به تاسو ته آخرت يادېږي، لکه يو شاعر چې ويلي دي:

كل ابن انثى وان طالت سلامته يوماً على آلة الحدباء محمول

ترجمه: که د هر انسان عمر څومره زيات شي، خو بالاخره به يوه ورځ د مرګ په بستر څملي.

څلورم حق: دعوت قبلول امام نووي رحمه الله فرمايي: د امام شافعي رحمه الله په نزد دعوت قبلول فرض دي، په دې شرط چې کوم شرعي عذر نه وي، د اهل ظواهر په نزد واجب دي، د جمهورو فقهاوو په نزد واجب نه دي، خو قريب الى الوجوب دي، دعوت قبلولو سره اسلامي وروري کلکيږي، مينه او محبت يې زياتيږي او د زړونو نفرتونه ختميږي.

پنځم حق: "وتشمية العاطس" د پرنجي ځواب ورکول، کوم کس ته چې پرنجی راشي، هغه به الحمدلله وايي، اوريدونکی به يې "يرحمك الله" وايي، بيا به پرنجی کوونکی په "يهديكم الله ويصلح بالكم" سره ځواب ورکوي، ددې ترجمه دا ده: الله ﷻ دې تاته هدايت وکړي او حالت دې الله ﷻ ښه کړه، په ځينو رواياتو

کې راخي: "يغفر الله لنا ولكم" هم راغلي دي، کوم کس چې په پرنجي باندې: "الحمد لله" ونه وايي هغه ته په خواب کې: "يرحمك الله" نه ويل کيږي، د پرنجي خواب ورکول هم د مسلمان حق دی، په دې وجه يو بل سره مينه او محبت زياتيږي.

"وإذا استنصحك فانصح له" که کوم مسلمان ستا سره ښيګڼه کوي، ته هم ورسره ښېګڼه کوه، د بل مسلمان سره ښېګڼه بايد زموږ د ژوند يو جزء لاينفك شي، د عامو مسلمانانو سره د خير خواهی مطلب دا دی چې مسلمانانو د نصيحت خبرې وکړې په کومو کې چې د دنيا او اخرت فايده وي، بله دا چې که په کوم انسان کې د بشري تقاضې مطابق کومه کمزوري ووينې، نو بايد په هغه پرده واچول شي، د عام ولس په وړاندې يې بې عزته نه کړي، علماء فرمايي: امر بالمعروف او نهي عن المنكر بايد په نرمه ژبه وي، د نصيحت په کارونو کې دا داخل دي چې کوم شيان خان ته خوښوی بل مسلمان ته يې هم خوښ کړي.

نبي کريم ﷺ د اوه/ ۷ کارونو حکم او د اوه/ ۷ کارونو څخه منع وفرمايل

"وعن أبي عُمارة البراء بن عازب رضى الله عنهما، قَالَ: أمرنا رَسُول الله ﷺ بسبع، ونهانا عن سبع" د ابو عماره براء بن عازب ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ موږ ته د اوه کارونو کولو امر وکړو او د اوه کارونو څخه يې منع کړو، "أمرنا بعيادة المريض، وَاتِّبَاعِ الجَنَازَةِ" موږ ته يې د مريض د پوښتنې په اړه حکم وکړو، کله چې مړ شي نو جنازې ته يې خه! "وتشميت العَاطِس، وَإبرار المُقسِم" کله چې پرنجی وکړي، نو يرحمك الله ورته وايه او قسم پوره کوه! "ونَصْرِ المَظْلُومِ، وَإجَابَةِ الدَّاعِي" د مظلوم مرسته کوه او دعوت قبلوه! "وَإفْشَاءِ السَّلامِ" د سلام اچولو او په خپل منځ کې يې د خپرولو حکم راته وکړو، "ونهانا عَنْ خَوَاتِيمٍ أَوْ تَخَتُّمٍ بالذَّهَبِ" موږ يې د دې نه منع کړو چې د سرو زرو ګوتمې په ګوته کړو، "وَعَنْ شُرْبٍ بالفِضَّةِ" د سپينو زرو په لوښي کې يې د اوبو څښلو څخه منع کړو، "وَعَنِ المَيَاثِرِ الحُمْرِ" او د سرو ورېښمو په کمبلو يې د کېنستلو څخه منع کړو، "وَعَنِ القَسِّيِّ" د ورېښمو جامو اغوستلو څخه يې منع کړو، "وَعَنْ لُبْسِ الحَرِيرِ والإسْتَبْرَقِ وَالدِّيبَاجِ" او دغه شان د ورېښمو، بخملي او ديباج جامو اغوستلو نه يې موږ منع کړو. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

"وفي رواية: وَإنْشَادِ الضَّالَّةِ في السَّبْعِ الأُوَلِ" په يو بل روايت کې دي چې د ورک شوي شي د اعلان نه يې هم موږ منع کړو.

"المَيَاثِرُ: بياء مثنّاة قبل الألف، وثاء مُثَلَّثَة بعدها: وهي جَمْعُ مِيثَرَة، وهي شيء يُتَّخَذُ مِن حرير وَيُحْشَى قطناً أَوْ غيره" الميائر جمع د ميثرة ده، هغه جامه چې د ورېښمو او تار نه جوړه شوې وي، "وَيُجْعَلُ في السَّرْجِ وَكُورِ البَعِيرِ يجلس عَلَيهِ الراكب" د اسونو او اوښانو په زينونو او ګديو اچول کيږي او پخته/ مالوچ هم پکې وي، "القَسِّيُّ: بفتح القاف وكسر السين المهملة المشددة: وهي ثياب تنسج مِنْ حرير وكَتَّانٍ مختلطين" يعنې ورېښمه او خامتايي/ کتان جوړه، "وَإنْشَادُ الضَّالَّةِ: تعريفها" د ورک شوي شي اعلان کول.

تشريح: "عيادة المريض، إتباع الجنائز، تشميت العاطس" ددې درې واړو جملو وضاحت په تېر حديث کې وشو، "إبرار المقسم" د قسم خوړونکي سړي قسم پوره کول، ددې مطلب دا دی چې يو سړی تاته قسم

درکړي چې دا کار وکړه يا دا کار مه کوه. نو ته د هغه اعتماد مه مجروح کوه. هغه کار چې د کولو حکم يې درکړی وي، هغه وکړه او د کوم کار د نه کولو حکم يې چې درته کړی وي، مه يې کوه. ليکن په دې شرط چې هغه کارونه د شريعت خلاف نه وي. د هغې تعلق د مباح کارونو يا مکارم اخلاق سره وي

"نصر المظلوم" د مظلوم مرسته وکړه. مطلب دا چې چېرته هم په مسلمان ظلم کېږي يا د هغه بې عزتي کېږي، بايد د هغه مرسته وشي او ظالم د ظلم نه منع کړي. په بل روايت کې دي چې معاذ رضي الله عنه فرمايي نبي کريم ﷺ وفرمايل کوم کس چې يو مسلمان د منافق سړي د ظلم نه بچ کړو. نو الله جل جلاله به د قيامت په ورځ يو پرښته د هغه لپاره مقرر کړي، ددې لپاره چې زړه يې د جهنم له اوره وساتي

"نهانا عن خواتيم" د سرو زرو گوتميو په گوته کولو څخه يې منع کړې ده. د سرو زرو او وريښمو استعمال د نارينه وو لپاره حرام دی. ښځو ته يې استعمال جائز دی. لکه څرنگه چې په يو حديث کې دي: د رسول الله ﷺ په يو لاس کې وريښم او په بل لاس کې يې سره زر ونيول او وې فرمايل دا دواړه زما د امت په نارينه وو حرام دي او د ښځو لپاره حلال دي. اسلام د امت په سړو کې د ښځو عادتونه خوښ نه گڼي او دا يې ورته حرام کړي دي

"عن الشرب بالفضة" د سپينو زرو په لوښو کې خوراک او څښاک څخه يې هم منع فرمايلې ده. په يو روايت کې خوصفا حرمت بيان شوی دی. خلاصه دا چې د سپينو زرو په لوښو کې خوراک او څښاک د شريعت په رڼا کې حرام دی.

باب ستر عورات المسلمين والنهي عن إشاعتها لغير ضرورة

اته ويشتم باب: د ضرورت څخه بغير د ستر افشاء کول پکار نه دي

"قَالَ اللّٰهُ تَعَالَىٰ" الله جل جلاله فرمايي چې: "إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا" بې شکه هغه کسان چې په مسلمانانو کې بې حيايي خپروي، "لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ" دوی ته په دنيا او اخرت کې دردناک او سخت عذاب دی [النور: ۱۹].

تشريح: په دې آيت کې د هغو خلکو مذمت شوی دی چې په مسلمانانو کې بې حيايي خپرول غواړي، قرآن مجيد د فحاشي د بندېدو داسې نظام ښودلی چې تر څو شرعي ثبوت نه وي نو نه صرف دا چې ددې بيانول بهتان، د بد کارۍ خبرې منع دي، بلکې په دنيا او اخرت کې د داسې کس لپاره دردناک عذاب دی. څومره چې دا خبرې زياتيږي، دومره به جرمونه زياتيږي او څومره چې د بې حيايي خبرې ختميږي، دومره به په خلکو کې جرمونه ختميږي، ارمان چې مسلمانان به قرآني نظام پابندي ځان پوه کړي

"لهم عذاب أليم في الدنيا والاخرة" داسې کسانو ته په دنيا او اخرت کې دردناک عذاب دی. څوک چې په چا پاندې د زناکارۍ تهمت ولگوي او د هغه سره په دې دعوه باندې شرعي ثبوت نه وي: نو اوس به هغه ته اتيا دوره ورکولی شي او په آخرت کې به ورته دردناک عذاب ورکول کېږي

په دنيا کې پردې اچولو سره به په اخرت کې هغه باندې پرده واچول شي:

"وعن أبي هريرة ﷺ، عن النبيّ ﷺ، قَالَ: لَا يَسْتُرُ عَبْدٌ عَبْداً فِي الدُّنْيَا" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: يو کس هم داسې نشته چې په بل کس باندې پرده واچوي په دنيا کې، "إِلَّا سَتَرَهُ اللهُ يَوْمَ القِيَامَةِ" مګر دا چې الله ﷻ به په قيامت کې په ده باندې پرده واچوي. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

يستر: "ستر ستراً" باب نصر ينصر او ضرب يضرب دی، ددې معنی ده پرده اچول

تشريح: "لايستر عبد عبداً في الدنيا" کوم کس چې په دنيا کې په چا باندې پرده واچوي، په بل روايت کې دي چې "سترتها عليك في الدنيا وأنا أغفرلك اليوم" ما چې په دنيا کې په تا باندې پرده اچولې وه، اوس به زه ستا بخښنه کوم، قاضي عياض رحمه الله ددې حديث دوه مطلبونه ښودلي دي لومړی دا چې د حشر په ميدان کې به الله ﷻ د هغه د ګناهونو عيب د خلکو څخه پټ کړي، د هغه محاسبه به خاته وکړي، ددې لپاره چې د خلکو په وړاندې رسوا نه شي، دويم دا چې کوم کس په بل انسان پرده اچوي د هغه عيب خلکو ته څرګند نه کړي، نو د قيامت په ورځ به الله ﷻ دده د عيبونو محاسبه ونه کړي او نه به د هغه ذکر وکړي، دغه دويم مطلب ډېر واضح دی، ددې تائيد په بل حديث سره هم کيږي. د خلکو په عيب باندې د پردې اچولو باره کې علماء فرمايي چې دا په مکارم اخلاق کې راځي او دا د الله ﷻ په صفاتو کې هم دی، ځکه چې الله ﷻ ته دا صفت ډېر زيات خوښ دی

د خلکو په وړاندې خپل عيب څرګندوونکی ته به معافي نه کيږي

"وعنه، قَالَ: سمعت رَسُول الله ﷺ، يقول: كُلُّ أُمَّتِي مُعَافَى إِلَّا المُجَاهِرِينَ" د ابو هريره ﷺ روايت دی، فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي، فرمايل يې زما ټول امتيان معاف دي، خو هغه کسان معاف نه دي چې په ښکاره ګناه کوي، "وَإِنَّ مِنَ المُجَاهَرَةِ أَنْ يَعْمَلَ الرَّجُلُ بِاللَّيلِ عَمَلاً" د ښکاره ګناه صورت دا دی چې يو کس د شپې ګناه وکړي، "ثُمَّ يُصْبحُ وَقَدْ سَتَرَهُ اللهُ عَلَيهِ، فَيقُولُ" بيا هغه سهار کړي، په داسې حال کې چې الله ﷻ پرې پرده اچولې وي، خو هغه خپله ووايي: "يَا فُلانُ، عَمِلتُ البَارِحَةَ كَذَا وَكَذَا" اې فلانکيه! پرون د شپې مې داسې داسې ګناه وکړه، "وَقَدْ بَاتَ يَسْتُرُهُ رَبُّهُ" هغه شپه تېره کړې وي، په داسې حال کې چې الله ﷻ پرې پرده اچولې وي، "وَيُصبحُ يَكْشِفُ سِتْرَ اللهِ عَنْهُ" هغه سهار کړی وي، په داسې حال کې چې خپل عيب يې خپله ښکاره کړی وي، په کوم عيب باندې چې الله ﷻ پرده اچولې وه. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ

لغوي تحقيق:

المجاهرين: "جاهر مجاهرة وجهاراً" باب مفاعله دی، ددې معنی ده په ظاهره ګناه کول

البارحة: "البارحة" ددې معنی ده پرون شپه، "بات بيتاً" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده شپه تېرول، د شپې چې څوک څه کار وکړي او سهار يې خلکو ته ووايي، "بات يفعل كذا"

تشريح "كل أمتي معافى إلا المجاهرين" زما ټول امت به معاف كړل شي، خو هغه څوك نه چې خپل عيبونه خلكو ته ښكاره كوي، علماء فرمايي چې انسان بشر دى، د هغه نه د بشريت په تقاضه ګناهونه كيږي، په دې باندې پښېماتيا پكار ده، كه پښېمانه شي نو الله ﷻ به يې معاف كړي، ددې سره كه معافي هم وغواړي او توبه هم وباسي؛ نو بيا به الله ﷻ پوره خوشحاله شي، ليكن كه ګناه يې وكړه ددې نه وروسته يې خلكو ته ښكاره كړه چې پرون شپه ما داسې داسې كړي دي، نو دا ددې خبرې واضحه دليل دى چې ددې سړي په زړه كې د الله ﷻ نه ويره نشته، يا دا چې ددې سړي په زړه كې د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ د احكاماتو هيڅ قدر نشته، ځكه خو خپل ګناهونه خلكو ته ظاهروي، خپل ګناهونه خلكو ته ظاهرول د الله ﷻ قهر او عذاب ته دعوت وركول دي او داسې كس ته عموما د توبې توفيق نه ورپه برخه كيږي، كله چې په هغه كې داسې كارونه او خبرې پيدا شي؛ نو بيا به هغه كله معاف كړى شي؟

وينزه چې بيا بيا زنا وكړي خرڅه يې كړه!

"وعنه، عن النبي ﷺ، قال: إذا زنت الأمة فتبين زناها فليجلدها الحد" د ابو هريره ﷺ روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: كله چې وينزه زنا وكړي او بيا د هغې زنا ښكاره شي؛ نو حد پرې جاري كړئ، "ولا يثرب عليها" ليكن ملامتيا پرې مه وايئ! "ثم إن زنت الثانية فليجلدها الحد، ولا يثرب عليها" كه بيا يې په دويم ځل هم زنا وكړه؛ نو حد پرې جاري كړئ او ملامتيا پرې مه وايئ! "ثم إن زنت الثالثة فليبعها ولو بحبل من شعر" كه په دريم ځل يې هم زنا وكړه؛ نو بيا يې خرڅه كړئ، اګر كه د وېښتو په رسۍ وي. متفق عليه

"التثريب: التوبيخ" د التثريب معنى ده: ملامتيا.

لغوي تحقيق:

فليجلدها: "جلد جلداً" باب ضرب يضرب دى، ددې معنى ده: كوړې/ دوړې لګول.

يثرب: "ثرب ثرباً" باب ضرب يضرب دى، ددې معنى ده: كوم كار قبيح/ بد ښودل

تشريح "إذا زنت الأمة فتبين زناها فليجلدها الحد" كله چې وينزه زنا وكړي او د هغې زنا ښكاره شي، نو په هغې حد قائم كړئ.

ايا بادار په خپل غلام يا لنډۍ حد جاري كولى شي؟

په دې كې دوه مذهبه دي: لومړى مذهب د ائمه ثلاثه وو دى: د امام شافعي رحمه الله، امام مالك رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله مسلك دى، نزدې د درې واړو امامانو مذهب دا دى چې بادار په خپل غلام حد قائمولى شي، دويم مذهب د احنافو دى، دوى وايي: بادار په خپل غلام حد نه شي قائمولى

د ائمه ثلاثه وو استدلال:

په پورتني حديث كې تېر شول چې د وينزې زنا كله واضحه شي، نو حد به پرې قائمولى شي

داحنافو استدلال:

د ډېرو صحابه وو او تابعينو اصول هم دا دي چې حد جاري کول صرف د سلطان کار دی، د پاچا ځخه بغير څوک حد نه شي جاري کولی.

د المه ثلاثه وو داستدلال نه ځواب:

دلته بادار ته د دې خبرې حکم ورکول شوی چې ته قاضي يا حاکم ته دا مسئله ورسوه تر څو هغه ورباندې حد جاري کړي، په دې وجه به بادار د حد جاري کېدو لپاره سبب او ذريعه جوړ شي، نو مجازاً هغه ته نسبت وشو.

"ولايثرب عليها" عموماً محدثين د تثريب دوه معناګانې کوي: اول دا چې حد يو ځل جاري شو، نو بيا ورته پېغور مه ورکوئ، دويمه معنی يې دا ده چې مخکې به صرف په پېغورونو باندې اکتفاء کېده، اوس به صرف په پېغور بسنه نه کوئ، بلکې حد به هم جاري کوئ!

په دريم ځل زنا کولو يې خرڅه کړئ!

"إن زنت الثالثة فليبعها ولو بحبل من شعر" که په دريم ځل زنا وکړي، بيا يې خرڅه کړه، اګر چه د وېښتانو په رسۍ ولې نه وي، په دې کې هم دوه مذهبه دي: لومړی مذهب د اهل ظواهرو دی، دوی وايي چې په دريم ځل زنا کولو سره يې خرڅول واجب دي، خو د ائمه اربعه په نزد دا حکم استحبابي دی.

په خرڅولو کې حکمت:

په دې کې ډېر حکمتونه دي، مثلاً: بل ځای ته چې لاړه شي، ممکنه ده چې هغه به د دې خبيث کار څخه لاس واخلي، دومره ځل زنا کولو باوجود چې يې بادار له ځان سره ساتي، بيا په بادار هم شک راځي چې شايد هغه ب په دې خبيث کار باندې د وينځې سره خوښ وي.

په شرابي باندې حد جاري کول

"وعنه، قال: أتي النبي ﷺ برجل قد شرب خمراً، قال: اضربوه! قال أبو هريرة: فمنا الضارب بيده، والضارب بنعله، والضارب بثوبه" د ابو هريره رضی الله عنه روايت دی، فرمايي چې نبي اکرم ﷺ ته يو کس راوستل شو چې شراب يې څښلي وو، نبي اکرم ﷺ وفرمايل: دا کس ووهئ، ابوهريره رضی الله عنه فرمايي: په موږ کې ځينې کسانو په لاس باندې ووهلو، ځينو په څپلو ووهلو او ځينو په څادر باندې ووهلو، "فلما انصرف، قال بعض القوم: أخزاك الله، قال: لا تقولوا هكذا!" کله چې هغه کس لاړو، نو يو کس ووېل: الله دې تا رسوا کړي! نبي اکرم ﷺ وفرمايل: داسې خبره مه کوئ! "لا تعينوا عليه الشيطان" دده په مقابله کې د شيطان سره مرسته مه کوئ! رواه البخاري.

لغوي تحقيق: تعينوا: "عونه تعويناً عاونه معاونة" مرسته کول.

تشريح: "قد شرب خمراً قال اضربوه!" شرابي شراب څښلي وو، نبي کريم ﷺ وفرمايل: دی ووهئ!

د شراب څښلو حد:

د احنافو، امام مالك رحمه الله، امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله مشهور قول دا دی چې اتيا دورې به وهل کيږي، په څو شمېر حديثونو کې ددې ثبوت راغلی دی، پورتنی حديث هغه وخت وو چې د شراب خور په اړه کوم حد مقرر شوی نه وو، بيا وروسته ددې لپاره اتيا کوړې دورې حد مقرر شو، د عمر رضي الله عنه په زمانه کې په دې باندې د صحابه کرامو اجماع وشوه، محدثين فرمايي چې د نبي کريم ﷺ او ابوبکر رضي الله عنه په زمانه کې چونکه اصلاح غالبه وه، ماحول سم ؤ، ځکه ددې د شراب خور په اړه حد نازل نه شو، که چېرته کومه واقعه پېښه شوې نه وای، نو د شرعي ثبوت د نشتون له وجې به شرعي حد نه نافذ کېدلو، صرف تعزير به ورکولی شو، ليکن کله چې د عمر رضي الله عنه زمانه شروع وه او بيا دې باره کې څه واقعې وشوې او په دې باندې شرعي ثبوت هم قائم شو، نو اوس باقاعده اتيا (۸۰ کوړې) دورې ورته په حد کې مقرر شوې.

چاته پېغور ورکول پکار نه دي:

"فقال بعض القوم أخزاك الله" د ځينو خلکو د خولې نه دا خبره راوتل چې الله ﷻ دې ذليل کړي. ددې مطلب دا دی چې شيطان غواړي چې انسان په دنيا او اخرت کې شرمنده او ذليل شي، نو دغه شان جملې استعمالولو سره د شيطان مرسته کيږي، کله چې هغه انسان ذليل شي: نو شيطان به خوشحاله شي، نو ځکه رسول الله ﷺ ددې قسم الفاظو استعمالولو نه منع وفرمايل.

باب قضاء حوائج المسلمين

نهه ويشتم باب: د مسلمانانو ضرورتونه پوره کول

"قَالَ اللّٰهُ تَعَالَىٰ" الله ﷻ فرمايي: "وَافْعَلُوا الْخَيْرَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ" د خير ښېګڼې کارونه کوئ چې تاسو کامياب شئ! [الحج:۷۷].

تشريح: "إعملوا لله حق عمله واعبدوه حق عبادته" د الله ﷻ د رضا او خوشحالي په خاطر عمل کړئ لکه څرنګه چې د هغه حق دی او د الله ﷻ عبادت کوئ لکه څرنګه چې د هغه حق دی، "الخير" په "الخير" کې ټولې نېکۍ مراد دي، خو عبد الله بن عباس رضي الله عنهما فرمايي: دلته د "الخير" نه مراد خپلوانو سره نيکي او ښه سلوک مراد دی.

په الله ﷻ باندې د چا زور نه رسيږي:

"لعلكم تفلحون" ددې لپاره چې تاسو کامياب شئ: ځکه چې په الله ﷻ باندې د چا زور نه چليږي چې به الله ﷻ باندې څوک خپل اعمال قبول کړي، صرف اميد کېدلی شي (دا خاتمه مسئله ده چې الله ﷻ د چا عمل نه ضايع کوي) په بني اسرائيلو کې يو پېغمبر ته الله ﷻ ووېل: په خپل امت کې هغو خلکو ته ووايه چې اطاعت کوي او زما بندګي کوي چې په خپلو عملونو دوکه نه شي، ځکه چې د قيامت په ورځ

زه ځانته له ځا ځخه حساب کتاب غواړم، که هغه ته عذاب ورکول وغواړم، نو هغه ته عذاب ورکولی شم او په خپل امت کې ګناهګارو خلکو ته وواېه چې هغوی د خپلو ګناهونو په ذريعه ځانونه هلاک ونه ګڼي، ځکه چې زه ستر ستر ګناهونه معاف کوم او په دې به زما هيڅ پروا هم نه وي

د مسلمانانو نه بوج پورته کول د کاميابۍ لار ده

"وعن ابن عمر رضي الله عنهما: أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ، قَالَ: اَلْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ" د عبد الله بن عمر رضي الله عنهما روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: يو مسلمان د بل مسلمان ورور دی، "لَا يَظْلِمُهُ، وَلَا يُسْلِمُهُ" نه به پرې ځوک ظلم کوي او نه به يې بل کس ته حواله کوي چې هغه پرې ظلم وکړي، "مَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَخِيهِ، كَانَ اللهُ فِي حَاجَتِهِ" کوم کس چې د بل مسلمان ورور حاجت پوره کړي، الله ﷻ به د هغه حاجتونه پوره کړي، "وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً" او کوم کس چې د بل مسلمان ورور نه څه تکليف لرې کړي، "فَرَّجَ اللهُ عَنْهُ بِهَا كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ" الله ﷻ به د هغه نه د آخرت تکليفونه لرې کړي، "وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" او کوم کس چې په يو مسلمان باندې پرده واچوي، الله ﷻ به د قيامت په ورځ په هغه باندې پرده واچوي مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

لغوي تحقيق:

کربة: "کرب کربةً" تکليف او پرېشاني وغيره، مکروب جراثيمو ته ويل کيږي

ستر: "ستر ستراً": پټول، حفاظت کول، مجرم ته پناه ورکول

مسلمان د مسلمان مرسته کوي:

تشريح "المسلم أخو المسلم لا يظلمه ولا يسلمه" يو مسلمان د بل مسلمان ورور دی، نه به پرې ظلم کوي او نه به د هغه مرسته پرېږدي، په دې حديث کې مسلمانان خپلو کې وروڼه ګرځول شوي دي، کله چې مسلمانان په خپلو کې وروڼه شي، نو د يو ورور په بل ورور باندې حق وي، که هغه مظلوم وي، مرسته به يې کوي، نه به پرې خپله ظلم کوي او نه به بل ځوک پرېږدي چې په هغه باندې ظلم وکړي، کله چې بې مرستې ته ضرورت شي، د هغه مرسته به کوي

د مسلمان ورور ضرورت پوره کولو فضيلت:

"من كان في حاجة أخيه" کوم کس چې د خپل مسلمان ورور حاجت پوره کړي، الله ﷻ به د ده ضرورتونه پوره کړي، په بل حديث کې دي چې کوم کس د يو مسلمان ورور ضرورت پوره کړي، هغه ته دومره ثواب ملاوېږي لکه ټول عمر يې چې د الله ﷻ عبادت کړی وي، په بل حديث کې راځي: کوم کس چې د يو مسلمان ورور ضرورت حاکم ته ورسوي، نو الله ﷻ به هغه ته په پل صراط باندې تلل آسان کړي، په کومه ورځ چې به پښې ښوييږي او په بل حديث کې دي کوم کس چې د خپل ضرورتمند او بې وسه مسلمان ورور مرسته وکړي، الله ﷻ به د هغه سره په داسې ورځ مرسته وکړي چې غرونه به هم قرار ونه درېږي او نه به په خپل ځای قرار پاتې شي

چېرته چې تلاوت کیږي، هلته پرښتې راځي

"وعن أبي هريرة ﷺ، عن النبي ﷺ، قَالَ: مَنْ نَفَّسَ عَنْ مُؤْمِنٍ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ الدُّنْيَا" د ابو هريره ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: څوک چې د مؤمن مسلمان نه کوم دنيوي تکليف لرې کړي، "نَفَّسَ اللهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرَبِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ" الله ﷻ به ترې د قيامت په ورځ تکليفونه لرې کړي، "وَمَنْ يَسَّرَ عَلَى مُعْسِرٍ يَسَّرَ اللهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ" او کوم کس چې د تنګ لاسي سړي سره اساني وکړي، الله ﷻ به په هغه باندې دنيا او اخرت کې اساني وکړي، "وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِماً سَتَرَهُ اللهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ" او کوم کس چې په مسلمان باندې پرده واچوي، الله ﷻ به په دنيا او اخرت کې په هغه باندې پرده واچوي، "وَاللهُ فِي عَوْنِ الْعَبْدِ مَا كَانَ الْعَبْدُ فِي عَوْنِ أَخِيهِ" الله ﷻ به تر هغه پورې د يو بنده مرسته کوي تر څو پورې چې بنده د خپل ورور مرسته کوي، "وَمَنْ سَلَكَ طَرِيقاً يَلْتَمِسُ فِيهِ عِلْماً" او کوم کس چې په داسې لار روان شي چې علم حاصلولی شي، "سَهَّلَ اللهُ لَهُ طَرِيقاً إِلَى الْجَنَّةِ" الله ﷻ به هغه ته د جنت لار آسانه کړي، "وَمَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِي بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللهِ تَعَالَى، يَتْلُونَ كِتَابَ اللهِ" يو قوم هم نه جمع کيږي د الله ﷻ د کورونو څخه په يو کور کې (يعني جومات کې) او دوی د الله ﷻ کتاب تلاوت کوي، "وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ إِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِينَةُ" په خپل منځ کې درس او تدريس کوي، مګر دا چې الله ﷻ به په دوی باندې سکينه رانازله کړي، "وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ" او په رحمت کې به يې راونغاړي، "وَحَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ" او پرښتې به ترې شاوخوا ناستې وي، "وَذَكَرَهُمُ اللهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ" او الله ﷻ يې د هغه پرښتو په وړاندې يادوي چې د هغه سره دي، "وَمَنْ بَطَّأَ بِهِ عَمَلُهُ لَمْ يُسْرِعْ بِهِ نَسَبُهُ" او کوم کس چې عمل وروسته پرېښودلو نو نسب به يې هيڅکله وړاندې نه کړي. رواه‌مسلم

لغوي تحقيق:

غشيتهم: "غشی غشياً" باب سمع يسمع دی، ددې معنی ده: پټول.

حفتهم: "حف حفاً" باب نصر ينصر دی، ددې معنی ده: احاطه کول، چاپه‌چول.

بطأ: "بطأ بطاءً" باب کرم يکرم دی، ددې معنی ده: وروسته کول، تاخير کول.

تشريح: "من نفس عن مؤمن كربة من كرب الدنيا" کوم کس چې د يو مسلمان ورور نه په دنيا کې تکليفونه پورته کړي، الله ﷻ به د قيامت په ورځ د هغه څخه تکليفونه پورته کړي، د مشکاة په يو روايت کې دي: کوم کس چې د مصيبت زده ښځو مرسته وکړي يا د کوم غريب سړي مرسته وکړي، هغه داسې دی لکه جهاد چې کوي، يا يې داسې وفرمايل: چې هغه تول نفلونه کوي او ذره برابر سستي پکې نه کوي، هغه داسې دی لکه روژې چې نيسي او په دې کې افطار نه کوي.

د تنګ لاسي سره اساني کول د قيامت په ورځ ځان ته اساني پيدا کول دي:

"ومن يسر على معسر يسره الله عليه في الدنيا والاخرة" کوم کس چې په تنګ لاسي سړي باندې اساني وکړي، الله ﷻ به دده سره په دنيا او اخرت کې اساني وکړي، محدثين فرمايي: دلته الله ﷻ د عمل بدله د

هغې په جنس سره د ورکولو وعده کړې ده، که د تنګ لاسي سړي سره دې اساني وکړه، نو الله ﷻ به په دنيا او آخرت کې په ځانګړې توګه چې به دې ورځ به انسان د هر زيات تنګ دسته وي، دده تنګ لاسي به ختمه کړي، په قرآن کريم کې الله ﷻ فرمايي چې: "فذالك يومئذ يوم عسير" دا داسې ورځ ده چې ډېره سخته به وي.

"وما اجتمع قوم في بيت من بيوت الله تعالى" کوم خلك چې د الله ﷻ د کورونو څخه په يو کور کې جمع شي، په بل روايت کې دي: په کوم کور کې چې د قرآن کريم تلاوت کيږي، هغه کور آسمان والاوو ته داسې روښانه ښکاري، لکه څرنګه چې په آسمان کې ځلېدونکي ستوري د ځمکې اوسېدونکو ته ښکاري، "إلا نزلت عليهم السكينة" سکينه به پرې نازليږي.

د سکينې نه مراد څه دی؟

د سکينې ګڼ شمېر معناګانې شوي دي، مثلا: د الله ﷻ خاص رحمت، د زړه اطمينان، وقار، اطمينان او ملائکې هم مراد دي، دا ټول مراد کېدلی شي، دا ټول نعمتونه د قرآن کريم قاري ته ملاوېږي، "وغشيهم الرحمة" د الله ﷻ په خاص رحمت کې دوی پټ شي، د رحمت نه فضل او احسان مراد دی

"حفتهم الملائكة" پرښتې ورنه چاپېره وي، اورد مشهور روايت دی چې ملائکې الهي ذکر کوونکي او تلاوت کوونکي محاصره کړي، دا محاصره تر آسمانه پورې رسيږي، په آخر کې الله ﷻ وفرمايي چې ددې ټولو بخښنه مې وکړه او د دوی سره چې کوم خلك ناست دي، د هغوی بخښنه مې هم وکړه.

الله ﷻ دا خلک په پرښتو کې يادوي:

"وذكرهم الله فيمن عنده" الله ﷻ ددې خلکو يادګېرنه د خپل غوره مخلوق پرښتو په وړاندې کوي، د (فيمن عنده) نه مراد پرښتې دي، لکه په بل روايت کې دي چې: "فان ذكرني في نفسه ذكرته في نفسي وان ذكرني في ملاء ذكرته في ملاء خير منهم" که ما په خپل زړه کې يادوي نو زه يې هم د ځان سره يادوم او که زما ذکر په ډله کې کوي؛ نو زه يې هم په داسې ډله کې يادګېرنه کوم چې د دوی له مجمع څخه غوره وي چې هغه د پرښتو ډله ده.

د قيامت په ورځ به نسب پکار نه راځي:

"ومن بطأ به عمله لم يسرع به نسبه" کوم کس چې د عمل په وجه وروسته پاتې شي، د نسب وغيره په ذريعه به وړاندې لاړ نه شي، په دې کې هغو خلکو ته خبرداری ورکول شوی چې په نسبي سرافت او عزت باندې اعتماد کوي، وايي چې موږ سيدان يو، موږ دا يو او موږ دا يو، نه د قيامت په ورځ د چا هم نسب پکار نه راځي، پکار راتلونکی شی صرف او صرف عمل دی! "إن أكرمكم عند الله أتقاكم" لکه څرنګه چې په بل روايت کې دي چې: "يا فاطمة بنت محمد سليني ما شئت لا أغني من الله شيئاً" اې فاطمې بنت محمد ﷺ! په دنيا کې چې څه غواړې وايه خو په آخرت کې دې زه د الله ﷻ له عذابه نه شم خلاصولی.

باب الشفاعة

دېرشم باب: د سفارش بيان

"قَالَ اللهُ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې: "مَنْ يَشْفَعْ شَفَاعَةً حَسَنَةً يَكُنْ لَهُ نَصِيبٌ مِنْهَا" چا چې د يو كس ښه سفارش وكړو، هغه ته به هم ثواب وركول شي [النساء:۸۵].

تشريح "من يشفع" څوك چې سفارش وكړي، دې باره كې مفسرين فرمايي چې صرف سفارش كول يې فرمايلي دي، دا نه دي ويل شوي چې سفارش دې قبول شي يا نه. مطلب دا چې په دواړو صورتونو كې به ورته اجر ملاويږي يا دا مطلب چې سفارش دې وكړي، په كار كولو دې نه مجبوره كوي، نه دې پرې كوم دباو اچوي. "شفاعة حسنة" د شفاعت خپله معنى ده. يو خاى كول. مطلب دا چې كوم كمزوري سړي سره خپل طاقت او زور يو خاى كړي او هغه مضبوط كړي. "حسنة" د ښه كار سفارش. كه په ښه كار كې يې سفارش وكړو، اجر به ورته ملاو شي او كه د ګناه سفارش يې وكړو. نو سزا به ورته ملاو شي، د كوم مسلمان د حاجت پوره كولو لپاره الله ﷻ ته سوال كول هم په سفارش كې داخل دي. دعا غوښتونكي ته به هم ددې اجر ملاويږي، "نصيب منها" حصه، عموما د نصيب لفظ په ښه حصه كې استعماليږي، ددې برخلاف لفظ (كفل) چې عموما په (بده حصه) د ګناه په سفارش كې استعماليږي

سفارش وكړه ! ثواب حاصل كړه !

"وعن أبي موسى الأشعري ﷺ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ إِذَا أَتَاهُ طَالِبُ حَاجَةٍ أَقْبَلَ عَلَى جُلَسَائِهِ" د ابو موسى اشعري ﷺ نه روايت دى، فرمايي چې د رسول الله ﷺ په خدمت كې به كله څه كسان راغلل. نو خپلو مجلسيانو ته به يې مخ مبارك واړولو. "فَقَالَ: اشْفَعُوا تُؤْجَرُوا" شفاعت وكړئ تاسو ته به هم اجر دركول شي، "وَيَقْضِي اللهُ عَلَى لِسَانِ نَبِيِّهِ مَا أَحَبَّ" او الله تعالى د خپل پېغمبر ﷺ په ذريعه فيصله صادروي د هغې خبرې چې يې خوښه شي. "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. وفي رواية: ((مَا شَاءَ))" په بل روايت كې دي چې څه يې خوښ شي

لغوي تحقيق:

اشفعوا: شفع شفاعة باب فتح يفتح نه ده، ددې معنى ده، سفارش كول

تشريح "اشفعوا توجروا" سفارش وكړئ اجر به درته ملاو شي، كه يو كس خپله كار نه شي كولى، خو نورو ته ويلى شي چې سفارش يې وكړي، هغه ته ترغيب وركولى شي، كه كار كوونكي ته اجر ملاو شو، نو سفارشي ته به هم اجر او ثواب ملاويږي. "ويقضي الله على لسان نبيه ما احب" الله ﷻ د خپل نبي عليه السلام په مبارك ژبه چې څه فيصله كول غواړي هغه كوي، معلومه شوه چې د نبي عليه السلام د ژبې مبارك كې نه چې كومه خبره يا فيصله راوځي هغه وحي ده، هغه د الله ﷻ حكم او فيصله وي، نبي عليه السلام د خپل خان له طرفه هيڅ نه وايي، دلته هم په سفارش باندې د اجر او ثواب وعده شوې ده، په دې امت باندې څومره لوى احسان دى چې صرف په سفارش باندې هم اجر او ثواب ملاويږي، اګر چې كار هم ونه شي

بريرې ﵁ ووېل: مغيث ﵁ ته زما ضرورت نشته

"وعن ابن عباس رضی اللّٰه عنهما في قِصَّةِ بَرِيرَةَ وَزَوْجِهَا، قَالَ: قَالَ لَهَا النَّبِيُّ ﷺ: لَوْ رَاجَعْتِهِ؟" د عبد اللہ بن عباس ﵁ روايت دی چې د بريرې ﵁ او د هغې د خاوند مغيث ﵁ په باره کې وايي چې نبي اکرم ﷺ بريرې ﵁ ته وفرمايل: که ته خپل خاوند مغيث ﵁ ته رجوع وکړې!؟، "قَالَتْ: يَارَسُولَ اللهِ تَأْمُرُنِي؟ قَالَ: إِنَّمَا أَشْفَعُ" هغې ووېل: يارسول الله ﷺ تاسو ماته امر کوئ؟ نبي اکرم ﷺ ورته وفرمايل: نه! بلکې سفارش کوم، "قَالَتْ: لَا حَاجَةَ لِي فِيهِ" هغې ووېل: بس ماته د هغه ضرورت نشته. رواه البخاري

لغوي تحقيق:

راجعته: "رجع رجوعاً" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: واپس راتلل

تشريح "في قصة بريرة وزوجها" د بريرې ﵁ او مغيث ﵁ کيسه: بريره بروزن کريمة دا د عائشې ﵁ وينزه وه، ددې ﵁ نکاح د يو تور رنګ صحابي مغيث ﵁ سره شوې وه، کله چې بريره ﵁ آزاده شوه، شريعت هغې ته اختيار ورکړو چې که خوښه دي وي نو د مغيث ﵁ سره پاتې شه او که خوښه دي وي نو جدائي اختيار کړه، بريرې ﵁ جدائي اختيار کړه، مغيث ﵁ د بريرې ﵁ سره بې انتها مينه وه، هغه به د مدينې منورې په کوڅو کې ګرځېدو او ژړل به يې، عباس ﵁ دا حالت وليدو، نو نبي کريم ﷺ ته يې وفرمايل چې يا رسول الله ﷺ! بريرې ﵁ ته ووايه چې مغيث ﵁ ته رجوع وکړي، نبي کريم ﷺ بريرې ﵁ ته وفرمايل، قَالَ لَهَا النَّبِيُّ ﷺ: لَوْ رَاجَعْتِهِ؟" که ته مغيث ته رجوع وکړې، (نو دا به ډېره ښه شي) هغې ورته ووېل: "قالت يارسول الله ﷺ! ؟ قال انما اشفع" يا رسول الله ﷺ! تاسو ماته حکم کوئ؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: نه! حکم نه کوم، سفارش درته کوم، بريرې ﵁ وفرمايل: بس زماه غه ته ضرورت نشته، مطلب دا چې رجوع نه کوم، بريرې ﵁ د نبي کريم ﷺ د سفارش منلو څخه انکار وکړو، ددې نه معلومه شوه چې سفارش منل ضروري نه دي.

بَابُ الإِصلاحِ بَيْنَ النَّاس

د خلکو ترمنځ سوله راوستل

يو دېرشم باب: د خلکو ترمنځ سوله راوستل

"قَالَ اللهُ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې "لَا خَيْرَ فِي كَثِيرٍ مِّن نَّجْوَاهُمْ" د هغوی په ډېرو خبرو او ډېرو مشورو کې څه خير نشته، "إِلَّا مَنْ أَمَرَ بِصَدَقَةٍ أَوْ مَعْرُوفٍ أَوْ إِصْلَاحٍ بَيْنَ النَّاسِ" مګر دا چې په صدقې يا په نېک کار امر کوي او يا د خلکو ترمنځ سوله کوي. [النساء:۱۱۴]

تشريح: "لا خير في كثير من نجواهم" د شپې له خوا د خلکو په ډېرو مجلسو کې خير نه وي، "نجواهم" ټې خبرې، ځينې علماء فرمايي چې دا لفظ د نجات نه راويستل شوی دی، يعنې هغه خبرې په چې د سرې کاميابي پکې وي، ځينې وايي: تدبير ته ويل کېږي، مطلب دا چې کوم خلک د دنيوي فايدې لپاره تدبيرونه کوي په دې کې خير نشته او کوم تدبيرونه چې د آخرت لپاره وشي، په دې کې خير وي.

"إلامن أمربصدقة" مګر دا چې يو بل ته د خيرات او صدقو ترغيب ورکړي، "أومعروف" معروف هر هغه کار ته ويل کيږي چې د شريعت مطابق وي، ددې په مقابل کې د منکر لفظ دی، هر هغه کار چې په شريعت کې ناخوښ وګڼل شي، مطلب دا چې د نيکۍ حکم کول، په دې کې ټولې نېکۍ شاملې دي چې د هر قسم نېکۍ ترغيب بايد ورکړل شي.

"أو إصلاح بين الناس" يا د خلکو ترمنځ سوله وکړي.

سوال: په امر بالمعروف کې ټولې نېکۍ راغلې، په صدقه کې اصلاح وغيره ټول شامل دي، نو بيا يې ولې دواړه خاتته ذکر کړل؟

جواب: اګر چې دا دواړه شيان په امر بالمعروف کې شامل دي، ليکن په دې سره اجتماعي ژوند سميږي، ددې اجتماعيت لحاظ ساتلو په خاطر يې دواړه خاتته ذکر کړل، بل خواب دا دی چې په صدقه کې جلب منفعت دی، په دې سره خلکو ته فايده رسيږي او په اصلاح بين الناس کې دفع مضرت دی، يعنې خلك د تکليف نه بچ کيږي، ددې وجې يې دواړه مهم بابونه ذکر کړل.

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې: "وَالصُّلْحُ خَيْرٌ" او صلح ډېر ښه کار دی. [النساء:۱۲۸]

تشريح: ددې نه وړاندې دا مضمون تېر شو چې که د خاوند او ميرمنې ترمنځ د زوجيت په حقونو کې کوتاهي راغله، نوکه دوی په خپل منځ کې په مال وغيره سره صلح وکړي نو دا صحيح ده، دا آيت اګر چې د ښځې او خاوند ترمنځ د سولې په باره کې نازل دی، ليکن مفهوم يې عام دی، لهذا د صحيح دعوې نه وروسته په کومه طريقه چې مصلحت وي، هغه ټول په دې کې داخل دي، لکه په يو روايت کې د قانون کلي په توګه ذکر دي: "کل صلح جائزبين المسلمين إلاصلحاأحل حراماأوحرم حلالاًوالمسلمون على شروطهم إلاشرطاً حرم حلالاً" د مسلمانانو ترمينځ هرقسم صلح جائز ده، غير د هغې صلحې څخه چې حرام حلالوي يا حلال حراموي، مسلمانانو ته په خپل مينځ کې منل شوي شرطونو باندې قائم اوسېدل پکار دي، غير د هغه شرط نه چې حلال پرې حراميږي.

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې: "فَاتَّقُوا اللهَ وَأَصْلِحُوا ذَاتَ بَيْنِكُمْ" د الله ﷻ نه ووېرېږئ او په خپلو منځونو کې صلح وکړئ. [الأنفال:۱]

تشريح: د آيت شان نزول د بدر غزا پورې متعلق دی چې کله الله ﷻ مسلمانانو ته فتحه ورپه برخه کړه، نو په دوی کې درې ډلې جوړې شوې، څينې مسلمانان د دښمن پسې شول چې بيرته واپس رانشي، څينې د مال غنيمت په جمع کولو کې مشغول شول او څينې نور د رسول الله ﷺ نه شاوخوا ودرېدل چې هسې نه په رسول الله ﷺ باندې کوم دښمن حمله ونه کړي، درې واړو ډلو دا خبره کول چې مال غنيمت زموږ حق دی، موږ ډېره قرباني ورکړې ده، په دې خبره دا آيت نازل شو او صحابه وو ته وويل شو چې د الله ﷻ نه ووېرېږئ! په خپل منځ کې تعلقات مه قطع کوئ، د خپلو ځانونو اصلاح وکړئ او په خپل منځ کې ښکلي تعلق جوړ کړئ، دا د تقوی تر ټولو لويه ذريعه ده، بيا يې وفرمايل: "وأصلحوا ذات

ښکته" د تقوی په ذريعه خپلو کښصلح وکړئ، هر کله چې تقوی راشي، تولې جګړې به ختمې شي، مولانا رومي رحمه الله فرمايي چې

خود چه جائے جنگ وجدِ نیک وبد کیں الم از صلحها ہم میرسد

يعنې د صحابه کرامو په خپل منځه کې د جنګ کولو سره څه وو، هغوی ته خو د خلکو د اصلاح لپاره هم وخت نه وو، ځکه چې د هغوی زړونه د الله ﷻ په وېره کې مشغول وو، د نورو سره د تعلقاتو جوړولو فرصت د دوی سره چېرته وو؟

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي چې: "إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ" مسلمانان په خپل مينځ کې ورونه دي، د دوی په مينځ کې صلح کوئ. [الحجرات:۱۰]

تشريح: ټول مسلمانان په خپلو کې ورونه دي، که چېرته د دوی ترمنځ کله خفګان راشي، نو صلح يې پکار ده، په يو روايت کې راځي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا زه تاسو ته داسې عمل ونه ښيم چې د صدقې ورکولو، روژې نيولو، لمونځ کولو نه زيات غوره وي؟ صحابه کرامو وفرمايل: يا رسول الله ﷺ ولې نه؟ خامخا يې وښيې! نبي کريم ﷺ وفرمايل: د دوه کسانو ترمنځ صلح وکړئ، دا عمل ددې ټولو نه غوره دی، په بل روايت کې هم دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "فسادذات البين هي الحالقة" په خپل مينځ کې جګړې کول دا خرونکی دی، بيا يې ددې وضاحت وکړو چې دا د انسان سر نه خروي، بلکې د هغه دين خروي، (مطلب دا چې د هلاکت او تباهي ذريعه ده).

هر سهار د بدن په هر بند صدقه واجب ده

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: كُلُّ سُلَامَى مِنَ النَّاسِ عَلَيْهِ صَدَقَةٌ، كُلَّ يَوْمٍ تَطْلُعُ فِيهِ الشَّمْسُ" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هره ورځ چې لمر راخيژي د انسان په هر يو بند باندې صدقه ورکول واجب دي، "تَعْدِلُ بَيْنَ الاثْنَيْنِ صَدَقَةٌ" د دوه کسانو په مينځ کې په عدل سره فيصله کول صدقه ده، "وَتُعِينُ الرَّجُلَ فِي دَابَّتِهِ فَتَحْمِلُهُ عَلَيْهَا" د يو کس مرسته کول د هغه د اس په باره کې چې هغه ته يې وخيژوي (دا هم صدقه ده) "أَوْ تَرْفَعُ لَهُ عَلَيْهَا مَتَاعَهُ صَدَقَةٌ" يا په اسپ باندې سامان ورو خيژوي دا هم صدقه ده، "وَالْكَلِمَةُ الطَّيِّبَةُ صَدَقَةٌ" ښکلې خبره هم صدقه ده، "وَبِكُلِّ خَطْوَةٍ تَمْشِيهَا إِلَى الصَّلَاةِ صَدَقَةٌ" هر قدم چې ته يې د لمانځه په طرف اخلې، دا هم صدقه ده، "وَتُمِيطُ الأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ صَدَقَةٌ" د لارې څخه ضرري او تکليف والا شی لرې کول هم صدقه ده. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

"ومعنى: تَعدِلُ بينهما (تُصْلِحُ بينهما بالعدل) او د "تعدل بينهما" معنی دا ده: چې د هغوی ترمنځ په انصاف سره صلح وکړي.

لغوي تحقيق:

سُلامی: جمع يې "سُلاميات" راځي، ددې معنی ده: د بدن هر بند.

وتميط: "إماطة" ددې معنی ده: ويشتل، إماطة نفسه" خپل نفس يې مړ کړو

د بدن بندونه د الله ﷻ انعام دی

"كل سلامى من الناس عليه صدقة" د انسان په هر بند صدقه واجب ده، الله ﷻ د انسان په بدن کې داسې بندونه پيدا کړي دي چې ددې په ذريعه انسان حرکت کوي، که دا بندونه نه وی، نو بيا مشکله وه چې انسان د ځای نه هم خوځېدلی وی، لهذا دا بندونه د الله ﷻ له طرفه يو انعام دی، ددې انعام په بدل کې شکر ادا کول واجب دي، په بل روايت کې ددې بندونو شمار درې سوه شپېته ښودل شوی دی، ددې تولو نعمتونو په بدل کې د الله ﷻ په نوم صدقه ورکول واجب دي

"تعدل بين الاثنين" د دوه کسانو ترمنځ انصاف سره فيصله کول صدقه ده، په دې حديث کې د داسې صدقې ورکولو ترغيب دی چې انسان پرې نه ستړی کيږي، نه پکې مال خرچ کيږي. په بل حديث کې دي چې: که انسان دا هيڅ هم نه شي کولی، نو دوه رکعته نفل دې وکړي، دا هم د درې شپېتو بندونو انعام په بدل کې د الله ﷻ په نوم باندې صدقه ورکول دي

په درې ځايونو کې دروغ ويل جائز دي

"وعن أم كلثوم بنت عقبة بن أبي معيط رضي الله عنها، قالت: سمعت رسول الله ﷺ يقول: لَيْسَ الكَذَّابُ الَّذِي يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ" د ام کلثوم بنت عقبة بن ابي معيط رضي الله عنها نه روايت دی. فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه سړی دروغجن نه دی چې د خلکو ترمينځ صلح کوي، "فَيَنْمِي خَيْراً" هغه د خير لپاره دروغ ووايي، "أَوْيَقُولُ خَيْراً" يا د خير خبره وکړي، "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ" مثلاً يو کس په دوه جنګ کوونکو کې يو کس ته ووايي چې د فلانکي کس تاته په زړه کې غلا نشته، هغه ستا خير غواړي، ستا صفت کوي، حال دا چې هغه داسې خبره نه وي کړې او نه يې د هغه کوم صفت بيان کړی وي، دويم کس ته ووايي چې ته خو خامخا په هغه بد ګماني کوې، د هغه سره خو ستا زيات فکر دی، هغه خو ستا خير غواړي، نو دا خو ښکاره دروغ دي، مګر داسې سړي ته دروغجن نه شي ويلی او نه د دروغو په ګناه کې راځي.

"وفي رواية مسلم زيادة، قالت: وَلَمْ أَسْمَعْهُ يُرَخِّصُ فِي شَيْءٍ مِمَّا يَقُولُهُ النَّاسُ إِلَّا فِي ثَلَاثٍ" او د مسلم په يو روايت کې ددې اضافه هم شته چې ام کلثوم رضي الله عنها فرمايي: د درې ځايونو نه بغير د بل ځا په باره کې نه دي راغلي: "تَعْنِي: الحَرْبَ، وَالإِصْلَاحَ بَيْنَ النَّاسِ" د جنګ او جهاد په دوران کې او د خلکو په مينځ کې د صلح کولو په وخت کې، "وَحَدِيثَ الرَّجُلِ امْرَأَتَهُ، وَحَدِيثَ المَرْأَةِ زَوْجَهَا" د خاوند خبرې ښځې ته او د ښځې خبرې خاوند ته. يعنې خاوند ښځې ته وايي چې ته خو ډېره ښايسته يې، ستا اخلاق ډېر ښکلي دي او حقيقت دا وي چې هغه بدرنګه وي، اخلاق يې سم نه وي، دغه شان ښځه هم خاوند ته ووايي، که چېرته په دې درې کارونو کې د دروغو ويلو ضرورت پېښ شي، نو سړي په نېکې ارادې سره دروغ ويلی شي، ددې پوښتنه به د هغه ځخه نه کيږي

لغوي تحقيق:

يصلح: "صالح مصالحة" باب مفاعله دی، ددې معنی ده: صلح کول او د باب کرم يکرم او نصر

ينصر څخه هم راځي: ددې معنی ده: سمول.

ينمي: "نمي ينمي" باب ضرب يضرب دی، ددې معنی ده: چغلخوري کول، شیطانت کول.

دروغ ويلو نه مراد څه دي؟

تشريح "ليس الكذاب" هغه سړی دروغجن نه دی، علامه طبري رحمه الله فرمايي: په دې درې ځايونو کې دروغ ويل جائز دي، نور علماء فرمايي چې دروغ ويل په هر حالت کې حرام دي، دلته چې کوم دروغ راغلي دي، ددې څخه توريه اراده شوې ده، يعنې متکلم معنی بعيده مراد کړي او مخاطب ترې معنی قريبه مراد کړي، لکه څرنګه چې رسول الله ﷺ او د هغه ملګری ابوبکر صديق رضي الله عنه مدينې منورې ته هجرت کولو، نو په لاره کې ترې چا پوښتنه وکړه، (هغه کس ابوبکر رضي الله عنه وپيژندلو، رسول الله ﷺ يې نه پيژندلو) پوښتنه يې وکړه چې دا څوک دی؟ ابوبکر صديق رضي الله عنه وفرمايل: دا ماته لار ښيي، ددې نه مراد د جنت لار ده، مخاطب داسې فکر وکړو چې د مدينې منورې لار ښيي، دلته يې مثالونه بيانولی شي.

(۱) **"يصلح بين الناس فينمي خيراً"** هغه چې د خلکو ترمنځ صلح کوي، خلکو ته د خير خبرې بيانوي، مطلب دا چې د دوه کسانو ترمنځ خپنې وخت له ځانه زياتې خبرې وکړي، په دې خاطر چې د دوی ترمنځ صلح وشي، بغض او عناد يې ختم شي؛ نو داسې کول په شريعت کې جائز دي.

(۲) **"الحرب"** د جنګ پر مهال دښمن ته د اصلي خبرې په ځای د بې خبره ساتلو په خاطر غلط بياني ورکول، په دې نيت چې دښمن مې رانه خبر نه شي، بايد غافله پاتې شي او فتح آسانه شي، په داسې ځای کې هم دروغ ويل جائز دي.

(۳) **"وحديث المرأة زوجها"** خاوند خپلې ميرمنې ته خبرې کول، کله چې د کورنې ژوند صحيح کېدو په خاطر ميرمن خپل خاوند ته يا خاوند خپلې ميرمنې ته د ضرورت په خاطر غلط بيان وکړي چې ددې دروغو (توريه) ويلو څخه بغير کورنی ژوند د خرابېدو په خطره کې وي، په داسې وخت کې هم شريعت د ضرورت په اندازه دروغ ويل جائز ګڼلي دي.

د راوي ام کلثوم بنت عقبه رضي الله عنها حالات:

ام کلثوم رضي الله عنها يې کنيت دی، د پلار نوم يې عقبه بن ابي معيط دی، د مور نوم يې اروي بنت کريز ده، پلار يې عقبه د مکې مکرمې په سختو مشرکانو کې شمارل کېدو، د اسلام سره يې سخت نفرت درلود، د صلح حديبيې نه وروسته ام کلثوم په اومه هجري کې مدينې منورې ته هجرت وکړو، ورپسې د هغې ورور راغلو، د سولې په تړون کې چې کومې مادې ليکل شوي وې، په هغې کې دا هم وو چې د قريشو نه څوک تاسو ته راځي، نو هغه به واپس کولی شي، خکه رسول الله ﷺ ته ددې خبرې سخت فکر شو، په دې باندې دا آيت نازل شو، "يا أيها الذين آمنوا إذا جاءكم المؤمنات مهاجرات" مطلب دا چې په دې صلح کې ښځې نه دي داخلې، تر ټولو لومړی نکاح يې د زيد بن حارثه رضي الله عنه سره وشوه، د هغه د وفات وروسته زبير بن عوام رضي الله عنه نکاح کړه، بيا يې د عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه سره نکاح وشوه او په اخر کې يې د

عمرو بن العاص ﷺ سره نكاح وشوه.

مرويات: تقريباً لس حديثونه ترې نقل دي، يو حديث يې په صحيحينو كې دى، ددې نه علاوه نور حديثونه يې په سنن كې دي.

د نبي كريم ﷺ په دروازه د دوه كسانو جنګ

"وعن عائشة رضي اللــه عنها، قَالَتْ: سَمِعَ رسولُ الله ﷺ صَوتَ خُصُومٍ بِالبَابِ عَالِيةً أَصْوَاتُهُمَا" د عائشه ﷺ روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ د خپلې دروازې په وړاندې يوه ورځ د جګړه كوونكو شور واوريد او په زوره زوره يې چغې وهلې، "وَإذَا أَحَدُهُمَا يَسْتَوْضِعُ الآخَرَ وَيَسْتَرْفِقُهُ في شَيءٍ" په هغوى كې يو كس د خپل قرض كمولو وينا كول او د اسانتيا غوښتنه يې كول، "وَهُوَ يَقُولُ: وَاللهِ لاَ أَفْعَلُ" هغه بل ورته ويل: قسم په الله كله به هم داسې ونه كړم، "فَخَرَجَ عَلَيْهِمَا رسولُ اللهِ ﷺ، فَقَالَ: أَيْنَ المُتَأَلِّي عَلَى اللهِ لاَ يَفْعَلُ المَعْرُوفَ؟" په دغه حالت كې په دواړو باندې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راووتلو او وې فرمايل: كوم دى هغه كس چې د الله ﷻ په ذات يې قسم وخوړلو؟ "فَقَالَ: أَنَا يَا رسولَ اللهِ" هغه كس چې قرض يې غوښتلو، وې ويل: يا رسول الله ﷺ! زه يم، "فَلَهُ أَيُّ ذلِكَ أَحَبَّ" او دا زما ورور چې څه ويل غواړي، زه يې منلو ته تيار يم. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ

معنى ((يَسْتَوضِعُهُ)): يَسْأَلُهُ أنْ يَضَعَ عَنْهُ بَعضَ دَيْنِهِ د يستوضعه معنى ده چې قرض لږشان كم كړي زياتې پيسې دې نه غواړي. ((وَيَسْتَرْفِقُهُ)): يَسْأَلُهُ الرِّفْقَ، او د يسترفقه معنى ده چې لږ شان نرمي وكړي. ((وَالمُتَأَلِّي)): الحَالِفُ، او د متالي معنى ده: قسم خوړونكې.

لغوي تحقيق:

يستوضع: "استوضع استيضاعاً" باب استفعال دى، ددې معنى ده: لږ څه كمول، مهلت غوښتل، په قرض كې نرمي كول.

يسترفقه: "إسترفق إسترفاقاً" باب استفعال دى، ددې معنى ده: نرمي كول.

المتالي: "تالي يتالي" باب تفعل دى او "آلى إيلاءً" باب افعال دى، ددې معنى ده: قسم خوړل.

تشريح: "يسترفقه في شئ" هغه د نرمي مطالبه كول، علماء فرمايي چې كه تنګ دسته او مقروض سړى د نرمي مطالبه وكړي؛ نو په هغه نرمي پكار ده، دغه مضمون په قرآن كريم كې هم شته، "وإن كان ذو عسرة فنظرة إلى ميسرة وأن تصدقوا خير الكم" كه مقروض سړى تنګ دسته وي، بايد د هغه سره تر طاقته پورې اساني وشي، بايد مهلت وركړل شي، كه تاسو ورته بيخي معافي وكړئ او خپل مال د الله ﷻ په لار كې صدقه كړئ، نو دا به ستاسو لپاره غوره وي، فقهاوو ليكلي چې بالكل معاف كول مستحب دي او مهلت وركول واجب دي.

"أين المتعالي على الله لايفعل المعروف" چېرته دى هغه كس چې قسم يې وكړو چې زه به ښه كار ونه كړم. په اول ځل هغه سړي د غوسې په حالت كې قسم وكړو چې زه به تا ته مهلت درنه كړم، بيا وروسته د رسول الله ﷺ په واسطه هغه سړي خپله اراده پرېښوده او هغه ته يې مهلت وركړو.

څه چې مقروض خوښ کړي، هغه به زه خوښوم:

"أي ذالك أحب" څه چې قرضدار غواړي، هغه زما هم خوښ دي، که هغه مهلت غواړي، زه به مهلت ورکړم او که کمی غواړي؛ نو زه ورته پکې کموالی وکړم، په بل روايت کې دي: "إن شئت وضعت ما نقصوا وإن شئت من رأس المال فوضع ما نقصوا" معلومه شوه چې جګړه کوونکي خلك به په خپل حال نه پرېښودل کيږي، بلکې د دوی ترمنځ به صلحه کيږي، دلته رسول الله ﷺ د دوی ترمينځ صلحه وکړه

مقتديان به د امام خبرولو لپاره سبحان الله وايي

"وعن أبي العباس سهل بن سعد الساعدي ﷺ: أنّ رسول الله ﷺ بلغه أنّ بني عمرو بن عوف كان بينهم شرّ" د ابو العباس سهل بن سعد ساعدي ﷺ څخه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ ته چا خبر راوړو چې د بني عوف په قوم کې جنګ شوی دی، "فخرج رسول الله ﷺ يصلح بينهم في أناس معه" نبي اکرم ﷺ دوی ته روان شو چې صلح وکړي، د نبي اکرم ﷺ سره څه صحابه کرام ﷺ هم وو، "فحبس رسول الله ﷺ وحانت الصلاة، فجاء بلال إلى أبي بكر رضي الله عنهما" رسول الله ﷺ د دوی په صلح کې ايسار شو او دلته د لمانځه وخت رانژدې شو، بلال ﷺ ابوبکر ﷺ ته راغلو، "فقال: يا أبا بكر، إنّ رسول الله ﷺ قد حبس وحانت الصلاة فهل لك أن تؤم الناس؟" ورته يې وفرمايل: اې ابوبکر ﷺ! بې شکه رسول الله ﷺ په صلح کې ايسار شو او دلته د لمانځه وخت نژدې شوی دی، ايا تاسو موږ ته جمع راکولی شئ؟ "قال: نعم، إن شئت، فأقام بلال الصلاة" ابوبکر ﷺ وفرمايل: هو! که ستاسو خوښه وي، بيا بلال ﷺ اقامت وکړو، "وتقدّم أبو بكر فكبّر وكبّر الناس" ابوبکر صديق ﷺ وړاندې شو او الله اکبر يې وويلو، خلکو هم ورسره الله اکبر وويلو، "وجاء رسول الله ﷺ يمشي في الصفوف حتّى قام في الصّف" په داسې حال کې رسول الله ﷺ تشريف راوړو چې په صفونو کې را روان وو، تردې چې په يو صف کې ودرېدلو "فأخذ الناس في التصفيق" خلکو لاسونه پړقول شروع کړل، "وكان أبو بكر ﷺ لا يلتفت في الصّلاة" ابوبکر صديق ﷺ دوی ته توجه نه کول، "فلمّا أكثر الناس في التصفيق التفت" کله چې خلکو لاسونه پړقول ډېر زيات کړل، نو ابوبکر ﷺ ورته توجه وکړه، "فإذا رسول الله ﷺ، فأشار إليه رسول الله ﷺ فرفع أبو بكر ﷺ يده فحمد الله، ورجع القهقرى وراءه حتّى قام في الصّف" ناڅاپه رسول الله ﷺ ولاړ وو، نو رسول الله ﷺ ورته اشاره وکړه چې په خپل ځای ودرېږه، امامت ادا کړه؛ ليکن ابوبکر ﷺ لاسونه پورته کړل او د الله ﷺ ثناء يې بيان کړه، بيا وروسته په شا باندې راروان شو چې په صف کې ودرېدو، "فتقدّم رسول الله ﷺ، فصلّى للناس" رسول الله ﷺ وړاندې شو او خلکو ته يې جمع ورکړه، "فلمّا فرغ أقبل على الناس، فقال: أيها الناس، ما لكم حين نابكم شيء في الصلاة أخذتم في التصفيق؟" کله چې رسول الله ﷺ د لمانځه نه فارغ شو، نو وې فرمايل: اې خلکو! په تاسو باندې څه شوي دي چې کله په لمانځه کې څه خبره راشي نو تاسو خپل لاسونه پړقوئ؟ "إنّما التصفيق للنساء. من نابه شيء في صلاته فليقل: سبحان الله" لاسونه پړقول خو د ښځو لپاره دي، کله چې په لمانځه کې تاسو ته څه خبره پېښه شي؛ نو بايد سبحان الله ووايئ، "فإنّه لا يسمعه أحد حين يقول: سبحان الله، إلاّ

اَلْتَفَتَ" څکه چې سبحان الله ﷺ څوك هم واوري هغه ورته متوجه کيږي، "يَاأَبَابَكْرٍ: مَامَنَعَكَ أَنْ تُصَلِّيَ بِالنَّاسِ حِيْنَ أَشَرْتُ إِلَيْكَ؟" بيا نبي اكرم ﷺ ابوبکر ﷛ ته وفرمايل: اې ابوبکر ﷛! په تاسو باندې څه شوي چې ما درته اشاره وکړه چې خلکو ته امامت وکړه؟ "فَقَالَ أَبُوبَكْرٍ: مَاكَانَ يَنْبَغِي لِابْنِ أَبِي قُحَافَةَ أَنْ يُصَلِّيَ بِالنَّاسِ بَيْنَ يَدَيْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ" ابوبکر ﷛ وفرمايل: د رسول الله ﷺ په وړاندې ابن ابي قحافه ته جائز نه دي چې خلکو ته جمع ورکړي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

"معنى حُبِسَ: أَمْسَكُوْهُ لِيُضِيْفُوْهُ" د "حبس" معنى ده: بندي شوی، د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مقصد د بندېدلو څخه د تواضع په خاطر وو.

تشريح: "بلغه أن بني عمرو بن عوف كان بينهم شر" نبي کريم ﷺ ته خبر ملاو شو چې د عمرو بن عوف بچيانو ترمينځ جګړه وشوه، د بنو عمرو بن عوف قبيله په مدينه منوره کې د (اوس) قبيلې د پر لوی شاخ وو، د دوی کورونه د قباء جومات سره نژدې وو، په دې ځای کې يو بل روايت دی: "إن أهل قباء اقتتلوا حتى تراموا بالحجارة فأخبر رسول الله ﷺ بذلك فقال: إذهبوا بنا نصلح بينهم" د اهل قباء ترمينځ جنګ وشو، هغوی يو بل په کاڼو وويشتل، نبي کريم ﷺ ته ددې خبر ملاو شو، نو رسول الله ﷺ ووېل: راځئ چې د هغوی ترمينځ صلحه وکړو.

د نبي کريم ﷺ سره څوک ملګري شول؟

"يصلح بينهم في أناس معه" نبي کريم ﷺ د يو څو ملګرو سره د هغوی د صلحې لپاره روان شو، د نبي کريم ﷺ سره په ملګرتيا کې ابي بن کعب، سهل بن بيضاء ﷛ ملګري وو، ددې نه معلومه شوه چې کله هم د مسلمانانو ترمينځ جګړه وشي؛ نو د دوی په مينځ کې سمدستي صلحه کول پکار دي، هسې نه چې جنګ شدت واخلي بيا صلحه مشکله شي

کوم لمونځ وو؟

"حانت الصلوة" د لمانځه وخت شو، د بخاري د روايت څخه معلومېږي چې رسول الله ﷺ د ماسپښين لمانځه نه وروسته تشريف يوړو، په راتلو کې يې تاخير وشو، څکه چې د لمانځه وخت راغلو

د ابوبکر ﷛ امامت:

"فهل لكان تؤم الناس؟" ايا تاسو به خلکو ته جمعه ورکړئ؟ په بل روايت کې دي چې: نبي کريم ﷺ کله روانېدو، نو بلال ﷛ ته يې وفرمايل: "فقال لبلال: إن الصلوة ولم آتك فمر أبابكر فليصل بالناس" نبي کريم ﷺ بلال ﷛ ته وفرمايل: که مونږ لږ وروسته شو او د لمانځه وخت راغلو، نو ابوبکر ﷛ ته ووايه چې هغه خلکو ته جمعه ورکړي.

سوال: کله چې رسول الله ﷺ بلال ﷛ ته وويل: ابوبکر ﷛ ته ووايه چې خلکو ته جمعه ورکړي، نو بيا ولې بلال ﷛ ابوبکر ﷛ ته وويل چې آيا تاسو به خلکو ته جمعه ورکړئ؟

جواب: ددې سوال ځواب محدثينو داسې ورکړې چې: بلال ﷺ غوښتل چې ابوبکر ﷺ به خلکو ته جمعه ورکړي او که نه! د رسول الله ﷺ تشريف راوړو پورې به انتظار وکړي او که خپله به وړاندې شي. "فأقام بلال الصلوة وتقدم ابوبکر" بلال ﷺ اقامت وويلو او ابوبکر ﷺ جمعه ورکړه، د بخاري په روايت کې دي: "فاستفتح أبوبکر الصلوة" ابوبکر صديق ﷺ جمعه شروع کړه چې په دې وخت کې رسول الله ﷺ تشريف راوړو، "فأشاره إليه رسول الله ﷺ" نبي کريم ﷺ ورته اشاره وکړه، د بخاري شريف په روايت کې: "فأشار إليه ان أمکث مکانك" نبي کريم ﷺ ابوبکر ﷺ ته اشاره وکړه چې په خپل ځاى ودريږه! د ابوبکر ﷺ ځومره لويه نيکمرغي ده چې د رسول الله ﷺ په ژوند کې د رسول الله ﷺ په مصلی ولاړ دی او جمعه ورکوي.

"إنما التصفيق للنساء" لاسونه پړقول د ښځو لپاره دي، د سړو لپاره چې امام متوجه کوي سبحان الله ويل پکار دي، لکه څرنګه چې په يو روايت کې دي: "التسبيح للرجال" سبحان الله ويل د سړو لپاره وي. "لابن أبي قحافة" د ابو قحافه زوى لپاره، دا د ابوبکر ﷺ د پلار کنيت وو، اصلي نوم يې عثمان ﷺ وو.

په ټولو صحابه کرامو د ابوبکر ﷺ فضيلت:

ددې حديث نه د ابوبکر ﷺ فضيلت په نورو صحابه کرامو معلوميږي، نبي کريم ﷺ د خپل ځان وروسته هغه په لمانځه کې د ځان خليفه جوړ کړو.

باب فضل ضعفة المسلمين والفقراء والخاملين

دوه دېرشم باب: د غريبانو مسکينانو او کمزورو مسلمانانو فضيلت

"قَالَ اللهُ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ" اې پيغمبره ﷺ! ځان پابند کړه د هغو کسانو سره چې خپل رب سهار او ماښام رابولي، "يُرِيدُونَ وَجْهَهُ وَلَا تَعْدُ عَيْنَاكَ عَنْهُمْ" دوى د الله ﷻ د رضا او خوشحالۍ اراده لري، نو اې پيغمبره! د دوى نه مخ مه اړوه! [الكهف:٢٨]

شان نزول:

تشريح: د مکې رئيس عيينه بن حصن فزاري نبي کريم ﷺ ته وويل ستاسو په مجلس کې سلمان فارسي ﷺ وغيره غريبان او فقير صحابه دي، که تاسو موږ ته جدا مجلس جوړ کړئ؛ نو موږ به هم ستاسو په مجلس کې کېنو، خبرې به مو اورو، الله ﷻ ته دا خبره خوښه نه شوه، الله ﷻ رسول الله ﷺ منع کړو چې تاسو داسې ونه کړئ، ځکه چې په داسې حالت کې به د فقيرانو صحابه وو زړونه مات شي. ددې غريبانو صفتونه دا دي چې هغوى سهار او ماښام خپل رب يادوي، په هغوى کې اخلاص دی، هغوى د الله ﷻ نه سيوا بل څه نه غواړي.

جنتي او جهنمي خلك

"وعن حارثة بن وهب ﷺ، قَالَ: سمعت رَسُول الله ﷺ، يقولُ: "أَلاَ أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ الجَنَّةِ؟ كُلُّ ضَعِيفٍ مُتَضَعِّفٍ" د حارثه بن وهب ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ايا زه تاسو ته داسې کسان ونښيم چې جنتيان دي؟ هر هغه کمزورى انسان چې کمزورى وګڼل شي هغه جنتي دى. "لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللهِ لأَبَرَّهُ" که د الله ﷻ په اعتماد قسم وخوري؛ نو الله ﷻ به يې ضرور قسم پوره کړي. "أَلاَ أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ النَّارِ؟" بيا نبي اکرم ﷺ وفرمايل: ايا زه تاسو ته دوزخيان ونښيم؟ "كُلُّ عُتُلٍّ" هر بد اخلاقه، "جَوَّاظٍ" شوم، "مُسْتَكْبِرٍ" متکبره. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

"العُتُلُّ: الغَلِيظُ الجَافِي" بد ژبانه او بد اخلاقه. "وَالجَوَّاظُ: بفتح الجيم وتشديد الواو وبالظاء المعجمة: وَهُوَ الجَمُوعُ المَنُوعُ" شوم بخيل، "وَقِيلَ: الضَّخْمُ المُخْتَالُ فِي مِشْيَتِهِ" چا ويلي دي چې په غرور سره تلونکی کس، "وَقِيلَ: القَصِيرُ البَطِينُ" چا ويلي چې لنډ قد او غټ خيټې ته وايي.

زيات وخت جنت ته کمزوري خلک داخليږي:

تشريح: "أهل الجنة كل ضعيف" جنتي خلك اکثره هغه دي چې کمزوري به ګڼل کېدل، د جنتي خلکو صفت بيانيږي: دا هغه خلك دي چې په خلکو کې کمزوري وو او په معاشره کې دوی ته هيڅ امتيازي مقام حاصلنه وو، چاپه هيڅ کې نه ګڼل. ليکن د ايمان او تقوی په لحاظ يې اوچت مقام درلود، دا ددې خبرې دليل دی چې که دوی چېرته په الله ﷻ قسم وخوري؛ نو الله ﷻ هغه خبره او کار ورته پوره کوي.

"كل عتل جواظ" د جهنميانو په علاماتو کې دا هم ده چې هغوی به ډېر سرکشه بخيلان او متکبر خلك وي.

د راوي حارثه بن وهب ﷺ حالات:

اصل نوم يې حارثه ﷺ دی، د پلار نوم يې وهب دی، د مور نوم يې ام کلثوم بنت جرول ابن مالك بن المسيب الخزاعي ده، د دوی نه زيات وخت ابو اسحاق السبيعي او معبد بن خالد الجهيني نقل کوي.

مرويات: شپږ مرويات لري، په څلورو کې بخاري رحمه الله او مسلم رحمه الله متفق عليه دي.

غريب د مالدار څخه غوره دی

"وعن أَبي عباس سهل بن سعد الساعِدِيّ ﷺ، قَالَ: مَرَّ رَجُلٌ عَلَى النَّبيّ ﷺ، فَقَالَ لِرَجُلٍ عِنْدَهُ جَالِسٌ: "مَا رَأيُكَ فِي هَذَا؟" د ابو عباس سهل بن سعد ساعدي ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې يو کس د رسول الله ﷺ په خوا کې تېر شو، نو نبي اکرم ﷺ خپل يو ملګري ته (چې ورسره ناست وو) وې فرمايل ددې سړي په باره کې ستا څه رايه ده؟ "فَقَالَ: رَجُلٌ مِنْ أشْرَافِ النَّاسِ، هَذَا وَاللهِ حَرِيٌّ إنْ خَطَبَ أنْ يُنْكَحَ، وَإنْ شَفَعَ أنْ يُشَفَّعَ" هغه کس وويل: داخو زيات عزتمند انسان دی، قسم په الله ددې لائق دی چې که چاته د نکاح پيغام واستوي نو قبلوي به يې او که د چا سفارش وکړي؛ نو سفارش به يې قبول شي، "فَسَكَتَ رَسُولُ الله ﷺ، ثُمَّ مَرَّ رَجُلٌ آخَرُ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ الله ﷺ: مَا رَأيُكَ فِي هَذَا؟" نبي اکرم ﷺ خاموش پاتې شو، بيا لږ وخت وروسته بل سړی تېر شو، نبي اکرم ﷺ

وفرمايل: ددې سړي باره کې ته څه وايې؟ "فَقَالَ: يَارَسُولَ اللّٰهِ، هَذَا رَجُلٌ مِنْ فُقَرَاءِ الْمُسْلِمِينَ، هَذَا حَرِيٌّ إِنْ خَطَبَ أَنْ لَا يُنْكَحَ" هغه کس ووېل: يا رسول الله ﷺ! دا داسې سړی دی چې په مسلمانانو کې زيات غريب دی، ددې خبرې لائق دی چې که چاته د نکاح پيغام واستوي، نو پيغام به يې قبول نه شي، "وَإِنْ شَفَعَ أَنْ لَا يُشَفَّعَ وَإِنْ قَالَ أَنْ لَا يُسْمَعَ لِقَوْلِهِ" که د چا سفارش وکړي؛ نو سفارش به يې قبول نه شي او که خبره کوي، نو خلک ورته غوږ نه نيسي، "فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: هَذَا خَيْرٌ مِنْ مِلْءِ الْأَرْضِ مِثْلَ هَذَا" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: دغه سړی د مخکيني کس څخه د ټولې دنيا په اندازه غوره دی. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

"قوله: حَرِيٌّ: هُوَ بِفَتْحِ الْحَاءِ وَكَسْرِ الرَّاءِ وَتَشْدِيدِ الْيَاءِ: أَيْ حَقِيقٌ" دا قول چې حري په فتح د "ح" سره او په کسرې د (ر) او په شد د (ي) سره دی، معنی يې ده: ډېر لائق، "وقوله: شَفَعَ: بِفَتْحِ الْفَاءِ" دا قول چې شفع په فتح د "ف" سره دی.

لغوي تحقيق:

حرى: الحري جمع يې "حريون او احرياء" راځي، مونث يې "حرية" راځي، ددې معنی ده: لائق او مناسب.

خطب: "خطاباً وخطبةً" ددې معنی ده: کوژده کول.

تشريح "فقال رجل عنده جالس" نبي کريم ﷺ خپل څنګ کې ناست ملګري ته ووېل: اې ابن جبان! دا سړی ابو ذرغفاري رضي الله عنه دی، محدثين فرمايي چې په دې حديث کې د فقيرانو او غريبانانو فضيلت بيانيږي، د غربت له امله يې خلك نه پيژني او نه يې څوك احترام کوي، ليکن داسې کس د هغو ټولو خلکو څخه غوره دی چې ايمان او تقوی پکې نه وي، اګر چې ټوله دنيا ترې ډکه شي.

"حريٌّ إن خطب أن لاينكح" "که د نکاح پيغام واستوي؛ نو پيغام به يې قبول نه شي، په دې جمله کې دې خبرې ته هم اشاره ده چې بايد په نکاح کې داسې خلك منتخب کړی شي چې ايمانداره او تقوی داره وي، اګر چې غريب ولې نه وي.

"هذا خيرمن ملءالارض مثل هذا" دا غريب سړی د اولني سړي نه ډېر غوره دی، که د اول سړي نه ټوله دنيا هم ډکه شي، علامه کرماني رحمه الله فرمايي: نبي کريم ﷺ ته دا خبره د وحی په ذريعه معلومه شوه، بل دا چې ددې حديث نه دا خبره نه لازميږي چې هر فقير دې د امير او مالدار څخه غوره وي، نه! بلکې د فضيلت او غوره والي معيار په تقوی او ايمان سره دی.

جنتيان او جهنميان

"وعن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه عن النبي ﷺ، قَالَ: احْتَجَّتِ الْجَنَّةُ وَالنَّارُ، فَقَالَتِ النَّارُ: فِيَّ الْجَبَّارُونَ وَالْمُتَكَبِّرُونَ" د ابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: جنت او دوزخ په خپل منځ کې جنګ وکړو، دوزخ ووېل: ماته به لوی لوی ظالمان او کبرجن خلك راځي، "وَقَالَتِ الْجَنَّةُ: فِيَّ ضُعَفَاءُ النَّاسِ وَمَسَاكِينُهُمْ" جنت ووېل: ماته به کمزوري او مسکينان خلك راځي، "فَقَضَى اللّٰهُ بَيْنَهُمَا" نو الله جل جلاله د دوی په

مینځ کې فیصله وکړه: "إِنَّكِ الْجَنَّةُ رَحْمَتِي أَرْحَمُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ" جنت ته یې وویل: اې جنته! ته زما رحمت یې؛ ستا په ذریعه به زه په خپلو بندګانو باندې رحم کوم، "وَإِنَّكِ النَّارُ عَذَابِي أُعَذِّبُ بِكِ مَنْ أَشَاءُ" او اې دوزخه! ته زما عذاب دی، ستا په ذریعه به زه خپلو بندګانو ته عذاب ورکوم، "وَلِكِلَيْكُمَا عَلَيَّ مِلْؤُهَا" او ستاسو دواړو د ډکول زما په ذمه دي. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

احتجت: "احتجاجاً" باب افتعال دی، ددې معنی ده: په خپله دعوه دلیل راوړل.

ملؤها: "ملاءملاءًوملاءةوملئة" ددې معنی ده: اوربدل/ډکېدل

"احتجت الجنة والنار" د جنت او جهنم جنګ وشو.

تشريح:

سوال: جنت او جهنم به څنګه جنګ وکړي، حال دا چې دوی خو خبرې هم نه شي کولی؟

جواب: الله ﷻ به دوی ته د خبرو کولو امر وکړي؛ نو دوی به په خپلو کې دا مکالمه وکړي.

د ضعيفانو نه مراد څوک دي؟

"ضعفاء الناس ومساكينهم" په حدیث کې د ضعیفانو نه مراد هغه خلك دي چې کمزوري، ایمانداره او صبر کوونکي وي، په فقیرۍ باندې خوشحاله او قناعت کوونکي وي، هغوی په خپله فقیرۍ ناراضه نه وي، بلکې په خپل تقدیر باندې راضي وي.

ایا متکبر خلك به همېش په جهنم کې وي؟

"الجبارون والمتكبرون" د حدیث په دې جملې سره د متکبر او د الله ﷻ نه باغي خلکو انجام بیانیږي چې دوی به په جهنم کې همېش وي، علماء کرام فرمایي: که چېرته دغه متکبر او سرکښه خلك مؤمنان وي؛ نو د ایمان په برکت به یوه ورځ د جهنم نه بیرته وځي، څکه چې په حدیث کې راځي: "من مات وفي قلبه مثقال ذرة من ايمان دخل الجنة" کوم سړی چې په داسې حال کې مړ شي چې د هغه په زړه کې ذره برابر ایمان وي؛ نو یوه ورځ به جنت ته ضرور داخلیږي، په دې حدیث کې دې خبرې ته ترغیب دی چې باید انسان تکبر ونه کړي، عاجزي اختیار کړي.

د قیامت په ورځ به د ځینو خلکو وزن د ماشي د وزړ په اندازه وي

"وعن أبي هريرة ﷺ، عن رسول الله ﷺ، قال: إِنَّهُ لَيَأْتِي الرَّجُلُ السَّمِينُ الْعَظِيمُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" د ابو هریره ﷺ روایت دی، فرمایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل: د قیامت په ورځ به داسې کس راوستل شي چې ډېر زیات مضبوط او پهلوان به وي، "لَا يَزِنُ عِنْدَ اللهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ" خو د هغه وزن به د الله ﷻ په نزد د ماشي د وزر برابر نه وي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

لايزن: "وزن يزن وزناً" ددې معنى ده: تلل/ وزن کول.

جناح: "الجناح" د مارغه وزر، ليکن دلته يې د انسان لاس، بغل او اطراف مراد کړي دي.

بعوضة: "البعوض" ددې معنى ده: ماشى.

تشريح "ليأتي الرجل السمين العظيم" د قيامت په ورځ به يو غټ مضبوط سړى راوستل شي، په څينو رواياتو کې ددې جملې نه وروسته د قرآن کريم آيت تلاوت هم شته، "ولانقيم لهم يوم القيامة وزناً" د قيامت په ورځ به مونږ دوى ته د ميزان تله قائمه نه کړو، ددې نه معلومه شوه چې د الله ﷻ په نزد د انسان د جسم او بدن چاغ والى او سپين والى وغيره هيڅ اهميت نه لري، د الله ﷻ په نزد قدر او منزلت د هغه کس دى چې ايماني کيفيت، تقوى او اخلاص پکې وي، معلومه شوه چې تقوى او اخلاص هغه اهم شى دى چې ددې په برکت د الله ﷻ په نزد د انسان قدر زياتيږي، چاغښت او پهلواني اعتبار نه لري.

د جومات صفا کولو فضيلت

"وعنه: أنَّ امْرَأَةً سَوْدَاءَ كَانَتْ تَقُمُّ الْمَسْجِدَ، أَوْشَابّاً، فَفَقَدَهَا أَوْفَقَدَهُ رسولُ الله ﷺ، فَسَأَلَ عَنْهَا اوعنه" د ابو هريره ﷺ روايت دى، فرمايي چې يوې تورې ښځې به د جومات خدمت کولو، يا يو ځوان وو چې د جومات خدمت به يې کولو، هغه يوه ورځ ورکه شوه او يا ورك شو، نو نبي اکرم ﷺ د هغې هغه باره کې پوښتنه وکړه (راوي شکي دى چې نارينه وُ او که ښځه وه) "فقالوا: مَاتَ. قَالَ: أَفَلا كُنْتُمْ آذَنْتُمُونِي" نو صحابه وو ورته وويل: يا رسول الله ﷺ! هغه خو مړ شو، نبي اکرم ﷺ وفرمايل: ماته مو ولې د هغه خبر رانکړو، "فَكَأَنَّهُمْ صَغَّرُوا أَمْرَهَا، أَوْأَمْرَهُ" لکه هغه د خلکو په نظر کې معمولي معلومېده، "فَقَالَ: دُلُّونِي عَلَى قَبْرِهِ! فَدَلُّوهُ فَصَلَّى عَلَيْهَا" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: ماته د هغه قبر راوښيئ، د هغه قبر ورته په ګوته کړى شو، نبي اکرم ﷺ ورباندې د جنازې لمونځ وکړو، "ثُمَّ قَالَ: إنَّ هذِهِ الْقُبُورَ مَمْلُوءَةٌ ظُلْمَةً عَلَى أَهْلِهَا، وَإنَّ اللهَ تَعَالَى يُنَوِّرُهَا لَهُمْ بِصَلَاتِي عَلَيْهِمْ" بيا نبي اکرم ﷺ وفرمايل: بې شکه دا قبرونه د تيارو نه ډك دي او بې شکه زما د جنازې د لمانځه په وجه به الله ﷻ د دوى قبرونه د نور څخه ډك کړي. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ

"قوله: تَقُمُّ: هُوَبفتح التاءِوضم القاف: أي تَكْنُسُ، وَالقُمَامَةُ: الكُنَاسَةُ" دا قول چې تقوم معنى يې ده: خادم او د قمامة معنى ده: خادمه، "وَآذَنْتُمُونِي: بِمدالهمزة: أيْ: أَعْلَمْتُمُونِي" معنى ده: خبر راکول.

لغوي تحقيق:

تقم: "قمقما" ددې معنى ده: وچېدل، ليکن دلته يې معنى ده: کور جارو کول، صفا ګول.

تشريح "أوشاباً" راوي شکي دى چې هغه کس نر وُ او که ښځه وه چې جومات به يې صفا کولو، ليکن په بل روايت کې "امراة سوداء" توره ښځه بې شکه راغلې ده او په څينو روايتونو کې د دغې تورې ښځې نوم ام محجن راغلى دى، "قالوامات من الليل فکرهنا أن نوقظك" صحابه وو وويل: هغه د شپې مړه شوې

وه، ځکه مونږ تاسو له خوبه ويښ نه کړئ، علماء فرمايي: که په دې حديث کې يو طرفته د جومات صفا کولو فضيلت بيان شوی دی، بل طرفته د نبي کريم ﷺ عاجزۍ ته پکې اشاره ده، ځکه چې بيا خپله رسول الله ﷺ د هغې قبر ته تشريف يوړو، ځينې نور علماء فرمايي چې د اولياء الله په جنازه کې شرکت کولو سره مړي ته هم فايده رسيږي.

ځينې خلک چې په الله ﷻ قسم وخوري، الله ﷻ يې پوره کوي

"وعنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ: رُبَّ أَشْعَثَ أَغْبَرَ مَدْفُوعٍ بِالأَبْوَابِ" د ابو هريره ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ډېر خله بېر سرې او خړ پړ خلك چې په دروازو باندې ورته ديکې ورکول کيږي، "لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللهِ لأَبَرَّهُ" داسې دي چې که دوی د الله ﷻ په اعتماد باندې قسم وخوري؛ نو الله ﷻ به يې ضرور قسم پوره کړي. رواه مسلم

لغوي تحقيق:

أشعث: "شعث شعثاً" ددې معنی ده: بد حال، بېر وېښتان، په مخ ګردونه پرېوتل.

په دې حديث کې د فقير نه مراد څوک دی؟

تشريح: "مدفوع بالأبواب" خلك يې د دروازې نه ديکه کوي، محدثين فرمايي چې ددې نه دنيوي فقير مراد نه دی چې د خلکو په دروازو کې سوالونه کوي، بلکې ددې نه مراد اولياء الله دي چې د دوی ظاهري کيفيت د دنيا د خلکو په شان نه وي، که هغه د چا په دروازه ودريږي؛ نو خلك يې ديکه کوي، کور ته يې داخلېدو ته نه پرېږدي، ځينو عالمانو ددې وجه داسې بيان کړې ده چې ددې اولياء الله اکرام او عزاز شروع شي، دوی به په دنيا کې هم مشغول شي، ځکه چې الله ﷻ دا نه خوښوي چې د دوی زړونه دې د الله ﷻ د ذکر او فکر څخه غافل شي، لکه څرنګه چې يو شاعر ويلي دي چې:

فأكرم بأهل الذين كانوا بمكة .... أشد الورى زهدا وأكرمهم فقرا

د قسم خوړلو نه مراد څه دی؟

"لو أقسم على الله لأبره" که په الله ﷻ قسم وخوري؛ نو الله ﷻ يې ورته پوره کوي، علامه نووي رحمه الله فرمايي: ددې نه مراد دعا ده چې الله ﷻ يې پوره کوي، يا دا مطلب دی چې که هغوی ووايي: دا کار به که خير وي وشي، نو الله ﷻ به ورته ددې خبرې خيال ساتي، هغه کار به ورته همغسې پوره کوي.

فقيران به د اميرانو نه مخکې جنت ته داخليږي

"وعن أسامة ﷺ، عن النبيّ ﷺ، قَالَ: قُمْتُ عَلَى بَابِ الْجَنَّةِ، فَإِذَا عَامَّةُ مَنْ دَخَلَهَا الْمَسَاكِينُ" د اسامه ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د جنت په دروازه باندې زه ودرېدم، ناڅاپه مې وليدل مسکينان او غريبان خلك ډېر زيات جنت ته داخلېدل، "وَأَصْحَابُ الْجَدِّ مَحْبُوسُونَ" او مالداره خلك ايسار وو، "غَيْرَ أَنَّ أَصْحَابَ النَّارِ قَدْ أُمِرَ بِهِمْ إِلَى النَّارِ" ليکن دو مره خبره ده چې کوم خلك جهنميان وو، دوی ته جهنم ته د تلو

حکم شوی وو، "وَقُمْتُ عَلَى بَابِ النَّارِ فَإِذَا عَامَّةُ مَنْ دَخَلَهَا النِّسَاءُ" او زه د جهنم په دروازه ودرېدلم چې ناڅاپه مې وليدل چې ډېرې زياتې ښځې جهنم ته داخلېدلې. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ

"وَالْجَدُّ: بفتح الجيم: الحَظُّ وَالغِنَى" "الجد" په فتح د "جيم" سره دی، معنی يې ده: مالداره، "وقوله: مَحْبُوسُونَ أَيْ: لَمْ يُؤْذَنْ لَهُمْ بَعْدُ فِي دُخُولِ الْجَنَّةِ" دا قول چې "محبوسون" ددې معنی ده: تر اوسه دوی ته د جنت داخلېدلو اجازت نه وو شوی.

لغوي تحقيق: الجد: ددې معنی ده: دولت، رزق، بزرگي، خوش بختي.

نبي کريم ﷺ کله د جنت په دروازه ودرېدلو؟

"قمت على باب الجنة" زه د جنت په دروازه ودرېدلم، ځينې علماء فرمايي: د معراج په شپه ددې واقعې مشاهده شوې وه، د ځينو په نزد د خوب واقعه ده، ځکه چې د انبياء عَلَيهِمُ السَّلَامُ خوب هم وحي وي، دا دواړه خبرې (وحي يا خوب) يقيني دي، ځکه رسول الله ﷺ دا مسئله د ماضي په صيغې سره ذکر کړه.

مالداران به کله جنت ته داخلېږي؟

"وأصحاب الجد محبوسون" مالداره خلك به راګېر وي، مالداره خلك به د دوی د مالونو په حساب کتاب کې راګېر وي، علماء فرمايي: حساب کتاب خو به د حلال مال وي، د حرام خور ځای خو سيده جهنم دی، د فقيرانو سره خو مال دولت نه وي، ځکه چې هغوی به د حساب کتاب نه بچ وي، په اول ځل به جنت ته داخل شي، دغه شان په بل روايت کې هم دي چې فقيران به د اميرانو څخه پنځه سوه کاله وړاندې جنت ته داخلېږي.

ښځې به زياتې دوزخ ته داخلېږي:

"فإذا عامة من دخلها النساء" جهنم ته به اکثره ښځې داخلېږي، ددې علت په يو بل حديث کې ذکر شوی دی چې: "بكفرانهن العشير" د خپل خاوند ناشکری کوي.

د جريج رَحِمَهُ الله واقعه

"وعن أبي هريرة رضي الله عنه، عن النبي ﷺ، قَالَ: لَمْ يَتَكَلَّمْ فِي الْمَهْدِ إِلَّا ثَلَاثَةٌ" د ابو هريره رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: درې کسانو په زانګو کې خبرې کړې دي: "عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ وَصَاحِبُ جُرَيْجٍ" يو عيسى عَلَيهِ السَّلَامُ دی چې د مريم عليها السلام زوی دی او بل د جريج ملګری، "وَكَانَ جُرَيْجٌ رَجُلًا عَابِدًا، فَاتَّخَذَ صَوْمَعَةً فَكَانَ فِيهَا" جريج يو عبادت ګزار سړی وو، هغه ځانته يوه کوټه (جونګړه) جوړه کړې وه، هغه به پکې وخت تېرولو، "فَأَتَتْهُ أُمُّهُ وَهُوَ يُصَلِّي، فَقَالَتْ: يَا جُرَيْجُ" يوه ورځ ورته مور راغله او آواز يې ورته وکړو چې اې جريج! "فَقَالَ: يَا رَبِّ أُمِّي وَصَلَاتِي فَأَقْبَلَ عَلَى صَلَاتِهِ فَانْصَرَفَتْ" هغه ځان سره په زړه کې وويل: اې الله! يو طرفته مور ده بل طرفته لمونځ دی، څه وکړم؟ خپل لمونځ يې شروع کړو او مور يې کور ته لاړه، "فَلَمَّا كَانَ مِنَ الْغَدِ أَتَتْهُ وَهُوَ

يُصَلِّي، فَقَالَتْ: يَا جُرَيْجُ، فَقَالَ: أَيْ رَبِّ أُمِّي وَصَلَاتِي، فَأَقْبَلَ عَلَى صَلَاتِهِ" کله چې سبا سهار شو، مور يې راغله او ورته يې آواز وکړو چې اې جريج! جريج بيا د خپل ځان سره ووېل: اې الله! يو طرفته لمونځ دی او بل طرفته مور ده، خو خير بيا په خپل لمانځه کې مشغول شو، "فَلَمَّا كَانَ مِنَ الْغَدِ أَتَتْهُ وَهُوَ يُصَلِّي، فَقَالَتْ: يَا جُرَيْجُ، فَقَالَ: أَيْ رَبِّ أُمِّي وَصَلَاتِي، فَأَقْبَلَ عَلَى صَلَاتِهِ" کله چې دريمه ورځ سهار راغلو، نو وې ويل: اې جريج! هغه بيا د ځان سره ووېل: اې الله! يو طرفته مې لمونځ دی او بل طرفته مې مور ده؛ خو دا ځل هم په لمانځه کې مشغول شو، "فَقَالَتْ: اللَّهُمَّ لَا تُمِتْهُ حَتَّى يَنْظُرَ إِلَى وُجُوهِ الْمُومِسَاتِ" د جريج مور جريج ته ښيرا وکړه او وې ويل: اې الله! ته خو هغه ته تر هغه پورې مرګ مه راولې چې د بد کارو ښځو مخ يې نه وي ليدلی، "فَتَذَاكَرَ بَنُو إِسْرَائِيلَ جُرَيْجًا وَعِبَادَتَهُ" په بني اسرائيلو کې دده د عبادت زياته چرچه وه، "وَكَانَتِ امْرَأَةٌ بَغِيٌّ يُتَمَثَّلُ بِحُسْنِهَا" په دې قوم کې يوه ښځه وه چې زياته ښايسته وه، خلکو به د هغې د حسن مثالونه پېش کول، "فَقَالَتْ: إِنْ شِئْتُمْ لَأَفْتِنَنَّهُ فَتَعَرَّضَتْ لَهُ، فَلَمْ يَلْتَفِتْ إِلَيْهَا" هغې ووېل: که تاسو غواړئ نو زه به يې امتحان واخلم، يوه ورځ ورته مخې ته راغله، هغه ورته هيڅ نظر ونه کړو، "فَأَتَتْ رَاعِيًا كَانَ يَأْوِي إِلَى صَوْمَعَتِهِ" د جريج عبادت خانې سره يو شپونکی اوسېدو، دغه ښځه دغه شپونکي ته راغله، "فَأَمْكَنَتْهُ مِنْ نَفْسِهَا فَوَقَعَ عَلَيْهَا" دغې بد کارې ښځې هغه شپونکي ته په ځان موقع ورکړه، نو هغه پرې ځان واچولو (يعنې زنا يې ورسره وکړه)، "فَحَمَلَتْ، فَلَمَّا وَلَدَتْ قَالَتْ: هُوَ مِنْ جُرَيْجٍ" د دغه شپونکي څخه د هغې ښځې په خېټه ماشوم وشو، کله چې ماشوم پيدا شو، نو هغې ښځې ووېل: دا د جريج ماشوم دی، "فَأَتَوْهُ فَاسْتَنْزَلُوهُ وَهَدَمُوا صَوْمَعَتَهُ، وَجَعَلُوا يَضْرِبُونَهُ، فَقَالَ: مَا شَأْنُكُمْ؟" سمدستي خلکو د جريج عبادت خانه ورانه کړه او جريج يې په وهلو وهلو ترې وويستلو، جريج ورته ووېل: دا ولې؟ "قَالُوا: زَنَيْتَ بِهَذِهِ الْبَغِيِّ فَوَلَدَتْ مِنْكَ، قَالَ: أَيْنَ الصَّبِيُّ؟" هغوی ورته ووېل: تا ددغې زناکارې ښځې سره زنا کړې ده او دغه ماشوم ستا څخه پيدا شوی دی، هغه ووېل: ماشوم کوم دی؟ "فَجَاءُوا بِهِ فَقَالَ: دَعُونِي حَتَّى أُصَلِّيَ، فَصَلَّى فَلَمَّا انْصَرَفَ أَتَى الصَّبِيَّ فَطَعَنَ فِي بَطْنِهِ" هغه ماشوم دوی ورته راوړو، جريج ورته ووېل: ما پرېږدئ چې زه لمونځ وکړم، هغه چې کله لمونځ وکړو، نو ماشوم ته راغلو او په خېټه يې سوك ورکړو، "وَقَالَ: يَا غُلَامُ مَنْ أَبُوكَ؟ قَالَ: فُلَانٌ الرَّاعِي" جريج ورته ووېل: اې ماشومه! ستا پلار څوك دی؟ هغه ورته ووېل: فلانی شپونکی زما پلار دی چې ګډې څروي، "فَأَقْبَلُوا عَلَى جُرَيْجٍ يُقَبِّلُونَهُ وَيَتَمَسَّحُونَ بِهِ" هغوی جريج ته رامخ کړل د هغه مخ يې مچو کول شروع کړه او هغه به يې مسح کولو، "وَقَالُوا: نَبْنِي لَكَ صَوْمَعَتَكَ مِنْ ذَهَبٍ، قَالَ: لَا، أَعِيدُوهَا مِنْ طِينٍ كَمَا كَانَتْ، فَفَعَلُوا" هغوی ورته ووېل: موږ به ستا جونګړه د سرو زرو نه جوړه کړو، هغه ورته ووېل: نه! ما ته خپله عبادت خانه د خټو څخه جوړه کړئ! هغوی ورته عبادت خانه جوړه کړه، "وَبَيْنَا صَبِيٌّ يَرْضَعُ مِنْ أُمِّهِ فَمَرَّ رَجُلٌ رَاكِبٌ عَلَى دَابَّةٍ فَارِهَةٍ وَشَارَةٍ حَسَنَةٍ" په داسې حال کې چې يوه ورځ مور دغه ماشوم ته شيدې ورکولې چې ناڅاپه يو کس په تېز اس باندې ناست ښايسته جامې يې اغوستې او تېر شو، "فَقَالَتْ أُمُّهُ: اللَّهُمَّ اجْعَلِ ابْنِي مِثْلَ هَذَا، فَتَرَكَ الثَّدْيَ وَأَقْبَلَ إِلَيْهِ فَنَظَرَ إِلَيْهِ" نو مور يې ووېل: اې الله! زما بچی دغه شان جوړ کړې، ماشوم تی پرېښود او هغه طرفته يې نظر وکړو، "فَقَالَ: اللَّهُمَّ لَا تَجْعَلْنِي مِثْلَهُ، ثُمَّ

أَقْبَلَ عَلَى ثَدْيِهِ فَجَعَلَ يَرْتَضِعُ" هغه ماشوم ووېل: اې الله! ما داسې مه جوړوې، بيا يې تی ونيولو. "فَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى رَسُولِ اللهِ ﷺ وَهُوَ يَحْكِي ارْتِضَاعَهُ بِإِصْبَعِهِ السَّبَّابَةِ فِي فِيهِ، فَجَعَلَ يَمُصُّهَا" راوي وايي: د رسول الله ﷺ دغه حالت زما په سترګو کې دی چې خپله ګوته مبارکه يې خوله کې ايښې وه او د ماشوم د شيدو رودلو نقشه يې ښودل، "قَالَ: وَمَرُّوا بِجَارِيَةٍ وَهُمْ يَضْرِبُونَهَا، وَيَقُولُونَ: زَنَيْتِ سَرَقْتِ، وَهِيَ تَقُولُ: حَسْبِيَ اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ" بيا نبي اکرم ﷺ وفرمايل: څه وخت پس هلته څه خلکو يوه وينزه په وهلو وهلو راوستل. هغې ته يې ويل: تا زنا کړې ده او غلا دې کړې ده. مګر هغې به په ځواب کې ويل: "حسبي الله ونعم الوکيل" زما لپاره الله تعالى کافي دی او هغه غوره کارساز دی، "فَقَالَتْ أُمُّهُ: اللَّهُمَّ لَا تَجْعَلِ ابْنِي مِثْلَهَا، فَتَرَكَ الرَّضَاعَ وَنَظَرَ إِلَيْهَا، فَقَالَ: اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِثْلَهَا" مور يې چې دا حالت وليدلو، نو دعا يې وکړه: چې اې الله! زما ماشوم ددې وينزې په شان مه جوړوې، ماشوم بيا د تي رودلو نه خوله وويستل او هغه وينزې ته يې وکتل او وې ويل: اې الله! ما ددغې وينزې په شان جوړ کړې! "فَهُنَالِكَ تَرَاجَعَا الْحَدِيثَ" اوس ددې نه پس د مور او ماشوم خبرې شروع شوې، "فَقَالَتْ: مَرَّ رَجُلٌ حَسَنُ الْهَيْئَةِ، فَقُلْتُ: اللَّهُمَّ اجْعَلِ ابْنِي مِثْلَهُ، فَقُلْتَ: اللَّهُمَّ لَا تَجْعَلْنِي مِثْلَهُ" نو مور يې ووېل: يو ښايسته ښکلی ځوان تېرېدلو، ما ووېل: اې الله! زما بچی ددې په شان کړې، نو تا دعا وکړه چې اې الله! ما ددغه کس په شان نه کړې، "وَمَرُّوا بِهَذِهِ الْأَمَةِ وَهُمْ يَضْرِبُونَهَا وَيَقُولُونَ: زَنَيْتِ سَرَقْتِ" او دغه شان بله وينزه تېرېدله، هغوی هغه وهل، هغې ته يې ويل چې تا زنا کړې ده او تا غلا کړې ده، "فَقُلْتُ: اللَّهُمَّ لَا تَجْعَلِ ابْنِي مِثْلَهَا، فَقُلْتَ: اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِثْلَهَا؟" نو ما ووېل: اې الله! زما بچی ددغه وينزې په شان نه کړې او تا دعا وکړه چې اې الله! ما ددغې وينزې په شان کړې؟ "قَالَ: إِنَّ ذَلِكَ الرَّجُلَ كَانَ جَبَّارًا، فَقُلْتُ: اللَّهُمَّ لَا تَجْعَلْنِي مِثْلَهُ" بيا دغه ماشوم ووېل: دغه په اس سپور سړی يو ظالم ؤ، نو ځکه مې ووېل: اې الله! ما ددغه سړي په شان نه کړې، "وَإِنَّ هَذِهِ يَقُولُونَ: زَنَيْتِ، وَلَمْ تَزْنِ وَسَرَقْتِ، وَلَمْ تَسْرِقْ، فَقُلْتُ: اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِثْلَهَا" او دغه وينزه چې کومه وه: نو دغې ته به خلکو ويل: زنا دې کړې ده او غلا دې کړې ده، ليکن نه يې زنا کړې وه او نه يې غلا کړې وه، ما ځکه ووېل: اې الله! ما ددغې ښځې په شان کړې. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

"الْمُومِسَاتُ: بِضَمِّ الْمِيمِ الْأُولَى، وَإِسْكَانِ الْوَاوِ وَكَسْرِ الْمِيمِ الثَّانِيَةِ وَبِالسِّينِ الْمُهْمَلَةِ، وَهُنَّ الزَّوَانِي، وَالْمُومِسَةُ: الزَّانِيَةُ" لفظ د مومسات په ضم د "ميم" او په سکون د "واو" سره او په کسرې د "ميم ثاني" سره او په سين مهمله سره زنا کار سړي او زنا کارې ښځې ته وايي، "وَقَوْلُهُ: دَابَّةٌ فَارِهَةٌ: بِالْفَاءِ: أَيْ حَاذِقَةٌ نَفِيسَةٌ" دا قول چې "دابة فارهة" تيزه منډه وهونکې او ښکلې اسپه، "وَالشَّارَةُ: بِالشِّينِ الْمُعْجَمَةِ وَتَخْفِيفِ الرَّاءِ: وَهِيَ الْجَمَالُ الظَّاهِرُ فِي الْهَيْئَةِ وَالْمَلْبَسِ" او لفظ د شارة معنی ده: ظاهري حسن او جمال، "وَمَعْنَى: تَرَاجَعَا الْحَدِيثَ، أَيْ: حَدَّثَتِ الصَّبِيَّ وَحَدَّثَهَا، وَاللهُ أَعْلَمُ" او معنی د "تراجعا الحديث" دا ده چې دوی په خپل مينځ کې خبرې اترې شروع کړې

لغوي تحقيق: المهد: نرمه او پسته ځمکه، ليکن دلته ترې زانګو مراد ده.

صومعته: د راهب جونګړه يا غار چې راهب پکې اوسيږي.

په اصل کې لسو ماشومانو په زانګو کې خبرې کړي:

تشريح: "لم يتكلم في المهد إلا ثلاثة": په زانګو کې درې ماشومانو خبرې کړې دي، دلته د ماشومانو نه مراد د بني اسرائيلو ماشومان دي، کنه نو د دوی څخه بغير نور ماشومان هم شته چې په ماشوموالي کې يې خبرې کړې دي، ددې لسو ماشومانو شمار په دې شعر کې بيان شوی دی

تكلم في المهد كذا — خليل ويحيى وعيسى بن مريم
وشاهد يوسف مبرئ جريج — وطفل لدى النار لما تضرم
وطفل ابن ماشطة قد غدت — لفرعون فيما مضى من امم
وطفل عليه اتوا بالامة — يقولون ترقى ولما تكلم
وكذالك في عهد خير الورى — مبارك يموت به تختم

"وكان في بني إسرائيل رجل يقال له جريج" په بني اسرائيلو کې د جريج په نوم يو کس ؤ، "فقال يارب أمي وصلاتي" مطلب دا چې يو طرفته زما لمونځ دی بل طرفته زما مور راته نعرې وهي، يا الله! زه څه وکړم؟ د بخاري په يو روايت کې دي: "فأبى أن يجيبها" هغه خپلې مور ته د ځواب ورکولو څخه انکار وکړو، علماء فرمايي: که نفلي عبادت دې شروع کړی وي او مور درته آواز وکړي؛ نو بايد چې ځواب ورکړل شي.

"فقال دعوني حتى اصلي" ما پرېږدئ چې لمونځ وکړم! په بل روايت کې دي چې: "فقام وصلى ودعا" جريج پاڅېدو لمونځ يې شروع کړو او دعا يې وکړه، "فلما انصرف أتى الصبي فطعن في بطنه" جريج چې لمونځ ختم کړو، نو ماشوم ته راغلو او هغه يې په خېټه کې چيچ کړو، (سکوندې) چونګارې يې پرې ولګول، په بل روايت کې دي چې: "فطعن بأصبعه" هغه يې په ګوته باندې چيچ کړو، ماشوم خبرې شروع کړې، په دې سره د اولياء الله د کرامت په حقانيت باندې هم استدلال کېدلی شي، الله ﷻ د اولياء الله په لاسونو خرق عادت کارونه صادروي، (د کرامت په باره کې دا عقيده ساتل پکار ده چې کرامت د الله ﷻ فعل وي او د ولي په لاس ظاهرېږي).

باب ملاطفة اليتيم والبنات وسائر الضعفة والمساكين والمنكسرين والإحسان إليهم والشفقة عليهم والتواضع معهم وخفض الجناح لهم

دري دېرشم باب: يتيمانو، جينكو او تمامو مسكينانو سره احسان كول او د هغوى سره د عاجزۍ سلوك پكار دى

"قَالَ اللّٰـــهُ تَعَالَىٰ" الله ﷻ فرمايي: "وَاخْفِضْ جَنَاحَكَ لِلْمُؤْمِنِينَ" د مهرباني او نرمي وزرې مؤمنانو ته ښكته كړه! [الحجر:۸۸]

تشريح: په دې آيت كې خاص نبي كريم ﷺ ته خطاب دى چې تاسو بايد په مسلمانانو باندې شفقت وكړئ، د كفارو او مشركينو هيڅ خيال مه ساتئ، په كومو خلكو كې چې ايمان او تقوى ده، خو مال او دولت ورسره نشته، دا خلك زيات غوره دي د هغو خلكو څخه چې مشركان او كافران دي، مال او دولت ورسره ډېر دى.

"وَقَالَ تَعَالَىٰ" الله ﷻ فرمايي چې "وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ" ځان پابند كړه د هغو كسانو سره چې سهار او ماښام خپل رب رابولي، "يُرِيدُونَ وَجْهَهُ وَلَا تَعْدُ عَيْنَاكَ عَنْهُمْ" دوى د خپل رب د رضا اراده لري او د دوى نه خپلې سترګې مه اړوه!، "تُرِيدُ زِينَةَ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا" چې ته د دنيا د ښايست اراده ولرې. [الكهف:۲۸]

شان نزول

تشريح: د مكې مشر عيينه بن حصن فزاري د نبي كريم ﷺ په خدمت كې حاضر شو، په داسې حال كې چې سلمان فارسي ؓ او څه نور غريبانان صحابه كرام ؓ ورسره ناست وو، عيينه وويل زموږ او ستاسو د ملاقات نه دغه خلك مانع دي، يا خو دا خلك د ځان نه وشړه او يا موږ ته جدا مجلس جوړ كړه چې ستاسو سره ملاقات نه كوو، "واصبر نفسك" نبي كريم ﷺ الله ﷻ منع كړو چې ددې سړي په مشوره عمل ونه كړې، ددې غريبانانو او مسكينانو سره ناسته ولاړه كوه.

د غريبانانو سره د ناستې وجه:

ددې وجه دا بيان شوې ده چې دا خلك سهار او ماښام خپل رب يادوي، دوى ته د الله ﷻ د ذات كريمه نه سېوا بل څه مقصود نه وي، نه په دنيا كې او نه په آخرت كې.

سوال: كه د مشركانو مشوره منل شوې واى، دوى ته خاته مجلس قائم شوى واى، نو ممكنه وه

چې د اسلام خبرې یې اورېدلي وای او اسلام یې قبول کړی وای؟

ځواب دوی ته ځانته مجلس جوړولو کې خاص اعزاز جوړېدو چې په دې سره د غریبو مسلمانانو زړه دردېدلو، الله ﷻ ته دا غریب مسلمانان دومره خوښ وو چې د دوی د زړه دردېدل یې خوښ نه کړل، ددې وجې یې رسول الله ﷺ منع کړو.

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ" بس هر چې يتيم دی، نو په هغه باندې سختي مه کوه؛ "وَأَمَّا السَّائِلَ فَلَا تَنْهَرْ" او سوالګر مه رټه؛ [الضحى:۹-۱۰]

تشريح په دې آيت کې وايي چې هيڅ يتيم او بې وارثه ماشوم دومره کمزوری مه ګڼه چې د هغه په مال باندې حيته واچوې، په داشان به د هغه حق ضايع شي، رسول الله ﷺ د يتيم سره د ښه سلوك او معاملې تاکيد فرمايلی دی.

"وأما السائل فلاتنهر" د نهر معنی ده: رټل، مطلب دا چې که کوم سوالګر درته راشي؛ نو هغه مه رټه، ښه به وي چې سائل ته څه ورکړې او هغه رخصت کړی شي، کنه نو ښه خبره دې ورته وکړې او په مخه ښه دې ورته ووايي، حسن بصري رحمه الله فرمايي: ددې نه مراد طالب علم دی، که هغه د کومې علمي مسئلې په اړه پوښتنه کوي، بايد د هغې حل ورته بيان کړې او په هغه غوسې ونه کړې، دلته دواړه معناګانې مراد کېدی شي.

"وَقَالَ تَعَالَى" الله ﷻ فرمايي: "أَرَأَيْتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّينِ" ايا تا هغه کس ليدلی دی چې زموږ دين ته د دروغو نسبت کوي، "فَذَلِكَ الَّذِي يَدُعُّ الْيَتِيمَ" بس دا هغه کس دی چې يتيمانانو ته ديکې ورکوي، "وَلَا يَحُضُّ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ" او د حاجت مندو لپاره خلکو ته د ورکړې ترغيب نه کوي. [الماعون:۱-۲].

تشريح "يكذب بالدين" د دين نه مراد قيامت دی، دغه سړي به د قيامت ورځې ته د دروغون سبت کولو، دا کس وليد بن مغيره بن عمرو بن مخزومي وو، "يدع اليتيم" يدع معنی ده: په زور او طاقت سره سړي ته ديکه ورکول، مطلب دا چې په يتيم باندې رحم نه کوي، د هغه سره ظلم کوي او د هغه حق خوري، "ولا يحض على طعام المسكين" مطلب دا چې نه به يې خپله مسکينانو ته خوراك ورکولو او نه به يې نورو خلکو ته ددې ترغيب ورکولو، په دې آيت کې سخت زجر دی هغه کس ته چې د مسکين او يتيم د حقونو خيال نه ساتي، خلاصه دا چې کوم کس په الله ﷻ او آخرت باندې ايمان لري، د هغه د شان نه بعيده ده چې هغه دې داسې کارونه وکړي، د مسلمان د شان سره دا کارونه نه ښايي، خدای مه کړه! که د کوم مسلمان د لاسه دا کارونه وشي، هغه د ګناه کبيره مرتکب شو

د مشركانو دا غوښتنه چې موږ ته بايد جدا مجلس جوړ شي

"وعن سعد بن أبي وقاص ﷺ، قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ ﷺ سِتَّةَ نَفَرٍ" د سعد بن ابي وقاص ﷺ روايت دی، فرمايي چې موږ شپږ كسان د رسول الله ﷺ سره ناست وو، "فَقَالَ الْمُشْرِكُونَ لِلنَّبِيِّ ﷺ: اطْرُدْ هَؤُلاءِ لا يَجْتَرِئُونَ عَلَيْنَا" نو مشركانو وويل: دا خلك وشړه، هسې نه چې دوی په موږ باندې زړور شي، "وَكُنْتُ أَنَا وَابْنُ مَسْعُودٍ، وَرَجُلٌ مِنْ هُذَيْلٍ وَبِلالٌ وَرَجُلانِ لَسْتُ أُسَمِّيهِمَا" سعد بن ابي وقاص ﷺ فرمايي: په دې وخت كې زه، عبد الله بن مسعود ﷺ، د هذيل قبيلې يو كس وو او دوه كسان نور وو چې نوم يې زما د ذهن څخه وتلی و، "فَوَقَعَ فِي نَفْسِ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ يَقَعَ فَحَدَّثَ نَفْسَهُ" نو د رسول الله ﷺ په زړه كې هغه خبرې پرهوتولې چې الله ﷻ غوښتلې او هغه د ځان سره سوچ كولو، "فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: وَلا تَطْرُدِ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ" نو الله ﷻ دغه ايتونه رانازل كړل: اې پيغمبره! د ځان نه هغه خلك مه شړه چې خپل رب سهار او ماښام رابولي، د كومو خلكو مقصود چې صرف د الله ﷻ رضا او خوشحالي وي. [الأنعام:٥٢] رواه مسلم.

تفصيلي روايت:

تشريح: "فقال المشركون للنبي ﷺ" دا روايت په ابن ماجه رحمه الله كې په تفصيل سره ذكر دی، خلاصه يې دا ده چې يو ځل د نبي كريم ﷺ مجلس ته اقرع بن حابس او عيينه بن حصن الفزاري په داسې وخت كې حاضر شول چې صهيب ﷺ، بلال ﷺ، عمار ﷺ او د خباب ﷺ په څير غريبانان او مسكينان صحابه كرام ﷺ ناست وو، اقرع بن حابس او عيينه بن حصن دا خبره وكړه چې موږ د مكې په مشرانو كې يو، موږ ته شرم دی چې ددې غريبانانو او مسكينانو سره يو ځای كېنو، موږ غواړو چې تاسو موږ ته جدا وخت راكړئ چې په هغې كې به زموږ سره دغه خلك نه كيني، د نبي كريم ﷺ په زړه كې دا خبره راغله چې ممكنه ده دوی د اسلام متعلق خبره واوري، نو ايمان به راوړي همدا وه چې جبرئيل عليه السلام وحي راوړه: "ولا تطرد الذين يدعون ربهم بالغداة" كله چې دا آيت د مشركانو په وړاندې تلاوت شو او وې فرمايل: "وكذلك فتنا بعضهم ببعض ليقولوا أهولاء من الله عليهم من بيننا أليس الله بأعلم بالشاكرين" او بيا يې وروسته داسې وفرمايل چې: "وإذا جاءك الذين يؤمنون بآياتنا فقل سلام عليكم كتب ربكم على نفسه الرحمة" ددې نه وروسته هغه فقيران صحابه كرام ﷺ راوغوښتل شول، هغوی ﷺ د نبي كريم ﷺ سره كېنستل، بيا نبي كريم ﷺ اراده وكړه چې دوی ته ورشي او دغه فقيران پرېږدي، بيا دا آيت نازل شو چې: "واصبر نفسك مع الذين يدعون ربهم بالغداة والعشي يريدون وجهه" علماء فرمايي چې ددې حديث نه معلومه شوه چې د الله ﷻ په نزد صرف او صرف ايمان او تقوی معتبره ده، اگر چې د دوی سره په دنيا كې هيڅ شی هم نه وي او كوم خلك چې د ايمان په څېر ښكلي جوهر څخه خالي وي، نو داسې خلك كه په دنيوي اعتبار سره هرڅومره قدر او قيمت لري، خو د الله ﷻ په نزد د ماشي د وزر وزن برابر نه دي

د مهاجرينو په خفګان ابوبکر صديق ﷺ ته تنبيه

"وعن أبي هُبَيْرَة عائِذ بن عمرو المزني وَهُوَ مِنْ أَهْل بيعة الرضوان ﷺ: أَنَّ أبا سُفْيَانَ أَتَى عَلَى سَلْمَانَ وَصُهَيْب وَبِلَالٍ فِي نَفَرٍ" د ابو هبيره عائذ بن عمرو المزني چې په بيعت رضوان کې شريک وو، د هغه نه روايت دی، فرمايي چې ابوسفيان په بلال او صهيب او سلمان ﷺ او يو څو نورو کسان هم وو، دوی ته راغلو، "فقالوا: مَا أَخَذَتْ سُيُوفُ اللهِ مِنْ عَدُوِّ اللهِ مَأْخَذَهَا" هغوی ووېل: د الله ﷻ تورو د الله ﷻ د دښمنانو نه خپل حق حاصل نه کړو، "فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ ﷺ: أَتَقُولُونَ هَذَا لِشَيْخِ قُرَيْشٍ وَسَيِّدِهِمْ؟" ابو بکر ﷺ ورته وفرمايل: ايا تاسو داسې خبرې کوئ او هغه هم داسې مشر ته چې د قريشو مشري يې په غاړه ده؟، "فَأَتَى النَّبِيَّ ﷺ، فَأَخْبَرَهُ، فَقَالَ: يَا أَبَا بَكْرٍ، لَعَلَّكَ أَغْضَبْتَهُمْ؟" نو هغه نبي اکرم ﷺ ته راغلو او هغه ته يې توله خبره واورول، نبي اکرم ﷺ ورته وفرمايل هغه کسان به ستا نه خفه شوي نه وي؟ "لَئِنْ كُنْتَ أَغْضَبْتَهُمْ لَقَدْ أَغْضَبْتَ رَبَّكَ" که چېرته تا هغه خفه کړي وي؛ نو بې شکه چې تا الله ﷻ خفه کړو، "فَأَتَاهُمْ فَقَالَ: يَا إِخْوَتَاهُ، أَغْضَبْتُكُمْ؟ قالوا: لَا، يَغْفِرُ اللهُ لَكَ يَا أُخَيَّ" ابو بکر ﷺ هغو کسانو ته راغلو او ورته يې وفرمايل: اې ورونو! تاسو خو به زما په خبره خفه شوي نه وئ؟ هغوی ورته ووېل: نه، الله ﷻ دې ستا بخښنه وکړي. رواه مسلم

"قوله: مَأْخَذَهَا: أَيْ: لَمْ تَسْتَوْفِ حقها مِنْهُ" دا قول چې "ماخذها" ددې معنی ده: پوره حق يې ترې وانخيستلو.

"وقوله: يَا أُخَيَّ: رُوِيَ بِفتحِ الهمزة وكسرِ الخاءِ وتخفيف الياءِ، وَرُوِيَ بضم الهمزة وفتح الخاء وتشديد الياءِ" دا قول چې (يا أخي) دا روايت شوی دی د همزې په فتح او د "خ" په کسرې سره او په تخفيف د (ي) سره او روايت شوي دي په ضم د همزې سره او په فتح د "خ" سره او په تشديد د (ي) سره.

لغوي تحقيق:

أغضبتم: "باب افعال دی، "اغضبه وغاضبه مغاضبة" ددې معنی ده: غوسه کول

سيوف: جمع د "سيف" ده، ددې معنی ده: توره، جمع يې "اسياف او سيوف" راځي

ماخذها: "الماخذ" ددې معنی ده: طريقه، لاره، وخت يا هغه ځای چې څه ترې راوخستل شي، جمع يې ماخذ راځي.

تشريح "والله ما أخذت سيوف الله" د الله ﷻ تورو د الله ﷻ د دښمن نه (ابوسفيان نه) خپل حق وصول نه کړو، د الله ﷻ د تورې نه د مسلمانانو يا د پرښتو تورې مراد دي، "لئن كنت اغضبتهم لقد اغضبت ربك" شايد چې هغوی تاسو ناراضه کړي وي، که هغوی په حقيقت کې ناراضه وي؛ نو تاسو بيا خپل رب ناراضه کړو، ددې په مفهوم کې يو بل حديث قدسي هم دی: "من عادى لي وليا فقد آذنته بالحرب" په دې حديث کې مسلمانانو ته ترغيب ورکول کيږي چې په خپل مينځ کې مينه او محبت وکړئ، په قرآن کريم کې هم

دا حکم دی "والذين امنوا معه أشداء على الكفار رحماء بينهم" بله خبره دا چې که په غير شعوري توګه په ناپوهۍ سره د سري د خولې نه څه غلطه خبره وځي چې په دې سره د يو مسلمان زړه ته درد ورسيږي؛ نو سمدستي معافي غوښتل پکار دي

د يتيم ساتونکی به د رسول الله ﷺ سره په جنت کې وي

"وعن سهل بن سعد ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: أنا وكافل اليتيم في الجنة هكذا" د سهل بن سعد ﷺ نه روايت دی هغه فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زه او د يتيم کفالت کوونکی به په جنت کې داسې سره نژدې يو، "وأشار بالسبابة والوسطى، وفرج بينهما" او نبي اکرم ﷺ په خپلو دواړو ګوتو يعنې مسواکۍ او بله مېنځنۍ ګوته، او ددې دواړو په مينځ کې يې لږ شان خلاصوالی راوستلو. رواه البخاري

"وكافل اليتيم: القائم بأموره" د يتيم کفالت کوونکی

تشريح: "أنا وكافل اليتيم" زه او د يتيم پالونکی به په جنت کې سره يو ځای يو، په بل روايت کې دي چې "كافل اليتيم له أو لغيره" هغه يتيم که په نژدې خپلوانو کې وي او که په پردو کې وي، په دواړو حالاتو کې دا فضيلت ښودل شوی دی، "أشار بالسبابة والوسطى" نبي کريم ﷺ د شهادت او مينځنۍ ګوتې سره اشاره وکړه، په دې کې اشاره ده چې په جنت کې به سره نژدې وي، دومره نژدې لکه څومره چې ددې دوه ګوتو ترمنځ فاصله ده، ځينې محدثين فرمايي: په دې حديث کې اشاره ده دې خبرې ته چې سخي سړی الله ﷻ ته ډېر نژدې دی.

د يتيم د پالونکي فضيلت

"وعن أبي هريرة ﷺ، قال: قال رسول الله ﷺ: كافل اليتيم له أو لغيره" د ابو هريره ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د يتيم کفالت کوونکی برابره خبره ده که د هغه نژدې خاندان والا يتيم وي او که پردی وي، "أنا وهو كهاتين في الجنة" داسې کس او زه به په جنت کې سره يو ځای يو، "وأشار الراوي وهو مالك بن أنس بالسبابة والوسطى" او روايت کوونکي مالک بن انس رضي الله عنه اشاره وکړه: په سبابه يعنې مسواکۍ او مينځنۍ ګوته. رواه مسلم

"وقوله ﷺ: اليتيم له أو لغيره، معناه: قريبه، أو الأجنبي منه" دا قول چې "اليتيم له أو لغيره" معنی دا ده چې يتيم که نژدې وي، د هغه په خپلوانو کې وي او که ترې لرې وي، يعنې پردی ماشوم وي، "فالقريب مثل أن تكفله أمه أو جده أو أخوه أو غيرهم من قرابته، والله أعلم" نژدې کفالت کوونکي څخه مراد د يتيم مور ده، يا نيکه دی يا ورور دی او يا نور داسې خپلوان دي چې يتيم ته نژدې وي، په خپلوی کې نور الله ﷻ ښه پوهيږي

تشريح په حديث کې ټولو مسلمانانو ته ددې خبرې ترغيب ورکول کيږي چې که پردی يتيم هم

وي، بيا هم د هغه داسې ساتنه کوه لکه خپل يتيم چې دي وي، په دې طريقه به په معاشره کې داسې يتيم پاتې نه شي چې د هغه کفالت کوونکى نه وي، په دې وجه رسول الله ﷺ تر ټولو غوره او بهترين کور هغه ښودلى چې يتيم پکې وي او د هغه يتيم سره ښه سلوک کيږي، د دې بالمقابل تر ټولو بد ترين او خراب کور هغه دى چې په کور کې يې يتيم وي او د هغه خبر ګيري نه کيږي او نه ورسره ښه سلوک کيږي، دغه شان د يو بل حديث مفهوم دى: کوم کس چې په خپل کور کې يتيم وساتي او د هغه سره ښه سلوک وکړي، ښه خوراك او لباس ورکړي؛ نو الله ﷻ به يې خامخا جنت ته داخل کړي، په دې شرط چې هغه څه ګناه کبيره نه وي کړې، کومه چې ورته نه معاف کيږي.

مسکين څوك دى؟

"وعنه، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ: لَيْسَ الْمِسْكِينُ الَّذِي تَرُدُّهُ التَّمْرَةُ وَالتَّمْرَتَانِ، وَلَا اللُّقْمَةُ وَاللُّقْمَتَانِ" د ابو هريره ﷺ روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: هغه سړى مسکين نه دى چې په يوه خورما يا دوه خورما يا په يوه مړۍ يا په دوه مړيو سره واپس کړى شي، "إِنَّمَا الْمِسْكِينُ الَّذِي يَتَعَفَّفُ" بلکې په حقيقت کې مسکين سړى هغه دى چې د لوږې او غريبۍ باوجود هم د سوال نه ځان ساتي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

"وفي رواية في الصحيحين: لَيْسَ الْمِسْكِينُ الَّذِي يَطُوفُ عَلَى النَّاسِ تَرُدُّهُ اللُّقْمَةُ وَاللُّقْمَتَانِ، وَالتَّمْرَةُ وَالتَّمْرَتَانِ" او د صحيحينو په روايت کې دي: هغه کس مسکين نه دى چې سوال ته يې لاس نيولى وي او په خلکو باندې ګرځي چې هغه يوه مړۍ يا دوه مړۍ يا يوه خورما يا دوه خورما واپس کړي، "وَلَكِنَّ الْمِسْكِينَ الَّذِي لَا يَجِدُ غِنًى يُغْنِيهِ" بلکې په حقيقت کې مسکين سړى هغه دى چې د هغه سره د مالداره کېدو باوجود کوم شى نه وي، "وَلَا يُفْطَنُ بِهِ فَيُتَصَدَّقَ عَلَيْهِ، وَلَا يَقُومُ فَيَسْأَلَ النَّاسَ" او نه يې چاته د غريبۍ پته وي او نه د سوال لپاره لاس نيسي چې ګرځي او راګرځي.

لغوي تحقيق:

يتعفف: باب تفعل دى، د دې معنى ده: پاکي، د زنانه وو پاك اوسېدل

يفطن: "فطن وفطناً" د دې معنى ده: پوهېدل، ځان خبرول

تشريح: په حديث کې د دې خبرې ترغيب دى چې ځينې مسکينان کور په کور ګرځي، خيراتونه راټولوي او خپل ضرورت پوره کوي، د دې بالمقابل ځينې مسکينان داسې هم وي چې د دوى ظاهري حالت داسې نه وي چې خلك پرې ګومان وکړي چې دا سړى مسکين دى، هغه ته بايد څه ورکړي، په دې حديث کې ترغيب دى چې په حقيقت کې مسکينان هم دغه کسان دي، دوى ته بايد څه ورکړى شي.

د مسکين تعريف:

ځيني خلك وايي مسكين هغه چاته ويل كيږي چې د چاسره هيڅ نه وي، په استدلال كې د قرآن كريم دا آيت تلاوت كوي، "أومسكيناًذامترية" او يا هغه مسكين چې په خاورو خړ پړ وي، ځيني نور علماء فرمايي چې مسكين هغه چاته ويل كيږي چې د هغه سره دومره څه وي ليكن په دې يې ضرورت نه پوره كيږي او په استدلال كې دا آيت تلاوت كوي، "فأما السفينة فكانت لمساكين" يو څو مسكينان ددې كشتى مالكان وو، د كشتى په اندازه ملكيت مالكانو ته الله ﷻ مسكينان وويل.

په کونډه ښځه د خرچ فضيلت

"وعنه، عن النَّبيِّ ﷺ، قَالَ: السَّاعِي عَلَى الأَرْمَلَةِ وَالمِسْكِينِ" د ابو هريره ؓ نه روايت دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د مسكينانو، غريبانو او كونډو د خير خبر اخيستونكى، "كَالمُجَاهِدِ فِي سَبِيلِ اللهِ" هغه د الله تعالى په لار كې د مجاهد په شان دى، "وَأَحْسَبُهُ قَالَ: وَكَالقَائِمِ الَّذِي لاَ يَفْتُرُ، وَكَالصَّائِمِ الَّذِي لاَ يُفْطِرُ" او راوي فرمايي: زه ګومان كوم چې رسول الله ﷺ وفرمايل: د هغه مثال د ولاړ عبادت ګزار په شان دى چې نه خوځيږي او نه په عبادت كې سستي كوي او لكه روژه دار چې هغه بالكل روژه نه ماتوي. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ

لغوي تحقيق: يفتر: "فتوراً وفتاراً" ددې معنى ده: د تيزى نه وروسته كلاريدل، د سختى نه وروسته نرميدل، په عمل كې كوتاهي كول.

الأرملة: محتاج او كمزوري خلك، "رملت المرءة من زوجها" ښځه كونډه شوه.

تشريح: "الأرملة" هغه ښځه چې خاوند يې نه وي، كه هغه طلاقه شوې وي او يا يې خاوند مړ شوى وي، په داسې ښځه باندې خرچه كول د فقير او مسكين نه زيات اجر لري.

احسبه: زما هم دا ګومان دى.

شك د چا له طرفه دى؟

د ځينو علماوو رايه دا ده چې دا جمله د عبد الله بن مسلمه قعنبي رحمه الله نه صادره ده، كوم چې د امام بخاري رحمه الله او امام مسلم رحمه الله استاذ دى چې د امام مالك رحمه الله نه روايت كوي، د راوي دى، د ځينو نورو محدثينو رايه دا ده چې: دا شك او ګومان خپله د ابوهريره ؓ له طرفه دى، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: "كالمجاهد في سبيل الله" او كه: "كالقائم الذى لايفتر" دا يې وفرمايل. "كالقائم الذى لايفتر" كوم چې تول شپه عبادت كوي او هيڅ سستي نه كوي، په بل روايت كې دي:

"كالقائم لاينام" هغه د شپې قيام کونکي په شان دی چې د شپې بيخې نه ويده کيږي، "كالصائم الذی لايفطر" او يا د داسې روژه نيونکي په شان وي چې بالکل يې نه ماتوي، په بل روايت کې دي: "يصوم النهار ويقوم الليل" هغه ته داسې ثواب ملاويږي لکه کوم سړی چې د ورځې روژه نيسي او د شپې نفلونه کوي.

بد ترينه وليمه

"وعنه، عن النبيّ ﷺ، قال: شَرُّ الطَّعَامِ طَعَامُ الْوَلِيمَةِ" د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: بد ترينه ډوډی د وليمې والا ده، "يُمْنَعُهَا مَنْ يَأْتِيهَا" منع کولی شي هغه کس چې ورته راځي، "وَيُدْعَى إِلَيْهَا مَنْ يَأْبَاهَا" او دعوت کيږي هغه چاته چې ورته نه راځي، "وَمَنْ لَمْ يُجِبِ الدَّعْوَةَ فَقَدْ عَصَى اللهَ وَرَسُولَهُ" او کوم کس چې دعوت قبول نه کړي، بې شکه هغه د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ نافرماني وکړه. رواه مسلم

"وفي رواية في الصحيحين، عن أبي هريرة من قوله: بِئْسَ الطَّعَامُ طَعَامُ الْوَلِيمَةِ" په صحيحينو کې د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: بد ترينه ډوډی د وليمې ده، "يُدْعَى إِلَيْهَا الْأَغْنِيَاءُ وَيُتْرَكُ الْفُقَرَاءُ" چې مالداره ورته رابللی شي، غريبان او مسکينان خلك پرېښودلی شي.

لغوي تحقيق:

يأباها: "إباءٌ وإباءَةٌ وتابّي الشيء" ددې معنی ده: کوم شی نه خوښول، د کوم شي نه خفه کېدل/ انکار کول.

تشريح "شر الطعام طعام الوليمة" بد ترين دعوت د وليمې دی، په دې حديث کې د ډوډی او خوراك بد ويل مقصود نه دي، ځکه چې د وليمې دعوت قبلولو تاکيد راغلی دی چې کوم کس د وليمې دعوت نه قبلوي هغه ګناهګار دی، صرف د هغې وليمې مذمت بيان شوی چې مالدارو خلکو ته دعوت ورکړل شي او غريبانان مسکينان پرېښودل شي.

"فقد عصى الله ورسوله" هغه د الله ﷻ او د هغه د رسول ﷺ نافرماني وکړه، ددې وجه دا ده چې د الله ﷻ رسول ﷺ د دعوت قبلولو حکم کړی دی، لهذا کوم کس چې بلاعذره دعوت قبول نه کړي، هغه د الله ﷻ د رسول ﷺ نافرماني وکړه او د رسول الله ﷺ نافرماني سخته ګناه ده، د نبي ﷺ نافرماني د الله ﷻ نافرماني ده او د نبي ﷺ خبره منل د الله ﷻ خبره منل دي، "من يطع الرسول فقد أطاع الله" ځکه چې د الله ﷻ د پېغمبر خبره ومني هغه په حقيقت کې د الله ﷻ خبره ومنل.

د وليمې دعوت قبلول واجب نه دي:

د ذکر شوي حديث نه ځينې علماء استدلال کوي چې د وليمې دعوت قبلول واجب دي، خو د جهورو مسلك دا دی چې د وليمې دعوت قبلول مستحب دي او کوم (امر) چې په دې حديث کې ذکر دی هغه استحبابي امر دی.

د دوه جينکو کفالت کولو فضيلت

"وعن أنس ﷺ، عن النبيّ ﷺ، قَالَ: مَنْ عَالَ جَارِيَتَيْنِ حَتَّى تَبْلُغَا" د انس ﷺ نه روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: کوم کس چې د دوه جينکو کفالت وکړي، ترڅو چې هغه بالغې شي، "جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنَا وَهُوَ كَهَاتَيْنِ، وَضَمَّ أَصَابِعَهُ، رواه مسلم، ((جَارِيَتَيْنِ)) أيْ: بنتين" د جاريتين نه مراد لورگانې دي

لغوي تحقيق:

عال: "عال عولاً عيالةً الرجل عيالةً" ددې معنی ده: د اولاد او بچيانو کفالت او پالنه کول.

تشريح: "من عال جاريتين" کوم کس چې د دوه جينکو پالنه وکړي، د داسې کس فضيلت بيانيږي چې هغه به په جنت کې د رسول الله ﷺ سره ملگرى وي

ولې د جينکو پالنه خاص فضيلت لري؟

ددې يو څو وجې دي چې مونږ يې دلته ذکر کوو: مثلاً د جينکو په پيدايش باندې زيات وخت مور او پلار ناراضه کيږي، دا يو امتحان وي، کوم مور او پلار چې په دې امتحان صبر وکړي؛ نو ددې صبر په بدل کې ورته الله ﷻ دغه انعام ورکوي، بله دا چې جينکۍ د بلوغ سره سم بل کور ته لاړې شي، مور پلار ترې لږ خدمت هم نه اخلي، ددې برخلاف هلك عموما تر مرگه پورې د مور پلار سره وي

"حى تبلغا" ترڅو چې بالغې شي، ملا علي قاري رحمه الله فرمايي: د جينکو کفالت به تر هغه کوي چې هغه د مور پلار د کفالت نه مستغني شي، بيا برابره خبره چې هغه واده شي او يا په کومه بله وجه ترې مستغني شي

"وضم أصابعه" نبي کريم ﷺ خپلې گوتې مبارکې سره يو ځاى کړې، د ابن حبان رحمه الله په روايت سره دا الفاظ هم نقل دي "أشار بإصبعه الوسطى والتي تليها" نبي کريم ﷺ په خپلو گوتو مبارکو سره اشاره وکړه او مينځنۍ گوته او کومه چې ورسره نژدې وه هغه يې سره نژدې کړې.

جينکۍ به د قيامت په ورځ د جهنم نه د نجات ذريعه جوړه شي

"وعن عائشة رضي اللــه عنها، قَالَتْ: دَخَلَتْ عَلَيَّ امْرَأَةٌ وَمَعَهَا ابْنَتَانِ لَهَا، تَسْأَلُ فَلَمْ تَجِدْ عِنْدِي شَيْئاً غَيْرَ تَمْرَةٍ وَاحِدَةٍ" د عائشه ﷺ نه روايت دى هغه فرمايي چې يوه روځ زما کور ته يوه ښځه راغله، د هغې سره دوه لورگانې وې، هغې سوال کولو، عائشه ﷺ فرمايي: زما سره په کور کې هيڅ نه وو، مگر دا چې يوه خورما وه. "فَأَعْطَيْتُهَا إيَّاهَا فَقَسَمَتْهَا بَيْنَ ابْنَتَيْهَا وَلَمْ تَأْكُلْ مِنْهَا" نو ما هغه خورما ورکړه، هغې خورما د خپلو لورگانو ترمنځ تقسيم کړه، خپله يې ونه خوړل، "ثُمَّ قَامَتْ فَخَرَجَتْ، فَدَخَلَ النَّبِيُّ ﷺ عَلَيْنَا، فَأَخْبَرْتُهُ" بيا هغه ښځه پاڅېده او لاړه، په دې حال کې په موږ باندې نبي اکرم ﷺ راداخل شو، ما ورته ټوله کيسه بيان کړه، "فَقَالَ: مَنِ ابْتُلِيَ مِنْ هٰذِهِ الْبَنَاتِ بِشَيْءٍ فَأَحْسَنَ إِلَيْهِنَّ" کوم کس چې ددې جينکو په وجه په ازموينت کې واچول شي او بيا هغه ورسره ښه سلوك وکړي، نيکي ورسره وکړي، "كُنَّ لَهُ سِتْراً مِنَ النَّارِ" نو دا جينکۍ به دده لپاره د جهنم د اور نه د خلاصېدو ذريعه وي. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ

لغوي تحقيق:

ابتلي: دمعنى ده: ازموينت/ امتحان

تشريح د جاهليت په زمانه کې به چې د جينکو سره کوم ناروا سلوك کېدلو، هغه د تاريخ په پاڼو کې پروت دى، ليکن ددې بالمقابل شريعت چې ښځو ته کوم مقام او عزت ورکړو، دا هم د تاريخ په پاڼو کې د لمر په شان روښانه پروت دى، د جاهليت په زمانه کې چې کوم جهل او ناروا سلوك ددې بې چاره مخلوق سره کېدلو، د هغې په مذمت باندې ګڼ شمېر حديثونه راغلي دي، په دې حديث کې ذکر شو چې د کوم کس سره په کور کې جينکۍ وي او هغه د دوى تعليم او پالنه وکړي، نو داسې جينکۍ به دده لپاره د نجات باعث وګرځي، نه دا چې د جهنم د عذابه به يې خلاصې کړي، بلکې په جنت کې به د رسول الله ﷺ سره هم ملګرى وي، لکه څرنګه چې ددې نه وړاندې حديث کې دا خبره ذکر شوه

"من ابتلى من هذه البنات" کوم کس چې ددې جينکو په ذريعه په ازموينت کې اخته شي، علامه نووي رحمه الله د مسلم په شرح کې فرمايي: دلته دا الفاظ ذکر شو چې: "ابتلى" يعني ددې سرې برې امتحان واخيستل شي، دا خکه چې په عربو کې عمومي طور د جينکو زېږېدنه ښه نه ګڼل کېده، په بد نظر به يې ورته کتل، لکه څرنګه چې د قرآن کريم نه هم دا مضمون معلومېږي، "واذا بشر أحدهم بالأنثى ظل وجهه مسوداً وهو كظيم" او کله چې په دوى کې يو کس ته زېرى ورکړى شي چې لور دې وشوه؛ نو د هغه مخ تك تور شي او هغه د غم نه ډك شي؛ "فأحسن اليهن" په يو بل روايت کې د: "فأحسن صحبتهن واتقى الله فيهن" الفاظ هم نقل شوي دي

د جينکو په صحيح پالنې سره جنت واجبيږي

"وعن عائشة رضي اللـــه عنها، قَالَتْ: جَاءَتْنِي مِسْكِينَةٌ تَحْمِلُ ابْنَتَيْنِ لَهَا" د عائشې ﷺ روايت دی، فرمايي چې ماته يوه ورځ يوه مسکينه ښځه راغله چې د هغې سره د هغې دوه لورګاني هم وې، "فَأَطْعَمْتُهَا ثَلاثَ تَمَرَاتٍ، فَأَعْطَتْ كُلَّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا تَمْرَةً وَرَفَعَتْ إِلَى فِيهَا تَمْرَةً لِتَأْكُلَهَا" ما هغې ته درې خورماوې ورکړې، هغې هرې يوې ته يوه يوه خورما ورکړه او يوه خورما يې خپله وخوړل، "فَاسْتَطْعَمَتْهَا ابْنَتَاهَا، فَشَقَّتِ التَّمْرَةَ الَّتِي كَانَتْ تُرِيدُ أَنْ تَأْكُلَهَا بَيْنَهُمَا" په دې کې يوې جينۍ بله خورما وغوښتل، هغې ښځې خورما په مينځ ماته کړه، هغه خورما چې مور يې اراده درلوده تر څو خپله يې وخوري، "فَأَعْجَبَنِي شَأْنُهَا" ددغې ښځې دا کار زما ډېر خوښ شو، "فَذَكَرْتُ الَّذِي صَنَعَتْ لرسول الله ﷺ" ما ددغې ښځې ټوله کيسه نبي اکرم ﷺ ته واورول، "فَقَالَ: إِنَّ اللهَ قَدْ أَوْجَبَ لَهَا بِهَا الْجَنَّةَ، أَوْ أَعْتَقَهَا بِهَا مِنَ النَّارِ" نبي اکرم ﷺ وفرمايل: بې شکه الله ﷻ ددغې جينۍ په وجه د دغې ښځې لپاره جنت واجب کړو او يا يې داسې وويل: الله ﷻ ددغې جينۍ په وجه دغه ښځه د جهنم له اوره بچ کړه. رواه مسلم

لغوي تحقيق: فشقت: "اشق شقاً" ددې معنی ده: يو شئ شکول، "شق عصا القوم" د يو قوم اتحاد يې مات کړو.

تشريح دا حديث او ددې نه وړاندې چې کوم حديث ذکر شو په دې کې دې چې کومو واقعو ته اشاره شوې ده په دې واقعو کې د محدثينو رحمهم الله اختلاف دی چې آيا دا واقعه يوه ده او که خانته خانته واقعې دي، "فاطعمتها ثلاث تمرات" ما هغې ته درې خورما ورکړې، ددې نه علماوو استدلال کړی دی چې ښځه د خپل خاوند په مال کې صدقه کولی شي، په شرط ددې چې د خاوند له طرفه اجازه ملاو شي، په داسې صورت کې به دواړه په ثواب کې شريکې وي، ښځې ته به د صدقې ورکولو په وجه او خاوند ته به د رضامندۍ په وجه

د ښځې او يتيم حق پوره کولو تاکيد

"وعن أبي شُرَيْح خُوَيْلِدِ بن عمرو الخزاعيّ ﷺ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ ﷺ: اللَّهُمَّ إِنِّي أُحَرِّجُ حَقَّ الضَّعِيفَيْنِ" د ابو شريح خويلد بن عمرو خزاعي ﷺ روايت دی، فرمايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل: ای الله! زه د دوه ضعيفانو حق ضائع کونکی د ګناه حقدار ګڼم، "الْيَتِيمِ وَالْمَرْأَةِ" (يعني) يتيم او ښځه "حديث حسن رواه النسائي بإسناد جيد".

"ومعنى: أُحَرِّجُ: أُلْحِقُ الحَرَجَ وَهُوَ الإِثْمُ بِمَنْ ضَيَّعَ حَقَّهُمَا، وَأُحَذِّرُ مِنْ ذلِكَ تَحْذِيراً بَلِيغاً، وَأَزْجُرُ عَنْهُ زجراً أكيداً" د "احرج" معنی ده هغه کس چې ددې دواړو کمزورو حقونه ضائع کوي او د دوی حق تلفي وکړي حرج او ګناه بلل کيږي، په دوی باندې لازم دي او په تاکيد سره وايم چې د حق تلفي څخه ځان وساتي.

لغوي تحقيق:

احرج: ددې معنى ده: په ګناه کې مبتلا کول، په سختي کې اچول

تشريح: "إنى أحرج حق الضعيفين اليتيم والمرأة" زه تاسو وېروم د يتيم او د ښځې د حقونو په باره کې

د ښځې حق ادا کولو تاکيد:

د جاهليت د زمانې په مقابله کې اسلام ښځه يو نعمت ښودلى دى، ددې سره حسن سلوک، حسن معاشرت او د نرمى کولو پوره تاکيد راغلى دى، عمومي طور د ښځو څلور حالتونه دي: مور، لور، خور او ښځه، ددې څلورو حيثيت سره د دوى حقونه او ميراث متعين شوى دى، شريعت ښځو ته هغه مقام ورکړى دى چې د نړۍ هيڅ دين او هيڅ قانون نه دى ورکړى.

د يتيم حق ادا کولو تاکيد:

دغه شان شريعت د يتيم سره د ښه سلوک تاکيد بار بار فرمايلى دى، شريعت حکم ورکړى چې د يتيم کفالت به کوئ، د دوى د مالونو خيال به ساتئ، د دوى تعليم او تربيت به کوئ، بلکې د خپلو بچيانو په څېر به يې د هرې خبرې خيال ساتئ، حديث کې راځي: "كن لليتيم كالأب الرحيم" د يتيم لپاره مهربان پلار جوړ شه!

د راوي ابو شريح خويلد بن عمرو رضي الله عنه حالات:

په اصلي نوم کې يې اختلاف دى، خينې وايي: خويلد دى، خينې وايي: عمرو رضي الله عنه دى، کنيت يې ابو شريح دى، په دې يې زيات شهرت وشو، د مکې د فتحې نه وړاندې مسلمان شوى وو او د مکې په فتحه کې شريک وو، سخاوت يې زيات مشهور ؤ، هغه اعلان وکړو چې چاته د شيدو او غوړو ضرورت وي، هغه دې يې اجازې راځي

مرويات شل روايتونه ترې نقل دي، په دوه حديثو کې يې بخاري رحمه الله او مسلم رحمه الله اتفاق کړى دى، په يو کې بخاري رحمه الله او په يو کې مسلم رحمه الله منفرد دى

د الله جل جلاله مرسته د کمزورو خلکو په ذريعه وي:

"وعن مصعب بن سعد بن أبي وقاص رضى الله عنهما، قال: رأى سعد أن له فضلا على من دونه" د مصعب بن سعد بن ابي وقاص رضي الله عنهما روايت دى، فرمايي چې د سعد دا خيال راغلو چې په نورو ورته فضيلت حاصل دى، "فقال النبى ﷺ: هل تنصرون وترزقون الا بضعفائكم" نبي اکرم ﷺ ورته وفرمايل: ستاسو مرسته يا تاسو ته چې کوم رزق درکولى شي هغه صرف ددې کمزورو په وجه وي، "رواه البخارى هكذا مرسلاً، فإن مصعب بن سعد

بعض" ورواه الحافظ أبوبكر البرقاني في صحيحه متصلاً عن مصعب، عن أبيه ﷺ" او امام بخاري رحمه الله دا حديث مرسل روايت کړی دی، ځکه چې مصعب بن سعد تابعي دی او دا حديث حافظ ابوبکر برقاني په خپل صحيح کې متصل د مصعب نه روايت کړی دی هغه د خپل پلار نه

لغوي تحقيق: ترزقون: "رزقه رزقاً" رزق ورکول

تشريح "رای سعدٌ أن له فضلاً علی من دونه" سعد رضي الله عنه محسوس کړه چې هغه ته د ائدي خلکو څخه فضيلت حاصل دی، محدثين فرمايي چې سعد رضي الله عنه صاحب کمال او د ښکلو صفاتو څښتن و، په هغه کې بهادري او سخاوت کمال درجه موجود وو، دده په زړه کې يوه ورځ دا خاطره تېره شوه چې د نورو خلکو په مقابل کې زه د خلکو سره زياته مرسته کوم، دا خبره يې چې محسوسه کړه؛ نو نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل دا مذکوره غلطه ده، بلکې په طاقت او دولت کې چې کوم خلک ستاسو نه کمزوري دي، د دوی عزت او اکرام کوه چې ددې خلکو په برکت تاسو ته الله ﷻ مال او دولت درکړی دی، يو شاعر وايي؛

إنما العزّ والغنی ...... في تقی الله والعمل

ترجمه: عزت او د زړه غنا صرف د الله ﷻ نه په وېرې سره راځي، نېک عملونه اختيار کړئ؛ "هل تنصرون وترزقون إلا بضعفائکم" په بل روايت کې ددې وجه بيان شوي ده: "إنما نصر الله هذه الامة بضعيفها بدعوتهم وصلاتهم واخلاصهم" الفاظ هم راغلي دي چې ددې امت مرسته الله ﷻ کوي هغه ددې امت د کمزورو خلکو په دعاګانو او لمونځونو سره کوي، په بل روايت کې دي: "إنما تنصرون وترزقون بضعفائکم" ستاسو د کمزورو او غريبانانو په ذريعه الله ﷻ ستاسو سره مرسته کوي او تاسو ته رزق درکوي

د راوي مصعب بن سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه حالات:

اصل نوم يې مصعب رضي الله عنه دی، د پلار نوم يې سعد و، هغه تابعي دی، زيات وخت د علي رضي الله عنه او ابن عمر رضي الله عنه وغيره څخه روايات نقل کوي، د هغه څخه عموماً مجاهد رحمه الله او ابواسحاق رحمه الله روايات نقل کوي، د اسماء الرجال علماء يې په ثقاهت متفق دي، په طبقات بن سعد کې دي: "کان ثقة کثير الحديث". وفات: په ۱۰۳ هجري کې وفات شو.

رسول الله ﷺ وفرمايل: ما په کمزورو کې ولټوئ!

"وعن أبي الدّرداء عُوَيمر رضي الله عنه، قال: سمعتُ رسُولَ الله ﷺ، يقول: ابْغُوني الضُّعفاء" د ابو الدرداء عويمر رضي الله عنه روايت دی، فرمايي چې ما د رسول الله ﷺ نه اورېدلي دي، فرمايل يې: زما خوشحالي او رضامندي په خپلو کمزورو خلکو کې ګورئ؛ "فإنّما تُنصَرُونَ وتُرزَقُونَ بضُعفائِكُمْ" بې شکه چې ددې کمزورو په وجه تاسو ته رزق درکولی شي او ستاسو سره مرسته هم کولی شي. رواه أبوداود بإسناد جيد.

د حديث مختلف طرق:

تشريح "ابغوني في الضعفاء" تاسو ما په کمزورو کې ولټوئ! په بل روايت کې لفظ د «في» نشته او په يو بل روايت کې دي: "ابغوني الى الضعفاء" مطلب دا شو چې ماته کمزوري خلک ولټوئ (ددې لپاره چې زه د دوی د دعاګانو په ذريعه مرسته حاصله کړم، لکه څرنګه چې په يو روايت کې دي: الله ﷻ ددې امت مرسته د کمزورو خلکو په دعاګانو، اخلاص او لمونځونو سره کوي، په دې حديث کې هم د کمزورو فضيلت بيان شوی دی، اګر چې دوی دنيوي مال او متاع نه لري، مګر د ايمان او يقين په لحاظ غروند دي، د دوی په مقابله کې هغه خلک چې مال او متاع ورسره وي، خو دين او ايمان يې کمزوری وي، هغوی د الله ﷻ په نظر کې د ماشي د وزر په اندازه قيمت هم نه لري

د راوي ابوالدراء ﷺ حالات:

نوم يې عويمر ﷺ دی، کنيت يې ابو درداء دی، د خزرج قبيلې عدي بن کعب خاندان سره يې تعلق دی، په شروع کې به يې تجارت کولو، بيا په عبادت کې مشغول شو، تجارت يې پريښودلو، د بدر تر غزا پورې مسلمان شوی نه و، د احد د غزا[...] [...]رسته يې په ټولو جهادونو کې شرکت کړی و، د عمر ﷺ په زمانه کې دمشق ته لاړو، دده د درس حلقه ډېره زياته وسيعه وه، يوه ورځ طالبان وشمارل شول، نو شمار يې تر شپاړس سوه پورې ورسېدو، ډېره زياته تواضع او عاجزي يې کول، يو ځل يې په دمشق کې په خپل لاس بوټي کرل، بل کس وليدو، نو په تعجب سره يې وويل: صيب! تاسو په خپل لاس بوټي کرئ؟ هغه وويل: هو! په خپل لاس بوټي کرم، ځکه چې په دې کې ثواب دی. (مسند ابوداود طيالسي) زيات مهمان نواز و، تر هفتو هفتو پورې به مېلمانه ورسره ناست وو.

وفات په ۳۲ هجري کې وفات شو.

مرويات د مروياتو شمېر يې تر ۱۷۹ پورې رسيږي، ديارلس / ۱۳ حديثونه يې په بخاري کې دي او اته / ۸ په مسلم کې دي، باقي نور يې په نورو کتابونو کې دي.

تمت بالخير